تحریری کورس مناظرہ

تشریحات النابغة

في

حل المسائل المختلفة

من ملفوظات

شیخ الاسلام سلطان المناظرین نابغہ عصر شیخ القرآن والحدیث شہید ابن شہید

ابو العزیز غلام حضرت غلام الحنفی شہید عرف نابغہ تقبلہ اللہ

تحریر و ترتیب

سید محمد ثواب

ابن سید اکاخیل باچا صاحب

اولہ حصہ

ناشر

مُدرسۃ حُذیفۃ الأحناف

د مناظرې كورس ،
2012

تحريري كورسِ مناظره

تشريحات النابغة

في

حل المسائل المختلفة

﴿ اوله حصه ﴾

من ملفوظات:

شيخ الإسلام سلطان المناظرين نابغة العصر

شهيد ابن الشهيد شيخ القرآن والحديث

أبو العزيز غلام حضرت غلام الحنفي شهيد - تقبله الله - عُرف نابغه

مُحرِر و مُرتب:

سيد محمد ثواب

ابن سيدآكاخيل باچا صاحب

برېښنايي كوونكى: عزت الله سلطانزي

ناشر:

مدرسه حديقة الأحناف

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzia WhatsApp:0706912702

بسم الله الرحمن الرحيم

دکتاب نوم: تشریحات النابغة في حل المسائل المختلفة

من ملفوظ: شيخ الإسلام سلطان المناظرين نابغة العصر
شهيد ابن الشهيد شيخ القرآن والحديث أبو العزيز
غلام حضرت غلام الحنفي شهيد - تقبله الله - عُرف نابغه

مُحرر و مُرتب: سيد محمد ثواب صاحب

رابطہ نمبر: 0345-9029268

تصحيح: مولوي راز محمد هاشمي

نظرِ ثاني: شيخ القرآن و الحديث حضرت مولانا
سيد آياز علي شاه باچا صاحب

کمپوزنګ: ابوبدر کمپوزنګ سنټر، پشاور

پروپرائيټر: مولوي محمد حقاني" فيض الهادي"

موبائل نمبر: 0311-9316109

ناشر: مدرسه حديقة الأحناف

هرينس پوره رحمان پوره پاکستان لاهور

موبائل نمبر: 0308-4250818

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

﴿د چاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دي﴾

فهرست :

صفحه	عنوان	شماره
۱	سریزه	۱.
۴	د شیخ صاحب ژوند ته لنډه کتنه	۲.
۷	د محرر او مرتب غوښتنه د لوستونکو نه	۳.
۹	اصول مناظره	۴.
۱۰	المبحث الأول: في بيان تعريف علم المناظرة وموضوعها وغرضها مع بيان معناها اللغوي ووجه تسميتها بالمناظرة	۵.
۱۸	المبحث الثاني: في بيان قسمي الدليل ودفعهما مع الذكر بعض اصطلاحات فن المناظرة	۶.
۴۳	المبحث الثالث: في بيان شرائط المناظرة	۷.
۴۹	المبحث الرابع: في اثبات علم المناظرة وكونها من أهم العلوم	۸.
۵۷	مسئله حياة الأنبياء	۹.
۶۲	دليل د مثبتينو د حيات	۱۰.
۷۸	مسئله كرامات الأولياء	۱۱.
۸۲	المبحث الأول: استدلالات من القرآن العظيم	۱۲.
۹۱	المبحث الثاني: استدلالات من الاحاديث النبوية	۱۳.
۱۱۵	اثبات الكرامة بعد الوفات	۱۴.
۱۲۳	مسئله علم التصوف	۱۵.
۱۳۲	المبحث الأول: الاستدلالات من القرآن الكريم في مسئلة علم التصوف	۱۶.

.١٧	المبحث الثاني : الاستدلالات من الاحاديث	١٥٩
.١٨	مسئلة التبرک بآثار الصالحين	١٧٦
.١٩	المبحث الأول: تحقيق البركة	١٧٧
.٢٠	المبحث الثاني : استدلالات التبرك بآثار الصالحين من النصوص القرآنية	١٨١
.٢١	المبحث الثالث : في اثبات التبرك من الاحاديث	١٩٩
.٢٢	مسئلة الوسيلة	٢٣٥
.٢٣	المبحث الأول في الوسيلة	٢٣٦
.٢٤	المبحث الثاني : تحقيق الوسيلة في ضوء القرآن الكريم مع ذكر أقوال المفسرين تائيداً	٢٤٢
.٢٥	المبحث الثالث : تحقيق الوسيلة في ضوء السنة النبوية	٢٧١
.٢٦	المبحث الرابع: تحقيق الوسيلة في ضوء أقوال الصحابة رضي الله عنهم	٣١١
.٢٧	المبحث الخامس : تحقيق الوسيلة عند عامة المصنفين والمحدثين والفقهاء الحنفين	٣٢٩
.٢٨	المبحث السادس : تحقيق الوسيلة في ضوء أقوال الفقهاء الشافعين	٣٣٧
.٢٩	المبحث السابع : تحقيق الوسيلة في ضوء أقوال الفقهاء المالكين	٣٤٢
.٣٠	المبحث الثامن : تحقيق الوسيلة بأقوال الفقهاء الحنابلة	٣٤٥
.٣١	المبحث التاسع : تحقيق الوسيلة عند عامة المصنفين من المفسرين والمحدثين والفقهاء	٣٤٧

۳۲.	المبحث العاشر: أقوال عامة المحدثين	۳۵۲
۳۳.	مسئلة تقبيل اليدين والرجلين	۳۵۸
۳۴.	اول مبحث: د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ عمل	۳۶۲
۳۵.	دوهم مبحث: د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ عمل په خپل مينځ کې	۲۸۸
۳۶.	دريم مبحث: د تابعينو رَحِمَهُمُ اللَّهُ عمل مع الصحابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وفيما بينهم	۴۰۴
۳۷.	المبحث الرابع: في ذكر أقوال الفقهاء والمحدثين من المذاهب الأربعة المعروفة وغيرهم	۴۰۷
۳۸.	مسئلة تقبيل المصحف	۴۱۶
۳۹.	المبحث الأول: تقبيل المصحف	۴۱۸
۴۰.	المبحث الثاني: في إيراد أقوال الفقهاء من المذاهب الأربعة المعروفة وغيرهم في تقبيل المصحف	۴۱۹
۴۱.	مسئلة السيماء	۴۳۱
۴۲.	المبحث الأول: تفسير السيما من الرواية المرفوعة	۴۳۶
۴۳.	المبحث الثاني: تفسير سيما من الرواية الموقوفة	۴۳۸
۴۴.	المبحث الثالث: تفسير سيما من أقوال التابعين وتبع التابعين	۴۴۰
۴۵.	المبحث الرابع: رد الصحابة والتابعين والمفسرين على هذه السيماء السوداء يوجد تكلفاً	۴۴۶
۴۶.	المبحث الخامس: په ذکر د خوارجو او د تورو ټاپو د هغوي کې	۴۶۷

۴۷.	مسئلة زيادة الايمان و نقصانه	۴۷۹
۴۸.	په تعريف د ايمان کې د علماو مذاهب	۴۸۵
۴۹.	مسئلة التقليد	۵۰۴
۵۰.	المبحث الأول: الاستدلالات من القرآن الكريم	۵۰۹
۵۱.	المبحث الثاني: الاستدلالات من الاحاديث	۵۴۳
۵۲.	المبحث الثالث: في استدلالات المنكرين	۶۰۱
۵۳.	مسئلة ايصال الثواب للأموات	۶۱۵
۵۴.	أقوال الفقهاء والمحدثين في ذلك الباب	۶۴۱
۵۵.	مسئلة القراءة عند الميت	۶۵۲
۵۶.	اقوال الفقهاء وعلة قول أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ	۶۵۷

برېښنايي کوونکی : عزت الله سلطانزي

دا کتاب د باور کتابتون خخه ښکته شوی دی

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

سریزه

الحمد لله على تمام فضله واكرامه وعلى سابغ احسانه وانعامه وهو الذي بنعمته تتم الصالحات وببركة عونه تتكامل الأعمال والحسنات وهو ذو الجلال والإكرام .

والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله الكرام وأصحابه العظام الذين آمنوا به واتبعوه وأيدوه ونصروه ونقلوا لنا رسالته وبلغونا أمانته وحملوا على عاتقهم نشر هذا الدين في جنبات الأرض فبذلوا في سبيل ذلك المال والأرواح وغادروا الأوطان وفارقوا الوالد والولدان فكانوا بحق ﴿خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ (آل عمران آيت : ۱۱۰)

ثم حمل هذه الأمانة من بعد رجال لا تلهيهم تجارة ولا بيع عن ذكر الله حفظ الله بهم الدين وأنار بهم السبيل ساروا في شرق الأرض وغربها يؤدون تلك الأمانة التي جعلها الله في أعناقهم أمانة عرضها الله على السموات والأرض فأبين أن يحملنها وأشفقن منها فحملها هؤلاء العمالقة من العلماء الأفذاذ ومن هؤلاء العلماء الأفذاذ شيخي وأستاذي وسندي شيخ الإسلام سلطان المناظرين نابغة العصر شهيد ابن شهيد تقي ابن تقي العلامة أبو العزيز غلام حضرت غلام رَحِمَهُ اللّٰهُ فكان عقله وقلبه بيضاء نقية حَفِظَ لهذه الأمة دينها وشريعتها وعقيدتها منهجاً و دستوراً أبدياً أنه صاحب العقل المشرق والفكر المستنير وأخرج كثيرًا من العلماء والعوام من الظلمات إلى النور ومن ظلمة الجهل إلى نور العلم نور الله مرقده كما نور قلوبنا بعقيدة أهل السنة والجماعة . أما بعد !

محترمو لوستونکو ! کوم کتاب چې ستاسو په لاسونو کې دی د محترم شیخ صاحب د شهادت نه وروسته ما مناسبه وګڼله چې د شیخ صاحب د مناظرې کورس په
لیکلي بڼه ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړم .

لکه څرنګې چې د دیني عالمانو دا فرض وي چې د اسلامي احکامو په راټولو سره په تړلنه کې د رسائلو کتابونو وغیره صورت کې د مسلمانانو دیني ضرورتونه پوره کړي اسلام د

مسلمانانو ديني ضرورتونه پوره کړې دی او اسلام هر وخت د مسلمانانو ديني ضروریاتو ته مثبت ځواب وئیلي دی.

او دا خبره هم له هیچا پټه نه ده چې په هر وخت کې اسلام دښمنه قوتونو او عناصرو په مختلفو طریقو سره د مسلمانانو بې لاري کولو او په مسلمانانو کې د کرکې او نفرت او وحشت خورولو لپاره قسما قسم حربي استعمالوي نه ددې لپاره يې نوي نوي ډلې د مختلفو عقیدو او نظرونو سره پیدا کړي او ددوی تعاون يې جاري وساتلو هر قسم امکانات، اسباب او وسائل يې ددوي په خدمت کې په کار واچول تر څو خپلو شومو اهدافو او موخو ته ځان ورسوي.

خو الحمد لله مسلمانان خصوصاً علماء کرامو په هر وخت کې د اسلام دښمنه قوتونو او عناصرو د حربو او دسیسو د ناکاره کولو او شنډولو د پاره هر قسم قرباني ورکړې او د خپلو عقائدو مقدساتو او آکابرو دفاع يې حتی الوسع کړې او په هر محاذ يې د تیري کوونکو مخه نیولې او په هر بخش کې د خپل مقدس دین خدمت جاري ساتلې دي.

من جمله له دغو خادمانو څخه يو شيخ صاحب مرحوم وه شيخ صاحب په خپل وخت کې د خپلې عقیدې او مسلک دفاع په ربښتیا سره وکړه او په هر ډګر کې د باطل پرستو او اهلِ زیغو مقابلې وکړې.

د شيخ صاحب د مقابلو او سربښندنو په برکت سره زیات مسلمانان د غلطو عقائدو نه يو اځې وژغورل شول بلکې د اهلِ زیغو او باطل پرستو مقابلو ته چمتو شول.

شيخ صاحب د خپل ژوند په اوږدو کې د تدریس په موده کې د اسلامي تعليمي کال په روستني میاشتو کې د علم مناظره کورس کولو او زیاتو طالبانو به د شيخ صاحب مرحوم له دغه کورس مناظره نه استفاده کوله د شيخ صاحب د خدمتونو دا سلسله جاري وه خو چونکې د شيخ صاحب سره ژوند وفاء ونه کړه او د دار فناء نه دار بقاء ته لاړه **الموة جسر يوصل الحبيب الى الحبيب**، روح دې ښاد وي.

نو ددې د پاره چې د شيخ صاحب د خدمتونو دا سلسله جاري وي او ضائع نه شي نو ما مناسبه وګڼله چې د شيخ صاحب د خدمتونو دغه سلسلې ته يو بل رنګ جریان ورکړم هغه دا چې شيخ صاحب د علم مناظره ټول کورسونه په صوتي شکل وه یعنې صوتیات وه او ما د خپل والد ګرامي د امر په اساس او زما د والد ګرامي د خاص شفقت په اساس چې د شيخ صاحب د خدمتو په رابطه يې لرلو تر څو چې فائده عامه او دائمي شي نو ما دغه خدمت ته ملا وتړله او د خپل

والد گرامي د دعاگانو مالي امکاناتو او وسائلو په برکت سره الله پاک زه د دغه خدمت کولو جوگه کړم او تقريباً په ۹ مياشتو کې د ۲۰۱۲ ميلادي کال کورس مناظره ته چې تقريري وه ما تحريري شکل ورکړو او د يو کتاب بڼه مې ورکړه.

البته که څه هم په دغه بخش کې يوه رساله موجوده وه خو په هغې کې صرف عبارات او حوالې ذکر شوې وې د شيخ صاحب د خولې مبارکې هغه تفصيل چې هغه خپله کړې نه وه په کې ذکر شوي نو په دې اراده چې هغه تفصيل د شيخ صاحب د خولې مبارکې د هميشه د پاره باقي پاتې شي نو په دغه خدمت ما لاس پورې کړه سره له دې چې د خپل والد گرامي له هر قسم تعاون نه برخمن وم له ما سره د دغه کتاب په ليکلو کې زما کشر ورور طالب العلم سيد احمد شاه باچا صاحب او مولوي راز محمد هاشمي صاحب هم همکاري کړې الله پاک دې زمونږ دغه خدمت په خپل دربار کې قبول او منظور کړي.

چونکې دا کورس مناظره د حضرت شيخ صاحب صوتيات وو نو هُو بهو مو د شيخ صاحب د خولې خبرې را نقل کړې بغير د څه تغير او بدلون نه.

آمين يارب العالمين

أخوكم في الله: سيد محمد ثواب

بسم الله الرحمن الرحيم

د شيخ صاحب ژوند ته لنډه کتنه :

نوم :

شيخ الاسلام سلطان المناظرين زينة الشهداء د طريقت او تصوف وتلي چهره د وخت ستر نابغه شهيد ابن شهيد العلامة ابو العزيز غلام حضرت غلام الحنفي د پير طريقت شيخ المشائخ فخر الشهداء حضرت العلامة و مولانا خواجه محمد حضرت رَحِمَهُ ٱللَّهُ ځوي په کال ۱۳۵۵ لمريز د ننګرهار ولايت آګام ولسوالي قريه پچير په يوه ديندار ه علمي او روحاني کورني کې دنيا ته سترګې وغړولې .

کله چې روسانو د افغانستان په پاکه خاوره تجاوز وکړو د محترم شيخ صاحب کورني د روسانو د تجاوز نه دوه (۲) کاله مخکې پاکستان ته هجرت کړې وه او د مردان په ښار کې ميشت شوې وه .

ديني زده کړې :

محترم شيخ صاحب لومړني زده کړې د خپل محترم والد صاحب نه کړې وې .

باقي فنون يې د مختلفو علماء کرامو نه په مختلفو ځايونو کې لکه په آضاخيلو ، باړه ، کهجوري ، باجوړ ، باغبانان ، چراټ ، مهاجر بازار ، چارسده ، مردان او داسې نورو ځايونو کې کړې وي .

نوموړي لويه دوره د حديثو د مشهور شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس صاحب سره په کال ۱۳۷۶ لمريز چې د ۱۹۹۷ ميلايد کال سره سمون خوري په چارسده ترنګزو کې کړې وه .

د شهيد شيخ صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ مشهور استاذان :

(۱) شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس ترنګزي صاحب
(۲) شيخ الحديث حضرت مولانا روح الامين نثار آبادي صاحب
(۳) شيخ الحديث حضرت مولانا ضياء الله باجوړي صاحب
(۴) شيخ الحديث حضرت مولانا قاضي محمد آمين صاحب نور الله مرقده
(۵) شيخ الحديث حضرت مولانا شهاب الدين دلاور صاحب

(٦) شيخ الحديث حضرت مولانا مصباح الله هزاروي صاحب
(٧) شيخ الحديث حضرت مولانا محمد سليم حقاني صاحب
(٨) شيخ الحديث حضرت مولانا غلام فاروق عُرف وزيرستان مولوي صاحب
(٩) شيخ الحديث حضرت مولانا امين الله باجوړي صاحب
(١٠) شيخ الحديث حضرت مولانا عنايت الله البرهاني صاحب

علمي خدمتونه :

په ١٩٩٣ ميلادي کال کې په جامع مسجد صديق اکبر رضی الله عنه گنج اخون آباد کې امام شو او له فراغت نه وروسته يې په همدغه مسجد کې يوه ديني اداره په نوم د دار الاحناف جاري کړه او دوي به په يواځې ځان په دې ديني اداره کې د دين خدمت کولو .

تر دې چې تر ١٩ کالو يې د دين د خدمت دا سلسله جاري وساتله او په دې لړه موده کې د دين ډير خدمت وکړو .

شيخ صاحب د بې ساري نبوغ په برکت سره د مروجه فنونو تر څنګ ترجمة القرآن ١٠ کاله او کورس مناظره ٧ کاله ٢ ځل وړه دوره او ٧ ځل غټه دوره تدريس کړه .

او دوي ته به د افغانستان او پاکستان مختلفو علاقو نه طالبان راتلل او ديني تنده به يې ماتوله او په درس تدريس به يې څه معاوضه هم نه آخيستله او د مدرسې او د طالبانو اکثر ضروريات به يې له خپل ځان نه ادا کول .

شهيد شيخ صاحب په دې موده کې يې بې شميره شاګردان نه يواځې د عقيدې او مذهب د پاره وروزل بلکې د فضيلت پګړۍ يې هم ور وتړلي چې دوه دا علمي خدمات د ستاينې وړ او د هيچا نه هم پټ نه دي .

علمي آثار :

شهيد شيخ صاحب په خپل وخت کې د خپلو همزولو په مينځ کې د ډير عجيب استعداد او د بې مثاله قابليت خاوند وه .

دده مبارک علم استعداد او قابليت ته به چې چا وکتل نو هر چا به تري نه د تصنيف او کتاب ليکلو مطالبه او غوښتنه کوله سره له دې نه چې ډير مصروف هم وه خو بيا هم د عالي همت او د خپل قوي استعداد نه په استفاده او د خپل استعداد په رابطه د خپل مسئوليت د درک کولو

په اساس يې يو څو قيمتي او علمي آثار تيار کړي وه چې تر څو اهل علم خصوصاً او عام مسلمانان ترې نه عموماً ښه استفاده وکړي .
يوه خبره چې قابل ذکر يې ګڼم هغه دا چې شيخ صاحب د دين د خدمت په سلسله کې له ډير احتياط او دقت نه کار اخيستلو شيخ صاحب څه رسائل او کتابونه ليکلي هم وه .
خو دده دا رايه وه چې کله زما عمر له څلويښتو (۴۰) کالو نه زيات شي نو زه به په خپلو تصنيفاتو بيا کتنه وکړم د زيادت او نقصان تصحيح به يې وکړم بيا به يې چاپ ته ورکړم خو هغه د چا خبره چې د الله جل جلاله او بنده اراده يوه نه وي نو شيخ صاحب هم دد غې خبرې يو مصداق شو .

شهادت :

شهيد شيخ نابغه صاحب رَحِمَهُ اللهُ په ۱۳۹۵ لمريز کال د زمري د مياشتې په ۲۹ نيټه چې د ۲۰۱٦ ميلادي کال د اګست د مياشتې د ۱۹ نيټې سره سمون خوري د جمعې د لمانځه د ادا کولو وروسته د خپل والد ګرامي سره يو ځای د پيښور ښار ګنج اخون آباد کې د خپلې مدرسې تر څنګ د دين او مذهب دشمنانو له خوا په شهادت ورسيدل انا لله وانا اليه راجعون روح نه دې ښاد وي .
شهيد شيخ صاحب او ورسره والد صاحب محترم يې د افغانستان پلازمينې کابل په بت خاک قلعه محسن مومين آباد کې خاورو ته وسپارل شول .
که ژوند وفاء وکړه نو د شيخ صاحب محترم په زندګۍ به ان شاء الله تفصيلاً يو بل کتاب هم ستاسو حضور ته پيش کوم چې دا به يو څه وخت نيسي که الله تعالى ته منظوره وه نو دا نو تنده به مو هم خړوب کړم ان شاء الله .

سيد محمد ثواب صاحب

د مُحرر او مُرتب غوښتنه د لوستونکو نه :

محترمو لوستونکو زما احترامانه غوښتنه له تاسو څخه داده چې حتما به دغه کتاب کې غلطي زيادت او نقصان په هر لحاظ سره موجود وي ځکه زه کوم ليکوال او اديب نه يم او د خلق الانسان ضعيفاً نه يم نو له تاسو څخه هيله لرم چې نسبت د غلطي زيادت او نقصان محترم شيخ صاحب مرحوم ته ونه کړي او له ما سره د دغه غلطي په اصلاح کولو کې همکاري وکړي د تعاونوا على البر والتقوى په اساس ځکه ستاسو همکاري به سبب او ذريعه د تکميل د دغه کتاب شي .

ما په ليکلو د دغه کتاب کې له ښه دقت نه کار اخيستي څه چې شيخ صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويلي ما دلته ليکلي خو ليکل د اوريدونکي او ليکل خپله د ويونکي سره په تقديم او تاخير کې فرق لري نو که چيرته رانه په ليکلو کې غلطي شوې وي نو راسره يې شريکه کړي چې د اصلاح لپاره يې اقدام وکړم او په راتلونکي کې بيا په دغه کتاب کې رانه نورې غلطې تکرار نه شي .

يوه بله د پام وړ خبره د محترمو لوستونکو لپاره : هغه دا چې شيخ صاحب چې کومې حوالې د کتابونو ذکر کړي هغه اکثرې حوالې د بيروتي چاپ کتابونو دي ، نو بايد چې اصلِ کتاب ته د مراجعې په وخت کې بيروتي چاپ کتاب ته مراجعه وشي .

د کيفيت او ترتيب په لحاظ سره ستاسو نيکو مشورو ته سترګې په لار يم .

و من الله التوفيق

أخوكم في الله

سيد محمد ثواب

په اول جلد کې د ذکر شوو مسائلو مختصره خلاصه :

﴿١﴾ اصولِ مناظره

﴿٢﴾ مسئله حياة الأنبياء

﴿٣﴾ مسئله كرامات الأولياء

﴿٤﴾ مسئله علم التصوف

﴿٥﴾ مسئلة التبرک بآثار الصالحين

﴿٦﴾ مسئلة الوسيلة

﴿٧﴾ مسئلة تقبيل اليدين والرجلين

﴿٨﴾ مسئلة تقبيل المصحف

﴿٩﴾ مسئلة السيماء

﴿١٠﴾ مسئلة زيادة الايمان و نقصانه

﴿١١﴾ مسئلة التقليد

﴿١٢﴾ مسئلة ايصال الثواب للأموات

﴿١٣﴾ مسئلة القراءة عند الميت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده و الصلاة و السلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعده و هو خاتم النبيين

أما بعد! فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴾ (سورة التوبة آيت : ٧٣) .

وقال الله تبارك وتعالى ﴿ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ . (سورة التوبة آيت : ١٢٣) .

و قال الله تبارك و تعالى : ﴿ فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ﴾ . (سورة البقرة آيت : ١٣٧).

وعن أبي قلابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: لا تجالسوا أهل الأهواء ولا تجادلوهم فإني لا آمن أن يغمسوكم في ضلالتهم أو يلبسوا عليكم ما تعرفون ، و قال أيوب رَحِمَهُ اللَّهُ و قال لي أبو قلابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : يا أيوب ! احفظ مني أربعة لا تقل في القرآن برأيك وإياك والقدر وإذا ذكر أصحاب محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فامسك ولا تمكن أصحاب الأهواء من سمعك فينبذ فيه ما شاء أو كما قال .

و قال عبدالله بن مبارك رَحِمَهُ اللَّهُ :

فلعنة ربنا أعداد رمل ❁ على من رد قول أبي حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ

فلا بالمشرقين له نظير ❁ ولا بالمغربين ولا بكوفة

معززو طالبانو او راغلو قدرمنو عالمانو د علم سره وابسته او تعلق لرونكو ځوانانو !

دا نن اغاز او شروع د درس كورس مناظره مشتمله ګرځوم په اربعة مباحثو باندې :

المبحث الاول : في بيان تعريف علم المناظرة وموضوعها وغرضها مع بيان معناها اللغوي ووجه تسميتها بالمناظرة :

المبحث الثاني : في بيان قسمي الدليل ودفعهما مع الذكر بعض اصطلاحات فن المناظرة :

المبحث الثالث : في بيان شرائط المناظرة :

المبحث الرابع : في اثبات علم المناظرة وكونها من أهم العلوم :

المبحث الاول في بيان تعريف علم المناظرة وموضوعها وغرضها مع بيان معناها اللغوي ووجه تسميتها بالمناظرة :

دا زمونږ د ننني درس چې اولین درس دی مشتمل دی په اغاز د کورس مناظره باندې مونږ مشتمل وګرځوه په اربعة مباحث باندې :

مناظره لغتاً یا مأخوذ ده د نظیر نه او یا مأخوذ ده له نظر نه أخذ د مناظرې د نظیر نه دا اخذ حقیقي نه دي ، بلکې في کون مبدأهما واحداً ، مناظره مأخوذه د نظیر نه په دې معنی باندې چې نظیر د پاره أصل ماده هم نظر دي د مناظرې د پاره اصل ماده هم نظر دي .

نو لغتاً یا مأخوذه ده د نظیر نه او یا مأخوذه ده د نظر نه که مأخوذه د نظر نه شي بیا دغه نظر لره مختلف معاني دي یا نظر په معنی د التفات النفس إلى المعقولات سره او یا نظر په معنی د انتظار سره .

او یا نظر په معنی د تأمل في المعقولات سره او یا نظر په معنی د مقابلې سره ، داد اصلي مادې هغه اخذ شو .

ربط د دغې مناظرې مصطلح د هغې معنی لغوي سره شته دي که ماخوذه د نظیر نه شي نظیر په معنی د هم مثل باندې نو شرط بیا په مناظره کې داده چې :

أن يكون أحد المتخاصمين يا أحد المناظرين نظيراً مع الآخر بالعلم .

چې وي به دواړه متخاصمین برابر په علم کې نو شرط دا شو چې دواړه به په علم کې برابر وي داسې به نه وي چې دا یو صاحب علامة الدهر شيخ الحديث دي او دویم د اولې درجې طالب ده او یا عام جاهل سړي ده ځکه د عالم مناظره له جاهل سره فضول د یو عالم مناظره د یو کم فهم طالب سره فضول ده .

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ به فرمائل :

كلما ناظرت عالماً أبهته وكلما ناظرني جاهل أبهتني .

ما چې کله هم د عالم سره مناظره کړي ده ما عالم پړ کړي ده او که ما د جاهل سره مناظره کړي ده نو زه یې پړ کړي یم نو د جاهل سره مناظره نه کیږي .

او كه ماخوذ د نظر نه شي نو كه دا په معنى د انتظار سره شي نو ربط د معنى لغوي مصطلح سره شته دي په دې كې چې احد المتخاصمين لره لائق او جديره داده چې :

أن ينتظر أحد المتخاصمين إلى أن يتم كلام الآخر .

يو د متخاصمينو به انتظار كوي تتميم د كلام آخر لره .

نو مناظره كې هم يو بل ته انتظار وي يو غږيږي بل غلي او چې دا بل غږيږي هغه او لني غلې وي او كه دا ورکې نه وي هغه بيا منازعي او مجادلي دي مقابلي دي د هغې تعريف را روان دي .

او كه ماخوذ د نظر نه په معنى د تأمل سره شي ربط د لغوي معنى د مصطلح سره داده چې په دې كې اشاره ده :

إلى أولوية التأمل بأن لا يقول أحد المتخاصمين ما لم يتأمل فيها .

نو په دې كې اشارت اولويت د تأمل لره ده او يو د متخاصمينو بغير د پوره سوچ او فكر نه قول نه كوي او كه يې وكړ نو ګيريږي .

خلاصه دا چې معنى لغوي د مناظرې كه ماخوذه د نظير نه شو ه ياد نظر نه :

بمعنى التفات النفس إلى المعقولات أو تأمل في المعقولات او الإنتظار أو المقابلة .

معنى لغوي كه مقابله شي خو هم ربط آسانه ده : أحد المتخاصمين د آخر سره مقابله كې وي دانه شي كيدې چې دواړه دې په حكم ايجابي قائل وي او يا په حكم سلبي قائل وي بيا دغه وخت كې مناظره نه شي كيدې .

په اصطلاح كې مناظره كوم چې صاحب د رشيدې ذكر كوي :

توجه المتخاصمين في النسبة بين الشيئين اظهاراً للصواب .

د دوه جګړه مارو توجه يې ذهني ده په يو نسبت كې په مينځ د شيئينو كې چې يو قائل ايجاب ته نسبت كوي بل به يې سلب كوي كه بل قائل د سلب وي بل به ايجاب كوي په قصد د اظهار حق باندې .

صاحب د رشيدې چې كوم تعريف ذكر كړې دي دا اربعه عللو سره جامع دي په دې كې علت غايي هم بيان شوې علت مادي هم بيان شوې فاعلي او صوري هم بيان شوې په دې كې

توجه د ذهن د متخاصمينو علت صوري شو او دا خپله متخاصمين علت فاعلي شو او نسبت بين الشيئين علت مادي شو او اظهاراً للصواب يې علت غايي شو مقصد به دغه وي .

چا ددې نه اختصار کړي په لنډو الفاظو کې اصطلاحي معنى د مناظرې بيان کړي ده :

هي النظر بالبصيرة من الجانبين في النسبة .

دا هغه نظري منطقي آخلي نظر بالبصيرة دي ددوه جانبينو متخاصمينو نه په نسبت د شيء کې چې ايجابي دي سلبي دي .

دا دويم تعريف صاحب د تعريفات للجرجاني ذکر کړي دي ، جلد ۱ ص ۶۷۸ باندې اول کوم تعريف چې مونږ ذکر که صاحب د رشيدې ذکر کړي ص ۹ باندې .

دارنګې تعريفات د جرجاني جلد اول ص ۲۹۸ هم نقل کړي ، ابو الخير په مفتاح السعادة کې د تعريف د علم مناظرې الفاظ دا ذکر کوي :

هو علم يبحث فيه عن كيفية إرادة الكلام بين المناظرين .

موضوع د علم مناظرې :

الأدلة من حيث انها تثبت المدعیٰ على الغير .

د علم مناظرې د علم اصولو سره معمولي فرق وشو په علم اصولو کې موضوع ادله اربعه دي كونها مثبت المدعى او غير مثبت المدعى هغې نه ساکت دي خپله دا ادله موضوع د علم اصولو ده او علم مناظره چې کوم ده ادله اربعه من حيث أنها تثبت المدعى على الغير دغه څلور دلائل ددې حيثيت نه چې مثبت د مدعى په خصم واخلي دا بيا موضوع د علم مناظرې ده .

همدا وجه ده چې علم مناظره د علم اصولو يو شق ده يعنې علم اصولو کې تاته دلائل زده کيږي او په علم مناظره کې طريقه د استعمال د دلائلو زده کيږي چې دغه دلائل به څنګه مستعملوي کله چې دې چاسره بحث راشي دعوه به څنګه ثابتوي او خصم به څنګه ساکتوي.

نو طريقه د استعمال د دلائلو اربعو علم مناظره ده او خپله دلائل اربعه پيژندل او د هغې انواع پيژندل چې دي دا علم اصول دي نو داد هغې نه شق ده همدا وجه ده که تاسو

مولوي يا حسامي باب القياس کې وګوري نو څه حصه چې راشي الأسولة المتوجه على القياس باب راشي نو هغلته به ناکتين او يا شارحين دا ليکي چې ههنا شروع في بحث المناظرة ، ددې ځای نه شروع په باب د مناظره کې وشوه .

نو داد علم اصولو يو شق ده که څوک يې غير جائز ګڼي هغه دې بيا علم اصول هم او باسي د فنونو مدونه وو نه او بلکې د علم اصولو نه علم مناظره دا ډيره ضروري شوه ځکه هغلته معرفت د ادله محضه وو دي او دلته طريقه د استعمال د ادله وو ده ، اوس چې د ادله وو استعمال باندې نه پوهيږي نو په نفس ادله وو به څه وکړي .

غرض د علم مناظرې :

او غرض د علم مناظرې :

تحصيل ملكة طرق المناظرة لئلا يقع الخبط في البحث فيتضح المطلوب الصواب .

حصول د يو ملکې د لارو د مناظرې دي دې لپاره چې په بحث کې څه خبط واقع نه شي او حق واضح شي .

کله چې سړي دغه غرض نه وي حاصل کړي او دا ملکه دې مناظر ته نه وي کله دې هم ميدان د مناظرې ته نه وړاندې کيږي ځکه دې به اهلسنت وي او مقابل به يې اهل زيغ وي دې به په حق باندې وي مقابل به يې په باطله خو د عدم مهارت نه چې دې به د دغې ملکې خاوند نه وي کيدې شي دغه مناظره کې په ده خبط راشي په بحث کې او هغه حق مسئله دې ښکاره نه کړې شي عوامو ته .

ډير کرته داسې شوې دي يو چا کې قوه د مناظرې نه وی بيا په حقه مسئله کې پاتې راشي نو چې په بحث د مناظرې کې رعب راځي درباندې ترتيب د ادله وو درنه خرابيږي مه وړاندې کيږه د مناظرې ميدان ته ځکه تا کې دا قوه نشته .

دا علم مناظره وه :دوه الفاظ نور دي چې هغه يو لفظ د مجادلې دي بل لفظ د مکابرې دي .

دا دواړه الفاظ د مناظرې سره په مصطلحه معنی کې قربت لري ولې فرق يې شته په بعضې قيد کې :

المجادلة هي المنازعة لا لإظهار الصواب بل لإلزام الخصم.

جګړه ده په مينځ د متخاصمينو کې غرض په کې اظهار حق نه وي بلکې غرض د دوا ړو د خپل خصم الزام او تسکيت وي چونکې غرض باطل ده غايه باطله ده نو جائزه نه شوه اظهار حق نشته الزام د خصم وي.

دريم مکابره ده:

هي المنازعة لا لإظهار الحق ولا لإلزام الخصم.

دا هغه جګړه ده په مينځ د متخاصمينو کې چې غايه ورکې اظهار حق هم نه وي الزام الخصم هم نه وي.

دا فقط يو جانب بل جانب باندې کبر علوه ثابتول دي يو وايي زه تا نه عالي يم بل وايي نه زه دا ستا نه عالي يم اظهار حق او الزام خصم مقصد نه دي.

دا لفظ د جدال قرآن عظيم الشان کې نهه ويشت (۲۹) ځايه مذکور دي د قرآن عظيم اصطلاح داده چې کوم ځای کې جدال راشي نو دا جدال، جدال مذمومه وي مګر چند مواضع ترې استثناء دي.

دا دغه د اظهار حق لپاره چې کومه منازعه شوې وي چې مناظره ورته وايي هغه نه وي بلکې لا لإظهار الصواب چې کوم تعريف مونږ د مجادلې وکړو نو دغه جدال ته جدال مذموم ويلې شي، نهه ويشت (۲۹) ځايه قرآن کې جدال راغلي خو دا له صفاتو د اهل کتابو او غلطو خلکو نه ګرځولې شوې که د ټولو تفصيل ته ورځو نو زيات وخت به ونيسي.

خو په دې نهه ويشتو (۲۹) ځايونو کې دري (۳) ځايه جدال ممدوحه دي مذمومه نه دي باقي د هغې نه چې څومره الفاظ د جدال په قرآن کې راځي هغه بد وي مذموم وي قبيح وي ځکه اظهار حق په کې نه وي مثلاً سورة بقره کې راځي:

﴿فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلْحَجِّ﴾ سورة بقرة آيت: ۱۹۷.

او په سورة نساء کې راځي:

﴿وَلَا تُجَادِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ﴾. (سورة النساء آيت: ۱۰۷).

په سورة نساء کې بيا راځي:

﴿ هَاأَنتُمْ هَؤُلاءِ جَادَلتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَن يُجَادِلُ اللهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلاً ﴾ . (سورة النساء آيت : ١٠٩).

او په سورة انعام كې راځي :

﴿ حَتَّى إِذَا جَآؤُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُواْ إِنْ هَذَآ إِلاَّ أَسَاطِيرُ الأَوَّلِينَ ﴾ . (سورة انعام آيت : ٢٥).

او په سورة انعام كې په بل ځاى كې راځي :

﴿ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ﴾ . (سورة انعام آيت : ١٢١).

او په سورة اعراف كې راځي :

﴿ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاء سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ﴾ . (سورة اعراف آيت : ٧١).

او په سورة انفال كې راځي :

﴿ يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴾ (سورة انفال آيت :٦).

او په سورة هود كې راځي :

﴿ قَالُواْ يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتَنِا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴾ . (سورة هود آيت : ٣٢).

همدا شان نهه ويشت (٢٩) ځايونه جوړيږي چې په هغې كې جدال راغلي دى مراد ترې نه اكثر جدال مذمومه دي خو دري ځايونه دي چې لفظ د جدال راغلي دي خو دا جدال ممدوح دي مذموم نه دي مراد .

يو د هغې نه په سورة نمل كې راځي :

﴿ ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ . (سورة نمل آيت : ١٢٥).

دا خطاب رحمت عالم ته دي دلته مراد د جدال نه هغه مصطلح نه دي مذموم چې : هي المنازعة لا لإظهار الصواب بلکې اظهار د صواب د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مقصد دي د غه جدال مستثنى دى دغه جدال نه مراد مناظره ده جدال مقبوحه مذمومه نه ده مراد .

يا سورة عنكبوت كې رائحي :

﴿ وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ . (سورة عنكبوت آيت : ٤٦).

د الا بالتي استثنى نهي نه ايجاب راولي دلته چې كوم جدال له اهل كتابو سره په طريقې احسن ثابت شو دا مناظره ده جدال مقبوح مراد نه ده .

يا سورة مجادله كې رائحي :

﴿ قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴾ . (سورة مجادلة آيت : ١).

نو هغلته مراد د جدال د هغه بي بي نه چې كوم خولة بنت ثعلبة الانصاري رحمها الله وه شان نزول به يې تاسو ته معلوم وي .

د خپل خاوند اوس بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره كومه نزاع چې راغلې وه نو دغه جدال چې په حقه باندې دغه بي بي وه دا جدال مذموم نه وه بلکې تجادلك في زوجها د دې مقصد اظهار حق وه .

دا نهه ويشت (٢٩) ځايه قرآن كريم كې لفظ د جدال راغلي ، ٣ ځايه ممدوح مناظره مراد ده اظهار حق مراد دي باقي اكثر مواضع هغه جدال مصطلح ده چې هغه لا لاظهار الصواب او جائز نه دي .

بيا قرآن عظيم الشان كې كله كله د دغې مناظرې مجادلې منازعې مكابرې نه تعبيرونه په لفظ د حجت سره كيږي نو ٢٧ ځايه قرآن عظيم كې محاجات ذكر دي لكه سورة بقره كې :

﴿ وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ (سورة البقرة آيت : ٧٦).

محاجات ذكر دي .

يا په سورة بقرة کې راځي :

﴿قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي اللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ﴾. (سورة البقرة آيت : ۱۳۹).

نو دا محاجات محاجات عامه وي قرآن عظيم کې کله محاجات دليل بازي وي د هغه مناظرې لاظهار الحق مراد وي او کله کله مجادله محضه مذمومه لا لاظهار الحق مراد وي.

په سورة بقره کې راځي :

﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ﴾. (سورة بقرة آيت آيت : ۱۵۰).

دليل پاتې نه شي .

نو جدال نهه ويشت (۲۹) ځايه راغې درې ځايه ممدوح باقي مذموم محاجات چې دي دا اوه ويشت (۲۷) ځايه مذکور دي اکثر دلته هم محاجات محاجات بالباطل وي .

او کله کله دا مناظره منازعه قرآن عظيم کې په لفظ د سلطان سره هم راځي نو هغه چې لفظ د سلطان سره مذکوره ده ، اوه ديرش (۳۷) ځايه قرآن عظيم کې راغلې ده بعضې وايي درې ديرش (۳۳) ځايه ذکر ده :

﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا﴾. (سورة آل عمران آيت : ۱۵۱).

او يا :

﴿واتينا منه سلطان مبين﴾.

نو خلاصه د مبحث اول داده چې تعريف د علم مناظرې او بيان موضوع ، غرض د علم مناظرې سره د بيان معنی لغوي او څه مناسبت د معنی لغوي معنی مصطلحې سره .

المبحث الثاني في بيان قسمي الدليل ودفعهما مع الذكر بعض اصطلاحات فن المناظرة:

د دليل د پاره اقسام سره د بيان د بعضې اصطلاحاتو د فن مناظرې طرز او طريقه به دا وي دغه متخاصمين چې يو مسئله شرعي کې د وي اختلاف لري يو جانب به ځان مدعی کې بل به سائل شي اهل دد ې فن مدعی چاته وايي سائل چاته وايي نو مدعی **من نصب نفسه لاثبات الحكم بالدليل او بالتنبيه**، هغه انسان په متخاصمينو کې چې خپل مينځ کې زيد عمر سره نختي دي دغه متخاصمينو کې چې کوم انسان ځان ودروه **لاثبات الحكم**، د يو حکم د ثبوت د پاره **بالدليل في النظري وبالتنبه في البدهي** دغه ته مدعي ويلې شي او س سائل به چاته وايي هغه دويم جانب خود بخود سائل جوړ شو هغه څوک شو **من نصب نفسه لنفي الحكم**، هغه انسان ده چې دغه مدعي کوم حکم ثابتول غواړي دي يې نفي غواړي.

چا چې ځان ودروه د نفي د حکم لپاره نن صبا د اهل حديث دهو که ورکوي خلکو ته نه يې رشيديه کتلي نه تعريفات د جرجاني د ځان نه دهو که ورکوي خلکو ته څو مره مسائل چې نن صبا زمونږ او د دوي مينځ کې نزاعې دي مونږ اکثرا مثبتين يو دوي منفيين.

اکثر داسې دي مونږ دعا بعد السنة ثابتوو دوي يې نفي کوي مونږ دعا بعد الجنازة ثابت وه دوي يې نفي کوي مونږ توسل ثابتوو دوي يې نفي کوي، مونږ تبرک ثابتوو دوي يې نفي کوي، مونږ کرامت ثابتوو دوي يې نفي کوي دغسې ټول مسائل متنازعة فيها دوي نافيين دي مونږ مثبتين يو دوي لنډ تاته راتاؤ شي.

الدليل على المثبت لا على النافي، دليل په مثبت وي په نافي نه وي ته دلائل وايه زما د دلائلو کار نشته دي دهو که درکوي تاته او دې غريب ناخبره دي نا ځان پوه کړي مدعي چا ته وايي **من نصب نفسه لاثبات الحكم لا للحكم الاثباتية الموجبي**، دا نشته مدعي چاته وايي چې هغه ځان نسب که حکم د اثبات لپاره او حکم تا منطقو کې ويلې څو قسمه دي:

سلبي ، ایجابي دي که تا د حکم سلبي د پاره ځان ودروه ته حکم سلبي ثابتوي هم ته مدعي او که ته حکم ایجابي ثابتوي هم ته مدعي نو نافي مدعي جوړي دي شي دي ځای کې مې مقصد ده چې نافي هم مدعي دي ځکه نافي څه کار کوي هغه ثابتوي حکم سلبي.

دعا بعد سنت جائز نه ده نو د عدم جواز حکم يې وکو نو دې مثبت د حکم سلبي شو نو مدعي شو او دلیل په مدعی باندې ده نه په سائل باندې که دا څوک وايي چې دلیل په مثبت ده نه په نافي دا غلطه خبره ده دا په اصولو کې نشته او نه په فن د مناظرې کې شته اهل د مناظرې دا ذکر کوي چې دلیل په مدعي ده نه په سائل مدعي په حکم ایجابي وي که په حکم سلبي دواړه به دلائل وايي.

دا یوه پخوانی نزاع ده د داؤد الظاهري او د ابن حزم الظاهري د امام الباجل مالکي سره یوه عظیمه مناظره پخوا تیره شوې هغه وخت کې اربعه ائمه او اصولین ټول په دې متفق وو چې څنګه مثبت دلیل پیش کوي نافي به هم دلیل پیش کوي داد څلورو مذهبونو د اصولو متفقه فیصله ده چې دلیل په نافي هم ده دلیل په مثبت هم ده خو فقط په فن د مناظرې کې چې یو مدعي شو نو په سائل بیا دغه وخت کې دلیل نشته ، مدعي به اثبات کوي سائل به یا جواب کوي یا به تسلیمي کوي.

د دعوي جواب يې که وکړو فَبِهَا او که وي نکړو تسلیمیږي به بیا چې کله مدعي دعوی ثابت نه کړي شوه اوس به خبره اولټه شي سائل به مدعي شي ولي مدعي به ایجاب کوه ده به سلب کوه هغه مدعي وه اوس به سائل مدعي شي هغه مدعي به سائل شي اوس به دې دلائل شروع کړي هغه به یا جواب کوي یا به تسلیمیږي.

نو اهل فن د مناظرې دا وايي نو په دغه یو پیچیده ځای باندې مو دهو که نه کړي خدشه در وانه چوي چې دلیل په مثبت ده نه په نافي دا په اربعة ائمه د اصولو کې د چا قول هم نه دي اربعة ائمه دا وايي دلیل په نافي هم ده دلیل په مثبت هم ده دواړه به دلائل وايي دعا بعد السنة جائز نه ده دا به هم دلیل وايي چې چا ویلي چې جائز نه ده په قرآن کې به نفي بنايي په آحادیثو کې به نفي بنايي یعنې اربعة ادله وو کې به يې بنايي که ته وايې، چې ثابت ده جائز ده ته به هم دلیل بنايي نو دلائل په دواړو دي هم په نافي هم په مثبت باندې.

البته په فن د مناظرې کې چې یو مدعي شو بل سائل شو دغه وخت کې په مدعي دلیل

شته په سائل نشته چې مدعي دعوی ثابته نه کړې شوه او سائل مدعي وګرځیده او س به هغه دلیل وایي بیا په هغه دلائل دي .

نو تاسو دې تعریف ته ګوري دې کې پیچیده ګي ده .

من نصب نفسه لاثبات الحکم ، چا چې حکم ثابتولو ته ځان ودروه حکم موجب ته یې ځان ودروه دا نه حکم ته یې ځان ودروه چې حکم ثابتوي کوم حکم یا سلبي ثابتوي یا ایجابي ثابتوي که هریو ثابتوي نو دا مدعي شو او دلیل په ده باندې ده چې تا وویل دعا بعد السنة جائز ده تا ځان ددې د ثبوت لپاره قائم کړو چې زه دا ثابتوم پس ته مدعي شوي مقابل دې سائل شو ته به دلیل وایي هغه به یې نه وایي .

او که هغه وویل چې دعا بعد السنة جائز نه ده هغه مدعي شو ته سائل شوې ډیر کوشش به کوي هره مناظره کې به ځان سائل پریږدي بل به مدعي جوړوي نو وروسته به په شرائطو کې راشي چې خصم به په دلیل کې مخکې کوي .

کوم ځای کې دي چې خصم په دلیل کې مخکې کړو نو پړ به وي که ته یې مخکې کړې په دلیل کې نو ته به پړ یې نو طریقه د مناظرې دا چې ځان به اولین مدعي نه جوړوي بلکې ځان سائل جوړ که هغه به مدعي جوړ کړي هغه چې مدعي شو نو دلیل په هغه شو نو ته یې اعتراضونو ته کیناستي نو **مدعي من نصب نفسه لاثبات الحکم بالدلیل او بالتنبه** او **سائل من نصب نفسه لنفي الحکم** .

که مدعي حکم ایجابي ثابتوه او ته نفي د حکم ایجابي کوي نو نفي د نفي اثبات شو او که هغه حکم سلبي ثابتوه او ته اوس حکم سلبي نفي کوي نو ایجاب شو او که هغه حکم ایجابي ثابتوه او ته حکم ایجابي نفي کوي نو سلب شو نو دغه دواړو ته سائل ویلې شي .

هر چې دلیل ده چې : دلیل دوي چاته وایي :

مرکب من القضیتین لیتأدی به إلی مجهول نظري .

همغه تعریف چې مناطقه یې کوي هغه چې مرکب د دوه جملونه وي خو دا مؤدي وګرځیږي تا ته په سبب ددې قضیتینو ته ترتیب ورکړې او دا مؤدي شي په دې طریقې سره مجهول نظري لره دغه دلیل په دوه قسمه دي : (۱) دلیل شرعي ، (۲) دلیل عقلي :

دليل شرعي ته دليل سمعي ويلې شي تعلق تر مسموعاتو نيسي ، دليل عقلي په دوه قسمه دي : مطرده ، منعكسه :

دليل مطرد دوي دې ته وايي : مايوجد الحكم بوجوده ، داسې دليل قائم کړي چې د هغې د وجود سره حکم خود بخود ثابت شي .

او هر چې منعكسه دي : ماينتفى الحكم بانتفائه . ددغه دليل مطرد منعكسه چې عبارت ده د عقليه نه كه چا پيش كړو درته نو د فعه به يې كولې شي بسبعة طرق په اوه طريقو سره اصولو كې تاسې ويلي الأسولة المتوجه على القياس المطرد سبعة ، اعتراضات چې متوجه دي په قياس مطرد باندې اوه دي .

اول د هغې نه ممانعه ده ، دوهم د هغې نه القول بموجب العلة ،دريم قلب ،څلورم عكس، پنځم فساد الوضع ، شپږم نقض ، اوم معارضه .

دليل عقليه مطرّد يا منعكسه دفع كولې شي په سبع طرق باندې يا په ممانعه باندې .

ممانعه په دوه قسمه ده : (۱) منع العلة ، (۲) منع الحكم ، مقيس او مقيس عليه علت مشترک حکم دا اركان دي لپاره د قياس اصولي ، صغرى كبرى حد اوسط او نتيجه .

په اقتراني كې اركان شول لپاره د قياس منطقي نو اوله دفعه د دليل عقلي منعكس مطرد په ممانعت سره يا ممانعه د حكم يا ممانعه د علت ممانعه د حكم څه معنى علت مشتركه و حكم مقيس او مقيس عليه علتي مشتركه او حكم دا علت مشتركه په كې نفي كړه هغې لپاره لاړ و ګوره چې علت مشترک يې باطل شي نو حكم خپله ختم شو قياس د مقيس عليه په مقيس باطل شو .

دوهم منع الحكم علت تسليم كړه خو حكم مه منه د دواړو لپاره اصولين يو مسئله زمونږ او د شوافعو مينځ كې اختلاف مثال كې پيش كوي .

ليلة الفطر كې يو سړي مړ شو ده باندې صدقه فطر لازمه شوه او كه نه د آخري روژې ماښام لمر پرېوت مړ شو دده سرسايه شته او كنه شوافع وايي سرسايه يې لازمه ده احناف وايي سرسايه نشته دي شوافع فيصله او حكم جوړوي صدقة الفطر توجب على موته ليلة الفطر شپه دواړه اختر كې په مرګ سره واجبه شوه سرسايه ځكه لان العلة وجوبها الفطر ،

علت د وجوب د صدقه فطر د آخري ورځې ده چې روژه ماته شوه غروب پرې راغې بس صدقه لازمه شوه علت موجود شو .

ته ممانعه وکړه ددوي دغه دلیل نه په منعه د وصف او علت سره نه منمه دا چې علت د وجوب د صدقه فطر لپاره فطر دي بلکه علت د وجوب د صدقې فطر د اتمه وو نه دي وجود د هغه ذات دي چې د هغه مشقت په ځان باندې برداشت کوي په دې خو اتفاق دي چې وخت د اداء د صدقې فطر بعد طلوع الفجر دي د اختر په ورځ د سحر نه وروسته ده وخت یې هغه دي او علت د وجوب لپاره هغه رأس او ذات دي چې د هغه مشقات ځان باندې برداشت کوي هغه وخت کې وګوره چې هغه ذات شته او کنه نو ذات نشته سړي مړ دي نو صدقه څنګه لازمه شوه دلیل ورباندې دا حدیث مبارک دي :

أدوا عمن تموّنون .(المبسوط ج ٤ ص ١٣٤)

ادا کړي صدقه فطر د هر هغه چا نه چې د هغه مشقت په ځان باره وي لکه واړه ماشومان د چا مشقت د نفقې خرچې جامې سکنی په تا باندې وي د هغوي نه یې ادا کړي.

نو دا ممانعه شوه په منع الوصف باندې هغوي علت د وجوب د صدقه فطر وګرځوه تا وویل چې نه منم چې علت یې فطر ده بلکې علت یې رأس هغه دي چې مشقت یې په ځان باندې برداشت کوي په وخت د وجوب د اداء کې دغه رأس نشته نو صدقه هم نشته دو همه ممانعه ممانعه د حکم ده علت تسلیم شي حکم ونه منلې شي زمونږ او د شوافعو مینځ کې یو بل اختلاف دي جمهور ائمه وايي په مسح کې تثلیث نشته شوافع وايي چې په مسحه کې تثلیث دي دې کې شوافع ځان ته دي او داسه کې لاس خپي وینځل د تثلیثاتو نه دي خو د سر مسح یو ځل ده شوافع وايي نامسحه به هم دري ځل کوي هغوي دلیل پیش کوي :

المسح رکن في باب الوضوء فليسن تثليثه كالغسل .

غسل د اندامونو ثلاثو مقیس علیه شوه مسح د سر دا مقیس شو علت مشترکه په وسط کې کونه فرضاً فرضاً شو حکم په مغسولاتو اندامونو ثلاثو کې تثلیث مسنونیت د هغوي شو دا حکم نقل شو مسح لره دلته هم دا حکم د تثلیث شو هغوي یو قیاس وکړو : ته دغه حکم **فليسن تثليثه كالغسل** په مقیس علیه کې حکم د مسنونیت د تثلیث نفې کړه داسې

و وایه اصلا تثلیث د مسنوناتو نه، نه منم بلکې اطالت په قدرِ مفروض باندې په مفروضاتو کې د مسنوناتو نه وی هر یو شی چې فرض وي په هغه فرض کې زیادت په هغه فرض کې اطالت دا د مسنوناتو نه وي لکه قیام نفس قیام فرض ده اطالت په کې مسنون ده رکوع فرض ده اطالت یې مسنون نو اصل کې تکریر د مسنوناتو نه نه دي بلکې زیادت او اطالت د مسنوناتو نه دي په قدرِ مفروض کې اوس دغه اطالت او زیادت په مغسولاتو دا نداموتو کې متصور نه وه بغیر د تکریر نه نو مونږ حکم و کوه چې تکریر د مسنوناتو نه اصل کې زیادت د مسنوناتو نه وه حکم زیادت د مسنوناتو نه دي اطالت دي په قدر مفروض باندي خو دا اطالت او زیادت په مغسولاتو کې متصور نه وه بدون د تکریر نه نو مونږ قول و کوه چې تکریر د مسنوناتو نه دي حکم منعه شو چې تکریر ته مسنون مه وایه زیادت اطالت په قدرِ مفروض باندې مسنون وګنه هر چې مسئله د سر ده هلته اطالت او زیادت پوره کیږي په استیعاب باندې نو ضرورت نشته تثلیث لره نو استیعاب د مسنوناتو نه شو تکریر ته څه ضرورت پاتې شو دا اوله دفعه د قیاس عقلیه منعکسه مطرد ممانعې سره په منعه د علت یا منعه د حکم د ویمه دفعه د دلیل عقلي مطرد یا منعکسه قول دي بموجب العلة قول بموجب العلة دوي چاته وایي تسلیم کون الوصف علة وبیان أن معلولها غیر ما ادعاه المعلل علت مشترکه په مینځ مقیس او مقیس علیه کې تسلیم کړي شې تسلیم کون الوصف علة ومنلې شي چې علت همد غه دي وبیان أن معلولها غیر ما ادعاه المعلل خو بیرته واضحه شې دا خبره چې علت دغه دي خو معلول هغه نه دي چې تاسې راویسته دي هغه حکم نه ده چې تا راویستې دي مثال د احنافو او موالکو مینځ کې اختلاف دي په غسل د مرفق کې جمهور أئمه په دې قائل دي دري واړه امامان دا څنګله دا خله ده په مغسول کې امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دا مرفق داخل نه دي په مغسول کې لازمه نه ده یعني قدرِ مفروض کې، نه ده نو دري واړه امامان وایي چې مرفق داخل په قدرِ مفروض د مغسول کې او امام مالک صاحب وایي نا دا داخل نه ده په قدرِ مفروض کې لازم نه ده سنت او مستحب به وي خو فرض نه ده دي وایی هغه دلیل وایي إن المرفق حد فلا یدخل تحت المحدود ولان الحد لا یدخل فی المحدود وایدیکم إلی المرافق داحد شو دا غایه شوه دا مرفق چې ذکر شوې داحد دي نو دا په محدود

کې نه داخلیږي ځکه حد محدود کې داخل نه وي نو چې مرفق حد وګرځیده نو محدود چې مغسول ده په هغې کې داخل نه شو په دلیل د لان الحد لایدخل في المحدود سره ته اوس تسلیم ددې علت او دلیل وکه منم چې الحد لایدخل في المحدود دا علت مسلم دي خو حکم داسې راوباسه چې هغه غیرو خیژي د هغه چا نه ادعاء المعلل اوس ته وو ایه دا لاس که د پنځې خوا نه حد یې ځنګل شي نو د اوږې خوا نه راشه نو ځنګل حد وګرځوه د متروک نه د مغسول نو هغوي اوس د پنځې خوا نه شروع کوي ځنګل حد ګڼې نو حد چې په محدود کې نه وي داخل نو مرفق په مغسول کې نه دي داخل.

ته ورته د بره خوا نه راشه نو دا مرفق حد د مغسول هم دي حد د متروک هم دي نو او وایا دا ځنګل حد المتروك فلا یدخل في المتروك لان الحد لا یدخل في المحدود دا مرفق حد د متروک دي او حد په محدود کې داخل نه وي نو مرفق په متروک کې داخل نه ده مغسول کې خپله داخل شوه دیته ممانعه ویلی شي دیته قول بموجب العلة ویلې شي تسلیم کون الوصف علة و بیان أن معلولها غیر ما ادعاه المعلل علت ومنلې شي خو هغه حکم بل ثابت شي خلاف د هغې نه چې معلل ثابت کړې وي.

دریم دفع د قیاس عقلي مطرد یا منعکسه هغه قلب ده قلب لره هم اصولین دوه اسمین ذکر کوي قلب الحکم او قلب العلة، د هغې طریقه داسې ده جعل علة الخصم معلولا ومعلوله علة، د خصم علت معلول کړه او معلول یې علت کړه یا دوهمه طریقه دا جعل سائل ما جعله المعلل علة لما ادعاه من الحکم علةً لضد ذلك الحکم، سائل چې مدعي شي نو معلل ورته ویلې شي د کوم حکم لپاره علت جوړ کړي همدا علت را واخلي د هغې حکم ضد پرې ثابت کړي نو جعل سائل ما جعله المدعي یا معلل علةً لما ادعاه من الحکم علتاً لضد ذلك الحکم، علت هغه را واخلي حکم پرې غیر ثابت کړي، فیصیر حجةً للسائل دون المعلل والمدعي، مثال د هغې لپاره زمونږ او د شوافعو مینځ کې په یوه جزیه کې اختلاف ده د رمضان روژه چې کله رمضان راشي د شوافعو راي داده د روژه نیونکي لپاره تعین قصد قلبي په رمضان کې روژه

نيونكي لپاره د فرائضو نه ده د نيت تعين به كوي كه د نيت تعين يې ونه کړو د غه روژه يې نه صحيح كيږي .

احناف وايي نيت ضروري دي ښه خبره ده خو كه عبد تعين كوي او كه نه يې كوي شارع تعين كړي ده د قضا روژه د كفارې روژه په كې نه صحيح كيږي نور هيڅ هم نه صحيح كيږي ، ځكه د شارع تعين موجود ده كه د ده تعين وي كه نه وي شارع تعين كړي دي تعين عقد قلبي دې له عابد سره تعلق لري او قصد د عابد په مقابله د قصد الله تعالى و ارادته كې چې تعين هغه كړي د اله العالمين تعين مقدم ده په تعين د عبد باندې .

هغوي يو قياسي مثال پيش كوي : **ان صوم رمضان فرض فشرط فيه التعين كالقضاء** ، قضاء مقيس عليه كه رمضان مقيس كه علت مشترك كونهما فرض دا فرض ده حكم هلته په قضاء كې تعين د صائم نه نو حكم د لته هم تعين د صائم نه .

مونږ جواب له دې نه كوو : **لا يشترط التعين فيه بعد ما تعين اليوم كالقضاء** ، د عبد له خوا تعين ته هيڅ ضرورت نشته وروسته له دې نه چې تعين د يوم له شارع نه راغلي لكه قضاء تا چې د قضاء لپاره يو ورځ متعينه كړه له مخكې نه هغه ورځ چې راشي دو هم تعين ته هيڅ ضرورت نشته نو د عبد نه چې تعين راغې دو هم تعين ته ضرورت نشته نو چې شارع نه تعين راغلې د عبد تعين ته څه ضرورت ده علت و منلې شو خو حكم ضد د هغې باندې ثابت شو .

څلورمه دفعه د قياس عقليه مطرد يا منعكسه په عكس سره كيږي عكس **تمسك السائل بأصل المعلل على وجهٍ يكون المعلل محتاجاً إلى وجه المفارقة بين الاصل والفرع** ، دا دوه خصمين چې يو مدعي ده چې معلل هم ورته وايي ځكه علت او تعليل دې بيانوي دا دو هم تعليل دي راپاڅي سائل باصل المعلل معلل په علت استدلال وكړي داسې يو عجيب استدلال وكړي چې مدعي مجبوره شي مفارقې ته په مينځ د دې علت او حكم كې چې اصل او فرع دي د ده د علت نه داسې يوه جزيه راوباسي چې مدعي خپله هم مجبوره شي چې زما د علت او زما د حكم يعنې د اصل او فرع په مينځ كې مفارقه جدائي په كار ده نو دې ته عكس ويلې شي مثال زمونږ او د شوافعو په مينځ كې جزيه اختلافي ده زنانه چې كوم زيورات لري نصاب ته چې ورسيږي ، احناف وايي په دې باندې زكات شته دي .

شوافع وايي زنانوو باندې په زيوراتو کې زکات نشته څومره زيورات چې ولري زکات په کې نشته، په آحاديثو کې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ د مذهب په تائيد ډير زيات روايات دي، هغوي عقلي قياس داپيش کوي: الحلي اعدت للابتذال فلا تجب فيه الزكوة كثياب البذلة، جامې د استعمال مقيس عليه ګانړه د زيوراتو د استعمال مقيس علت مشترکه کونها للبذلة للبذلة حکم په جامو د استعمال کې عدم زکوة دلته هم حکم عدم زکوة دا قياس شو ته اوس عکس په شکل د دفعه دې قياس وکړه ورته ووايه تا قياس دې د پاره مقيس عليه ثياب البذلة راويستي ستا د قياس په شان به زه هم قياس وکړم: هغه زيورات سپين زر وغيره چې سړو استعمال کې راوستې دي لا تجب فيه الزكات ځکه چې دا اعدت للابتذال د استعمال لپاره دي فلا تجب فيه الزكوة كثياب البذلة.

نو اوس شوافعو ته وايو چې سړو کله چاندي د ځان د استعمال لپاره جوړه کړه زکوة په کې شته نو دوي وايي هاو شته په کې نو ستا علت خو هلته هم موجود ده کنه هغه هم د ابتذال لپاره دي او دا هم د ابتذال لپاره، دده علت او قياس دي را واخيست اوس دې مجبوره دي چې دې به دا خبره هم کوي چې نارينه د استعمال د پاره سونا ساتي نو هم زکات په کې نشته يا به دا خبره کوي که دا خبره نه کوي نو د خپل اصل او فرعې مينځ کې به د مفارقت قول کوي نو دې ته عکس ويلې شي.

پنځمه دفع د قياس عقلي مطرد منعکسه فساد الوضع ده ددې آسانه معنى داده معلل او مدعى د غه علت وضع کړي د اثبات ددغه حکم د پاره ته راپورته شي سائل جعل السائل العلة وصفاً بحيث لا يليق بهذا الحكم، سائل دا علت داسې يو وصف جوړ کړي چې دغه حکم دې سره ملائم مناسب نه وي نو فساد د وضعي تا چې تعين او وضع ددې علت دې حکم ته کړې ملائمه او مناسبه نه ده.

زمونږ او د شوافعو مينځ کې يوه جزيه اختلافي ده دا خبره اتفاقي ده چې ارتداد د احد الزوجين سبب د زوال د نکاح جوړيږي.

سبب د مفارقت : ښځه او خاوند کې يو مرتد شي نو ارتداد د احد الزوجين سبب د زوال د نکاح جوړيږي دا خبره اتفاقي ده نو اوس اسلام د احد الزوجين دا سبب لپاره د زوال د نکاح سابقې جوړيږي او که نه دا خبره اختلافي ده : احناف وايي ارتداد د احد الزوجين سبب د زوال د نکاح جوړيږي خو اسلام د احد الزوجين سبب د زوال د نکاح سابقې نه جوړيږي ښځه او خاوند کې يوه اسلام قبول کړه بيا هم په زړه نکاح پاتې کيدې شي هغوي دليل وايي : **الإسلام أحد الزوجين اختلاف في الدين فيفسد النكاح كارتداد أحد الزوجين** ، نو ارتداد د احد الزوجين مقيس عليه اسلام د احد الزوجين مقيس علت مشترکه په دواړو کې اختلاف د دين حکم په صورت د ارتداد کې زوال د نکاح حکم په اسلام کې د ارتداد احد الزوجين هم زوال د نکاح دا قياس شو ددوي ته پرې فساد د وضعې وکړه دا کوم علت چې اختلاف د دين ده وضعه يې کړو د زوال د نکاح لپاره او قياس يې کړو اسلام د احد الزوجين په ارتداد باندې نو ګويا کې قياس د اسلام په ارتداد راغې او په ارتداد کې زوال حکم وه نو په اسلام کې يې هم زوال حکم وګرځوه .

اوس راشه چې دا اسلام سبب د اتفاق يوځای والې دي او که د تفرقې دي ارتداد خو هسې هم تفرقه ده اسلام سبب د تفرقې کيدې شي او کنه نو جواب ورته دا وکړه چې **الإسلام عاصم غير مزل** ، اسلام خو د حقوقو محافظ دي ملکيت نور هم تاموي زائله کوي يې نه تا خو اسلام مزل ثابت کړو نو **كون العلة وصفاً بحيث لا يليق بهذا الحكم** .

علت نه داسې وصف جوړ کړي چې کوم حکم معلل ثابتوي هغه دې سره ملائم نه وي نو ارتداد خو معلومه خبره ده سبب د تفرقې ده او هر چې اسلام ده دا خو سبب د اتفاق او اتحاد ده نو دا ته څنګه سبب د تفرقې جوړوي .

شپږمه دفع د دليل عقلي مطرد يا منعکسه نقض دي ، نقض چاته وايي : **وجود العلة بدون الحكم** ، هغه چې کوم علت راويستلې هغه علت پيدا کړه او حکم نه وي خپله هغه مجبوريږي فساد ته په کې لکه د حنابلو رايه داده ظواهر هم پرې قائل دي چې نيت په اوداسه کې د فرضو نه دي دليل وايي : **الوضوء طهارة فالنية شرط فيه** ، اودس طهارت دي نيت په کې

شرط دي ، مونږ وایو منقوض بغسل الثوب ، ستا دلیل منقوض دي په غسل د ثوب سره .
تا دلیل کې ویلي چې هر طهارت کې نیت شرط دي نو په دې کې هم شرط دي نو دا خبره چې هر طهارت کې نیت شرط باطله ده منقوضه ده په غسل د ثوب سره یو سړي جامې وینځلې خو په نیت د طهارت یې و نه وینځلې نو نیت په کې نشته طهارت راغې نو دا نقض دي وجود د علت بدون الحکم .

او مه دفع د قیاس عقلي مطرد یا منعکسه هغه معارضه ده لکه د شوافعو سره همغه جزیه اختلافي ده چې تثلیث په مسحه کې هغوي د مسنوناتو نه ګرځوي جمهور یې نه ګرځوي قیاس د هغوي دادې چې : **المسح رکن في الوضوء فلیسن تثلیثه کالغسل** ، مغسولات مقیس علیه کړه ممسوحات مقیس شو علت مشترکه رکنیت رکنیت شو ، حکم هلته تثلیث دلته هم تثلیث شو ته ورته معارضه د قیاس وکړه ورته ووایه : **المسح رکن فلا یسن تثلیثه کالمسح علی الخفین والتیمم** دا مسحه رکن ده خو تثلیث یې سنت نه ده لکه مسحه په خفینو او تیمم باندې هلته تثلیثات سنت نه دي نو دلته هم تثلیث سنت نه شو نو ده قیاس وکړو د مسح په غسل باندې مونږ قیاس وکړه د مسحې په مسحې باندې معارضه هم ده د معارضې په صورت کې بیا ترجیح قوي دلیل ته ورکولې شي نو معلومه خبره ده چې قیاس د ممسوح په مغسول باندې او قیاس د ممسوح په ممسوح باندې نو دا قیاس اولی شو د هغه قیاس نه چې دوي په مغسولاتو کړې ده دا معارضه ده .

دوهم دلیل :

دوهم دلیل سمعي دي ددې نه اصولین تعبیر کوي په دلیل مؤثره سره دلیل مؤثره دوي چاته وایي **ما لا ینتفي الحکم بانتفائه** د دلیل په نفي سره حکم نه نفي کیږي ځکه چې کیدې شي دلیل مؤثره سمعیه کې یو حکم ثابت شي **بعشرة دلائل** سره یو نفي کړه په یو اعتراض وکړه په بل به ثابتیږي نچوړ یې داسې ده مطرد لکه ته چې قیاساتو باندې دلیل پیش کړې او سمعیه د قرآن سنت اجماع نه دلیل پیش کوي نو دا مؤثره دي دا سمعیه دي او قیاسات چې دي هغه عقلیه مطرد منعکسه دي د هغې د فعه بسبعة طرق ده ددې د فع په یو شیز ده چې

معارضه ده هسې نه چې چا دلیل کتاب الله نه پیش کړې وي ته پرې ممانعې پیش کوي فساد الوضع پیش کوي قول بموجب العلة پیش کوي یا قلب یا عکس یا معارضه نقض یو ه هم نه شي کولې په غیر د معارضې نه په دلیل سمعیه کې دفع صرف په معارضه وي چې آیات چا پیش کړه معارضه کې آیات درنه غواړي او که حدیث یې پیش کړو نو په معارضه کې به حدیث پیش کوي نو بیا ته هلته د نص په لحاظ د متن په لحاظ اخذ بالعمل او تعامل په لحاظ وجوه د ترجیح شته کنه چې په کومه طریقه ترجیح وي هغې ته به ترجیح ورکوي نو دا دویم دلیل مؤثره شو چې دې ته دلیل سمعي ویلې شي نو دفع یې کیږي په معارضه باندې بل شي باندې یې دفع نه شي کیدې .

دا دلیل سمعیه بیا په دري قسمه دي : اول د هغې نه کتاب الله دي ، دویم ددې نه سنت رسول دي ، دریم ددې نه اجماع ده ، زه اجمالي په اصولو تیریږم دا تاسو ته تیر شوې هم دي خو چې مستحضر شي درته او دا فن د مناظرې له فن اصولو سره ولړي باقي دا تاسو ته بار بار تیر شوي دي ، اول : د أدّلوو سمعیو نه کتاب الله دي د هغې لپاره شل (۲۰) قسمونه دي قسم اول د هغې خاص دي چې دا راجح دي په نورو باندې قسم ثاني د هغې نه عام دي بیا مشترک دي بیا مؤول ، ټول د اصول الشاشي نه واخله تر آخره ټول دا ذکر کوي کتاب الله خاص عام بیا چې کله دلائل راشي په هره مسئله کې مثال دعا بعد السنة کې چې ته دلیل پیش کړې إِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ چې فارغیږې له عباداتو نه فاتعب بالدعاء نو وایي چې دا خو عام دي نو عام هم د قرآن کریم نه قسم دي قرآن کریم استدلال کې پیش کول جائز دي که نه دي جائز نو اصولین څنګه وایي چې خاص دي عام دي هره مسئله کې خو خاص نه وي کنه نو که هر مسئله کې خاص زه له تاسو نه وغواړم نو یقین وکړې چې د مانځه فرائض به هم پیدا نه کړې دا ټول استدلالات د عام نه دي مثلاً د ماسپخین مانځه کې قیام څنګه دي نو ته به وایې چې فرض ده څه دلیل ده پرې : قوموا لله قانتين نو کوم ده چې ماسپخین په کې ذکر ده نو دا خو عام دي نو د خاص لپاره خو ترې نه استدلال کولې شي نو د عام نه استدلال خو څه ناروا نه دی او په هغه وخت کې عند انتفاء الخاص يستدل بالعام دا خو د اصولو قاعده ده خاص چې منتفي شي نو استدلال خود بخود عام نه کیږي د احنافو اصول خو عام قطعي ګڼي په شان د

خاص نو چې هغه هم قطعي دا هم قطعي معارضه هم کیدې شي البته عام مخصوص البعض چې استثناء ترې وشي هغه بیا ظني ده د خاص مقابله بیا نه شي کولې نو خاص عام مشترک مؤول.

بل ظاهر دي او نص دي مفسر او محکم خفي مشکل مجمل متشابه حقیقت او مجاز صریح او کنایه نو شپاړس شول استدلالات څلور شول استدلال بعبارة النص، باشارة النص، بدلالة النص، باقتضاء النص دا شل قسمونه شول.

دویم دلیل د سمعیه مؤثره نه سنت رسول دي د هغې نه تعبیر په آحادیثو سره کیږي او علم الحدیث په دوه قسمه ده د علم روایت الحدیث علم درایت الحدیث.

درایت الحدیث اصول الحدیث ته ویل کیږي اصول حدیث د اصولو کوم اقسام چې تاته بنایي مصطلح الحدیث او روایت الحدیث **هو علم یعرف فیه أقوال النبي** ﷺ **أو الصحابة أو التابعي وأفعاله وتقریراته وأوصافه.**

هغه علم دي چې هغې کې د نبي اکرم ﷺ اقوال افعال تقریرات اوصاف ذکر کیږي دغه شان په هغې کې اقوال الصحابة او تابعین ذکر کیږي خو دا په نزد د علماء اصول حدیث باندې، هر چې په نزد د علماء اصولیین باندې علم روایت الحدیث عبارت دي: **عما اضیف إلی النبي** ﷺ **من قول او فعل**، د اصولینو په نزد حدیث هغه ده د کوم قول فعل نسبت چې نبي علیه السلام ته وشي د صحابي او تابعي قول فعل ته دوي حدیث نه وایي او په نزد د محدثینو باندې صحابو ته منسوب هم حدیث دي خو حدیث موقوف ورته وایي چې تابعي ته منسوب شي هغه هم حدیث دي حدیث مقطوع ورته وایي.

نو اصطلاح د محدثینو له اصولینو نه عامه ده نو اصولین **ما أضیف إلی النبي** ﷺ **من قول او فعل**، او په نزد د محدثینو باندې: **هو علم یعرف فیه أقوال النبي** ﷺ **و أفعاله و تقریراته و أوصافه وأقوال الصحابي والتابعي**، دې ټولو ته حدیث ویلې شي.

موضوع د دغه روایت **علم الحدیث ذات النبي** ﷺ **من حیث انه رسول**، او چا

ويلي : الرواة والمروياة ، د راويانو او مرويانو بحث دا موضوع ددې فن ده .
او هر چې علم درايت الحديث دي چې اصول حديث ورته وايي امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ راغونډ کړي په دغه شعرونو کې :

علم الحديث ذو قوانين يحد يدرئ بها أحوال المتن والسند

فذاك الموضوع والمقصود أن يعرف المقبول والمردود

علم حديث خاوند د قوانينو ده تعريف يې کولې شي په دې سره چې ددې په وجه احوال د متن او سند معلوميږي نو دا درايت الحديث شو همدغه يې موضوع هم ده چې متن او سند .
غرض او غايه يې داده چې مقبول روايت د مردود نه بيل او جدا شي .
نو دويم د دليل سمعيه نه حديث مبارک شول : دا حديث بيا په دوه قسمه ده متواتر او خبر واحد حديث متواتره عبارت دي : عن الخبر الذي يکون الروات کثيرين بأن يکون جمعهم بالکذب محال .
روات د سند يې ډير زيات وي محال وي چې دوي دې راغونډ شي پ، دروغو باندې .
ويکون تعداد کثرتهم باقٍ إلى آخر السند .
تعداد د کثرت آخر د سند پورې باقي وي .
د سند په باب کې به نيتجه تابع د اخس ارذل خامخا کرځوي مثلاً مشهور هغه چې دري يا فوق د دريو نه سند بيان کې حد د تواتر ته نه وي رسيدلي .
عزيز هغه چې دوه دوه راويان ولري .
خبر واحد هغه چې يو يو راوي ولري .
اوس دې وخت کې د مصنف د کتاب او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مينځ کې خمسة وسائط راغلي يا ستة وسائط راغلي کله ثلاثي يا رباعي راغلې .
نو که په زمانه د صحابوو کې لس راويانو روايت وکړو بيا د هريو نه لس لس تابعينو روايت وکړ دې هريوه نه بيا لسو لسو نورو وکړ دا دري طبقې په تواتر کې وچليدې .

په څلورمه طبقه کې یو سړي روایت وکړ پنځمه طبقه کې بیا لسو روایت وکړ مصنف ته په لسو سندو راغې نتیجه تابع د اخس ارذل دوي ورته خبر واحد وایي ددې یوې طبقې د لاسه اګر که بره هم لس دي بنکته هم لس دي خو دا مینځ کې خبر واحد راغې نو دا خبر واحد شو دغه شان مشهور یا متواتر سنداً شته خو په یوه رتبه کې عزیز شو دوه دوه راغلل بس دغه حدیث عزیز دي نو متواتر عبارت د هغه خبر نه ده چې رواةیې کثیرین وي او توافق یې په کذب محال وي او تعداد د کثرت یې باقي وي آخر د سند پورې دغه شان ته حدیث متواتر په احادیثو کې ډیر قلیل دي چا ویلي یو ده چا ویلي دوه دي او چا ویلي دري دي نو حدیث متواتر سنداً ډیر قلیل دي

تواتر بیا په څلور قسمه دي : (۱) تواتر الاسناد ،(۲) تواتر الطبقات ، (۳) تعامل ، بعضې څیز داسې وي چې په سند سره تواتر نه لري خو په تعامل سره تواتر لري. مسواک چې په کومو احادیثو ثابت ده هغه اخبار احاد دي هر یو سند یې چې راواخلی خبر واحد دي یا حداقل عزیز به وي خو که تعامل ته راشو کون السواک من الدین په تواتر یې تعامل ثابت که هر چا ته پته ده چې دا من الدین دي که چا انکار وکوه چې مسواک ددین نه نه دي نو کافر کیږي ځکه تواتر نه انکار راځي تواتر مفید د علم قطعي وي منکر یې کافر ده شاه انور شاه کشمیر رَحِمَهُ اللّٰهُ په إکفار الملحدین عن ضروریات الدین کې په عوامو کې دا مشهوره ده چې منکر د فرضو کافر ده او د واجبو او سنت منکر کافر نه دي په دې مسئله کشمیري صاحب تحقیق کړي او بیا یې.ویلي چې دا هغه مسنونات دي چې کونها من الدین ثبوت یې په دین کې په تواتر وي که څرته مسنون وي مستحب یا مباح وي خو ثبوت یې په دین کې به تواتر سره وي تواتر یا سندي وي یا په تعامل وي نو بیا یې په انکار کفر لازمیږي بیا یې مثال کې مسواک پیش کړې چې دا په اخبار احاد سندا ثابت ده خو کونها من الدین دا په تواتر تعامل ثابته ده دغه شان عمامه هم ده روایات په دې باره کې چې څومره هم زیات دي اخبار احاد دي یا قوي یا ضعیف خو کونها من الدین دا ثابت په تواتر سره یا په تعامل سره ده که چا ویل چې عمامه من الدین نه ده نو کافر کیږي ورباندې ځکه د تواتر نه انکار راځي یو څیز به مباح وي خو کونها من الدین په تواتر ثابت شي نو منکر یې کافر کیږي لکه اباحت د لحم د بقرې

اكل من مباح دي خو كونها من الدين دا په تواتر ثابته ده هر بچي ته دا پته ده چې هندو يې ناروا ګڼي مسلمان يې روا ګڼي نو که چا وويل چې دا من الدين نه ده يا جائز نه ده نو کافر کيږي نو دريم په تواتر تواتر تعامل دي .

(۴) څلورم تواتر على قدر المشترك دي تواتر على قدر المشترك هغه دا وي چې د سند په لحاظ سره خبر واحد وي خو مجموع من حيث المجموع چې راواخستلې شي حد د تواتر ته رسيږي لکه معجزات د سيدنا نبي المختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزات هر يو که راواخلي نو سنداً په تواتر نه ده ثابته سنداً خو د ټولو معجزاتو سند ونه راغونډ کړه احاديث راواخله نو قدر مشترک دا خبره ثابتوي چې أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان ذو المعجزة ، چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاوند د معجزې وه که چا وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ معجزي نه لرلې کافر کيږي پر باندې ځکه داد تواتر على قدر المشترك نه انکار راځي که د يو معجزې خاصې نه انکار وکړ ضلال او ګمراهي به راشي خو کافر کيږي نه ځکه په خبر واحد ثابته وي د شجرې د معجزې نه د ګوتو نه کومې اوبه چې رابهر شوې وي دا ټولې معجزې چې راواخلي بغير د هغه انشقاق د قمر نه هغه په نص قطعي ثابت ده چې نور څومره معجزات دي په نصوص قطعيو نه وي ثابت که انکار ترې وکړي ضلال دي خو کفر نه دي خو که چا وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ معجزې نه لرلې کافر کيږي ځکه معجزه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ټول احاديث چې راغونډ کړي نو على قدر مشترك دا ثابتوي چې انه كان ذوالمعجزة ، دا تواتر على قدر مشترك شو ، اول حديث حديث متواتر وه .

دويم : حديث نه خبر واحد د خبر واحد متعدد اقسام دي خو په اعتباراتو مختلفوو باندې اعتبارات به ځکه وركوي چې دا تقسيم او تعريف کې څه فرق دي ؟تعريف دې د پاره کيږي چې د هغه څيز ماهيت ذهني وپيژندل شي او تقسيم دې لپاره کيږي چې د هغه څيز وجودي خارجي وپيژندل شي نو دا تقسيم په خپله مفيد د تعريف دي په خارج کې يې تاته در بنايي لکه تعريف چې مفيد د تعريف ده نو هر كله چې ته د يو څيز تعريف وکړي او ثانياً يې بل تعريف کوي نو تعريف د معرف تحصيل د حاصل دي نو دغه شان ته تقسيم د هغه څيز چې يو ځل تقسيم شوې ده دا هم تحصيل د حاصل دي چې يو ځل يو څيز تقسيم شي بيا بل تقسيم

نه شي ورکولې، اول تقسيم دي د تعريف لپاره خارجي کړي دي نو تعريفاتو کې معرفت ذهني وي او په تقسيماتو کې معرفت خارجي وي نو دواړه مفيد د تعريف شول نو تعريف د معرف چې تحصيل د حاصل دي نو تقسيم د هغه څيز چې تقسيم شده وي ثانياً هم تحصيل د حاصل دي نو هر کله چې يو څيز ته ثانياً تقسيم ورکوي نو اعتبار به يې بدلوي جهت به بدلوي نو خبر واحد ته مونږ اوس ډير تقسيمات ورکوو خو په اعتباراتو مختلفوو په جهاتو مختلفوو چې تحصيل د حاصل رانه شي نو خبر واحد **باعتبار الانتهاء على ثلاثة اقسام**.

امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ او نور کتب د حديثو دې جانب ته ابتداء د سند وايي صحابي چې کوم اړخ کې واقع ده انتهاء د سند د حديث مرفوع که يبا حديث موقوف وه تابعي چې کوم ځای کې واقع دي انتهاء د سند هغې ته وايي که حديث مقطوع وه تبع تابعي چې کوم ځای کې واقع دي انتهاء د سند هغه ته کيږي نو ابتداء د سند او انتهاء د سند نو خبر واحد انتهاء د سند په اعتبار سره په دري قسمه دي: (۱) مرفوع، (۲) موقوف، (۳) مقطوع.

مرفوع هغه مسند ته ويلې شي چې اتصال تر ذات د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وي او موقوف هغه حديث دي چې انتهاء تر صحابي وشي د صحابي فرموداتو ته حديث موقوف وايي او مقطوع هغه حديث دي چې انتهاء تر تابعي وشي نو د وهابيانو کتب مه مطالعه کوي که وي ګورئ نو ځای پر ځای ليکلي وي **هذا حديث موقوف لا حجة في الموقوفات هذا موقوف** ددې حديث انتها تر صحابي ده **لا حجة في الموقوفات** د صحابو خبره دليل نه ده.

داخبره يې تر يو ځايه صحيح ده خو بيخي غلطي کوي اهل ددې نه دي دا خو د مجتهدينو باره کې داخبره ده چې موقوف حجة على المجتهد نه دي امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ يو قول کړي ده ته ورته مقابل کې د ابن عباس صاحب قول پيدا کړي او ته يې راپورته کړي الزاماً يې حجت کړي په امام صاحب چې ابن عباس صاحب داسې ويلې او ته داسې وايي دا نه منمه ولې د ابن عباس صاحب خلاف کوي په مجتهدينو باندې په موقوفاتو استدلالات لازم نه دي هغوي اخذ من كتاب الله او سنة الرسول کولې شي د غه صحابو و هم اجتهاد کړي او دغه مجتهد هم اجتهاد کړي نو په دغه وخت کې قول د يو صحابي الزامي حجت په يو مجتهد نه جوړيږي خبره في الجملة جوړه ده چې **موقوف لا حجة في الموقوفات** خو للمجتهد او

هر چې مقلد دي هغه خو د فقيه قول پيش كولې شي نو د صحابي قول به څنګه نه مني نو ډيره زياته غلطي كوي ځكه مجتهدين نه دي خو خبرې د مجتهدينو كوي .

نو په اعتبار د انتهاء سره په درې قسمه شو : (۱) مرفوع ، (۲) موقوف ، (۳) مقطوع .

دويم تقسيم د خبر واحد باعتبار الرواة ، خبر واحد په اعتبار د روات سره هم په درې قسمه دي : (۱) مشهور ، (۲) عزيز ، (۳) غريب .

مشهور هغه حديث دي چې ثلاثه يا زائد على الثلاثة روايت وكړي په كل طبقاتو كې إلى اخر السند خو حد د تواتر ته نه وي رسيدلې . او عزيز هغه دي چې د هغې روايت وكړي اثنين من اثنين په كل طبقاتو كې إلى اخر السند .

دريم غريب : او غريب ما تفرد بروايته شخص واحد چې د هغې په روايت باندې شخص واحد تفرد كړې وي سواء في كل طبقات او كه په طبقه واحده كې هر ځاى كې چې وي اول كې دې متواتر وي بيا دې مشهور وي بيا دې عزيز وي چې په يو ځاى كې تفرد راغې حديث غريب شو نو ګوري حديث غريب حديث ضعيف ته نه وايي حديث غريب خبر واحد ته وايي هغه خبر واحد چې سند كې رواة يو راغلې وي او دا څومره احاديث چې ګوري اكثر غريب دي نو كه ترمذي شريف وګوري هذا حديث حسن صحيح غريب غريب څه معنى چې تفرد راغلې وي په روايت كې .

دريم تقسيم : خبر واحد باعتبار الصفة الرواة على ستة عشر قسماً :

خبر واحد په اعتبار د صفت د راويانو سره په شپاړس قسمه دي : (۱) صحيح لذاته ، (۲) صحيح لغيره ، (۳) حسن لذاته ، (۴) حسن لغيره ، (۵) ضعيف ، (٦) موضوع ، (۷) متروك ، (۸) شاذ (۹) محفوظ ، (۱۰) منكر ، (۱۱) معروف ، (۱۲) معلل ، (۱۳) مضطرب ، (۱۴) مقلوب ، (۱۵) مصحف ، (١٦) مدرج .

حديث صحيح لذاته دوي چاته وايي هغه حديث ته وايي چې روات يې عدل تام الضبط متصل السند غير معلل غير شاذ دي خمسه ته صفات د كمال الرواوي ويلې شي اسلام به وي عقل به وي عدل به وي تام الضبط وي غير معلل او غير شاذ به وي كه راوي كې اسلام نه وي دا عظيمه جرحه ده ، عقل به وي جنون به پرې نه وي راغلې آخر ايامو كې خلط به پرې نه وي راغلې

که کوم ثقه باندې آخرد عمرکې اختلاط راغلې وه نو ته به بیاداسند ګوري چې داروایت له ده نه قبل الاختلاط شوي که بعد الاختلاط ترې شوې که بعد الاختلاط وي ضعیف دي اګر که راوي ثقه دي ډیر کرته داسې شوي چې آخر د عمر کې په ثقه راوي اختلاط راغلې وي.

اوس عدل څا ته وايي عدل دوي دیته وايي چې راوي به صاحب د تقوی وي ذوقاً تقوا به دده معمول ذوقي وي او د دروند خوي څښتن به وي او په عامو معمولاتو شرعیه وو کې به د عدل نه کار اخلي په هغه وخت کې به چې په کوم راوي معمولي د غلطي الزم ولږیده نو د هغه روایت به نه قبلیده وايي کیدې شي دا په روایت کې هم عدل نه وي کړي.

تقوی به په کې وي متقي من الشرك به وي متقي من البدعة به وي متقي به د اهل زیغ نه وي د دوه اویا (۷۲) جماعاتو نه به نه وي دغه د دوه اویا (۷۲) جرحه بعض محدثین جرحه ګڼي بعضې یې نه ګڼي.

خو په کار داده چې وګڼلې شي شرح نخبه کې دې ته ابن حجر صاحب زور ورکړي دې ته چې د اهل زیغ جرحه دې جرحه شي اګر که په اسلافو کې دا جرحه نه وه ډیر راویان د بخاري شته چې شیعه ګان دي دوي وايي چې دا جرحه نه ده نو کذب جرحه شوه او شیعیت جرحه نه شوه کذب جرحه ده او خارجیت قدریت جرحي نه دي بس د بعضو سلفو رایه ده خو هغوي یو علت وايي چې دغه ډلو ته څوک تللې دا د ډیر کمال تدین نه تللي مطلب د ډیرې شیخي نه تللي اهلسنت یې پریخي دا نورو ډلو ته تللې نو دروغ نه وايي او بعضې منصفانه قول کوي یعنې څه علماء اهل زیغ باندې جرحه کوي بعضې یې تائید وي بعضې منصفانه قول کوي وايي: روایت ته یې وګوري چې مروج ددوي د مذهب دي او که نه دي که روایت مروج مذهب ددوي وه بیا یې مه قبلوي لکه د شیعه روایت راغې او دې شیعه د اهل بیت تعریف کې حدیث وویلو نو اوس دې صورت کې دا خو ددې مذهب دي نو داسې رویات د اهل تشیع بیا نه شي قبلولې یا د خوارجو په سند کې خارجي راغې متهم دي په جرحه باندې او هغه د اطاعة الامیر خلاف یو قول پیش کړ دا دې هغه رایه ده د خوارجو اهلسنت سره فرق دادې چې اطاعت د امراء اهلسنت لازم ګڼي او خوارج یې لازم نه ګڼي هغوي وايي که امیر د وخت بادشاه د وخت نه ظلم وشو نو اطاعت یې لازم نه دي.

او اهلسنت وايي چې امير يا بادشاه د وخت عادل وي که ظالم وي اطاعت يې لازم ده خو که کافر شو بيا به يې اطاعت نه کوي نو داد اهلسنت له خوارجو سره فرق دي له همدې وجې نه خوارج هر چيرته د بادشاه وخت په خلاف راولاړيږي او اهلسنت يې مخالفت کوي نو عدل به وي نو په قيد دعدل سره خارج شو هغه راوي چې کاذب وي يا متهم بالکذب وي يا فاسق وي يا مبتدع وي يا مجهول غير معروف وي .

تام الضبط به وي دا ضبط يو ضبط الصدر دي بل ضبط الکتاب دي محدثين ضبط الکتاب ته ضبط نه وايي دوي چې ضبط تام يادوي ضبط الصدر ته وايي چې څنګه يې واوريدل کما حقه يې نورو ته ورسول څو څو ځل به دوي يو انسان باندې تجربه کوله هغې نه وروسته به يې بيا قبول کړو چې دې تام الضبط دي د صحيح لذاته په تعريف کې چې تام الضبط راغې نو خارج شو په دې سره واهم فحش غلط ډيرې غلطياني ترې کيږي او کثير الغفلة يا کثرت مخالفت د ثقه ګانو يا داوثق يا چې حافظه يې کمزورې وي .

متصل السند به وي په دې سره احتراز راغې د معلق نه چې صاحب د کتاب تعليق کوي امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ د صحابي يو قول پيش کړو او سند نه وي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حديث پيش کړي او سند نه وي دې ته تعليق وايي اګر که امت کې تعليقات د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ د مقبولاتو نه دي له وجهې د اعتماد نه په ذات دده باندې که سند راوانخلي هم کافي ده خو په بخاري کې .

دارنګې مرسل ترې اووت مرسل هغه وي چې په هغې کې قطعه راغلې وي د يو راوي په انتهاء د سند کې مثلاً تابعي او وايي قال رسول الله دا مرسل د تابعي دي او صحابي وايي قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا مرسل د صحابي دي يا منقطع منقطع هغه وي چې سقوط د راوي په وسط د سند کې وشي هغه مخکې چې کوم تعريف مونږ وکړو چې انتهاء تابعي ته شوې هغه مقطوع وه دا منقطع ده .

بل **معضل** دي معضل هغه دي چې سقوط د راويينو متواليينو وشي په وسط سند کې يا ابتداء کې يا انتهاء کې ، بل **مدلس** دي دا هغه دي چې په هغې کې وهم د سقوط د راوي وي تيقن نه وي د اکثر ثقه سړي کوي هر سړي يې نه کوي ، دې کې وهم د سقوط د راوي وي يقيني نه وي څوک چې مدلس وي نو بيا وګوري دا الفاظ د اتصال السند دي که د غير اتصال

السند دي الفاظ د اتصال السند حدثني حدثنا اخبرني اخبرنا او د غير اتصال السند چې دې عن عني دي نو عنعنه د مدلس بيا قبوله نه ده او كه عنعنه نه وي په حدثني حدثنا سره وي يا اخبرني اخبرنا سره وي بيا د مقبولاتو نه ده نو حديث صحيح لذاته دا شو چې راوي يې عادل تام الضبط وي او متصل السند وي غير معلل غير شاذ وي.

دوهم قسم صحيح لغيره :صحيح لغيره دوي دې ته وايي چې عدالت باندې هم پوره وي اتصال السند كې هم پوره وي غير معلل غير شاذ هم وي مسلم هم وي صرف دا يو صفت چې تام الضبط دي دا ضبط يې ضبط تام نه وي سئ الحفظ ورته مه وايه يو سئ الحفظ دي يو ضابط دي يو ضابط تام دي صحيح لذاته كې ضبط تام شرط دي هغې نه محدثين په اسماء رجال كې په متقن سره تعريف كوي چې كله ووايي هو متقن دي صاحب د ضبط تام دي نو چې كله دا يو صفت چې ضبط تام دي دا نفي شي اوس چې دا نفي شو نو سئ الحفظ راغې كه نفس حفظ راغې كه سئ الحفظ راغې حديث بيا ضعيف شو كه نفس حفظ راغې حافظ دې ضابط دي نو تام الضبط بيا نشته نو دلته به اوس ته ګوري چې دغه غير تتميم د ضبط دده منجبر ده په كومه جبيره او كه نه ده جبيره لري او كه نه يې لري كه دا منجبر په يوې جبيرې باندې وه چې هغه عبارت د تعدد روايت نه دي نو دا صحيح لغيره شو راوي كې كل صفات شته تام الضبط نه دي خو ضابط دي دغه نقصان د تام الضبط په كې راغې خو دا نقصان يې جبيره شوه په تعدد د سند سره رواة ډير شول نو تعدد د روايت جبيره وګرځيده په دې يو راوي كې د تام الضبط د نقصان نو دا صحيح لغيره شو له وجهې د تعدد د رواتو نه.

بل حسن لذاته : حسن لذاته هغه دي چې دا كل رواة د صفات د كمال د راوي په كې شته خو تام الضبط نشته نو سيء الحفظ دي خو ضابط سره بيرته تعدد د رواتو ددي سند نشته جبيره نه لري چې نه يې لري نو دې حديث ته دوي حسن لذاته وايي.

بل حديث حسن لغيره: حديث حسن لغيره دا دي چې راوي تام الضبط هم نه دي ضابط هم نه دي بلكې سيء الحفظ دي خو دومره خبره ده چې دا سيء الحفظ يو نقصان لازم شو په دي

سند کې دا منجبر شو په یو جبیري باندې چې جبیره د تعدد د سند ده نو چې تعدد د موجود شو د طرقو د دغه سيء الحفظ کوم نقصان چې راغلی وه نو دده جبیره په تعدد د سند سره وشوه نو حسن لغیره شو دا څلور واړه صحیح لذاته صحیح لغیره حسن لذاته حسن لغیره دي څلورواړو ته حدیث مقبوله وایي دینه اخوا چې اوس کوم اقسام راځي دا احادیث مردوده دي حدیث مردود نه وي خو په اعتبار د سند سره دي کې اوله رتبه د صحیح لذاته شوه بیا د لغیره شوه بیا حسن لذاته بیا لغیره بیا دا چې حسن لذاته کې رتبې شته او که نه ؟دلته فقهاء او محدثین اختلاف لري په محدثینو کې ابن حجر عسقلاني غوندي انسان هغه وایي دا حسن لذاته کې چې کوم حدیث بخاري او مسلم رااخستې دي دا فوقیت لري په هغه باندې چې نورو را اخستې دي دا رایه د محدثینو شوه وهابیان اهل ظواهر ټول دي طرف ته ذهاب کوي لیکن فقهاء لکه ابن همام چې محدث هم دي فقهیه هم دي هغه وایي چې هر کله راوي د بل کتاب تام الضبط شو عادل شو عاقل شو مسلم شو غیر معلل غیر شاذ شو اوپه هغه مصابت شو چې په کوم مصابت رجال د بخاري دي صحیح لذاته شو نو بیا دغه حدیث چې متفق علیه دي په هغه حدیث باندې چې په بل کتاب د حدیث کې موجود دي هیڅ فوقیت نه لري دا د فقهاو رایه ده.

پنځم قسم حدیث ضعیف دي :حدیث ضعیف هغه دي چې په رواتو کې صفات د کمال راوي کې ضبط تام څه چې ضبط هم نه وي بلکې سيء الحفظ وي او دغسې د سيء الحفظ د نقصان جبیره په تعدد د روایاتو سره نه وي راغلې که راغلې وي خو حسن لغیره شو دا حدیث ضعیف شو دغه حدیث ضعیفه بیا یو په مسائلو کیده په صورة د معارض کې او بل په ترغیبا تو ترهیباتو کیده په ترغیباتو ترهیباتو کې حدیث ضعیف مقبول د اتفاقاً او هر چې مسائل دي بیا به کتلي شي چې آیا مسائل دده په مقابل کې معارضه کې بل حدیث شته او که نه که وه هغې ته ترجیح ورکړه دا متروک که بیا بل حدیث مقابله کې نه وي نو د تائید لپاره یې پیش کوي نو استدلال تري کیدي شي.

بل حدیث موضوعه دي :موضوع چاته وایي چې راوي عادل څه چې کاذب دي یکون الراوي مقطوع بالکذب راوي یې کاذب وي.

بل متروک حدیث دي :چې راوي یې متهم بالکذب وي مقطوع به بالکذب نه وي خو متهم بالکذب وي او یا متروک دیته وایي : یکون روایته مخالفاً لقواعد الشرع چې داسې روایت وکړي چې د شریعت د عامو اصولو مخالف راشي .

بل حدیث شاذ دي : حدیث شاذ مخالفت د ثقه له اوثق نه لکه په صحیح لذاته کې تام الضبط او ضابط تام الضبط او ثق ضابط ثقه روایت د ثقه مخالف دا وثق راشي نو دده روایت ته به شاذ وایي او هغه اوثق روایت ته به محفوظ ویلې شي .

بل منکر : حدیث منکر د منکر او د معروف د شاذ او د محفوظ په مینځ کې بعض محدثین د ترادف قائل دي او بعضی محدثین فرق کوي نو فرق داده چې منکر چا ته وایي چې روایة الضعیف في مقابل للقوي سيء الحفظ چې د ضابط مقابله وکړي نو دیته دوي منکر وایي او ضابط چې د اوثق مقابله وکړي د تام الضبط دي ته دوي شاذ وایي نو بیا چې ثقه د اوثق مخالفت وکړي نو دا شاذ وثق روایت ته محفوظ وایي او چې ضعیف مقابله د ضابط وکړي نو دیته دوي منکر وایي نو هغه ضابط روایت ته به معروف ویلې شي .

بل معلل حدیث : حدیث معلل دا چې په هغې کې اسباب خفیه غامضه یې قادحه وي یعلم به مهرة هذا الفن چې د دي فن ماهرین پرې پوهیږي مثلاً داسې سند بیان کې چې دده شیخ له هغه روایت وکړي په اخبرنا اخبرني سره هلته ماهرین د فن چې وګوري چې هغه کوم کال کې وفات شوې وي هغه مکې وي دا بل سړې عراقې دي ددوي د تاریخونو پته وه او دا هم ورته معلومه وي چې دي حج ته په دي کال تللي ده دي د هغه نه را نقل کوي اوس دي چې هلته مکې معظمې ته چې ورغلي وه په تاریخ کې هغه دده له ورتګ نه په تاریخ کې پینځه کاله وړاندي وفات شویده نو دا لقاء څنګه وشوه دا اوس اسباب خفیه غامضه قادحه چې ماهرین د دي فن پرې پوهیږي او یا د نورو خارجې عللو نه کذب لازم شي نو دي حدیث ته حدیث معلل وایي ، لکه نزهة المجالس کتاب قصص په کې بنه دی خو حدیث باندې یې اعتبار نشته .

بل حدیث مضطرب :او دا په دوه قسمه ده : مضطرب المتن ، مضطرب السند :

بل حدیث مقلوب: حدیث مقلوب هغې ته وایي چې مخالفت په تقدیم او تاخیر کې راشي .

بل حدیث مصحف دوي چاته وايي چې په هغې کې مخالفت بنقطة مخالفت په يوه نقطه کې راغلي وي.

بل حديث مدرج دي: حديث مدرج دوي چاته وايي مدرج ديته وايي ما ادرج فيه کلام الراوي چې د راوي کلام په کې دننه شوې وې لکه احناف قائلينو د رفع اليدين باندې اعتراض کوي چې داسې روايت مونږ ته ښودې شي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آخر د عمره پورې رفع اليدين کړي وي نو دوي سره نشته چې دائمې استمراري عمل چې حتى وفات د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې شوي وي دا نشته نو دوي تلاش شروع کړ او د بيهقي يو روايت يې پيش کړ بيهقي شريف کې دا حديث مذکور دې د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په روايت سره د بخاري روايت سره روايت او متن دواړه موافق دي خو مزيد په کې دا الفاظ دي کان هذا صلاته حتى قضى الله عزوجل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې مؤنځ کوه نو مانځه کې به يې رفع اليدين کوه او دغه يې مونځ وه تر وفاته پورې دا دوي ځکه استدلال کې نه شې پيش کولې چې امام بيهقي خپله وايي چې دا تکړه ادراج د راوي ده نو حديث مدرج دې ته وايي چې ما ادرج فيه کلام الروي چې راوي د کلام شرحه کړې وي او وروسته بيا چا د راوي دغه شرحه په متن د حديث کې دننه کړېده.

څلور تقسيم: خبرواحد لره بإعتبار السقوط الراوي وعدمه: خبرواحد په اعتبار د سقوط الرواة وعدم السقوط سره په اوه (۷) قسمه دي اول حديث متصل متصل معنې متصل السند دا اوس په مرفوع کې هم لږې په موقوف مقطوع کې هم لږې مثال متصل مرفوع متصل موقوف متصل مقطوع.

دويم مسند د مسند او متصل مينځ کې معمولي فرق ده فقط دغه مسند يو خاص ده چې اطلاق يې په مرفوعاتو کيږي صحابهؤ ته چې کله اتصال وشي موقوفاتو کې هغوي ته دوي مسندات نه وايي او چې کله په مرفوع کې وشي نو مسندات ورته وايي.

بل منقطع دي: چې سقوط د راوي راشي په وسط کې بل مرسل دي چې سقوط د راوي راشي په انتهاء د سند کې تابعي صحابي ترک کړي قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و وايي په مرسلاتو کې لږ اختلاف فقهاء شته امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې مرسلات مقبول دي اتفاقا او شوافع وايي هر چې مراسيل دي د تابيعنو مقبول نه ګڼي سوا د دري اشخاصو نه ابن

الشهاب زهري حسن بصري سعيد ابن المسيب د اعتماد دذات ددوي باندي مراسل يي قبلوي ددي نه سوا د بل چا مراسل نه قبلوي.

پنځم **معضل** دي : معضل چاته وايي چې سقوط دراو يينو متواليينو راغلي وي دوه راويان په مينځ کې ساقط شي.

شپږم مدلس دي وهم د سقوط دراوي يي خفي سقوط راغلې وي.

پنځم تقسيم دخبرواحد باعتبار صيغ دا هم په دوه قسمه دي يو معنعن دي بل مسلسل لکه **عن فلان** بيا کله **باخذ اليد** وي کله **بالضحك** وي کله دا چې **رواتهم کلهم قرشيين** کله **رواتهم کلهم مهاجرين** دا مسلسل شو ته قوت ورکوي حديث ته نو دويم ددلائلو سميعه ؤو نه احاديث وه او دهغې لپاره دغه اقسام شول.

دريم ددليل سميعه اجماع ده او ددي لپاره مرکب او غير مرکب اصولو کې څه اقسام ذکر شوي دا دويم مبحث وه زموږ دنن ورځې ددرس چې مشتمل وه په بيان قسمي الدليل وبيان دفعها سره د بيان دبعضې اصطلاحاتو داهل ددي فن لکه مثلا دوي تقريب چاته وايي **سوق الدليل على وجه يستلزم المطلوب** چلول ددليل په داسي طريقه باندي چې مطلوب مدعا ثابته کړي مستلزم شې هغې لره يا تعليل دوي چاته وايي تبيين علت الشيء ته ويلې شې يا علت چاته وايي **ما يحتاج إليه الشيء في ماهيته ووجوده** او سبب کله په معني دعلت باندي راځي او کله **مفضي إلى الشيء** ته ويلي شي دغه شې چې وجود ولري او دعلت په مينځ کې چې کوم شې واقع شو دا سبب ګرځي په کنده کې چې کله ذي جسم ځيز وغورزيږي نو علت دده دغورزيدو لپاره څه شی ده او سبب يي څه شې ده نو علت د غورزيدو لپاره ثقل دده دهاو سبب ورته دغه کنده جوړه شوه ايجاد د سقوط چې دلته راغې او کوم درد حاصل شوده ته موجود ثقل دده ده که ده کې هواوي سپک وي نو الوتي به وه دلته به نه غورزيده او احکام په عللو مرتب دي که په اسبابو باندي نو دا په اصولو کې تاسو چيره لي دي کوم وخت کې چې اثبات دحکم په علت ممکن وي نو په سبب به يي نه جاري کوي که داسي ځاي راغي چې نسبت د حکم صاحب العلة ته نشو کېدي ظلم لازميده بيا به صاحب د سبب مواخذه کيږي.

المبحث الثالث : في بيان شرائط المناظرة :

اول شرط د آدابو د مناظرې نه دا ده چې احتراز عن التطويل ډير اوږد والى نه به ځان ساتي دويم شرط دا ده الاحتراز عن الاختصار ډير کوتاهي نه به هم ځان ساتي چې بيا څوک فهم نشي کولي دريم عدم استعمال الفاظ الغريبة داسې الفاظ دي نه استعمالوي چې د هغې معني بيا ځانته مناظره غواړي څلور عدم استعمال الجمل المحتملة للمعنيين داسې جملې او لغات مه وايه چې احتمال د معنيينو لري ته به خکلې معني اخذ کوي او خصم به دې غلطه معني را واخلي او د خلقو په وړاندې به ستا تبکيت وکړي .

پنځم عدم الخروج من البحث الابنية ارخاء العنان متخاصمينو مناظيرينو ته اجازت ورکړل شوي ده د بحث واړې خوشې کول په طرف د دشمن نو دلته به ته مقدمات د مقابل جانب ومني تسليم به يې کړې خو په منتهاء کې به تا څه نظر کې نيولي وي هغه شې به په ده مني ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کوم د ده قوم کې عابدين دنجومو او عابدين د قمر لمر شمس وه او دې هغوي ته ورغي فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَذَا رَبِّي د ستورو متعلق يې ويلي وه هذا ربي کله چې يې لمر شمس وليد نو وويل هذا ربي هذا اكبر نو دې کې راجح تاويل دا دې چې دا ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ شرکيات نه دي کړي العياذ بالله لکه د بعضې جماعاتو پاکستان کې عقيده ده جماعت اسلامي وغيره مو دودي حضرات چې څو مره دې دوي د عصمت د انبياء منکر دي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معصوم نه ګڼي او اجماع د تمامو علماو د مذاهبو په دې دې چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معصوم دي د کبائرو او صغائرو نه پاک دي مصون دي نو بيا څنګه شرک هغوي وکړ نو راجح تاويل دادې چې دلته ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ارخاء العنان کړې ده .

بل د آدابو د مناظرې نه عدم الضحك خندا به نه کوي بل د آدابو نه عدم رفع الصوت آواز به نه اوچتوي او بل د آدابو نه دا ده أن لا يتكلم بكلام السفهاء د کم عقلو خبرې به مناظره کې نه کوي بل الاتيان بالكنيات في موضع الادب چې مقابل جانب خرابه لهجه استعمال کړه ته يې مه استعمالوه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته قوم هر قسمه لهجه استعمال کړې کم عقل ليوني وغيره نو

مقابل کې ورته داسې الفاظ نه دي استعمال کړي .نو جواب کې ورته ویل شوي : **یاقومي لیس بي سفاهة** ، کم عقل نه یمه په ما څه جنون نشته نو ګوره د هغوي اعتراض دفعه کوي رب **انصرني** یا الله زما مدد وکړه چې دوي کوم نسبت کوي ماته نو هغوي جانب مقابل به هر قسم لهجه د شرک بدعت وغیره استعمالوي زمونږ الفاظ به خکلي وي .

بل د آدابو د مناظرې نه **الاحتراز عن المهیب** ، کوم څوک چې نوم لري رعب لري هغه نه ځان ساته ځکه ته به په حق مسئله ولاړ یې او هغه به د اهل زیغو نه وي خو رجل ذي علم او ذي هیبت به وي د هغه د علم او شهرت نه به په تا تاثیر وي نو ته به بیا دا خپله حقه مسئله هم نه شي ثابتولې خلک به بیا وایي د اهلسنت دلائل نشته نو د رجل ذي هیبت د مناظرې نه ځان ساته مه ور سره مخامخ کیږه .

او که تاسو دا اعتراض پر ما وکړي چې ته ولې دا غټو غټو ددوي ته چیلنجونه د مناظرې ورکوي نو پر ما ددوي هیڅ هیبت نشته ځکه چیلنجونه ورکوم .

او بل ادب د مناظرې **أن لا یظن الحقارة على الخصم** ، په خپل خصم به سپک ګمان نه کوي هوښیاران وایي که دشمن دې ګیدړ وي تا بیا به د زمري ورته کوي دا به نه وایي چې دا ماته نه شي راتلې اکثر مشران علماء داسې وي هیڅ تیارې یې نه وي کړې مقابل ورته سپک ښکاري نه داسې مه کوه که دښمن هر څنګه وي ته به ځان ښه ورته مضبوط کړې ځکه ته ددې پاک مسلک مدافع یې هسې نه چې ستاد معمولي بې پرواهي نه دا پاک او مقدس مسلک ته نقصان ونه رسیږي .

بل د آدابو او شرائطو د مناظرې نه **عدم ارادة اسکاة خصمه في زمن قلیل** خصم راګیرول په لږ وخت کې کوشش مه کوه بیا نه ګیریږي په ډیر طولاني طریقه پرې راتاویږه

بل د آدابو شرائطو نه **عدم الجلوس متکئاً** سم کینه تکیه مه کوه .

بل د آدابو نه **ان لا یکون جائعاً ولا عطشاناً** اوږې تږې مه راځه ښه برابر سیټ ورته راشه ځکه **لانهما یفیدان الغضب** چې سړې وږې شي یا تږې شي نو غصه ورځي نو تاته به د لوږې تندې نه غصه درغلې وي او د هغه دلائلو تقریب او ترتیب کې به فرق راشي .

بل د آدابو نه ان لا يكون ممتلأ كل الامتلاء لانه يوجب جمود الطبيعة ، مناظرې نه ډېر ډک تلل هم نه دي په کار ځکه دا واي طبيعت سخته وي هسې نه چې په وسط د مناظرې کې څه مشکل ورته پيدا نه شي .

بل د آدابو نه تساوي د علم بين الخصمين نو تساوي په علم خو په ټولو جزئياتو کې راتلې نه شي ضرور به يو په بل په څه جزئياتو کې فوقيت لري خو بس عرفا چې مساوي وي مثلاً يو جانب فارغ د علم حديث د دورې ده بل طالب ده نو دا طالب دې هغه سره مناظره نه کوي او نه دې هغه په ده باندې ځان سپکوي يو شيخ الحديث دي بل شيخ الحديث نه دي نو دا دواړه هم تساوي د علم نه لري سره باقي په ټولو جزئياتو د علم کې کله تساوي راتلې شي.

بل د آدابو نه انتظار ده لاستماع دليل الخصم د خصم دليل ته به انتظار کوي هغه به اوري ، بل تفکر تأمل دي في دليل الخصم د هغه په دليل کې به ښه سوچ کوي ، بل د آدابو نه نيت اظهار الصواب مقصد به دې د حق اظهار وي .

بل د لازم شرائطو نه داده چې ان يقدم الخصم في الدليل خپل خصم به په دليل کې مخکې کوي او چا چې مناظره کې خپل خصم په دليل کې مخکې کړې ده هغه يې پړ کړي موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله فرعونيانو سره بحث راغې نو هغه ورته وايي : يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ ، يا ته القاء د عصاء وکړه يا يې مونږ کوو ، نو موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل بل انتم ، تاسو مخکې القاء وکړي نو چې هغوي مخکې شول نو پړه شول فأذا هي تلقف ما كانوا يأفكون ،او دا دليل د اعتماد هم وي چې هغه بل جانب مخکې کوي .

حکايت : امام کسائي او امام يوسف رَحِمَهُمَا اللَّهُ دواړه د هارون الرشيد بادشاه قاضيان وه خو دا کسائي ورته ډېر ګران وه نو په ښي طرف کې به يې ناست وه امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ چپ اړخ کې ناست وه يو ورځ امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ راغې امام کسائي رَحِمَهُ اللَّهُ نه وه راغلې نو امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ د هغه په ځای کيناسته نو امام کسائي ورته په غصه ده چې د بادشاه ښي اړخ دې ولې نيولې ده بادشاه چې کله پاڅيده نو واي دا زما ځای دې ولې نيولې ده؟

امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وويل چې ته نه وي زه کيناستلم ، واي نه داسې نه شي کيدلې ما سره به مناظره کوي که مناظره کې مې پر کړي دلته به بيا نه کيني او که زه دې پر کړم زه به نه کينم واي څه کې مناظره کوي راسره واي ته د فقه امام يې زه د نحوې امام يم ته به ما باندې د فقه اعتراض کوي خو زه به دليل په نحوه درکوم او زه به په تا باندې د نحوې اعتراض کوم ته به جواب راته په فقه راکوي وايي صحيح ده واي هاو امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ يې مخکې کړ په دليل کې واي وايه اعتراض دې کوه : واي چې مانځه کې ترك الواجب راشي څه لازميږي وايي سجده سهوه وايي دا سجده سهوه چې کوي بيا په کې ترك الواجب راشي بيا څه لازميږي واي بله سجده سهوه نشته مونځ به له سره کوي وايي دا فقه جزيه مسلمه ده خو دليل وايه د نحوې نه واي دليل داده چې المصغر لا يصغر ثانياً کوم شي کې چې تصغير وشي د هغې تصغير په دوهم ځل بيا نه کيږي .

امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ مسلمه کړه واي صحيح ده ، واي ته اعتراض کوه وايي زما اعتراض داده چې ته قاضي د وخت يې د يو سړي جامي ورکې دي په دوه نفرو دعوه ده دواړه يې راوستي دي قضاء ته او دا دواړه اقرار کوي خو دا يو وايي أنا سارقٌ ثوب فلان سارق بالاضافة وايي او دا دويم وايي انا سارقٌ ثوب فلان منون يې وايي با ته په ثوب کې عمل ورکوي لاس به د چا کټ کيږي امام ابي يوسف صاحب دلته سوچ ونه کوه وايي د دواړو کټ کيږي ځکه دواړه مقر دي .

امام کسائي رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وايي خطاء شوې دواړه مقر نه دي دا يو وايي انا سارق ثوب فلان سارق اسم فاعل ده شرط د عمل د اسم فاعل لپاره اعتمادات سته دي دلته اعتماد په مبتداء شته دي او بل به دا په زمانه د حال يا استقبال مستعمل وي چې مشابهت کې زيادت راشي د فعل سره چې مضارع ده تقوی د عمل لپاره کفايت کوي او کوم ځای کې چې اسم فاعل په معنی د ماضي باندې وي يا حال استمرار سره وي عمل به نه شي کولې نو شرط د عمل د اسم فاعل لپاره اعتمادات سته دي او کونها حالياً واستقباليا نو انا سارق ثوب فلان دلته دې عمل ورکړې دي او عمل هله کولې شي چې يا حال وي يا استقبال وي نه په معنی د ماضي سره نو ددې يو معنی دا شوه چې زه اوس ددې سړي جامي پټوم لامې پټې کړي نه دي

او یا یې صبا ته پټوم.نو لاس یې ځله قطعه کوي هغه خو غلا نه ده کړې او دا بل وایي انا سارق الثوب فلان په اضافت سره یې وایي عمل نه ورکوي اضافت دې زه د فلاني د جامو غل یم ده اقرار کړي دده نه لاس کټ کړه .

امام ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ یې پر کړ امام کسائي رَحِمَهُ اللّٰهُ مناظره وګټله ځکه یې وګټله چې تقدیم د امام ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ راغلې وه خصم به مخکې کوي او څوک چې مخکې شو هغه پر کیږي .

بل شرط او ادب د مناظرې داده چې بدء به په دلیل هغه کوي چې ذي کلام وي او دلیل قطعي غیر ذي کلام به مؤخر راوړي اول به هغه روایات راوړي چې چون چرا په کې کیدې شي دده علم به معلوموي دې به چون چرا کوي او ستا په نزد چې دلیل قطعي دي چې دې په کې لا جواب پاتې کیږي او تاته بنه معلوم دي هغه به وروسته ذکر کوي ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ دنمرود سره په جګړه کې ربي الذي یحي ویمیت دلیل پیش کړ هغه څه جواب کوي انا احي وامیت دلیل خو یې تام نه وه جاهل وه خو بیا یې هم چون چرا وکړه ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې چون چرا مقابله په ځای پریښوده .

دلیل یې هم دلته پریښود چې هغه اماتت او دا اماتت کې خو فرق ده چون چرا یې ونه کړه وایي نه رب مې هغه یأت بالشمس من المشرق ته هم ځان ته رب وایي نو یو ځل خو یې د مغرب نه راوخیژوه فبهت الذي کفر نو هغه لا جواب پاتې شو .

بل شرط داده چې یکون الدلیل متفق بین الخصم هغه شي به دلیل وي چې متفق وي که د اهل حدیث سره دې مناظره راځي فقه مني نه نو پیش کوي یې ځله څه مني درسره قرآن کریم پیش کړه حدیث پیش کړه هغوي سره مناظره په دغه څیزونو کوه .

بل شرط داده چې ان یکون الثالث شخصاً عادلاً ، ثالث به عادل وي که عادل نه وي نو حق به ناحق شي او ناحق به حق شي .

حکایت : امام کسائي رَحِمَهُ اللّٰهُ د سیبویه سره هم یوه مناظره کړې وه او هغه هم دواړه د هارون الرشید بادشاه په دربار کې ناست وه دې کې یو وزیر راغې دا وزیر دې سري غتې

مچې چیچلي وه دمبر چې ورته وايي نو چې راغې دا مجلس کې وايي كنت اظن ان العقرب اشد لدغا من الزنبور فاذا هو هي ، ما به گمان کوه چې لړم د زمبور نه په نیش کې تیز دي فاذا هو هي ناڅاپه هغه تیز نیش والا وخته دا زنبور کسائي وزیر ته وویل عبارت دې غلط وویل فاذا هو هي مه وایه فاذ وجدت اياه ووايه ما مونده کړ دا زمبور چې اشد وه لدغتا لړم نه ، سيبويه امام کسائي ته وايي ته غلط شوې فاذا هو هي صحيح دي اختلاف جوړ شو خو دا خلاف بنا وه په مذهبينو ددوي باندې .

تاسې به نحوه کې اذا مفاجاتي کتلې وي اذا مفاجاتي نه بعد په نزد د سيبوه او جمهورو جمله اسميه په کار ده کوم اسم چې په ميزان د شريطې د تفسير کې وي نو په هغې کې تاسو ويلې چې کوم ځای واجب الرفع ده کوم ځای مختار الرفع ده امور د مختار رفع کې وقوع ددغه اسم مزان وروسته د اذا مفاجاتي نه دي ځکه د جمهورو مذهب دادی چې دلته جمله اسميه وي نو مرفوع ووايه چې ورته مبتداء راوباسو او يا ورته خبر راوباسي نو اذا مفاجاتي نه بعد امام سيبويه او جمهور وايي جمله اسميه په کار ده او کسائي وايي فعليه په کار ده دا يو اختلاف د مذاهبو ددوي ده نو وايي چې فاذا هو هي مه وايه دا خو تا اسميه راوړه فاذا وجدت اياه ووايه جمله فعليه راوړه سيبويه ورته وايي نه دواړه په لانجه شول .

هارون الرشيد بادشاه ورته وويل تاسو به لانجه نه کوي زه باندې ته څوک ليږم سپين ږيري عربان قح راغواړم تاسو به چون چرا نه کوي دواړه به هغوي ته عبارت واوروي چې د هر چا د عبارت تصديق يې وکړو هغه به صحيح وي سپين ږيري عربان چې کله راغلل نو دربانچي ته وايي څه مسئله ده هغه ورته خبره بيان کړه وجدت اياه صحيح ده که اذا هو هي صحيح ده ، عربانو دربانچي ته وويل چې دا راته ووايه چې بادشاه باندې امام کسائي ګران ده که امام سيبويه هغه ورته وويل کسائي ورته ګران دي که د سيبويه باره کې مو فيصله وکړه يوه روپي هم نه درکوي اضافه به مو نور هم دباؤ کړي که د کسائي باره کې مو فيصله وکړه کيدې شي روپي درکړي .

نو عربانو خپل مينځ کې سره وويل چې خبره خو د امام سيبويه رَحِمَهُ اللهُ صحيح ده زمونږ

عربو کې خو فأذا هو هي ویل کیږي خو اوس دلته خبره د روپو ده وایي راځي هلته به کسائي ته ترجیح ورکړو چې کله دواړو عبارتو نه بیان کړل کنت اظن ان العقرب اشد لدغا من الزنبور فأذا هو هي، بل کنت اظن ان العقرب اشد لدغا من الزنبور فأذا وجدت ایاه، نو هغوي وویل: چې زمونږ عربان فأذا وجدت ایاه وایي، پس مناظره کسائي وګټله سیبویه پړ شو سیبویه چې بهر راغې دربانچي ترې پوښتنه وکړه واي څه فیصله وشوه هغه ورته وویل چې د کسائي قول یې قبول کړ واي چې دا صحیح ده دربانچي ورته وویل چې دوي خو دلته وویل چې عرب قح اذا هو هي وایي دا خو یې د روپو لپاره اذا وجدت ایاه ویلي دي.

بس امام سیبویه خفه شو دې ځای نه لاړ چې لاړ د بصرې او د عراق په مینځ کې یوه دشته وه دیر الجماجم یې ورته ویل هلته لاړ او زمونږ د پاکستان په اصطلاح بهوک هړتال یې وکړو او وي ویل چې تر هغه وخته به نه روټي خورم نه به او به څکم او نه به بل چیرته ځم تر څو هغه عرب راغلي نه وي او د کسائي په وړاندې یې دا خبره کړې نه وي چې ته خطاء شوې یې د هارون الرشید بادشاه هغه وزیر ورغې ډیر یې امام کسائي ته وویل چې راځه بس کړه هغه ورته وویل چې داسې نه شي کیدې هارون الرشید بادشاه به خپله راځي عربان قح به راولي او امام کسائي به خپله غلطي مني وزیر ورته وویل مري دلته له ګرمي، له ولږې تندې نه دي دشته کې نو یو روایت کې راځي چې امام سیبویه دغلته له ولږې مړ شوي تر مرګه پورې واي روټي ونه خوړه وایي حق خبره زما وه او فیصله د کسائي په حق کې وشوه. نو یو شرط داده چې ثالث به عادل وي.

دا چند شرائط د مناظرې وه.

المبحث الرابع: في اثبات علم المناظرة وکونها من أهم العلوم:

د نن درس في اثبات مناظره چې کله نیت د اظهار حق وي بیا دا علم جائز ده د ضرورت پر بناء ځکه دا نور خلک زمونږ دې احنافو نه، نه قلاریږي نو د ضرورت پر بناء مونږ هم دا کورس جوړ کړې لیکن حقیقت داده چې د اهل زیغ اهل هواء سره مجالست مشافهت مکالمه ونشي بالکل مباحثه ونشي بهترینه طریقه داده چې د ځان نجات غواړي او د قوم نجات

غواړي ترغيب دې ورکړې شي چې دوي سره مه نږدې کيږئ ، ګوره زمونږ دا اسلاف د شيعه ګانو سره مناظرې نه کوي دا ځکه هر درس کې دا وايي چې شيعه ګان ګمراه دي کافر دي ددې نه ځان وساتي خو بحث نه کوي ورسره ځکه دغه طريقه چې د اهل هواء اهل زيغ نه خلک بچ کړې شي دغه طريقه د نجات ده هم د ځان هم د قوم او که ته اختيار د مناظرې ورکړې نو ملا آن باشد که چپ نباشد ملا کله چپ کيږي ملا خو داسې نه وايي چې زما توبه دا خبره ما نه غلطه شوې حتماً يو څه به وايي بيا نو که ښه عالم او ذکي طالب دا مناظره واوريده چې ښه دليل چا سره دي د چا دليل قوي ده نو علماء او ذکي طالبان پرې پوهيږي خو که عام خلک دا بيا اوري نو هغوي وايي چې دا خو دواړه قرآن وايي نو اوس مونږ د چا و منو هغه خوران په دې څه پوهيږي چې د چا دليل تام ده د چا نه ده د دليل دعوی مينځ کې د خصوص عموم مينځ کې موافقت شته نشته نو ښه خبره داده چې خپله هم د دوي د مشافهت مکالمو نه ځان وساتي او قوم هم د دوي د مجالست نه بچ کړي ، نو ښه طريقه داده چې دا علم مناظره زده کړي خو ډير شغل په کې مه کوي ځکه دا بحث مباحثې مفيدې نه دي .

يو څو روايات : د حافظ ابن بطه حنبلي يو کتاب ليکلي په نوم د الابانة باندې په جلد اول صفحه ۳۷۷ نه بعد ډيرو صفحاتو کې د اهل زيغ اهل هوی سره د مناظراتو مکالماتو په ترديد کې ابواب لړولې دي چې دوي سره مناظره کول هم جائز نه دي په دې کې باقاعده بابونه لړولي په هغې کې بيا احاديث ذکر کوي ابو قلابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي : **لاتجالسوا اهل الاهواء** ، کوم ځای چې په احاديث کې فقه کې **اهل الزيغ** راشي **اهل البدعة** راشي **اهل الاهواء** راشي نو ددې نه مراد دا دوه اويا (۷۲) ډلې وي که شرحه د حديثو وګوري قدريه مرجئه خوارج روافض مشبه د اجماعات ياديږي په کې ابو قلابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي :**لا تجالسوا اهل الاهواء** دغه دوه اويا (۷۲) ډلو سره مجالست مه کوي **ولاتجادلوهم** ددوي سره جګړې د دليل مه کوي مناظره هم ورسره مه کوي **فاني لا آمن ان يغمسوكم في ضلالتهم** ،زه په تاسو امان نه لرم چې دوي به تاسو غوپه کړي په خپله ګمراهي کې .

خپلو شاګردانو ته وايي چې دا ګمان مې درباندې نشته چې بحث کې به تاسو دوي سم

کې بلکې يريږم چې تاسي به پخپله گمراهي کې ډوب کړي او يلبسوا عليکم ماتعرفون که گمراهۍ کې مو غوپه نکړي نو هغه خپله عقيده کې خو به يو څه خلل درته پيدا کړي عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوع حديث پيش کوي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائي لا تجالسوا اهل القدر ولا تفاتحوهم قدريه فرقې سره ناسته مه کوي ولاتفاتحوهم اي بالکلام د وي سره د خبرو خوله مه خلاصه وي گوري د قدريه فرقې له بحث نه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ منعه کړي يو عمر بن قيس رح فرمايي لاتجالس صاحب زيغ فيزغ قلبك ، د چا زړه چې کوږ شوې وي اهل هواء وي ناسته مه کوه گنې ستا زړه به ورسره کوږ شي .

ابو قلابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دي موقوف لاتجالس اهل الهواء فان مجالستهم ممرضة للقلوب د اهل زيغ سره مه کينه د دوي سره ناسته زړه ته مرض دننه کوي زړه خرابوي ، العلم دين فانظروا عمن تأخذون دينكم ، علم دين دي سوچ کوي دين چا نه زده کوي .

ابو عبدالله معلى فرمايي :

لاتجالسوا اهل الهواء فانهم يمرضون القلوب .

دارنگې حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

لا تجالسوا اهل الهواء فانهم يمرضون القلوب ، مه کيني اهل بدعت سره ځکه دا زړه بيماروي .

ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

لا تجالسوا أهل الاهواء فاني أخاف أن ترتد قلوبكم ، يريږم چې زړونه به مو مرتد شي .

ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ بل ځای کې فرمايي :

لاتجالسوا أهل الهواء فان مجالستهم تذهب بنور الإيمان من القلوب .

د اهل زيغ سره ناسته نور د ايمان ختموي له زړه نه انشراح الصدر نور قلبي فراست دا هر څه به درنه لاړ شي ، وتسلب محاسن الوجوه او د مخ ښائست ختموي و تورث البغضة في قلوب

المؤمنين د مؤمنانو په زړونو کې بغض پيدا کوي دشمني تفرقه اچوي.

ابو قتاده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي ترجمه کوي يا أهل الكتاب لا تغلو في دينكم د دې ترجمه کوي اي لا تبتدعوا ولا تجالسوا المبتدع بدعات کوي مه او د مبتدع سره کيني مه مبتدع په اصطلاح د محدثينو او فقهاو دوه اويا (۷۲) ډلې دي.

أبي جعفر محمد بن علي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي:

لا تجالسوا اصحاب الخصومات فانهم الذين يخضون في ايات الله.

مه کيني د جګړه مارو خلکو سره دا هغه خلک دي يخضون في ايات الله چې خوض في ايات الله کوي رب کريم فرمايي چې کوم خلک خوض في ايات الله کوي مه ورسره کيني که ورسره کيناستي انكم اذا مثلهم.

دلته د بعضې مفسرينو راي داده چې دا په حق د خوارجو کې نازل شوې.

ابي قلابه رَحِمَهُ اللَّهُ نصيحت کوي خپل شاګرد ايوب رَحِمَهُ اللَّهُ ته: احفظ مني اربعة، څلور خبرې ما نه يادې کړه او عملي يې کړه لا تقل في القرآن برأيك، په قرآن کريم کې د ځان نه څه مه وايه، اياك والقدر، تقدير کې خبرې مه کوه، اذا ذكر اصحاب محمد فامسك صحابه کرام چې ياد شول ژبه بنده کړه مخکې مه ځه معاويه صاحب دا کړي دې جنګ کې دا وشو بس غلې شه ولا تمكن اصحاب الاهواء من سمعك فينبذ فيه ما شاء دا اهل اهواء چې دوه اويا (۷۲) ډلې دي وخت مه ورکوه من سمعك له درس ستا نه درس کې مه پريږده چې کله د حديث درس ورکوي نو خپل درس کې يې مه پريږده فينبذ فيه ما شاء ګنې وا به چوي ستا په درس کې څه چې يې خوښه وي.

الابانة د ابن بطة حنبلي کې د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ يوه واقعه نقل کوي: امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مدينه منوره کې درس حديث ته ناست وه جاء رجل من اهل اعتزال يو سړي راغې معتزلي وو ودريده وايي اجازه ده چې درس کې کينم امام مالک صاحب وپيژنده وايي نه، اجازت نشته هغه ورته وويل سبق درنه وايم، امام مالک صاحب ورته وويل اجازت نشته

تا ته زه سبق نه وايم خوا کې يې يو محدث ناست وه امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ته يې وويل پريږده که بنه شي درس سره ، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل نه : **انهم ممرضون القلوب** ، دا زړه ته مرض داخلوي دا چې مې درس کې پريښود زما زړه ورسره خربيږي .

ګوره څومره لوي محدث ده په درس کې د يو معتزلي په ناسته يريږي چې زه ورسره خراب نه شم نو په دې کې هغه بې ادبه وويل چې زه مناظرې ته راغلې يم درس ته نه يم راغلې ، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ورته وايي ته خپله عقيده کې شکي يې ځان غوندې شکې پيدا کړه هغه سره مناظره وکړه او زه **الحمد لله** خپله عقيده کې په يقين باندې يمه نو زما مناظرې ته څه ضرورت دي زما په دې يقين ده چې زه په کوم مسلک يم دا حق دي او ته په باطله يې ، نو امام مالک رَحِمَهُ اللهُ پوه شو چې دا جاهل ده له ده سره مناظره بې ځايه ده نو وي شړه هغه محدث ورته وويل پريښې به دې وه درس کې به ناست وه امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ورته وايي که دې په درس کې ناست واي قسم په الله ! ما به مدينه کې درس حديث پريښې واي ، درس حديث به مې بند کړې واي .

باقي دا علم !!! علم مناظره چې ده دا جائز علم دي ناروا ويل ورته نه دي په کار خو شرط په کې اظهارِ حق دي چونکې نن صبا مجادلې مقابلې دي بعضې محققين مشائخ اوس هم شته دي چې هغه وايي چې بالکل دې دا ونه کړې شي خاموش دې شي او د هغوي خبره هم تر يو ځايه په حقه ده خو چونکې اوس دوي چيلنجونه ورکوي زمونږ عوامو ته که مونږ دا چيلنج قبول نه کړو خو باقاعده زمونږ عوام وايي دوي سره دلائل نشته خرابيږي نو د مجبوري په لحاظ به دا مونږ قبلوو باقي څه خير په کې نشته دي څومره مناظره شوې دي په منتهاء کې ثمره د خير نه راځي او لا ترې نه شر جوړيږي خو چونکې دوي شرپسند دي دوي چيلنجونه ورکوي او دا خصم تفرقه دوي جوړ کړي نو په دې بناء مونږ عوامو خواصو ته دا ښايو چې زمونږ مذهب زمونږ عقيده دا حق مذهب دي دا حقه عقيده ده په دې مونږ سره دلائل شته د قرآن کريم احاديثو فقه نه هر قسم دلائل مونږ لرو او شته نو خپله نفس مناظره جائزه ده .

تفسير قرطبي دويم جلد صفحه ۱۸۶ باندې د **قل هاتوا برهانکم ان کنتم صادقين** په ذيل کې اوږد تفصيل کوي او د مناظرې حلت ثابتوي چې دا امرِ جائز دي راتله وکوي په

دليل باندې نو طلب د دليل د سائل كار دي او سائل جوړې دې نه شي بدون د مدعي نه نو چې مدعي او سائل پيدا شول همدغه خصمين دي دا مناظره ده .

دارنګې تفسير قرطبي جلد ۷ صفحه ۷۵ باندې ليكي : ومن الابل اثنين ومن البقر الاثنين ، ددې نه وروسته دا ذكر كوي : فدلت الايات على اثبات المناظرة في العلم . آيات دليل په دې ده چې مناظره په علم كې جائزه ده ، لان الله تعالى امره النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يناظرهم ، ځكه رب كريم نبي عَلَيْهِ السَّلَام مامور كړ په دې باندې چې مناظره وكړه له دوي سره ، وفيها اثبات القياس او په دې كې د قياس د اثبات دليل هم دي .

دارنګې تمهيد د ابن عبد البر جلد ۸ صفحه ۳۶۸ باندې ليكلي څو روايات ذكر كوي او د هغې نه وروسته ليكي : فيه دليل على اثبات المناظرة .

دارنګې تفسير ابن كثير جلد ۱ صفحه ۳۲۸ كې ليكي :قل تعالوا ندع ابناءنا وابنائكم ددې په تفسير كې ليكلي : هذا كما دعا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفد نجران من النصارى بعد قيام الحجة عليهم في المناظرة وعتوهم وعنادهم إلى المباهلة ، وروسته له دې نه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفد نجران قيام د دلائلو په هغوي په مناظره كې و كړ هم دا نجران سره نبي عَلَيْهِ السَّلَام مناظره وكړه .

عيسى عَلَيْهِ السَّلَام باره كې چې د الله رسول دي عبد الله دې روح الله دي ثالث ثلاثة يا هو الله نه دي نو چې كله هغوي عناد وكړ بيا چې راخكل مباهلې ته .

دارنګې فتح الباري جلد ۱ ص ۲۶۲ باندې ليكلي ددې حديث لاندې : ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يكن يضجر من المراجعة في العلم ، نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مراجعې علمي نه ، نه تنګيده چا به چې استفتاء كوله مراجعه علمي نو دې به نه تنګيده .

دې ځاى لاندې ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ اللهُ ليكلي دي :

فيه جواز المناظرة ومقابلة السنة بالكتاب .

دارنګې كشف الظنون جلد ۱ صفحه ۱۶ كې ذكر كوي : ومن فروع اصول الفقه علم

النظر علم المناظرة .

دارنګې درمختار جلد٦ ص ۴۲۱ کې ليکلي دي : المناظرة في العلم لنصرة الحق عبادة ، مناظره علمي د حق د مدد لپاره عبادت دي ولاحد ثلاثة حرام که نصرت د حق نه وي اظهار حق نه وي بيا حرامه ده لقهر مسلم يو عام مسلم مغلوبوي هسې علم ښايي يا دوينا جاه او جلال حاصلوي بيا حرامه ده .

دارنګې شرح الزرقاني جلد ۳ ص ۷۵ کې ليکلي دي : فسؤال احدهما الآخر على وجه المذاكرة والمناظرة جائز ، يو چې بل نه سوال کوي د مذاکرې مناظرې په نيت باندې دا جائز دي ، اذا التزم شروط المناظرة من الانصاف ، چې کله دوارو ځان باندې شرائط د مناظرې لازم ګڼلي وي چې هغه انصاف ده او قصد اظهار حق ده وتعاونوا إلى الوصول إلى الحق .

دارنګې شرح الزرقاني جلد ۳ ص ۲۸۶ کې ذکر کوي : ان المناظرة وطلب الدليل وموقع الحجة كان قديما من زمن الصحابة ولا ينكره الا جاهل .

مناظره علمي استدلالات دا له زماني د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه شروع دي جائز دي او انکار د مناظرې نه ، نه کوي مګر جاهل .

مستصفى د امام غزالي رحمه الله جلد ۱ صفحه ۳۵۸ کې ذکر کوي مفهوم ترې دا جوړيږي المناظرة قد تكون الواجب ، مناظره کله کله واجبه وي چې اهل زيغ چيلنج درکوي لازم ده چې ته به يې قبلوي ، وقد تكون مندوبة کله کله مندوبه وي .

دا خبره چې ښوک وايي دغه شان کورس چې تاسو د مناظرې جوړ کړي دا په اسلافو کې هم وه او که بدعت ده ؟ مونږ ورته جواب ورکوو چې هاؤ دا په اسلافو کې موجود وه داسې کورس په اسلافو کې هم شوې ده :

ابي محمد عبد الله بن علي بن سعيد القيصراني يو محدث تير شوې دي هغه باره کې معجم البلدان جلد ۴ ص ۳۵۷ کې ذکر کړي دي :

كان فقيها فاضلا حسن الكلام في المسائل ثم ارتحل إلى دمشق وعمل بها حلقة المناظرة.

په دمشق کې دمناظرې يوه حلقه د درس جوړه کړه په جامعه د دمشق کې : **ثم انتقل إلى حلب فبنى له ابن الجمحي مدرسةً** ، هلته بيا ورته د وخت والي يا گورنر ورته مدرسه جوړه کړه نو ددغه صاحب په رابطه محدثينو ليکلي چې ده به خپله مدرسه کې يوه حلقه د مناظرې لرله او په هغه کې به يې د مناظرې درس کوه داد بعضې فقهاو هغه عبارات وو چې خپله مناظره په نيت **اظهار الصواب لا لالزام الخصم** دا جائز ده .

درس اول چې په بيان د درس مناظره کې وو ختم شو او دا مشتمله وه په اربعه مباحثو باندې.

مسئله حياة الانبياء :

نن چې کومه مسئله زير بحث گرځوو مسئله حيات الانبياء ده عليهم الصلاة والسلام .
مخکې په دې مسئله کې ډيره نزاع چا نه وه کړې دا دد ې زمانې د اشاعتيانو ايجاد دي او مخکې هم چې کوم خوارج د عذاب قبر منکر وه هغوي د حيات برزخ هم منکر وه د حيات برزخ متعلق دغه تفصيل يادول په کار دي چې يو روح د ميت ده بل ذات جسد او نفس د ميت دي اجساد داموا تو بغير ددري جماعاتو نه چې هغه دري جماعات منصوصي دي او يو بل جماعت ورباندې علماء دلالة النص نه ثابتوي چې هغه هم داخل دي ددغه څلورو جماعاتو نه علاوه چې نور څومره د خلکو اجساد دي هغه خاوري کيږي او ختميږي .
څلور جسدونه ، نه ختميږي چې يو جسد د انبياء عليهم الصلاة والسلام دي :
ان الله حرم على الارض ان تأكل اجساد الانبياء . (سنن ابن ماجه ص ٣٨٦)

دويم شهداء دي د شهدا و متعلق نص قرآني دي چې : ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله اموات بل احياء .

دريم قراء حضرات دي قاريان چې سينه کې يې قرآن عظيم الشان وي د هغوي متعلق هم نص د حديث دي او حديث قدسي ده چې حافظ قبر کې کيخودلې شي ربِّ کائنات ځمکې ته خطاب کوي : اى زما ځمکې ! زما د کلام حافظ درغې ضائع يې نه کړي ځمکه په لسان د حال سره جواب ورکوي يارب هغه څوک چې ستا کلام سينه کې لري زه يې نه شم ضائع کولې دغه نص قاضي ثناء الله پاني پتي رَحِمَهُ اللهُ د : ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله اموات ، ذيل کې ذکر کړي دي او دا جزيه يې ترې ثابته کړې ده چې جسدونه د حافظانو قبرونو کې نه خرابيږي دا دري منصوصي دي .

څلورم جسد د صديقينو اوليا و ده هغه د دلالة النص نه ثابتوي هر کله چې مقام د شهيد په مقابل د مقام د صديق کې ادنى وي او مقام د صديقينو ترې اعلى دي چې ددوي لپاره حياة جسدي برزخي يعني جسد يې روغ پاتې کيږي نو قاضي ثناء الله پاني پتي رَحِمَهُ اللهُ د غه (عبارت مخکې ذکر شوې) ځاى کې فرمايي مخکې چې کوم تير شو صديقين اولياء هم په

قبرونو کې نه ضائع کيږي اصلاً شهداء ته چې احياء ويلې شوې دي نو دغه ځای کې دا ذکر نشته چې ددوي جسم دننه خرابيږي نه خو ډير ځل داسې شوې چې يو شهيد ډير وخت وروسته رابهر شوې هغه روغ جوړ وي او په دې ډير شواهد موجود دي په زمانه د صحابو کې هم دا واقعات ثابت دي د احد شهيدان د حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه کې چې کله د احد سره قريب هغه يو ديوال جوړ کړ د اوبو ډيم يې جوړ کړ او هغه لختي يې مسجد نبوي ته راورسوه نو دغه وخت کې د احد د ميدان په غاړه لختي کنستل کيده او د عمرو بن جموح رضي الله عنه ځوي په دې کې کار کوي او هغه وايي چې کله يوه پونډي ولږيده هغې نه وينه روانه شوه لحد چې رابنکاره شو نو ما په کې خپل پلار وپيژنده عمرو بن جموح رضي الله عنه.
مؤرخين ليکي چې ددې واقعې مينځ کې او د لختي د کنستلو کې اوه ديرش (۳۷) کاله شوې وه.

او يا دغه شان هغه واقعه د حضرت عبدالله بن تامر د شهادت تاسو ته ما بيان کړې وه په مسئله د کرامت الاولياء کې دغه عبدالله بن تامر تفسير قرطبي هم واقعه راخيستي ده، مظهري هم راخيستي ده چې دغه عبدالله بن تامر د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په دورِ خلافت کې يو زنانه خاوره د يو کمر نه کنسته او په هغې کې لحد رابنکاره شو او يوه گوته رابنکاره شوه او يوه ورقه بيا دا عمر فاروق صاحب ته يوړل شوه هغه چې وکتل نو دا گوته او دغه خط د عبدالله بن تامر وه نو اويا (۷۰) کاله د نبي عليه السلام نه.

يوسف ذونواز بن شرحبيل مخکې تير شوې وه نو تقريباً دا بيا د عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په وخت کې تقريباً سلو کالو نه زيات وخت پرې تير شوې دي راوبنکل شو نو روغ وه جسد دده او داسې نور ډير واقعات شته دي.

د افغانستان په تاريخ کې هم شوې دي قندهار استاذ د ننگرهار په مشهورو قومندانانو کې وه او د ناصر باغ په کيمپ کې دفن کړې شو تقريبا دوه ويشت (۲۲) کاله وروسته چې کله د ناصر باغ کيمپ ختم شو زه هلته پروگرام ته لاړم او عيني گواهانو زما مخکې وويل چې دلته آوازه وه چې قندهار استاد راسپړي او خپلې علاقې ته يې جسد وړي ځان سره افغانستان ته وايي مونږ ورغلو او په خپلو سترگو مو قندهار استاد وليد چې روغ جوړ وه فقط بريت او نوکان يې غټ شوي وه نو دا هم دليل د حيات د هغوي ده او عقلي دليل

ده چې دوي کې څه حيات شته چې نو کان او ويښتان يې غټيږي .

همداسې ګواهان چې ددوي باره کې موجود دي دغسې ګواهان د صديقينو او لياو باره کې هم موجود دي چې هغوي وروسته له وفات نه روغ رمټ راويستلې شوي په دې ارمړو کې زه پروګرام ته تللې وم هغه د چا چې پروګرام وه د مسجد سره خوا کې قبر وه او د چا چې پروګرام وه هغوي د دغه شخص لمسي جوړيږي هغوي وويل چې زمونږ يو صاحب ته خوب کې راغې ډير وخت وتلې وه او وي ويل چې دا تاسې اودس کوي نو ماباندې تيريږي وايې بيا هغه ځاى مونږ وسپړه چې وم کتو نو روغ رمټ وه فقط بريت او نو کان يې غټ شوې وه دا شهيد نه وه بلکې عام سړي وه د مانکي شريف د شيخانو نه وه مونږ له دغه ځاى اوچت کړاو خوا کې مو دفن کړ قبر يې اوس هم هلته شته دي .

مسئله د حيات برزخ دغسې شوه چې دا څلور تنې خرابيږي نه او ددوي روحونه چې محبوس دغلته نه وي روحونه يې ګرځي عليين ته ځي جنت ته ځي او دوي سره يې رابطه وي تنې يې په قبرونو کې وي خو دغه قبر دده روضة من رياض الجنة ورته ګرځيدلې وي دې کې وسعت راشي الى مد بصره کولاو شي او د جنت باغيچه شي دد ې لپاره انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کې د جمهورو امت مسلمه رايه داده چې ددوي دا تنې په قبرونو کې وي چيرته ځي نه خو فقط په تابعينو کې سعيد ابن مسيب رَحِمَهُ اللَّهُ راى داده چې د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ تنې تر څلويښتو ورځو په قبرونو کې وي بعد له څلويښتو ورځو ځي چيرته ځي دلته سعيد ابن مسيب نور قول نه دي کړي چې چيرته ځي کوم بريلوي حضرات چې د حضور جسدي قائل دي هغوي دليل کې دغه قول پيش کوي او دغه قول پسې ذهاب کوي چې د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسداً يو ځاى ته حضور کوي دا قول د سعيد ابن مسيب امام بيهقي راخيستي دي .

په حيات الانبياء کې امام بيهقي رَحِمَهُ اللَّهُ په دې موضوع کې مستقل کتاب ليکلي او دا قول د سعيد ابن مسيب يې هم راخستې ده يو مرفوع حديث يې هم دا باره کې پيش کړې ده هغه حديث داده چې نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې مونږ انبياء چې يو اکرم على الله يو دې نه چې مونږ اربعين يوماً نه زيات په قبرونو کې مونږ پريږدي .

امام بيهقي رَحِمَهُ اللَّهُ دې روايت نه جواب کوي چې معنى داده چې څلويښت ورځو نه مونږ زيات قبرونو کې نه پريږدي ، مطلب دا چې څلويښتو ورځو پورې دوي عبادات نه کوي

او څلويښت ورځې بعد دوي په قبرونو کې مونځونه شروع کړي تلاوتونه شروع کړي دعاوات شروع کړي او ددې نه بيا يو خوند اخلي داسې نه چې قبرونو نه يې باسي بلکې دوي د عامو انسانانو غوندې قبرونو کې پراته نه وي بلکې بيا آزاده زندګي وي.

تفسير روح المعاني پاره ۲۲ سورة احزاب آيت: ۴۰: ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾، دې ځای باندې دا مسئله ډير ښه چيړلې ده، او دا يې د جمهورو مذهب نه دې راخيستې چې څوک وايي چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ بعد له څلويښتو ورځو له قبرونو ووځي دا فقط د سعيد ابن مسيب رايه ده نو جمهور امت مسلمه قول داده چې د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ذوات په قبرونو کې موجود دي چيرته ځي نه او دا قبور ورته د جنت د باغيچو نه باغيچه ګرځيدلي خرابيږي نه او عام مسلمانان او کفار ددوي تنې بيا خرابيږي په دې کې عالم هم ځان نه شي قياس کولې عالم به هم خاوري کيږي او دا چې انبياء نه خاوري کيږي شهداء نه خاوري کيږي حفاظ نه خاوري کيږي، او د بعضو په قول صديقين اولياء نه خاوري کيږي دا محض کرامات لهم بعد الموة دا بعد الموة ددوي کرامت دي کرامت نه بغير څه نه شي جوړيدې ولې د خالق عادت په دې جاري ده چې د کوم چا نه روح لاړ هغه به پرسيږي هغه به خاوري کيږي بوي به کوي که هغه ګنهګار وي که نه وي مثلاً پيشو چې مړه شي پرسيږي خاوري کيږي او بوي کوي نو دا خو نه چې هغې ګناه کړي نا عادت د خالق په دې جاري ده چې کوم شي مړ شي هغه به پرسيږي کله چې خالق دا خپل عادت پريښود د عادت په خلاف يې ونه پرسوه بوي يې ونه کړ نو دا محض كرامتاً لهم ځکه کرامت دي دا چې امر خارق للعادة، دا کوم خلک چې د حيات برزخي منکر دي هغوي وايي چې که تنه د انبياء ده که د اولياء وي که د شهداء ده دې ته څه حيات نه وي بلکې دوي وايي چې دده روح علين ته لاړ شي هغه تنعم حاصلوي او دا تنه چې ده که خرابيږي که نه خرابيږي وايي دا نبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه خرابيږئ واي مړه پرته وي دې کې څه حيات نه وي حيات ورته نه مني پنچپيريان دا ددوي عقيده ده دوه دليله د قرآن کريم نه دوي په خپله دعوى پيش کوي اول کې ما د هغوي جوابونه ذکر کړي وروسته بيا زه خپلو ادلوو ته راځم.

الايرادات مع الجوابات :

اول دليل : سورة نحل (٢١) أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ، پيش كوي اموات خبر د مبتداء مقدرې شو هم اموات دوي مړه دي غير احياء ژوندي نه دي دا تاكيد د اموات شو دوي پوهيږي نه ايان يبعثون كله به دوي پورته كولې شي دا اموات چې خبر د هم شو ضمير غائبه مرجع مقدره ده دوي وايي دا معبودينو مطلقوو ته راجع ده نو دې كې عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې دې كې عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې هغه انبياء وه بس هغوي هم اموات غير احياء هغوي هم مړه دي ژوندي نه دي . دوي دا تاويل كوي .

جواب دادى چې مراد دلته اموات خبر د مبتداء مقدرې دي چې هم دي مرجع د ضمير د هم اصنام دي بتان يا دوي د انبياء شهداء ذكر دلته نشته .

جامع البيان ، تفسير الطبري جلد ١٧ صفحه ١٨٨ كې ليكي :

حدثنا بشر قال حدثنا يزيد قال حدثنا سعيد عن قتادة . ترجمه كوي : أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ وهي هذه الاوثان وايي مراد په دې سره بتان دي التي تعبد من دون الله اموات لا أرواح فيها ولا تملك لاهلها ضرا ولا نفعا ، تصريح وشوه چې دا بتان يادوي ، ټول تفسيرونه ما وكتل اكثر مفسرين همدغه الفاظ نقلوي نو بس په دې مې اكتفاء وكړه چې داد بتانو متعلق ده مراد په دې سره شهداء انبياء نه دي .

دويم دليل ددوي : دويم دليل ددوي دادى : ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ (سورة زمر آيت : ٣٠) معنى يې داسې كوي ته مړې يې او دا خلك مړي دي نو علم بنه شي ده دوي دو مره جهلاء دي چې د مَيْت او مَيِّت فرق نه شي كولې مَيْت بسكون الياء مړي ته وايي او مَيِّت هغه چې وروستو مړ كيږي په اعتبار د مستقبل سره .

روائع البيان في تفسير آيات الأحكام للصابوني جلد ١ ص ٦٤ :

والمشهور عند أهل اللغة : الميْت بالتخفيف من مات فعلاً وبالتشديد ميّت من سيموت.

د آيت مقصد دادي انك ميّت انك ستموت تاسو به وفات كيږي دا خو د چا عقيده هم نه

ده چې وفات شوې نه ده يا جنازه پرې نه ده شوې مونږ خو ټول په دې متفق يو چې ده باندې دا حالات طاري شوي دي دا چې دا حالات طاري شول لحد ته ورسيده دغه وخت کې حال څه ده.

اوس ميّت دي که نه دي ددې بحث راسره وکړه ددې بحث دنيا کې راسره مه کوي چې کنې موت پرې طاري شوې نه دي موت خو پرې طاري شو دا خو متفقه مسئله ده چې کله مبارک لحد کې کيښودل شو اوس ميت دي که نه حالات برزخي راسره وڅيړه نو : وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِن لَا تَشْعُرُونَ ، البقرة آيت : ۱۵۴ ، اموات جمع د ميّت نه ده جمع د ميْت ده نو معنی ميت ورته مه وايي د وفات نه وروسته.

انك ميّت وانهم ميّتون ، انك لستموت وانهم لسيمتون (التفسير المنير للزحيلي جلد ۲۳ ص ۲۸۳) دا الفاظ نقل کوي.

تفسير القرآن العظيم منسوب للامام طبراني جلد ۳۰ ص ۴۶۱ : معناه انك ستموت وانهم سيمتون ، نو دا حالات برزخي داسې حالات دي چې دې کې اجتهاد نه شي کيدې ځکه مسئله پټه ده عقل کار نه کوي کيمره يا داسې نور اسباب کار نه کوي خلکو ډيرې تجربې کړي خو هيڅ يې هم نه دي تر لاسه کړي الله په خپل قدرت سره محجوب کړي نو چې عقل کار نه کوي اسباب کار نه کوي اجتهادي مسئله نه ده نو دغه ځای کې مثبت به هم نص قرآني او حديث نبوي وي او منکر به هم محض کتاب الله او حديث رسول الله پيش کوي نو چې اوس دا مسئله مونږ په اجتهاد ثابتوو نو اجتهاد عقل خو هلته کار نه کوي نو مونږ به نص پيش کوو او ځوک چې منکر دي هغه به هم نص پيش کوي چې په دا روضه کې پروت ده ميت ده داسې نص ترې مطالبه کړي قيامت به راشي خو دوي سره به د برزخي حال د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د انبياو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د ميت لفظ پيدا نه کړي..

دليل د مثبتينو د حيات الأنبياء:

د شهداو لپاره د انبياء لپاره خصوصاً هغه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ چې شهداء دي او اخص الخواص ځان ته محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې هغه دلته زير بحث ده چې دوي د هغه د حيات نه منکر دي نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اجماع د مسلمينو من الشهداء ده شرح

الصدور کې امام سيوطي رَحِمَهُ‌اللّٰه په دې باندې اجماع رانقل کړي ځکه دا هغه اثر د زهرو د خيبر ده نو د شهادت مقام ده مبارک ته ثابت ده لمن يقتل في سبيل الله کې داخل دي .

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتٌ مه وايي په حق د هغه چا کې چې شهيد شي في سبيل الله دا مقوله د لا تقولوا شوه او مقوله د قول نه وي مګر جمله وي کله چې لفظ د مقولې مراد نه وي لا تقل لهما اف چې لفظ د مقولې مراد نه وي نو مقوله جمله وي مقوله د قول څه معنی مفعول د لفظ د قول خو مقوله ورته ځکه وايي چې مفعول د فعل مفرد هم راځي جمله هم راځي او مقوله د قول يو اځې جمله وي نو ځکه نحاة د هغه مفعول نه تعبير دلته په مقوله سره وکړو ځان ته نوم يې ورته ورکړ ځان ته نوم يې ورته وضعه کړ نو مقوله د قول څه معنی مفعول د لفظ د قول نو مقوله د قول جمله وي دلته امواتاً مفرد دي نو جمله جوړه کړه خبر د مبتداء مقدرې يې کړه لا تقولوا هم اموات مه وايي چې دوي مړه دي نو اموات جمع د ميْت شوه په سکون سره چې مړي ته وايي د ميّت نه ده انك ميت خو ويلې شي حالت برزخي ته يې مه راجع کوه حيات د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَام ته خطاب وکړ انك ميت تاسو باندې موت طاري شي .

نو مه وايي هم اموات چې دوي مړه دي بل احياء تاکيد شو بلکې ژوندي دي ولکن لا تشعرون ليکن تاسې په حقيقت او تفصيل د هغې پوهيږي نه .سورة بقرة آيت : ١٥٤ .

دا رنګې سورة آل عمران :

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾

دلته منعه د قول نه راغله چې په ژبان ورته مړي مه وايه اوس که څوک وايي چې مړي خو دي خو د سوء ادب نه به مونږ مړي نه ورته وايو نو دلته اوس تا ګمان نه منعه کوي ولا تحسبن الذين قتلوا ګمان مه کوي په حق د هغه چا کې چې شهيدان شوې دي في سبيل الله اموات د مړو ګمان هم پرې مه کوي بل احياء بلکې دوي ژوندي دي عند ربهم يرزقون د رب کريم په نزد دوي ته رزق ورکولې شي ، قرآن عظيم الشان د لفظي تغير نه محفوظ ده خو معنوي تحريفات په کې پنچپيريانو وهابيانو دومره وکړل هغه غټ غټ ملايان يې لګيا دي

په کې دې صريح نص نه چې اموات مه وايه دا څومره واضح دليل دي خو دوي په کې تاويل څه کوي بل احياء عند ربهم دا احياء ظرف دي اوس طالبانو ته چل ښايي د قران کريم د مقابلې بل احياء عند ربهم بلکې ژوندي دي د رب کريم په نزد باندې لا عندنا نو دا اوس چا ويلي دي اوس د آيت نچوړ دا جوړيږي چې عند ربهم ژوندي دي زمونږ په نزد خو نه دي ژوندي د خداى په نزد ژوندي دي تاسو نو څنګه وايي چې دا ژوندي دي د قرآن کريم دا غلط تعبير کولو باندې احياء ظرف وګرځوه تاسو ته ما د تفسير ابي سعود حواله ذکر کړي ده جلد ۱ صفحه ۴۸۹ او ظرف للفعل بعده دا بل احياء عند ربهم د يرزقون لپاره ظرف کړه يرزقون عند ربهم.

دوهم جواب دا که دا وسط کې راغې دا داسې مثال شو لکه بالآخرة هم يوقنون نو دا بالآخرة تعلق تر يوقنون نيسي يوقنون بالآخره نو دا شان عند ربهم يرزقون معنی يرزقون عند ربهم بل احياء باندې خبره خلاصه شوه مړي مه وايه بلکې ژوندي دي.

که دا وسط کې راشي ظرف د احياء هم شي ظرف د يرزقون هم شي د دواړو امکان شته په کې مفسرينو را اخيستي دي مراد د عنديت نه عنديت مکاني نه دي چې دا په قبر کې حيات نه لري او د خداى تعالى العياذ بالله کوم مکان دوي ګڼي ځي هلته او هلته ورته يو حيات روحي دي دغه معنى نه ده مراد د عنديت نه يا قربت دي او يا مراد د عنديت نه رايه ده لکه څوک وايي دا مسئله عند ابي حنيفه رَحِمَهُ اللهُ داسې ده عند الشافعي رَحِمَهُ اللهُ داسې ده عند بخاري داسې ده نو عنديت مکاني خو مراد نه وي په معنى د رايه سره وي دا مسئله عند ابي حنيفة د هغه په فيصله داسې ده بل احياء عند ربهم يا خو د عندنا نه مراد د عنديت تقرب زلفي ده معنى دا چې داد هغه مقربينو نه دي نو حيات يې هم ورکړي روزي هم ورکوي او يا عنديت په معنى د رايه سره دوي ژوندي دي عند ربهم په فيصله د باري تعالى باندې اولا تقدموا بين يدي الله چې فيصله د باري تعالى دوي باره کې د حيات ده مونږ هم مشروطان نه يو زمونږ هم هغه فيصله ده چې کوم ه خالق کړې ده چې په فيصله د خالق حيات دي نو زمونږ

په فيصله هم حيات دي .

حکايت : مولوي نادر شاه صاحب دولس (۱۲) کاله اشاعتي وه هغه چې د اشاعت نه توبه وکړه او د هغوي مقابله يې شروع کړه نو دهغې ډيرې وجهې دي يو دا چې په بلوچستان کې وايي مناظره وه د حيات انبياء په مسئله مونږ هلته لاړو د طاهر سره وايي زه لاړم دا خاص د طاهر ملا شاګرد وه نو مناظره وشوه هغه علماء وايي ډير چالاکه وه زمونږ دا شيخ يې کلک راګير کړ په مسئله د حيات انبياء کې نو چې کله واپس وايي مونږ راتللو په لاره شيخ طاهر وايي وويل چې ياره دا دوه آياتونه دوي سره نه واي کنه نو دا مناظره يې رانه ګټلې نه شوه بس وايي ما په زړه کې وويل چې ته خو ډير بې دينه انسان يې ځکه چې ته اوس داسې نه کوې چې ته خپله فيصله د قرآن کريم تابع کړې چې آياتونه راغلي خو زه به د خپلې راې نه تير شم اوس ته د رايه نه نه تيريږې وايي چې کاشکې دا آيتونه ، نه واي چې ما دا مناظره ګټلې واي نو ما وايي هلته فيصله وکړه چې زه ورسيږم نو ستا به مضبوطه مقابله کوم وايي چې کله راورسيدو زه هلته پنجپير کې وم چې يو لنډ بيري وه د چاپ خانو والا وايي دا راغې مونږ کمره کې ناست وو سترې مشې يې وکړل شيخ ته يې وويل چې هغه کار څنګه کړم وي کړم نو شيخ ورته وويل هاو وې کړه ګورم چې څه وخت وروسته پوسترې راورسيدې چې شيخ په بلوچستان کې مناظره ګټلې په مسئله د حيات انبياء کې نو وايي ما په زړه کې وويل چې وا دروغجنه ستا شرم خو ما هلته وليد ته خو هغه علماو ډير سپک کړې او دلته اوس پوسترې پسې خوروې نو بيا هغه بنه کلکه مقابله وکړه همدا وجه وه چې په خپل کور کې يې شهيد کړو . نو داد حيات د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لپاره دليل پيش کيدې شي ځکه هغه شهيد دي په اتفاق د امت .

دريم دليل : سورة زخرف آيت ۴۵:

﴿ وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَٰنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ﴾ .

تپوس وکړه د هغه رسل نه چې ليږلي مونږ وړاندې د تا نه آيا مونږ ګرځولي من دون الرحمن معبودان چې عبادت يې کيږي .

دا دليل د حياة الانبياء دي او دليل د لقاء د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ سره چې

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د نورو انبياو سره ملاقاتونه کړي دي که هغوي ته حيات نه وايي نو دا ملاقات څنګه کيده تکليف بما لا يطاق خو جائز نه دي من ارسلنا من قبلك خو مخکې تير شوي او ورته امر ده چې تپوس ترې وکړه نو چې ورسره ملاقي نه شي تپوس ترې څنګه کوي خو ددوي له انبياء سره ملاقات وه په ليلة المعراج کې په مختلفو مواضعو دغه ملاقات کې ده ته خطاب کيږي چې تپوس ترې وکړه.

زاد المسير في علم التفسير جلد ۵ صفحه ۳۳۸ باندې ليکلي يو تاويل دادی:

أنه لما أُسري به جُمِعَ له الانبياء فصلى بهم.

مونځ يې ورکړو **ثم قال له جبرائيل سل من أرسلنا من قبلك** داد انبياء حيات دليل دي چې هغوي مبارکانو دغلته روحا يا په مثل د روح حاضري کړي وه تنې يې په مرقدونو کې وي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: لا أسال قد اكتفيت زه ترې پوښتنه نه کوم تفصيل يې بل روايت کې شته دي چې تپوس شکي کوي زما په کې شک نشته دي. هغه روايت دادی:

و رواه عطاء عن ابن عباس و هذا قول سعيد بن جبير والزهري وابن زيد قالوا جمع له الرسل ليلة أسري به فلقيهم وأَمر أن يسألهم فما شك ولا سأل.

شک يې نه وه نو سوال يې ونه کړو.

څلورم دليل: ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ﴾.

ورکړي مونږ موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کتاب ته مه ګرځه في مرية په شک کې من لقائه د لقاء موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ، لقاء مصدر دی اضافت يی شوی ده ضمير د مفعول ته هغه ضمير ده مفعول راجع ده موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به دغه تاويل چی مونږ تری اخذ کوو مه کيږه شکی من لقائه د ملاقات ستانه د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره تا چی د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ څومره لقاء ګانی کړی دې کې شک مه کوه دا يقيني لقاء وه وجعلناه هدى لبني اسرائيل سورة سجده ايات ۲۳ تفسير ابن کثير دار طيبه جلد ٦ صفحه ۳۷۱.

فلا تكن في مرية من لقائه قال قتادة يعني به ليلة الاسراء.

ثم روي عن ابي العالية الرياحي قال حدثني ابن عم نبيكم يعني ابن عباس رضي الله قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أريت ليلة اسري بي موسى بن عمران ما ته وښودلي شو موسى بن عمران ورأيت مالكا خازن النار والرجال في ايات أراهن الله اياه بيايي ولوستل دا ايات فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ.

انه قد رأى موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ليلة أسري به دا ملاقات څو ځايه وه يو ځاى هغه قبر کې مونځ کوه لقاء وشوه بيا په آسمان کې په پنځم آسمان بيا په شپږم اسمان اختلاف د رواياتو دي راجح شپږم آسمان دي هغلته څو لقاء ګانې شوي دا بار بار چې د ې ځي راځي دا مونځ کميږي بيا لقاء وه بيت المقدس کې چې هغلته دې امام جوړيږي خبرې خپلو کې کيږي نو د دغه لقاء ګانو باره کې وايي شک مه کوه .

قرآن کريم کې خطابات نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په دري طريقو باندې وي کله خطاب ده ته کيږي امت هم مراد وي دې هم مراد وي لکه اقيموا الصلاة لدلوك الشمس دې هم مراد ده امت هم مراد ده کله خطاب ده ته کيږي امت نه يې مراد فتهجد به نافلةً لك دا ده پورې خاص ده امت نه دي مراد ده باندې فريضه ده نورو باندې مسنونه پاتې ده ، کله خطاب ده ته کيږي امت مراد وي دې نه يې مراد مثال لکه واخفض لهما جناح الذل من الرحمة سورة اسراء .

دا دليل ددې دي چې ده ته يې وايي امت ته يې اوروي دې نه دې مراد نو دا خو يقيني خبره ده چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه وخت کې نه مور وه نه يې پلار وه نو دا دليل ددې ده چې ده ته يې وايي امت ته يې اوروي نو دا هم ددې قبيلې نه ده دې نه دې مراد ځکه دا عمل ده په ستر ګو ليدلي ده يو سړي چې په سترګو يو شي وګوري نو کله هم شک نه کوي رب کريم ته دا علم وه چې امت کې به بيا پنچپيريان پيدا شي هغوي به بيا شک کوي نو ده ته يې خطاب وکړ فلا تكن في مرية من لقائه ، شک مه کوه د لقاء د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده خو شک نه کولو امت ته وايي چې تاسو شک مه کوي دا لقاء شوې ده .

دې دري آيتونو نه تاسو استدلال کولې شي د حيات انبياء لپاره مفسرين په دغه ځاى کې دا موضوع چيړي .

سنن نسائي بیروت چاپ جلد ۳ ص ۲۱٦، أخبرني أحمد بن سعيد قال حدثنا حبان قال حدثنا حماد بن سلمة قال أنبأنا ثابت و سليمان التيمي وعن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: مررت على قبر موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ وهو يصلي في قبره تير شوم د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په قبر باندې ده مونځ کوه په قبر کې دې کې خو هيڅ چون چرا نشته ځکه يصلي في قبره په خپل قبر کې مونځ کولو اقوای د ادلوو د مثبتينو نه د حياة الانبياء چې کوم سيوطي رَحِمَهُ اللهُ په دې ليکلي او يا امام بيهقي رَحِمَهُ اللهُ په دې باندې ليکل کړي دې مستقل رسائل د حيات انبياء يې ليکلي دي:

تنزيه الانبياء عما نسب إليهم حثالة الأغبياء داد ابن خمير ده دا په عصمت او حيات دواړو ليکلې شوې ده.

او تنزيه الانبياء عن تسفيه الاغبياء د امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ په عصمت او حيات ليکلي ده او لفظ حيات الانبياء باندې له اقوای ادلوو دا پيش کړي دا حديث مسند احمد بن حنبل جلد ۳ ص ۱۲۰ صحيح مسلم بيروتي چاپ جلد ۷ صفحه ۱۰۲، صحيح ابن حبان جلد ۱ ص ۲۴۲، مسند البزاز مسند البزاز جلد ۱۸-۱۰ صفحه ۱۳-٦۲، مسند أبي يعلى جلد ٦ ص ۷۱، التوحيد لابن خزيمة جلد ۱ ص ۵٦۷، المعجم الأوسط جلد ۸ ص ۱۳، دا ټولو دغه حديث په دغه مذکورو حوالو کې را اخيستي دي.

دا چې دا مونځ او تلاوت دا خاص نه دي تر انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دا نورو شهدا او صلحاء و ته هم دلته حيات دي هغوي يې کولې شي دا لاندې حوالې دي:

التهجد و قيام الليل جلد ۱ ص ۲۳۵، روايت پيش کوي:

قال كنا اذا مررنا بجنبات قبر الثابت البناني مونږ به چې په څنګ د الثابت البناني په قبر تيريدو سمعنا قرأة القرآن د قرآن عظيم الشان تلاوت به مو اوريده.

د بخاري هغه روايت هم پرې دال ده چې يو جماعت روان وو هغه ډله وايي چې مونږ په يوه دشته کې خيمه ولږوله چې مونږ واي د لاندې سورة ملک واوريده هغه روايت پرې دال ده د قرآن عظيم الشان په تلاوت داخو انبياء نه وه عام صلحاء يا شهدا وه.

التهجد و قيام الليل جلد ۱ صفحه ۴۴۴:

حدثنا هارون بن عبدالله حدثنا سیار عن جعفر سمعت ثابت البناني (ډیر کرتې دا دعاء به یې کوله) مالا أحصی یقول في دعائه : اللهم ان کنت اذنت لاحد ان یصلي في قبره فأذن لي أن اصلي في قبري .

خدایه ! که یو کس ته دا اجازت کوي چې په قبر کې مونځ کوي نو ما ته هم وکړه دلته اختصار دی بل روایت کې راځي که ته اجازت ورکوي چې مونځ وکړي بعد الانبیاء یعني انبیاء ته خودي کړې ده که هغې نه سواء بل چا ته د مونځ اجازت په قبر کې کوي نو دا مونځ زما خوښ دي ماته هم اجازت وکړه دغه دعاء یې قبوله شوه ده به بیا قبر کې مونځ کوه اسناد یې حسن ده پاس روایت پرې دال دي .

دارنګې القبور جلد ۱ صفحه ۲۸ :

حدثني محمد بن الحسین حدثني خالد بن یزید القسام حدثنا الربیع بن صبیح قال لما مات ثابت البناني دخلت أنا وحمید الطویل و جسر أبو جعفر قبره فلما وضعناه في لحده و جعلنا نسوي علیه اللبن وکان حمید مما یلي رأسه فنظر فلم یره في قبره فأومأ إلینا ۔ أومأ إلیه لا تفتن الناس وسوینا علیه التراب و رجعنا فأتی حمید سلیمان بن علي فأخبره الخبر فلما کان في اللیل جا في الخیل فنبش عنه فلم یجده في قبره فسوی علیه ثم انصرف فلما أصبح أتینا ابنته فسألناها عن صنیعه فقالت ما أراکم إلا وقد نفرتموه من قبره قلنا أجل وکیف ذلك قالت أحدثکم إنه مکث خمسین سنة یدعو الله في صلاته إذا کان السحر قال یا رب ان کنت اعطیت احدا الصلوة في قبره فاعطینیها فلم یکن الله ان شاء الله لیرد ذلك الدعاء قال الربیع قال جسر أنا والله الذي لا اله الا هو رأیته اللیلة في منامي وعلیه ثیاب خضر فإنما یصلي في قبره.

حدیث ده چې کله ثابت بناني مړ شو نو مونږ برابرولو ښخنتي او حمید یې سر خوا ته نیږدي وه چې ګوري څنګه چې قبر کې کیخودې شو نو قبر کې نه وه یعنې په نظر نه راتلو مونږ ته یې اشاره وکړه او وي ویل چې په خوله لاس کیدي چا ته څه مه وایې خاوري مو پرې برابرې کړي کله چې شپه شوه څه آسونه پرې راغلل قبر دده یې را لوځ کړ دې په کې نه وه بیا

يې قبر پرې برابر کړ خلک ترې لاړل سحر چې شو مونږ يې لور ته راغلو پو ښتنه مو ترې وکړه چې ده څه کار کولو هغې راته وويل ده به پنځوس کالو راهيسې دا دعا کوله :

قال يا رب ان كنت اعطيت احدا الصلوة في قبره فاعطينيها فلم يكن الله ان شاء الله ليرد ذلك الدعاء قال الربيع قال جسر أنا والله الذي لا اله هو رأيته الليلة في منامي وعليه ثياب خضر فإنما يصلي في قبره .

شني جامې يې په تن وي قبر کې يې مونځ کولو .

او روايت د حلية الاولياء جلد ۲ صفحه ۳۱۹ دادی چې :

فلما سوينا عليه اللبن سقطت لبنة فإذا أنا به يصلي في قبره .

چې کله مو پرې دا خښتې برابرې کړي نو يوه خښته ماته شوه چې کتل مو په قبر کې په لمونځ ولاړ وو .

دريم روايت د حياة الانبياء للبيهقي جلد ۱ صفحه ۷۰ انس بن مالک يې راوي دي:

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : الأنبياء أحياء في قبورهم يصلون .

انبياء ژوندي دي په خپلو قبرونو کې مونځونه کوي .

اوس که في قبورهم د احياء لپاره ظرف گرځوي نو هم د پنچپيري خوله پرې ماتيږي او که د يصلون لپاره يې ظرف گرځوي نو هم يې پرې خوله ماتيږي او که د دواړو لپاره يې گرځوي نو خبره واضحه ده الانبياء احياء في قبورهم په دوي رد ده دوي وايي په عليين کې حيات دي په قبر کې حيات نه دي.

څلورم دليل : حيات الانبياء للبيهقي جلد ۱ صفحه ۷۴ هغه مخکې او دا يو روايت ده خو هغه مرفوع ده او دا موقوف د انس صاحب ده :

الانبياء في قبورهم احياء يصلون .

انبياء په قبرونو کې ژوندي دي مونځونه کوي .

روايت چې کله د حديث مرفوع صحابي نه وشي مخالفت ثابت نه شي دا يې رايه وي چې راى نه وي کله هم حديث نه بيانوي .

پنځم دلیل : سنن ابي داؤد جلد ۲ صفحه ۱۶۹ :

حدثنا محمد بن عوف حدثنا المقري حدثنا حيوة عن ابي صخر حميد بن زياد عن يزيد بن عبدالله بن قسيط عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : ما من أحد يسلم عليّ الا رد الله عليّ روحي حتى ارد عليه السلام .

نشته یو کس چې سلام واچوي په ما الا قد رد الله علي روحي مگر واپس کړي په ما خدای تعالی روح زما زه واپس کوم په ده باندې سلام .

دا حدیث حیات الانبیاء د بیهقي جلد ۱ صفحه ۹۷، ۴۵۸، هغه معنی کوي :

وقال وانما أراد والله أعلم ، معنی یې داده **إلا وقد رد الله الی روحي حتى ارد عليه السلام ،**

دا قد ځکه راوباسو چې في الجملة استدلال دوي ترې کوي دوي وايي چې گورئ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره همیشه روح نه وي کله چې ته سلام واچوي نو روح دغه وخت کې ورته راشي الا رد الله خدای تعالی دا روح په ما واپس کړي نو دا دلیل دد ې ده چې مخکې روح نه وه چې سلام د ې واچوه روح واپس راغې نو دا خو وايي د موت دلیل دي د حیات نه دي نو ځکه امام بیهقي رَحِمَهُ اللهُ ترې جواب کوي .

وروسته به عبارت د امام سیوطي رَحِمَهُ اللهُ راشي هغه تفصیلي جواب کړي هغه دا چې : **الا رد الله عليّ روحي ،** دا **رد الله عليّ روحي** جمله حالیه ده او جمله حالیه چې کله مثبت وي او مصدره بالماضي وي **لا بد من قد ظاهرتاً او مقدرتاً ،** حصرت صدورهم په معنی د **قد حصرت صدورهم** دا جمله حالیه ده مثبته ده بیا مصدره په ماضي ده نو **لا بد ده من قد** نو **ما من احد يسلم الا قد رد الله عليّ روحي ،** ځوک چې په ما سلام نه اچوي مگر خدای تعالی ما باندې زما روح واپس کړې وي زه ورته رد کومه نو داسې نه ده چې ستا د سلام نه بعد روح ورته واپس شي نو د امام بیهقي رَحِمَهُ اللهُ دغه ځای ته اشاره ده .

دا حدیث سنن صغری جلد ۲ صفحه ۲۱۰ ، شعب الإیمان د بیهقي جلد ۳ صفحه ۱۳۹، المعجم الکبیر د طبراني جلد ۱۹ صفحه ۲۴۶، المعجم الاوسط جلد ۳ صفحه ۲۶۲، معجم الشیوخ ابن عساکر جلد ۲ صفحه ۴۰ ، الدرة الثمينة في أخبار المدينة جلد ۱ صفحه ۱۵۷،

دي ټولو دا حديث په مذكورو حوالو كې ذكر كړې .
په دې كې بيا دا روايت ورسره ذكر كوي :

وروي ان عمر بن عبدالعزيز كان يبرد البريد من الشام يقول سلم لي على رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا الفاظ يې زيات كړي چې : عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ به قاصد ليږولو مديني منورې ته ورته به يې وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته زما سلام وايه .

ګوره دا اهل حديث بدعت ګڼي او عدالت د عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ مسلم ده عند الامة ټولو كتابونو د علم فقه ټولو كتابونو دا ليكلي چې ته به خپل سلام پيش كړي بيا چې نيابتاً چا سلام دركړې وي هغه به پيش كړي .
دا بحر الرائق ليكلي ، شرح مراقي الفلاح ليكلي ټول كتب د علم فقه په كتاب الحج كې طريقه د زيارت مصطفى كې ليكلي .
فتح الباري د ابن حجر جلد ٦ صفحه ۴۸۸ :

عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رفعه ما من احد يسلم عليَّ الا رد الله عليّ روحي حتى ارد عليه السلام ورواته ثقات . راويان يې ثقه دي دې وايي :

وجه الاشكال فيه ان ظاهره چې ظاهر نه فهميږي **ان عود الروح إلى الجسد يقتضي انفصالها عنه وهو الموت .**
دا خو د موت اطلاق پرې وشو او دا خو د اسلافو عقيده نه ده .

وقد اجاب العلماء عن ذلك بأجوبة احدها ان المراد بقوله رد الله عليّ روحي ان رد روحه كانت سابقة عقب دفنه .

رد د روح مخكې شوې ده دفن پسې هغه ته روح واپس شوې ده حيات ورته ثابت ده نو معنى يې دا شوه چې دا كلام ما ته را رسي ځكه ما ته خداى پاک روح واپس كړې دي .
لا أنها تعاد ثم تنزع ثم تعاد .
دغه معنى نه ده چې روح ځي بيا معاد كيږي دا خو ټوله دنيا كې هر وخت خلک سلامونه

وايي دا خو عقل هم نه مني چې روح دې ترې ځي بيا دې راځي او دا سلسله هم دا سې جاري وي نو دا تاويل عقلا ممنوع دي .

يا دويم جواب دا كوي چې مراد د روح نه هغه ملک مؤكل بذلك دي لكه وايي :

وان المراد بالروح الملك المؤكل بذلك .

يعنې خداى پاک هغه فرشته ما ته راوليږي چې كوم د سلام په راوړلو مقرره ده .

او يا دا چې نبي اكرم ﷺ ته حيات شته خو دې مستغرق دي په امورو د الملأ الاعلى كې په تفكراتو او امورو د آخرت كې ذهن دې خوا متوجه نه وي چې ته كله كلام د سلام شروع كې نو هغه خپل التفات تا ته راواړوي لكه وايي :

فأذا سلم عليه رجع إليه فهمه ليجيب من سلم عليه وقد استشكل ذلك من جهة أخرى.

د يو بل اړخ نه اشكال شته :

وهو انه يستلزم استغراق الزمان كله في ذلك الاتصال الصلوة والسلام عليه في أقطار الارض ممن لا يحصى كثرة .

وايي كه دا معنى ته كوي چې دده ذهن مستغرق وي بل خوا ديخوا را تاو شي نو دا خو وايي هر وخت سلامونه شروع وي نو څومره به خپل ذهن ديخوا را اړوي نو دې جواب وركوي او وايي :

و اجيب بأن امور الاخرة لا تدرك بالعقل واحوال البرزخ اشبه باحوال الآخرة .

هغلته عقل كار نه كوي د قيامت په ورځ عقل كله كار كوي او كارونه د قبر مشابهت ري د قيامت سره .

عون المعبود شرح سنن ابي داؤد جلد ٦ صفحه ٢٧:

اى ما من احد يسلم علي الا ارد عليه السلام لأني حي اقدر على رد السلام .

زه ژوندې يم د جواب په وركولو د سلام قدرت لرم .

وقوله حتى ارد عليه اى فسبب ذلك حتى ارد عليه .

دا حتى يې سببي كړه .

فحتی هنا حرف ابتداء تفید السببیة مثل مرض فلان حتی لا یرجونه .
په سبب د هغې به امید ساتي .
لا بمعني کي و بهذا اتضح معنی الحدیث ولا یخالف ما ثبت حیاة الانبیاء عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ .

وقال السیوطي وقع السوال عن الجمع بین هذا الحدیث وبین حدیث الانبیاء احیاء وفي قبورهم یصلون و سائر الاحادیث الدالة في حیاة الانبیاء فان ظاهر الاول مفارقه الروح في بعض الاوقات و اَلَّفتُ في الجواب عن ذلک تألیفا سمیته انتباه الاذکیاء بحیات الانبیاء .

و ایي کتاب مې پرې لیکلي .

و حاصل ما ذکرته فیه خمسة عشر وجهاً اقواها ان قوله رد الله روحي جملة حالیة و قاعدة العربیة .جمله حالیه ده او قاعده عربیه داده :

ان جملة الحال اذا صدرت بفعل ماضٍ قدرت فیه کقوله تعالی او جاء وکم حصرت صدورهم ای قد حصرت وکذا ههنا یقدر قد والجملة ماضیة سابقة علی السلام الواقع من کل احد وحتی لیست للتعلیل بل لمجرد العطف بمعنی الواو فصار تقدیر الحدیث ما من احد.

څوک به په ما سلام نه اچوي :
الا قدر رد الله عليَّ روحي قبل ذلک وارد علیه .
مګر ما باندې خدای تعالی روح مخکې واپس کړې وي زه ورته رد کومه .
تیسر شرح جامع صغیر دمناوي جلد ۲ صفحه ۴۹۰ کې بل جواب کوي هغه وایي :

و ما من احد یسلم عليَّ الا رد الله عليَّ روحي ای رد عليَّ نطقي و هو حي دائما وروحه لا تفارقه لان الانبیاء احیاء في قبورهم .

روحونه ترې نه ځي ځکه د هغوي روحونه هغوي نه ، نه جدا کیږي .
الدرة الثمینة في اخبار المدینة جلد ۱ صفحه ۱۵۷ :ابي هریرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُ یې راوي دي:

ان رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قال ان عیسی بن مریم مار بالمدینة حاجا او معتمرا ولئن سلم عليَّ لاردن علیه .

عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به د مدینې په لار تیریږي یا به حج کوي یا به عمره کوي که په ما یې سلام واچوه نو وعلیکم السلام به ورته وایم.

حیات الانبیاء د امام بیقهي جلد ۱ صفحه ۴۵۸، صفحه ۱۰۶:

حدثنا ابوبکر بن ابي الدنیا حدثني سوید ابن سعید حدثني ابن ابي الرجال عن سلیمان بن سحیم قال رأیت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في النوم فقلت یا رسول الله هؤلاء الذین یأتونك فیسلمون علیك. دا خلک راځي په تا سلام اچوي.

اتفقه سلامهم قال نعم وارد علیهم. پوهیږې پرې او جواب هم ورکوم.

دارنګې حیات الانبیاء جلد ۱ صفحه ۱۰۴:

عن ابي هریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلی علي عند قبري سمعته و من صلی علي نائیاً منه ابلغته.

څوک چې زما قبر سره نزدې په ما سلام وایي زه ې اورمه، او څوک چې د لرې نه په ما سلام وایي چې کومه فرشته مقرره ده په دې ماته رارسولې شي.

دا دلیل د حیات انبیاء او سماع الموتی ده.

دارنګې سنن نسائي جلد ۳ صفحه ۹۱:

عن اوس بن اوس عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ان من أفضل أیامکم یوم الجمعة فیه خلق آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ و فیه قبض و فیه النفخة و فیه الصعقة فاكثروا عليَّ من الصلاة فأن صلاتکم معروضة عليَّ قالوا یا رسول الله! و کیف تعرض صلاتنا علیك و قد ارمت ای یقولون قد بلیت قال ان الله عز و جل قد حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء.

الله حرام کړي چې وخوري ځمکه اجساد د انبیاو.

دا روایت په سنن ابن ماجه جلد ۲ صفحه ۵۵۶ دده الفاظ دادی:

قال قلت و بعد الموت قال نعم و بعد الموت ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء فنبيُ الله حي یرزق.

د خداي نبي به ژوندي وي روزي به ورکولې شي دې سند کې څه انقطاع شته باقي سند صحیح دي مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۸ دا حدیث ذکر کړی دی .

صحيح ابن خزيمة جلد ۳ صفحه ۱۱۸، مسند البزار جلد ۸ صفحه ۴۱۱، المستدرك على الصحيحين للحاكم مع تعليقات الذهبي جلد ۱ صفحه ۴۱۳، المعجم الاوسط جلد ۵ صفحه ۹۷ ، مسند الدارمي جلد ۲ صفحه ۹۸۱، مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۵۱۶، شرح سنن ابي داود جلد ٦ صفحه ۲۴۲.

فهذا الحديث دليل على ان الارض لا تاكل اجساد الانبياء وانهم احياء في قبورهم حيات برزخية تختلف عن حيات الدنيا و تختلف عن الحياة الاخرة بعد البعث والنشور فلا يقال ان حياتهم في قبورهم كحياتهم في الدنيا بل حياتهم في البرزخ تختلف عن حياتهم في الدنيا وتختلف عن حياتهم بعد البعث والنشور والمؤمن يصدق بكل ما جاء عن الله وعن رسول الله ويؤمن بكل ما اخبر به الله ورسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

موطأ د امام محمد جلد ۳ صفحه ۴۸۹، انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راوي ده :

قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كأني انظر إلى موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ يهبط من ثنية هرشیٔ ماشيا عليه ثوب اسود . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي ما كتل چې موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ را كوزيده ثنية هرشى د غونډې نوم ده را روان وه پيدل او تورې جامې يې وې .

ددې شرحه التعليق المجد على موطاء امام محمد د عبد الحي لكنوي ليكلي ددې په حاشيه کې ليکلي دي :

فيه اثبات حياة الانبياء وانهم يحجون ويصلون .

تفسير حقي جلد ۱۳ صفحه ۲۸۱:

أن حياة الانبياء والاولياء حياة دائمة في الحقيقة ولا يقطعها الموت الصوري .

د انبياء اولياء ژوند دائمي حقيقي ژوند ده نه قطع کيږي په مرګ صوري سره صوري مرګ پرې راشي خو حيات يې نه ختموي هغه حيات برزخي .

فانه انما يطرأ على الاجساد بمفارقة الارواح .

د روح جدائي ورنه راځي .

مع ان اجسادهم لا تاكلها الارض فهم بمنزلة الاحياء من حيث الاجساد ايضاً .

داسې ژوندي دي لکه جسد يې چې ژوندې وي .

دارنګې معاني الاخبار للكالاباذي جلد ۱ صفحه ۲۲۲ :

فاذا جاء حياة الشهداء بالكتاب والسنة جاز حياة الانبياء والرسل عَلَيْهِمُ السَّلَامُ والحي يذكر الله ويثنى عليه ويدعوه .

نو دا ثابته شوه چې دوي ثناء هم وايي دعا هم کوي مونځ هم کوي .

دارنګې عون المعبود شرح سنن ابي داود جلد ۳ صفحه ۳۷۱ :

حرم على الارض اجساد الانبياء ، دې ځای کې وايي :

اى من ان تاكلها فان الانبياء في قبورهم احياء قال ابن حجر مكي وما افاده من ثبوت حياة الانبياء حياتاً بها يتعبدون ويصلون في قبورهم مع استغنائهم عن الطعام والشراب كالملائكة امر لا مِرْية فيه ، دا داسې فيصله ده چې شک په کې نشته .

وقد صنف البيهقي جزا في ذلك .

دارنګې تفسير مظهري موافق للمطبوع جلد ۱ صفحه ۱۵۲:

فذهب جماعة من العلماء إلى ان هذه الحياة مختص بالشهداء والحق عندي عدم اختصاصها بهم بل حياة الانبياء اقوى منهم واشد ظهورا اثارها في الخارج حتى لا يجوز النكاح بأزواج النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد وفاته .

دا يې دليل دي :

بخلاف الشهيد والصديقون اولياء ايضا اعلى درجة من الشهداء والصالحون يعني الاولياء ملحقون بهم كما يدل عليه الترتيب في قوله تعالى : من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين .

مسئله : كرامات الاولياء :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ، لا نبي بعده ولا رسوله بعده وهو خاتم النبيين . أما بعد !

فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله تبارك وتعالى :

﴿وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا﴾ (سورة مريم آيت : ٢٥)

بله مسئله نزاعي بيننا و بين المنكرين مسئله د كرامات الاولياء ده قبل الوفات او بعد الوفات مشتمله يې كړځوو په څند مباحثو باندې :

مبحث اول : فهم د معنى د كرامت لغتاً واصطلاحاً .

مبحث ثاني : په دغه مسئله دلائل د كتاب الله نه .

مبحث ثالث : استدلالات د احاديث نبويو نه سره د ذكر د واقعاتو د صحابوو .

مبحث رابع : اقوال د فقهاء محدثينو مفسرينو په كرامت باندې .

مبحث خامس ذكر د كرامت بعد الوفات او مسئله دا چې كرامت ددوي په اختيار كې ده او كه نه ده په مينځ مينځ كې نصوص د فقهاء راشي چې بعضې اوقاتو كې دا اختياري وي.

كرامت لغتاً په معنى د عزت سره :

او كرامت معروفه مصطلحه هم مسمى شو په كرامت باندې ځكه سبب د عزت د ذلك الولي گرځي ورنه مؤثر حقيقي په كراماتو معجزاتو كې اله العالمين ده نسبت ددې دغه ولي لره مجازوي محضاً لاظهار كرامته في اعين الناس .

د الله تعالى دا مقصد وي چې د خلكو په ستر گو كې دغه ولي قدر من شي نو د هغه په لاس يو امر خارق العادة ښكاره شي .

تعريف اصطلاحي د كرامت :

اصطلاحاً كرامت :

امر خارق للعادة يظهر على يد رجل يدعي الولاية .

يو امر ده چې د عادت الله د معمول خلاف عقل يې درک نه شي کولې اسباب ظاهريه په کې نه وي او صادر شي په لاس د داسې يو شخص باندې چې هغه ولي وي موافق د شريعت وي په کراماتو کې تحدي شرط نه وي لکه په معجزه کې چې وي دا ضرور نه ده چې د بل جانب لخوا څه چيلنج ورکړل شوې وي او د منکر د اسکات مقصد به وي کله کله بدون دد غه مقصد نه کرامت ظاهريږي .

معجزات چې دي اکثر منکرين انکار کوي په لاس د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ښکاره شي په هغې کې مقصد اسکات د قوم وي سره د عزتمند ګرځيدلو دد غه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په سترګو د خلکو کې دا چې علماء متکلمين په تعريف د کرامت کې امر خارق للعادة ذکر کوي ددې معنى څه شي ده او معنى د عادت څه شي ده مراد د عادت نه عادت الله تعالى د الله تعالى د عادت خرق وشي او د هغې خلاف وشي امور صادره من الله تعالى څه موافقاً للعادة وي څه مخالفاً للعادة وي هغه امور چې موافق للعادة دى هغه کثير دي د هغې نه تعبير کيږي په خلق باندې اله العالمين د اولاد پيدا کولو والا ذات دى عادت يې داده چې د مور پلار مجامعت نه بعد اولاد ورکوي ولې قادر محض ده په دې باندې چې سړي ته بدون د ښځې نه بچي ورکړي يا ښځې ته بدون د مجامعت او زوج نه بچي ورکړي په دې قادر دي خو عادت يې نه دي کله خالق د خپلو عاداتو خلاف کوي ولې اظهاراً لقدرته تعالى الله تعالى د خپل قدرت مظاهره کوي او خلکو ته يې ښايي چې ټول عمر ما د عادت موافق دغه خلک پيدا کړل هسې نه چې د چا ذهن ته دا رشي چې دلته درميان کې مؤثر حقيقي ګڼې بل نشته په اسبابو اتکاء ونه کړي .

نو دې د عادت خلاف وکړي مثلاً عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ يې مريم بي بي ته بدون زوج ورکړ محضاً اظهاراً لقدرته تعالى حواء بي بي آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه بدون د امرء ورکړ اظهاراً لقدرته تعالى او ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ يې بدون د پلار مور نه پيدا کړ اظهاراً لقدرته تعالى نو عادت داده چې له مجامعت د سړي او ښځې نه بعد ولد ورکوي خو دا په کې اسباب شول او عام معمول په دې جاري شو هسې نه چې د خلکو په ذهن کې دا اسباب چې پلار او مور دي داسې رتبه ونيسي چې دا مؤثر حقيقي په ولد کې ونه ګرځوي نا ذهن به ځې دې ته چې مؤثر حقيقي الله ده هغه يې پيدا کوي دا ورته اسباب دي .

او کله ددې اسباب خلاف کوي لکه مخکې دري ځایه ذکر شول نو خپل قدرت یې خلکو ته وښود یا لکه الله پاک اور کې تاثیر د سوزولو پیدا کړې ده موافقاً لعادته تعالی دا یې عادت ده چې هر څوک لاس ورورې نو هغه به یې سوزوي نیک سړي وي که بد وي سوزیږي به کله نا کله ددې عادت خلاف کوي ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ اور ته وغورځول شو خو هغه یې ونه سوزولو نو دا یې د هغه عادت خلاف وکړ او رکې چا بچ کړ الله جَلَّ جَلَالُهُ مؤثر حقیقي په کې الله ده خو ښکاره شو دا امر خلاف د عادت په لاس د یو شخص چې یو نبي وو ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ نو دا معجزه دده شوه.

روایاتو کې به راشي عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تمیم داري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوي دواړو هم له تنور نه اور په لاسونو رابهر کړي دي او دوي یې سوزولې نه دي نو هغه کرامت د هغوي شو څومره امور چې په معجزه کې له انبیاءؤ نه صادر شوي وه هره نوعه چې ولري نو رایه د جمهورو داده چې همغه امور په لاس د ولي کرامتاً ظاهریدې شي ډیر لږ علماء دي ته ذهاب کړې دي چې نه ولي لره کرامت فقط په لفظ د استجابة الدعاء کې شته دا رایه د معتزلو ده او د ابن حزم ظاهري ده.

ددې زمانې اهلِ حدیثو معتزلو ابن حزم ظاهري پسې ذهاب کړې دي هغوي کرامت د اولیاء نه حیاتاً مني نه یې وفاتاً مني هغه حیاتاً یې هم چې مني هم دومره یې مني چې فقط استجابت د دعاء وشي یوه دعاء وکړي او قبوله شي او بس ددې نه بغیر نور کله احیاء اموات طیران په هوا کې تلل مشي على الماء زمانه بعیده په لږ وخت کې راغونډول طي مکان په لږ زمن کې ډیر امور کول طي زمان وغیره چې کوم د معجزاتو انواع ښکاره کړې شوې دي هغه دوي په کرامت د اولیاء کې نه مني نو کرامت امر خارق للعادة عادت نه مراد عادت الله تعالی عادت د باري تعالی جاري ده چې بوټي شین کوي پسرلې کې نو قادر ده په دې هم چې له پسرلي نه بغیر بل وخت کې یې هم شین کړي کله یې چې د بل چا په لاس شین که بدون د پسرلي نه نو دا کرمت وګرځیږي ځکه دې کې د خالق د عادت خلاف راغې.

کرامت ځکه ګرځي چې ده ته یې عزت ورکړ عام معمول یې ورته ختم کړ معمول قانون یې دا جوړ کړې وي چې زه به پسرلي کې بوټي شنه کومه ده ته یې په خزان کې شین دا خپل

عام معمول عادت يې ورته مات کړنو دا يې لوي کرامت او عزت يې دده وکړ چې هغه خپل قانون او طريقه يې ورته ختمه کړه ددې لپاره يې يو بل څيز شين کړ خو بيا هم مؤثرې حقيقي الله دي دا خزان کې هم الله شين کړې وي او پسرلي کې هم الله شين کړې، خو هاغه موافق د عادت اسباب شته دي او دا مخالف د عادت دي.

ددې وجې نه چې مؤثر حقيقي په معجزاتو کراماتو کې الله وي او اظهار د معجزاتو کراماتو په يد النبي يا ولي باندې کوي مقصد په کې اظهار قدرته تعالى وي نو نسبت د کذب معجزې او کرامت لره دا لوي تکذيب دي بآيات الله تعالى ځکه مراد د آيات الله نه د قرآن کريم نصوص هم دي او مراد د آيات الله نه په قران کريم کې دلائل قدرته تعالى هم دي او عظيم دلائل د قدرت د باري تعالى هغه خلقت او تاثيرات دي چې کوم بدون د سبب وشي او مخالف د عادت وشي هغه نه دي مګر معجزات او کرامات دي او هغه څيزونه چې موافق د عادت شوې هغه هم په قدرت د باري تعالى باندې دال دي او دلائل دي ليکن هغه بدون د سبب نه شوې هغه لوي دلائل دي په قدرت د باري تعالى باندې دي.

ددې وجې نه تفسير صاوي په دغه مواضعو کې چې والذين کذبوا بآياتنا داخل کړي دي منکرين په کراماتو معجزاتو هغه خلک چې زما د آياتو نو تکذيب کوي نو علامه صاوي ليکي چې مراد د آياتنا کې دلائل د قدرت خپل دي دا دې مراد شي او دلائل د قدرت کې لوي دلائل کرامت او معجزه ده په دې کې د خالق د قدرت مظاهره وي.

نو ټول معجزات انواع د هغې افراد د هغې چې معجزه کې ثابت وي کيدې شي چې شي دې کرامت د ولي که ودې ويل چې د يو ولي په لاس باندې قم باذن الله الفاظو سره چرګ ژوندي شو مړ ژوندي شو نو دوي وايي دا دې څه د شرکياتو عقيده وساتله بيا نه ګوري د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعوو لره چې وايي:

احي الموتى باذن الله نو هغلته احياء د موتى وو خالق کوله ده نه کوله دې په کې مؤثرې حقيقي نه دي مجازي دي خالق هغه احياء کړي ده خو په يد دده يې کړې ده معجزه ګڼلې شوې عام عادت يې دادې چې څوک مړ کړي بيا يې نه ژوندې کوي کله کله دا خپل عادت ختموي بيا يې ژوندې کوي ځکه:

اظهاراً لقدرته تعالى و كرامتاً لذلك الشخص.

که هغه نبي وي معجزه شوه که ولي وي كرامت شو نو دا ټول ددوي عقيدې كمزورې دي احياء د هيڅ شي نه چې معدوم وي د مور او پلار د اسبابو په ذريعه بنه ورته قانع دي ليكن احياء محض چې بدون د سبب نه وي مور پلار نه وي سړي مړوي بيا يې ژوندي كړي بيا دلته يې عقيده كار نه كوي په خپل خالق يې بيا عقيده كمزوري وي چې دا به چيرته كيدې شي نو دا صرف د كرامت په تعريف كې د امر خارق العادة چې د عادت نه څه مراد ده نو مراد د عادت نه عادت الله تعالى هغه امر چې د اله د عادت خرق يې كړې وي د خداى د عادت خلاف راغلې وي نو عادت عام معمولات د هغه شول.

المبحث الأول : استدلالات من القرآن العظيم :

سورة مريم آيت : ٢٥. د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د پيدائش موقع وه راوسته بي بي مريم عَلَيْهَا السَّلَامُ درد د لنكتون إلى جزع النخلة ډډ د كهجورې ته .ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ترجمه كوي: نخلة يابسة.

وچه كهجوره وه پاڼه يې هم نه لرله معمول دا وي چې د ماشوم د پيدا كيدو په وخت ښځې باندې درد راځي يو څيز ته لاس اچوي نو دې درد د دغه ماشوم د پيدائش راوسته بي بي ډډ د دغه كهجورې ته چې دا ونيسي.

دلته ډير افسوس ورځي :

﴿قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا﴾.

چې مخكې نه مړه واي، جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ آواز كوي ورته :

﴿وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا﴾.

لقاء د فرشتو مع الاولياء څه بعيده نه ده خو ددې نه تعبير په وحي نه كيږي په الهماتو كيږي او چا چې قول كړي چې مريمه بي بي پيغمبره وه قول ضعيف دي د جمهورو خلاف ده.

وهزي اليك وخوزوه بجزع النخلة دغه ډډ د كهجورې چې ابن عباس صاحب فرمايي وچه كلكه وه دې ته لاس وروړه ځان خو اته لږ زور وركړه ستا د لاس وروړلو سره به دغه ډډ

تک شین شي بیا به د میوو نه ډک شي دا میوي به بیا پخي وي متصل تساقط راتوې به کړي
علیك رطبا جنیا په تاباندې کهجوري تازه بي بي چې څنګه لاس ور وړو د سترګو رپ سره بیا
تک شین شو او د شین کیدو سره متصل بیا د کهجورو نه ډک کهجورې بیا پخي وي د بره نه
پرې راتلې شوي نو اوس د چا عقیده چې کمزورې وي چې ددې آیت پته ورته نه وي چې دا
واقعه په آیات کې راغلې ده او دا قصه دې ورته بیان کړه چې مریم بي بي وچ ډډ ته لاس
وروړو بیا شین شو بیا یې کهجورو نه ډک شو بیا پخي شوي بیا پرې راتلې شوي نو همدغه
عمل خالق په پسرلي کې کوي شنه کوي چې په مرور د وخت یې غټوي بیا یې په اوړي کې د
میوو نه ډکوي میوې بیا پخیږي دا عمل ثابت دي خو هلته تاثیر پکې د زمانې شته دي
اسباب شته دي انکار څوک هم نه کوي.

او که دې وویلي چې نه د سترګو رپ کې دا کار شوې دي نو وایي چې یاره دا به چیرته
شوې وي دا وجه داده چې دده عقیده کمزورې ده په خپل خالق دده په خپل خالق دا عقیده ده
چې هغه دا بوټي په څو کالو کې غټولې شي د میوو نه یې ډکولې شي په مرور د وخت یې
پخولې شي خو د سترګو رپ کې دا کار نه شي کولې که دده په خالق عقیده مضبوطه وي چې
په کن فیکن هغه هر څه کولې شي معنی اظهار د قدرت یې ښکاره کیږي نو بیا به ده کله هم دا
شکوک نه وه کړي اوس دلته مؤثرې حقیقي الله دي خو دا کار ظاهر شو په لاس د مریم بي بي
زنانو کې پیغمبر نه راځي نو دا کرمت د هغې شو.

تفسیر الطبري ج ۱۸ صفحه ۱۷۸ او بعضې چاپونو کې جلد ۹ صفحه ۷۱ ده نو په هغې
کې د ابن عباس صاحب ترجمه داده چې کان جذعا یابساً، دا وچ کلک ډډ وه دا ددې لپاره ما
ذکر کړل چې څوک دا تاویل ونه کړي او چې څوک ونه وایي چې دا خو د کهجورو نه ډک
بوټي وه هسې دې لاس وروړ او راوغورزیدې نه دا وچ کلک بوټي وه پانه یې هم نه لرله نو دا
شین هم شو میوو نه ډک هم شو میوې پخې هم شوي او تساقط هم راغې دا محضاً اظهاراً
لقدرته تعالی د دهریانو خوله یې بنده کړه چې بیا ونه وایي چې دا ګردش د زمانې نه دا
څیزونه غټیږي شنه کیږي او پخیږي نا دلته مؤثر حقیقي الله دي.

دویم نمبر آیت :

د خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ دا دري واړه حالات او واقعات کرامات دده جوړېږي په قول د هغه چا چې وايي هو ولي ، دې ولي دي سورة کهف : فانطلقا ، موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ دواړه روان شول تر دې چې راغله ، اهل قرية استطعما اهلها چې انطاکيه قريه وه طلب د طعام يې وکړ هغوي نه : فابوا ان يضيفوهما هغوي انکار وکړو د ميلمستا ددواړو نه فوجد فيها جدار دوي پيدا کړ دغه قريه کې يو ديوال يريد ان ينقض اراده يې وه چې پريوځي يعنې قريب وو غورځيدو ته فاقامه پس نيغ کړ خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ دې ديوال لره دلته فاقامه کې د جمهورو مفسرينو رايه داده چې دا اقامة الجدار په خپو کولو نه وه شوې چې ګنې دې ورته ختې وکړي ديوال يې نيغ کړ نه بلکې اشارة إلى الجدار باليد بان يستقم فاقامها ، خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته ګوته ونيوله وايي نيغ شه بس ديوال نيغ ودريده نو دا کرامت دده دلته ښکاره شو .

﴿ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾ .

موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايي چې تنخواه به دې پرې اخستې وه .

تفسير القرطبي جلد ۱۱ صفحه ۲۸ :

ففي هذا دليل على كرامات الاولياء . دې کې د اولياء د کراماتو اثبات دي .

وكذلك ما وصف من احوال الخضر عَلَيْهِ السَّلَامُ في هذا الباب كلها امور خارقة للعادة .

خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه څو مره امور چې دلته ظاهر دي خارق العادة دي په هغه صورت کې کرامت جوړېږي چې :

اذا تنزلنا على انه ولي لا نبي . چې مونږ را کوز شو دې بحث ته چې ګوري دا ولي دي نبي نه دي . چې دا قول د بعض المفسرين دي .

همدغه مضمون مذکور دي په روح المعاني جلد ۸ صفحه ۳۴۴.

دارنګې فتاوی الحديثية لابن حجر الهيتمي جلد ۱ صفحه ۷۲۶ فرمايي :

لا يرد على ذلك ما وقع لموسى عَلَيْهِ السَّلَامُ مع الخضر عَلَيْهِ السَّلَامُ بناءً على ما عليه الجمهور من

الصوفية من ان الخضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ولي .

جمهور د صوفيوو په دې دي چې خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ولي وه مسئله اختلافي ده څوک چې ولي گڼي څوک يې نبي گڼي که نبي شي معجزات دې که ولي شي كرامات دي .

منهاج د امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ جلد ۱۵ صفحه ۱۳۷ کې هم دغه الفاظ ذکر دي :

فيه اثبات كرامات الاولياء على قول من يقول الخضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ولي .

دريم نمبر آيت :

د سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ د بلقيس تخت راوړو ته ضرورت وه عفريت من الجن ويلي وه :

﴿أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ﴾ .

ده وويل زما جلت په کار دي :

﴿قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ﴾ .

قول د جمهور داده چې :

الذي عنده علم من الكتاب هو اصف بن برخياء عَلَيْهِ السَّلَامُ كان صديقاً .

داد صديقينو اوليا و نه وه .

انا آتيك زه يې راوړم تاته :

﴿قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ﴾ . مخکې د واپسي د نظر ستا نه .

فلما رآه ، هر کله چې وليده سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه تخت مستقراً عنده چې پروت وه ثابت مخکې دده :

﴿قَالَ هَذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ﴾ .سورة نمل آيت : ۴۰.

اوس دا يوه شبهه چې هغه پيغمبر وه دې ولي خپله يې ولې نه راوړو ددې خو ډيرې وجهې کيدې شي ظاهري وجه د اهل العلم يې دا کيدې شي د سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ نبوت شان او معجزه مسلمه وه بادشاه وه کنه عظمت جلال يې هر څه خلکو منل سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دې مقام

کې خلکو ته د امت د اولیاء حال هم ښایي چې زه په امت کې زما په رعیت کې هم داسې ځوانان شته چې دد وي په لاس داسې کارونه ښکاره کیږي .

صوفیه کرام تاویل دا کوي چې یو نزول دي بل عروج دي په حالت د نزول کې استجابات قلیل وي او د عروج کې کثیر وي هلته مستي وي .

د سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ عروج تام شوې وه دې نه بعد یې نزول هم تام شوې وه خدمت د خلکو کې لګیا وه او اصف بن برخیا په حالت د عروج کې وه په حالت د مستي او وجد کې وه دا حالات د استجاباتو وي نو ځکه دده استجابات زیات وشو .

صوفیه په دې قائل دي چې په حالت د عروجاتو کې خوارق زیات وي ، په حالت د نزول کې ارشادات او خدمت د خلکو وي خوارق بیا قلیل وي .

تفسیر قرطبي جلد ۱۳ صفحه ۲۰۶ صفحه ۱۳۷ کې ذکر کوي چې :

اكثر المفسرين على ان الذي عنده علم من الكتاب اصف بن برخياء وهو من بني اسرائيل وكان صديقاً .

د صدیقینو اولیاء نه وه بیا په همدغه صفحه کې ذکر کوي :

روي انه صلى ركعتين . ده دوه رکعته مونځ وکړو .

والذي عليه الجمهور من الناس انه رجل صالح من بني اسرائيل اسمه اصف بن برخيا روي انه صلى ركعتين ثم قال لسليمان : يا نبي الله امدد بصرك فمد بصره نحو اليمن فاذا بالعرش فمارد سليمان بصره الا وهو عنده .

بیا لږ لاندې لیکي :

لانه ان كان الفعل من سليمان فهو معجزة وان كان من آصف او من غيره من اولياء الله فهي كرامة وكرامة الولي معجزة النبي .

دا ددغه پیغمبر معجزه جوړیږي د هر ولي نه چې کرامت ظاهر شي نو دا ددغه پیغمبر معجزه ګڼلې کیږي ځکه ده اتباع د شریعت ددغه پیغمبر کړې ده نو کمال د هغې شو ځکه دې پرې ذي کرامت ګرځیدلي زمونږ دې امت کې چې څومره کرامات ظاهر دي دا بعد الوفات

معجزې د حضرت محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي داد هغه په لاس برکت ښکاره کیږي.

قال القشيري: وقد أنكر كرامات الاولياء من قال ان الذي عنده علم من الكتاب هو سليمان.

څوک چې وايي دا سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ خپله راوړي وه يو ضعيف قول دا سې شته وايي ددې خبرې قائل په حقيقت کې د اولياو د کرامت منکر وي.

څلورم نمبر آيت:

د مريم بي بي کفالت په وړوکوالي کې زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ کوي يوه کوټه ده په هغې کې يې دا اچولې ده.

﴿فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ﴾ په ځای د ولد يې قبوله کړه.

﴿وَأَنبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا﴾ ډير زر زر به غټيدله.

﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا﴾ او کفالت به يې کولو ددې زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ.

﴿كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ﴾

کله به چې داخل شو زکريا عبادتګاه ددې ته کلما تعميم د وقت دي دا کرامت يوه ورځ نه ده ښکاره شوې بلکې دائمي کله به چې دننه کيده:

﴿وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا﴾ مونده به کړو زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ.

دلته د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترجمه داده چې:

كان عنبا في مكتل في غير حينه. انګور به وه بغير د وخت نه يعنې د انګورو وخت به نه وه او زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ به دې سره انګور پيدا کول.

﴿قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا﴾ کوم ځای نه دا تاته راغلل.

﴿قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ سورة آل عمران آيت:۳۷.

اوس دا يقيني خبره ده چې الله پاک مونږ ټولو ته روزي راکوي رازق ده خو مع السبب دلته اوس ددې خلکو عقيده جوړه ده او که په کوټه کې دننه چا ته چې دروازه پسې بنده وي

روزي ورکوي بيا په کې شک کوي ځکه عقيده کمزوري ده د خالق په قدرت باندې په اسباب يې اتکاء شته خو د خالق په قدرت يې عقيده نه ورځي نو په کراماتو او معجزاتو کې چې هر څومره ضعيف قول چا پيش کړ نو چون چرا په کې کول نه دي په کار ځکه د خالق په قدرت کې خبرې راځي .

ددې وجې نه امام سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ په خصائص الکبرى کې ليکي چې روايات په باب د معجزاتو کې که ضعيفه هم راشي درجه د حسن لري ځکه وايي معجزات او کرامات له قبيلې د ترغيباتو نه دي او په ترغيباتو کې ضعيفه مقبول دي دا فضائل دي د يو شخص صفتونه ته بيانوي نو په دې باب کې خو ضعيف په اتفاق د محدثينو مقبول وي .

تفسير ابن کثير جلد ۲ صفحه ۳٦ کې ليکلي دي او بعضې چاپونو کې جلد ۱ صفحه ۳۲۱ جوړيږي دا آيت کريمه ذکر کوي بيا وايي :

و فيه دلالة على كرامات الأولياء . دا آيت دليل دي په کراماتو د اولياء .

و في السنة لهذا نظائر كثيرة . په آحاديثو کې ددې لپاره څه ډير مثالونه شته دي .

همدا مضمون تفسير مظهري هم ذکر کړي دي جلد ۲ صفحه ۴۳، روح البيان هم ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۲۹ ، روح المعاني ج ۳ صفحه ۲۲۵ ، او الفاظ د روح المعاني دلته دادي چې منکرين د کراماتو د اولياء معتزله دي ځکه څوک چې معتزلي شي هغه خپل اصول لري د خپلو اصولو مخالف که هغوي ته څومره نصوص په کراماتو ملاو شي هغوي يې بيا نه مني ځکه د هغوي دا اصل دي چې شريعت مطهره مونږ ته راشي موافق د عقل دي که مخالف د عقل دي روايات چې په احاديثو کې راشي موافق د عقل دوي يې هم قبلوي مونږ يې هم قبلوو او کوم روايات چې مخالف د عقل راشي ،

بنيادي فرق د اهلسنت دادی له معتزلو سره چې روايات مخالفة مع العقل کې هغوي ترجيح عقل ته ورکوي نقل متروک ګرځوي او اهلسنت والجماعة ترجيح نقل ته ورکوي عقل متروک ګرځوي دا بنيادي اختلاف دي په دې اختلاف باندې مونږ او دوي په خپل مينځ کې بيا ډير تفريعات جزي اختلافي لرو يو د هغې نه رؤيته تعالى يوم القيامة ده دوي وايي دا عقل نه مني عقل ددې درک نه شي کولې .

من جمله د هغې نه تلل د اعمالو دي دا وايي عقل نه مني اعمال وايي څنګه تلل کيږي هغه خو ښکاري نه ذي جسم نه دي .

من جمله د هغې نه پل صراط دي وايي دا عقل نه مني چې څو مره نري ده دومره تيره ده نو مزل پرې څنګه کيږي .

من جمله د هغې نه عذاب قبر دي وايي دلته فرشتې له کوم ځايه راځي دا عقل نه مني .

من جمله د هغې نه کرامت دي کرامت ځکه نه مني چې دا خلاف د عقل دي که ته وايي احاديث پرې راغلي ايتونه پرې راغلې واي زمونږ شريعت چې زمونږ د عقل خلاف راشي نه يې شو منلې دا رنګې اشاعتيان ډيرو مسائلو کې معتزلوو پسې تللې دي .

کرامات الاولياء د لاليکائي جلد ١ صفحه ٧٥ :

ذكر عبدالرحمن ابن ابي حاتم حدثنا ابي حدثنا مالك بن اسماعيل حدثنا شريك عن عطاء بن السائب عن سعيد بن جبير عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وجد عندها رزقا قال عنبا في مكتل في غير حينه .

مكتل زنبيل ته وايي .

بنځم آيت : څه خلک وايي چې ژوند کې کرامت منم خو بعد الوفات يې نه منم ځو ک چې دا خبره کوي د الله په قدرت کې لوي شک لري ځوک چې دا خبره کوي .

عبد الغني نابلسي رَحِمَهُ اللَّهُ د شامي د مصنف استاذ دي دده يو کتاب دي **الحديقة الندية شرح طريقة المحمدية** د هغې په اخري ضميمه کې يوه رساله ليکلي کشف النور عن اصحاب القبور په ۴۰ صفحاتو مشتمله رساله ده د دغې رسالې په ۲۳ صفحه باندې ليکي چې کوم خلک دا وايي چې زه په حيات کې کرامت منم او بعد الوفات کرامت نه منم دوي نه تپوس وکړي چې په دې حيات کې اظهار د کرامت په لاس د يو ولي وشو مؤثرِ حقيقي خالق ګڼي که دا ولې ګڼي که مؤثرِ حقيقي حيات کې دا ولي وګڼه وايي دا سړي مشرک دي ځکه مؤثرِ حقيقي په کرامت د ولي کې چې حيات وي خالق ده او که وايي چې مؤثرې حقيقي پ کرامت کې خالق ګڼم نو ولي خو وفات شو دنيا نه لاړ نو خالق خو يې دنيا نه ، نه دي تللې نو وروسته د وفات دده نه لکه دنيا کې چې دې په حيات کې خالق دده قدر او عزت د خلکو په

ستر کو کې اچوه يو څه يې ښکاره کړل نو بعد الوفات يې هم هغه خالق قادر دي چې يو څه ښکاره کړي .

له دغه مزار نه د خلکو په سترګو کې دې قدرمند شي او که څوک وايي چې معمول د باري تعالى په دې نه ده جاري چې هغه دې بعد الوفات څوک د چا په سترګو کې قدرمن کړي ولي نه ده الله پاک د اعمال حسنوو د محسنينو عظيمه بدله دا ښايي چې د خلکو سترګو کې يې قدرمن کړي دليل وربانديې داده د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت الياس عَلَيْهِ السَّلَامُ حالات ۲۳ سپاره کې مذکور دي هغه هر يو سره خالق څه فرمايي :

﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴾ .

دا الفاظ د دې معنى څه ده :

اى تركنا ثناءً حسناً في الباقين .

وروسته چې کوم خلک وه د هغوي په خولو ژبو کې مونږ د دوي صفتونه واچول نو دا دومره صفتونه چې دا خلک د اولياء کوي دا چا اچولي دي ګنې د بل چا صفت ولې نه کيږي.

بيا څه فرمايي :

﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴾ .

دغه نيکه بدله چې انبياو ته مونږ ورکړي وه همدغه بدله مونږ صوفيوو ته ورکوو، محسنين صوفيه دي صوفيه چې هم دنيا نه لاړ شي نو مونږ د خلکو په ژبو د دوي ثنا واچوو چې صفت يې کوي .

نو اشتهار تعريفات تکريمات خالق د خلقو په ژبو اچوي دغه آيت ورباندې دال دي بيا هم که يو ضد ي وايي چې کرامت بعد الوفات نه منم د قرآن کريم د نص نه بعد الوفات کرامت چې ثابتوي .

سورة کهف آيت نمبر ۱۷ : ﴿ وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ ﴾ .

د اصحاب کهفو نه دا لمر ذات اليمين او ذات الشمال تاويدل راتاويدل دلته علماء اهل

ظاهر په تاويلاتو ډير سترې شوې دي کله دغار خوله يو خوا کړي کله بل خوا چې يو خوا يې کړي نو دا يو جانب يې نه صحيح کيږي که دا بل خوا يې کړي نو دا بل جانب يې نه صحيح کيږي دا به څنګه صورت وي چې دوي په څنګه حال کې پراته وو چې دا لمر په هر اړخ کې پسې تاويده راتاويده لږ څرک به يې ورکړ خو ددوي وجود به يې نه خرابوه نو دا څنګه حال وه نو دې ځاى باندې تفسير روح المعاني جلد ۹ صفحه ۳۲۲ دا تاويلات کثيره يې ذکر کړي دي وايي :

وقال الزجاج ليس ذلك لما ذكر . نه ده داسې چې دا څه اقوال ذکر شول .

بل لمحض صرف الله تعالى الشمس بيد قدرته .

بلکې محض خداى تعالى به دا لمر اړوه را اړوه په قدرت خپل سره .

عن ان تصيبهم . له دې نه چې دوي ته اصابت وکړي .

على منهاج خرق العادة كرامتاً لهم .

په طريقه د خرق العادة باندې معمول خداوندي دا وه چې نيغ دا لمر ځي دغه وخت کې چې دوي ته به راغې دا لمر به يې ترې تاو کړ دا محض کرامت ددوي وه نو دا کرامت بعد الوفات ده چې لمر ترې اخوا بل خوا تاويږي .

دا استدلالات د نصوصو وه د قرآن عظيم الشان نه .

المبحث الثاني : استدلالات من الاحاديث النبوية :

البداية والنهاية نقل د بخاري نه کوي :

قال البخاري حدثنا محمد بن المثنى حدثنا معاذ حدثني أبي عن قتادة قال حدثنا أنس بن مالك ان رجلين من أصحاب النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خرجا من عند النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في ليلة مظلمة و معهما مثل المصباحين يضيئان بين أيديهما .

نيمه شپه ده د محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه اصحابان کورونو ته روان شول تياره ده مخې ته ورته دوه ډيوې ولږيدې رڼا شوه يوه ډيوه يوه ته رڼا کوي بله ډيوه بل ته رڼا کوي .

فلما افترقا صار مع كل واحد منهما واحد حتى اتى اهله .

كله چې سره جدا شول نيا هريو ددوي سره دغه مصباح رڼا شوه تر دې چې كور ته ورسيدل .

دا امر خارق العادة عقل كار نه كوي چې دا رڼا كوم ځاى نه راغله دا رنګې د مصنف عبدالرزاق روايت پيش كوي :

قال عبدالرزاق اخبرنا معمر عن ثابت عن انس ان اسيد بن حضير الانصاري و رجلاً اخر من الانصار تحدثا عند رسول الله ﷺ في حاجة لهما حتى ذهب من الليل ساعة .

څه شپه تيره شوه .

في ليلة شديدة الظلمة ، سخته تياره وه ، ثم خرجا من عند رسول الله ﷺ ينقلبان ، رابهر شول رسول الله ﷺ نه واپس تلل ، وبيد كل واحد منهما عصية ، هر يوه سره لاس كې همسا وه ، فاضاءت عصى احدهما لهما ، ددې دواړو همسا ګانو كې يوې همسا رڼا شروع كړه .

وچ لرګي نه رڼا تلل دا كرامت دي ، حتى مشيا في ضوئها ، تر دې چې لاړل په رڼا ددې دواړه .

حتى اذا افترق بهما الطريق اضاءت للاخر عصاه حتى مشي في ضوئها حتى اتى كل منهما في ضوء عصاه بلغ اهله .

چې كله لاري دوه شوي ددويم همسا هم رڼا شروع كړه هغه پورې رڼا وه چې څو پورې دوي كور ته ورسيدل .

دا رنګې بل روايت ده صفحه ١٥٩ بيهقي كې :

اخبرنا ابوعبدالله الحافظ حدثنا ابوعبدالله محمد بن عبدالوهاب الاصبهاني حدثنا احمد بن مهران حدثنا عبيدالله بن موسى اخبرنا كامل بن العلاء عن ابي صالح عن ابي هريرة رضي الله عنه

قال كنا نصلي مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ العشاء فكان يصلي فأذا سجد وثب الحسن والحسين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا على ظهره .

هغه به دواړه راغلل لوبې به يې کولې .

فأذا رفع رأسه اخذهما فوضعهما وضعا رفيقا فأذا عاد عادا فلما صلى جعل واحد ههنا وواحدا ههنا .

غیر کې يې کینول .ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي فجئته ، زه ورته راغلم فقلت يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الا اذهب بهما إلى امهما ، اجازت نه ده چې مور ته يې بوځم .

فبرقت برقة ، يو پړق شو رڼا شوه .

فقال الحقا بأمكما ځي مور ته لاړ شي.

فما زالا يمشيان في ضوئها حتى دخلا .

ځو پورې چې دوي كور ته دننه شوې نه وه رڼا وه كله چې كور ته دوي ورسيدل رڼا ختمه شوه كرامت ددوي ده معجزه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده .

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٦٨ د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ يو بل روايت پيش كوي:

قال البخاري في تاريخه : حدثني احمد بن الحجاج حدثنا سفيان بن حمزة عن كثير بن زيد عن محمد بن حمزة بن عمرو الاسلمي عن ابيه قال كنا مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فتفرقنا في ليلة ظلماء دحمسة .

مونږ وو د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نو جدا شو په سخته تياره کې .

فاضاءت اصابعي زما ګوتو رڼا شروع كړه ،حتى جمعوا عليها ظهرهم ، ټول پرې راغونډ شو وما هلك منهم ، يو هم ترې هلاک نه شو ، وان اصابعي لتنير ، او يقيناً زما دا ګوتې چې وې رڼا يې كوله ، د ګوتو نه بهتري جوړيدل ددوي كرامت ده .

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٦٩كې د امام بيهقي روايت پيش كوي راوي

اباعبس دي :

كان يصلي مع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصلوات ثم يرجع إلى بني حارثة فخرج في ليلة مظلمة مطيرة .

راووته يوه سخته تياره شپه باران هم په کې وه .

فنور له في عصاه حتى دخل دار بني حارثة ، همسا کې ورته رڼا جوړه شوه بني حارثه ته ورسيدل .

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٦٩ کې ذکر دي :

وروينا عن يزيد بن الاسود وهو من التابعين أنه كان يشهد الصلاة بجامع دمشق من جسرين فربما اضاءت له ابهام قدمه في الليلة المظلمة .

په سخته تياره شپه کې به دده کله د خپې غټې ګوتې رڼا شروع کړه په هغه رڼا به کورته اسود بن يزيد تلل .

دارنګې طفيل بن عمرو الدوسي دې خپل حکايت کوي وايي چې ما کله واوريدل چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داعي د ی خپل دين لره خو ما ته چا وويل : عياذاً بالله ساحر دي چې خبرې دې ورته واوريدې بيا دې اړوي نو وايي چې کوم مجلس کې به دې وو زه به هلته نه تلم اتفاقاً يو ځل زه يو ځای ناستوم چې دې راباندې را دننه شو ماوي چې اوس څه چل وکړمه نو وايي د يو بالخت نه مې مالوچ رابهر کړيوه غوږ کې مې هم کيخود بل غوږ کې مې هم کيخود غوږونه مې سم له مالوچو نه ډک کړل .

ما وويل چې زه پرې خبرې وانه ورم دې مبارک اوس خبرې کوي زه يې نه اورم ، شونډې يې خوزيږي وايي ځان سره مې سوچ وکړو چې دا څه ليوني دې ځان نه جوړ کړې ده ته دا يو غوږ نه دا مالوچ لږ رابهر کړه دا خبرې واوره که ښې وي وي منه او که ښې نه وي مه يې منه . وايي چې څنګه مې دا مالوچ لږ ترې راويسته او د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آواز را ورسيده وايي داسې رابنکلم چې سم دا زړه يې رانه ويسته سم دلاسه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ کې کيناستم ما وويل بيعت راکړه ايمان يې قبول کړه بيا به چې کوم بَدوِي راغې نوي به يې ايمان راوړو نو کيبه يې نوه د خپل ايمان قصه به يې ورته وکړه .

دا قصه به يې ډيره زياته کوله تعجباً نو چې څنګه يې ايمان قبول کړ نو بيا دومره صادقه وه چې :

انه سأل رسول الله ﷺ آية يدعو قومه بها .

ما ته خو يو کرامت راکه ګوره دلته ايت په معنی د کرامت سره دي تپوس يې وکړو بآية په يو دليل سره يدعوا بها چې د هغه دليل په وجه قوم ته دعوت ورکوم .

فلما ذهب اليهم ، چې قوم ته لاړ ، وانهبط من الثنية ، د غونډۍ د وداع نه ور واوښت ، اضاء له نور بين عينيه ، له تندي نه يې رڼا روانه شوه نو دعا وويل : اللهم لا يقول هو مثله ، اى خدايه دا خلک ونه وايي چې دا خو بده نمونه شوه . فحوله الله إلى طرف سوطه ، وګرځوله دغه رڼا خدای تعالی دده د دوري يو طرف ته ، حتى جعلوا يرونه مثل القنديل ، د هغې نه به د قنديل په شکل رڼا ختله دده په دعا باندې نو دده مبارک تندي کې تور تاکي خو څه کوي چې سپينه رڼا يې هم خوښه نه وه چې څوک مثله ورته ونه وايي .

مونږ مخکې ذکر کړي چې جميع انواع د معجزاتو چې دي هغه کرامت کيدې شي که هغه احياء د موتى وي که هغه عدم سوزيدل په اور کې وي او که هغه طي د مکان وي يا طي د زمان وي دا چې اور دوي نه دي سوزولي کرامتاً لهم په مثل د ابرهيم خليل الله عَلَيْهِ السَّلَامُ .

البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٦٩ :

روى الحافظ البيهقي من حديث عفان بن مسلم عن حماد بن سلمة عن الجريري عن ابي العلاء عن معاوية بن حرمل قال خرجت نار بالحرة .

حرا مدينه منوره کې يو ځای وه هغې نه اور را بهر شو .

فجاء عمر إلى تميم الداري فقال قم إلى هذه النار . راپاڅه دې اور ته پورې .

قال يا أمير المؤمنين ومن أنا وما أنا ، زه څوک يم زه څه شي يم عاجزې کوي زه خو څه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه يم چې اور ته به ورځم .

راوي وايي : فلم يزل به حتى قام معه ، عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورپسې وه چې نه راپاڅي

به مجبوره یې کړو راپایڅوه یې ، راوي وایي : وتبعتهما زه هم ورپسې شومه ، فانطلقا إلى النار ، دواړه اور ته لاړل ، فجعل تمیم یحوشها بیدیه حتی دخلت الشعب ودخل تمیم خلفها ، شروع شو تمیم یحوشها بیدیه دا اور یې په لاسونو راغونډولو هغه خور شوې وه په کورونو کې راغونډوه یې تر دې چې دخلت الشعب دغه اور هغه ناو ته دننه شو تمیم وروسته ورپسې داخل شو ، قال فجعل عمر یقول لیس من رأى کمن لم یر قالها ثلاثاً ، نه وي یقین د هغه چا چې په سترګو یې کتلې وي په شان د یقین د هغه چا چې لیدلې یې نه وي صرف یې اوریدلې وي یعنې یقین د دې چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ اور نه وو سوزولې په دې خو زمونږ یقین دي د تولو نص نه ثابت دي خو چې څوک په سترګو داسې کار وګوري د هغه یقین ته د هغه چا یقین کله رسي چې هغه اوریدلې وي .

نو زمونږ یقین اوس مضبوط شو ځکه دا درجه د عین الیقین شوه عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته او حضرت تمیم داري ته دا درجه د حق الیقین شوه او مونږ او تاسو ته درجه د علم الیقین شوه او چې علم یقین نفي شو ایمان نفي کیږي که چا شک وکړو په دې کې چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ الله پاک دلته نه دي بچ کړي یا یې نه شي بچ کولې نو کافر کیږي او یا دا معجزه نه وه او دا درې درجې داسې مثال لري اور سوزول کوي درجه د علم الیقین ، د چا مخکې یو سړي وسوزیده دا درجه د عین الیقین شوه او که د ستا کوم ځای وسوزیده دردمن شوې دا درجه د حق الیقین شوه .

د عامو او د خاصو د ایمان دغه فرق ده ته هم وایي چې آمنت بالله انبیاء هم وایي چې آمنت بالله زمونږ درجه د ایمان د علم الیقین ده او د انبیاو درجه د حق الیقین ده او کومو اولیاء چې شواهد او کرامات دلائل د قدرت نظاره کړې وي نور یې کتلي فیض یې کتلې رحمت کتلې د هغوي درجه بیا د عین الیقین وي او د چا حق الیقین ته هم ورسیږي .

اوس مونږ وایو چې قیامت شته جنت جهنم شته چې جنت ته دننه شو بیا به هم وایو چې جنت شته نو سوچ وکړي چې هغه یقین او دا یقین به فرق لري او که نه ډیر فرق لري .

نو دا د اور نه سوزیدل د صحابه کرامو نه ثابت شول .

دارنګې احياء د موتى وو په معجزاتو د انبياو کې معروف دي د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نو دا په کراماتو د اولياء کې هم امکان لري چې د هغوي په لاسونو دې مړي ژوندي شي د شيخ عبدالقادر جيلاني په حالاتو کې کتاب ليکلي پليټ کې هډوکي د چرګ واچول قم باذن الله يې وويل پاڅيده نو کمزورې عقيدې والا دلته اعتراض کوي چې دا چيرته کيدې شي دا شرکي عقيده ده شرکي نه ده باذن الله احي الموتى، عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعوى کړې ده خالق ژوندي کړې خو په لاس د ده معجزه وه او که په لاس د ولي وشي نو کرامت مؤثرِ حقيقي الله دي.

حديث في كرامة لولي من هذه الامة هي معدودة من المعجزات لان كل ما يثبت لولي فهو معجزة لنبيه. د ولي کرامت د پيغمبر معجزه وي.

قال الحسن بن عروة حدثنا ادريس عن اسماعيل بن ابي خالد عن ابي سبرة النخعي قال اقبل رجل من اليمن. د يمن نه يو شخص راغې مجاهد وو.

فلما كان ببعض الطريق نفق حماره.

خرې مړ شو، فقام فتوضأ، پاڅيده اودس يې وکړو، ثم صلى ركعتين، بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړو، ثم قال اللهم اني جئت من الدفينة، اى الله د خپل کلي نه راغلم، مجاهدا في سبيلك وابتغاء مرضاتك، مجاهد يمه، وانا اشهد انك تحيي الموتى وتبعث من في القبور لا تجعل لاحد على اليوم منة، ما باندې د چا احسان بار مه کړې، اطلب اليك اليوم ان تبعث حماري، دا درنه غواړم چې زما خر ژوندي کړه، فقام الحمار ينفض اذنيه، دا خر پاڅيده غوږونه يې څنډل، قال البيهقي هذا اسناد صحيح.

البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٧٠.

قال ابوبكر بن أبي الدنيا في كتاب من عاش بعد الموت حدثنا اسحق بن اسماعيل واحمد بن بجير وغيرهما قالوا حدثنا محمد بن عبيد عن اسماعيل بن ابي خالد عن الشعبي ان قوما اقبلوا من اليمن متطوعين في سبيل الله فنفق حمار رجل منهم فارادوه ان ينطلق معهم فأبى فقام فتوضا وصلى ثم قال اللهم اني جئت من الدفينة. مجاهدا في سبيلك وابتغاء مرضاتك وإني اشهد

انك تحي الموتى و تبعث من في القبور لا تجعل لاحد على اليوم منة . فإني اطلب اليك اليوم ان تبعث لي حماري . ثم قام إلى الحمار فضربه فقام الحمار ينفض اذنيه . فأسرجه وألجمه ثم ركبه واجراه فلحق بأصحابه فقالوا له ما شأنك قال شأني ان الله بعث حماري قال الشعبي فأنا رأيت الحمار بيع او يباع في الكناسة يعني بالكوفة .

کناسة ، د مال منډي ته ویلې شي .

وايي دغه خرمې وليده چې په منډي کې خرڅيده ، يو بل روايت کې راځي چې ما ورته وويل چې دا ولې خرڅوي دا خو تا ته خدای تعالی ژوندي کړي دوباره ، ملګري يې بيا وايي مونږ کې داسې خلک هم شته شعر وايي :

ومنا الذي أحيا الاله حمارة   وقد مات منه كل عضو و مفصل

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ١٧١ .

قال أبو بكر بن ابي الدنيا حدثني خالد بن خداش بن عجلان المهلبي واسماعيل بن بشار قالا حدثنا صالح المري عن ثابت البناني عن انس بن مالك قال عدنا شابا من الأنصار .

د انصارو نه يو ځوان وو مونږ بيمارپرسي ته ورغلو .

فما كان باسرع من ان مات . ډير زر مړ شو . فأغمضناه مونږ سترګې ورته پټې کړي ، و مددنا عليه الثوب ، او جامه مو پرې واچوله .

وقال بعضنا لامه احتسبيه ، مور ته يې چا وويل : خدای دې اجر درکړي دا تعزيه ده احتسبيه اجر وغواړه د خالق نه خدای دې اجر درکړي . قالت وقد مات ، ولې زوي مې مړ شو قلنا نعم فمدت يديها إلى السماء ، لاسونه يې اوږده کړل طرف د آسمان ته دعا کوي وايي :

اللهم اني آمنت بك وهاجرت إلى رسولك فاذا نزلت بي شدة دعوتك ففرجتها .

کله چې ته ما باندې تکليف راولې دعا کوم ته يې ختموې ، فاسألك اللهم لا تحمل على

هذه المصيبة قال فكشف الثوب عن وجهه فما برحنا حتى اكلنا واكل معنا ، جامه يې له مخ نه لرې کړه څه ډير کرتې هغه مونږ سره روټې خوړلې مونږ هغه سره روټې خوړلې نو دا مړي د مور په دعا راژوندې شو د کرامت ددې صحابي وه .

دارنګې د علاء بن عمرو المحضرمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دده مختلف واقعات دي دې چې د ایران او ددوبي د خلیج ته راغلې وه دا ډیر غټ خلیج ده تقریبا دري ګنټې په کې کشتي مزل کوي دې خلیج ته چې دوي راورسیدل نو څه آسونه دې او داد ستر ګو په نظر یو بحر دي نو ملګرو ته یې وویل ، اجیزوا بسم الله ، بس بسم الله ووایي آسونه پرې ور واچوي فاجزنا مایبل الماء حوافر دوابنا ، مونږ پرې تیر شو او دې اوبو زمونږ د آسونو خپې هم نه وي لمدې کړي .

دا څنګه وشو بس پرې ورغله هلته فوجیان د فارس ولاړو وچغې کړي دیوان دیوان ، دا خو پیریان دي د اوبو د پاسه را روان دي خو هلته شکست وخوړو وتښتیدل دغه علاء بن الحضرمي صاحب بیا په یو ځای کې وفات شوې هم دي وایي چې کله دې وفات شو :

فلم نلبث الا يسيرا حتى رمى في جنازته قال فحفرنا له وغسلناه ودفناه فاتى رجل بعد فراغنا من دفنه فقال من هذا فقلنا هذا خير البشر هذا ابن الحضرمي فقال ان هذه الارض تلفظ الموتى. هغه راته وویل دا ځمکه مړي ولي یو خوا بل خوا دلته مړي مه خښوي .

فلو نقلتموه إلى ميل او ميلين إلى ارض تقبل الموتى کاشکې مو یو یا دوه میله لرې وړې واي، فقلنا ما جزاء صاحبنا ان نعرضه للسباع تأكله ، مونږ ولې خپل ملګرې په درنده ګانو وخورو .

قال فاجتمعنا على نبشه فلما وصلنا إلى اللحد ، مونږ راغونډ شو دې مو لوڅ کړ هر کله چې ورسیدو لحد ته ، اذا صاحبنا ليس فيه ، چې وه مو کتل علاء بن حضرمي په کې نشته، واذا اللحد مد البصر نور يتلألأ ،د ستر ګو په نظر چې لحد ته ګورو رڼا په کې پړقیږي ،

قال فاعدنا التراب إلى اللحد ثم ارتحلنا ، بیا دې ځای نه مونږ لاړو .

نو دا کرامت بعد الوفاة د اعلى صاحب شو تفسير روح المعاني دا ليكلي كيديشي

تاسو د يو ولي مزار خلاص كړي هغه په كې نه وي دا نه چې هغه نه وي په كې هغه به وي خداى تعالى حالات برزخي د عبادو پټوي نه يې ښايي ورته پټ يې كړي كيدې شي يو نيم ورته وښايي خو اكثراً د غه حالات پټ ساتي .

دارنګې نور روايات د بيهقي نه پيش كوي د ابو مسلم خولاني رضي الله عنه :

ان أبا مسلم الخولاني جاء إلى دجلة وهي ترمي بالخشب من مدها ، دجلي ته راغې داسې د كه راغلې وه چې لرګي يې ويشتل ، فمشى على الماء والتفت إلى اصحابي وقال هل تفقدون من متاعكم شيئاً ، څه خو به درنه ورک نه وي فندعو الله عزوجل ، چې دعا وكړو .

يو بل روايت كې راځي وايي د يو كس نه د آس قمچينه غورزيدلې وه راغې وايي ما نه اوبو قمچينه وړې ده واپس وګرځيده اوبو ته په اوبره يو كې نښتې وه راواي خيسته وريې كړه وايي دې اوبو ته نن دا اختيار نه وه چې زمونږ څيزونه يوسي خداى تعالى دا مونږ ته مسخر كړي وه .

دا پاس ټول روايات د البداية وه .

دارنګې كتاب الدعاء د طبراني جلد ١ صفحه ٣٠٥ ، ابو هريرة رضي الله عنه يې راوي دي :

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: بينما رجل يسمع رعداً أو صوتاً في السحاب .

يو سړي دې په وريځ كې اواز اوري اواز كيږي ان اسق حديقة فلان ، د فلاني سړي باغ اوبه كړه دې وريځ ته اواز كيږي : قال فغدوت إلى تلك الحديقة ، باغ ته مې ځان راورسوه وختې ، فاذا رجل قائم فيها ، يو سړي ولاړ دي فقلت له ما اسمك قال فلان بن فلان بن فلان قلت فما تصنع بحديقتك هذه اذا صرمتها ، دا ميوه چې كله وشلوي نو څه پرې كوي هغه ورته وايي ولې دا تپوس رانه كوي : قلت لاني سمعت صوتاً في السحاب ان اسق حديقة فلان ، اواز په وريځې كې كيده چې د فلاني باغ اوبه كړه : قال اما اذا قلت ، چې دا خبره دې وكړه نو اوس به درته ووايم :

فاني اجعلها أثلاثاً ، دري حصه كومه يې ، اجعل لنفسي واهلي ثلثا واجعل للمساكين وابن السبيل ثلثا وانفق عليها ثلثاً ، يوه حصه په دې واپس خرچه كومه يوه مسكينانو ته

ورکوم يوه حصه زه اخلم دا رجل رجل صالح وه د بني اسرائلو نه .

خدای تعالی وريځ ده ته مسخر کړه ماموريې کړه په اوبو کولو د باغ دده .

حکايت : حاجي محمد آمين رَحِمَهُ اللهُ چې وه له انقلاب نه مخکې چې د انګريزانو حکومت وه پاکستان نه حاجي صاحب هجرت وکړو افغانستان ننګرهار ته هلته د پچير حاجي صاحب چې د ننګرهار له مشهورو مشائخو نه وه هغه سره يې زيات وخت تيروه دې به نور هم په ننګرهار کې ګرځيده مريدان يې وه .

نو زمونږ د پير صاحب والد ګرامي قاري سرفراز صاحب چې د حاجي صاحب مريد وه په کوټ کې اوسيده او د کوټ اوبه هم په بعضې ايامو کې قليلې لږې وي نو دده د اوبو نمبر وه هلته ورته حاجي صاحب راغې او ودده ميلمه شو او پټي هم ډير وچ وه فصل تږي وه اوبو ته يې ضرورت وه سوچ يې وکړو که ځمه پټي اوبه کومه نو دلته حاجي صاحب ميلمه ده دده ميلمستيا پاتي کيږي او که پاتې کيږم نو د اوبو نمبر بيا وروسته راځي خو بس اوبه يې پريښودې د خپل پير صاحب خدمت ته پاتې شو چې پاتې شو حاجي صاحب وروسته چا خبر کړ چې دې خو ستا خدمت ته پاتې شو پټي يې هلته وسوزيدو او چې بيا د اوبو نمبر ده ته راځي نو پټي به يې ختم وي .

حاجي صاحب وايي عمامه کيخوده او سر تور سر روان شو او زمونږ د پير صاحب د والد په پټي کې ودريده او لاسونه يې اوږده کړل او وي ويل ای الله ! د زما د خدمت لپاره د اوبو نمبر پريښود نو چې هغه اوبه پټو ته ورکولې شي نو د وريځې نه هم په دې باران کولې شي زه درنه دا غواړم تر هغې دې پټي نه ځم نه چې دا پټې دې اوبه کړې نه وي .

نو دې ولاړ وه په کې چې باران شروع شو حاجي صاحب لوند خيشت شو په کې او مريدان ورته وايي چې راځه بس باران وشو وايي نه چې پټي تر پولو ډک نه شي نه ځم ترې چې دا ډک شي بيا به ترې ځم هغه پټي اوبه شو بيا ترې دې لاړ .

کرامات د مشائخو چې دي د اولياء دا شته دې کې شک چون چرا مه کوي خالق چې بدون د چا د دعاء نه يو ځای ته اوبه ليږي او وريځ ته وايي چې لاړ شه نو د يو ولي په خولي يې هم ليږلې شي دا ټول د تقدير خلاف نه وي خو همغه فيصله تقدير کې داسې وي چې فلاني وخت کې به يو شخص دعا کوي بيا به هغه ځای ته وريځ لاړه شي دا عمل به وشي

زمونږ عقائد ګردش د زمانې او اسبابو ظاهرو ته متوجې دي او د خالق محض قدرت ته توجه نه کوو.

دا رنګې مفاتيح الغيب تفسير رازي جلد ۲۱ صفحه ۴۳۲ د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام واقعاتو کې تفسير کبير د خلفاء راشدينو کرامات ذکر کوي.

أما الآثار هر چې آثار د صحابو دي په دې موضوع باندې:

فلنبدأ بما نقل انه ظهر عن الخلفاء الراشدين من الكرامات ثم بما ظهر عن سائر الصحابة.

اول وايي د خلفاء راشدينو ذکر کوم بدء په دې کوم بيا د باقي صحابو.

أما أبو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **فمن كراماته انه لما حملت جنازته إلى باب قبر النبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

دده جنازه چې اوچته کړې شوه دروازې د روضې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته و نودي **السلام عليك يا رسول الله هذا ابوبكر بالباب فاذ الباب قد انفتح**، دروازه په خپله خلاصه شوه دده مبارک اول عائشې بي بي نه اجازت اخيستې وه چې اجازت ده چې زه دلته دفن شم هغې اجازه ورکړه وايي دوه ځايونه دي يو ستا شو او په يو کې به زه بيا دفن کړې شم چې هغې نه يې اجازه واخسته بيا يې ادباً وصيت کړې وه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام به دلته زه خوښ يم او که نه تاسو بيا ما اوچت کړي زما د وفات نه بعد ور مې وړي دروازه ځنځير کړي آواز وکوي **يا رسول الله هذا ابوبكر بالباب** که دا دروازه په خپله خلاصه شوه بيا مې دفن کړي ګنې مه مې دفن کوي.

فاذ الباب قد انفتح واذا بهاتف يهتف من القبر . دروازې نه يو آواز راځي، **ادخلوا الحبيب إلى الحبيب**، حبيب حبيب ته را دننه کړي دا کرامت بعد الوفات دده شو.

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اول کرامت:

وأما عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **فقد ظهرت انواع كثيرة من كراماته واحدها ما روي انه بعث جيشاً.**

حديث د مشکوة تاسو اوريدلي ده يو لښکر يې وليږه چې امير د هغې ساريه بن

حصين وه عمر صاحب د جمعې خطبه لولي :

جعل يصيح في خطبته وهو على المنبر .

شروع شو چغې وهې په حال د خطبه کې په ممبر باندې .

يا سارية الجبل الجبل قال علي بن ابي طالب كرم الله وجهه فكتبت تاريخ تلك الكلمة .

وايې دا تاريخ ما وليکله :

فقدم رسول مقدم الجيش فقال يا امير المؤمنين غزونا يوم الجمعة في وقت الخطبة فهزمونا. شکست يې راکړو .

فاذا بإنسان يصيح ياسارية الجبل الجبل فاسندنا ظهورنا إلى الجبل .

يو سړي آواز کولو چې ياسارية الجبل الجبل نو مونږ شاه ګانې کړې غره ته .

فهزم الله الكفار وظفرنا بالغنائم العظيمة ببركة ذلك الصوت قلت سمعت بعض المذكرين قال كان ذلك معجزة لمحمد ﷺ لانه قال لابي بكر وعمر انتما مني بمنزلة السمع والبصر فلما كان عمر بمنزلة البصر لمحمد ﷺ لاجرم قدر على ان يرى من ذلك البعد العظيم .

نو وايې چې دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ستر ګې شوې نو ضرور به يې دومره لرې نظر بيا لګې.

دوهم کرامت د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ :

د مصر نهر به کال کې يو ځل راختهاو خلکو به بيا يوه جينې ورغورځوله دا سې يو غلط رواج وه کله چې مسلمانانو دا فتحه کړو نو خط حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته را غې د مصر د والي د طرفه عمرو بن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې دا خلک وايې چې يو ډولي به ورغورځوي دا به آراميږي که يې غورځومه ته مې مواخذه نه کړې که يې نه غورځومه هسې نه چې دا سيند راپورته شي خلک خراب نه کړې بيا به وايې چې ولې د يوې جينې نه ، نه تيريدې نو خط يې راوليږه حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته :

فكتب عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ على خزفة ، په يوه ټوټه د کدرې يې وليکل :

ايها النيل ان كنت تجري بأمر الله فاجر وان كنت تجري بأمرك فلا حاجة بنا اليك .

كه د خالق په امر جريان لري روان وو سيږه آرام او كه خپله چليږي نو سه راځه زمونږ درته حاجت نشته .

فالقيت تلك الخزفة في النيل فجرى ولم يقف بعد ذلك ، دغه خط چې وروغورځيده نهر ته نو جاري شو وروسته له دې نه بيا ونه دريده او نه را اوچت شو .

بعضې خلك چې هغوي باندې د غلطو خلكو تاثيرات وي انكار دوه قسمه كوي : يو قسم انكار داسې كوي چې حيات كې منم خو بعد الوفات يې نه منم دا هم د خداى په قدرت كې ددوي شكونه وي او يا بعد الوفات د ولي ذ ولايت سلب كوي چې ګڼي دده نه مقام لاړ مقام خو ترې نه ځي .

دوهم قسم د غلطو خلكو تاثير چې پرې شوې وي زمونږ بعضې احنافو علماو كې هم دا مرض دي دوي دا خبره بيا كوي چې كرامت خو منم خو دا ددوي په اختيار كې نه دي نو د هغې نه تاسو جواب وكړي په واقعه د سورة نمل باندې :

﴿أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ﴾ .

زه يې راوړم كه د أصف بن برخياء اختيار نه وه نو مخكې يې دعوه څنګه كوله .

دغه شان دا ليكل د عمر صاحب دا خط لره نهر ته دليل د اختيار دي مخكې نه يې ورليږي .

دريم كرامت د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ :

وقعت الزلزلة في المدينة فضرب عمر الدرة على الارض وقال اسكني بإذن الله فسكنت وماحدثت الزلزلة بالمدينة بعد ذلك.

مدينه منوره كې زلزله راغلې وه دُره يې پرې كيخوده آرام شه د خداى په اذن مه خوزيږه ځمكې ته يې وويل هغې نه بعد په مدينه منوره زلزله نه ده راغلې .

څلورم كرامت د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ :

وقعت النار في بعض دور المدينة فكتب عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ على خزفة يا نار اسكني بإذن الله فالقوها في النار فانطفأت في الحال .

نو حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وليکل په کدړي اي اوره چپ شه په اذن د الله نو دا ليکل يې واچول او رته نو اور دستي مړ شو . مفاتيح الغيب جلد ۲۱ صفحه ۴۳۴.

هرچې کرامات د حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ صاحب دي انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي :

سرت في الطريق فرفعت عيني إلى امرأة ثم دخلت على عثمان فقال مالي أرا كم تدخلون علي وآثار الزنا ظاهرة عليكم .

ده نه دا عمل بهر شوي زنانه ته ترې کتل شوې چې عثمان صاحب ته ورننوته نو څه ورته وايي څه چل دې چې را دننه کيږي مونږ او د زنا اثر مو سترګو کې دي .

فقلت أجاء الوحي بعد رسول الله .

دې وويريده ولې وحي راغله د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته .

فقال لا ولكن فراسة صادقة . دا فراست يې صادقه دي .

اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله .

د ترمذي شريف حديث دي .

دارنګې مفاتيح الغيب جلد ۲۱ صفحه ۴۳۴ کې کرامات د حضرت علي کرم الله وجهه ذکر دي :

فيروي ان واحدا من محبيه سرق وكان عبدا اسود .

دا يو تور غلام وه ده سره يې ډيره مينه وه غلا ترې وشوه .

فأتي به إلى علي فقال له أسرقت قال نعم فقطع يده فانصرف من عند علي فلقيه سلمان الفارسي وابن الكرا فقال ابن الكرا من قطع يدك فقال أمير المؤمنين ويعسوب المسلمين وختن الرسول وزوج البتول فقال قطع يدك وتمدحه فقال ولم لا امدحه وقد قطع يدي بحق وخلصني من النار فسمع سلمان ذلك فأخبر به عليا فدعا الاسود ووضع يده على ساعده وغطاه بمنديل ودعا بدعوات فسمعنا صوتا من السماء ارفع الرداء عن اليد فرفعناه فاذا اليد قد برأت بأذن الله تعالى وجميل صنعه .

همدا شان روايت وفاء الوفاء د علامه سمهودي هم راخيستي هغه كې دا روايت ده چې مدينه منوره باندې شيعه ګانو قبضه كړې وه دا حرمين چې دي دا كله اهلسنت سره وي كله شيعه ګانو سره وي كله خوارجو وهابيانو سره وي دا اوري را اوري او د عوامو خلكو دا فكر او نظر ده چې د حرم امام به وي هغه به ځنګه غلط سړي وي دا كمزورې نظر ده ځكه په حرمينو ډيره زمانه تسلط د شيعه ګانو وه په مدينه منوره باندې ګورنري د مروان بن حكم الفاسق فاجر راغلي ده دا ښكاره د آحاديثو نه ثابته ده.

ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غوندې اشخاص به موجود وه مروان به مخكې كيده جمعې ته نو داد تابعينو په زمانه كې چې هغه څو مره نزدې زمانه وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مسجدِ نبوي باندې مروان راغلي.

په مكه معظمه باندې ګورنري د حجاج بن يوسف راغلي نو اوس به څه وايو چې د حرم شريف امام شو يا د حرم شريف ګورنر شو نو دا بزرګ شو داد عوامو نظر ده چې د حرم امام ګني لوي ولي به وي دا غلطه خبره ده. داسې وخت وه چې د حرم ګورنر ابو جهل وه همدغه حرم د بيت الله وه.

نو حرم كې اوسيدل دا دليل ددې نه شو چې دا به قوي الإيمان وي نن نه اتيا كاله وړاندې په حرام شريف كې امام شيخ زيني د حلان شافعي وه او په تاريخ مكه كې هغه د وهابيان او د محمد بن عبد الوهاب نجدي په رد باندې دا ټول كتاب ليكلي دي.

او په هغې كې يې دا ويلي چې دا خوارج دي نن نه اتيا كله وړاندې د حرم شريف په ممبر باندې د وهابيانو په خلاف به بيانونه كيدل. او د شاه عبد العزيز نه بعد د وهابيانو چړچه پرې راغلې ده.

نو داد عوامو نظر ده چې د حرمينو امامان به ډير نيک خلق وي نه نن صبا هلته ټول وهابيان دي، په دوي كې ښه سړي ما ته سديس ښكاريده زه چې كله حج ته تلي وم نو ماد سحر مونځ پسې وكړو ده هم مانځه كې ډير وژړل او مونږ يې هم وژړولو د جمعې ورځ وه كله چې ماسپخين د جمعې خطبه شروع شوه نو سديس وړاندې شو خطبه ده شروع كړه ما ته مسجد كې ځاى ملاو نه شو بهر په سړک كې ودريدم حج ته درې ورځې پاتې وې نو ددهٔ خطبې الفاظ داوه چې د حج اركان يې مختصر بيان كړه چې كله تاسو د منى نه واپس شوې

حج خلاص شو مدینې منورې ته تلل هیڅ اهمیت او ضرورت نه لري او د دې ځایونو نه واپس خپلو ځایونو ته لاړ شي.

او که بالفرض څوک مدینې منورې ته ځي نیت د مسجد دې وکړي یا د بازار د چکر دې وکړي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د روضې په نیت مدینې منورې ته تلل حرامٌ حرامٌ حرامٌ دري ځله یې تکرار کړه.

داد سدیس خطبه وه په حرم کې او د حج نه مخکې ما دا په خپلو غوږونو واوریده.

په دې باندې ۱۷ احادیث دي چې مدینې منورې ته زما د زیارت په نیت څوک راشي نو زه یې شفاعت کریم د بازار او مسجد په نیت نه د مسجد نبوي په نیت چې څوک د مکې معظمې نه ځي دا خو ناپوهي ده چې هلته یو مونځ یو په زره ده بقولٍ او یا یو مونځ په پنځوس زره ده بقولٍ او په خانه کعبه کې یو مونځ په یو لاکهـ ده نو ته اوس د یو لاکهـ والا مونځ پریږدي او د زرو والا مونځ پسې ځي دا خو هیڅ سوچ نه ده.

ترڅو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د زیارت نیت په کې و نه شي ځکه حدیث کې زیارت راغلي دا اولین د ابن تیمیه بیکاره خبره وه چې ده خوره کړه چې سفر إلی زیارة المصطفی حرام دي نو دا چې څوک دا نظر لري چې د حرم امام شو یا حاکم شو نو دا به ولي الله وي.

داد خلکو بې تحقیقي ده او د هغوي د اقوالو نه لري پاتې کیدل دي او نه د هغوي عقائد ورته معلوم دي.

نو یو وخت داسې وه چې په مدینه منوره د شیعه ګانو قبضه وه په دغه وخت کې یو خادم د مسجد نبوي وه د شیعه ګانو سره سخت وران وه مسجد نبوي کې به ورته روټۍ میلاویده دري ورځې امتحاناً روټۍ ورته میلاو نه شوه سوچ کوي که بهر ته ځم بازار کې هوټلونه هم د شیعه ګانو دي نو دغه خادم وایي چې هسې نه چې چیرته د شیعه ګانو روټۍ و نه خورم او ده قسم کړې وه چې زه به د شیعه ګانو روټۍ و نه خورم.

دغه خادم په سترګو ړوند هم ده نو سوچ کوي چې زه به د شیعه او سني فرق څنګه وکړم نو دا سوچ یې وکړو چې زه به چیغه وهم چې ما ته د صدیق صاحب او عمر صاحب په مینه روټۍ راکړي نو هر چا چې ددوي په مینه روټۍ راکړه نو دا به شیعه نه وي په سترګو ړوند ده د مدینې منورې کوڅو کې ګرځي او غږ کوي چې ما ته د ابوبکر صدیق او حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

په مینه روټۍ راکړي بس یو کس د لاس نه ونیوه او کور ته یې بوتلو ده ګمان وکړو چې دا سني ده او هغه غټ شیعه وه کمره یې پسې بنده کړه او کلک یې په نفرو وتړه په چاړه یې ژبه ترې پرې کړه او په لاس کې یې ورکړه چې واخله داد صدیق صاحب او عمر صاحب مینه ستا روټۍ شوه . دا کس قیصه کوي .

علامه سمهودي رَحِمَهُ اللَّهُ په وفاء الوفاء دا قصه نقلوي وایي چې دا ټوټه د ژبې یې په لاس کې ده چغي وهي را روان ده حرم شریف ته ډیر درد د لاسه وایي په مسجد نبوي کې زما سترګې پټې شوي ګورم چې محمد مصطفی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ریاض الجنة کې ولاړ ده او صدیق اکبر صاحب عمر صاحب هم ورسره ولاړ دي او زما د ژبې دا ټوټه د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاسونو کې ده او دا یې حضرت صدیق صاحب ته ورکړه وایي ستا په مینه ددې شخص نه ژبه کټ شوې ته نه شي کولې چې دم ورباندې واچوي وایي هغه ټوټه یې راوا خیسته زما ژبې سره یې ټچ کړه حضرت صدیق صاحب ترې خپلې لاړې تاو کړي او څه یې ولوستل وایي چې راپاڅیدم ژبه مې روغه جوړه وه .

یو کال وایي تیر شو بیا راباندې قحطي راغله روټۍ راته نه میلاویده دري ورځې وای تیرې شوې روټۍ نه وه بهر وایي لاړم بیا چغي وهغي د صدیق اکبر صاحب او د عمر فاروق صاحب په مینه به څوک روټۍ راکړي دا وایي اوس هم د شیعه ګانو دوره ده وایي چې ګرځیدم بیا یو کس ونیولم یریږم چې بیا مې هغه ځای ته بو نه ځي روان یې کړم همغه ځای ته یې بوتلم همغه کوټې ته یې ددننه کړم او ډیره ښه روټۍ یې راته راکړه .

وایي بیا مې ورته وویل دې ځای کې تیر کال ما نه چا ژبه کټ کړې وه بیا هغه کس راته وژړل چې زه تا پسې دا یو کال ګرځیدمه ما وویل زه به دې چیرته پیدا کوم زما پلار چې په کومه ورځ تا سره دا عمل کړي د هغې په صبا زما پلار نه شادو جوړه شوې ده پرده یې اوچته کړه په ځنځیر تړل شوې ده .

د شیعه نه شادو جوړه وه او ما وویل زه به تا پیدا کوم تا نه به معافي غواړم چې زما پلار ته دعا وکړه هغه هم اوس ژاړي خو څه وکړي کار ترې شوې ده .

نو دا شان کرامات لکه د حضرت علي صاحب چې امام رازي رَحِمَهُ اللَّهُ ذکر کړي دي داد نورو اولیاو په حالاتو کې بعد الوفات د صدیق اکبر صاحب د کراماتو نه ښکاره شوې دي .

دارنگي صحيح مسلم معروف بيروت چاپ جلد ۸ صفحه ۳ کې د حضرت جريج واقعه بيان کړي مشهوره واقعه ده حضرت ابو هريره رَضِيَاللَّهُعَنْهُ يې راوي دي:

قال انه كان جريج يتعبد في صومعةٍ فجاءت امه قال حميد فوصف لنا ابو رافع صفة أبي هريرة لصفة رسول الله صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ امه حين دعته كيف جعلت كفها فوق حاجبها ثم رفعت رأسها إليه تدعوه فقالت يا جريج انا أمك كلمني فصادفته يصلي فقال اللهم امي و صلاتي.

په مونځ ولاړ ده ای خدايه مور مې هم اواز کوي د مانځه تيم هم دي په مونځ ولاړ دي:

فاختار صلاته فرجعت ثم عادت في الثانية فقالت يا جريج انا أمك فكلمني قال اللهم امي و صلاتي فاختار صلاته.

بس مونځ يې مختاره کړ مور يې غصه شوه.

فقالت اللهم ان هذا جريج وهو ابني واني كلمته فأبى ان يكلمني اللهم فلا تمته حتى تريه المومسات. تر هغې يې مه مړ کوه چې تر څو زناکاري وګوري.

قال ولو دعت عليه ان يفتن لفتن قال وكان راعي ضأنٍ يأوي إلى ديره.

دلته د ګډانو يو شپون وه دده عبادتګاه ته به راته.

فخرجت امرأة من القرية فوقع عليها الراعي. شپون دې زنانه سره زنا وکړه.

فحملت فولدت غلاما فقيل لها ما هذا قالت من صاحب هذا الدير.

دې زنانه ته چا وويل چې دا دې له کومه کړ نو هغې وويل چې ددغه عبادتګاه والا نه.

قال فجاءوا بفئوسهم ومساحيهم. راغلل تبرونه او بيلچې يې له ځان سره راواخستل.

فنادوه فصادفوه يصلي فلم يكلمهم.

چغې کړې يو بل ته چې راووځې چې راغلل ده مونځ کولو خبرې يې ورسره ونه کړې.

قال فاخذوا يهدمون ديره فلما رأى ذلك نزل اليهم فقالوا له سل هذه.

دلته واقعه اوږده ده هغه ورته وويل تاسې دې ماشوم نه لږ تپوس وکړې چې پلار دې څوک دي.

قال فتبسم ثم مسح رأس الصبي فقال من أبوك قال ابي راعي الضأن .

ماشوم په خبرو شو ګوري دا معجزه د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ده چې ماشوم توب کې یې خبرې کړي دي همدغه کرامت د ولي جریج ښکاره شو له دې ځایه استدلال ده دا کرامت د جریج شو .

فلما سمعوا ذلك منه قالوا نبني ماهدمنا من ديرك بالذهب والفضة قال لا ولكن اعيدوه ترابا كما كان ثم علاه .

ابن حجر صاحب په فتح الباري جلد ٦ صفحه ۴۸۳ کې ذکر کوي :

وفيه اثبات كرامات الاولياء ووقوع الكرامة لهم باختيارهم وطلبهم .

دې کې ددې ثبوت دي چې وقوع د کرامت په اختیار ددوي سره وي خو په کل اوقات دا نه دي کله وي یعنې کیدې شي چې په اختیار یې شي .

دارنګې عمدة القاري شرح صحیح البخاري جلد ۲۳ صفحه ۴۲۱ :

وفيه اثبات الكرامة للأولياء ووقوع الكرامة لهم باختيارهم وطلبهم .

دارنګې امام نووي على مسلم منهاج کې جلد ۸ صفحه ۳۳۷ :

منها اثبات كرامات الاولياء وهو مذهب اهل السنة خلافا للمعتزلة وفيه أن كرامات الاولياء قد تقع باختيارهم وطلبهم .

او دا ثابتیږي چې کرامت د اولیاء کله واقع کیږي په اختیار ددوي سره .

وهذا هو الصحيح عند اصحابنا المتكلمين. بعضې متکلمین دا وایي .

ومنهم من قال لا تقع باختيارهم وطلبهم وفيه ان الكرامات قد تكون بخوارق العادات على جميع انواعها .

او په دې کې ثبوت ده چې ټولو انواعو خارق العادة ته شامل دي .

ومنعه بعضهم وادعى انها تختص بمثل اجابة دعاء .

او بعضې وایي فقط اجابت دعاء ده نورو انواعو ته نه شاملیږي .

وهذا غلط من قائله وانكار للحس بل الصواب جريانها بقلب الاعيان واحضار الشيئ من العدم ونحوه.

بلکې حقه داده چې کرامت جاري کيږي په قلب د اعيان باندې کولې شي چې کاڼي نه بوټي جوړ کړي د بوټي نه کاڼي جوړ شي دا عين د يو عين بل عين ته اوړي او شئ د عدم نه وجود ته راشي هيڅ هم نه وي را پيدا شي ځکه مؤثرِ حقيقي خالق دي .

دارنګې دليل الفالحين لطرق رياض الصالحين جلد ۲ صفحه ۳۵۰:

وفيه اثبات كرامات الاولياء ووقوع الكرامة لهم باختيارهم وطلبهم .

دارنګې صحيح مسلم جلد ۸ صفحه ۲۲۹، په دې کې د عبدالله بن تامر قصه ده .

د يوسف ذو نواز بن شرحبيل واقعه تيره شوې ده .

بادشاه د خداى دعوه کړې وه ساحر يې ساتلې وه هوښيار ماشوم به يې شاګردي ته ورليږه بيا هغه ماشوم په لاره کې د يو راهب سره ملاو شو حديث کې راهب راغلي د عيسويانو پير دا ماشوم ده سره ملاو شو دا واقعه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د پيدائش نه اويا (۷۰) کاله مخکې تيره شوې يوسف ذو نواز ابن شرحبيل د بادشاه نوم وه عبدالله بن تامر د دې ماشوم نوم وه پلار به يې کهجورې خرڅولې نو دا ماشوم له دغه ولي سره په بيعت کې راغي او ناسته يې ورسره وکړه په برکت د صحبت د دغه ولي په مقام د ولايت فائز شو او ذي کرامت شو .

بله ورځ چې کلي ته راغي په دې کلي کې بازار يا چوک کې دابه ده مار يا غټه اژدها څه دې لاره يې بنده کړې ده خلک ورته وايي چې ته خو ساحر ته ځې د دې دابې علاج وکړه، دا په دې ځاى کې سوچ کوي :

فبينما هو كذلك إذا أتى على دابة عظيمة قد حبست الناس فقال اليوم اعلم الساحر افضل ام الراهب افضل .

نن ورځ زه پوهيږم پته به لږيږي چې کار د ساحر افضل ده که د راهب کار افضل دي .

راهب دده شيخ دي چې دې يې ځان سره کينولې وه .

فاخذ حجراً فقال اللهم ان كان امر الراهب احب اليك من امر الساحر .

مراد د امر نه دین ده .

فاقتل هذه الدابة حتى يمضي الناس فرماها فقتلها و مضى الناس .

وړوکي کاڼي باندې يې دابه وويشته مړه شوه دا کرامت د هغه وه مشهور شو دې په دمونو باندې .

وكان الغلام يبرئ الاكمه . مور زادي ړانده به دده په دم جوړيدل .

والابرص . او برګي مرض والا .

ويداوي الناس من سائر الادواء فسمع جليس للملك كان قد عمي فاتاه بهدايا كثيرة فقال ما ههنا لك اجمع ان انت شفيتني فقال اني لا اشفي احدا انما يشفي الله فان انت آمنت بالله دعوت الله فشفاك فآمن بالله فشفاه الله فأتى الملك فجلس إليه كما كان يجلس .

بادشاه چې وکتل ستر ګه يې جوړه ده .

فقال له الملك من رد عليك بصرك قال ربي قال ولك رب غيري قال ربي وربك الله .

مجبور يې کړ وايي دا عقيده درته چا ښودلي وايي ماشوم ، ماشوم ته يې وويل تا ته دا عقيده چا ښودلي وايي هغه راهب ښودلي ټول يې راوستل .

اول يې دا وزير حلال کړ په سر يې ورته آره کيښنوده تر آخره پورې يې دوه ټوټې کړ هغه د آمنت بالله يا د لا اله الا الله عيسى روح الله کلمه ويلي .بيا يې دا راهب هم شهيد کړ .

دا ماشوم چې راغې نو آرې په کې کار نه کولو وزيرانو ته يې ورکړ وايي دا بوځي د غټ کمر نه ګوزار کړي وي غورځوي .

قلل الجبال . ذروي ته يې پورته کړي .

فاخذه فلم يزل يعذبه حتى دل على الغلام ثم جيء بالغلام فقيل له ارجع عن دينك فابى فدفعه إلى نفر من اصحابه فقال اذهبوا به إلى جبل كذا وكذا فاصعدوا به الجبل فاذا بلغتم ذروته فان رجع عن دينه والا فاطرحوه فذهبوا به فصعدوا به الجبل فقال اللهم اكفنيهم بما شئت . څه دي چې خوښه وي دوي نه ما ته کفايت وکړه .

فرجف بهم الجبل فسقطوا .غر و خوزیده دا خلک چې دي یې بیولي وه ټول ترې خطا شول.

وجاء يمشي إلى الملك . دې راغې بادشاه ته .

فقال له الملك ما فعل اصحابك قال كفانيهم الله فدفعه إلى نفر من اصحابه فقال اذهبوا به فاحملوه في قرقور فتوسطوا به البحر فان رجع عن دينه والا فاقذفوه فذهبوا به .

چې کله یې په کشتۍ کې سپور کړ بیا دعا کوي :

اللهم اكفنيهم بما شئت فانكفأت بهم السفينة فغرقوا .

کشتۍ پرې نسکوره شوه دوي یې غرق کړل .

وجاء يمشي إلى الملك . او دې راغي بادشاه ته .

نو دلته دا حدیث د اوږدوالي له وجې لږ پاتې شوي نو بادشاه دې بیا راوغوښت فساد دې راته جوړ کړې ده زه هم په دې پوهیږم چې رب بل څوک دی خو بس دې ځای نه لاړ شه ما ته دې علاقه کې فساد مه جوړوه او یا دې د مرګ چل راوښایه .

هغه ورته وویل د مرګ چل مې آسانه ده لینده یې ورکړه غشي وایي دا واخله زما په غشي په ما ګوزار وکړه خو هغه وخت به ګوزار کوي چې ستا د رعیت نر او ښځې موجود وي دواړه .

دویم دا چې کله ته غشي وولې نو دا به وایي :

آمنا برب هذا الغلام .

بادشاه خلک ښځې او سړي راغونډ کړل چې دې یې بره جي ته وتړه .

آمنا برب هذا الغلام ارمي .

یې وویل چې غشې لاړ دې په صُدغه ولږیده لاس یې پرې کیښود وفات شو .

نو دا رعیت کې چې څومره خلک وو ټولو وویل :

آمنا برب هذا الغلام . ټول خلک په ایمان مشرف شول نو بادشاه نه نور لاره ورکه شوه.

د کوڅو په سر کې یې خندقونه جوړ کړه وایي که څوک زما خدایي منې خوشي کوي او

که نه یې مني دې او ر ته یې اچوي دغه عمل جاري وه .

دې کې نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ د زنانه دا واقعه هم بیانوي چې هغه دې اور ته اراده لرله خو ویریده بچي باندې بچي یې د یو ځو ورځو وه خبري یې ورته وکړي د هغه بچي الفاظ:

یا امه اصبري فإنك على الحق .

بیا یې سره د بچي اور ته ودانګل .

او یا زره (۷۰۰۰۰) کسان ده سو زولي په اور باندې نو بیا د اور لمبه راغله بادشاه یې سره د وزیرانو وسوزولو .

﴿ قُتِلَ أَصۡحَابُ الۡأُخۡدُودِ ﴾ کې دې ته اشاره ده نو دې کې څو ځایه کرامت د دغه ماشوم بنکاره شوې ده او د هغې زنانه چې ماشوم غږیدلي دي دا هم کرامت دي .

دارنګې صحیح البخاري جلد ۴ صفحه ۸۳ د بیروتي چاپ دې کې د حضرت خبیب واقعه ده چې بندي وه ددې کور هغه زنانه قصه کوي ، حدیث طویل دي مونږ اختصار کړي :

ان بنت الحارث اخبرته ما رأيت اسيراً قط خيراً من خبيب والله لقد وجدته يوماً يأكل قطفاً من عنبٍ في يده .

ما ولید یوه ورځ په کوټه کې د انګور د یوې غنچې نه یې خوراک کوه چې په لاس دده کې وه .

وانه لموثق بالحديد . دې په زولنو تړل شوې وه .

وما بمكة من ثمرة . مکه معظمه کې دغه شپو کې میوې هم نه وي .

وكانت تقول انه لرزق من الله رَزَقَهُ خبيباً .

بي بي به وویل چې دا نور څه نه وه د خدای تعالی روزي وه چې خبیب ته یې ورکړې وه نو داد حضرت خبیب کرامت د بخاري نه ثابت دي .

دارنګې صحیح البخاري جلد ۷ صفحه ۱۱۶ هغه روایت د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ذکر کوي :

يقول غزونا جيش الخبط وامر ابو عبيدة فجعنا جوعاً شديداً فالقى البحر حوتاً ميتاً لم نر

مثله .په غټ والي کې .

يقال له العنبر فاكلنا منه نصف شهر فاخذ ابو عبيدة عظماً من عظامه .د پوښتي لشکه راواخسته .

فمر الراكب تحته . لاندې به ترې راکب شخص تيريدو .

اثبات الکرامة بعد الوفات :

امام ابي داود جلد ۲ صفحه ۱۹ کې باب لړوي باب النور يرای عند قبر الشهيد ، او د حضرت عائشی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث په کې را اخلي :

قالت لما مات النجاشي کنا نتحدث انه لا يزال يرى على قبره نور .

نجاشي چې مړ شو مونږ ته خلکو قصې بيانولې چې هميشه يې په قبر رڼا ليدلې کيده . دا کرمت د ده بعد الوفات د قبر نه رڼا تلل .

دارنګې صحيح البخاري بيروتي چاپ جلد ۵ صفحه ۱۳۶ د بئر معونه فاجعه ده چې اويا (۷۰) کسان عامر بن طفيل په دوکه بيولې وه بيا يې نهه شپيته (۶۹) شهيدان کړل عمرو بن امية الضمري دي له خپو تيز وه تښتيدلي وه غره ته چيرته بوټو کې پټ شوې وه دري ورځې وايي هلته پټ وم نور وږې شوم بيرته راکوز شوم بيا يې ونيولم .

دا عامر بن طفيل ماشومتوب کې بيمار شوي وه موريې نذر منلي وه که دې خدای جوړ کړيو غلام به آزادوم موريې راغله عامر بن طفيل ته وايي چې هغه نذر اوس پوره کيږي دا غلام آزاد کړه هغه نذر به پوره شي نو هغه يې خوشي کړ رايې وسته په دې شهيدانو يې ګرځوه .

دا بادشاه دا صحابي په شهيدانو وګرځوه دا ساعی رسول الله چې ورته وايي هغه ده :

قال له عامر بن طفيل من هذا فأشار إلى قتيل فقال له عمرو بن امية هذا عامر بن فهيرة

فقال لقد رأيته بعد ما قتل رفع إلى السماء .

دې چې ما شهيد کړو وه مې ليده چې آسمان ته وخته .

حتى اني لأنظر إلى السماء بينه وبين الارض .

ما ورته کتل چې آسمان دده او د ځمکې تر منځه شو یعنې آسمان کې ما نه پټ شو .

ثم وضع . بیا دلته کیخودې شو .

او دې روایت کې تفصیل دادې چې بادشاه ورته وایي ما ډیر مړي کړي خو چا نه وم یره ولې خو ده ویرولم.

نو یو شهید د شهادت نه وروسته اسمان ته ختل نو دا کرامت ددې شهید دي لکه څنګه چې نبي اکرم ﷺ اسمان ته ختلي دا معجزه د هغه ده او داد عامر بن فهیرة کرامت ده ثابت ده په روایت د بخاري کتاب المغازي کې .

دارنګې بخاري جلد ۴ صفحه ۸۳ د عاصم بن کلیب رضي الله عنه واقعه ده هغه هم قسم خوړلې وه چې مشرک ته به لاس نه ورکوم او ده لوي عظماء د قریشو مړه کړې وه د یو ملک مور قسم خوړلې وه که ما ته چا د عاصم سر راوړو نو کوپړې کې به یې شراب څکم چا ورته وویل چې حضرت عاصم شهید دي هلته پروت دي په خوړ کې پیسي خلکو ته ورکړي او لوي لښکریې برابر کړ چې لاړ شي عاصم راوړي چې زه نذر پوره کړم سریې پرې کړم کوپړې کې یې شراب وڅکم.

دده مبارک تنه پرته وه کله چې د قریشو لښکر پسې راغې نبي اکرم ﷺ فرمایي:

فبعث على عاصم مثل الظلة من الدبر .

راولیږلي شو من عند الله په حضرت عاصم باندې سورې جوړ کړي وه من الدبر د غټو مچیو نه د غټو مچو سیل پرې راغې دومره ډیرې وې چې سیورې یې پرې جوړ کړې وه .

فحمته من رسولهم فلم يقدروا . استاذي د قریشو چې راغلي وه د هغې نه یې دې وساته قادر نه شو چې څه ترې پرې کړي .

على ان يقطع من لحمه شيئاً .

نو دغه استاذي د قریشو قدرت پیدا نه کړ چې جسد د حضرت عاصم رضي الله عنه ته څه ضرر ورسوي نو بیا خوړ ورباندې راغې او د هغه ځای نه یې اوچت کړ او د مشرکینو د قبضې نه یې بهر کړ په دغه ځای کې د حضرت خبیب رضي الله عنه واقعه هم مذکوره ده .

نبي اکرم ﷺ آواز کوي چې ما ته به خبیب څوک راوړي چا ورته وویل شهید

شوې ده زوړند کړې دي څلويښت ورځې يې زوړند کړې وه عمر بن اميه الضمري راپاڅيده زه يې راوړم خو يو سړي ما ته راکړي چې ما سره ملګرې وي ما په اهل مکه کې ډير مړي کړي هغوي ما سره سخته دشمني لري.

نو زه د ورځې تلې نشم چې دې معلوم کړم چې چيرته دي يو شخص راکړه چې هغه ما ته جاسوسي راوړي زه به چيرته پټ شم چې داد چا کور سره دي کوم ځای کې ده چې پوره معلومات يې وشي بيا زه د شپې پسې ورځم را او چتوم يې نو دوه ملګري لاړل دې په يو غار کې پټ شو.

ملګري يې وليږه باران شروع شو يو شپون راغې دې غار ته رابرابر شو د باران د لاسه دې ورته وايي دلته يو سړي وه محمد ﷺ نوميده دعوی د نبوت يې لرله دا څنګه سړي وه داسې الفاظ يې استعمال کړه چې شپون ته مسلمان ښکاره نه شو بس د هغه چې څه زړه وه هسې يې وويل توره يې راواخسته شپون يې حلال کړ ګډي بيزي چې کلې ته لاړې شپونکي نشته ده د ټول کلي به يو شپون وه.

آواز وشو چې شپون ورک ده خواره شي پسې دا غارونه ورته معلوم وه دا صحابي دا غار بدل کړ بل غار ته لاړ چې خلک راغله غار ته څه ګوري چې شپون چا حلال کړي چې پټ مړي به وشو نو دوي به وويل چې عمرو بن اميه الضمري راغلي دا مړي بل څوک نه شي کولې اعلانونه وشول چې خواره شي اوداژوندې ونيسي وايي زما ملګرې ما پسې راغې زه يې پيدا کړم ما ته يې وويل دا دې څه کړي ما ورته وويل چې څه دې ولي وايي ټوله مکه کې ستا د راتلو آوازه خوره ده او دا څه چل دې کړي.

وايي يو شپونکې مې وژلې نبي عليه السلام پسې خبرې کولې نو ملګرې ورته وويل چې اوس خو ته نه کاميابيږي ځکه هغوي اوس ټول خبر دي چې دې راغلې بيدار دي تا پسې ګرځي ته څنګه خبيب صاحب او چتوي.

وايي ته ما ته معلومات راکړه کوم ځای کې ده کوريې وروښوده چې د هغه فلاني کور مخکې ميدان دي هلته د لرګي يو ستن ده هغې کې زوړند ده ګير چاپيره ترې نه څوارلس يا پنځلس نفره د شپې او ورځې پهره وي وايي بس ته ځه نبي اکرم ﷺ ته زما سلام وايه ورته ووايه چې عمرو بن اميه وويل چې زه به خبيب رضي الله عنه او چتوم يا به ځان شهيدوم.

بس چې شپه شوه را روان شو د سورة يسين څه الفاظ يې ولوستل خدای تعالی هغوي باندې خوب راوست ورا وچت شوم راخلاص مې کړ چې کله مې په آس ځان سره او چت کړ آس ته مې منډه ورکړه نو دوي راباندې راويخ شول او راپسې شول زه مخکې يم او حضرت خبيب وايي دروند هم وه نو دې ما نه خطا شو پريوته زما آس مخکې منډه وهله دې وخت کې دوي هم رانيزدې شوي دي زه بيا راتاو شوم نو چې څنګه دې ما اوچتوه نو ځمکه وشليده دې په کې ننوته ځمکه بيرته پرې راپټه شوه ، ددې وجې نه حضرت خبيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره د فين الارض ليکلې شي .

دا کرامت د حضرت خبيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي بعد الوفات او امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ذکر کړي .

دا لاندې څو حوالې دي چې کتابونو انکار د کرامت الاولياء منسوب کړې معتزلو لره.

الجدول في اعراب القرآن جلد ۲۹ صفحه ۱۱٦، زمحشري چې وه په فروعو کې حنفي وه په عقائدو کې معتزلي وه .

فاما الزمخشري فقد انكر كرامات الاولياء جريا على قاعدة مذهبه في الاعتزال.

ده د کرامات الاولياء نه انکار کړې وه ولې دې په خپله قاعده د مذهب پسې تلې وه چې اعتزال وه .

معتزله کرامت نه مني دا چې کرامات نه مني دا جزيه فرعي ده په يو بل اصل چې کله تعارض د عقل له نقل سره راشي معتزله وايي ترجيح عقل ته ده او کرامات ټول د عقل خلاف وي نه يې مني .

دارنګې تفسير بيضاوي جلد ۲ صفحه ۳۸ :

﴿ وَإِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَاكِ عَلَىٰ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ ﴾ .

اذ قالت الملائكة يا مريم دا خطاب څنګه وه **كلموها شفاها** خبرې وکړي فرشتو له مريمې بي بي سره **مشافهتاً** دا مخامخ خبرې وي .

كرامة لها داد بي بي مريمې بل کرامت وه .

ومن انكر الكرامة زعم ان ذلك كانت معجزة لزكريا عَلَيْهِ السَّلَامُ.

څوک چې د کرامت منکر وي هغوي وايي داد زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ معجزه وه .

او ارهاصاً لنبوة عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ .

دارنګې شرح العقيدة الواسطية جلد ۳۰ صفحه ۱۲ په دې کې عبارات ذکر کوي بيا وايي :

ذكره المؤلف ليبين بطلان ما ذهب إليه بعض اهل البدع من المعتزلة وبعض الاشاعرة الذين. مؤلف دا دلائل ددې لپاره راوړي چې د بعضې بدعتيانو معتزلو مذهب باطل شي او بعضې اشاعره :

الذين ينكرون كرامات الاولياء .

په اشاعرو کې يو کس ده چې هغه انکار کړي د کرامت نه او په معتزلو کې يو کس اثبات د کرامت کړي لکه الخلاصة في شرح حديث الولي جلد ۱ صفحه ۵۴ :

وممن وافق المعتزلة في نفي الكرامة ابواسحاق الحليمي من الشافعية .

دي داشاعرو نه وه دې د معتزلو و ملګري وه په نفي د کرامت کې .

واثبتها ابوالحسن من المعتزلة . معتزلو و کې ابو الحسن يې قائل وو .

وكان اهل رحبة وهي مدينة ينكرون كرامات الاولياء .

دارنګې تفسير رازي جلد ۸ صفحه ۲۰۹ :

المعتزلة الذين ينكرون كرامات الاولياء .

دارنګې الاعتقاد د امام بيهقي جلد ۱ صفحه ۳۱۵ کې دا حديث :

انه كان في الامم قبلكم محدثون فان يكن في هذه الامة فهو عمر .

مخکې امتونو کې د فراساتو والا خلک وه زمونږ امت کې که دي نو عمر صاحب دي .

امام بيهقي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

هذا الحديث اصل في جواز كرامة الاولياء .

د اولياء د کرامت لپاره دا يو اصل عظيم دي .

دارنګې تفسير قرطبي جلد ۲۰ صفحه ۱۷۳، دې کې دا ذکر کوي چې :

من کرامة وهو ان هذا هو مذهب أهل السنة .

دارنګې کتب ابن تیمیه في الفقة جلد ۲۷ صفحه ۴۹۷.

چا تپوس کړې ده چې د بعضې اولیاء حالات چې څمکه ورته راغونډیږي او یا په لږ ساعت کې لرې سفر کوي :

منهم قوم یطیرون ویتحدثون عن المغیبات .

نو دې د هغې نه جواب ورکوي :

هذه احوال منها ما هو حال رحماني وهو کرامة الاولیاء .

دا حالات چې تا بیان کړي دې کې څه حالات رحماني دي دغه کرامات د اولیاء دي .

او څه دخل شیطاني هم شته دي چې سحر کیدې شي ، او دا خبره سمه ده د سحر د کرامت سره فرق په مصداق کې نه وي چې ګڼې ولي آلوتي شي ساحر نه شي آلوتي یا یو ولي خارق العادة کار ښکاره کولې شي او ساحر یې نه شي ښکاره کولې نه فرق د ساحر او د ولي په اتباع الشریعة کې وي په ذات د دغه صاحب کې وي چې چا نه دا آثر ښکاره دي که دې په شریعت برابر وه کرامت دي که د شریعت مخالف وه دا سحر دي .

دارنګې د دمیاطي اعانة الطالبین جلد ۱ صفحه ۱۹ کې لیکلي :

ان شجرة عنب أضاءت له لفقد ما یسرجه وقت تضیف .

د امام رافعي صفت کوي امام رافعي به چې کله تصنیف کوه دانګورو یو بوټي و هغې به رڼا ورته کوله د تصنیف په وخت کې نو دا کرامت د هغه شو .

دارنګې بحر الرائق جلد ۴ صفحه ۱۶۹ کې د کراماتو ذکر کوي .

حاشیه ابن عابدین جلد ۱ صفحه ۴۳۲ **مطلب في کرامات الاولیاء ثابتة .**

دارنګې حاشیه ابن عابدین جلد ۳ صفحه ۲۷ کې فرمایي د جملې د کراماتو د اولیاء نه اطلاع ده :

علی بعض المغیبات .

او بیا یې رد کړي په معتزلو چې منکرین دد دې دي .

دارنګې قواعد الفقه جلد ۱ صفحه ۵۲۸ کې لیکي :

كرامات الأولياء حق .

دارنګې فتاوى ابن صلاح جلد ۱ صفحه ۲۱۰ :

ان كرامات الاولياء من امته وايجابة المتوسلين به في حوائجهم وحربهم ومعوناتهم عقب توسلهم به في شدائدهم براهين له قواطع ومعجزات له سواطع .

متوسلين چې په رحمت عالم وسيله نيسي بعضې اوقاتو کې دوي سره د هغوي په خاطر مدد کولې شي وروسته د توسل په شدائدو کې دلائل قاطعه دي په معجزاتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

همدا عبارت سبل الهدى والرشاد هم ذكر كړې دي په جلد ۹ صفحه ۴۰۹ .

دارنګې منهاج جلد ۱۵ صفحه ۱۵۶ امام نووي صاحب تكلم د بقري او د ذئب بمحضر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او خلكو تعجب وكوه دې کې ليكي :

فيه جواز كرامات الاولياء وهو مذهب اهل الحق .

دارنګې نبراس صفحه ۴۸۰ کې ليكي :

كرامات الاولياء حق .

بيا نبراس صفحه ۴۷۵ کې ليكي : منكرين د كرامت معتزله دي .

روح المعاني جلد ۳ صفحه ۲۲۵ کې ليكي : منكرين د كرامت معتزله دي .

الفرق بين الفرق صفحه ۳۰۳ باندې ۱۴ اركان ذكر كوي د اهل سنت يعني ۱۴ كارونه په دوي کې وي كه په دې ۱۴ کې يو ركن كم شو اهل سنت به نه وي اهل سنت دې ته نه وايي چې سنت باندې عمل كوي دلته اهل سنت سنت عند المتكلمين مراد ده په نزد د متكلمينو سنت رتبه فوق المستحب تحت الواجب ته نه شي ويلې .

متكلمين سنت څه شي ته وايي :

طريقة مسلوكة في الدين من العقائد عند السلف .

سلفو دا عقيده لرله دوي دې ته سنت وايي د سلفو عقيدې والا اهل سنت دا نه چې سنت عملي به يې په ځاى كړې وي او كه يو سنت ترې پاتې شو اهل سنت به نه وي .

اهل سنت کې سنتي عقيده واي مراد وي سنت کې اصطلاحات دي سنت په نزد د محدثينو مترادف د حديث دي کتاب الله سنت رسول نو مراد د سنت نه حديث دي او سنت په نزد د فقهاو باندې درجه رتبه د مشروعاتو ده چې تحت الواجب فوق المستحبات ده .

او سنت په نزد د متکلمينو باندې عقائد د سلفو ته ويلې شي نو اهل سنت نه مراد د سلفو عقيدې والا خلک او د هغې ۱۴ ارکان دي .

رکن ثامن معرفة معجزات الانبياء و کرامات الاولياء .

د انبياء معجزات او د اولياء کرامات پيژندل او په دې يقين لرل ، دا رکن ثامن د اهل سنت دي .

بيا وروسته دې وايي :

وانکرت القدرية کرامات الاولياء . قدريو د کراماتو د اولياء نه انکار کړې دي .

لانهم لم يجدو من فرقهم ذا کرامة .

ځکه دوي په خپلو ډلو کې د کرامت والا نه دي مونده کړي نو ځکه يې انکار کړي چې کرامت نشته .

لکه د نن سبا پنچپيرانو کې چا د کرامت والا نه دي ليدلې ، نو دوي خوران هم په کې غلي دي د خپل شيخ هر څه بيانوي خو کرامت يې نه بيانوي دا ځکه چې شته نه په کې نو څه شي بيان کړي .

نو معلومه شوه د متکلمينو د عقائدو د کتابونو نه چې انکار د کراماتو نه قول د معتزلو دي او قول د قدريوو دي که څومره نوم ځان ته بدل کړي ، مشن پارټي بدل کړي ، اصول بدل کړي خو د مخکينو بدو عقيدو يو مرض به په کې وي ځکه دا د دوي اصول دي او چې دغه اصل په کې رانغې بيا خو قدري نه شو .

نو څومره خلق چې د کرامات الاولياء نه منکر دي که په هر نوم ياد يږي کراماتو پسې استهزاء ، مسخرې کوي نو دا په حقيقت کې د خالق د قدرت منکرين دي چې په يد د ولي د قدرت اظهار نه شي کولې يا يې نه کوي نو دوي د اهل سنت د رکن ثامن اصل منکرين دي په اهل قدر او اهل اعتزال کې داخل دي .

مسئله : علم التصوف :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعد وهو خاتم النبيين أما بعد ! فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿وَأَحْسِنُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾.

نن چې زير بحث ګرځو و مسئله متنازعه بيننا و بين الخصم هغه مسئله د علم الباطن او د علم تصوف ده د اهل السنة والجماعة دا عظيم اسم چې جامع دي اربعة مذاهب لره او اربعة طرق لره ددې چې څو مره مخالفين دي که په هر نوم باندې يادېږي هغوي خاصتاً اهل حديث او غير مقلدين عرب عجم کې ددې پرچار کوي چې جماعت د صوفيوو د اهل السنة والجماعة نه ، نه دي او دا ددوي بې تحقيقي ده .

ډير کرتې دوي د تعصب نه کار اخلي د يو جماعت جمله عقائد مطالعه نه کړي او غلطې فتوې صادرې کړي لکه تعصب د احنافو سره غير مقلدينو کړې دي چې احناف او خاصتاً امام ابو حنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ دوي مرجئه ګڼلي د الإيمان يزيد و ينقص په مسئله باندې ما د مرجئو او د احنافو په مينځ کې فرق وکړ چې هغوي قول بلا عمل قائل دي .

خو هغوي عمل مقوّي د ايمان نه ګڼي او احناف عمل مقوِّي د ايمان ګڼي نو دا لوي فرق دي په مابين د مرجئو او احنافو کې نو احنافو ته مرجئه ويل تعصب محض دي د غه شان يو خطرناکه فرقه چې په نوم د باطنيه باندې يادېده مخکې تيره شوې ده ګمراه فرقه وه د هغوي ډيرې غلطې عقيدې وې .

چې من جمله د هغې نه عقيده د حلول وه خو دا عقيده د حلول د ذات د باري تعالى په نفوسو د عبادو کې دا دوي غير اختياري قول نه وه کړي په مرتبه د سکر مقام کې بلکې قصداً عمداً يې کړې وه د غه فرقه باطنيه د شيعه ګانو نه وي هغوي دا وايي چې خداى تعالى اله چې کوم دي په نفوسو کاملوو ذواتو د هغوي کې حلول کوي .

نو دغه د حلول بعضې الفاظ د وحدت الوجود صوفيوو نه هم صادر دي خو صوفيوو عقيده د حلول نه ده ساتلې د وحدت الوجود کوم قول چې هغوي کړي دي د باري تعالى په محبت کې فنا ته تللې دي او داسې حال پرې طاري شوې دي چې هغوي د خالق د نور نه سوا

هيڅ نه ليدل نو دغه وخت کې هغوي نه غير اختياري لفظ د انا الله يا هو الله آواز وتلې دي يا د ابن عربي نه يا د منصور حلاج نه نو رأي د صوفيه کرامو ددوي باره کې داده چې تقليد د منصور او د صاحبانو د وحدت الوجود حرام دي بل څوک دا نه شي ويلې.

ليکن هغوي په دغه قول کې معذور ګڼې چې دا الفاظ دوي نه په مرتبه د سکر کې وتلې دي داسې وه چې صاحبان د وحدت الوجود د صوفيو نه هغوي وجودي حقيقي غير الله لره نه مني د لا اله الا الله ورد يې کړې وي ډير زيات په دې کې تصور د معنی د لا موجود الا الله کړې وه لا موجود الا الله په دې سر وي حتی چې د ورځې د يو لک ځل نه هم زيات دا ورد کوي.

دوي دې ته يو وخت د فناء کې ورسيږي چې دا ټو مره مخلوق او اشياء په خارج کې موجود دي په لاموجوده کې ټول نفي کړي چې دا نشته حقيقي وجود ذات الله تعالی دی نو ګوري صاحبان د وحدت الوجود خو د حلول قائل نه شول هغوي خو داسې نه وايي چې خالق په ذات د دې انسان کې ذکر دي حلول يې کړې دي.

صاحبان د وحدت الوجود خالق لره وجودي حقيقي ثابتوي او دا نور اشياو لره يې وجودي ظلي ثابت کړ دا يې ظلال د باري تعالی خلک د هغه صفت وګرځول او د لا اله الا الله لا موجود الا الله په تفسير سره دوي د مخلوق نه داسې حد ته ورسيدل چې دوي ته څه نه ښکاريدل فناء ته لاړل نو دا قول يې وکړ نو دا قول غير اختياري دوي نه وتلې ده خپله دوي معذور دي خو تقليد يې حرام دي صوفيه هم په دې قول کوي او علماء هم په دې قول کوي.

هر چې باطنيه فرقه ده هغوي قائل د حلول د ذات باري تعالی وه په نفوسو د عبادو او اشياو کې نو هغوي خو سوچه بت پرست وه هغوي خو يو بُت کې هم د ذات د خدای تعالی د حلول قائل وه ځکه دا عقيده د مشرکينو محض وه او دا رنګې رجل صالح کې او په نفس يا شخص کامل په نفوسو د عبادو کې يې هم د حولول د باري تعالی عقيده وه نو دا باطنيه يوه غلطه فرقه تيره شوې ده.

د عدم تحقيق نه په اقوالو د باطنيو کې ډيرو خلکو تعصب وکړو او داقوالو د باطنيوو نه يې قياس په اقوالو د صوفيوو وکړو او صوفيه يې په دوي قياس کړل باطنيه خو ګمراه دي

نو دوي وويل چې صوفيه هم ګمراه دي نو دا مسئله مونږ زير بحث کړه چې دا ډير زيات تعصب شوې ده د صوفيوو سره .

او مونږ دې حنفي علماو نه هم د ګيلې په شکل دا وايو چې دا کوم حنفيان دي اهل سنت دي دا مدرسين علماء د تصوف نه لرې پاتې شوي په حلقه د بيعت د يو شيخ کې نه دي راغلې هغوي بيا صوفيه ګمراه نه ګڼي او ګمراه کن يې هم نه ګڼي حد اقل دومره نظر ورلره ساتي چې دا شيخان محض په درجه د استحباب کې لګيا دي دوي صاحبان د علم خاص نه ګڼي علم باطن ته علم نه وايي او يوائې علم ظاهر علم ګڼي او خپله علماء د علم ظاهر چې : لا حصة لهم من علم الباطن .

خپله وارثان د محمد عربي ګرځوي او پيرانو ته د وارثانو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په نظر نه ګوري .

نو مونږ دا مسئله زير بحث کړه چې يو تعصب د غير مقلدينو منکرينو چې دا يې ضال مضل ګڼلي ، من الباطنيه يې ګڼلي چې فرق وشي د صوفيوو او د باطينيو کې فرق دې باطينيه يوه ګمراه فرقه ده او صوفيه اهل د تحقيق دي ، اهل د معرفت او اهل د سر دي ، اهل د علم باطن او د طريقت دي ، صاحبان د حقيقت دي .

او دويم هغه علماء دي !!! چې هغوي د تصوف نه لرې پاتې شو اګر که په عقيده او عمل جوړ دي يا هغه طالبان چې د هغوي د اقوالو نه زير اثر دي هغوي ته دا واضحه کوو چې دا علم يو نه دي چې دا کوم خلکو کې معروفه ده چې راووځه مدرسې ته او دا علم ظاهر ده او علم شريعت ده دا کوه بل علم نشته ، نه خبره داسې نه ده .

نصوص به په دې مونږ پيش کړو چې :

العلم علمان . علمونه دوه دي يو علم اللسان دي ، بل علم القلبي دي .

علم اللساني : حجة الله عزوجل على العباد .

او علم قلبي : فذاك علم نافع .

دغه ځای کې مونږ اقوال د محدثينو مفسرينو فقهاو ولټوو چې هغوي علم نافع چا ته وايي او علم لساني چا ته وايي نو تاسو ته ما ډير تکليف کړې دي ځکه دا مسئله ډيره اوږده

دہ دا مسئلہ د علم تصوف چند مباحثو لرہ مونږ مشتملہ کړځولې دہ چې مبحث اول پہ تعریف د علم تصوف کې دہ .

د علم تصوف تعریف :

څہ علماء دې تہ قائل دي چې دې لرہ الفاظ جامعہ کلیہ مانعہ نشتہ داسې تعریف د علم تصوف نہ شي کیدې لکہ د نورو علومو چې خلکو کړي .

تعریف جامع مانع د هغې وجہ دادہ چې د علم تصوف لرہ علماء ددې پہ معنون او مقصد کې ډیرې زیاتې خبرې کړي چې دا عبارت د څہ شي نہ دي نو څومرہ تعریفونہ چې ما اوس دلتہ تاسو تہ ذکر کړي دا رسومات دي .

جامع العلوم في اصطلاحات الفنون کې اول جلد صفحہ ۲۰۳ د تصوف تعریف کوي فرمايي :

التصوف تجريد القلب لله تعالى واحتقار ما سوى الله تعالى .

دا زړہ بہ تہ خالص مجرد کړي اللہ لرہ کہ چشتیان قادریان سهروردین حضرات دي نو د لا الہ الا اللہ اسباق دې لپارہ ورکوي چې مخلوق پریږدہ خالق سرہ رابطہ ونیسہ خالق تہ متوجہ شہ.

کہ نقشبندي حضرات دي نو اول سبق پہ قلب کې ورکوي د اللہ اسم ذات ددې لپارہ چې کلہ دې زړہ تہ اسم د اللہ دننہ شي نو تجرد د ماسوی اللہ نہ راشي .

واحتقار ماسوى الله . او د ماسوی اللہ بہ سپک گڼې .

وقد نقل قدوة العارفين مولانا نور الدين شيخ عبد الرحمن الجامي قدس سره السامي في نفحات الانس من حضرات القدس في احوال شيخ ابي اسحاق ابراهيم بن شهريار رَحِمَهُ اللهُ انه رأى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في المنام وسأل ما التصوف يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟

تصوف څہ شي دہ یا رسول اللہ ؟

فقال : التصوف ترك الدعاوي وكتمان المعاني .

دعوی پریښودل دي او کوم معاني رازونہ چې زړہ تہ القاء شي هغہ پټ ساتل دي .

التعریفات جلد اول صفحه ۸۳ کې ذکر دي تعریف د تصوف کوي وايي :

التصوف الوقوف مع الادب الشرعية ظاهراً فيرى حكمها من الظاهر في الباطن و باطنا فيرى حكمها من الباطن في الظاهر .

ترجمه : علم حاصلول دي په امورو ظاهرو باندې سره د ادب شرعيو و نه چې هغه امورو او نصوصو ظاهرو ته وګوري .

فيراى حكمها من الظاهر في الباطن .

و باطنا عطف که په ظاهراً باندې وقوف مع الادب الشرعية باطنا فيرى حكمها من الباطن في الظاهر .

ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ، اول جلد صفحه ۴۶۵ کې د تصوف معنی کوي :

قال ابو بكر الكتاني : التصوف خُلقٌ .

تصوف اتصاف د ځان دي په اخلاقو حمیدو باندې .

فمن زاد عليك في الخُلُقِ زاد عليك في التصوف .

ترجمه : ته بل سړي ته ګوره چې اخلاق ستا ښه دي که د هغه بل سړي که د هغه اخلاق له تا ښه وه نو هغه تصوف کې له تا ښه دي .

تصوف عبارت له حسن خلق نه دي د چا چې اخلاق ښه وي د چا چې اخلاق ښه نه دي هغه تصوف کې کمزوري دي .

فان حسن الخلق وتزكية النفس بمكارم الأخلاق .

دارنګې ابن قيم په مدارج السالكين بين منازل اياک نعبد و اياک نستعين ، اول جلد صفحه ۳۰۷ کې د تصوف معنی کوي دغه معنی ډیرو علماو کړې ده الفاظ یې مختصر دي تقريباً جامع مانع دي .

التخلي من الرذائل والتحلي بالفضائل .

د رذائلو نه ځان خالي کول او په فضائلو ځان ښائسته کول په فضائلو ځان متصف

کول او د رذائلو نه ځان خالي کول.

دارنګې په مدارج السالکين بين منازل اياک نعبد و اياک نستعين، دوهم جلد صفحه ۴٦۴ کې د تصوف معنى کوي:

قال سر السقطي: التصوف اسم لثلثة معان لا يطفئ نور معرفته نور ورعه.

دې عارف وې هغه نور د معرفت دده چې مړ نه کړي له دده نه نور د تقوى دده هسې نه چې عارف شو څه کشوف يې وليدل د هغې نه وروسته سر شي بيا هر څه کوي نه هغه نور د ورع ختم نه کړي.

ولا يتكلم بباطن في علم ينقضه عليه ظاهر الكتاب او السنة.

په باطن اړخ کې به داسې اقوال نه کوي چې ظاهر نصوص د هغې مخالف وي نو علم باطن دا نه شو چې د شريعت نه به مخالف وي.

رد شو په بعضې قلندريانو چشتيانو باندې چې هغوي نظر دا جوړ کړي چې علم باطن او ظاهر سره فرق لري يعنې متغايرين دي نا داسې نه ده.

كظهر لبطنٍ وبطنٍ لظهرٍ، اسلام للإيمان ايمان للإسلام.

دغه رنګې يو بل سره تړ دي.

ولا تحمله الكرامات على هتك أستار محارم الله.

او بل دريم دا چې کرامات دې باعث نه کړي ده لره په استارو د محارم الله باندې هسې نه چې هغې کې ور دننه شي هغه پردې اوچتې نه کړي.

چند کرامات وګوري بيا ځان د تکليف نه اوباسي وايي چې ګنې زه مکلف په شريعت نه يمه.

همدارنګې ابن قيم په مدارج السالکين بين منازل اياک نعبد و اياک نستعين، دريم جلد صفحه ۱۸۱ کې فرمايي:

سئل محمد بن علي القصاب استاذ الجنيد البغدادي عن التصوف فقال.

هغه جواب ورکړ:

اخلاق كريمة ظهرت في زمان كريم مع قوم كرام.

تصوف اخلاق کريمه ته وايي چې په ښه وخت کې ښکاره شي له ښه قوم سره اخلاق کريمه له قوم کرام سره په هر وخت کول دا تصوف ده.

قوم کرام هغه سالکين حضرات دي چې نيتونه يې ښکلي وي.

حلية الاولياء دا کتاب د امام ابونعيم الحافظ الاصبهاني چې دي خپل سند لري ۱۰ جلد يې په تصوف ليکلي دي اول نه تر آخره پورې دا ثابتوي چې دا څومره صحابه تير شوي دا ټول صوفيه وو.

خو دا جدا خبره ده چې طرز او طريقه به د چا رياضات په دشتو کې او سيدل وه د چا به څه وه خو صوفيه ټول وه تصوف چې د څه نه عبارت دي نو يو صحابي هم د هغې نه بهر نه وه.

امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ د خپل کتاب احياء علوم مقدمه هم په دې لګولي دا څومره محدثين او فقهاء دي دا ټول صوفيه تير شوي دا ذکر کوي:

سمعت ابا الفضل نصر بن ابي نصر الطوسي يقول سمعت ابابکر بن المثاقف يقول سألت الجنيد بن محمد عن التصوف.

هغه جواب راکړ:

فقال الخروج عن کل خلق دني والدخول في کل خلق سني.

د هر رذيل خوي نه وتل او په هر ښائسته او بيش قيمته خوي کې ننوتل.

سمعت ابي الفضل الطوسي يقول سمعت ابا الحسن الفرغاني يقول سألت أبابکر الشبلي ما علامة العارف؟ څه علامه ده د عارف. هغه وويل:

صدره مشروح وقلبه مجروح. شرح صدر به لري زړه به يې زخمي زخمي وي.

ما ورته وويل چې دا خو علامه د عارف شوه عارف چا ته وايي. شبلي رَحِمَهُ اللَّهُ وويل:

العارف الذي عرف الله عزوجل وعرف مراد الله عزوجل وعمل بما امر الله واعرض عما نهى الله عزوجل ودعا عباد الله إلى الله عزوجل.

ما ورته وويل چې دا خو تعريف د عارف شو.

فمن الصوفي فقال من صفا قلبه. د چا چې زړه صفا وي.

تسميه د صوفي په صوفي باندې قول راجح دادی چې دا په زمانه د تابعينو دا تسميه خوره شوه دا په زمانه د صحابوو کې .

دا علم مسمی وه په علم الاخلاص و علم الاحسان باندې ددې نه تعبير په احسان او اخلاص سره کيده .

زمانه د تابعينو کې دا مسمی شو په علم تصوف وجه د تسميې داوه ځکه دغلته چې کوم صوفيه وو هغوي استعمال د جامو د صوف کولو نو د صوفي معنی متلبس په لباس د صوف باندې دوروي هغه دور سره صوفيه به سم داسې وه چې يوه زړه جامه پيوندي د خلکو نه لرې په دشتو کې استوګنه دا به ددوي زندګي وه .

اوس هم داسې فقراء شته دي چې هغوي په سبيلې د رياضاتو باندې تزکيه د نفوسو کوي نو دې يې معنی دا کوي :

الصوفي من صفا قلبه . چې زړه يې صفا وي .

وسلك طريق المصطفى صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورمى الدنيا خلف القفا .

دنيا يې شاته ويشتلې وي .

دا اعتراضات اوس مخې ته راځي چې صوفيان خو اوس په دغه صفاتو ټول نه دي برابر نو هغه اعتراض يو اځې په دوي اوس مه کوي همدا ديګ همدا شلغم او دا اعتراض بايد د علم ظاهر علماء ته هم راجع ده دا کوم ده چې ټول د شريعت پابند دي او په هر جزيه د شريعت يې عمل کړې نو دا نقصان هر چا کې وي .

نو شبلي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ورته وويل :

ورمى الدنيا خلف القفا وأذاق الهوى طعم الجفا .

خپلې هوا ته يې د جفاء طعم ورڅکلې وي .

ما ورته وويل چې دا خو صوفي شو .

ما التصوف؟ تصوف څه ته وايي ؟

قال: التألف والتطرف والاعراض عن التكلف .

يو خو تألف ده چې خلک ځان ته نيزدې کول دې هغوي سره الفت کول دي .

بل تطرف ده ځانته والې ده د اهل دنيا او شاهانو نه.

بل اعراض ده له تكلف نه تكلفات به نه كوي، ما ورته وويل د تصوف دا معنى كې لې
نور زيات والي هم راته وكړه چې ښه وضاحت وشي.

ما التصوف؟ قال تسليم تصفية القلوب لعلام الغيوب.

صفايي زړه علام الغيوب ته سپارل دي ما ورته وويل:

احسن من هذا ما التصوف فقال تعظيم امر الله والشفقة على عباد الله.

ما ورته وويل:

أحسن من هذا من الصوفي فقال من صفا من الكدر. چې له كدوراتو پاک وي.

وامتلا من الفكر تفكرات بأسماء الله. كوي.

وتساوى عنده الذهب والمدر. دده په نظر لوټه او سره زر يو شان وي.

فسمعت أبا الفضل نصر بن ابي نصر يقول سمعت علي بن محمد المصري يقول سُئل السر السقطي عن التصوف فقال التصوف خلق كريم يخرجه الكريم إلى قومٍ كرام.

سمعت اباهمام عبدالرحمن بن مجيب الصوفي وسُئل عن الصوفي فقال لنفسه ذابح ولهواه فاضح ولعدوه جارح وللخلق ناصح.

صوفي چې ده ځان لره حلالونكي ده د خواهشاتو شرموونكي ده د دشمنو لره جرحه كوونكي ده خلكو لره نصيحت كوونكې ده.

دائم الوجل يحكم العمل و يبعد الامل و يسد الخلل و يغض على الزلل عذره بضاعة و حزنه صناعة وعيشه قناعة بالحق عارف وعلى الباب عاكف.

خپل كور كې معتكف وي سيار نه وي د خلكو سره ډير خلط نه وي.

معجم الوسيط جلد اول صفحه ۵۲۹ كې د صوفي تعريف كوي:

من الصوفي يتبع طريقة التصوف والعارف بالتعوف وأشهر الأراء في تسميته انه سمي بذلك لانه يفضل لبس الصوف.

دوي به دا بهتره ګڼله.

دا رنګې شرح نهجة البلاغة لعبد الحمید بن هبة الله بن محمد بن الحسین بن ابي الجحد چې داد ابو حامد عز الدین عبد الحمید بن هبة الله المتوفی سنه ٦٥٦ د هغه تصنیف دي اول جلد صفحه ۱۹ کې علم تقسیموي:

ومن العلوم علم الطريقة والحقيقة واحوال التصوف وقد عرفت ان ارباب هذا الفن في جميع بلاد الإسلام إليه ينتهون وعنده يقفون وقد صرح بذلك الشبلي والجنيد البغدادي والسرسقطي وابويزيد البسطامي وابو محفوظ معروف الكرخي وغيرهم .ويكفيك دلالتاً على ذلك الخرقة التي هي شعارهم إلى اليوم وكونهم يسندونها بإسناد متصل إليه عَلَيْهِ السَّلَامُ.

دلیل د اثبات یې داده چې هر یوه ته ورشي سند متصل لري.

المبحث الأول:

الاستدلالات من القرآن الكريم في مسئلة علم التصوف:

بعضې اصطلاحات علومو لره د اصحابو د زماني نه او س بدل شوي من جمله د هغې نه زمانه د صحابه کرامو کې علم فقه چې وه مسمی په اسلامیاتو باندې علم کلام یا علم عقائد چې وه دا مسمی وه په ایمانیاتو باندې او علم طریقت دا مسمی وه په احسانیاتو باندې.

همدا وجه وه چې حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ حدیث طویل کې د:

أخبرني عن الإسلام، اخبرني عن الإيمان، اخبرني عن الاحسان.

سوالونه کړي وه نو دې کې اشاره وه شرف ددې علومو ته نو دا علم التصوف د صحابوو زمانه کې په علم الاحسان مسمی وه همدا وجه ده قرآن عظیم الشان کې زیات ترد دریو اهل دینونو ذکر کیږي چې یهودیان، عیسویان او امت د حضرت محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده دا دري واړه دینونو والا دا دواړه جماعت لرل جماعت د مشائخو د طریقت او جماعت د علماء د شریعت.

د قرآن دا اصطلاح ده چې یهودیانو کې کوم خلک اهل طریقت او د تصوف وه د تزکیه باطن کار به یې کوه نو ربانیون به یې ورته وویل.

ربانيون منسوب إلى الرب.

د پاکستان په اصطلاح الله والا نو دا منسوب إلى الرب دا پیران وه د یهودو.

او د یهودیانو چې کوم علماء وه مسمی د قرآن په اصطلاح باندې احبار هغوي ته يې احبار ويل چې دا جمع د حبر ده په معنی د تزين باندې او هغوي به هم بنائسته بنائسته لباسونه اغوستل او یا به مقلوب د بحر شي چې ژور بحرونه د علم وه جامع دوي لره د شپږمې سيپارې سورة مائدة دا آيت ده:

﴿لَوۡلَا يَنۡهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالۡأَحۡبَارُ عَن قَوۡلِهِمُ الۡإِثۡمَ وَأَكۡلِهِمُ السُّحۡتَ﴾.سورة مائدة آيت :٦٣.

او هرچې عيسويان هغوي علماء ته قسسين ويل او پيرانو ته يې رهبان ويل جمع د راهب گوشه نشين د خلکو نه چيلي به يې کولې جامع دی دوي لره د اومې سپارې دا آيت کريمه ده:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانًا وَأَنَّهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ﴾ سورة المائدة آيت : ٨٢.

د عيسويانو عداوة مع المسلمين په نسبت سره يهودو ته او مشركانو ته څه نا څه کم بنکاريده هغوي اشد وه او وجه يې داده:

ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ.

دوي کې علماء و رهبانا او پيران دي.

انهم لايستكبرون.

په مقابل د يهودو او مشركينو هغو مره كبرجن نه دي نفس عداوت كوي خو په مقابل د يهودو کې ددوي عداوت کم ده ورنه نفس عداوت شته.

زمونږ د دين قرآني اصطلاح داده چې کله علماء د شريعت ذکر کوي نو تعبير ترې نه په علماء سره کوي په يعلمون سره کوي لکه دا آيت کريمه:

﴿قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي الَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ﴾

بل آيت: ﴿إِنَّمَا يَخۡشَى اللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمَٰٓؤُاْ﴾.

او کله چې زمونږ دين د مشائخو د طريقت په قرآن کې ذکر کيږي نو د هغې نه تعبير

کیږي په محسن سره یا محسنون سره دې نه صوفیاء کرام مراد وي دا خبره چې د محسن نه او محسنون نه مراد صوفیاء کرام دي.

تبلیغي جماعت والا یوه افواه خوره کړې په عوامو کې چې مونږ ته امیرانو ویلي چې په قرآن کریم کې په لسمه سیپاره کې په پیرانو رد شوې ده اشاره یې دې آیت کریمه ته وه:

﴿إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ﴾ سورة التوبة آيت: ۳۴.

د یهودو پیران ښه وه خو علماء ډیر خراب وو او د عیسویانو علماء ښه وه او پیران یې ډیر خراب وه، نو دغه آیت کریمه کې یې د یهودو علماو را واخستل او د عیسویانو یې پیران را واخستل چې ان كثير من الاحبار الخ.

نن صبا که څوک دغه آیت کریمه د صوفیانو او پیرانو په خلاف د دلیل په شکل پیش کوي نو د قرآن له اصطلاحاتو خبر نه دي یا خبر دي خو له تعصب نه کار اخلي له صوفیانو پیرانو سره تعصب کوي.

دلیل په دې باندې چې مراد له احسان علم تصوف ده:

امام مسلم جلد اول صفحه ۲۸ حدیث طویل د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ را اخیستې:

قال فأخبرني عن الاحسان إلى آخره. د احسان تعریف کړي:

ان تعبد الله كأنك تراه.

لکه جبرائیل امین سوال د احسان په رابطه وکړو نو رسول پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته جواب ورکړ چې احسان:

ان تعبد الله كأنك تراه. د الله تعالی عبادت په داسې شان سره کوې لکه ته چې الله ویني او که چیرته هغه ته نه ویني نو هغه خو تا ویني.

او دا مرتبه د شهود ده شهود د ذات باري تعالي نه کیږي بلکه د ذات او صفاتو تجلیاتو هغه نور ګوري او مشاهده یې کړي نو که دا مقام نه وي نو حد اقل:

فان لم تكن تراه فانه يراك. که ته چیرته هغه نه ګوري نو حد اقل دو مره حضور خو باید وي چې هغه ما له ګوري دا احسان شو.

معالم السنن للخطابي په څلورم جلد صفحه ۳۲۱ کې د احسان معنی کوي:

فان معنى الإحسان ههنا الإخلاص. اخلاص کول په اعمالو کې.

ابن حجر په فتح الباري جلد ١٢ صفحه ٢٦٦ کې د احسان معنى کوي: الإخلاص.
شرح السنن د امام بغوي اول جلد صفحه ١١ د احسان معنى کوي په هغې کې وايي مراد ددې نه:

الإخلاص وهو شرط في صحة الإيمان والإسلام معاً.

نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم جلد دويم صفحه ٦٧ کې د احسان معنى کوي، اختلاف شوې په معنى د احسان کې اصطلاحاً:

فإذا اقترن الإيمان والإسلام. چې سره معي راشي.
بيا مراد د احسان څه:

الاشارة إلى المراقبة وحسن الطاعة.

اشاره په کې مراقبې لره وي، تفکر لره وي او حسن طاعت لره وي.
فيض الباري شرح د بخاري جلد اول صفحه ٢١٦ کې شاه صاحب څه اخلي دينه:

واعلم ان لفظ الاحسان شامل لجميع انواع البر من الاذكار والاشغال وغيرهما.

لفظ د احسان دلته شامل دي ټولو افعالو د صوفيو لره نه اذکار و نه. او نه شغل نه په اورادو باندې.

والاذكار تقال للاوراد المسنونة.

وما ذكره المشائخ من الضربات والكيفيات والاشغال.

هغه اشغالنا هغه چې ذکر کړي دي مشائخو له ضرباتو نه او له کيفياتو نه دا اشغال دي او دلته احسان اذکارو اشغالو دواړو ته شامل دي.
بيا شاه صاحب وايي:

والطرق المشهورة في التصوف اربعة: النقشبندية والچشتية والسهروردية والقادرية.

والسلسلة السهروردية قد تسلسلة في اجدادنا من عشرة متصلة.

شاه صاحب فرمايي طريقه سهرورديه زما په نيکونو کې تر لسو پورې راغلې مسلسله.

ثم ما نقل الينا من الاوامر والنواهي والوعد والوعيد.

دا مسمى ده په شريعت سره.

والتخلق بها يسمى الطريقة وحينئذ تنصبغ الاعمال بصبغ الإيمان.

په رنګ د ايمان حقيقي دا اعمال رنګ واخلي.

كما كان في السلف اما اليوم فعلم بلا عمل وايمان بلا تصديق من الجوارح ورب تال القرآن والقرآن يلعنه ثم الفوز بالمقصد الاسنى والنيل بالمآرب الاعلى يسمى حقيقتاً.

هغه بيا حقيقت ده نو شاه صاحب تصريح وکړه په دې باندې په اربعة طرق او اشغال د مريدينو او ضربات كيفيات د مشائخو د اسباقو او اذكارو اوراد مسنونه دا ټول يې داخل کړل په احسان کې.

نو بيا وايي چې ښكاره شوه دا خبره چې:

الطريقة والشريعة لا تتغايران كما زعمه العوام.

طريقت او شريعت يو بل نه جدا او بدل نه دي.

ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مدارج السالكين جلد دويم صفحه ٥٧ باندې ليکلي:

ولو كان فوق مقام الاحسان مقام آخر لذكره النبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ لجبرائيل.

نو احسان اعلى مقام شو نو وايي:

ولسأله جبرائيل عنه فانه جمع مقامات الدين كلها في الإسلام والإيمان والاحسان نعم الفناء المحمود.

فنآت به رائحي چې هغه تحقيق دمقام د احسان دي نو هغه دادې چې سړي فاني شي:

بحب الله وخوف الله ورجاء الله والتوكل عليه وعبادته والتبتل إليه عن غيره.

دارنګې مدارج السالكين جلد دويم صفحه ٦٥ کې ليکلي دي:

وفي حديث جبرائيل انه سأل النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن الاحسان. د غه الفاظ ذكر كوي:

بيا وايي: مراد له دې نه: المراقبة تفكر في صفات الله دي.

دوام علم العبد و تيقنه بأطلاع الحق سبحانه وتعالى على ظاهره و باطنه فأستدامة لهذا العلم واليقين هي المراقبة وهي ثمرة علمه بأن الله سبحانه رقيب عليه ناظر إليه .

وروسته وايي :

سامع لقوله وهو مطلع على عمله كل وقت وكل لحظة و كل نفس و كل طرفة عين و الغافل عن هذا . کوم سړي چې دې مراقبو او تفكر بصفات الله نه غافل شي .

بمعزل حال أهل البداية فكيف بحال المريدين فكيف بحال العارفين .

دا خو حال د مبتديانو ته هم نه دي رسيدلي نو څنګه به دې په حال د مريدانو او عارفانو مشرف شي .

دارنګې مدارج السالكين ابن قيم جلد دويم صفحه ۳۹۹ کې ليکلي :

اليقين هو المكاشفة وهو على ثلاثة وجوه مكاشفة في الاخبار مكاشفة بأظهار القدرة مكاشفة القلوب بحقيقة الإيمان .

و مراد القوم بالمكاشفة ظهور الشيء للقلب بحيث يسير نسبة إليه كنسبة المرئ إلى العين. زړه ته متوجه شي داسې ليدل كوي لكه په ستركو سره .

فلا يبقى معه الشك ولا ريب اصلاً . وهذا نهاية الإيمان وهو مقام الاحسان .

چې شرح صدر وشي بيا قلب صفا شي ستركې فؤاد كولاو شي چې په هغې كې بيا څه اشياء وګوزي نو لکه په رأس العين چې ليدلې وي دغه مقام د احسان ده مراد د احسان نه علم تصوف ده او د محسنين نه صوفياء مراد دي.

تفسير مظهري اول جلد صفحه ۴۳۱ هغه د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث ذکر کوي :

يدخل الجنة من امتي سبعون الفاً بغير حساب .

قاضي صاحب فرمايي :

قلت والذي يظهر من سياق الكتاب والسنة ان هؤلاء الذين لا يحاسبون هم الصوفية العلية المتعشقة .

په دغه صفحه تفسير مظهري وګورئ ډير تفصيل يې کړی .
او مقصد د تصوف نه دوه ځيزونه دي :
تصفية القلب و تزكية النفس. نو تصفيه د قلب او تزکيه د نفس دا نچوړ د تصوف ده.
شرح السنن ابن ماجه جلد اول صفحه ۲۸۳ دلته تا ته دا ښايي چې سواد اعظم کې کومې کومې ډلې داخلې دي :
فعليكم بالسواد الأعظم . دا جمعه غفيره مراد ده .
فهذا الحديث معيار عظيم لأهل السنة والجماعة شكر الله سعيهم فانهم هم السواد الأعظم وذلك لا يحتاج إلى برهان فانك لو نظرت إلى اهل الاهواء بأجمعهم مع انهم اثنان و سبعون فرقة لا يبلغ عددهم عُشر اهل السنة .
واما اختلاف المجتهدين (اى اربعة مذاهب) فيما بينهم كذا الاختلاف لصوفية الكرام (اى اربعة طرق) والمحدثين العظام (اى سبع قراءة) ولقرء الاعلام .
دغه تفريقې ته ضلالت و نه وايي او ګمراهي ورته و نه وايي لکه جماعة المسلمين غونډې عقيده و نه ساتي .
فهو اختلاف لا يضلل احدهم الآخر .
او زمونږ له دوي سره اختلاف د عقيدې دي ځکه دوي له خپل ځان نه بغير بل هر چا ته احنافو ته مشرکين وايي .
بل قيل الصوفية بخير ما تنافروا . وقال شيخ الإسلام الانصاري : اى ما لم يأمر أحدهم الآخر بالعرف والمرشد واجتناب المنهيات لم يكن فيهم خيراً .
ترڅو پورې يو بل ته په نيکي او نيکي ښودونکي چې مرشد ورته وايي امر و نه کوي خير به په کې را نه شي .
قال شيخ المحدثين امام السيوطي في اتمام الدراية .
مونږ دا عقيده ساتو چې :

نعتقد ان امامنا الشافعي ومالکاً وأباحنيفة وأحمد رضی الله تعالی عنهم و سائر الائمة علی الهدی من ربهم في العقائد وغيرهما. ونعتقد ان الامام اباالحسن الاشعري امام في السنة ای الطريقة المعتقدة و قدموه فيها علی غيره. ونعتقد ان طريقة ابي القاسم الجنيد سيد الطائفة الصوفية علماً وعملاً طريقة مقدم فهو خال عن البدعة دائر علی التدبير والتسليم والتبری عن النفس يبنی علی الکتاب و السنة.

تر دې ځايه چې کومې حوالې ما تاسو ته د احسان په رابطه ذکر کړي نو دا علم تصوف ده علم مراقبه علم سر ده علم اخلاص ده علم يقين ده او علم مکاشفه ده د قلوبو دغه مراد دي.

اوس هغه آيتونه چې د علم تصوف بيان په کې شوې وي :

قرآن کريم کې چې چيرته محسن او محسنون ګوري نو د پيرانو ترجمه يې کوي :

سورة بقرة آيت: ۱۹۵ : ﴿إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.

معنی دا چې خدای د صوفياء کرامو سره محبت کوي يا لري.

سورة بقرة آيت : ۱۱۲ : ﴿بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾. چا چې وسپاره ځان خپل خاص الله لره نو دې محسن دي.

محسن يې وويل مسلم يې ونه ويل ځکه مسلم به وي خو محسن به نه وي عمل کې به يې رياء وي د نفس اصلاح به يې نه وې شوې.

بلی من اسلم ذاته لله.

په خپله د انچه د شريعت ټول احکام راوستل که پنج بناء ده که مستحبات ټول يې په ځای کړل ليکن زړه کې رياء ده نو محسن کې علم اخلاص ته اشاره ده معنی دا چې دده قلب به هم د رياء نه خالي وي ظاهر او باطن ذات الله ته وسپاري.

فله اجره عند ربه ولا خوف عليهم ولا هم يحزنون.

نو دې ولي شو ځکه صفت د ولي ورته راغې.

بيا فرمايي په سورة نساء آيت نمبر ۱۲۵ کې :

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً﴾

استفهام انكاري ده ځوک به وي ښه له جهته د دين چې وي سپاره ځان خاص الله لره نو دې محسن ده اتباع د ملت ابراهيمي عقيده به يې جوړه وي .

اسلم وجهه لله . علم فقه په کې وي په شريعت برابر وي .

وهو محسن .علم احسان او علم طريقت به په کې وي نو دا درې واړه کارونه چې په کې وي .

همدارنګې سورة لقمان آيت ۲۲ :﴿وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ وَإِلَى اللهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ﴾ . ځوک چې ګردن نهاد کړي ځان خپل ذات إلى الله شريعت په ځان ومني خو محسن وي صوفي وي ورسره اخلاص ولري نو :

فقد استمسك بالعروة الوثقى .

اوس که يو سړي محسن دي د علم باطن دعوی کوي او استلام د ذات لله تعالی نه دې کړي دده دانچه د شريعت نه مخالف ده نو دا غټ فاسق ده داد ولايت او طريقت خاوند هيڅ کله نه شي جوړيدې .

لکه دا بعضې خلک چرسيانو ګير خريلو ته هم پيران مشائخ وايي نو هغوي خو من اسلم لله رانغلل چې دا خپل ذات تسليم کړ لپاره د شريعت قواعد و د شريعت ته يې ځان ګردن نهادن که خو ددې سره به محسن وي يعنې زړه به يې خالي وي د ماسوی الله نه او د شرک خفي او جلي نه نو هله به دې مستمسک شي .

بالعروة الوثقى او که اسلم وجهه لله وه خو محسن نه وه دې مستمسك بالعروة الوثقى په تمامه معنی نه دي او که محسن يې ځان ګڼلو خو تسليم نه وه نو دا خو له سره کيدې نه شي چې دې دې تسليم للشريعة نه وي او د احسان درجه دې ورته را شي دا خو بعيده ده همدا وجه ده الاية .

﴿وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا

الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾ . چا چې تابعداري د صحابو په احسان کې کړې ده .

والذين اتبعوهم بالإيمان يا بالإسلام يې ونه ويل ځکه که ايمان يې ويلې واي نو منافقين به هم عملاً داخل شوې وو په کې عقيده کې به يې اشتباه کړې واى اهل السنة به وي عمل کې به يې فسق وي .

نو دا حکم د الله بيا کله پرې صادقيده چې الاية رضي الله عنهم ورضوا عنه ، نو که مسلم وي اعمال يې برابر وي خو مؤمن نه وي عقيده يې خرابه وي .

او که بالإسلام يې ويلې وي نو فساق منافقين به په کې داخل شوې وي نو په هغوي باندې اعد لهم جنت الاية حکم کله چسپانيږي نو چې وي وويل : والذين اتبعوهم بإحسان ، نو اوس احسان بدون د ايمان نه کله راځي او بيا بدون د اسلام نه کله راځي .

اول به يې عقيده صحيح وي ، د ولايت علم يقين او مکاشفي مقام ته چې رسيږي نو دا دوه اويا (۷۲) ډلو کې تر اوسه څوک نه دي رسيدلې او نه به ورسيږي دوي کې خو دې څوک ولې پيدا کړي اول به يې ايمان وي او ايمان په عقيده د اهل السنة کې ده . ثانياً به علم شريعت باندې تلبس وشي . نو ثالثاً به دې درجې د احسان ته رسيږي .

نو چې هر کله ايمان راغې او د ايمان تقويه يې په بالإسلام وشوه او د هغې نه بعد يې زړه اخلاص بيا موند رياء نه پاک شو نو خود بخود دا حکم پرې چسپان شو چې : رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ ورضوا عنه .

دارنګې سورة نحل کې رب کريم فرمايلي :

﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴾ سورة نحل آيت : ۱۲۸ .

يقيناً خداى تعالى د متقيانو سره دي په معيت د نصرت سره او د توفيق او د هغو کسانو سره بالخصوص هم محسنون چې صوفيه دي مع الذين اتقوا کې عام علماء هم راغلل چې کوم متقيان دي او عوام متقيان دي خو بالخصوص والذين هم محسنون نو دا عطف د خاص راغې په عام باندې او عطف د خاص په عام دې کې اشاره وي شرف د خاص لره .

دارنګې سورة بقرة :

﴿وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ الآية خدای تعالی د محسنينو سره محبت كوي.

نو عمل كې اخلاص راولي رياء لرې كړي علم قلبي حاصل كړي تصفيه د قلب وكوي خدای تعالی د صوفيو سره محبت كوي.

او دارنګې سورة آل عمران:

﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ سورة آل عمران آيت: ١٣٣-١٣٤.

دې ځای كې قاضي ثناء الله صاحب وايي:

هم الصوفية الكرام.

دارنګې سورة آل عمران كې فرمايي:

﴿وَاللهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.

دا صوفيه دي دوي سره خدای تعالی محبت كوي.

دارنګې سورة مائده كې فرمايي:

﴿فَأَثَابَهُمُ اللهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ جَزَاء الْمُحْسِنِينَ﴾ سورة مائدة آيت: ٨٤.

دارنګې سورة اعراف آيت: ٥٦:

﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾.

همغه ترجمه.

دې سره هغه شبهه د بعضې جهالو دفع شوه چې د خداي نه يريږي نو هر څه چې كوي كور كې وكړه نو شيخ ته تللو كې څه حاجت دي، دوي داسې وايي چې تحليه بالشريعت د تصوف مقصد دي پير ته مه ځه تحليه راوله نو چې راوستي يې شي نو مه ځه نو راتلې نه شي بدون د شيخ نه لكه:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ سورة التوبة آيت: ١١٨.

دا مجلس او معيت د صادقينو چې امر راغلې ددې لپاره چې تقوی لازمي شيئ دی.

دارنګې :

﴿إِنَّ اللهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾.

صوفيوو ته اشاره ده .

دارنګې سورة يوسف آيت : ۲۲:

﴿وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ .

وروسته به عبارتو کې راشي دا اخذ يوائې ما نه دي کړي ډير نصوص ما تاسو ته پيش کړې هغه به وګوري هم ددې آيتونو نه علماء تصوف اخيستې دي .

دارنګې سورة عنكبوت :

﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾ سورة عنكبوت آيت: ۶۹.

دې ځای باندې تفسير راجح دادې چې دا آيت مكي دي نازل دي مخکې له فرضيت د جهاد نه.

بعضو مفسرينو دا عام کړې دي جهاد سيفي مع الكفار ته يې هم شامل کړي او جهاد مع النفس ته يې هم شامل کړي .

خپله حضرت عبد الله ابن عباس صاحب وايي چې دغه آيت د فرضيت د جهاد نه مخکې نازل شوې نو دا جهاد د والذين جاهدوا فينا يعنې في معرفتنا كوشش وکړي په معرفت زمونږ کې يا :

جاهدوا باتباعنا مع نفسه لنهدينهم سُبل معرفتنا .

د خپل معرفت لارې مونږ ورته ښايو .

وان الله لمع المحسنين .

دارنګې سورة الصافات ايت : ۷۸: ﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ . سورة الصافات آيت : ۷۸-۸۱.

دغه بدله مونږ صوفيو ته ورکوو چې دوي لاړ شي نو د خلکو په ژبو ددوي صفتونه جاري کوو لکه د صوفيه په مزارونو او نورو محفلونو عُرسونو کې خلک د هغوي اوصاف

بيانوي.

دارنګې سورة الصافات : ﴿وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾. سورة الصافات آيت : ۱۰۷-۱۱۱.

يعنې وترکنا دا صفت خاص په انبياء پورې نه دي دا مونږ صوفيانو ته هم ورکوو.

دارنګې همدغه سورة کې فرمايي :

﴿سَلَامٌ عَلَى إِلْ يَاسِينَ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ سورة الصافات آيت : ۱۳۱-۱۳۲.

دا هغه آيتونه وو چې په مضمون د محسن او محسنون سره اخذ د طريقت کيده او علماو کړې وو.

هغه آيتونه چې اخذ د علم باطن او علم طريقت ترې نه کيږي :

ددې علم ډير نومونه دي : علم اسرار ځکه اکثر رموز اشارات په کې دي ، علم مکنون هم ورته وايي ، علم اخلاص علم طريقت هم ورته وايي ځکه د حصول لپاره يې طرق اربعه لري ، علم باطن ورته هم وايي ځکه لطائف لري ، علم احسان ، علم مکاشفه هم ورته وايي ، علم لدني هم ورته وايي ځکه واسطه په کې نه وي دغه ټولو نومونو باندې دغه علم مسمى دي.

بل استدلال کوو دې آيت نه :

﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ سورة الكهف آيت : ٦٥.

وعلمناه ورکړې وه خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مونږ د خپل جانب نه علم.

تفسير قرطبي جلد ۱۱ صفحه ۱٦ ددې ځای دوه ترجمې کوي : ورکړې وه مونږ خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم غيب ، أي علم الغيب.

او ابن عطيه يې بله معنى کوي :

كان علم الخضر عَلَيْهِ السَّلَامُ علم معرفة بواطن قد أوحيت إليه لا تعطي ظواهر الاحكام افعاله بحسبها.

وكان علم موسى علم الاحكام والفتيا بظاهر أقوال الناس وأفعالهم.

نو علم د موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ علم ظاهر وه علم د خضر عَلَيْهِ‌السَّلَامُ علم باطن وه خو دلته به یوه خبره یاد ساتي چې بعضې جهال پیران وایي چې موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ ته د علم باطن نه حصه نه وه ناخبره داسې نه ده.

علم باطن دوه شقه لري یو شق د علم باطن چې کله سیر وشي مرتبه د اخلاص حاصله شي ریاء ختمه شي جلي خفي شرکونو نه زړه پاک شي تزکیه د نفس وشي د رذائلو خبیثو نه خو بیا کله چې دده سیر تام شي او دې د عروج نه بعد نزول ته راشي نو دده کار بیا په ارشاد کې وي.

څه نور صوفیه داسې دي په همدغه سیر وکړي چې اتصاف په همدغه اوصافو حمیده وو راشي نو چې کله د عروج نه نزول ته راشي نو دده کار په تکوین او تصرفاتو کې وي.

د موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ حق کې داسې ویل نه دي په کار چې د علم باطن نه لرلو د علم باطن هغه شق چې جانب د ارشاداتو دي او تحلیه بالشریعة دي علم اخلاص ده، تزکیه د نفس ده، تصفیه د قلب ده هغه څنګه ورته نه وو حاصل چې ورته نه وه حاصل نو پیغمبر څنګه شو دغه شیان خو چې چا کې نه وي فاسق ورته ویل کیږي نو داد علم باطن مفادات هغه کې وو نو چې کله دده عروج نه بعد نزول تام وشو دې په ارشاداتو مکلف شو چې ته خلکو
ته دعوت د شریعت ورکوه.

او خضر عَلَيْهِ‌السَّلَامُ په تصرفاتو او تکویناتو کې وظیفه لرله نو د علم باطن یو جهت د ارشاداتو ده بل جهت یې د تکویناتو ده دغه د تصرفاتو تکویناتو حصه د علم باطن موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ سره نه وه.

که څوک دا دې نه استدلال کوي چې موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ حصه د علم باطن نه، نه لرله غلطه خبره ده ځکه علم باطن خو عبارت ده د علم اخلاص او احسان وغیره نه، دا څنګه موسی عَلَيْهِ‌السَّلَامُ ته حاصل نه وه دا ورته حاصل وه صرف په امورو د تکوین کې شغل نه وه مکلف نه وه په دې باندې هغه کومه دعوی یې چې کړې وه خدای نه وه خوښه کړې چې اعلم په دې زمانه کې زما نه، نشته.

نفسي دا خبره ښه خبره وه صحیح وه اعلم بالشریعة له دې نه بغیر څوک نه وه دې باني د شریعت د یهودیت وه خو دا خبره د غه ځای کې د خدای تعالی نه وه خوښه شوې ځکه دې د

خواصو نه وه او خواصو عبادو ته په معمولي خبره هم دنیا کې یو څه تکلیف ورکوي نو بیا یې مامور کړ چې لاړ شه خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مشهوره واقعه ده .

نو دغه واقعه که څوک په غور سره قرآن کریم کې وګوري نو د علم باطن شواهدو ته هیڅ ضرورت نشته خپله سړي پوهیږي چې څه علم مکنون هم شته چې څه عباد هغې کې لګیا دي نو دا خو یې یو شق ده چې تکوین ده هغه جانب د ارشاد ته چې راشي په هغې کې ډیر مخلوق لګیا دي .

تفسیر البغوي جلد ۵ صفحه ۱۸۸ باندې لیکلي :

من عندنا و علمناه من لدنا علما .

ددې ترجمه کوي :

ای علم الباطن الهاما . دا علم باطن وه القاء ده ته کیده .

ولم یکن الخضر نبیا عند اکثر اهل العلم .

تفسیر اللباب لابن عادل جلد اول صفحه ۳۴۴۶ باندې هم دغه مضمون ذکر کړي .

تفسیر الماوردي ، النکت والعیون جلد ۳ ص ۳۲۵ تفسیر جلد ۳ صفحه ۱۷۱ ، تفسیر العز بن عبد السلام جلد اول صفحه ٦٢٧ ، دا ټولو دا ذکر کړي چې دا علم باطن وه .

تفسیر البیضاوي جلد ۳ صفحه ۵۰۸ باندې لیکلي :

فان موسی کان بحر علم الظاهر والخضر کان بحر علم الباطن .

تفسیر اللباب لابن عادل جلد اول صفحه ۲۷٦۰ کې لیکلي :

واما عبارة عن علم الباطن ورياضة القلوب ففي القران من مباحث هذا العلم ما لا يكاد يوجد في غيره .

او د علم باطن نصوص په قرآن کې دومره ډیر دي چې په بل کتاب کې نشته لکه دا آیت کریمه :

﴿ خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ﴾ سورة اعراف آیت : ۱۹۹ .

یا دا آیت : ﴿ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ ﴾ (سورة نحل آیت : ۹۰).

د احسان نه اخذ کوي چې دا طريقت ته اشاره ده إلى غير ذلك .
تفسير روح المعاني جلد ۳ صفحه ٦١ .
أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ كعلماء السوء من اهل الظاهر .
هغه علماء د ظواهرو باندې رد کوي چې کوم د تصوف نه لرې پاتي دي ليکي :
أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ كعلماء السوء من اهل الظاهر الذين لم يحصلوا من علومهم سوى العجب والكبر والحسد والحقد وسائر الصفات الرذيلة بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاء كالعارفين به الذين لا يرون لأنفسهم فعلاً .

دا يې هغه معنی کړې چې کوم امام رباني صاحب کړې ده وايي صحيح صوفي هغه دي چې شل کاله يې د چپې اوږې فرشته قلم پورته نه کړي ، او شل کاله بعد ورته په خپل ذوق او خپل زړه کې ځان ورته د کافر نه ښکته ښکاره شي ځکه وايي کيداې شي کافر به ايمان راوړي او زما به خاتمه خرابه شي نو دې وايي :
لا يرون لأنفسهم فعلاً .
ځان لپاره بالکليه ښه عمل نه ګوري چې ما به ښه عمل کړې وي .
دا حال په تصوف کې شته او دا دومره سړي باندې غالب شي له اندازې نه زيات هغه چاته يې معلومات کيږي چې څوک صوفي وي هر څوک خپل ځان باندې علم لري داسې حال ورته رسيږي چې تمام بازار کې څومره فساق فجار ګوري خپل ضمير کې ځان ترې ښکته ګڼي . په زړه کې زه خو همداسې يم تاسو نه خبر نه يم او دا حال به د صوفي خپل ذوقي وي ځان به ورته انتهائي کمزورې ښکارې له جهته د اعمالو نه او دعوو نه به ځان ډير لرې ساتي .
تفسير روح المعاني جلد ۸ صفحه ۳۴۳ باندې ليکي :
ما قاله الإمام الغزالي في الاحياء وهو ان علم الآخرة قسمان علم مكاشفة وعلم معاملة اما علم المكاشفة فهو علم الباطن وهو غاية العلوم وهو علم الصديقين والمقربين وهو عبارة عن نور يظهر في القلب عند تطهيره وتزكيته من الصفات المذمومة .
علم معامله علم د شريعت ده علم مکاشفه علم د طريقت دي .

بيان المعاني جلد ۴ صفحه ۱۹٦ کې ليکي :

آتيناه رحمة الخ أنه علم الباطن و على هذا اكثر العارفين و أهل العلم .

تفسير الثعالبي جلد ۲ صفحه ۴۳۰ باندې ليکي ، خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته فرمايي :

يا موسى إني على علم من علم الله علمنيه لا تعلمه يريد علم الباطن .

مراد يې په دې سره علم باطن ده .

و أنت على علم من علم الله علمكه الله لا اعلمه يريد علم الظاهر .

مراد يې علم ظاهر ده .

تفسير حقي جلد ۵ صفحه ۱۷٦ باندې دفعه د شبهاتو د بعضې خلکو يې کړې لکه بعضې خلک وايي چې داد خانقاګانو او د مزارونو جوړولو ته څه ضرورت دي چې دومره زيات مصرفونه کول او آباديانې جوړول ، دې وايي که دا اعتراض د پيرانو په دربار کوي نو بيا يې په مدارسو هم وکړي :

يقول الفقير : البناء اما لدرس العلم الظاهر و اما لتعليم علم الباطن فاذا كان بناء المدارس من البدعة الحسنة فليكن بناء الخانقاه منها ايضا .

نو چې جوړول د مدارسو له بدعاتو حسنو نه شوه نو جوړول د خانقاګانو دې هم دغه شان شي لکه بعضې جهال دا وايي چې دا دومره دربار ته څه ضرورت وه دا غر او پش ته څه ضرورت دي نو دا اعتراض دې کله په حقانيه کړې چې دا دومره بلډنګونو ته څه ضرورت دي نو چې داد بدعاتو حسنوو نه ده چې اداره د علم ظاهر ده نو هغه هم اداره د علم باطن ده هغه هم د بدعاتو حسنوو نه ده ولې :

بل بناء اشرف لشرف معلومة فمن قال انه ليس في مكة والمدينه خانقاه .

بلکې د علم باطن خانقا اشرفه ده ولې څکه له شرافت د معلوم دده نه په علم ظاهر کې ، ستا معلومات حلال او حرام دي او په علم باطن کې معلومات ستا معرفت د ذات د باري تعالى ده .

امام رباني رَحِمَهُ اللَّهُ همدغه دليل نيولي دي چې شرافت د علم له وجهې د شرافت د

موضوع نه وي او په علم باطن کې چې علم اخلاص علم مکاشفه دي علم معرفت الله دي هغه له موضوع د علم ظاهر نه بهتر دي بهر حال علماء ظواهر دې ته ترجيح ورکوي او صوفيه هغې ته ترجيح ورکوي دواړه به شواهد لري .

فمن قال انه ليس في مكة والمدينة خانقاه .

که څوک وايي چې په مکه مکرمه کې يا مدينه منوره کې ولې خانقاه نشته نو دا هم بې ځايه اعتراض دي دا سړې ګرځيدلې نه دي اوس هم بعضې جهال وايي دا پيران هلته ولې نشته .

په مکه معظمه سيد العلوي المالكي القادري د شيخ عبد القادر جيلاني صاحب سلسله چلوي دوهابيانو اهل حديثو سخت مخالف ده په فروعو کې شافعي مذهبي دي او په طريقت کې قادريه سلسله چلوي ډيرزيات نفوس لري په عربو کې باقاعده هر ماښام نه وروسته پاؤ کم يو ساعت بيانونه په ټيپ وي ريډيو باندې کوي او دا ما خپله ليدلي اوريدلي دي .

او په درس کې دا برګ رومال نه پريږدي دا ډير عجيب کار ده دليل دا وايي چې دا علامه د غلطو خلکو ده دا سره رومالونه به نه راوړي يو ځل ما خپله وليد چې سور دسمالي يې له خپل درس نه وشړه او ده يو کتاب هم ده چې نوم يې :

محمد الانسان الكامل .

دا د ده تصنيف دي نور هم ډيرزيات تصانيف لري او په مدينه منوره کې هم پيران شته د طرق اربعوو خو تقريباً اتيا (۸۰) کاله زيات او کم به کيږي چې د نجديانو حکومت پرې راغلي او په ابتداء د حکومت د دوي په طائف کې پنځه زره (۵۰۰۰) پيران او علماء د همدغو خوارجو له خوا حلال شول نو پيران به څنګه پاتې شي .

نو دې دا اعتراض ذکر کوي اسماعيل حقي صاحب که څوک وايي چې مکه مدينه کې خانقاوې نشته :

فما هذه الخوانق في البلاد الرومية وغيرها . ولهى عن الخانقاه والتردد اليه لجمعية الذكر واصلاح الحال .

او بيا نهي کوي د خانقاهاتو نه شک او تردد کول په دې کې د جمعيت د ذکر لپاره او د

اصلاح الحال لپاره.

بالخلوة و الرياضة فانما قاله من جهله وحماقته ونهي عن ضلالته وشقاوته فهو ليس بأمر بالمعروف ولا ناه عن المنكر بل بالعكس كما لا يخفى و لقد كثر أمثال هذا المنكر الطاعن في هذا الزمان مع انهم لا حجة لهم ولا برهان والله المستعان.

دې نه اخوا ما تاسو ته ډيرې حوالې د كتابونو او عبارات د طريقه متعلق ذكر كړي دي:

غرائب القران و رغائب الفرقان جلد ۲ صفحه ۱۳۵ ليكي:

وهذه حال اكثر من اوتي نصيبا من علم الظاهر ولم يؤت حظاً من علم الباطن فهم أهل الغرة بالله.

دا حال د هغه چا دي دا نكار چې كوي چې هغه د علم ظاهر نه حصه لري او د علم باطن نه يې نه لري، او دوي په الله جل جلاله ډير مغرور ه دي.

فكيف حال المغرورين اذا جمعهم الله.

څه به وي حال د مغرورينو چې الله جل جلاله يې راجمع كړي.

حاشيه السندي على ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۲۰۸ باندې له دې حديث سره ليكلي:

طلب العلم فريضة على كل مسلم و مسلمة.

دې ځاى كې علماء د علم ظاهر له دې حديث نه علم ظاهر اخلي او حال دا دى علم مطلق راغلي او مطلق چې كله وصف وي په خپل اطلاق به جاري كيږي كل انواعو ته به شامل وي د طلب د علم فرض دي العلم علمان نو لكه څنګه چې علم ظاهر فرض دي د غسې علم باطن هم فرض دي په علم ظاهر كې.

فنون مدون علم ظاهر نه دي دا قنطرة د علم ظاهر ده وسيله مقصود ته مقصود وي وسيله واجب ته واجب وي نو هر كله چې منتهى د علم ظاهر فرض وه هغه بدون د دغه فنونو نه حاصليده نو دا هم فروض كفايه للغير شول دا د هغه غير له وجهې فرض شول.

دغه شان علم باطن علم احسان علم اخلاص هم فرض دي په كل احد فرض عين دي البته

ددې د حصول دا طريقې چې کومې دي دا قنطرې ددې علم دي دا څلور سلسلې دا قنطرې ددې علم دي که بغير له دې نه يې څوک کوي او حاصلولې يې شي نو بيا در باندې لازمه نه ده او که نه يې شي حاصلولې بيا درباندې لازمي دي دا به يې مثال شي .

که يو سړي وايي علم ظاهر فرض ده خو مدرسې ته تلل خو فرض نه دي بلکې مستحب دي که دې علم ظاهر د ممبر نه يادوي د تقرير نه يادوي د کيسټ نه يادوي د مدرسې نه يادوي خو علم ظاهر فرض ده .دا طريقه د حصول يې بيا ندب مستحب ده .

دغه شان علم باطن فرض ده هغه علم اخلاص دا طريقه د حصول چې دې يې په څه کوي په جهاد يې کوي په جهاد هم کيدې شي هغلته هم تزکيه د نفس راځي په رياضاتو کوي روژي نيسي او که په اربعة طرق باندې کوي که بيا نه شي حاصليدې بيا دا لازم ګرځي .

علامه سندي ليکي :

اختلف في العلم الذي هو فريضة . اختلاف شوې چې دا فرضي علم کوم يو دي .

فقيل هو علم الاخلاص . دا علم اخلاص دي .

مأمور به کما أن العلم مأمور به و شهوات النفس تخرب مباني الاخلاص من المأمور به فصار علم ذلك فرضاً وقيل معرفة الخواطر و تفصيلها فريضة لان الخواطر في نشأة العقل و بذلك يعلم الفرق بين لمة الملك و لمة الشيطان و قيل هو طلب علم الحلال حيث كان أكل الحلال فريضة و قيل هو علم البيع والشراء والنكاح والطلاق إذا أراد الدخول في شيء من ذلك يجب عليه طلب علمه و قيل هو علم الفرائض الخمس التي بنى عليها الإسلام و قيل هو طلب علم التوحيد بالنظر والاستدلال والنقل و قيل هو طلب علم الباطن وهو ما يزداد به العبد يقيناً و هو الذي يكتسب بصحبة الصالحين و الزهادوالمقربين فهم ورثة علم النبيين صلوات الله وسلامه عليهم أجمعين .

فيض القدير د علامه مناوي شرح الجامع الصغير جلد ۴ صفحه ۳۵۳.

طلب العلم فريضة على كل مسلم دلته يې هم هغه عبارت د سهروردي صاحب رانقل کړې مناوي صاحب .

اختلف في العلم الذي هو فريضة قيل هو علم الاخلاص و معرفة آفات النفس وما يفسد

العمل لأن الإخلاص مأمور به كما أن العمل مأمور به وخدع النفس وغرورها وشهواتها يخرب مباني الاخلاص فصير علمه فرضاً وقيل معرفة الخواطر وتفصيل عللها منشأ الفعل وذلك يفرق بين لمة الملك ولمة الشيطان وقيل هو علم نحو البيع والشراء وقيل علم التوحيد بالنظر والاستدلال والنقل علم الباطن وهو ما يزداد به العبد يقيناً وهو الذي يكتسب لصحبة الأولياء فهم ورثة المصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

قال الغزالي في المنهاج العلم المفروض في الجملة ثلاثة .

فرض علمونه دري دي: علم التوحيد دا علم كلام دي ، وعلم السر دا علم باطن دي :

وهو ما يتعلق بالقلب ومساعيه وعلم الشريعة .

او علم ظاهر دي دا دري علوم د فرضو نه دي ګوري دا عبارت رد کوي د هغو مدرسينو په قول باندې چې اول يې مني نه او که يې مني نو مستحب ورته وايي ډير علماء زمونږ اهل السنة وايي دا مستحب ده بلکه مستحب بيعت ته وو ايي خانقاه مدرسې تګ ته مستحب وو ايه خو دا علم ته خو مستحب مه وايه دا علم خو فرض دي دا طريقه د حصول يې مستحب ده .

دارنګې فيض القدير شرح الجامع الصغير جلد ۴ صفحه ۴۳۰ باندې ليکي :

علم الباطن سر من أسرار الله عزوجل وحكم من حكم الله يقذفه في القلوب من يشاء من عباده .

د علم ظاهر مرکز ذهن دي او د علم باطن مرکز قلب دي او قلب کې چې انشراح راشي نو دا علم بيا ډيره فراخه لمن لري په مقابله د هغه علم کې هغه علم لره څه حدود دي څه خاصه اندازه ده ورلره وروسته به راشي چې د علم باطن نه منکر وي دې به په خطره کې له وجهې د سوء خاتمې نه آخره خاتمه به يې خرابه شي .

او کمه درجه د علم باطن داده چې د علم باطن د اولياء حال تسليم کړي او دا خپله د علم باطن نه يوه برخه ده .

د فيض القدير عبارت شروع ده :

قال الغزالي رَحِمَهُ اللَّهُ: علم الآخرة قسمان علم مكاشفة و علم معاملة و علم المكاشفة هو علم الباطن وذلك غاية العلوم و قد قال بعض العارفين من لم يكن له نصيب منه.

چا ته چې د علم باطن نه برخه نه وي.

يخاف عليه سوء الخاتمة. په ده باندې ويره د سوء خاتمې وي.

وادنى النصيب منه التصديق وتسليمه لأهله.

چې ومني علم باطن او اهل د علم باطن چې علم باطن هم شته او څه اهل يې هم شته چې انكار ونه كړي.

دارنګې فيض القدير شرح الجامع الصغير جلد ۴ صفحه ۵۱۰:

وقال الامام مالك: علم الباطن لا يعرفه الا من عرف علم الظاهر.

نه پيژني علم باطن لره مګر هغه څوك چې پيژني علم ظاهر لره.

فمتى علم الظاهر وعمل به فتح الله عليه علم الباطن.

چې علم ظاهر وكړي او بيا عمل هم پرې وكړي وروسته بيا ورته د علم باطن دروازه خلاصه شي.

ولا يكون ذلك الا مع فتح قلبه وتنويره.

او علم باطن د انشراح صدر سره ده چې فتحه د قلب ده او دا منور شي په نور سره.

بيا فرمايي:

ليس العلم بكثرة الرواية انما العلم نور يقذفه الله في القلب يشير إلى علم الباطن.

دا فقهاء ټول صوفيه دي ځكه اجتهاد بدون د تصوف نه كيدې نه شي ځكه استنباط څه ته وايي: طلب النبط، نبط څه ته وايي نبط هغه اوبه اول مستخرج من الماء كوهي وكنه چې كله كوهي كې اوبه راشي دغه اول اوبه خيرنې چې رابښكاره شي دغې ته نبط وايي نو استنباط معنى راويستل د اوبو له كوهي نه.

نو مجتهد يو نص پيدا كړي په هغې ډير تفريعات كوي بعيد بعيد دغو تفريعاتو ته ذهن نه وي رسيدلې قلب رسيدلې وي دده د قلب انشراح شوې وي په قلب كې ګوري دغو

دغو شیانو ته اشاره ده داسې هیڅ کله هم نه شي کیدای چې دا امامان دې صوفیه نه وي.

علم الروایة چې علم باطن و نه لري هغه به خامخا متضاد اقوال لري هغه به خامخا داسې خبرې کوي چې بیرته به یې خپله رد کوي د هغې مثال ابن تیمیه دي که په علم الروایة او علم الشریعت شي نو تر اوسه پورې داسې عالم چې دې په روایاتو جامع د اقوال دفقهاو وه ډیر کم به پیدا شي علم یې بالکل مسلم دي امت لره دې ډیر ژور ملا و ، ډیر آحادیث ورته یاد وه خو اقوالو کې یې تضاد وه ډیر زیات رد کوي په هغه خلکو چې دعوی یې د اسلام ده او مرتد دي لکه دده یو تصنیف دي الفرقان بین اولیاء الرحمن و اولیاء الشیطن جلد اول صفحه ۲۱۴ کې لیکي :

واذا قال انا محتاج إلى محمدٍ في علم الظاهر دون علم الباطن او في علم الشريعة دون علم الحقيقة فهو شر من اليهود والنصارى.

گوره دلته دې علم باطن مني چې شته دي که څوک دا علم باطن د شریعت محمدي مخالف گڼي نو دا شر ده.

الذين قالوا ان محمداً رسول إلى الاميين دون اهل الكتاب فان اولئك امنوا ببعض وكفروا ببعض فكانوا كفارا بذلك وكذلك هذا الذي يقولُ ان محمداً بُعث بعلم الظاهر دون علم الباطن آمن ببعض ما جاء به وكفر ببعض فهو كافر.

وهابیان ټول وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په علم باطن نه دې راغلې نو دده په قول وهابیان کافر شو او قائل ددې خبرې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مبعوث په علم باطن نه وه :

وهو أكفر من اولئك لان علم الباطن الذي هو علم ايمان القلوب ومعارفها واحوالها هو علم بحقائق الإيمان الباطنية وهذا أشرف من العلم بمجرد الاعمال الإسلام الظاهرة.

علم باطن یې ومنه او منکر د علم باطن ته یې کافر وویل او علم باطن ته یې اشرف علم وویل دا اوس د ابن تیمیه د کتاب عبارت وو خو لیکن چې کوم سړې خپله د تصوف نه لرې پاتې شوې وي نو د هغه په اقوالو کې حتماً تعارض وي او دا به اوس تاسو ته ښکاره شي :

اقامة الدليل على ابطال التحليل ابن تيمية جلد ۳ صفحه ۱۹۸ :

وان علم الباطن الذي كانوا يدعون حقيقته هو ابطال الرسالة التي بعث الله بها محمداً.

علم باطن چې دا خلک یې دعوی د حقیقت کوي دا وایي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رسالت لره مبطل دي د علم باطن دعوی چې څوک کوي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د رسالت نه منکر دي.

بنه اوس دا عبارت له هغه مخکې عبارت سره څنګه لږوي هلته وایي که څوک یې منکر شو کافر دي دلته وایي چې څوک علم باطن علم حقیقت ثابتوي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رسالت نه منکر ده نو اوس تاسو څه فتوی ورکوي دا ځکه چې ابن تیمیه علم باطن نه لرلو او حافظ د روایاتو وو نو دامتضاد اقوال یې په کتابونو کې پیدا کیږي کله یو څه وایي او کله بل څه وایي، یو کتاب یې یوه خبره کوي بل کتاب یې بله خبره کوي.

نو مجتهدین چونکې ټول صاحبان د علم باطن وو هغوي چې به یو قول وکړو نو بل قول به د هغې متضاد نه وو او که داسې یو څه پیدا شوي نو رجوع کړي لکه حدیث ورو سته ورته رسیدلې یا داسې شته خو داسې متضاد اقوال د هغوي په کتابونو کې نه پیدا کیږي.

بیرته اوس خپل ځای ته لاړ شئ !!! دارنګې فیض القدیر شرح الجامع الصغیر جلد ۴ صفحه ۵۱۳ باندې لیکي:

العلم علمان فعلم بالقلب فذلك هو العلم النافع.

دې حدیث باندې شرح کوي دا علم نافع ده نافع په دې معنی چې خپل صاحب ته نفع ورکوي هم په دې دنیا هم په هغې دنیا.

وعلم على اللسان فذلك حجة الله على ابن آدم فإن صاحب العلم اللساني الذي لم يتأثر منه. صاحب د علم لسان وي خو ده تأثر ترې نه وي اخیستې.

فانه محجوج عليه. دا علم پرې دلیل دي ویلې شي ده ته:

لما تقولون مالا تفعلون.

ممکن ده حمل د دې حدیث على علم الظاهر والباطن چې دا دې حمل شي په ظاهر او علم باطن علم نافع دا علم باطن شو علم اللسان دا علم ظاهر شو.

قال ابو طالب المكي علم الباطن و علم الظاهر اصلان لا يستغني احدهما عن صاحبه بمنزلة

الإسلام والإيمان.

دا دوه اصله دي چې استغناء يو نه بل باندې نه شي کيدې لکه ايمان او اسلام.

مرتبط كل منهما بالآخر كالجسم والقلب. نه جدا کيږي يو د بل نه.

او چا دا فرق کړې :

علم الباطن يخرج من القلب وعلم الظاهر يخرج من اللسان فلا يجاوز الآذان.

د غوږ نه اخوا نه دي.

وهذا لا ينصرف إليه اسم العلماء الذين هم ورثة الانبياء اذ هم العلماء العاملون.

دا علم ظاهري محض چې علم باطن ونه لري نه راجع کيږي ده ته نوم د هغه عالم چې وارث د نبي دي وايي دا هغه عالم نه ده چې وارث الانبياء دي ځکه وارثان د انبياء :

اذ هم العلماء العاملون الابرار المتقون الذين آل اليهم العلم الموروث بصفة التي كان عليها عند المورّث.

نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ علم خو په ده حجت نه وه نو وارث به هم هغه وي چې علم پرې حجت نه وي نو دا به علم نافع وي ښه استدلال يې کړي.

دارنګې حواشي الشرواني والعبادي جلد ۷ صفحه ۱۵۲ د علم باطن معنی کوي :

اى عن الخصال الرديئة والحميدة للنفس وهو التصوف.

علم باطن ته علم التصوف ويلې شي.

دارنګې مغني المحتاج إلى معرفة الفاظ المنهاج جلد ۱۱ صفحه ۱۶۸ :

وعن الغزالي في مقدمة المستصفى من العلم الديني علم الباطن يعني علم القلب وتطهيره عن الأخلاق الذميمة واختلف في الراسخ في العلم فقيل هو من برت يمينه وصدق لسانه واستقام قلبه.

مطالب اولى النهي جلد ۱۸ صفحه ۳۶۶.

وقال الشيخ تقي الدين، دلته د ابن تيميه د الفرقان هغه عبارت رانقلوي تقي الدين

ابن تيميه ده :

او اعتقد ان لأحدٍ طريقاً إلى الله من غير متابعة محمد ﷺ او لا يجب عليه أتباعه او قال انا محتاج إلى محمد ﷺ في علم الظاهر دون علم الباطن او هو محتاج إليه في علم الشريعة دون الحقيقة فهو كافر .

دا يې د ابن تيميه هغه عبارت را نقل کړ.

دارنګې عوارف المعارف للسهروردي جلد ۱ صفحه ۲۳ طلب العلم فريضة کې خبره کوي :

وقيل هو طلب علم الباطن وهو ما يزداد به العبد يقيناً وهذا العلم هو الذي يكتسب بالصحبة ومجالسة الصالحين من العلماء المؤقنين والزهاد المقربين .

دا عبارتونه د علماءِ من لدنا علماً د علم باطن او د علم باطن سره قريب معاني چې چا کړې وه هغې کې ذکر شول .

بل استدلال د قرآن عظيم الشان نه :

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ﴾.

داد قراء و مجودينو وظيفه ده .

ويعلمهم الكتاب والحكمة د علماء د علم الظاهر او علم الشريعة وظيفه ده .

ويزكيهم چې پاکوي دوي لره له دنس د شرک جلي او خفي نه شرک خفي رياء ده په قرآن عظيم الشان کې څلور ځايه دا صفات نبي عليه السلام ته راغلي دي .

يو ځای کې تعليم الكتاب مقدم دي په يزكيهم باندې درې ځايه تزکيه مقدمه ده په علم باندې .

سورة آل عمران آيت : ۱٦۴ کې فرمايي :

﴿لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ﴾

تزکيه مقدمه ده .

﴿ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾.

دارنګې سورة جمعه آیت : ۲ کې فرمايي :

﴿ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾.

دارنګې تفسير السعدي جلد صفحه ۷۴ کې :

ويزكيهم اى يطهر اخلاقكم و نفوسكم بتربيتها على الأخلاق الجميلة وتنزيهها عن الأخلاق الرذيلة و ذلك كتزكيتكم من الشرك إلى التوحيد ومن الرياء إلى الاخلاص ومن الكذب إلى الصدق ومن الخيانة إلى الأمانة ومن الكبر إلى التواضع ومن سوء الخلق إلى حسن الخلق ومن التباغض والتهاجر والتقاطع إلى التحاب والتواصل والتوادد وغير ذلك من أنواع التزكية.

دارنګې تفسير روح المعاني جلد ۱ صفحه ۳۸۵ :

ويزكيهم اى يطهرهم من ارجاس الشرك وانجاس الشك وقاذورات المعاصي.

په دې کې اشاره ده الى التخلية لکه په تعليم الکتاب و السنة کې اشاره ده الى التحلية.

ولعل تقديم الثاني على الاول لشرافته.

دا ده استدلال ده خو تام نه ده ځکه تقديم د تعليم تزکيه باندې يو ځای راغلې او تقديم د تزکيې دري ځايه راغلې بيا به هغه خلک هغه استدلال وکړي.

اوس دلته بعضې مفسرين دا اخلي چې مراد اخذ د زکوة د اموالو دي چې مال يې صفا شي نو دې وايي :

والقول بأن المراد يأخذ منهم الزكاة التي هي سبب لطهرتهم او يشهد لهم بالتزكية والعدالة بعيد.

دارنګې تفسير الدر المنثور في التفسير بالمأثور للسيوطي جلد ۱ صفحه ۷۱۷ :

وأخرج ابن جرير عن ابن جريج في قوله ويزكيهم قال يطهرهم من الشرك.

جلي او خفي نه.

ويخلصهم منه . اخلاص ورکوي .
دارنګې تفسير القرطبي جلد ۱۸ صفحه ۹۲ :

ويزكيهم أي يجعلهم أزكياء القلوب بالإيمان . قاله ابن عباس : ويزكيهم أي يطهرهم من رذائل الأخلاق و دنس النفوس . تفسير ابن كثير جلد صفحه .

نو دا ټولو مفسرينو د تزکیه نه تزکیه د نفوسو او قلوبو واخيسته هغه مراد ده .
تردې ځايه دا مبحث چې وه استدلالات من القرآن الكريم وه او تائيدات د مفسرينو ، محدثينو او څه عبارات د علم فقهې په کې وه .

المبحث الثاني : الاستدلالات من الاحاديث :

دې کې به ذهن خلاص کړو چې علم يو نه دې علمونه دوه دې دويم علم هم حاصلول په کار دي . الترغيب والترهيب لقوام السنة جلد ۳ صفحه ۹۴ :

أخبرنا علي بن محمد الأنباري قال أخبرنا أبو عمر بن مهدي قال أخبرنا اسماعيل الصفار قال حدثنا عمر بن مدرك قال حدثنا عبد السلام بن صالح قال حدثنا يوسف بن عطية قال حدثنا قتادة عن الحسن عن انس .

دا حديث به وروسته راشي دا په حسن باندې مرسل دي خو دلته دې سند کې عن الحسن عن انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ارسال ختم شو انس صاحب په کې معلوم شو چې دا د انس صاحب نه رانقل کړي قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ......

العلم علمان ، علمونه دوه دي علم في القلب يو علم د زړه دي .

فذاك العلم النافع وعلم على اللسان فذاك حجة الله على بني آدم .(سنن الدارمي جلد ۱ صفحه ۱۱٤).

هلته دا حديث د حسن بصري ده موقوف ده دي خپله وايي مقطوع دي :

اخبرنا مكي بن ابراهيم قال حدثنا هشام عن الحسن قال قال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : العلم علمان فعلم في القلب فذلك العلم النافع وعلم على اللسان فذلك حجة الله على بن آدم .

ددې له هغې سره تعارض نشته چې يو سړي وايي چې دلته تعارض راغې دا مقطوع ده هغه مرفوع وه ډیر کرته يو سړي مجلس کې خبره کوي خپله يې کوي.

هغه خبره يې حديث کې کتلې وي کله يې مرفوع کوي بيا يو مسئله وي وايي رسول اكرم ﷺ داسې فرمائلې دي، بله ورځ همغه خبره د عوامو مجلس کې ته کوي خو حديث نه پيش کوي او مسئله ذكر كوي.

حضرت حسن خپله خبر ذكر كړي خو خبر دده له حديث د رسول الله ﷺ نه اخذ شوې وه.

شعب الايمان جلد ۳ صفحه ۲۹۳:

أخبرنا أبو عبدالله الحافظ قال سمعت اسماعيل بن محمد يقول سمعت جدي يقول سمعت علي بن حكيم الاودي يقول قال الفضيل بن عياض: العلم علمان علم باللسان و علم بالقلب فذاك العلم النافع واما العلم باللسان فذلك حجة الله على خلقه.

مسند الربيع بن حبيب جلد ۱ صفحه ۳۶۵:

عن جابر بن زيد أن النبي ﷺ قال: العلم علمان علم باللسان فذلك حجة الله على ابن آدم وعلم بالقلب فذلك العلم النافع.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱۳ صفحه ۲۳۵ دلته حسن بصري مرسل ذكر كوي:

حدثنا ابن نمير قال حدثنا هشام عن الحسن قال قال رسول الله ﷺ العلم علمان علم في القلب فذاك العلم النافع و علم على اللسان فتلك حجة الله على عباده.

مراسل د حسن بصري په اتفاق د امت سره مقبول دي بيا هم سره ددې ترغيب الترهيب د قوام السنة هغه پرې دال ده چې دلته راوي انس صاحب دي.

الزهد لابن المبارک جلد ۷ صفحه ۴۰۷ هم دا حديث ذكر كوي.

جامع العلوم والحكم محقق جلد ۳۸ صفحه ۲۰:

العلم الذي على اللسان وهو حجة الله كما في الحديث: القرآن حجة لك او عليك. فأول ما يرفع من العلم العلم النافع.

اول چې عبادو ته او چتيږي او ختميږي هغه علم نافع ده دا علم النافع بيا څه شي ده :

هو العلم الباطن الذي يخالط القلوب ويصلحها .

زړه ته راشي زړه صالحه کړي اول به مخ د ځمکې نه دا علم ختم شي ګورئ نن صبا څومره کم شوي په ختميدو دي .

ويبقى علم اللسان حجة فيتهاون الناس به .

او دا سپکاوې اوس په مختلفو طريقو شروع ده ، علماء قتلولې شي دهشت ګرد ورته ويلې شي دا تهاون دې کنه .

ولا يعلمون بمقتضاه لا حملته ولا غيرهم .

خپله علماء به هم عمل نه کوي چې حاملين د علم دي او غير به يې هم نه کوي سپک به شي چې سپک شو .

ثم يذهب هذا العلم بذهاب حملته .

دا علم به هم لاړ شي ځکه حمله به يې لاړ شي هغه مشائخ عاملين او علماء مشران به هم ختم شي .

فلا يبقى إلا القرآن في المصاحف وليس ثَمَّ من يعلم معانيه ولا حدوده ولا احكامه .

او هيڅ به هم پاتې نه شي په مصحف د قرآن نه به وي دغلته څوک چې پوه شي په صحيح معنى ددې باندې نه به يې حدود څوک مني او نه احکام .

ثم يسرى في آخر الزمان .

شپه به وي د شپې آخري زمانه کې به لاړ شي دا الفاظ د قرآن .

فلا يبقى في المصاحف ولا في القلوب منه شيء بالكلية وبعد ذلك تقوم الساعة .

الأربعين في التصوف للنيسابوري .

څلويښت آحاديث د علم تصوف متعلق ذکر کوي جلد ۱ صفحه ۱۵ **باب اباحة الكلام في باطن العلم وحقيقتها .**

خپل سند سره حديث ذکر کوي له حضرت ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه :

ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : ان من العلم كهيئة المكنون .

څه علم دي چې پټ دي ، لا يعرفه عالم نه دي په دې باندې .

إلا العلماء بالله عزوجل . عالماً بالله نه مراد عارفين بالله دي .

فاذا نطقوا به لا ينكره الا اهل الغرة .

تفسير روح المعاني جلد ۸ صفحه ۳۴۳ :

وكان في قوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان من العلم كهيئة المكنون لا يعرفه الا العلماء بالله تعالى فاذا قالوه لا ينكره الا اهل الغرة بالله تعالى اشارة الى ذلك والمراد باهل الغرة علماء الظاهر الذين لم يؤتوا ذلك .

الفردوس بمأثور الخطاب جلد ۳ صفحه ۴۲ : علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راوي دي :

علم الباطن سر من سر الله عزوجل وحكم من حكم الله يقذفه في قلوب من يشاء من اوليائه .

دارنګې فيض القدير شرح الجامع الصغير جلد ۴ صفحه ۴۳۰ .

علم الباطن کې خبره کوي دا حديث ذکر کوي :

سر من اسرار الله عزوجل وحكم من حكم الله يقذفه في قلوب من يشاء من عباده قال الغزالي علم الآخرة قسمان علم مكاشفة و علم معاملة و علم المكاشفة هو علم الباطن و ذلك غاية العلوم و قد قال بعض العارفين من لم يكن له نصيب منه يخاف عليه سوء الخاتمة وادنى النصيب منه التصديق وتسليمه لاهله .

دارنګې تفسير مظهري جلد ۱ صفحه ۷۴۸ :

ولا يتصور التنزه عن المعاصي .

متصور نه ده کمال تنزه له معاصيو نه الا بدوام الحضور مګر چې زړه ذاکر شي .

وصفاء القلوب والنفوس وذا لا يتصور الا بجذب الله بتوسط المشائخ .

صفائي د قلوبو او نفوسو متصور نه ده مګر په رابنکلو سره چې د خالق لخوا وشي په واسطه د مشائخو .

فعليك التشبث بأذيالهم . لازم دي په تا چې لمن د دغه مشائخو ونيسي .

فهم قوم لا يشقى جليسهم ولا يخاف انيسهم .

دارنګې تفسير المظهري جلد ۱ صفحه ۹۳۸ :

فلا بد لقطع مادة الغفلة . لابدي ده چې دغه ماده د غفلت درنه ختمه شي په :

في التشبث بأذيال الصوفية حتى يسقط عن البصائر كل ما عدالله تعالى .

دارنګې تفسير مظهري جلد ۱ دا صفحه مرقم ده د ټولو جلدونو :

ومن لم يفهم كلام الصوفية . څوک چې نه پوهيږي په خبرو د صوفيو .

فعليه التشبث بأذيالهم . ددوي لمن دې ټينګه کړي .

حتى يتبين لهم انه الحق .

دارنګې تفسير مظهري جلد ۱ صفحه ۷۱۱ :

واما العلم اللدني الذي يسمون اهلها بالصوفية الكرام هر چې علم لدني ده چې صاحبانو ددې علم ته صوفيه وايي :

فهو فرض عين . دا فرض عين دي .

لان ثمراتها تصفية القلب . ځکه ددې ثمره تصفيه د قلب ده .

عن الاشغال بغير الله تعالى واتصافه بدوام الحضور وتزكية النفس عن رذائل الأخلاق

من العجب والكبر والحسد وحب الدنيا والكسل في الطاعات وايثار الشهوات والرياء والسمعة

وغير ذلك .

تفسير نسفي جلد ۲ صفحه ۲۴۷ : ﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ کې ذکر کوي :

يعني الاخبار بالغيوب وقيل العلم اللدني ما حصل للعبد بطريق الالهام .

دارنګې روح المعاني جلد ۷ صفحه ۷۴ :

وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَاهُ اشارة الى العلم اللدني وهو على نوعين ظاهر الغيب وهو علم دقائق المعاملات والمقامات والحالات والكرامات والفراسات وباطن الغيب وهو علم بطون الأفعال.

و يسمى حكمة المعرفة وعلم الصفات ويسمى المعرفة الخاصة و علم الذات ويسمى التوحيد والتفريد والتجريد و علم الأسرار القدم و يسمى علم الفناء والبقاء.

داد صوفيه كرامو خپل اصطلاحات دي.

تفسير روح المعاني جلد ۸ صفحه ۳۴۱:

وفي رسالة القشيري طرف منه والذي ينبغي ان يعلم ان كلام العارفين المحققين وان دل على انه لا مخالفة بين الشريعة والطريقة والحقيقة لكنه يدل ايضاً على ان في الحقيقة كشوفاً وعلوما غيبية.

ولذا تراهم يقولون علم الحقيقة هو العلم اللدني و علم المكاشفة و علم الموهبة و علم الاسرار والعلم المكنون و علم الوراثة.

دا اصطلاحات ددوي دي.

علامه صابوني زياته ترجيح علم تصوف ته وركوي دا معصر ده دې زمانه کې.

دارنګې صفوة التفاسير للصابوني جلد ۱ صفحه ۱۱۲:

فائدة العلم نوعان كسبي و وهبي اما الاول فيكون تحصيله بالاجتهاد والمذاكرة.

هر چې ثاني ده وهبي ده:

فطريقة تقوى الله والعمل الصالح كما قال تعالى واتقوا الله ويعلمكم الله وهذا العلم يسمى العلم اللدني اى الوهبي وآتيناه من لدنا علما هو العلم النافع الذي يهبه الله لمن يشاء من عباده المتقين.

وإليه أشار الإمام الشافعي بقوله شكوت الى وكيع سوء حفظي فارشدني الى ترك المعاصي اخبرني بأن العلم نور و نور الله لا يعطي لعاصي.

وايي دغه اشاره چې علم ته يې نور ويلي دا علم قلب ده .

غرائب القرآن و رغائب الفرقان للنيسابوري جلد ۲ صفحه ۴۳۰ :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ.

ددې تاويل کوي مراد د اوتوا الکتاب نه علماء الظاهر اخيستې .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ ظاهراً ولم يؤتوا علم باطن الكتاب .

چې علم ظاهر لري علم باطن نه لري .

آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا على الاولياء من علم باطن القرآن .

وايي :اى علماء د علم الظاهر تصديق وکړي د هغه حالاتو چې مونږ اولياء ته ورکړي چې هغه علم د باطن دي .

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم. من العلم الظاهر لأن أهل العلم اللدني يصدقون اهل العلم الظاهر .

مشائخ د علم باطن وايي تصديق او عزت کوي د علماء د اهل الظاهر .

ولكن أهل العلم الظاهر يصعب عليهم تصديق علوم الاولياء لانه لا يناسب عقولهم .

واي علماء په مشائخو باندې رد کوي مشائخ په علماء رد نه کوي هغه ددوي علوم تسليموي خو دوي د هغوي علوم نه تسليموي ځکه ددې عقل يې واي درک نه کوي .

روح المعاني هم يوه داسې عجيبه معنی کړې ده :

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا﴾ .

ددې معنی روح المعاني په باب الاشارات کې دا کړې ده :

ان الذين آمنوا بحقيقة الإيمان .

وايي هغه چې په بيعت د يو شيخ کامل کې راشي دا حقيقة الايمان ده .

ثم كفروا . لږ وخت تيريدو سره تردد ورته راشي نو دا شيخ پريږدي تر ې نه لاړ شي دا هغه کفران ددې نعمت دي .

ثم آمنوا .بيا چې دا نور مريدان او حالات د هغوي وګوري نو بيرته يې شوق پيدا شي بيا راشي او دې سلسله کې داخل شي .

ثم ازدادوا كفرا . لږ وخت بعد بيا لاړ شي كله چې بيا لاړ شي نو ازدياد د كفر وكړي ازدياد د كفر دا دى چې خلكو ته وايي دې شيخ ته مه ورځي زه ورغلې وم څه ورسره نه وو څه كمال نه لري ..... دغه زما وس كې وه خبر مې كړي بيا بنه غرق شي .

بعضې علماء لكه ملا علي قاري صاحب د حضرت ابي هريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغه حديث نه اخذ كړي چې وايي :

حفظت من رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعائين فاما احدهما فبثثته فيكم و اما الآخر فلو بششته قطع هذا البلعوم يعني مجرى الطعام .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دوه لوخي ما ياد كړي دي يو مې وشينده چې علم الرواية وه .

و اما الآخر نو دې ځاى كې بعضې علماء وايي چې دا اسامي د اهل فتنوو وه .

او ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ مرقات كې د غه ځاى باندې تحقيق كوي او دې كې علم باطن داخلوي چې د نه شو وويلي دا علم السر وه علم د مكاشفې وه چې د هغې نه خبرې نه كيږي دا څومره چې مونږ كوو ددې اجازه صوفيه نه وركوي .

ځكه داد زړه خبرې دي هغه څوك پرې پوهيږي چې حيات قلبي ولري په زړه كې څه حركت كيفيت او انشراح راشي او په زړه كې څه القاءت الهامات راغلل همغه پوهيږي نو كوشش وكړي چې تعصب ونه كړي او دغه علم چې په مختلفو نومونو ياديږي دا يو مفروض علم دي .

دا تول فقهاء دې ته ذهاب كوي چې علم يو نه دي بلكې العلم علمين علمو نه دوه دي نو كوشش وكړي اولاً د يو خكلي شيخ سره بيعت وكړي او عوامو ته يې هم تلقين وكړي .

بنائسته طريقه دې كې استخاره ده استخاره ددې لپاره ده چې تاته تعين د طبيعت د شيخ وشي تعين د طبيعت د شيخ ځكه ضرور وي چې طبيعتونه په جلال او جمال كې قسمين لري .

غښ تقسيم د طبعياتو انسانيو جلال او جمال ته شوې ده لكه چې ستا طبيعت جمالي وي او ستا د شيخ طبيعت جلالي وي نو ستا او د هغه مينځ كې د باطن لاره نه خلاصيږي .

ددې وجه دا وي چې ته بيا معترض جوړيږي شيخ جلالي طبيعته په يو معمولي امر كې

ډیر تشدد کوي هغه به اتباع د شریعت وي خو هغه خبره ډیر په سختي کوي او دا به ستا په طبیعت نه لږیږي چې بده ولږیده نو ته معترض جوړیږي او په دې سره سد الباب رائحي .

او که شیخ ستا جلالي نه وه جمالي وه ته جلالي نو بیا ډیر کرته هغه یو چا سره نرمي کوي بیا ته معترض جوړیږي ، نو دا استخاره د تعیین د طبیعت لپاره وي .

او امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ چې کوم قول ده :

من تفقه ولم يتصوف فقد تفسق .

نو اشاره همدې خبرې ته ده علم تفقه یې وکړ او تصوف یې ونه کړ نو علم مفروض ترې پاتې شو علم اخلاص نه لري تزکیه د قلب یې نه ده شوي .

مرقات جلد ۱ صفحه ۵۲۶ دا عبارت نقل کړي .

قصيدة شافعي :

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ نصیحت کوي خپل کتاب کې په اشعارو کې :

فقيهاً و صوفياً فكن ليس واحداً . فقیه او صوفي یو مه جوړیږه .

فاني وحق الله اياك انصح .

په ذات د خدای مې دې قسم وي زه تاسو ته نصیحت کومه .

فذاك قاص لم يذق قلبه تقى .

دا یو ائحې فقیه دلیل باز دې د زړه تقوی یې نه ده څکلې .

وذاك جهول ، او دا یو ائحې صوفې چې ده عالم نه ده نو جاهل ده .

كيف ذوالجهل يصلح ، نو جاهل به د بل اصلاح څنګه وکړي .

دا شعر په قصیده د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ جلد اول صفحه ۳٦ کې ده .

د علماء دیوبند چې کوم اکابر علماء دي دا ټول صوفیان وه په یو نه یوه طریقه کې دوي داخل وه .

د نن زماني چې کوم مشران علماء د اهل السنة دي او شیوخ دي دا ټول صوفیان دي خامخا د یو چا مریدان دي نیکان او صالحان د درس او تدریس سره د تصوف کار هم کوي

تربیت د مریدانو کوي.

دغه شان حدیث کې راځي: چې یو سړي نیک او صالح شي نو خدای تعالی دې په دوستۍ ونیسي یو ولایت عام دي الله ولي المؤمنین.

یو: لا یزال العبد یتقرب الي بالنوافل حتی احببت.

داد بخاري شریف حدیث ده نوافلو باندې اتیان کوي زه یې محبوب ګرزوم دغه ولایت خاص ده نو چې کله دې په ولایت خاص کې قدم کیږدي خدای تعالی جبرائیل امین ته حکم کوي چې دغه سړي ما په دوستي ونیوه ته یې هم په دوستي ونیسه.

بیا جبرائیل عَلَیْهِ السَّلَامُ د اوم آسمان فرشتو ته اعلان کوي چې الله تعالی فلانکي عبد په دوستي نیولې تاسې یې هم په دوستي ونیسي.

دا سلسله همداسې شروع وي د یو اسمان فرشتې بل اسمان ته اعلان کوي دا خبره ځمکې ته راورسیږي اعلانونه وشي چې الله تعالی فلاني عبد په دوستي نیولي تاسو یې هم په دوستي ونیسي دا خبره عامه شي په خلکو کې.

نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ فرمایي د هغې نه بعد دغه بنده ته د عبادو په زړونو کې ځای ورکړي.

نو اصل کمال صالحیت مصلحیت او د هلاکت نه بچ کیدل دي خپله به هم صالح وي او د بل اصلاح به هم کوي.

زما یو استاذ وه د شپې ناوخته یولس (۱۱) بجي راغي زما دې کافیه سره ډیره مینه وه دا مې کتله او دا شرحې مې پرې کتلې هغه رانه لاړو دولس (۱۲) بجي بیا راغي زه بیا کتاب ته ناست ومه صوفي وه زما شیخ هم وه د طریقت محترم ضیاء الله صاحب مبارک رَحِمَهُ اللّٰهُ یوه (۱) بجه بیا راغي زه هماغسې ناست ومه کتاب مې کتلو راغې کیناستلو دا کتاب او شرحې یې رانه ټولې کړي راته وي ویل پشاور ملا زه باجوړ کې ومه ما ته یې وویل چې دا کافیه سره د شرحو به یاده کړي ډیره غټه مکتبه یې وه اشاره یې ورته وکړه په لاس سره وایي دا به ښوک ګوري دا به ښوک یادوي ما ورته وویل چې څه شي وکمه وایي دا دعاء مه غواړه چې بس ګوره ګوره دا ټول کتابونه بلکې دا دعا وغواړه چې خدایا اشرح صدر راکړي وایي په ما یو کال داسې تیر شوې دي چې ما به کتاب را واخیسته پاڼي به مې وشمارلې کتاب کې به چې څه پراته وه هغه به زما حافظه کې بیا پراته وه.

وايي دا كتابونه ګوره دا ټول ما د اول نه آخره پورې پاڼې شمارلي دي خو چې څه په کې وه زما ذهن کې دي اوس وايي د انشراح صدر دعاء وغواړه په مطالعه دا نه پوره کيږي چې استاذ نه يې وايه يا مطالعه کوه په دې شيانو نه پوره کيږي که مکتبو ته لاړې دومره کُتب ليکلې شوې دي چې دا عمر صرف کړي نظر نه به يې هم ونه باسي حتی چې نومونه به يې هم ياد نه کړي پاتې خو لا د هغې دننه مسائل شول نو هر مانځه نه وروسته دا دعاء کوي چې:

﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾.

بل خاصو خاصو صوفياء کرامو ته چې ستاسو ورباندې د ذهد او صلاح يقين وي هغلته ورځي ورسره کيني حديث شريف کې راځي چې کوم سړي مو وليده چې چپ ناست وه ځانته وه له خلکو نه کيني ورسره:

فانه يلقي الحکمة. دا خلکو ته حکمت القاء کوي.

﴿وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾.

الدين النصيحة.

دين د خيرخواهي نوم وي او زما ورونه يې ټول مسلمانان يې دغه د خير مشوره در کوم درته چې څوارلس کاله مو علم ظاهر کې تير کړل خير دي يو پنځه شپږ کاله دې علم تصوف کې هم تير کړي وګوري بيا تاسې چې ددې ثمره بيا څومره ده او دې کې څومره خير وي خو چې صالح وي د بيکاره سړي په لاس ورنه شي او هغه شيخ هم داسې وي چې لکه څنګه علم ظاهر کې دا څلور مذهبه دي او څلور مذهبه اصول لري جزئيات لري ائمه اري.

دغه شان علم باطن کې امامان دي امام د طريقې نقشبندي شاه بهاوالدين نقشبند رَحِمَهُ اللَّهُ د اولينو نه دي او ثانياً امام رباني مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللَّهُ تفصيل د جزئياتو ددې طريقې کړې دي شيخ عبد القادر جيلاني رَحِمَهُ اللَّهُ د قادرې شريفې امام دي او شيخ شهاب الدين سهروردي عوارف المعارف لوي کتاب يې دا غټ عالم وه د سهروردي طريقې امام دي او معين الدين چشتي اجميري دا د چشتي طريقې امام دي.

دا سلسلې خو مخکې نه راچليدلې وي خو دوي دې ته جزئيات فروعات او دې ته تفصيل ورکړل دې ته څه اصول وضع کول دا دوي کړې دي په دې نسبت چشتي قادري

نقشبندي سهروردي دا نسبتونه کيږي دوي ته لکه په علم ظاهر کې حنفي حنبلي مالکي شافعي دا نسبتونه مونږ کوو چونکې امامان په دې کې راغلل هغوي ته منسوب شول دغه شان په طريقو کې هغوي ته منسوب شول نو دغه آئمه لري او چې هر شيخ ته لاړي او هغه نقشبندي وه نو مخکې نه د نقشبندي څه کُتب وګوره چې نقشبنديه د لسان ذکر ورکوي که نه جهري ذکر سره موافق دي که مخالف دي نقشبندي حضرات د ذکر جهر سر سخت مخالف دي او بل لساني اسباب په دې کې نه وي چې ته ورشي د نقشبندي شيخ ته او هغه تاته ووايي چې مثال په طور تا ته ووايي چې يا لطيف وايه يا ودود وايه لکه دا خو اسماء الحسنی دي دا په څلورو طريقو کې د يوې طريقې سبق هم نه دي نو دا هسې اوراد ورکول دي او دا سلسله نقشبنديه بيا نه ده يا چا ته وايي استغفار وايه نو استغفار نه ته چا منع کړي يې هغه خو حديثونه ثابت دي وايه يې کنه سل ځل مسنون دي هغه وايه نو هر سلسله کې مو چې خوښه وي استخاره وکړي .

تفسير قرطبي ليکلي چې استخاره بايد اوه (۷) شپې مسلسل وشي اوه (۷) شپو کې دي چې څه وليدل هغې پسې بايد ذهاب وشي .

حکايت :

ما ته څه طالبان راغلې وه د دارالعلوم سرحد نه په هماغه کال فارغيدل د دوري طالبان وه چې راغلل نو په صوفيانو يې اعتراضونه لرل او ښه احناف وه نو دري واړه ما سره ناست وه ښه قدر مې ورکړو ما ته يې وويل چې د مسلم په مقدمه کې په صوفيوو رد راغلې .

ما ورته وويل څه دې په کې وايي : **مارأيت من الصالحين اكذب في الحديث منهم** ، په حديثو کې لوي دروغجن د صالحينو نه مانور نه دي کتلې وايي دا صالحين پيران دي کنه ما ورته وويل چې دا خو ته ترجمه کوي چې مراد له صالحانو دلته پيران دي پيران خو صاحبان د علم باطن دي او لاندې په منهاج کې امام نووي صاحب بيا دا تفصيل هم کړي دې چې اصلاً صالحين چې وي دا صادقان وي دوي ته چې څوک حديث ووايي نو هغه وايي چې زه هم داسې دروغ نه وايمه نو په نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ دروغ به لا څنګه وايمه نو هغه په بل مؤمن هم د خير ګمان کوي وايي څه دروغ به نه وايي دا به حديث وي زر عمل شروع کړي نو وايي دا ددوي عيب نه دي دا يې صفت دي ځکه چې دوي صادقين دي .

خو دوي ضد کولو وايي نه دا صوفيه مراد دي دا ددوي عيب دي ما وويل گوره امام نووي صاحب منهاج کې وايي دا يې صفت دي عيب نه دي وايي چې دلته يې وويل چې دا دروغجن دي دروغ نو څه صفت وي ما ورته وويل چې دا امام مسلم ويلي وايي هاو ما ورته وويل چې گوره هغه نشته چې زه ترې پوښتنه وکړم ته يې د قول مستدل يې تا نه تپوس کوم چې دا امام مسلم خپله صالح وه که طالح وه که ويلي چې طالح وه نو هم نه شو ويلي که ويلې چې صالح وه نو څنګه دې دروغجن دي که نه دي ده خو صالحين ياد کړي صوفيه خو يې نه دي ويلي .

بيا شروع شو وايي د بارې حضرت صاحب مريدان ټوپونه ولې وهي ما ورته وويل هغوي خو ټوپونه نه وهي وايي نه په مانځه کې چغې وهي ما وويل چغي هم نه وهي وايي ما کتلي دي کنه ما ورته وويل چې ما هم کتلي دي کنه ته به يوې شپې ته تللې يې ما هغلته يو کال په دربار کې تير کړي نو ته به رشتيا وايي که زه چغي نه وهي نو دري واړه شروع شو وايي مونږ خو تا ته دروغ نه وايو مونږ تللي يو چې مانځه کې چغي وهي ما ورته وويل چغي وهي نه سوال دې غلط دي چغي ترې وهل کيږي وايي يا وهل کيږي يا يې وهي خو دغسې ده کنه ما وويل دې کې ډير فرق دي ته داسې مه وايه چې چغې ولې وهي ته داسې ووايه چې چغې ترې ولې وهل کيږي نو زه به جواب درکړم .

وايي ښه ولې ترې وهل کيږي ما وويل د خداى تعالى نور فيض او خشيت زيات دي پرې د خداى تعالى ډير ويريږي بس چغي کړي نو په خندا شو ما وويل سوال غلط کوي هغوي چغې په اختيار نه وهي بې اختياره يې وهي او په مانځه کې ژړا چغي آه او ه هدايه دي هم نه ده کتلې :

فان اَنَّ فيه تأوه او بکى فارتفع بکاؤه فان کان من ذکر الجنة او النار لم يقطعها لانه يدل على زيادة الخشوع .

او ابن همام په فتح القدير کې ليکي وايي دغه عبارت چې هدايه کې مذکور دي دا الفاظ د بي بې عائشې صديقې رَضِىَ اللّٰهُ عَنها دي دا فتوى د هغې ده هغه دا خبره کوي چې څوک

أنّ اواز کوي انين نه دي تأوه اوه اوه کوي بلکې ژاړي دا ژړا اوازيې اوچت شي که من ذکر الجنة او النار وي مونځ يې نه فاسديږي دليل د زيادت خشوع دي.

بيا يې وويل چې دا سندونه ډير زيات ورکوي هر چاته يې سند ورکړې وي نو ما ورته وويل چې دا اعتراض د باړي په حضرت صاحب کوي چې سندونه ولې ډير ورکوي ما ورته وويل زه دربار کې ورسره يو کال کاتب د سندونو پاتې شوې يمه ما به سندونه ليکل کله لس (۱۰) کله پنځلس (۱۵) کله شل (۲۰) د شلو نه زيات ما نه وه ليدلي چې په يوه جمعه کې دې دا ورکړې وي.

ما ورته وويل چې دا اعتراض دې کله د حقاني په مدرسه کړې دي چې دولس سوه (۱۲۰۰) سندونه په يوه ورځ ورکوي ولې اعتراض پرې نه کوي وايي نه هغوي خو فنون ويلې وي همداسې خو يې نه ورکوي ټول سبقونه يې خلاص کړې وي بيا يې ورکړي ما وويل چې ته به ماته وښايي چې د نقشبندي اته (۸) سبقه دي چې باړي حضرت صاحب سبقونه نه وه ورکړي او سند يې ورکړو دلته هم سبقونه خلاص شي سند ورکړي هلته هم سبقونه خلاص شي سند ورکړي او که ته وايي چې نه دا ټول اولياء نه دي نو هلته هم زه اعتراض کوم چې ټول علماء نه دي دغه وخت سره او نه د ټولو مطالعې جاري وي ها که تدريس يې وکړو په منتها کې بيا کيدې شي ښه شي نو دا تعصب دي چې صوفيه کرامو سره روان دي په علماء د علم ظاهر به اعتراض نه کوي او په علم باطن به يې کوي دا قلب کې چې ګوته کيدې الله الله دا کوم ځای کې راغلې ولې دا لوي آيت نه ګوري:

﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾.

او د خدای تعالی په ذکر کې اسم ذات څه شي دي الله دي دې نه بهترين اسم په اسماء الله کې کوم يو دي نور خو ټول صفات دي دا اسم ذات دي:

﴿وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا﴾

د چا زړه چې زمونږ د ذکر نه غافل وي د هغې اتباع مه کوه خو زړه ذکر کوي کنه.

﴿أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ﴾.

کيدې شي چې وه هغه سړي مړ بيا مونږ ژوندې کړو او ده ته مو يو نور ورکړو چې نور

يې خلکو کې خور وه چې دادې د هغه چا په شان شي چې هغه په تيارو کې دي .

دا مثال د چا دي د عمر فاروق او د ابو جهل او من کان ميتاً فاحييناه که حيات قلبي نه شي نو دا مړ وه بيا ژوندي شو نو مړ کله وه هغه مخکې نه هم ژوندې وه دا د عمر فاروق رضی الله عنه مثال دي .

او من کان ميتا قلبه فاحييناه بذکر الهي ، زړه ته مو ورته حيات قلبي ورکړو جعلنا له نوراً دا قلبي علم دي غلم قلب مو ورکړو يمشي به في الناس ، چې دا فيض يې غير کې متعدي که دادې شي په شان د هغه چا چې في الظلمات چې ابو جهل دي اوس هم په تيارو کې پروت دي کله کيدې شي .

اثبات د لطائفو :

که ته اعتراض د روح په لطيفه کوي :

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي﴾.

علماء ظواهر به يې خپلې ترجمې کوي علماء د باطن من امر ربي ترجمه دا کوي من عالم امر ربي لله الخلق و الامر ، دغه امر نه عالم امر اخلي داد عالم امر نه لطيفه ده .

که ته اعتراض کوي په لطيفه سريه يا لطيفه اخفی باندي نو والله يعلم السر واخفی ، مخکې تاسو ته عبارت تير شو چې مراد له سر او د اخفی نه تفسير مظهري ليکي دا هغه لطائف مجرد دي چې لطائف د عالم امر دي .

او که ته اعتراض کوي په خفي باندې نو دا اعتراض هم مه کوه ځکه خير الذکر الخفي صوفيه وايي د خفي لطيفې ذکر بهتر دي او ته وايي پټ .

او که ته اعتراض نفسي باندې کوي : واذکر ربك في نفسك ، ته وايي پټ يې کوه هغه وايي : واذکر ربك في نفسك ، نفس ذاکر که خپل نفس کې ذکر وکه د الطائف يا د لا اله الا الله ذکر د لا اله الا الله سبق خو هغه حديث نه ثابت دي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم يو کوټه کې صحابه راغونډ کړل هل فيکم غيرکم ، تاسو کې ستاسو نه بغير بل سړي شته وايي نه وايي دروازه

بنده کړي چې بنده يې کړه وايي لاسونه اوچت کړي تولو لاسونه اوچت کړل وايي : قولوا لا اله الا الله ، د مسند فردوس حديث دي ټولو دا کلمه وويلي نو دا خو مؤمنان وه دا يې ولې پرې بيا وويلې دا کوټې ته يې ولې راغونډول دا دروازه ولې بندوي دا اغيار ولې د مجلس نه باسي دا هماغه سبق دي د باطن د علم چې دغه وخت سره يې صحابوو ته نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تلقين ورکړو او عوام دلته نه وه ناست خواصو ته يې ورکړو.

او که هغه صوفي ستا په اسباقو اعتراض وکړي نو نه به بيا ورته صرف ثابت کړي نه نحوه نه منطق نه معاني نه بيان نه بديع دا يو به هم ورته ثابت نه کړي نه دا طرز او نه دا طريق.

او که وايي چې په دې زړه کې دا کوټې ورته ولې ګډي يو لس (۱۱) احاديثو کې صحابه حکايت کوي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ضربني في صدري زه يې په سينه کې ووهلم دا څه شي وه دا په سينه کې ولې وهل دغه شان صحابه کرام چې رعب پرې راتلو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په سينه کې وهلي په يو مسئله باندې نه دي پوه شوي په سينه کې وهلي انشراح د صدر راغلي.

او زما خو خپله دا رايه ده چې مه دي څوک په پير نازيګي نه دې څوک په پلار نازيګي او نه دې څوک په مشر او ليډر نازيګي هغه ناوي چې په خپله ښائسته نه وي څوک به يې څه کاندي ښائست د مور او نيا ، هغه سړي ځان نه جوړ کړي چې پير په تاسې ونازيږي هغه سړي ځان نه جوړ کړي چې پلار په تاسو ونازيږي چې پلار دې څوک نه پيژني او خلک وايي چې دا د فلاني پلار دي ستا په وجه يې خلک وپيژني او چې حتى کې امام د مذهب دربانديې فخر وکړي حتى کي محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درباندې فخر وکړي چې دا هغه سړي وه چې زما دين ته يې خدمت کړې وه.

څه مو خيال دي چې ورځ د قيامت کې هره ډله د امام روانه وي امام قرطبي وايي يا حنفي يا مالکي او از به هم په کې کيږي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په لکونو کروړونو خلک چې دا فقه يې ورته آسانه کړې ده او په شريعت عاملين د فقه حنفي دي او دا ټول د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په لښکر کې د حشر ميدان ته راشي او انبياء عَلَيْهِ السَّلَامُ د عرش سورې لاندې په ستيجونو باندې ناست وي او دا عظيمه جنډه او لښکر ښکاره شي يا د امام شافعي يا د امام مالک يا د امام احمد رحمهم الله د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو به الحمد لله سترګې جيګې وي خو دغلته به دې مبارک څومره خوشحاله شي.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي يو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ به د حشر ميدان ته راشي يو امتي به ورسره وي يو به راشي دوه امتيان به ورسره وي.

څه مو خيال دي چې د هغه په امت کې څه علماء راشي او هغه په کروړونو خلک ځان سره د حشر ميدان ته راولي په خپله اصلاح باندې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به، څومره فخر کوي په دغه شخص باندې دده مقام به هغلته څه وي او دا خلک به ده ته څومره په تعجب وي دغه شان شيخ د طريقت.

ختمه شوه مسئله د تصوف

بعون الملك الوهاب

مسئلة التبرک بآثار الصالحين :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبيين أما بعد! فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ﴾ سورة آل عمران آيت : .

نن عظيمه مسئله مختلف ومتنازعه بيننا و بين الخصم هغه مسئله د تبرک ده بآثار الصالحين كه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دي او كه اولياء كرام دي هر هغه شي چې د هغوي سره وابستګي او تعلق لري كه هغه ما بقي د ذات د هغه نه وي ، ويښتان زلفې د هغوي يا ريق او لاړې د هغوي او كه هغه يو شي زائد چې څه نا څه تعلق يې تر دغه ذاته وي لكه لباس ، عمامه او نعلين .

يا هر هغه موضع چې كوم موضع كې د هغوي جلوس شوې وي دا ټول د بركاتو نه ډک وي ، دا هغه عظيمه مسئله ده چې خصم ټول په كې متفق دي كه اشاعتيان دي كه جماعة المسلمين دي كه اهل حديث دي غير مقلدين حتى چې تبليغي جماعت والا امراء ددوي هم تبرک بآثار الصالحين ته د شرک عقيده ساتي نو دا بنيادي مسئله ده بيننا و بين الخصم .

دې ته نسبت د شرک كول عظيم جرم ځكه دي چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ صحابه كرام اسلاف د امت هغوي ټولو تبرک بآثار الصالحين نيولي او ټول په دې عقيده تير شوې .

من لدن الصحابة إلى اليوم ټول سنيان تبرک بآثار صالحين نيسي كه دا عقيده د مشركينو شي نو په اسلافو د امت كې به يو محدث او فقيه داسې پاتې نه شي چې هغه تبرک نيولې نه وي دوي تبرک ته شرک وايي لهذا ددوي فتوى ده دوي په فتوى نسبت د شرک به ټول امت ته راشي .

دغه عظيمه مسئله مونږ مشتمله ګرځوو په چند مباحثو باندې :

هر چې مبحث اول دي هغه په معنى لغوي د بركت كې او تحقيق لغوي او دا چې د بركت ماده په كومو مادو كې راځي ، په كومو ابوابو كې راځي او هر باب كې ددې يوه خپله معنى وي او هغه څه ده .

دوهم باب يا مبحث مشتمل دي په دې باندې چې نسبت د مبارک غير الله ته دا جائز ده

سړي مخلوق ته مبارک وويلې شي استدلال ددې د کتاب الله نه سره د ذکر د اقوالو د مفسرينو نه تائيداً .

دريم ثبوت د تبرک بآثار الصالحين په آحاديثو مبارکو باندې ، ګڼ تعداد روايات د بخاري شريف او د مسلم شريف به راشي چې صحابه کرامو د رحمة للعالمين په آثارو تبرکات نيولي دي .

او څلورم ثبوت د تبرک د عامة الفقهاء والمحدثين او عامو مصنفينو نه د هغوي اقوال به ددې متعلق ذکر شي .

المبحث الأول : تحقيق البركة :

اصل کې برکت لغتاً دوه معانيو کې مستعمل ده يو راځي په معنی د دوام او ثبات باندې ماخوذ ددې قول د عربانو نه چې :

برك البعير و برك الماء اى داوم و ثبت .

معنی باندې دغه معنی تفسير فتح القدير جلد ۵ صفحه ۱۴۳ ذکر کړي .

دوهم لغوي معنی ددغه مادې د برکت په معنی د نماء او زيادت مونږ چې دلته مسئله د برکت زير بحث ګرځولې هغه برکت په معنی د دوام او ثبات سره نه دي هغه برکت په معنی ثاني نماء او زيادت سره دي دغه د برکت ماده په معنی د نماء او زيادت سره .

په څو بابونو کې مستعمليږي : کله دا راځي په باب د تفعيل کې مراد د هغې نه دعا بالبرکة وي تبريک معنی څه : اى دعا له بالبركة .

او کله دا په باب د مفاعلې کې راځي بيا يې تعديت دريوو حروفو جارو سره کيدې شي په لام سره په فاء سره په علیٰ سره : بارك الله لك . بارك الله عليك . بارك الله فيك .

او که دغه ماده مستعمله شي په باب د تفاعل کې تبارک کله چې دا په باب د تفاعل کې مستعمله شي او نسبت يې شوې وي باري تعالی ته په معنی د تقدس وتطهر وتنزه سره : تبارك الله . تبارك الذي بيده الملك ، په معنی د تقدس وتنزه و تعاظم وتعالی سره .

او څلورم دغه ماده د برکت مستعملیږي په باب د تفعل کې په معنی د تبرک سره د برکت ماده په باب د تفعل کې په معنی د تیمن سره : تبرك به ای تیمن به ، برکت یې پرې حاصل کړ .

دغه ګل معاني ذکر کړي صحاح د لغتو کتاب جلد ۱ صفحه ۲۰ او لسان العرب جلد ۶ صفحه ۱۶۸.

د قاموس جلد اول صفحه ۱۲۰۴ صفحه په ورقاتو ستاسو کې د برکت دغې معانیو ته اشاره شوې :

البركة ، محركة النماء و الزيادة و السعادة و التبريك الدعاء بها بالبركة .

تبریک مبارک شو تبارك الله باب تفعل ته چې لاړې .

وتبارک تقدس و تنزه صفة خاصة بالله تعالى.

د معجم الوسیط جلد ۱ صفحه ۵۱ :

تبارك تقدس وتطهر ورتفع تبارك الذي بيده الملك .

دغه معنی مراد ده .

د معنی لغوي د برکت او استعمال د دغه برکت په مختلفو بابونو کې په خپلو معانیو سره مونږ او تاسو ته د مخالفینو د خصم کل استدلالات را باطلوي هغوي برکت او تبرک بآثار الصالحين ته چې شرک وايي نو هغوي د پاره معظم په دلائلو د قرآن عظيم الشان نصوصو کې :

تبارك الذي بيده الملك ، يا تبارك الله احسن الخالقين ، يا تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاء بُرُوجًا.

یا په نص د حدیث د امام مسلم کې : تبارك اسمك وتعالى جدك .

نو دغه دري آیتونه د دغه دري نصوص قرآني او دا یو نص د حدیث چې روایت د امام مسلم ده نو دغه د استدلالاتو قویوو د خصم چونکې هغوي د علم نحو صرف او علم معاني بدیع بیان نه ډیر بعید پاتې دي .

علماء د مخالفينو څه علماء دي يا قراء محض دي يا يې دري مياشتني كورسونه د ترجمې كړي دي او مسمى په شيخ القرآن دي دوي په فنونو مدونو كې هيڅ مهارت نه لري علم چې څه شي ته وايي هغه دوي نه لري خاصتاً علم فقهي نه بالكل محروم دي .

نو چې هر كله د صحاح لسان العرب معجم الوسيط د لغتو د كتب نه د بركت دا ماده په باب د تفاعل كې منسوبه وه الى الله تعالى ته وه وه په معنى د تقدس تطهره تنزه سره نو بعيده شوه د هغې معنى متنازع فيه نه چې كوم كې مونږ سره جګړه جوړ وي .

﴿تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾. ﴿فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ ﴿تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا﴾. وتبارك اسمك وتعالى جدك .

دا ددوي استدلالات دي دا ټولو كې آله العالمين ته نسبت د مبارك نه دي بلكې نسبت د متبارك ده .

تبارك يتبارك تباركاً اسم فاعل يې متبارِك جوړيږي نسبت خالق ته د باب مفاعلې نه كيږي د باب تفاعل كيږي او د باب تفاعل نه صيغه د اسم فاعل متفاعل جوړيږي مفاعل نه جوړيږي مخلوق ته نسبت چې شوې دي هغه په باب د مفاعله كې شوي.

فلان مبارك . فلانى شخص مبارك دي فلانى ځيز مبارك دي .

دغلته دا مبارك په صيغې د اسم مفعول سره اخستلې كيږي له باب مفاعلې نه او د بركت نفس ماده دلته په معنى د زيادت او نماء سره ده .

دغه فلاني مبارك دي په معنى د بركت داد شده سره ده ته اله العالمين بركت وركړې ده دده په لاس كې دده په دعا كې الله بركت اچولې دي دغه معنى شوه .

كه څوك اعتراض وكړي چې اله ده ته وركړې نو بيا دده څه صفت شو نو هر څه الله مونږ ته راكړي زمونږ د صفاتو نه دي علم مونږ ته خالق راكړي زمونږ صفت دي .

نو ترجمه دوي د تبارك الذي بيده الملك داسې كوي چې : مبارك ده هغه ذات چې په لاس دده كې بادشاهي ده دا څومره غلطه ترجمه ده په څو لحاظو سره هم لغوي هم صرفي هم نحوي لحاظ سره .

لغوي غلطي يې دا وكړه د تبارك الذي معنى يې په مبارك وكړه باب د تفاعل دي .

الذي بيده الملك موصول مع صله يې فاعل ده له دغه موصول مع صله چې فاعل د تبارك لنډ تعبير په صيغې د اسم فاعل وكه الضارب په معنى د الذي ضرب سره وي نو د تبارك الذي بيده الملك له ده نه تعبير يې مختصر په متبارك سره كيږي .

صرفي معنى لغوي ددې دا شوه چې الله متبارك دې دوي ترجمه د تبارك كوي په مبارك سره نو دا ترجمه د باب تفاعل نه ده په مفاعلې سره .

دوهمه عظيمه غلطي نحوي يې وكړه هغه دا چې الذي بيده الملك دا فاعل د تبارك ده دوي ترې نه تعبير وكړ په مبارك باندې او مبارك صيغه د اسم مفعول ده نو فاعل نه يې مفعول جوړ كړ .

كه بيا ته خامخا باب تفاعل مفاعل ته اړوي او داسې كوي بيا ورته مبارك مه وايه مبارِك په كسرې د راء سره ورته وايه .

تبارك الذي بيده الملك مبارِك هغه ذات دې او د مبارِك نسبت په صيغې د اسم فاعل مخلوق ته نه شي كولې مخلوق ته په صيغې د اسم معفول سره كيږي خالق ته نسبت په صيغې د اسم فاعل سره كيږي مبارك او يا يې خالق ته نسبت كيږي په مصدر ميمي سره مبارك مصدر ميمي هم راځي كه مبارك مصدري ميمي شي بيا يې اطلاق په خالق كيدې شي.

خو دومره خبره ده چې الله ذات دې او مبارك مصدر صرف وصف نو حمل د صرف وصف په ذات مطلق باندې اتحاد مصداقي نه لري نو صحيح نه شو .

نو ددغې حمل د صحت لپاره به بيا تاويل كوي هغه تاويل دا چې دا مبارك مصدر ميمي په معنى د ذوبركة سره واخلي يا به يې په معنى د موجد البركة سره واخلي الله موجِد د بركت دې اله ذو بركت دې دا الله چې موجد د بركت دې نو بركات چا كې اچوي دا اچوي په لاړو لاسونو لباسونو د انبياء كرامو اولياء كرامو كې د صلحاء كې چا واچول الله واچول.

الله يې مبارِك شو نو مباركان څوك شول انبياء اولياء شول دوي د تبارك الذي بيده الملك ترجمه كوي :

مبارك هغه ذات دې چې په لاس كې يې بادشاهي ده .

نو دا څو مره غلطه ترجمه ده په لغوي، صرفي او نحوي لحاظ سره باب تفاعل مفاعلې ته وارووه الذي فاعل وه دوي مفعول ته وارووله.

له دې تحقيق سره ددوي استدلالات ختم شول کوم ځای کې چې خالق ته نسبت دي نصوص وګورئ په باب د تفاعل کې نسبت شوې او باب د تفاعل کې اهل لغت وايي چې داد برکت معنی په تقدس تنزه سره ده هغه بيله معنی ده.

نو د تبارک خپله معنی دا شوه:

تقدس و تطهر و تنزه الذي بيده الملك.

د تبارك اسمك به معنی به دا وي:

تقدس اسمك و تطهر و تنزه اسمك.

المبحث الثاني: استدلالات التبرک بآثار الصالحين من النصوص القرآنية:

څه نصوص زمونږ د دوي دعوه باطلوي دوي وايي نسبت د مبارک غير الله ته شرک ده د قرآن عظيم الشان نصوص ګورو چې مخلوق ته د مبارک نسبت کوي او که نه:

سورة آل عمران آيت: ۹۶:

﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ﴾

اوس دلته نسبت د مبارک شوې مکې معظمې ته او زمين د مکې خالق نه دي مخلوق دي نو دليل په دې شو چې مخلوق ته مبارک ويل شرک نه دي جائز دي نو چې ځمکې ته مبارک ويل جائز شول انبياء اولياء ته به ولې جائز نه وي.

آيا د مکې ځمکه د ذات مصطفی نه غوره کيدې شي نه شي کيدې اتفاق د علماو سره دا خپله کعبه مبارکه دې کې علماء اختلاف کوي چې د مکې معظمې ځمکه بهتره ده که د مدينې منورې ځمکه ثلاثه آئمه په دې متفق دي چې ځمکه د مکې معظمې بهتره ده.

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ وايي نه ځمکه د مدينې منورې بهتره ده له ځمکې د مکې معظمې نه دې مدني وه نو مينه يې مدينې سره زياته وه دده دا مذهب ده او د جمهورو هغه بيرته

جمهور علماء استثناء کوي مګر بقعه هغه چې تلي ده جسد محمد مصطفی ﷺ سره د روضې مبارکې ځمکه چې د نبي علیه السلام وجود مبارک سره تو ته لږیدلي دا ځمکه په کعبه حتی چې په عرش هم بهتره ده.

دا فتوی ابن تیمیه هم په خپله فتاوی کې ورکړي چا ترې تپوس کړې ده چې مدینه منوره بهتره ده که مکه معظمه. سائل بیا سوال کړې چې نه کوم ځای کې نبي علیه السلام ناسته کړې وې هغه ځای بهتره ده که مکه.

هغه جواب ورکوي چې ستا سوال څه تفصیل غواړي یو هغه دا چې ناسته یې کړې وې بیا ترې تلي وي یو هغه تو ته چې د نبي علیه السلام وجود مبارک ورسره لږیدلې وي کوم ځای کې یې چې ناسته کړې وي بیا ترې تللې وي هغې نه کعبه بهتره ده او هغه تو ته چې دده وجود مبارک ورسره لږیدلي تصریح کوي. ابن تیمیه وایي کعبه څه کوي چې هغه تو ته په عرش هم بهتره ده.

نو زه وایم چې د مکې معظمې ځمکې ته قرآن کریم مبارکه وویلې نو ذات د وجود مصطفی ﷺ چې د هغه د وجود سره کومه تو ته ځمکه په لحد کې لږیدلې وي هغه د عرش نه بهتره شوه د کعبې نه بهتره شوه نو خپله ذات المصطفی ﷺ به څومره بهتر وي.

نو چې مکه مبارکه ده نو ذات مصطفی څنګ مبارک نه شو اطلاق د مبارک څنګه شرک شو هغه ته.

دویم دلیل سورة الانعام:

﴿ وَهَـٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾.

ګورئ دلته الله پاک قرآن عظیم الشان ته مبارک ویلي.

دریم دلیل سورة الانبیاء آیت: ۵۰:

﴿ وَهَـٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴾.

دا رنګې سورة الانعام آیت: ۱۵۵:

﴿وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾.

دا تول نسبتونه قرآن عظيم الشان ته دي.

دارنګې سورة مريم آيت: ۳۱ عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم کې ماشومتوب کې اعلان کوي زانګو کې پروت ده:

﴿وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا﴾.

چيرته چې زه يم رب کريم مبارک ګرځولې يم عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ځان ته د مبارک نسبت کوي چيرته چې زه يم رب کريم مبارک ګرځولې يم.

دارنګې سورة المؤمنون آيت: ۲۹:

﴿وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ﴾.

بعضې مفسرين وايي چې دا قول ده ته چې قل رب ده ته کله وشو هجرت نه بعد چې کله مدينې منورې ته راغي نو امر وشو چې دا وو ايه نو عبارت له منزل مبارک نه مدينه منوره شوه مدينې منورې ته مبارک وويلې شو او هر مسافر چې يو ځاى ته لاړ شي په وخت د نزول کې به دا دعا کوي:

﴿رَّبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا مُّبَارَكًا﴾.

دا نسبت د مبارک شوې ده.

سورة سورة ق آيت: ۹:

﴿وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبَارَكًا فَأَنبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ﴾

نو دلته اوبو د اسمان ته د مبارک نسبت شوې او به مخلوق دي.

دارنګې سورة النور آيت: ۳۵:

﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾.

دارنګې سورة النور آيت : ٦١ :

﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾.

دارنګې سورة الدخان آيت : ۳ :

﴿ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴾.

شپې ته د مبارک نسبت وشو .

دا چند استدلالات د قرآن کريم نه ددوي هغه دعوى باطلوي چې نسبت د مبارک غير الله ته شرک دي دا جهالت او حماقت ددوي ده شپه ورځ ترجمې د قرآن کريم کوي خو قرآن کريم نه راندہ دي چې قرآن کريم او بو ته منزل ته قرآن کريم ته مکي معظمې ته وغيره ته نسبت د مبارک کړې دي .

دارنګې سورة بقرة آيت : ۲۴۸ :

﴿ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَن يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾.

د طالوت عليه السلام قوم راغي شمعون عليه السلام ته وايي مونږ ته يو بادشاه مقرر کړه چې د هغه په معيت کې به مونږ جهاد کوو .

نو هغه ورته وويل ستاسو بادشاه به طالوت وي هغه مسکين غريب سړي وه دا نه شي کيدې ځکه دې مالدار نه دي مونږ ته يو دليل پيش کړه څه علامه به وي جالوتيانو دوي نه هغه تابوت پټ کړې وه هغه يې ډيران کې اچولې وه او عمالقه وو حکم کړې وو چې دې ته بول کوي بې عزتي يې کوي بې عزتي يې د آثارو د صلحاو کړې وه .

تفسير صاوي دغه ځای کې ليکلي چا چې هلته بول کړې وه په سلسل بول مبتلا شو ځکه بې ادبي د آثارو د صالحينو يې کړې وه .

دغه صندق کې څه شي وه مختلف اقوال دي :

زاد المسير في علم التفسير جلد ۱ صفحه ۲۵۲ :

والمراد من البقية إما عصا موسى و عصا هارون وثيابهما و لوحان من التوراة والمن قاله

ابوصالح عن ابن عباس .د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا وه د هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا وه د دواړو جامې وي لوحان من التوراة والمن ټکړې د من وي دا ور کې پراته وه .

شمعون عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم ته دا وايي :

ان اية ملكه رابه شي تاسو ته تابوت دا داسې تابوت ده فيه سكينة دې کې سکنيه اطمينان ده من ربكم جهاد کې به چې کله وړاندې کړي وه اطمنيان کې به وه شکست به يې نه خوړ اضطراب يره به نه وه دا صندوق به مخکې وه او چې دا يې ترې پټ کړ بيا به هغوي پرې غالب کيدل دوي کې به شکست ګډيده او دغه تابوت هغه تابوت ده چې و بقية مما ترک چې دې کې بقيه ما ترک ده له هغه څه نه چې پريښې وو .

الُ موسى نفس موسى و آل هارون نفس هارون .

تاسو به جامي کې ويلې وي هغلته دې چې آل لپاره چند معاني دي يو په کې معنى د نفس ده نو آل موسى معنى نفس موسى ونفس هارون خپله د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ خپله د هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ مابقيه په کې وه قرآن کريم خو وويل چې د موسى او هارون مابيقه وه په کې اوس دا مابقيه څه شي ده . د زاد المسير في علم التفسير حواله مذکوره شوه مخکې .

تحمله الملائكة .باره وي به دې لره ملائک هغوي چې د چا کور کې کيخود هغه به بادشاه وي د طالوت عَلَيْهِ السَّلَامُ کور کې کيخودې شو .

استدلال دې نه په دې طريقه باندې چې طرز او طريقه ددوي د جهاد ده او وه دغه تابوت چې کوم کې د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا وه د هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا وه جامې د دواړو په کې وي .

يو عبارت کې عمامه هم راغلې دا به دوي د لښکر مخکې روان کړې وه .

داستنصار من الله ببركة ثيابهم .

د جامو همساګانو دغه تبرک ده بآثار الصالحين بې آدبي د دغه تبرکاتو چا کړې وه جالوتيانو عمالقه وو آدب احترام ددې چا وکوه فرشتو وکړه فرشتو راوچت کړ د طالوت عَلَيْهِ السَّلَامُ کور کې يې کيخود دليل په دې خبره شو چې د آثار الصالحين قدر احترام دا وظيفه د

چا وه د ملائکو مامور من عندالله وي .

او د آثار الصالحینو بې عزتي کول بمونه په کې آلوزول نوره بې حرمتي يې کول داد جالوتیانو عمالقوو عمل دي زما په خیال دغه اوسني بې ادبه هم د هغوي اولاد ده نو دوي هم دغه کار کوي .

دارنګې بل نص سورة یوسف آیت : ۹۳:

﴿اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ .

دوي کله وايي چې دا تبرک به ومنم خو دا تاسو د شفاء لپاره استعمالوي د يو نيک سړي زيارت سره مالګه نمک د شفاء لپاره استعمالوي او يا د هغوي ما بقيه د آثارو د شفاء په طور استعمالوي دا درسره نه شو منلې .

نو ددې جواب داده اذهبوا بقميصي هذا د يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ د سترګو نظر چې کله لاړ ورونو د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ مينځ کې معرفت وشو حکايت وشو چې د والد صاحب د سترګو نظر دي تللې دي هغه ورته خپل قمیص راوباسي دا قميص چرته وه داد یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ په غاړه باندې يو تعويذ وه هغه تعويذ کې يې بند کړې وه . تفسیر در المنثور في التفسير بالمأثور جلد ۴ صفحه ۵۸۰ جلد ۸ صفحه ۳۲۵.

ان الله کسا ابراهيم ثوباً من الجنة .دا يوه جامه باري تعالی ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته جنت نه ورکړې وه .

فکساه ابراهيم اسحاق . واغوستله ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ ته اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ور واغوستله .

فأخذه يعقوب فجعله في قصبة حديد . واخيستله يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ و ايي چوله په يوه بکسه د اوسپنه کې .

وعلقه في عنق يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ . واي چوله په غاړه د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ کې .

دې قمیص کې څه کمال دي چې په غاړه د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ کې اچولې شي يو خو د جنت نه راغلې دا هم کمال دي د جنت نه د راتللو مطلب خو ګڼې دا نه شو چې خالق ده خالق خونه دي مخلوق ده جنت هم مخلوق دي خو بيا دا د بهترينو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ له وجودونو سره لږيدلي

ددوي د وجود سره چې ولړیده نو د برکت نه ډک شو .

یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ د غه برکتي قمیص د اوسپني قصبه کې بند کړد هغې زماني قمیص چې په کې بندیږي نو دا تعویذ به څو مره غټ وه .

اوس که یو عالم قرآن کریم لیکي چې نص پرې گواه ده .

و ننزل من القرآن ماهو شفاء .

نو چې شفاءِ دم نه وي شفاء ثابت نه وي شفاء تعویذ نه وي نو قرآن کریم څنگه شفاء ده د امراضو شفاء به پرې څنگه کیږي نو چې دوي یې نه دم مني نه تعویذ ثابت مني .

څلورمه شفاء دي دوي مونږ ته وښائي او مفسرین ټول متفق دي شفاء باطني ظاهري لره نو زمونږ تعویذونه وړوکي وي قرآني آیتونه پرې لیکل شوې وي قران کریم شفاء ده او تعویذ غاړه کې اچول شرک دي دوي وایي نو یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ آسمان نه نازل شوې کتاب پر ځای د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ قمیص غاړه کې ورته اچوي .

دا هُو بَهُو داسې شوه چې زیارت نه جنډه را خلاصه کړي یا غلاف یاد یو ولي الله د قمیص یا څادر یو ټوټه د برکت لپاره واخلي او بچي ته یې غاړه کې واچوي که داسې وکړي نو څه فتوای به ولړوي درباندې .

دا نقشه د فتوو د شرک یهودو جوړه کړې دوي ته تر شاه یهود ناست دي او یهود ټول دین زمونږ نه خبر دي هغوي دا نقشې ورته جوړوي دوي طوطیان د بل چا خبرې کوي یوه خبره خپله نه شي کولې او نه دا قوه لري د اسلام په جامه کې دې بې دیني ته اړوي .

حسن جان صاحب به ویل او علامه کوثري هم ذکر کړي :

الامذهبية قنطرة اللادينية .

د مذهب نه وتل د بي دیني پول ده چې د مذهب ووتي نو د بې دیني په پول روان شوې یهودیت ته لاړې او که عیسویت ته لاړي ځي به خامخا .

حکایت : زما یو ملگرې وه د کونړ د پیچ درې هغلته وهابیان ډیر زیات دي هغه وویل چې مونږ پاکستان ته را مهاجر شو ډیر وخت وروسته زه پلار ولیږلم چې لاړ شه د ځمکې حساب له دهقانانو سره وکوه هسې نه چې منکر شي .

وايي زه لاړم هلته هغه خلکو زما ډير عزت وکوه کله چې ماخوستن شو آذان وشو نو دا خلکو ما ته وويل چې لاړ شه مونځ دې وکوه ما ورته وويل چې تاسې ولې نه ځې هغوي وويل ځه ته لاړ شه بيا به د مانځه نه وروسته خبرې کوو .

وروسته چې کله راغلم خبرې مې ورسره وکړي نو دوي وويل مونږ خپل د عبادت ځاى لرو عيسويان شوې وه او د عبادت لپاره يې ځان ته ګرجه جوړه کړې وه اول مسلمانان وه حنفيان وه وروسته بيا وهابيان شوې وه آخر کې عيسويت ته اوښتي وه دا ټول اهل حديث عيسويان شول هغوي ته کار کوي .

قلم الدين د افغانستان د تبليغي جماعت مشر وه دې ونيول شو د طالبانو د حکومت لخوا سره د کتابونو دعيسويت ۷ مياشتې جيل کې پروت وه ، او ۳۰۰۰ کتابونه د عيسويت يې په کور کې پيدا شول .

مولانا عبد الحي زعفراني صاحب هغه وخت د افغانستان سترې محکمې په قضاء کې وه هغه دا قصه ما ته خپله کړې هغه وويل چې مونږ ارمان کوه چې د قلم الدين دوسيه مونږ ته زر راشي چې د اعدام فيصله پرې وکړو خو جواسيس هر چيرته د هر چا په جامه کې وي .

مونږ ته راتلو نه مخکې فيصله پرې وشوه چې قلم الدين دې جلا وطن شي نو د طالبانو د حکومت آخري درې کلو کې دې جلا وطن وه د سرکاري قضاء په فيصله باندې خلک سترګې پټوي حق نه وايي ، بيرته بيا جلال آباد کې د تبليغي مرکز لپاره ځمکه ورکړل شوه .

نو دا سوچ نه کوي چې د امير وظيفه يې د عيسويت اشاعت وه نو بيا ولې ځاى ورکوي دوي ته وايي نه داد يو کس کار وه دا نور ښه جماعت ده هيڅ وجه نه وه .

امارت کې مشران علماء شاګردان د ديوبنديانو وه او ديوبند علماء نه خراب اشخاص چې راوتلي د تبليغي جماعت ده چې دلته پاکستان کې يو جماعت کې ننوتي که بيا هغه خلک کفر هم وايي خو ته به د جماعت له لاسه خبره نه شي کولې ځکه ديوبندي دي.

ټول بريليان د تبليغي جماعت سره خلاف دي په څه خلاف دي دا وايي د جبريت عقيده خوروي په څه خلاف دې ددوي په تندو کې وايي تورې ټاپې دې په څه خلاف دي دوي وايي ښځې تبليغ ته بو ځئ په څه خلاف دي دا اميان دي دامي تبليغ حرام دي .

بيا تبليغي جماعت کې دعوت اسلامي پيدا شو تبليغي جماعت والا تندي کې يوه

تاپه لري دعوت اسلامي والا درې تاپې لري : الله نه د کيدو يقين دوي هم وايي هغوي هم وايي ، د ښځو جماعتونه تبليغ ته هغوي هم ځي دوي هم ځي يو ميشن يوه قصه ده يوه ټي روزه چيله څهارماه ده اوس په دنيا کې بريالي ملا ته ورکه قسم چې ګوري دا غلط خلک دي.

وايي نه جي دا درود وايي صلاة سلام مني بس غږ هم نه کوي که څومره هم ګمراه دي همغه عقيده لري خو څه نه وايي ځکه هلته د بريااليت تاثير ده داد يوبند علماء چې غلي پاتې صرف په دې خبره چې دا د ديوبند نه دي ځکه هغه الياس چې وه ديوبند کې څلور کاله منشي پاتې شوې وه د هغه تأثير د لاسه د ديوبنديانو خوله بنده ده .

دغه دوه ډلو کې چې داخل شوې که ديوبندې شوې نو د ديوبند غلطي ته به هم غلطه نه وايي او که بريالي شوې هم د هغوي غلطي ته به غلطه بيا نه وايي .

نو ځکه مونږ سوال کوو طالبانو ته چې دا مسلکونه يا مذهبونه مه ګڼي او په دې مينه مه مستيږي که يو چا دعوی د ديوبنديت کوله نو که سم حنفي وه مني يې که حنفي نه وه مه يې مني .

او که بريالي وه هم دغسې ده خو بيا به موماغوندي موافقين کم وي هر څوک به مو مخالف وي .

د تبليغي جماعت چې کله په کابل کې اجتماع وه نو حامد کرزي ورته دوه جريبه زمکه ورکړه زما يو شاګرد وه ددې اجتماعاتو ډير شوقي وه نو هغه ما ته وويل چې کله زه هلته ورغلم نو بهر تالاشي امريکايانو کوله .

وايي چې کله دننه لاړم نو قلم الدين ژوندي وه دې مينځ کې ناست وه يو خوا زلمي خليل زاد ناست وه بل خوا کې يې حامد کرزي ناست وه دا مشران د تبليغي جماعت دي اوس که دغلته يو شيخ ناست وايي د طريقت نو څومره مخالفتونه د دغه شيخ به شوې وه .

قسم قسم فتوای ګانې به خلکو ورکړې وي څومره مخالفتونه به يې خلکو کړې واي خو چې د تبليغي جماعت مشر ناست وه او دا جماعت له ديوبند نه راوتلي نو خلک چپ ناست دي بنه خبر دي چې د غسې قصه روانه ده .

نو د هغه تعويذ باره کې مفسرين متفق دي چې د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ غاړه کې پروت وه.
کذا في تفسير القرطبي جلد ۹ صفحه ۲۵۸، کې هم دا عبارت مذکور ده .

دارنګې فتح القدير للشوكاني جلد ۴ صفحه ٦٩ :

وكان يعقوب ادرج هذا القميص في قضيب وعلقه في عنق يوسف .

ځکه :

لما كان يخاف عليه من العين .

دلته يې وجه هم ثابته شوه چې غاړه کې يې ولې ورواچوه ځکه چې د نظر نه بچ شي نو د آثارو په صلحاء کې نيت د شفاء وساته خالق شفاء ورکوي خو اسبابو کې يې دا استعمال کړ.

مفاتيح الغيب جلد ۱۸ صفحه ۴۲۷ کې هم دا عبارت شته تفسير الرازي او تفسير الكبير ورته هم وايي .

دارنګې في الكشف والبيان عن تفسير القرآن جلد ۵ صفحه ۲۵۴ :

فدفعه ابراهيم الى اسحاق واسحاق الى يعقوب فجعله يعقوب في تميمة وعلقها في عنق يوسف .

تميمه تعويذ ته دوي وايي کنه لکه وايي :

التمائم من الشرك .چې وايي نو دا تميمه تعليقاتو ته وايي غاړه کې يو شي اچول .

همدغه عبارت موجود ده په تفسير السمعاني جلد ۳ صفحه ٦۲ کې .

دارنګې په تفسير الكشاف مع الحواشي موافقاً للمطبوع جلد ۲ صفحه ۳۵۰ ، ۴۵۰، او تفسير النسفي جلد ۲ صفحه ۵۸ روح المعاني جلد ٦ صفحه ۳۸۹ .

وفي روح المعاني جلد صفحه :

وكان يعقوب عليه السلام قد علقها في عنق يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ اذا كان صغيراً كما يعلق الناس اليوم في اعناق اطفالهم التمائم .

دارنګې دا عبارت موجود ده په تفسير زاد المسير جلد ۳ صفحه ۴۰٦ دارنګې تفسير المنير للزحيلي جلد ۱۳ صفحه ٦۱ تفسير ابي السعود جلد ۳ صفحه ۴۱۰ ، تفسير خازن نسخة محققة جلد ۲ صفحه ۵۱٦، تفسير الرازي جلد ۱۸ صفحه ۸۰، مراح لبيد لكشف معنى القرآن المجيد جلد ۱ صفحه ۵۲۵ ، غرائب القرآن رغائب الفرقان جلد ۴ صفحه ٦۹ بحر العلوم

جلد ۲ صفحه ۳۹٦ .

نو په دې سره دفع د اعتراض د دوي وشوه چې دوي وويل تبرک به ومنو خو د شفاء لپاره يې استعمال نه منو د هغوي آثار په نيت د شفاء جائز نه دي نو دلته يو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ اثر د صالحينو چې قميص دي د شفاء په نيت استعمال کړي .

نو بيا يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه قميص رااخيست وروښو ته يې ورکړ چې دا زما د پلار په مخ واچوي نو دوي سره بيا دلته بله خبره نه وي وايي دا خو د مفسرينو خبرې بلاسند دي دا خو مونږ نه شو منلې .

ښه ده دا مه منه دا خو منلې شي چې اذهبوا بقميصي بيا خو خلاصه شوه دا دده قميص ده له سره جنت نه راغلې نه ده چې هغه مخکې قميص د اسلافو نه ده چې دا نه مني صحيح ده مه يې منه چې دا قميص بيخي د جنت نه راغلي نه دي انبياو نه دي استعمال کړي نو دا خو به مني چې دا دده خپل قميص ده ځکه ځان ته يې منسوب کړي دا واخلي :

﴿ فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا ﴾ .

هغوي قميص را روان کړ بله مسئله ثابتيږي يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې بوي ولږيده نو کشف ثابت شو اول يې بوي ولږيده :

﴿ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴾ .

که نسبت د کم عقلي راته نه کوي د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ بوي راباندې لږيږي هغوي جواب ورکوي :

﴿ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴾ .ته هغه پخواني بحر د محبت خپل بچي يوسف کې سرګردانه يې .

ضلال دلته په معنى د تحير في بحر العشق سره ده .

نو نص پرې ګواه دي :

﴿ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ﴾ .

واچوو دغه قميص د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ بچو د يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخ د ده باندې وګرځيده وروسته له دې نه بيناء .

ټول اوس په شوق جواب راکړې دې سترګو ته شفاء چاورکړه ؟. الله .

خو شفاء الله په څه شي ورکړه الله قادر مطلق ذات ده بدون د سبب نه هم شفاء ورکولې شي خو اکثرا عادت داده چې په اسبابو يې ورکوي دې ځای کې يې شفاء ورکړه په قميص د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نسبت د دې شفاء قميص ته مجاز ده نسبت يې الله تعالى ته حقيقت ده :

﴿ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴾ . دا حقيقت ده ليکن :فيه شفاء للناس .

ضمير په فيه کې (عسل) شهدو ته راجع دې شهدو کې د خلکو لپاره شفاء ده .

اوس قران کريم نسبت د شفاء شاتو ته هم کړې او خپل ځان ته يې هم کړې نو خپل ځان نسبت د شفاء حقيقت او شهدو ته مجاز او سبب دا په کې سبب وي نو دغه شان دغه قميص هم ده اثار او تبرکات هم دي .

د زيارتونو مالګه : په حديث کې راځي مالګه د اويا (۷۰) مرضونو شفاء ده زيارت کې يې مه پړده د يو دوکان نه يې راواخله د اويا (۷۰) مرضونو شفاء ده بيا چې مزار د صالح سره کيخودل شوه رحمت پرې ووريده . څه دليل دي چې رحمت پرې وريږي :

﴿ إِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ﴾ .

دا محسن صوفي ده ځکه مزار چې په چا جوړيږي دا اولياء وي نو دغه اولياء صوفيانو سره رحمت قريب وريږي چې ووريده نو مالګه باندې هم ووريده نو شفاء نوره هم زياته شوه .

دغسې لکه څرنګه چې يو څوک لاړ شي د ډاکټر ميډيکل ته ورته ووايي چې ما ته د سر درد ګولي راکړه نو شفاء خو الله ورکوي خو دا ګولي يو سبب ده نسبت د شفاء ګوليو ته مجاز ده دغه رنګې لکه اوس بعضې زيارتونه خلک وايي داد فلانکي مرض لپاره ده او داد فلانکي مرض لپاره . په دې خلکو کې داسې مشهوره ده خير ده هيڅ خبره نشته ديکې زه خپله دغسې زيارتونو ته تللې يم .

يو ځل ما باندې دانه وه او ډير ترې نه په تکليف وم يو انجکشن به مې سحر ځان ته لږولـه يو مابنام د دردونو ، د ربيع الاول مياشت هم وه زما پروګرامونه هم ډير وو چا راته وويل چې شبقدر کې يو زيارت ده فولاد بابا د دانو زيارت چې څوک ورشي الله پاک ورته شفاء ورکوي .

ما هغه ډيرو رته وويل څه چې لاړ شو تاسې يقين په الله وکړي چې زمونږ ګاډي د زيارت طرف ته ورتاؤ شو ما ته احساس وشو درد مې کم شو زيارت ته چې کله ننوتو نو يو ملنګ په کې ناست وه ما ته يې دري څابنتونه راکړه.

زه خپله هم ډير شکي يمه او د دې ابجد و تعويذونو چې په مطلب يې څوک نه پوهيږي مخالف يم لکه ۱-۲-۳ يا الف-ها-همزه د غسې نور د تعويذ والا خپله هم د دې په معنی نه پوهيږي چې دا څه دي په کې هندوانو جوړ کړي يا مسلمانانو جوړ کړي دا پته يې هم نه لږيږي له دې نه زيات ځان ساتي چې د معنی پته يې نه لږيږي.

اوس لکه ۶۸۷ دا خو صحيح ده بسم الله شوه خو چې پته درته نه لږيږي نو ځان ترې ساتي.

نو چې ما ته يې څابنتونه راکړه ما چې وکتل نو بسم الله په کې ليکل شوې وه نو هيڅ مې هم ونه ويل ځکه دا خو د خدای تعالی کلام دي دوي سره به دې کې اجازه وي، يوه دانه مې هغه ځای کې وڅکه الله پاک راته شفاء راکړه په واسطه د دغه زيارت نو دا کيږي.

او په تور ډيري کې محمد شعيب تور ډيري رَحِمَهُ اللهُ په دانو کې ډير معروف ده هغه ځای کې هغه ټانګې والا اوس هم ژوندي ده ما ته د هغه ځای سپين ګيرو حکايت کولو چې د پنچپير ملا طاهر هيه کوناتې باندې دانه راختلې وه ډير اخوا ديخوا ګرځيدلي وه خو نه وو ښه شوي د شپې ناوخته يې ټانګې والا راويخ کړي چې ما تور ډيري زيارت ته بوځه. ټانګې والا زيارت ته بيولي وه وايي چې واپس مې راوسته ټول سيټونه يې راته لړلې وه.

دومره وينه او زوې ترې تلې وي دانه يې ختمه شوې وه نو ما وايي ورته وويل چې شيخ صاحب تاسو خو دې ته شرک وايي کنه نو ده وايي وويل چې نه دا خلک غلوه او افراط کوي چې په دې پوه شي چې دا اسباب دي نو مونږ بيا څه باک نه کوو دې باندې.

نو هغه ټانګې والا بيا دا خبره خاصو عامو کې نشر کړه چې ګوري شيخ صاحب د ورځې يوه خبره کوي او د شپې بيا خپله زيارتونو پسې منډې وهي.

نو که دوي وايي چې څه تبرک به ومنو خو د شفاء لپاره يې نه منو نو مجازاً نسبت د شفاء دغه آيت نه ثابتيږي.

او کله د يو ولي الله زيارت سره خوا کې يوه چينه وي او خلک ځي جلد مريضان جلدي

تکلیف والاهلته هغه چینه کې لامبي د شفاء په نیت د جلدي مرض لپاره شفاء گرځي نو دا خو
درسره ییخي نه مني دا خو وایي سو چه شرک ده.

هغې لپاره به تاسو دلیل کې دا پیش کوي د درویشتمې سیپارې آیت:

﴿ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ﴾. سورة ص آیت:.

ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته جلدي تکلیف وه او وهه خپه باندې دغه ځای چینه به راپیدا شي دا
مغتسل بارد ده او دا او به وڅکه او پرې ولامبه صحت به د رشي ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه او به
وڅکلي هغه اوبو کې یې ولمبل شفاء ورته ملاو شوه.

خالق په غیر ددې اوبو نه هم شفاء ورکولې شوه هغه چینه اوس هم مسقط عمان کې
شته ده سلاله ورته وایي اوس هم شته دي او ما یې لږې اوبه پاکستان ته هم ځان سره راوړې
وي او هلته روزمره په سلگونو جلدي مریضان د دنیا له گوټ گوټ نه ورځي چې په هغه چینه
کې ولامبي الله پاک صحت ورکوي د قرآن عظیم نص پرې گواه دي.

ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې لمبلي وه بنه شوې وه هغه چینه د هغه د خپې له وجې نه راوتلي وه
اوس که یو سړي وایي چې هغه ته خو امر شوې وه او که بل سړي لامبي شرک ده دا خو نه شي
کیدې چې یو شي دې یو شخص ته دې شرک وي او بل ته دې توحید وي.

او بل دا چې اهل حدیث وهابیان لاړ شي حج ته د اوبو د زمزم نه دوي هم بوشکې را
ډکې کړې وي او دلته یې د برکت لپاره څکي.

نو دغه او به خو د جنت نه، نه دي راغلې زمزم اوبو کې څه کمال ده که سوچ وشي داد
اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ پوندې سره تعلق لري او اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ پیدائشي پیغمبر نه وو بعثت
یې وروسته شوې تول انبیاء د بعثت نه مخکې اولیاء وي نو د زمزم اوبو تعلق د یو ولي د
پوندي سره دي هغه د برکت لپاره استعمالوي شرک نه ده او که د یو بل ولي زیارت سره اوبه
د برکت لپاره استعمال شي شرک ده نو دا فرق چا کړي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي:

ماء زمزم لما شرب. اوبه د زمزم شفاء ده د څه لپاره چې وڅکل شي نو اوبه مخلوق دي
بیا مخلوق د یو ولي د قدم سره تعلق لري او هغې نسبت د شفاء او برکاتو کیدې شي خو مؤثر
حقیقي به یې نه گني.

شرک دې ته نه وايي چې اسباب استعمال شي بلکه شرک داده چې ته د غه سبب مؤثرِ حقيقي وګڼې او که دا سبب مؤثر حقيقي نه ګڼي بلکه مؤثرِ حقيقي الله جَلّجَلَالُهُ ګڼي دا اسباب محضه وګڼي نو څه باک نشته.

بل دليل سورة بقرة آيت: ۲۵۱:

﴿وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ وَلَكِنَّ اللهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ﴾

که نه وای الله تعالی دفع کړي خلکو لره بعضې په بعضې نورو خامخا ځمکه به فاسده شوې وه ليکن الله فضل کوونکي ده په عالم باندې آيات دا ثابت کړل چې بعضې خلک مدفوعين دي او بعضې مدفوع بهم الفساد دي.

د بعضې خلکو په برکت سره فساد بعضې نورو نه دفع کيږي دفع کوي يې خالق خو بعضې يې د بعضو لپاره اسباب کړل. دې کې علماء اختلاف لري:

الناس لمدفوع بهم الفساد.

څوک دي اشاره دې کې چا ته ده چې د هغوي په وجه فساد دفعه کيږي يو قول داده چې دا مجاهدين دي رشتيا که مجاهدين نه وايي فساد راته کفار به راغلي وو ستا به يې هر څه ختم کړې وه لکه مسجد و نه مدرسې نور ديني مقدسات. نو بعضې مفسرين وايي:

الناس المدفوع بهم الفساد.

مجاهدين دي د دوي د جهاد په برکت سره خدای تعالی دا ځمکه د فساد نه بچ کوي نو مجاهد به مفسد نه وي دافع د فساد به وي.

سوات کې هم مجاهدين پيدا شوې وه باړه کې هم وه نو دا خو مجاهدين نه دي دا خوارج دي.

دويم قول د حضرت علي کرم الله وجهه چې:

الناس المدفوع بهم الفساد.

ابدالين اولياء دي.

تفسير القرطبي جلد ۳ صفحه ۲۵۹:

واختلف العلماء في الناس المدفوع بهم الفساد من هم فقيل هم الابدال وهم اربعون

رجلاً كلما مات واحد بدل الله اخر فاذا كان عند القيامة ماتوا كلهم اثنان وعشرون منهم بالشام وثمانية عشر بالعراق .

په عراق او شام كې يې پيدائش وي نور كرځي ټوله دنيا كې .

وروي عن علي رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان الابدال يكونون بالشام وهم اربعون رجلاً كلما مات منهم رجل ابدل الله مكانه رجلاً يسقى بهم الغيث .

باران چې كيږي په خلكو بهم ببركتهم ، دا باءد بركت تيمن لپاره دده وي په بركت باران كيږي .

وينصر بهم على الاعداء . مجاهدين چې په دشمنانو كاميږي ددوي په بركت :

ويصرف بهم عن أهل الأرض البلاء . د خلكو نه مصيبتونه ددوي په بركت دفع كيږي.

ذكره الترمذي الحكيم في نوادر الاصول :

وخرج ايضاً عن ابي الدرداء قال ان الانبياء كانوا اوتاد الارض فلما انقطعت النبوة أبدل الله مكانهم قوماً من امة محمد صلى الله عليه وسلم يقال لهم الابدال لم يفضلوا الناس بكثرة صوم ولا صلاة ولكن بحسن الخلق وصدق الورع وحسن النية وسلامة القلوب لجميع المسلمين والنصيحة لهم ابتغاء مرضاة الله بصبر وحلم ولب .

داد ابدالو حالات ما كتلي واي دا يو ځل كشتي كې سواره وه ډير عجيب خلك دي.

دلته يو شيخ هم سور ده د جمعي لمانځه ته روان ده دا عابد شيخ ورته وايي چې ما ديرش كاله كيږي چې روژه مې نه ده ماته كړي ديرش كاله مې مسلسل روژه نيولې د ځان تعريفات يې وكړل .

ابدالينو كې دا شخص غلي ناست وه يوه كهجوره يې راويستله په خوله يې كړه هغه شيخ ته وايي : قسم بالله دا يوه كهجوره ستا ديرش كاله روژي نه بهتره كڼم چې ما وخوړله.

وايي دا څنګه وايي څكه دا كهجوره حلاله ده بدون شك او تا چې پيشمني كړي په مشتبهاتو دي كړي مونږ ابدالين چې يو اكل د حلال پسې ځان وژنو او مشتبه نه ځان ساتو .

دا ابدالان داسې خلک دي دا کثرة الصیام صوم دي قصو کې ډیر نه وي خپل مفروضات او مسنونات پوره کوي او د حرامو نه ځان ساتي .

نو دلته یو تفسیر دا شو چې مراد هغې نه ابدالین دي چې په برکت د هغو سره خلک د عذاب نه بچ کیږي او د عذاب نه خلاصیږي دا داولیاء صوفیاء خپل خپل اصطلاحات دي.

ابدال اوتاد غوثان نجباء نقباء صلحا او ددوي خپل خپل مقامات دي او په هغه کې تاسو هغه حدیث نه هم استدلال کولې شي :

لولا عباد لله تعالی رکع رکع .

که چیرته نه واي بندګان د خدای رکوع کوونکي مراد ترې نه علماء دي اولیاء دي .

وصبیان رضع وبهائم رتع لصب علیکم العذاب صبًا ثم رص رصًا .

مراد واړه ماشومان شیدوربدونکي نه وایي او څاروي څریدونکي نه وایي او څاروي څریدونکي نه وایي شدید عذاب به راغلې واي نو لولا انتفاء د شيء ثاني له وجې وجود د شيء اول نه دا سخت عذاب چې نه راځي دا ولې واړه ماشومان شته د هغوي د برکت نه، نه راځي ،ولې څاروي شته ولې عباد رکع شته .

بل دلیل د قرآن کریم نه سورة کهف آیت : ۸۲:

﴿وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا﴾

دا دیوال چې خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته جوړ کړ علت یې څه ده .

وکان ابوهما صالحاً په برکت د صلاح د نیکه ددوي باندې رب کریم خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ مامور کړ په جوړولو د دیوال باندې .

الدر المنثور في التفسیر بالمأثور جلد ۵ صفحه ۴۲۲ جلد ۹ صفحه ۶۰۴ دې ځای کې:

واخرج ابن ابي حاتم عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال ان الله یصلح بصلاح الرجل ولده وولد ولده ویحفظه في ذریته .

په صلاح د رجل سره خدای پاک بنه کوي بچي او بچي د بچي .

ويحفظه في ذريته والدويرات حوله . ساتي د هغه ښه سړي په برکت اولاد دده او ګرد چاپيره ګاونډ دده .

د ګاونډي باره کې بل حديث موجود ده چې :

مائة من جيرانه . سل ګاونډيان دده د يو رجل صالح له برکته سل ګاونډيان له عذاب نه محفوظ وي .

د ډاکي شيخ صاحب سره ناست وم چا ترې تپوس وکړو چې نيکان خلک برکت لري نو ګرمي وه ده ته چا پکي وهلو نو تپوس يې ترې وکړو چې هوا درځي که نه ؟ هغه وويل چې هو راځي وايي دا پکي ما ته وهي که تا ته يې وهي وايي نه تا ته يې وهي .

نو شيخ صاحب ورته وويل تا ته څه خوند درغې که نه نو دا شخص صالح هم دغه شان وي نو دا چم ګاونډ ته د هغه برکات وي . نو وايي :

فما يزالون في ستر من الله وعافية . دا ګاونډيان د نيک شخص في ستر من الله وي او په عافيت کې وي .

بيا حديث پيش کوي :

واخرج ابن مردوية عن جابر قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان الله يصلح بصلاح الرجل الصالح ولده وولد ولده وأهل دويرات حوله فما يزالون في حفظ الله مادام فيهم .

ترڅو دا رجل صالح دوي کې وي د الله په حفاظت کې وي دده برکت شو .

واخرج ابن المبارك ابن ابي شيبة عن محمد بن المنكدر موقوفاً واخرج احمد في الزهد عن كعب قال ان الله يخلف العبد المؤمن في ولده ثمانين عاماً .

وايي د نيک سړي نيک بنده اتيا کاله خداى پاک خليفه وي يعنې ساتنه يې کوي د هغه له برکته اتياه کاله دا نسل نه خرابوي نو دا په دنياوي لحاظ سره ظاهري او عملي لحاظ سره خو بعضې زر خراب شي .

خو ليکن که تاسو هغه خرابي وګورې چې پلار يې ښه سړي وي که څوي هر څومره فاسق وي هم د هغه دنياوي عزت کوي هغه عزت دده لا برابر وي دا هغه برکت د پلار له وجې .

المبحث الثالث : في اثبات التبرک من الاحاديث :

دې کې به د صحابه کرامو عمل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ظاهره شي دوي مبارکانو ته لو په وخت د مصائبو او مرضونو کې تبرکات استعمال کړي په نيت د شفاء باندې په نيت د کثرت او زيادت باندې د تبرک استعمال کړي زيات روايات دلته مونږ پيش کوو :

د بخاري او مسلم نه چې هغه مسلم دي بيننا و بين الخصم د سند په احاط سره :

صحيح البخاري جلد ۷ صفحه ۱٦۰ که پاکستاني چاپ ګوري نو جلد ۲ صفحه ۷۵ باندې ليکي :

حدثنا مالك بن اسماعيل حدثنا اسرائيل عن عثمان بن عبدالله بن موهب قال ارسلني اهلي الى ام سلمة زوج النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . دې وايي چې زه خپلې بي بي وليږلم ام سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ته :

بقدح من ماءٍ . لاس کې راکړه پياله د اوبو .

وقبض اسرائيل چې راوي ده :

ثلاث اصابع من قصة فيه .

چې په هغه پياله کې :

شعر من شعر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

زلفي وي له زلفو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نو .

يو پياله د اوبو ام سلمې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا سره وه او په هغه کې اسرائيل راوي دري ګوتې ضم کړي چې هغې کې داسې زلفې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به پرتې وي او دا ام سلمې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا څه د پاره ساتلې وي .

وكان إذا أصاب الإنسان عين . مدينه منوره کې چې کوم انسان ته به نظر ورسيده .

او شيء . يا بله څه بيماري يا نظر يا بله څه بيماري .

بعث إليها مخضبه . ځوک به يې وليږه ام سلمې لره مخضبه معنى يې په اجاني سره کيږئ لوخي ده .

فاطلعت في الجلجل . ما سر ورښکاره کړ .

فرأيت شعرات حمرا. ما وليدلي څه زلفې سوربخنې رنګ يې سور وه .

نو چا استدلال کړي چې استعمال د نکريزو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړې وه .

واضحه دليل دادې چې بالفعل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نکريزې نه دي استعمال کړي بلکه داد ويښتانو کمال او حسن وي چې سوربخنې لړيږي .

دلته دا معلومه شوه چې مدينه منوره کې چا ته بيماري وه نظر يا بل څه بيماري هغوي ام سلمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره تللي زلفې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوبو کې وهلې شوې هغه يې ورکړې .

د شفاء په نيت د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زلفې استعمال شوې .

دا رنګې صحيح مسلم جلد ۴ صفحه ۱۸۱۵ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۲۵۷ انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راوي دي :

کان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يدخل بيت ام سليم فينام على فراشها وليست فيها فجاء ذات يوم فنام على فراشها فاتيت فقيل لها هذا النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نائم في بيتك على فراشك قال فجاءت .

دا ام سليم راغله مور د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

وقد عرق . په داسې حال چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوله وه .

واستنقع عرقه على قطعة اديم على الفراش .

تو يه د څرمن پرته وه په فرش د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوله مبارکه څڅيده هغې ته .

ففتحت عتيدتها . بي بي خلاص کړ دَسګوَل خپل .

فجعلت نو شروع شوه تنشف اچوله يې .

ذلك العرق فتعصره . نچوړلوه يې .

في قواريرها . په يو بوتل کې .

ففزع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . په ويره راويښ شو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

فقال ما تصنعين يا ام سليم؟. څه کوي ؟

فقالت يا رسول الله نرجو بركته لصبياننا.

وويل ام سليم اميد ساتو برکت ددې خولې ماشومانو ته.

قال أصبت. رحمة عالم ﷺ جواب ورکوي بي بي حق ته رسيدلې يې.

برکت ددې خولې دا وه چې کوم ماشوم به مريض شو نو دغه خولي به يې ورکولې ماشوم به بنه شو .

گورئ رسول پاک ﷺ رد پرې نه کوي چې نه داسې مه کوه بلکې ورته وايي :

أصبت . حق ته رسيدلې يې .

دا معروف چاپونه پاکستان کې چې دي د هغې په حاشيه باندې منهاج د امام نووي لريدلي هغه دې ځای کې باب لړوي : ﴿**باب طيب عرقه النبي ﷺ والتبرك به**﴾.

دريم روايت فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۲۱۰، دې کې خالد بن وليد رضي الله عنه د يو پهلوان مقابلې ته وتلې :

قال الواقدي وخالد يقول حي حي فعلا البطريق على ظهر خالد في عثرته وقد سقطت قلنسوته من رأسه فصاح قلنسوتي رحمكم الله فأخذها رجل من قومه من بني مخزوم وناوله اياها فاخذها خالد ولبسها فقيل له فيما بعد .

وروسته چا ورته وويل د کافر سره د مقابلې په وخت دې ټوپۍ پسې ولې آوازو کړو؟

يا أبا سليمان انت في مثل هذا الحال من القتال وانت تقول قلنسوتي فقال خالد ان رسول الله ﷺ لما حلق رأسه في حجة الوداع أخذت من شعره شعرات .

راوامې خستلې څو زلفي .

فقال لي ما تصنع بهؤلاء يا خالد؟. ما ته نبي عليه السلام وويل ای خالده په دې څه کوي ؟

فقلت أتبرك بها يا رسول الله واستعين بها على القتال قتال اعدائي .

ما ورته وويل برکت پرې حاصلوم او په وخت د جنګ کې برکت حاصلوم په وسيله ددې

ويښتو نو دا زلفې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ذات نه جزء وي او جزء د ذات د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا وسيله بالذات هم ثابته شوه .

فقال لي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا تزال منصوراً مادامت معك .

دا زلفې چې څو پورې درسره وي تا سره به امداد کيږي .

فجعلتها في مقدمة قلنسوتي . هغه ما ايښي دي د ټوپي مخکې حصه کې .

دا زلفې يې په ټوپي کې تعويذ کړې وي .

فلم الق جمعا قط الا انهزموا ببركة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . يو جنګ کې هم مخامخ شوې نه يم مګر هغوي شکست خوړلې په برکت د زلفو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره .

دا رنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۵۴ د پاکستان په چاپ کې صفحه ۲۹ جوړيږي :

عن ابن سيرين عن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما حلق رأسه كان ابوطلحة اول من اخذ من شعره .

اول زلفې ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ را واخيستې نو رو روايا تو کې راځي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ده ته ورکړې نو دا زلفې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د برکت لپاره دوي ساتلې وي .

دا اوس هم چې چيرته زلفې مبارکې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي نو په دې کې هيڅ شک مه کوي ځکه دا تقسيم شوې وي ټولو صحابوو باندې په حجة الوداع چا ته يو چا ته دوه په ټولو توضيح شوې او هغوي قدرمن خلک وه دا يې بيا نه ضائع کولې نو همغه دي چې دنيا کې ګوټ ګوټ ته رسيدلي .

همدا رنګې صحيح مسلم جلد ٦، ٣ صفحه ١٣٩، ١٦٤١ پاکستان چاپ جلد ٢ صفحه ١٩٠، کتاب اللباس، روايت کې اختصار کوم مقصد ته راځم :

عن عبدالله مولى أسماء بنت أبي بكر وكان خال ولد عطاء قال أرسلتني أسماء إلى عبدالله بن عمر فقالت هذه جبة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأخرجت إلى جبة طيالسة كسروانية .

راويستله يوه جبه طيالسة دا نسبت ده :

لها لبنة ديباج . څه حصه وريښم دې کې استعمال وو .

وفرجيها مكفوفين بالديباج. ګريبان او نستوړي يې په وريښمو جوړ شوې وو.

فقالت هذه كانت عند عائشة حتى قبضت فلما قبضت قبضتها وكان النبي ﷺ يلبسها فنحن نغسلها للمرضى يستشفي بها.

مونږ دا وينځو دا جبه بيمارانو ته شفاغواړو د الله په برکت ددې جبې سره.

دلته منهاج ليکي:

في هذا الحديث دليل على استحباب تبرك بآثار الصالحين وثيابهم.

ګوره هغوي پوهيږي چې شفاء خالق ورکوي خو د اسبابو استعمال منافي د توحيد سره نه دي.

دارنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۲۹ ابن سيرين رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي:

فقال قلت لعبيدة عندنا من شعر النبي ﷺ.

مونږ کره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ويښته دي.

اصبناه من قبل انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. د انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مونږ ته راپاتې دي.

او من قبل أهل أنس. شک راوي کړي.

فقال لأن تكون عندي شعرة منه أحب إليّ من الدنيا وما فيها.

عبيده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جواب ورکوي که ماسره يوه زلفه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وي ما ته د دنيا او آخرت نه غوره وه.

دارنګې الاصابة في تميز الصحابة جلد ۱ صفحه ۴۱۴ شفاء د قاضي عياض جلد ۱ صفحه ۲۱۸، تهذيب الاسماء جلد ۱ صفحه ۱۷۵ صفوة الصلاة جلد ۱ صفحه ۶۵۳ شرح د زاد المسلم فيما اتفق عليه البخاري والمسلم جلد ۵ صفحه ۶ نسيم الرياض شرح د قاضي عياض جلد ۳ صفحه ۱۳۳.

دا ټولو کتابونو د خالد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه روايت رانقل کړي په دغه مذکورو حوالو.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۳۱ دې کې روايت ذکر کوي:

و إذا توضأ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كادوا يقتتلون على وضوئه.
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله اودس کولو قريبه وه چې صحابه يو بل مړه کړي.
على وضوئه. په باقي مانده اوبو داوداسه.

وُضُوء بضم الواو چار اندام، وضَوء بدر الدين عيني ذکر کوي چې بقيه اوبو د اودس ته هم وايي او اوبو مستعملو ته هم وايي د اندامونو نه چې کومې اوبه څاڅي.
دغه اوبه به صحابوو ځمکې ته نه پريخودې لوټه کې به يې له هغه نورو اوبو سره ګډې کړې او د برکت لپاره به يې په ځانونو مږلې.

نو دلته راغي کادوا يقتتلون قريبه وه چې دوي به يو بل وژل په بقيه اوبو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اوداسه باندې، مطلب رش به جوړوه. دا واقعه د حجة الوداع ده.

همدا روايت بيا په کتاب الشروط جلد ۱ صفحه ۳۷۹ کې ذکر ده خو عبارت د فيتمسحون به ورسره زيات ده تمسح به يې پرې کولو.
دا رنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۳۷۹ کې ليکي:

قال عروة عن المسور بن مخرمة و مروان خرج النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمن حديبية فذكر الحديث وما تنخم النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نخامة الا وقعت في كف رجل منهم فدلك بها وجهه وجلده الحديث.

تنخع دا تنخع بالعين التي يأت من الحلق. هغه څه چې د ستوني نه راشي بلغم ورته وايي.
تنخم بالميم: التي يأتي من الأنف. چې کوم د پوزې نه راشي.
دا محبت د صحابوو وو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاړې او بلغم به يې د تبرک لپاره خپلو ځانونو پورې مږلې دا ددوي مينه وه له نبي پاک عَلَيْهِ السَّلَامُ سره.
دا رنګې مسلم جلد ۲ صفحه ۲۰۹ دې کې باب د تحنيک د مولود لپاره ليدلې ده:
باب استحباب تحنيك المولود عند ولادته وحمله الى صالح حنك.
وړل د ماشومانو نيک سړي ته چې تحنيک يې وکوي يعني ګوته تالو ته ورښکته کړي.

ځنك تالو ته ويلې شي لپاره ددې چې لاړې يا خوږ شي تالو ته ورسيږي .

نو دلته امام مسلم ډير روايات را اخلي خو مجموعه د هغه رواياتو داده چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې هغه ته ماشومان راوړل شوې او هغه د برکت لپاره خوله کې لاړې ورته اچولې نو يو روايت د عائشې بي بي چې جامع ده ټولو لره :

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يؤتى بالصبيان فيبرك عليهم ويحنكهم .

د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې به چې ماشومان پيدا شول راوړل به يې نبي پاک صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هغه په ورته د برکت دعا کوله او په خوله کې به يې لاړې ورته اچولې .

دا جامع شو ټولو لره .

نورو رواياتو کې د ماشومانو نمونه ذکر شوې دي لکه يو د هغې نه د عبدالله بن زبير واقعه ده چې مور بي بي د هغه اسماء قباء ته په هجرت کې راغله نفاسه شوه وايي ما عبدالله بن زبير صاحب راوسته نبي عَلَيْهِ السَّلَام لپاره لاړو اچولو په خوله دده کې .

فأخذه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منها فوضعه في حجره .

په غيږ کې يې کينوه واچوه :

ثم دعا بتمرة . کهجوره يې راوغوښتله :

قال قالت عائشة فمكثنا الساعة نلتمسها . مونږ کهجوره لټوله .

نلتمسها قبل ان نجدها .

هغه غريبي خپله ثابتوي کور کې يې کهجوره نه وه څه ډير وخت دې کې تير شو چې مونږ کهجوره پيدا کړه .

فمضغها . نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه وچوپله .

ثم بصقها في فيه . بيا يې ورکړه سره د لاړو په خوله د زبير کې هغه خوږو الې يې د ماشوم په خوله کې ورتل کړ سره د لاړو .

فان اول شيء دخل بطنه لريق رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . اول شيء چې خيټې د عبدالله بن زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته داخل شوې لاړې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وې .

ثم قالت اسماء ثم مسحه وصلى عليه وسماه عبدالله.

داسې نور قصې هم شته خو جامع ورلره دا حديث د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا ده.

امام نووي رَحِمَهُ اللهُ منهاج كې لاندې شرح كوي چې مستحبه دا شوه چې:

أن يكون المحنك من الصالحين و ممن يتبرك به رجلاً كان او امرأةً فان لم يكن حاضراً عند المولود حمل إليه.

نو بل كلي چيرته بزرګ ته دې ويسي كه خپل كلي كې يې بزرګ نه وه نو داد حقوقو لازموو نه شو كه حق نه وي دومره تاكيد يې كله كوه چې بل ځاى ته يې ويسه د بل كلي بزرګ ته.

همدارنګې په روايت د مسلم كې راځي چې كله فرشتې ځمكې ته راشي لټوي مجالس د ذكر طويل حديث دي څه فرشتې رب كائنات ته وايي چې فلان عبد هم په لار تيريدو هسې كوم كار پسې راغلې وه هغه هم دي مجلس د ذكر كې ناست وه حديث كې راځي:

وله غفرت هم القوم لا يشقى بهم جليسهم. ده ته مې هم په كې بخښنه وكړه ځكه نه بدبخته كيږي، هغه جليس د ذاكرينو سره.

بهم ببركتهم باء د تيمن تبرك سببيت د پاره شوه جليس د دوي اګر چه نيت بل څه وه مسلم شريف جلد ۱۳ صفحه ۱۹۶.

هغه اعتراض دفع شو چې د غير معصوم تبرك نه منو ذاكرين خو معصوم نه دي.

دارنګې امام مسلم جلد ۲ صفحه ۳۵۱ روايت نقل كوي:

وعن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إذا سمعتم صياح الديكة.

كله چې د چرګ آذان واوري.

فسئلوا الله من فضله. خدا تعالى نه دعا غواړي د فضل د هغه.

فانها رأت ملكا. دې چرګ فرشته ليدلې ده.

اذا سمعتم نهيق الحمار. او چې كله مو واوريدله رامباړه د خره.

فتعوّذوا بالله من الشيطن فإنها رأت شيطاناً.

خر چې کله آواز کوي اعوذبالله وايي چرګ چې کله آذان کوي دعا کوي .

دلته استدلال داسې کوو چې چرګ آذان کوي نو دا دعا غواړي ځکه ده فرشته ليدلې ده او فرشته صالحه ده ، او کوم ځای کې چې صالح موجود وي دعا قبليږي د هغه له برکت نه .

نو معلومه شوه چې د نيک صالح په موجودګي کې دعا قبليږي برابره خبره ده چې صالح دنيا کې وي او که دنيا نه تللې وي .

په دې سره ددوي هغه اعتراض هم دفع شو چې کور کې دعا کوي مزار ته ولې ځي نو هلته ځکه ځو چې د نيک صالح سره خوا کې دعا بنه قبليږي هلته ځکه ځم صالح موجود ده .

دې ځای باندې امام نووي صاحب شرح کې ليکلي :

فيه استحباب الدعاء عند الحضور الصالحين والتبرك بهم .

دې حديث نه پته لګي چې دعا په وخت د حضور د صالحينو کې مستحب ده او تبرک د صالحينو هم ثابت شو .

دارنګې مسلم شريف جلد ۲ صفحه ۲۵۶ باندې ليکلي ، انس ابن مالک رضي الله عنه يې راواي دي :

قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا صلى الغداة جاء خدم المدينة بآنيتهم فيها الماء فما يؤتى باناء الا غمس يده فيها فربما جاءوه في الغداة البار دة فيغمس يده فيها .

داد مدينې د انصارو عقيده وه، غلامان به يې مامور کړي وه په دې باندې چې جامونه ډک کړي مسجد نبوي نه بهر د نبي عليه السلام په لاره کې او دريږي رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک به د سحر مونځ وکړو او کور ته به روان وو لار کې به اخوا ديخوا غلامان ولاړ وه ډک جامونه به يې په لاس کې وه رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک به يو يو جام کې لاس بنکته کولو تيريده به .

دا جامونه به يې کور ته راوړل او نورو اوبو سره به يې ګډې کړې انصارو به خپلو کورونو کې دغه اوبه استعمالولې داد ټولو صحابو د مدينې منورې عقيده د تبرک وه .

دارنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۳۱ ابو موسی اشعري رضی الله راوي ده :

قال دعا رسول الله صلى الله عليه وسلم بقدح فيه ماء فغسل يديه ووجهه فيه ومج فيه .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پیاله راوغوښته هغې کې اوبه وي لاسونه یې ووینځل مخ یې هم ووینځه بیا یې په هغې کې اوبه واچولې.

ثم قال. دلته بلال صاحب او ابوموسی صاحب دواړه ولاړ دي. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل:

اشربا منه. وڅکي دا اوبه.

وافرغا علی وجوهکما ونحورکما. بقیه چې پاتې شوې په مخ یې واچوي په سینه یې واچوي د برکت لپاره.

دارنګې بخاري شریف جلد ۱ صفحه ۵۰۳ بلال حبشي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حجة الوداع کې خادم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وه:

خرج بلال فنادی بالصلاة ثم دخل. خیمې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ داخل شو.

واخرج فضل وضوء رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اودس نه باقي اوبه یې راویستلې آوازیې وکړو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اودس مابقیه راسره دي.

فوقع الناس علیه یأخذون منه. شروع شول خلک د هغې نه یې اخذ کوه.

بل حدیث کې وایي:

فیتمسحون به. په ځان باندې یې مږلې.

دارنګې مسلم شریف جلد ۱ صفحه ۱۶۰ باندې لیکلي دي: أسید بن حضیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یې راوي دي عائشې بي بي ته شکایت کوي:

ماهي باول برکتکم یا آل ابي بکر.

ای د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اولاده دا ستاسو اولین برکت نه دي ستاسو خاندان نه دین اسلام ته ډیر برکات رسیدلي یو برکت دا ده چې تا نه هار ورک شو په هغې کې تخفیف د تیمم راغې دې کې ورته نسبت کوي.

دارنګې بخاري شریف جلد ۱ صفحه ۴۱۳ باندې لیکلي دي: داد خیبر واقعه ده او هغه روایت ده چې فتحه د خیبر کیږئ زه به صبا یو کس ته جنډه ورکوم د هغه په لاس به فتحه

راځي:

فقاموا يرجون لذلك أيهم يعطى.

صحابه كرام ولاړ دي اميد ساتي چې کوم يو ته به جنډه ورکول کيږي.

فغدوا وکلهم يرجوان يعطى.

سحر کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آواز کوي:

أين علي؟ چيرته ده حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ؟

فقيل يشتکي عينيه. چا ورته وويل سترګې يې بيماري دي.

فأمر فدعى له. امر يې وکړو راوغوښتې شو.

فبصق في عينيه. په سترګو کې يې لاړې ورته واچولې.

فبرأ مکانه. سمدستي جوړ شو.

حتى کأنه لم يکن به شيء. تا به ويل چې بيمار نه وه.

فقال نقاتلهم حتى يکونوا مثلنا.

اجازت ده وژنم به يې ترهغې چې مونږ غوندې ايمان يې راوړې نه وي.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايي:

على رسلك. لږ په دمه شه لږ په دمه ځه.

حتى تنزل بساحتهم. چې د هغوي ساحې ته چې داخل شي.

ثم ادعهم إلى الإسلام. اول دعوت د اسلام ورکړه.

واخبرهم بما يجب عليهم. خبر يې کړه چې څه پرې لازم دي.

فو الله لان يُهْدى بك رجل واحد خيراً لك من حمر النعم.

چې ستا په وجه يو سړي ته هدايت وشي دا تا ته غوره ده له سرو اوښانو نه.

استدلال ده، د **فبصق عينيه** نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاړي مبارکې د شفاء لپاره استعمال شوې.

دارنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۴۴۱ باندې ليکلي: **باب برکة الغازي في ماله حياً وميتاً.**

بر کت د غازي په مال کې ژوندي وې او که مړ وي د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د شهيد بر کات شته دي نو دې مړي ته د بر کت عقيده ساتي .

اهل حديث دې عقيدې ته شرک وايي .

امام بخاري پرې ترجمه کې باب لړوي بيا دې کې يو طويل روايت دي د حضرت زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه واقعه ده هغه بيانيږي .

دارنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۵۰۱ :

عن الجعد قال سمعت السائب بن يزيد (ماشوم صحابي ده) يقول ذهبت بي خالتي الى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالت يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان ابن اختي وجع (ليکل داسې شوې او د شيخ صاحب رَحِمَهُ اللهُ د خولې نه داده : وقع). دا روايت هم شته .

فمسح رأسي ودعا لي بالبركة . دعا د برکت يې راته وکړه .

ثم توضأ . بيا يې اودس وکړو .

فشربت من وضوئه . د هغه د اوداسه اوبه مې وڅکلي .

نو دغه وخت کې تبرک په وضوء د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې معمول عام د صحابوو وو چا ته به چې ملاو شوې صرفه به يې نه کوله .

دارنګې بخاري جلد ۲ صفحه ۸۷۱ اول جلد صفحه ۵۴ کې هم مذکور ده هغه د بلال صاحب روايت دي :

رأيت بلالاً أخذ وضوء رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بقيه اوبه د اوداسه بلال صاحب راواخيستې .

ورأيت الناس يبتدرون ذاك الوضوء . خلک يو بل نه مخکې کيږي دې اوبو پسې ځان رسوي .

فمن أصاب منه شيئاً تمسح به . په ځان يې راکاږي .

ومن لم يصب منه شيئاً . چا ته چې دا اوبه ونه رسيږي .

اخذ من بلل يد صاحبه . د ملګري د لاس لوندوالي نه لوندوالي راواخلي په ځان يې

ومړي ځکه اوبه لړې دي او خلک ډیر دي .

نو چې چا ته ورسیدي ځان پورې به یې مړلي او که چا ته به ونه رسیدې د بل ملګري لاس سره به یې لاس تیچ کړ د هغه لاس نه به یې لوند والې واخیست ځان پورې به یې مړه .

دارنګې بخاري جلد ۲ صفحه ۸۴۲ ، ابو بزده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي :

قال لي عبدالله بن السلام . ماته عبدالله بن سلام وویل :

ألا أسقيك في قدح شرب النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيه .

اوبه وڅکم درباندې په هغه پیاله کې چې کومه کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوبه څکلي دي ګوره دوي دا فخر ګڼي زما کور کې پیاله ده هغه کې نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوبه څکلي زه نن تا ته هغه پیاله کې اوبه درکومه ځکه هغوي به دې ته خوشحالیدل چې دا هغه پیاله ده کومه باندې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ شونډې مبارکې لږیدلې دي .

دارنګې بخاري جلد ۲ صفحه ۸۴۲ باندې لیکلي ، سهل ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي روایت دده دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل سهل ته :

اسقنا یا سهل. مونږ ته اوبه راوړه ای سهله !

فخرجت بهذا القدح . پیاله ورسره ده نو وایي :

فخرجت لهم بهذا القدح. دا پیاله مې ورته راویسته .

فأسقيتهم فيه . دغه پیاله کې مې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته اوبه ورکړې .

فأخرج لنا سهل .

د اخرج فاعل چې ده ابو حازم اخذ هذا الحديث ابو حازم وایي راویسته مونږ ته سهل ذلك القدح .

هغه پیالې کومه کې چې یې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته اوبه ورکړې وې مونږ ته یې راوویسته.

فشربنا منه . مونږ هم د هغې نه اوبه وڅکلي .

ثم استوهبه عمر بن عبدالعزيز بعد ذلك فوهبه له.

عمر بن عبدالعزیز ترې نه طلب کړه چې ما ته یې راکړه نو هغه ته یې ورکړه بادشاه د

وخت ده هغه ورته سوال کوي چې دا ماته راکړه چې دې کې نبي پاک ﷺ اوبه څکلي وي.

دارنګې مسلم جلد ۲ صفحه ۱٦۲ باندې ليکلي دي، حضرت انس رضي الله عنه سره يوه پياله ده فخر کوي:

لقد سقيت رسول الله ﷺ في هذا القدح أكثر من كذا وكذا.

نبي عليه السلام ته مې په دې پياله کې ورکړي زيات له دومره دومره نه يعنې ډيرې زياتې اوبه ما نبي پاک ﷺ ته په دې پياله کې ورکړي.

قال ابن سيرين رحمه الله انه كان في حلق من حديد. دې کې د اوسپنې يوه حلقه وه.

حضرت انس رضي الله عنه اراده لري:

ان يجعل مكانها حلقة من ذهب او فضة. چې د سروزيا سپينو زرو کړی په کې جوړه کړي په ځای ددې.

ابو طلحه رضي الله عنه ورته فرمايي:

لاتغيرن شيئاً صنعه رسول الله ﷺ فتركه. تغير مه ورکوه.

دا روايت بخاري هم ذکر کړي: باب الاشربة کې دويم جلد صفحه ۸۴۲ باندې.

قسطلاني شارح د بخاري نقل کوي د مختصر البخاري او قرطبي نه حواله کوي وايي: او فتح الباري کې ذکر دی صفحه ۱۲۳ جلد ۱٦:

و ذكر القرطبي في مختصر البخاري أنه رأى في بعض النسخ القديمة من صحيح البخاري.

وايي په نسخو قديمو د امام بخاري دلته دا الفاظ موجود وه.

قال أبوعبدالله البخاري رأيت هذا القدح بالبصرة. دا پياله مې بصره کې وليده.

وشربت فيه. ما په کې اوبه وڅکلې.

وكان اشترى من ميراث نضر بن انس بثمان مائة الف.

له دغه شخص نه ما تپوس وکړو دا دې په څو اخيستې ده وايي داد نضر ابن انس چې اولاد حضرت انس رضي الله عنه ده د هغوي نه ما په اته لکه درهمه اخيستې.

کومه پیالي چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بخاري په روایت وایي چې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په کراتو اوبه ورکړي په کې.

دارنګې مسلم شریف جلد ۲ صفحه ۱۷۸ باندې لیکلي : داد خندق واقعه ده طویل روایت ده د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي یو شخص نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راغې خیټه پورې یې کانړي تړلي وه د ولږې له وجهې نه، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې وویل زه وږې یم دې وخت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تکیه کړې وه راپاڅیده د خیټې نه یې لمنه اوچته کړه دوه کانړي ده تړلي وه.

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا صحنه ولیده وایي په منډه کور ته راغلم بي بي ته مې وویل څه شته که نه یو وړوکي چیلي وه تقریباً دوه کلیلو وربشې وي ما وویل دا زر اوړه کړه په میچنې چیلې مې حلال کړه ما ویل دا باندې کړه پټ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وایم بس د یو څو نفرو به بس شي.

زر کسان لګیا دي په خندق کې کار کوي وایي چې راغلم نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ما ورته وویل چې روټې مې کړي مونږ سره لاړ شه هغه وویل یو اځې ما بو ځې که دا ټول خلق؟

زه د حیاء نه غلې شوم چې څه دوي به خپله سوچ وکړي چې د جابر صاحب غریبي او دومره خلک، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلان کوي بلال صاحب ته وایي آواز وکړه د خندق خلکو ته چې جابر صاحب ډوډي کړې ده.

خلک راروان شول وایي زه ډیر زیات خفه شوم وایي چې کله د کور نه راتلم ما ته بي بي وویل :

لاتفضحني برسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **ومن معه**. لاړ شه پټ ګورئ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ووایه چې کور کې اوړه کم دي ما ګورئ و نه شرموي پټ خبره وکړه، عام اعلان مه کوه. نو زه راغلم دا خبره مې پټه وکړه :

یارسول الله! انا قد ذبحنا بهیمة لنا وطحنت صاعاً من شعیر کان عندنا فتعال في نفر معك

فصاح رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **وقال یا أهل الخندق ان جابراً** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **قد صنع لکم سوراً فحي هلا بکم**

جابر صاحب وایي زه د حیاء نه په منډه راغلم بي بي ته مې وویل ټول راپسې را روان دي. وایي ماته مې بي بي وویل چې تا ورته وویل چې ټول راشي او که هغه ځان نه اعلان

وكړو ، ما ورته وويل چې نه ما نه دي ويلي وايي مه خفه كيږه دا ميلمانه د هغه دي ستا نه دي هغه يې عذرولې شي .

جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې كله ترې راتلم ما ته نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز وكړو :

لا تنزلن برمتكم ولا تخبزن عجينتكم حتى أجيء .

زما راتللو نه مخكې كټوي كوزه نه كړي او هغه اوړه چې اغږلي سو دي پاخه يې نه كړي .

حتى اجيء . تر دې چې زه راشم .

دې وايي :

فجئت وجاء رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقدم الناس .

زه راغلم او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم راغې مخكې زه له خلكو بي بي ته مې وويل نور خلك را روان دي .

فقالت . ما ته بي بي وويل : **بك بك** . داسې شي داسې شي دا دې څه چل وكړو .

جابر صاحب ورته وويل :

قد فعلت الذي قلت لي . تا چې څه ويلې وو ما هغه كار وكړ ما پټ ورته ويلي وو .

فأخرجت له عجينتنا فبصق فيها وبارك .

كور نه مې هغه اوړه ورته راوويستل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړې يې په كې واچولې او د بركت دعاء يې وكړه .

ثم عمد الى برمتنا فبصق فيها وبارك ثم قال ادعي خابزة فلتخبز معك .

بيا يې ما ته وويل د ګاونډ نورې ډوډي پخوونكي راوغواړه چې، تاسره ډوډې پخه كړي .

واقدحي من برمتكم ولا تنزلوها . او دا كټوي راكوزوي مه بلكې د قدح په واسطه يې را اچوي .

وهم الف . او دوي زر كسان وو .

فاقسم بالله لاكلوا . قسم په الله ئولو وخوړه .

حق تر کوه . تر دې چې پرې يې خوده .

وانحرفوا . دوي لاړل .

وان برمتنا لتغط كما هي . زمونږ کټوي خوټيده همغه شان چې وه :

وان عجينتنا او كما قال الضحاك عجينتنا لتخبز كما هو .

او بي بياني همغه شان په تناره ډوډي پخوي له هغه اوړو نه .

نو دا ښکاره برکت ده کوم برکت چې په معنی د زيادت سره وه .

دارنګې الشفاء بتعريف حقوق المصطفى د قاضي عياض کې په جلد ۱ صفحه ۲۱۸ کې ليکلي : قاضي ابو علي د خپل شيخ ابي القاسم بن مامون نه روايت کوي :

قال كانت عندنا قصعة من قصاع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

د رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کاسو نه يوه کاسه مونږ سره وه ،

فكنا نجعل فيها الماء للمرضى فيستشفون بها .

مونږ به هغې کې اوبه واچولې لپاره د مريضانو نو د هغې له برکته به شفاء ورته ميلاويده په سبب د دغې اوبو او دغې کاسي سره .

دارنګې مسلم شريف جلد ۱ صفحه ۲۳۳ حواله حديث د عتبان بن مالک نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ضعف نظر شکايت کوي ، زما قائد نشته راتلې نشم کور کې مونځ کوم خو د مانځه ځاى مې معلوم نه دي کاشکې ته يو ځل مونږ کره راغلې واې دوه رکعته مونځ مو کړې واى د برکت لپاره کوم ځاى چې تاسو مونځ کړى واى ما به هغه ځاى خپله مصلى مقرر کړې واى .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وعده ورسره کوي وايي در به شم حضرت صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځان سره ملګري کوي او دواړه روان شول :

ان عتبان بن مالك وهو من اصحاب النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ممن شهد بدراً من الانصار انه اتى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اني قد انكرت بصري وانا اصلي لقومي واذا كانت الامطار سال الوادي الذي بيني وبينهم ولم استطع ان آتي مسجدهم فأصلي لهم وددت

إنك يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تأتي فتصلي في مصلى فأتخذه مصلى .

قال فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سأفعل ان شاء الله قال عتبان فغدا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و أبو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حين ارتفع النهار فاتسأذن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأذنت له فلم يجلس حتى دخل البيت ثم قال اين تحب ان اصلي من بيتك ؟ قال فأشرت الى ناحية من البيت فقام رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فكبر فقمنا وراءه فصلى ركعتين ثم سلم .

ددې نه پته لږېږي چې کوم ځای صلحاء مونځ وکړي هغه ځای له برکت نه ډک وي .

امام نووي رَحِمَهُ اللهُ منهاج شرح کې ليکي :

منها التبرك بالصالحين وآثارهم والصلاة في المواضع التي يصلو بها وطلب التبرك منهم .

ثابت شو تبرک په اثر د صالحينو د هغوي او طلب د تبرک له هغوي نه .

دا رنګې بخاري شريف جلد ۲ صفحه ۸۹۲ روايت د سهل ابن سعد ده دا حديث بخاري جلد ۱ صفحه ۱۷۰ کې هم ذکر ده : يو بي بي راغله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته نوي جوړه يې راوړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته هغه جوړه ډيره په مينه استعمال کړه يو سړي راغې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عرض کوي چې دا جوړه ما ته راکړه رحمت عالم جوړه هغه ته ورکړه ځکه هغه انکار د چا نه ، نه کوه :

فقالت يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أكسوك هذه فاخذها النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محتاجا اليها فلبسها فرأها عليه رجل من الصحابة فقال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما احسن هذه فاكسنيها فقال نعم فلما قام النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لامه اصحابه قالوا ما احسنت حين رأيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخذها محتاجا اليها ثم سألته إياها وقد عرفت أنه لا يسأل شيئاً فيمنعه فقال رجوت بركتها حين لبسها النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لعلي أكفن فيها .

هغه شخص دا جوړه واخيسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کور کې بدله کړه او دغه شخص ته يې ورکړه خلکو پرې اعتراض وکړو شارحين وايي چې دا شخص عبد الرحمن بن عوف ده يا سعد ابن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي نو :

طلب عبد الرحمن بن عوف يا سعد بن ابي وقاص عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرداء السوداء

المربع فطعنوه على ذلك .نو صحابو پرې طعن وويل او دا يې بده وګڼله چې هغه څومره په مينه قبوله کړه دغو دواړو نه يو جواب ورکوي :

فقال رجوت بركتها حين لبسها النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ما ديکي اميد د برکت کوه په هغه وخت چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ واغوسته .

لعلي اكفن فيها . ښايي چې زه دې کې دفن شمه .

دارنګې بخاري جلد ۲ صفحه ۷۵۰ باندې ليکلي ، بي بي عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دغه حديث روايت کړي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بيمار شو عادت يې داوه :

يقرأ على نفسه بالمعوذات و ينفث فلما اشتد وجعه . درد يې سخت شو .

كنت أقرء عليه وامسح بيده رجاء بركتها .ما به دغه سورتونه لوستل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس به مې چوپ کول لاس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به مې د هغه په جود را کشوه ځکه .

رجاء بركتها . اميد مې د برکت وه .

دارنګې بخاري جلد ۱ صفحه ۴۳۸ کې باب لړوي :

باب ما ذكر من درع النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و عصاه و سيفه و قدحه وخاتمه و ما استعمل الخلفاء بعده من ذلك مما لم يذكر قسمته ومن شعره و نعله وانيته مما يتبرك اصحابه وغيرهم بعد وفاته .

دلته نسخې دوه دي : بعضې نسخو کې :مما شرك به اشترك به أصحابه .

بعضو نسخو کې راځي : مما تبرك به اصحابه وغيرهم بعد وفاته .

نو دې باب کې بيا هغه ټول روايات ذکر کوي نو امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ تبرک بآثار الصالحين په کلکه قائل ده ځکه دې کې ترجمه د باب ولړوله .

دارنګې شفاء اول جلد صفحه ۲۱۸ د رحمت عالم چې کومه همسا وه د خلفاء په سلسله حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته رسيدلې وه .

وأخذ جهجاه الغفاري القضيب همسا لرګي .

من يد عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ليكسره على ركبتيه. چې مات يې کړي په زنګنونو باندې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا يې راواخيسته د عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له لاس نه زنګون ته يې ونيوله چې ماته يې کړي.

فصاح الناس به. خلکو پرې چغې کړي چې دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ همسا ده.

فاخذته فيها الاكلة. په دغه زنګون باندې خوړونکي مرض ولږيده.

فقطعها و مات. دا زنګون يې ورته ټوټه کړاو مړ شو ځکه بې آدبي د اثر د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې همسا وه کړي وه.

ومات قبل الحول. د کال نه مخکې مړ شو.

تفسير صاوي جلد ۱ صفحه ۱۰۳ ليکي:

فكان كل من بال عنده ابتلي بالبواسير.

دغه تابوت چې په کې آثار د انبياو وه عمالقه وو په ډيران کې واچوه بول به يې ورته کول چا چې بول دغه صندق ته کړي وي په مرض د سلسل بول اخته شو ځکه بې ادبي د آثار د انبياء يې کړي وه.

دارنګې الاصابة في تمييز الصحابة جلد ۱ صفحه ۴۰۵:

روي عن سعيد ابن المسيب ان ابا ايوب اخذ من لحية رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شيئاً.

زلفه يې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ږيرې مبارکې نه اخيستې وه.

فقال له. ورته وويل رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

لا يصيبك السوء يا ابا ايوب. تا ته به ونه ورسيږي هيڅ يوه بدي اى ابا ايوبه!

دارنګې جامع الاصول في آحاديث الرسول جلد ۱۲ صفحه ۸۵۶:

وكان عند معاوية ازار رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورداءه و قميصه وشيء من شعره واظفاره.

معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغه مذکوره شيان ځان سره جمع کړي وو کله چې وفات کيږي وصيت کوي.

فقال كفنوني في قميصه. کفن د قميص د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه راکړي.

وأدرجوني في ردائه .دننه مې کړي د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ په څادر کې چې لفافه ورته وایي.

وازروني بأزاره . او لنګ راواچوي د لنګ د هغه نه .

وحشوا منخري وشدقي و مواضع السجود مني بشعره و اظفاره .

وشیندي زما په منخر او ژامو او په ځایونو د سجدو باندې د عطرو پر ځای شعره وأظفاره زلفې مبارکې د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ او نوکونه مبارک د هغه .

وخلو بيني وبين ارحم الراحمين .بيا مې پريږدي زما او د ارحم الراحمين مينځ کې کار مه لري ، يعنې تاسو مې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لباس کې پټ کړي نور مې هغه ته وسپاري .

دا وه د صحابوو د تبرک عقيده چې د عذاب نه نجات د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لباس کې ګوري .

دا واقعه مختصر تاريخ دمشق هم ذکر کړي جلد ٦ صفحه ٣٢٢، تنقيح الفهوم لاهل اثر ذکر کړي جلد ١ صفحه ٢١٢، الاکمال في اسماء الرجال ذکر کړي صفحه ٦٢٢ ، دارنګې شفاء جلد ١ صفحه ٢٢٠.

و وضع يده على رأس حنظلة بن حذيم و برك عليه .

د حنظله بن خديم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سر نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ لاس ايښي وه او دعا د برکت يې ورته کړې وه .

فكان حنظلة يؤتى بالرجل قد ورم وجهه .يو سړي به ورته راوستې شو چې مخ به يې خوږيده .

والشاة قد ورم ضرعها. ګډه به ورته راوستې شوه چې د هغې غولانځ، کې به بيماري وه .

فيوضع على موضع كف النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيذهب الورم .کې به خودې شو په ځای د کف د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ نو لاړ به ترې نه مرض مطلب د چا به چې کوم ځای درد کوه نو دده په سر باندې نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس د برکت راکش کړي وه نو هغه درد والا ځای به يې دده په سر سره ولږوه الله پاک به شفا ورکړه ځکه په سر يې لاس د برکت د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ راکش شوې وه .

همدغسې د کومې ګډې به چې غولانځه کې څه بیماري وه حنظله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به سرورتېږ کړو او د هغه ګډې غولانځې سره به یې ولړوه الله پاک به شفاء ورکړه.

دارنګې الشفاء بتعريف حقوق المصطفى جلد ۲ صفحه ۷۰ باندې لیکلي، د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت ده:

واضعاً يده على مقعد النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من المنبر ثم وضعها على وجهه.

عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغې د نبي پاک صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منبر یې لاس کیخود بیا یې په مخ کیښود.

نو اوس هم هغلته راځي خلک کوم چې عقیدتمند دي محراب منبر د نبي پاک صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شرک آوازونه پرې کیږي خو خلک زیات وي منع کولې یې نه شي.

نو داد عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه ثابت دي چې هغه مبارک لاس په منبر کش کړې وه بیا یې په مخ ایخي وه.

وروي ابن عمر واضعا يده على مقعد النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من المنبر ثم وضعها على وجهه.

ولهذا كان مالك رَحِمَهُ اللَّهُ لا يركب بالمدينة دآبة وكان يقول أستحي من الله أن أطأتربة فيها رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بحافر دآبة.

دارنګې وفاء الوفاء باخبار المصطفى جلد ۲ صفحه ۴۴۳ لیکلي د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ فتوی ذکر کوي: عبدالله بن امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ روایت کوي:

سألت عن أبي. د پلار نه مې تپوس وکړو:

عن الرجل. د یو سړي باره کې.

يمس منبر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منبر مسحه کړي.

ويتبرك به. او تبرک پرې حاصل کړي.

ويمسه ويقبله. ښکلوي یې او مسحه کوي یې.

ويفعل بالقبر مثل ذلك. او راشي قبر سره هم دغه شان کوي ښکلوي یې لاس پرې راکاږي.

رجاء ثواب الله تعالى قال لابأس به .وايي ما ته خپل پلار امام احمد صاحب وويل څه باک نه لري .

دا واقعه عمدة القاري د عيني جلد ۴ صفحه ۶۰۷ کې هم ذکر کړې فتوى د امام احمد صاحب په کې مذکوره ده .

دارنګې العلل و معرفة الرجال جلد ۲ صفحه ۴۹۲ کې هم مذکوره ده.

دارنګې د آحاديث باب .

دارنګې عبد الله ابن الزبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ :

شرب دم النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . عبد الله ابن زبير ويني د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څکلي وي .

دا حديث مسند البزار جلد ٦ صفحه ١٦٩ کې ذکر کړې هُنيد بن قاسم د عامر بن عبدالله بن زبير نه روايت کوي هغه يې د خپل پلار نه :

قال احتجم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأعطاني الدم قال إذهب فغيبه فذهبت فشربته ثم أتيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال لي ما صنعت به ؟ قلت غيبته قال لعلك شربته؟ قلت شربته .

دا روايت ساکت ده له دې نه چې نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه په کې وويل بس دو مره دي چې ما ورته وويل څکلې مې ده .

الاحاد المثاني لابن ابي عاصم جلد ۲ صفحه ۱۲۱ په هغې کې دا راځي :

ولم شربت الدم . وينه دې ولې و څکلې .

ويل للناس منك وويل لك من الناس .

شدت ده د خلکو لره له تانه او شدت ده ستا لره له خلکو يعنې ته خلک مه ګرفتاروه او خلک دې تا نه ځان ساتي ځکه وجود ته دې طاقت ملاو شو ځکه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وينه وجود او ذات دا يو قوت لري .

حديث کې راځي نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې د څلويښتو جنتيانو طاقت وه او په يو جنتي کې د سلو ځوانانو د دنيا طاقت وي نو ځکه نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايي :

ويل للناس منك وويل لك من الناس .

دا واقعه مستدرک هم ذکر کړې جلد ۳ صفحه ٦٣٨ کې .

معرفة الصحابة د ابي نعيم ذكر کړي جلد ۱۱ صفحه ۴۶۸ روايت د ابي نعيم په حليه کې او د ابن عساکر په تاريخ کې او د ابن غطريف په جزء کې د زيادت الفاظ ښايي نبي پاک ﷺ ورته ويلې وي چې ولې دې وڅکلې.

قال اى ابن زبير احببت ان يكون دم رسول الله ﷺ في جوفي.

دا مې ډيره خوښه وه چې ستا وينه زما وجود ته راشي.

فقال بيده على رأس ابن الزبير. په سر د عبد الله ابن زبير لاس راښکه.

و قال ويل لك من الناس وويل للناس منك لا تمسك النار إلا قسم اليمين.

اور به دې مسحه نه کړي مګر د هغه قسم يمين د پوره کولو لپاره چې الله پاک کړي.

﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلاَّ وَارِدُهَا﴾. يو هم نشته مګر داخليږي به.

د همدغه قسم د پوره کيدو لپاره به د ستر ګو رپ اور ته داخل شي خو نور به دې مسحه نه کړي.

حواله د ابن غطريف اول جلد صفحه ٦٦ ده حواله د حلية الاولياء جلد ۱ صفحه ۳۳۰ ده، حواله د تاريخ دمشق لابن عساکر جلد ۲۸ صفحه ۱۶۲ ده.

دې ټولو کتابونو دغه د عبد الله ابن زبير دا حديث ذکر کړې ده خو الفاظ لږ جدا دي.

سنن دارقطني هم ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۲۲۸، مطالب العالية د ابن حجر صاحب هم دا واقعه ذکر کړي په جلد ۱۱ صفحه ۸۵ باندې، الاصابة في معرفة الصحابة جلد ۲ صفحه ۱۲۷، د علامه قرطبي تفسير جلد ۲ صفحه ۹۳ ذکر کړي.

ماوردي په اعلام النبوة کې ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۱۲۱، علامه سيوطي رحمه الله په جامع الاحاديث جلد ۳۵ صفحه ۳۵۴ کې ذکر کړي.

مناوي رحمه الله فيض القدير جلد ۵ صفحه ۲۵۲، سبل الهدى و الرشاد في سيرة خير العباد کې علامه شامي رحمه الله جلد ۱۵ صفحه ۴۰، سيوطي رحمه الله خصائص الكبرى جلد ۱ صفحه ۱۱۸، ابن المنظور په مختصر تاريخ دمشق جلد ۱ صفحه ۱۶۸۴، سيوطي رحمه الله تاريخ الخلفاء جلد ۱ صفحه ۸۷، امام ذهبي تاريخ اسلام جلد ۲ صفحه ۱۵۷ کې ذکر کړي، قاضي عياض په الشفاء جلد ۱ صفحه ۲۴۹ کې.

دې تولو دا حديث د عبدالله بن زبير رضی الله چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُويني يې څکلې وي تولو ذکر کړې دي.

شرب دم النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دويم: المعجم الكبير للطبراني جلد ۷ صفحه ۸۱ کې ليکي:

عن برية بن عمر بن سفينة مولى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن ابيه عن جده قال احتجم فقال خذ هذا الدم فادفنه من الدواب والطير والناس فتغيبت فشربته ثم ذكرت ذلك له فضحك واللفظ لأحمد بن صالح.

سفينه چې وه څکلي وي ويني د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا روايت ذکر کړي په بيهقي سنن الكبير جلد ۷ صفحه ۶۷ کې.

دارنګې بيهقي شعب الايمان جلد ۱۴ سفحه ۳ کې أمالي د محلي جلد ۲ صفحه ۳۰ تاريخ کبير د امام بخاري په آحاديثو مرفوعو کې ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۲۰۴ کې.

مطالب العاليه د ابن حجر جلد ۱۱ صفحه ۸۶ کې ذکر کړي، تلخيص الخبير جلد ۱ صفحه ۳۰ مجمع الزوائد جلد ۸ صفحه ۲۱۹ دې تولو دا حديث ذکر کړي.

دريم روايت: دارنګې معجم الاوسط د طبراني جلد ۱۹ صفحه ۴۳۱ باندې ليکي:

حدثنا مسعدة بن سعد ثنا ابراهيم بن المنذر ثنا عباس بن ابي شملة عن موسى بن يعقوب عن الاسقع عن ربيح بن عبدالرحمن بن ابي سعيد عن ابيه عن جده ان اباه مالك بن سنان لما اصيب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في وجهه يوم احد مص دم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وازدرده فقيل له اتشرب الدم قال نعم اشرب دم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خالط دمي بدمه لا تمسه النار. د ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ والد ګرامي سنان ابن مالک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ويني يې څکلې وي کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ احد کې زخمي شو.

وازدرده څښلې وي، چا ورته وويل ويني څکې؟

قال: نعم اشرب دم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. د هر چا ويني نه څکم بلکې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويني څکم.

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل :

خالط دمي بدمه لا تمسه النار .دده له وينې سره زما وينه خلط شوه اور د جهنم به يې مسحه نه کړي .

دارنګې معجم الکبير د طبراني جلد ۲۴ صفحه ۲۰۵ - ۵۲۷ :

حدثنا عبدالله بن أحمد بن حنبل ثنا يحيى بن معين ثنا حجاج بن محمد عن ابن جريج عن حكيمة بنت اميمة عن امها اميمة قالت كان للنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قدح من عيدان يبول فيه و يضعه تحت سريره فقام فطلب فلم يجده فسأل فقال اين القدح ؟ قالوا شربته برة خادم ام سلمة التي قدمت معها من ارض الحبشة فقال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لقد احتظرت من النار بحظار.

دا بي بي له جهنم نه په حجاباتو کې شوه کومې چې بول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څکلې وي .

دا حديث صحابات المثاني د ابي عاصم ذکر کړي جلد ۹ صفحه ۲۳۲کې دا حديث ذکر کړي مجمع الزوائد جلد ۸ صفحه ۲۲۰، امام بيهقي په سنن جلد ۲ صفحه ۱۲۲ کې ، معجم دابن منحرى جلد ۱ صفحه ۱۳۰ ، استيعاب جلد ۲ صفحه ۷۹، الاصابة في معرفة الصحابة جلد ۳ صفحه ۴۴۹ تاريخ دمشق ذکر کړي جلد ۶۹ صفحه ۵۱ ، تهذيب الکمال د مذي جلد ۳۵ صفحه ۱۵۶ ، سير اعلام النبلاء جلد ۹ صفحه ۴۵۰ . دا ټولو دا حديث رانقل کړي دي .

دارنګې پنځم روايت ددې متعلق :

المعجم الکبير للطبراني جلد ۲۵ صفحه ۸۹ باندې ليکلي :

حدثنا الحسين بن اسحاق التستري ثنا عثمان بن ابي شيبة ثنا شبابة بن سوار حدثني أبومالك النخعي عن الاسود بن قيس عن نبيح العنزي عن ام ايمن قالت قام رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من الليل الى فخارة في جانب البيت فبال فيها فقمت من الليل وانا عطشانة فشربت ما فيها وانا لا اشعر .

فلما اصبح النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال يا ام ايمن قومي فاهريقي ما في تلك الفخارة قلت قد والله

شربت ما فيها قالت فضحك النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حتى بدت نواجذه ثم قال اما إنك لا تتجعين بطنك ابدا الحديث .

دا ام ايمن رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې وه هر وخت به يې شكايت كوه د خيټې له درد نه د خيټې درد يې لرلو يو ځل نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې بول په يو لوښي كې وكړل په يو طرف د كوټه كې كينښودي ام ايمن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شپې تږې شوه او دا بول يې وڅكل چې كله صباء شو نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ام ايمن رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وويل چې دا د كدړې لوښي كې څه دي دا بهر واړوه بي بي ورته وويل چې هغه خو ما وڅكلې .

نو نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خندا شو تر دې چې نواجذ غاښونه يې ښكاره شول.

ثم قال اما إنك لا تتجعين بطنك أبدا .

ته به هيڅ كله د خيټې له درد نه شكايت ونه كړې .

داد صحابو و عقيده وه .

دا حديث مستدرک ذكر كړي جلد ١٦ صفحه ٢٠٢ ، بيروتي چاپ ، دلائل النبوة د ابونعيم ذكر كړي جلد ١ صفحه ٤٢٧ حليه د ابي نعيم ذكر كړي جلد ٢ صفحه ٦٧ ، مجمع الزوائد جلد ٨ صفحه ٢٢٠.

دا رنګې تذكره د امام قرطبي صفحه ١٠٤ كې باب لړوي :

باب يختار للميت قوم صالحون يكون معهم .

په كار داوي چې مړې دې دفن شي په مقبره د صالحينو كې .

دې باب كې بيا دغه احاديث ذكر كوي ، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي :

امرنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أن ندفن موتانا وسط قوم من الصالحين .

مونږ ته رحمت عالم امر كړي چې دفن كوي مړي په مقبرو د صالحينو كې .

فان الموتى يتأذون بجار السوء .

په تحقيق سره بد ګاونډي بندې مړو ته تكليف رسيږي .

كما يتأذى به الاحياء . لكه څنګه چې ژوندي ترې په تكليف كيږي .

دارنګې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي وایي :

قال إذا مات لاحدكم الميت فحسنوا كفنه .

چې کله مړې وشي کفن يې ښائسته کړي ښه کفن ورته واخلي .

نن صبا پاکستان افغانستان کې عام معمول دادی چې مړې وشي نو سان ورته اخلي دا په حدیث کې نه دي راغلي بلکې فقهاء لیکي چې کومه جامه چې دې په ژوند کې استعمالوي هغه دې ورته واخستل شي .

په یو کتاب کې هم نشته چې سان کتان یو رخت ده تاسو هغه واخلي بلکې راغلې سپین واخلي نو دا خو په دا عامو جامو کې هم شته پخوا داسې وه چې یو کتان وه دویم سان وه دا دوه رختونه وه کتان کې دا مشکل وه چې ښه کپړه وه خو سوریې کم وه نو مړي په کې لفافه کیده نه ، او د سان سور غټ وو خلکو به دا غوره کولو په مقابل د کتان کې .

نن صبا چې غټي غټي کپړي شته نو سان ته څه ضرورت ده حدیث کې رائې :

تاسې خپلو مړو ته ښکلي کفنونه ور واغوندې ځکه دوي هغلته د یو بل سره ملاقاتونه کوي او فخر کوي په کفنونو نو اوس مونږ ښځو ته هم د سان نه کفن جوړوو او سان د نارینو ده .

نو تحسين د کفن په کار ده نارینو ته به د نارینو کپړه اخلي او زنانو ته به د زنانو کپړه اخلي خو سپینه .

وعجلوا بانجاز وصيته وجنبوه جار السوء . د بد ګاونډي نه يې لرې وساتي .

چا عرض وکړو :

يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! هل ينفع الجار الصالح في الآخرة .

ولې په قبر کې ښه ګاونډي نفعه رسوي .

قال هل ينفع في الدنيا . آیا نفع رسوي په دنیا کې ښه ګاونډي .

قالوا نعم قال كذلك ينفع في الآخرة.

د آخرت نه مقصد قبر ده نو چې ښه ګاونډي دنیا کې نفع رسوي نو آخرت کې یې هم رسوي .

دارنګې روايت د ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پيش کوي :

قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكفنوا موتاكم وسط قوم من الصالحين.

دفن کړي مړي په مينځ د صالحينو کې.

فان الميت يتأذى بجار السوء. بد ګاونډي باندې مړي په تکليف کيږي.

نو اوس دلته علامه قرطبي په دغه آحاديثو شرحه کوي :

قال علماءنا يستحب لك رحمك الله ان تقصد بميتك قبور الصالحين.

مستحب په تا دا شوه الله دې په تا رحم وکړي خپل مړي په مقبره د صالحانو کې دفن کړه.

ومدافن أهل الخير. د اهل خير مدفن ته.

فتدفنه معهم. له هغوي سره يې دفن کړې.

وتسكن بجاورهم. د هغوي ګاونډ کې ووا وسوه.

تبركاً بهم. له وجهې د تبرک نه هغوي باندې.

وتوسلاً إلى الله بقربهم. د هغوي په نزديکت باندې خداى تعالى ته وسيله ونيسه.

دارنګې عالمګيريه فتوى جلد ۱ صفحه ۱٦٦ ذکر کوي وايي :

ويستحب ان يدفنه بجوار الصالحين لحصول التبرك.

د صالحينو مقبرې سره خوا کې مړي دفن کول مستحب دي د حصول د تبرک لپاره.

اوس !!! دا خبره چې زمونږ اهلسنت په يو مزار باندې تمسح کوي تبرک حاصلوي دوي تعجبا مونږ ته مشرکين وايي. نو اوس به راشو صحابو رضوان الله تعالى عليهم اجمعين ته چې تمسح څوک کوي تعجب څوک کوي دوي څوک شول مونږ څوک شو.

البداية والنهاية جلد ۴ صفحه ۳۰۷ د بيروت چاپ د فتح مکې واقعه ذکر کوي :

كانت الصحابة يبتدرون الى وضوء النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والمشركون يتعجبون من ذلك.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اودس وکړو هغه اوبه پاتې شوې رش جوړ شو صحابه يو بل نه مخکې کيږي هغه برکتي اوبو ته ځان رسوي او هغه اوبه په ځان مړي لړي لړي مشرکان ولاړ دي تعجب کوي تبرک په اثر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صحابه نيسي او مشرکان ترې تعجب کوي.

دارنګې البدایة والنهایة جلد ۲ صفحه ۲۷۳ باندې لیکلي : د هغه برکاتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ذکر کوي : حلیمه بي بي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځان سره روان کړي دشته کې چې د حلیمي بي بي اوښه ځري نو هلته ګیاوې او د خلکو اوښان چې چیرته ځري د هغوي اوښانو ته ګیاه نه وي بیا به خلکو ددوي اوښانو سره اوښان ځرول. حلیمه بي بي خپل خاوند ته وایي :

قد أخذت نسمه مبارکة.

ای زما خاونده ډیر عجیب مبارک ماشوم مې اوچت کړې ده عجیبه عجیبه حالات مې ولیدل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تپه وخت د صغر کې د مبارک نسبت شوې دي.

دارنګې البدایة والنهایة جلد ۲ صفحه ۴۰ دانیال عَلَيْهِ السَّلَامُ یو قول ۳۰۰ کاله بل قول ۵۰۰ کاله څه د پاسه څوک چې د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مینځ کې د بل پیغمبر قائل دي هغه یې وروسته د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ګڼي او څوک چې قائل نه دي هغه زمانه د دانیال عَلَيْهِ السَّلَامُ مخکې ګڼي له زمانې د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه.

هغه څه د پاسه ۵۰۰ کاله مخکې وفات شو هغه مبارک چا دفن نه کړو په صندوق کې یې کیخودو څه د پاسه ۵۰۰ کاله دې بادشاهانو ځان سره ساتلې وه څه د پاره.

دغه ځای کې البدایة والنهایة تاریخي واقعه را اخلي دې لپاره یې ساتلې وه چې کله به باران نه کیده دده تابوت به یې راوویسته او تخته د تابوت به یې اوچته کړه او دده مبارک تنه وجود به یې اسمان ته وخود باران به شروع شو دې لپاره یې ساتلې وه څه د پاسه ۵۰۰ کاله دا مسئله شروع وه.

رحمت عالم عمر فاروق صاحب ته ویلي وه که تاسو دغه ښار ته ورسیدې او چا زیري درکړ چې دانیال عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه دې تنه وجود یې دروخوده.

فبشره بالجنة. هغه څوک چې تاسو ته د دانیال عَلَيْهِ السَّلَامُ زیري درکوي هغه ته تاسو زما لخوا زیرې د جنت ورکړي کله چې صحابه کرام هغلته لاړ ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لوي لوي صحابه په کې دي. دا تنه مبارکه دوي ولیده چاورته زیري هم ورکړ چې دا د دانیال عَلَيْهِ السَّلَامُ ده.

خط یې راولیږلو امیر المؤمنین عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې مونږ هغه ځای ته رسیدلي یو دغسې مسئله ده مونږ دې سره څه وکړو ؟

عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته خط لیږي چې چا تاسو ته زیري درکړې وي تاسو هغه ته زیري

د جنت ورکړي ما د رسول الله ﷺ نه داسې اوريدلي وه باقي تنه وجود د دانيال عليه السلام دفن کړي د شپې د خلکو نه پټه ځکه چې تاسې ترې راشي خلک به يې بيا را بهر کړي صحابو و همداسې وکړل او د شپې يې دفن کړ د خلکو نه پټ.

دارنګې البداية والنهاية جلد ۳ صفحه ۳۰ دې کې د هغه بي بي واقعه ده چې کومه هجرة کې نبي عليه السلام د هغې خيمې باندې راغلې وه او دې سره وچه چيلي وه بيا نبي عليه السلام دم کړه او په هغه کې شوده پيدا شول، مشهوره واقعه ده.

بيا يو وخت داسې وو چې دغه بي بي چيرته دشته کې خيمه وهلې ده حضرت صديق اکبر رضي الله عنه په دغه لار تيريږي ددې چې کوم وړوکي بچي دي هغه مور ته په منډه راځي مورې هغه سړي راغې چې زمونږ خيمې ته راغلې وه مع المبارک سره د مبارک نه نبي عليه السلام نه د مبارک تعبير کوي. مور يې رابهر شوه د خيمې نه صديق اکبر صاحب ته وايي اماکنت ته نه يې هغه سړي چې راغلې وې زمونږ کور ته د مبارک سره صديق صاحب ورته وويل چې يمه وايي هغه سړي څوک وه بيا ورته صديق اکبر رضي الله عنه قصه کوي بيا يې راولي او په نبي اکرم ﷺ ايمان راوړي.

نو د صحابو و په زمانه کې نبي عليه السلام ته لفظ د مبارک استعمال شوي ده نو مخلوق ته استعمال د مبارک نا روا نه دي.

الدين الخالص د امين الله بشاوري باندې ليکلي دا صفحه ۳۴۴ ازدياد الايقان بحفظ شعب الايمان رساله ليکي:

سئلني الاخ سميع الله الحافظ عن عدد شعب الايمان کم هي و هل وردت جملتاً في حديث وهل هناك الرساله حاوية لهذا الشعب فاجبته.

ما ترې جواب ورکړي.

فاجبته بهذه الرسالة الطيبة المباركة.

ما په دې خپله رساله مبارکه جواب ورکړي نو د بشاوري رساله مبارکه ده او که د محمد مصطفى ﷺ لاړو ته دې مبارکې وويلې نو شرک ده نو که مبارک غير الله ته شرک شي نو دا رساله خو مخلوق ده.

دارنگي فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۸۱ باندې ليکي : ضرار بن ازور رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دست راست وو عبد الرحمن بن ابي بکر يې چپ لاس وه دا دواړه دده په هريوه حمله او جهاد کې به ورسره وو حضرت ضرار بن ازور به قميص نه اغوسته ده ته به لنډه غر ويل کيده .

دې به چې کوم جهاد کې لاړ نو قيصر روم يې ډير حيران کړې وه هغه به جاسوسان صف د مسلمانانو ته راوليږل چې وګوري هغه بې قميصه شته ورسره او که نه ؟ که چا به وويل چې شته نو بيا به يې پهلوانان نه جنګول وايي ډارک جنګ وکوي دوجود نه کم وه خو چې څومره مضبوط پهلوان به راغې خالد صاحب ته يې وويل چې اجازه زه مقابلې ته ورځم .

چا ورته وويل قميص ولې نه آغوندې وايي بيا کافر وايي چې لاندې يې زغره ده نو ده يوه کارنامه جنګ کې وکړه حضرت خالد صاحب ورته راتاويږي :

فلما انکشف الکرب . هر کله چې جنګ خلاص شو خالد صاحب نه خلک تاو شوې وه او دې يې مينځ کې ګير وه .

ضرار چا خبر کړ چې خالد بن وليد ګرفتار دې په مينځ د جنګ کې نو دې مبارک په اس پسې ورغې داسې جنګ يې وکړو چې دا ټوله محاصره د خالد صاحب يې ماته کړه .

خالد صاحب چې د ضرار صاحب دا مقابلې ته وکتل نو وي ويل :

افلح الله وجهك يا ابن الأزور فما زلت مبارکاً في کل افعالك .

خداى تعالى دې فلاح درکړي اى ضرار بن ازوره چې کوم کار ته مخه کړي مبارک يې د برکت نه ډک يې نو نسبت د مبارک ضرار بن ازور رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وشو .

دارنګي فتوح الشام صفحه ۱۱۶ جلد اول :

ان خالدا ما يخذل أبدا ومعه ذؤابة المصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کله هم جنګ کې شکست نه ده خوړلې وجه داوه چې ده سره ټوپې کې زلفې مبارکې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وي هغه يې جمع کړې وي :

القلنسوة المبارکة وقد نسيها فاخذتها واسرعت اليه کما ترى .

يوه ورځ ترې هيره شوه ما راواخسته ور وه مې رسوله .

دارنګې فتوح الشام جلد اول صفحه ۱٦۹، په دې کې هغه توسل د حضرت علي رضي الله عنه او عباس صاحب مذکور ده چې باب د توسل کې ذکر شوې دي د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم روضې سره دعا کول تبرک دي .

دارنګې فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۱۷۱ د ابوسعيد رضي الله عنه سعيد ابن عامر هغه غار ته لاړل کوم چې حديث کهف والرقيم کې راځي په غزواتو کې دې ځای ته ورسيدل مجاهدين عرض کوي :

ياسعيد وما الرقيم ؟ رقيم څه شي ده ؟.

اما تعرفه فحدثتهم بحديث الرقيم قال سعيد فعجبوا من ذلك ثم اقبلت بهم الى الغار فصلوا فيه .

دا ټول مجاهدين مې دې غار ته راوستل هلته يې دوه دوه رکعته لمونځ وکړو .

نو دا عمل د صحابو ده چې د اولياو د مدفن سره اصحاب کهف دلته دفن وه او هغې په خوا کې دوي مونځ وکوه .

﴿قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا﴾ .

وويل هغو چې غالب وه په دين ددوي يعنې مؤمنان وه مونږ په دوي مسجد جوړوو نو بيا مسجد جوړ شو خلکو به د برکت لپاره هلته مونځ کوه .

دارنګې فتوح الشام صفحه ۲۱۰ جلد اول کې ليکلي دي : مخکې دده يعنې د خالد صاحب د ټوپي واقعه ذکر شوه چې ترې غور ځيدلې وه .

دارنګې فتوح الشام صفحه ۹ جلد دويم يوه غزوه ده نجده کې يو ناڅاپه حمله وشوه:

ثم اسرع الى خيمته ولبس لامته وقلنسوته المباركة وركب جواده .

حضرت خالد رضي الله عنه په منډه خيمې ته دننه شو خپله جنګي ټوپي يې په سر کړه او قلنسوه مبارکه يې په سر کړه چې کومه کې زلفې وي .

دارنګې فتوح الشام جلد ۲ صفحه ۲۷ کې ليکلي دي : فتحه د طرابلس د شام دې کې اهل د طرابلس د شام شکريه ذکر کوي چې هغو وويل :

ونحن نسجد للصلبان ونعظم الصور . مونږ د شپيليو او نورو شيانو تعظيمونه کول يا

دصورو او مونږ نصرانيان وو تر دې چې مونږ ته عربان راغلل :

فهدانا والحقنا بهم ببركة نبيهم ﷺ . د نبي علیه السلام په برکت يې مونږ ته هدايت وکوه .

دارنګې فتوح الشام جلد دوهم صفحه ۳۲ کې فتحه د مصر ذکر کوي :

وملك المسلمون أقاصى البلاد ببركة نبينا محمد ﷺ .

د عمر صاحب زمانه کې صحابه لرې لرې ښاريو باندې قابض شول دا ټول برکات د نبي علیه السلام وه .

دارنګې فتوح الشام جلد دويم صفحه ٦٣ کې : هغه بحر د مصر چې کوم راپورته کيږي او عمر فاروق رضي الله عنه ورته خط ليکلي وه هغه واقعه نقل کوي نو وايي چې د مصر خلک اوچت شول د دغه تکليف نه .

ببركة عمر بن الخطاب رضي الله عنه **وانقطعت عن أهل مصر تلك السنة السيئة ببركة عمر** رضي الله عنه

دارنګې چې کله بيت المقدس فتحه شو نو هلته يو کانړې ده په هغې کې نقش د يو قدم ښکاريږي خلک به راتلل دغه کانړې به يې ښکلوه دا قدم به يې هم ښکلوه مسلمانان مجاهدين راغلل دې عالم د عيسويانو نه تپوس وکوه چې دا خلک ولې دا کار کوي وايي دوي دا ګمان کوي چې داد عيسى علیه السلام قدم ده ماته پته ده چې داد حضرت محمد ﷺ قدم ده چې کله معراج ته تللو دا هغه قدم ده مسلمانان چې کله پوي شول:

لما رأى المسلمون يعظمون الصخرة ويقبلون القدم .

مسلمانان رامات شول دا قدم يې ښکلوه نو عيسويان دې خپل عالم ته راغلل چې مسلمانان خو هم د عيسى علیه السلام قدم ښکلوي .

هغه ورته وويل چې دا خو ستاسو ګمان دي چې داد عيسى علیه السلام قدم ده ماته معلوم ده چې داد حضرت محمد ﷺ قدم ده نو صحابه مجاهدين هغه قدم ښکلوي چې کوم په کانړې کې موجود دي .بيت المقدس کې داشته معروفه دا وه چې داد حضرت عيسى علیه السلام قدم دي خو حقيقت کې داد حضرت محمد ﷺ قدم وه که داد حضرت عيسى علیه السلام قدم وي هم تقبيل يې روا ده .

دا جدا خبره ده چې د عيسويانو مخکې د ومره تعظيم چې هغوي پرې خوشحاليږي مه کوه ليکن در حقيقت هم ذي برکت انسان دي .

د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ قدم مقام ابراهيم چې ورته وايي امر کيږي :

﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ .

نو دا ثابتوي دا خبره چې د يو ولي قدم کوم ځاى سره ولږيږي او ناسته يې وشي د هغه ځاى سره مونځ شرک نه دي بلکې دا روا دي ځکه امر مونږ ته کيږي .

دا رنګې فتوح الشام جلد دويم صفحه ۱۸۲ امام واقدي سند سره ذکر کوي سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کوثاريا ته راغې نزل کوز شو :

في المكان الذي سجن فيه ابراهيم الخليل عَلَيْهِ السَّلَامُ . کوم ځاى کې چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ نمروديانو جيل ته اچولې وه نو جيل کې دده وخت تير شوې وه .

چا ورته وويل ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ دلته جيل خوړلې نو دې د آس نه راکوز شو .

فصلى فيه . دوه رکعته مونځ يې هلته وکړو .

ځکه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه کوټه کې وخت تير کړې وه .

وحمد الله وصلى على رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا رنګې فتوح الشام جلد ۲ صفحه ۲۰۴، په فتحه د بهنسا کې د صحابه کرامو روايت ذکر کوي چې مونږ دغه علاقې ته لاړو .

فزرنا الجبانة في ساعة الاسحار ورأينا ما فيها من الانوار و بزيارة قبور السادة والاخيار نرجوا من الله ان يحط عنا الذنوب والاوزار فلما قضينا الزيارة ولاحت لنا تلك الاشارة اخبرنا عن تلك السادة الامجاد وما كان لهم من الصبر على الغزو والجهاد .

دا ښار چې مونږ ونيوه د سحر وخت کې مونږ ووتو روان شو او په دې ښار کې چې څومره زيارتونه وو هغه مو وکړه دې دپاره مو وکړ:

نرجو من الله ان يحط عنا الذنوب والاوزار .

چې مونږ نه ګناهونه پرې ورژيږي کله چې مونږ زيارتونه خلاص کړل وروسته بيا خلک

راغونه شول هغوي ته مې تقرير وکوه او د بهنسا د فتحې واقعه مې ورته ذکر کړه .

دارنګې تاريخ ابن هشام جلد ۲ صفحه ۱۱۲ د ابي ايوب انصاري واقعه ده :

نبي اکرم ﷺ مدينه منوره کې دده کور کې ديره وه روټې به يې ورته راوړه ابي ايوب تر هغې روټې نه خوړله ترڅو د نبي اکرم ﷺ پاتې شونې ونه خوري. يوه ورځ روټي واپس راغله هيڅ لاس په کې نه وو وهل شوې ابي ايوب رضي الله عنه فرمايي :

كنا نصنع له العشاء . مونږ به د ماخوستن روټي تيار وله .

فاذا رد علينا فضله تيممت انا وام ابي يوب .

چې کله به کاسه راغله واپسي د نبي عليه السلام نه نو ما او زما بي بي ام ايوب لټول به موضع د لاس د نبي عليه السلام .

فأكلنا منه نبتغي بذلك البركة . خوراک مو کوه او طلب د برکت به مو کوه .

دا چند حوالې د ابن هشام ذکر شوې .

دارنګې اعلام النبلاء جلد ۲۰ صفحه ۲۰۹ په شان د احمد بن علي بن جعفر کې ليکي وايي :

هو عالم النسابور . د نسابور جيد عالم وه .

قبره يزار يتبرك به . د قبر يې زيارت کولې شي خلک پرې تبرک حاصلوي .

دارنګې سير اعلام النبلاء جلد ۲۲ صفحه ۱۴۰ ، په شان د خوارزم شاه بادشاه کې ليکي :

يتبرك باهل الدين . ده به طلب د تبرک کوه په اهل دين باندې .

دارنګې التدوين باخبار القظوين جلد ۱ صفحه ۱۳۰ ، په شان د محمد بن عدم الغزنوي کې ليکي :

يتبرك به و يستفاد من علمه .

دارنګې التدوين باخبار القظوين جلد ۲ صفحه ۱۳۳ په شان د ابراهيم صاحب کې ليکي :

ربما كانت بها كانت وفاته وقبره يزار و يتبرك به .

مسئلة الوسيلة :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبيين.

أما بعد! فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله تبارك وتعالى: يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله وابتغوا اليه الوسيلة. (پاره ٤ سورة مائدة آيت : ٣٥).

يا خير من دُفنت بالقاع أعظمه ۞ طاب من طيبهن القاع والأكم

نفسي الفداء لروضٍ أنت ساكنه ۞ فيه العفاف وفيه الجود والكرم

دا اوس مسئله چې درس كولې شې زموږ د درس مناظره نه مسئله د توسل ده بالذوات الفاضله او دا مشتمله كړځو په چند مباحثو باندې :

مبحث اول : معنى لغوي د وسيلې سره د بيان د ذكر د انواعو د توسل نه او تعيين د توسل متنازع فيه د غير متنازع فيه نه .

مبحث ثاني : استدلالات په دغه توسل بالذوات الفاضله متنازع فيها كې د قرآن كريم د نصوصو نه سره د بيان د ذكر داقوالو د مفسرينو تائيداً .

مبحث ثالث : استدلالات په توسل باندې په آحاديثو مباركوو متعددو نه سره د ذكر الايرادات على السند مع الجوابات .

مبحث رابع : توسل عند الفقهاء الحنفيين حنفي علماء د توسل په رابطه څه رايه لري.

مبحث خامس : ذكر د اقوالو د فقهاو مالكينو .

مبحث سادس : ذكر د اقوالو د فقهاء شافعينو .

مبحث سابع : ذكر د اقوالو د فقهاء حنابلوو .

مبحث ثامن : ذكر د اقوالو د عامة المفسرين والمحدثين .

مبحث تاسع : د زمن معصر د اهل حديثو او د اهلسنت والجماعة د مخالفينو د سر كردوو فتواى ګانې په متعلق ددغه توسل .

مبحث عاشر : أقوال عامة المحدثين .

نو بيا به تاسو خپله سوچ کوي چې دوي توسل ته شرک وايي حرام بدعت وايي او وسيله من وسائل الشرك ګڼي او موږ د غه تفصيل د مباحثو کې به تاسو ته په خپله د فقهاء د هر مذهب اقوال معلوم شي د مفسرينو محققينو محدثينو اقوال به هم معلوم شي نصوص د احاديثو او د آيات کريمه نه استدلالات به معلوم شي نو په آخره کې بيا تعصب د اهل حديثو به ښکاره شي چې دوي په دغه جزيه کې د توسل بالذوات الفاضلة کې چې قائلين د شرک يا وسيله من وسائل الشرك دي څومره د تعصب نه کار اخلي او په آخر کې به د دوي فتوی نقليږي چې دوي توسل ته څه شي وايي .

المبحث الأول في الوسيلة :

تحقيق لغوي د وسيلې سره د بيان د انواعو د توسل او تعيين د توسل متنازع د غير متنازع نه :

وسيله لغتاً معنين لري کله راځي وسيله په معنی د قربت باندې نزديکت ته وسيله وايي نزديک جستن ، نزديکي لټول يا نفس قربت نزديکي دا و سيله چې په معنی د قربت سره ده کوم چې په حديث د صحيح مسلم جلد اول صفحه ۲۸۸ کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد دي :

اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول ثم صلوا علي فانه من صلى علي صلاةً صلى الله عليه بها عشراً ثم سلوا الله لي الوسيلة .

په دغه ځای کې چې کوم لفظ د وسيلې ذکر دي نو دا ربط لري معنی لغوي کې هغه وسيلې سره چې کوم په معنی د قربت سره دي دلته مراد د وسيلې نه المنزلة والدرجة والقربة عند الملك ، د بادشاه سره يوه نزدې رتبه نو دغه وسيله يو خاص مقام دي قريب مع الله تعالى نه په قربت حسي مکاني سره بلکې په قربت معنوي سره نو دغه مقام ټولو انسانانو عبادو کې يو شخص ته ملاويږي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي هغه زه يمه تاسو زما د پاره د وسيلې مقام دعاء وغواړي نو اصلاً وسيله لغتاً په معنی د قربت وه او اطلاق يې په دغه وسيلې مقام باندې ځکه شوې دي چې هغه هم يو مقام قريب دي مع الله تعالى نو دا وسيله تجيء بمعنى المنزلة

والدرجة والقربة عند الملك خو لغتاً دقربت په معنی سره شو ، او کله کله وسيله راځي په معنی د توصل الی الشيء بالرغبة ، يو شي ته ځان رسول په رغبت سره .

وهي اخص من الوصيلة لتضمنها معنى الرغبة .

نو يو وصيله په (ص) شوه بله وسيله په (س) سره شوه دغه دويمه معنی چې واخلو چې توصل الی الشيء نو بيا وصيله په (ص) او وسيله په (س) تقريباً قريب المعنی شو خو فرق يې په خصوص او عموم کې شو .

وسيله په (س) توصل الی الشيء بالرغبة ، او وصيله په (ص) چې کوم دي هغه نفس توصل الی الشيء که هغه بالرغبة وي که بغير رغبت وي نو تخصيص تعميم کې يې فرق وشو :

والواسل الراغب الی الله تعالی .

نو واصل په دغه معنی سره چې توصل الی الشيء بالرغبة دی په معنی د راغب الی الله سره شو .

دريمه معنی د وسيلې :

هغه دا چې صرف مصدر وانخيستل شي بلکه دا اسم آله وګرځيږي په معنی د مايتوصل به الی الغير سره ، هغه څيز او آله چې په هغې باندې سړي نزدې کيږي غير ته .

وواضح ان الوسيلة بالمعنيين الاولين غير مرادين في بحثنا هذا .

وسيله په معنی د توسل الی الشيء بالرغبة سره يا د نفس قربت سره د امتنازع فيها نه ده ، مونږ دغه وسيله کې نن بحث نه کوو چې په معنی د قربت سره ده او په دغه وسيله کې چې په معنی د توصل الی الشيء بمعنی الرغبة دا زير بحث نه ده .

وسيله په دريمه معنی چې اسم آله واخيستلې شي په معنی د مايتوصل به الی الغير سره هغه څيز چې په هغې سره غير ته سړي نزدې کيږي دغه وسيله کې اختلاف دي چې هغه څيز چې په هغې سړي اله العالمين ته نزدې کيږي هغه يواځې اعمال دي او که اعمال او معيت د

ذواتو د دواړو دي دا مسئله اختلافي ده منکرين د توسل بالذوات الفاضلة چې په هر نوم يادېږي هغوي وايي چې : ما يتوصل به الى الغير ، فقط اعمال دي هغه څيز چې سړي پرې خالق ته نزدې کيږي صرف اعمال دي ، او مثبتين د توسل چې مونږ يو ، نو مونږ وايو چې نزديکت الله ته لکه څنګه چې په اعمالو راتلې شي نو دغه شان په معيت د صلحاء باندې هم او په صحبت د اولياء انبياء عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ باندې هم راتلې شي .

او دا يو واضح حقيقت دي ګوره په غير صحابي کې که جزي عمل د صحابي نه زيات شي خو مقام يې په صحابي نه شي اوچتيدلې داځکه چې که يوائې آله د تقرب عمل وګرځيږي نو کيدې شي چې يو شخص په عمل جزي کې فوقيت حاصل کړي ، په يو صحابي باندې مثلاً پنځوس کاله روژه ونيسي دا به ثابت په يو عمل د صحابي کې نه وي خو سره د دومره اعمالو نه دده مقام په صحابي نه شي اوچتيدې ولې څکه صحابي د هغه عمل قليل سره معيت د يو ذات لري چې محمد مصطفى صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ دي او دا غير صحابي ته دغه معيت د ذات نه دي حاصل .

نو آله د قرب الى الله که محض عمل شي او معيت د ذات نه شي نو په کار داده چې هر عمل کوونکي زائد عمل والا هغه فوق والي ولري په درجه کې په هغه چا باندې چاچې د معيت د ذواتو کړې دي نو خبره خو يې باطله ده چې دوي آله د قرب الى الله يوائې عمل ګرځوي نه آله د قرب اعمال هم دي او آله د قرب الى الله معيت د ذواتو هم دي نو مثبتين ذات آله د قرب الى الله ګرځوي او منکرين ذوات آلات د قرب الى الله نه ګرځوي نو تاسې خپله هم سوچ کولې شي چې د دوي خبره څومره وزن لري او څه اهميت لري چې ذات معيت د نصوصو نه څنګه دي نو تاسو قضاوت وکړي او ما وضاحت په خپله رساله کې کړې دي .

فالوسيلة بمعنى الثالث اى ما يتوصل به الى الغير خاص بالعمل الصالح عند المنكرين وعام عند المثبتين فعندهم كما ان العمل الصالح وسيلة وآلة الى قرب الله تعالى كذا معية الصلحاء ومحبتهم وسائل من وسائل قرب الله تعالى قال الله تعالى : ﴿إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴾. (پاره ۸ سورة اعراف آيت : ٥٤) . وقال الله تعالى : ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾ (پاره ۱۱ سورة توبة آيت : ۱۱۹) .

اکثر شواهد ما په دې پیش کړي چې معیت د صلحاو دا آله د قرب الی الله وي .

فعند المثبتين الوسيلة بالمعنى الثالث ما يتقرب به الى الغير دي .

دلته مسئله نزاعي دا شوه وسیله په معنی د اسم آلې : **ما يتوصل به الى الغير** کې نزاع راغله چې صرف عمل دي او که عمل او ذات دواړه دي نو په نزد د مثبتینو باندې معنی ثالث عامْ لغتاً وشرعاً مونږ چې مثبتین د توسل یو مونږ وایو چې دا وسیله په معنی د **مايتوصل به الى الغير** سره دا ذات او عمل دواړو ته عامه ده هم لغتاً هم شرعاً شریعت کې هم چې مونږ ګورو وسیله ذواتو کې مستعمله ده او په لغاتو کې هم وسیله ذات او حرمت کې مستعمله ده دلائل پرې دا دی :

لسان العرب جلد ۱۱ صفحه ۷۲۴ کې د وسیلې معنی کوي ماده وسل په دې ماده باندې خبره کوي :

الوسيلة المنزلة عند الملك والوسيلة الدرجة والوسيلة القربة .

اوس دا وَسَلَ په باب د تفعیل کې مستعمل کړه : **ووسل فلان الى الله وسيلةً** ، وسیله جوړه کړه فلاني خدای تعالی ته وسیله ، **اى اذا عمل عملاً تقرب به اليه** یو عمل یې کړې وي په هغې خدای تعالی ته ځان نزدې کړي .

همدغه وسیله په باب د تفعل کې مستعمل کړه : **وتوسل اليه بوسيلة** ، معنی څه ده **اذا تقرب اليه بعمل وتوسل اليه بكذا تقرب اليه بحرمة آصرة تعطفه عليه .**

ځان یې نزدې کړ خالق ته په یو حرمت سره **بحرمة فلان بوسيلة فلان بجاه فلان** دا ټول الفاظ د **توسل بالذوات الفاضلة** دي نو اهل لغت دا وسیله په باب د تفعل کې عامه یې **توسل اليه بوسيلة تقرب اليه بعمل وتوسل اليه بكذا اى تقرب اليه بحرمة** ، هغه ته یې ځان په یو حرمت سره نزدې کړ **آصرةٍ تعطفه عليه** ، داسې یو حرمت چې هغه مهربان ګرځوي متوسل به الیه دي متوسل سره چا باندې متوسل الیه متوسل به خو هغه ذات شو متوسل ته شوې الیه الله پاک شو .

تقرب اليه بحرمة ځان يې نزدې کړ ورته په يو حرمت سره هسې حرمت تعطف چې دغه حرمت مهربان ګرځوي ۀ متوسل اليه لره اله العالمين لره عليه په ده باندې نو داسې حرمت د چا پيش کړي چې د حرمت په وجه باندې د حرمت د ذات په وجه خالق په تا مهربانه شي نو اهل لغتو وسيله عامه کړه هم عمل لره هم حرمت لره.

دارنګې تهذيب اللغة جلد ۴ صفحه ۲۲۰ کې ليکي:

والوسيلة الوصلة والقربى وجمعها الوسائل قال الله تعالى اولئك الذين يدعون يبتغون الى ربهم الوسيلة ايهم اقرب. ويقال توسل فلان إلى فلان بوسيلة أي تسبب بسبب.

يو سبب يې ورته جوړ کړ وتقرب اليه بحرمة آصرة تعطف عليه.

او ځان يې ورته نزدې کړ په يو حرمت باندې چې هغه حرمت مهربان کوي متوسل اليه په دې متوسل باندې.

دارنګې معجم الوسيط جلد ۲ صفحه ۹۸۸ په ماده د وسل کې ذکر کوي: فلان الى الله بالعمل يَسِلُ وسلا رغب وتقرب. وسل فلان الى الله تعالى اى عمل عملاً تقرب به اليه.

انواع د توسل:

څه متنازع فيه دي څه غير متنازع فيه دي کله توسل الى الله تعالى راځي بالعمل الصالح دا جائز دي په اتفاق د مثبتينو او منکرينو باندې نو دلائلو ته ډير ضرورت نشته اشارتاً به دومره ووايمه واستعينوا بالصبر والصلوة استعانة من الله طلب کړي بالصبر بسبب الصبر وبالصلوة بسبب الصلوة نو باء سببيه ده وسيله کې صبر او صلوة ورته پيش کړي او استعانت وغواړي نو دا دليل دجواز د توسل دي په عمل صالح باندې چې صلوة او صبر دي.

اويا د بخاري شريف معروف روايت دي چې کوم دري نفر په غره کې په غار کې بند شوي وه او هريوه خپل عمل وسيله کې پيش کړې وه او بيا هغوي له غار نه بهر شوي وه دا معروف حديث دي چونکې دا مسئله اتفاقي ده نو په ډيرو شواهدو کې ځان نه ستړې کوو.

دويمه وسيله ده بالذات فعلاً :

وسيله ذات سره چې وسيله فعلي ورته ويلې شي هغه طلب الدعاء من الحي الصالح ، د يو نيک ژوندي سړي نه طلب د دعاء دا مسئله اتفاقي ده بيننا وبين الخصم ، ژوندي سړي نه طلب د دعاء دا مسئله اتفاقي ده بيننا وبين الخصم ، هغوي يې هم جائز گڼي مونږ يې هم جائز گڼو شواهد و ته ضرورت نشته دي او عظيم شاهد په دې باندې د قرآن عظيم الشان هغه نصوص دي چې قوميان د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ راتلل موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې يا موسى ادع لنا ، مونږ ته دعاء وغواړه .

او يا د بخاري وغيره د کتب د استسقاء بابونه چې صحابه کرام رحمة للعالمين ته د استسقاء د دعاء لپاره پيشکش کړې وه نو دا وسيله شوه په ذات باندې .

وسيله فعلي چې هغه ژوندي ده صالح ده او طلب د دعاء ترې کوي مشران او اکابر منکرينو د توسل هم په کتبو خپلو کې دې ته جائز ويلې دي او بنکته کشران په پاکستان کې کوم عوام جهال دد وي چې دي هغوي د خپلو مشرانو د قول نه دې کې خبر نه دي هغوي داسې عقيده جوړه کړې چې دا به هم جائز نه وي ځکه چې کله هم د منکر د توسل نه چې تپوس وشي چې راځه دلته د يو شيخ صالح ده دعاء به درته وکړي نو ددې جاهل جواب دا وي چې الله ماته د مرئ د رگ نه نزدې دي د بل چا دعاء ته څه ضرورت دي .

دريم توسل دي په ذات باندې : توسل قولي :

دا دريم قسم توسل قسمين لري : توسل په ذات باندې توسل قولي د هغه ذات حي ژوندې وي او دويم توسل په ذات باندې توسل قولي چې هغه وفات وي دنيا نه تللې وي نو دا دريم قسم توسل چې توسل قولي بالذات دي دا اختلافي دي ددې نه انکار منکرين کوي که هغه ذات ژوندي وي هم ترې منکر دي او که هغه ذات وفات وي هم ترې نه منکر دي توسل قولي نه .

توسل قولي چا ته وايي : توسل باسم الصالح ته ويلې شي چې نوم يې واخلي يا الله د فلاني په وسيلې باندې زما دا مشکل پوره کړې نو دا توسل قولي شو .

المبحث الثاني : تحقيق الوسيلة في ضوء القرآن الكريم مع ذكر أقوال المفسرين تائيداً :

﴿أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا﴾ (سورة الأسراء آيت : ٥٧) .

نو په اتفاق د مفسرينو عمدوو سره مشار اليه په اولئک کې عابدين نه دي معبودين دي او معبودينو کې هم بتان نه دي مراد په معبودينو کې صلحاء مراد دي ملائکه مؤمن الجن عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دا چې مونږ قول وکړ چې مشار اليه په اولئك کې معبودين دي عابدين نه دي دليل په دې باندې تفسير در المنثور جلد ٦ صفحه ٢٩١ د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول په تعيين د مشار اليه کې څه دي او د عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قول څه دي په تعيين د مشار اليه د اولئک کې :

اخرج عبدالرزاق والفريابي وسعيد ابن المنثور وابن ابي شيبه والبخاري والنسائي وابن جرير بن المنذر وابن ابي حاتم والطبراني والحاكم وابن المردوية وابونعيم في دلائل.

دې ټولو دا ذکر کړي .

عن ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في قوله : ﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾ (پاره ١٥ سورة الأسراء آيت : ٥٦) .

قال : كان نفر من الإنس يعبدون نفراً من الجن . انسانانو کې څه خلکو د پیریانو عبادت کوه .

فأسلم النفر من الجن وتمسك الإنسيون بعبادتهم . پیریانو ایمان راوړو انسانان همغه شان په عبادت کې مصروف پاتې شول . نو آيت نازل شو :

﴿أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا﴾ (سورة الأسراء آيت : ٥٧) .

نو دا اولئك كې اشاره هغه مؤمنانو جنتيانو ته ده .

وأخرج ابن جرير وابن أبي حاتم وابن المردوية عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا في الآية قال كان أهل الشرك يعبدون الملائكة والمسيح وعزيراً.

ددوي عبادت يې كوه نو اولئک کې اشاره دوي ته ده .

نچوړ د دواړو قولينو دا چې اولئك کې مشار اليه عابدين نه دي معبودين دي بيا معبودينو کې احجار بتان دا نه دي صلحاء دي ملائک دي مؤمن الجن دي عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دوي مراد دي .

نو چې هر كله مونږ دا وخودله د عمده تفاسيرو نه چې مشار اليه معبودين دي عابدين نه دي نو اوس تركيب او ترجمه يې دا شوه چې : اولئك الذين يدعون ، دا اولئك موصوف كه الذين موصول يدعون صله عائد مقدر كړه موصول مع الصله دا صفت د اولئک موصوف سره د صفت نه دا مبتداء شوه خبر يې څه شي شو اولئك يبتغون :وي چې دې لټوي يبتغون يې خبر شو الى ربهم الوسيلة رب خپل ته لټوي وسيلې څوک يې لټوي عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ وسيله نيسي عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ وسيله نيسي ملائک وسيله نيسي مؤمن الجن وسيله نيسي مشار اليه څوک دي معبودين دي دوي ټول وسيلې نيسي خپل رب ته چا باندې وسيله نيسي .

ايهم اقرب په ايهم اقرب کې تاويلين دي يو تاويل دا چې ايهم اقرب په محل د رفع کې شي يعني جمله په محل د رفع کې شي دا به بدل شي له ضمير د يبتغون نه چې فاعل دي په دې تاويل باندې وسيله ثابت شوه خو متوسل به معلوم نه شو .

معنى دا شوه دوي وسيله نيسي څوک وسيله نيسي أيهم اقرب كوم چې اقرب الى الله دي هغه هم وسيله نيسي په چا باندې وسيله نيسي دا پته ونه لګيده متوسل به معلوم نه شو .

دا ثابته شوه چې اقرب الى الله وسيله نيسي دا رک سوالونه ، نه كوي وسيلې نيسي بدون د وسيلې دعاء نه غواړي دعاء كوي خو وسيلې سره يې كوي وسيله کې څوک پيش كوي متوسل به متعين نه شو په دې تاويل .

دويم تاويل دا چې أيهم أقرب دا منصوب شي دا چې منصوب شي نو دوه تقديره

جو ړېږي يا منصوب کړه بنزع الخافض دا يې آسانه طريقه ده جار مقدر کړه يبتغون الى ربهم الوسيلة ايهم اقرب ، بأيهم أقرب دوي وسيله نيسي په چا باندې کوم يو پيغمبر کوم يو عبد چې اقرب الى الله دي نو دا نور هغه وسيله کې پيش کوي نو دلته متوسل به معلوم شو چې په ذات وسيلې نيسي بأيهم أقرب کوم چې أقرب الى الله دي په هغه وسيله نيسي .

يا يې منصوب کړه نو عامل مقدر کړه فينظرون دوي سوچ کوي أيهم أقرب چې کوم أقرب إلى الله دي فيتوسلون به نو وسيله پرې نيسي .

نو د أيهم أقرب په محل د نصب کې دوه تاويله شول يا يې منصوب کړه بنزع الخافض بأيهم أقرب په ځای ددې چې فعل عام ورته راوباسي ينظرون أيهم أقرب فيتوسلون به دا ثومره بعيده ده معنى خو هماغه شوه معنى د بأيهم أقرب او د ينظرون أيهم أقرب فيتوسلون به يوه ده خو هغوي ورته فعل مقدر کړ دا يې ورته مفعول کړ او مونږ منصوب بنزع الخافض په لنډه باندې .

دا دواړه تاويله چې ما ذکر کړل دا تفسير زاد المسير جلد ۴ صفحه ۱۷۲ کې ذکر کړي دي فرمايي :

أيهم أقرب في قوله تعالى قولان .

دا اقوال چا ذکر کړي :

ذكرهما الزجاج أحدهما أن يكون أيهم مرفوعاً بالابتداء وخبره أقرب ويكون المعنى أيهم أقرب إليه فيتوسلون إلى الله به . کوم چې أقرب إلى الله بس دوي وسيله نيسي إلى الله به په دغه أقرب إلى الله باندې .

دويمه دا چې شي :

أيهم أقرب بدل من الواو في يبتغون فيكون المعنى يبتغي أيهم هو أقرب الوسيلة إلى الله .

لټوي کوم چې أقرب وسيله إلى الله ده أي يتقرب إليه بالعمل الصالح ، په عمل صالح وسيله نيسي نو رد په توسل بالذات نه راځي چې عمل باندې نيسي په ذات يې او س نه شي

نيولې نه په هغې باندې هم راتلې شي ځکه هغه اول تاويل کې چې بدل د واو نه شي متوسل به متعين نه ده چې نه ده نو عمل هم دې ذات هم دې خو دلته پرې دال نه دې چې کوم يو مراد دې دوې وسيله نيسي څوک نيسي أقرب إلى الله وسيله نيسي په چا يې نيسي پته نه لږې نو صاحب د زاد المسير عمل راواخيسته نو رد خو په ذات نه کوي چې په ذات يې نه شي نيولې هغه خو به ته د نصوصو نه لغتو نه ګوري چې وسيله عامه دواړو ته ده او که نه ده نو زاد المسير دغه عبارت د أيهم أقرب دواړه رفعه کړه خو يا يې رفع کړه بالبدلية د ضمير د يبتغون نه، او يا يې رفع کړه بالابتداء او معنى يې دا وکړه أقرب إليهم فيتوسلون إلى الله به.

او دغه کې نور مفسرين بيا دا عبارت راآخلي چې منصوب يې کړه:

فينظرون أيهم أقرب فيتوسلون به.

نو اوس د آيت ترکيب او ترجمه وشوه.

طريقې د استدلال ته يې متوجه شه که وکتلې شي نو وسيله خپله ښکاريږي: اى هغه څوک چې عبادت د ملائکو کوي، اى عيسويانو يهودانو، اى عابدينو د مؤمن الجن دې ملائکو عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ او مؤمن الجن چې معبودين ستاسې دې دوي ته معبودان مه وايي، ځکه معبود هغه څوک وي چې هغه خپل مشکلات خپله پوره کوي د هغه بل چا ته ضرورت نه وي.

دا تاسو چې چا ته معبود وايي دوي ته چې مشکل پيدا شي نو خپله يې نه شي حل کولې هغه مشکل بيا په الله حل کوي بيا يې په الله داسې خلک حل کوي چې هغه ذات نه يې ډارک نه غواړي.

بل ورته وسيله کې پيش کوي نو هغه څوک چې خپل مشکل په خپله نه شي حل کولې بلکې د بل نه يې غواړي بيا د بل نه يې هم په داسې عاجزې غواړي چې يو بل ذات أقرب ورته پيش کوي نو ولې يې معبودين ګڼې دا د آيت نچوړ دې.

اولئك دغه عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ، عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ، مؤمن الجن ملائک دا معبودين مه ګڼې.

الذين هغه معبودين ستاسې يدعون چې مشرکين عبادت د هغوي کوي نو دغه معبودين د دوي چې دي يبتغون لټوي رب خپل لره وسيله دوي کې کوم يو ه وسيله لټوي

أيهم أقرب كوم چې أقرب الى الله دي هغه هم وسيله نيسي دا هغه اول تاويل شو چې بدل شو.

يا أيهم أقرب بأيهم اقرب كوم چې أقرب إلى الله دي په هغه وسيله نيسي يا فينظرون ګوري أيهم أقرب چې كوم أقرب إلى الله دي فيتوسلون به نو وسيله پرې نيسي.

نو دا وروستني تاويل چې فينظرون دا دليل شو په توسل بالذوات الفاضله باندې د انبياء ملائک عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دوي ګوري أيهم أقرب چې كوم يو أقرب دي فيتوسلون به نو وسيله پرې نيسي په دې صورت کې أيهم أقرب ضمير د هم چې ده ضمير د عقلاء دي راجع كول يې عمل ته صحيح نه شو عمل ته يې چې راجع كوي اعمال چې اخلي جمع بتأويل الجماعة ايها اقرب په كار دي او په قرآن عظيم کې أيهم أقرب دي نو ضمير عقلاء ته راجع ده ذواتو ته نو كه چيرته اعمالو ته راجع واي ايها أقرب په كار وه يا ايهن اقرب په كار وه ايهم اقرب نه وه په كار اعمالو ته ضمير د هم نه راجع كيږي دا ضمير د عقلاء دي نو ينظرون أيهم كوم دي د ذواتو د انبياء چې اقرب إلى الله دي فيتوسلون به.

نو معلومه شوه د آيت نه چې وسيله په ذات باندې د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ كار وه د عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ كار وه د ملائكو كار وه.

نو څوک چې ورته شرک وايي عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ ملائک شرک نه كوي كه څوک ورته بدعت وايي هغوي بدعتيان نه وه.

نو دا دليل دد دې شو چې وسيله د انبياء عمل دي او وسيله په ذات د ملائكو عمل دي، مه ورته شرک وايه، مه ورته حرام بدعت وايه.

نو مقابل جانب به څه جواب كوي نو جواب نشته مګر له ځان نه يو تفسير كوي، د جمهورو تفسير پرېږدي.

اولئك کې مونږ مشار اليه څوک جوړ كړل عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ ملائک او مؤمن الجن په قول د عبد الله بن مسعود، عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

دوي وايي نه اولئك کې اشاره عابدينو ته ده معبودينو ته نه ده دوي وايي نو چې اشاره

يې عابدينو ته کړه تول کاريې خراب کړ ځکه غلط تاويل يې وکړو په دغه تاويل کې په اسلافو کې د هيڅا قول هم نشته هيڅوک به پيدا نه کړي چې اولئک يې عابدينو ته راجع کړې وي تفسير قرطبي يو قول د قيل راخيستې خو بيرته يې پرې رد کړي خپله پرې رد کوي چې دا باطل تاويل دی .

نو د هغوي معنی دا شوه : اولئك دا عابدين چې يهوديان عيسويان دي مشرکين دي يبتغون الى ربهم الوسيلة ، رب خپل ته وسيلې نيسي چا باندې وسيله نيسي أيهم أقرب چې أقرب إلى الله دي نو تا ته وايي د وسيلې نه ځان ساته ځکه دا د يهودي عمل دی د عيسوي مشرک عمل دی چې اولئك عابد ته راجع شي خو کار وران شو يبتغون خو د اولئك خبر دی نو اولئك دا عابدين چې دي چې مشرکين دي دوي وسيله نيسي .

نو فرق کوم ځای کې راغې جمهورو سلفو په اولئك کې مشار اليه معبودين واخيست او دغه منکرينو مشار اليه د اولئك عابدين واخيست دغه ځای کې فرق راولي نور ښکته تفسير کې څه نه وايي .

راځئ ددوي تفسير مقايسه پرتله کړو د اسلافو له تفسير سره چې فرق دوي کې ده که هغوي کې ده کوم صحيح تفسير دی .

﴿ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴾ .

دا يرجون عطف دی په يبتغون باندې .

يبتغون خو خبر وه د پاره د اولئك ددوي معنى اوس دا شوه : اولئك دا عابدين يهوديان ، عيسويان او مشرکين رب کريم ته وسيلې نيسي بأيهم أقرب .

اولئك دا يهوديان ، عيسويان او مشرکين يرجون رحمة الله د الله د رحمت اميد وساتي ، ويخافون عذابه د عذاب نه يې يريږي .

فساد کوم ځای نه پيد اشو اولئك مشار اليه اسلافو معبودين ښودلې وه دوي ترې عابدين جوړ کړل او چې کله قران عظيم کې څوک تفسير بالرأيه کوي د هغوي اولين مشکل

به دا وي چې د آيت به نه لړي يا به لا نجه دا وي چې دغه آيت به له بل آيت سره په ټکر کې وي.
يا به ايت مخالف د حديثو نه وي يا به ايت مخالف وي د فقهاء نه او دا مخالفتونه نشته داد هغه چا ترجمه کې راځي چې تفسير بالرأيه کوي د اسلافو قول نه اخلي د خپل ځان نه ترجمه وکړي نو ګوره د اسلافو تفسير ته:

اولئك دا معبودين عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ ،عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ معبود مه ګڼي ځکه د مشکل په وخت کې دوي رب کريم ته وسيلي نيسي چا باندې وسيلي نيسي أيهم أقرب دوي ته معبودين مه وايي ځکه دا معبودين ستاسې يرجون رحمته د الله د رحمت اميد و نه ساتي ويخافون عذابه د الله د عذاب نه ويريږي که دا معبودين واي د خالق نه به نه ويريدې که دا معبودين واي د بل د رحمت اميدونه به يې نه ساتلې نو د اسلافو ترجمه چې معبودين يې واخيستل مسئله جوړه شوه او چې معبودين دي واخيستل ترې ثابتيږي چې وسيله نيول د عزير عَلَيْهِ السَّلَامُ ، عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ملائکو کار دي.

او که عابدين دي واخيستل نو ترې ثابتيږي چې وسيله نيول د يهودي عيسوى او د مشرک کار دي دومره لوي فرق کوي دا ما چې کومه حواله د زاد المسير تاسو ته درکړه چې دا تاويلين يې ذکر کړي دي چې يو تاويل باندې دا منصوب شي يا مرفوع شي خو معنى يې داشي چې ينظرون أيهم أقرب فيتوسلون بـه دا يوازې زاد المسير نه، درمنشور نه بلکې متعدد تفاسير په دې باندې قائل دي تفسير بغوي جلد ۵ صفحه ۱۰۱۰ ذکر کوي:

أيهم أقرب معناه ينظرون أيهم أقرب إلى الله فيتوسلون به.

تفسير بحر محيط جلد ۷ صفحه ۳۶۳ د دې عبارت هم دا دى:

معناه ينظرون أيهم أقرب إلى الله فيتوسلون به.

دا رنګې تفسير اللباب د ابن عادل جلد ۱۰ صفحه ۳۲۹ د هغې عبارت هم په دې دويم تاويل کې دادى:

والمعنى ان ينظرون أيهم أقرب إلى الله فيتوسلون به.

تفسير خازن جلد ۴ صفحه ۲۶۳:

قوله تعالى : أيهم أقرب معناه ينظرون أيهم أقرب الى الله فيتوسلون به .
معالم تنزيل جلد ۴ صفحه ۴۲۷ :
قوله تعالى أيهم أقرب إلى الله معناه ينظرون أيهم أقرب الى الله فيتوسلون به .

ددې تولو دا قول دي نو أيهم أقرب مبتداء او خبر واخلي دا يې محل قريب واخيست اصلاً که محمل بعيد ته که لاړ شي نو ينظرون ايهم اقرب بيا به د نصب شي او يا ايهم اقرب مبتداء او خبر که په دې هم مرفوع شو او يا يې محل د رفع بناء بر بدليت که د ضمير د يبتغون نه چې فاعل دي .

دويم آيت :

سورة بقرة آيت : ۸۹ اهل کتاب د مدينې منورې يهوديان مخکې له بعثت د نبي اکرم ﷺ نه د مشرکينو غير اهل کتابو سره به يې جګړه کې وسيله نيوله بذات المصطفى ﷺ کله چې نبي اکرم ﷺ راغي دوي ته بيا يې عناداً انکار وکوه .

قرآن عظيم ددوي د سابقه حال مدحه بيانوي او په دغه حالت وروستنې باندې چې انکار کوي رد کوي ذم يې کوي چې تاسو خو هغه خلک وي چې تاسو دغه نبي عليه السلام به مو ماته وسيله کې پيش کوه د مشکل او جنګ په وخت کې په مقابل د مشرکينو کې .

کله چې اوس دې درغي تاسو ته نو انکار ترې کوي .

﴿وَلَمَّا جَاءَهُمْ كِتَابٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ﴾.

هر کله چې راغې دې يهودو ته کتاب من عندالله هسې کتاب چې مصدق لما معهم وه په اصولو کې حال دا وه وه دوي من قبل اى من قبل مجيء القرآن او من قبل مجيء محمد ﷺ ، د نبي عليه السلام د بعثت نه وړاندې وه دوي .

يستفتحون طلب د فتحې به يې کوه من الله تعالى على الذين كفروا ، مقابل د مشرکينو کې په چا باندې به يې طلب د فتحې کولو په نبي عليه السلام باندې شان نزول نه پته لږي .

فلما جاءهم : هر کله چې راغي دوي ته ځوک راغي ما هغه پيغمبر عليه السلام ، عرفوا چې

دوي ښه پيژنده كفروا ، نو دوي كفر وكړ به فلعنة الله على الكافرين يه دې حالت يې ذم شو .

ماعرفوا : موصول مع الصله فاعل د جاء شو دا ټول شرط شو كفروا به جزاء شوه .

د اخندانو ترجمه مه كوي فلما جاءهم هر كله چې راغې دوي ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ، ماعرفوا نو ونه پيژنده دوي هغه لره دوي داسې ترجمه كوي ما نافيه كړي نو دا آيت بيا مقابل واقع شي د هغه آيت سره يعرفونه كما يعرفون ابناءهم د بچو په شان يې پيژندي او دوي وايي ما عرفوا ، وي نه پيژنده .

نه ما نافيه نه دي ما دلته موصوله دي دا فاعل د جاء دي جاء هم ما عرفوا راغې دوي ته هغه پيغمبر چې دوي پيژنده نو دوي كفروا به عنادا .

نو چې كوم تفسير كې هم د دې آيت كريمه شان نزول وګوري نو د يهوديانو استفتاحي دعاء به ذكر كوي چې دوي استفتاح من الله على الذين كفروا په كومو الفاظو ؤويلي ، نو الفاظ د دعاء د دوي داوه :

اللهم انصرنا بالنبي المبعوث في آخر الزمان .

با سببيه به يې پرې داخله كړه لكه څرنګه چې واستعينوا بالصبر والصلاة وسيله بالعمل الصالح د باء نه ثابتو و ، نو بالنبي كې با په ذات باندې داخله شوه وسيله په ذات باندې شوه .
كله به يې وويل :

اللهم انصرنا باسم النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

نو چې باسم النبي شو توسل قولي دي توسل قولي توسل باسم الرجل الصالح ته ويلې شي .

كله به يې وويل :

اللهم انصرنا بحق النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

دا ټول الفاظ يوه معنى لري دا د دوي د دعاء نچوړ وه ، هغه د دوي د عاء نه تعبير وشو په يستفتحون على الذين كفروا طلب د فتحې من الله به يې بحق النبي بالنبي دا دوي كوه .

تفسیر درمنثور جلد ۱ صفحه ۲۱۶ دي دا ټول روایات جمعه کوي :

أخرج ابونعیم في الدلائل من طریق عطاء والضحاك عن ابن عباس قال كانت يهود بني قريظة والنضير من قبل ان يبعث محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يستفتحون الله .

معنی څه یدعون دعاء ګاڼي به يې کولې .

على الذين كفروا په مقابل د کفارو کې الفاظ د دعاء به يې څه وو يقولون اللهم انا نستنصرك بحق النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ الامي الا نصرتنا عليهم ، مونږ مدد غواړو تا نه بحق النبي الامي الا نصرتنا عليهم .

استثناء شته مستثنی منه نشته کوم ځای کې چې مستثنی مذکوره مستثنی منه متروکه وي اشاره تعیمم ته وي نو داسې وايي نستنصرك بحق النبي الامي اى لانستنصرك بشيء الا بالنبي يا نستنصرك بحق النبي الامي دې وخت کې بل هيڅ دعا درنه ، نه غواړو مګر مدد غواړو زمونږ مدد وکړه .

فينصرون ددوي به امداد وکړې شو د فينصرون حواله به وروسته راشي .

نو دليل دا شو چې ددوي دعاء به قبوله شوه امداد به وشو ګوري په دې کې بحق النبي راغي .

واخرج ابونعيم في الدلائل من طريق الكلبي عن أبي صالح عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال كان يهود اهل المدينة قبل قدوم النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قاتلوا من يليهم من مشركي العرب من اسد وغطفان وجهينة وعذرة .

قبيلي دي يستفتحون عليهم معنی يستنصرون څه معنی يدعون دعاء به يې غوښتله عليهم په مقابل د کفارو کې بإسم نبي الله فيقولون اللهم ربنا انصرنا عليهم باسم نبيك وبكتابك .

نو توسل باسم النبي دا توسل قولي ده .

دارنګې بل ذکر کوي :

واخرج الحاكم والبيهقي في الدلائل عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: كانت يهود خيبر تقاتل غطفان فكل ما التقوا هزمت يهود. يهودو به شکست خوړ.

فعاذت بهذا الدعاء. دوي دا دعاء شروع کړه:

اللهم انا نسئلك بحق محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النبي الامي الذي وعدتنا ان تخرجه لنا في آخر الزمان الا نصرتنا عليهم فكانوا اذا التقوا دعوا بهذا فهزموا غطفان.

چې دا دعاء به يې وکړه نو مشرکينو به شکست خوړ شکست به يې ورکړ مشرکينو ته.

نو څومره شان نزولونه چې وکتل شي دوي په دغه الفاظو دعاء کړې ده.

دا ما چې کوم الفاظ نقل کړه تفسير ابن کثير جلد ۱ صفحه ۳۲۷ د هغې عبارت د ابن عباس صاحب دادی:

فقالوا اللهم انا نسئلك بحق النبي الامي الذي وعدتنا باخراجه في آخر زمان الا نصرتنا عليهم قال فنصروا عليهم.

ددوي امداد به وکړې شو په مقابل د کفارو کې یا فنصروا غالب به شول.

دارنګې تفسير الثعالبي جلد ۱ صفحه ۵۲ د هغې عبارت هم دادې:

فقالوا اللهم انا نسئلك بحق محمد النبي الامي الذي وعدتنا ان تخرجه لنا في آخر الزمان الا نصرتنا عليهم فكانوا اذا التقوا دعوا بهذا الدعاء فهزموا غطفان.

دارنګې تفسير مقاتل جلد اول صفحه ٦٣:

كانت اليهود اذا قاتلوهم قالوا: اللهم انا نسئلك باسم النبي الذي نجد في كتابنا فينصرون عليهم.

امداد به ددوي وشو مقابل د کفارو کې.

دارنګې تفسير ابن ابي حاتم جلد ۳ صفحه ۴۹۰ دې کې راځي:

ان اليهود كانوا يستفتحون على الاوس والخزرج برسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نو بدعاء رسول الله تاویل خو نه شي کيدې ځکه دغه وخت کې رسول الله نه وه دنيا کې

موجود.

دارنګې مستدرک علی الصحیحین للحاکم جلد ۷ صفحه ۱۷۰ :

فعاذت اليهود بهذا الدعاء : اللهم انا نسئلك بحق محمد النبي الأمي الذي وعدتنا .

په دې کې هم دا راځي :

فكانوا اذا التقوا دعوا بهذا الدعاء فهزموا غطفان .

دارنګې الشريعة للاجيري جلد ۳ صفحه ۷۸ .

تفاسیرو دغه روایات بدون سند را اخیستي دي او دې یې سند ذکر کوي :

فقالوا اللهم انا نسئلك بحق محمد النبي الامي الذي وعدتنا انك تخرج لنا في آخر زمان الا نصرتنا عليهم فكانوا اذا التقوا دعوا بهذا الدعاء فهزموا غطفان .

دارنګې دلائل النبوة د بیهقي جلد ۱ صفحه ۴۶۱ دا یې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دلیل د صدق نبوت کې را اخستې منکر دذې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د نبوت د دلائلو منکر دي .

امام بیهقي په دلائل النبوة کې را اخلي چې نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبوت د صداقت یو دلیل دادی چې دده د پیدائش نه مخکې خلکو دده په وسیله دعاء غوښتې ده قبوله شوې ده دا دلیل د صدق نبوت دده ده . دې یې هم خپل سند سره ذکر کوي :

فعاذت اليهود بهذا الدعاء فقال : اللهم انا نسئلك بحق النبي الامي .

آخر کې الفاظ دادی : **فهزموا غطفان .**

دارنګې دلائل النبوة د ابي نعیم جلد ۱ صفحه ۵۲ کې امام ابو نعیم رَحِمَهُ اللَّهُ هم دا حدیث په دلیل د صدق نبوة کې را اخلي تاسې که ددوي کتب وګورئ چې دوي جرحه په چا کوي .

الشريعة للاجيزي د هغې سند دادی :

انبأنا ابراهيم بن موسى الجوزي قال حدثنا يوسف بن موسى القطان قال حدثنا عبدالملك بن هارون بن عنترة عن ابيه عن جده متروك .

دغه راوي باندې جرحه ده **عن ابن عباس** رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

د دلائل النبوة ابو نعیم سند :

حدثنا حبيب بن الحسن قال حدثنا محمد بن يحيى المروزي قال حدثنا احمد بن ايوب قال حدثنا ابراهيم بن سعد عن محمد ابن اسحاق انه قال بلغني عن عكرمة مولى ابن عباس وعن سعيد ابن جبير عن ابن عباس.

په دې کې عبد الملک بن هارون بن عنتره راغلی.

جرحه چې په کوم سند کوي نورو طرقو ددې حديث ته لاړ شه نورو طرقو د حديث کې دغه راوي نشته په کوم چې تاسو جرحې کوي او معنى يو ده.

په دې کې هم دادي چې:

قد كنتم تستفتحون علينا بمحمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وانا على الشرك.

په دې کې براء بن معرور داد مشرکينو نه وه ايمان يې راوړ يهوديانو ته وديدوي ويل: اى يهوديانو!

اتقوا الله واسلموا. خداى نه وډار شي ايمان راوړي.

قد كنتم تستفتحون علينا بمحمدٍ وانا اهل الشرك.

مونږ چې کله مشرکان ؤو تاسو سره مو جنګ راتللو نو تاسو به د خالق نه دعاء غوښته بمحمدٍ په وسيلې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوس چې هغه راغې ولې ايمان نه راوړي.

د مشرکينو نه يو کس براء بن معرور ايمان راوړو يهوديانو ته پيغور ورکوي چې هغه وخت را ياد کړي چې تاسې به په ده وسيله نيوله.

نو نچوړ خو يو ده چې وسيله بمحمدٍ ده نو معنوي تائيد د هغه رواياتو کوي.

دا ما د هغه عمده تفاسيرو حوالې ذکر کړي باقي چې څومره تفاسير دي که هغه په دغه ځاى کې وکتل شي شان نزول کې هم دغه الفاظ بيانوي.

خو تفسير روح المعاني دا هم ليکلي دي چې لاسونه به يې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په نوم کينبودل توراة شريف به يې خلاص کړو او هغه نوم باندې به يې لاسونه کينبودل.

إيرادات:

ددوي زمونږ په دغه دليل څه اعتراضات دي:

اول اعتراض :

هذا دعاء اليهود والله تعالى لم يستجبها .

دا وايي مونږ ته مه پيش كوه دا د يهوديانو دعاء وه بِدعي نارو ا دعاء يې كړي الله نه ده قبوله كړې .

دا اعتراض ابن تيميه نه دي كړې الباني نه دي كړي او ماتقريباً څوارلس كتب د دوي يعني د منكرينو د وسيلې كتلې يو ه هم دا نه دي كړي .

دا په اهل حديثو كې يو ناپوهه پشاوري كړې دا فتوى د هغه ده پشاوري په خپله فتاوى الدين الخالص جلد ۱ صفحه ۱۳۱ :

استدلوا ايضاً بقوله تعالى : وكانوا يستفتحون على الذين كفروا . قالوا كانوا يقول الله اللهم انا نسئلك بحق النبي ان تنصرنا كما في القرطبي والجواب .

اوس جوابونه كوي يو جواب دا كوي :

هذادعاء اليهودوالله لم يستجبه.دا د يهوديانو دعاء وه خداى تعالى نه ده قبوله كړې.

او ما چې څو مره حوالې مخكې ذكر كړي هغلته الفاظ دا وه :

فينصرون . امداد به يې وشو .

يا الفاظ دا وه :**فنصروهم** ، يا الفاظ دا وه : **فهزموا غطفان** ، شكست يې وركړ .

عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د دغه دلائل النبوة د بيهقي دلائل نبوة د ابونعيم شريعه د آجيري وغيرهم نو دا څومره حواله جات چې دي دليل د دې دي چې :

فنصروا فينصرون فهزموا غطفان .

دعاء قبوله شوې ده .

دا ناپوهه وايي دعاء نه ده قبوله شوې نو اوس د دې نه مونږ څه جواب وكړو .

دومره به ووايو چې دروغ يې ويلې ، دعاء يې قبوله شوې ، كتبو دا ويلې ، او پشاوري وايي چې نه ده قبوله شوې .

دوهم اعتراض :

هذا من شرائع من قبلنا والاستدلال لا لنا فيها .

دا شرائع من قبلنا دي ، مونږ ته څه دليل دې کې نشته .

دا اعتراض ابن تيميه هم کړې ، ابن قيم او البانې هم کړي دي و روستني چې کوم اهل حديث دي هغوي هم کړې چې دا شرائع من قبلنا دي مونږ لپاره څه دليل نه دي .

دې کې جزيه د جمهورو چې شرائع من قبلنا مونږ د پاره دليل دي او که نه دي د جمهورو رأيه داده چې ماسبق شريعت دا مونږ ته شريعت دي تر څو چې نسخه مصرحه نه وي نسخه چې رانه شي دا مونږ ته دليل دي .

ثبوت يې د سورة انعام دا آيت دي :

﴿فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾. (سورة انعام آيت : ۹۰)

ددې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په هدايت پسې ته اقتداء وکړه .

دغه ځای کې رايه د جمهورو داده چې هدا عامه ده .

اعتقادياتو ته هم شامله ده شرعياتو ته هم شامله ده ، نو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د هغوي شريعت پسې اقتداء وکړه .

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې هر کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مامور شو په اقتداء د انبياء ماسبق او مونږ مامور يو په اقتداء د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نو بالواسطه مونږ هم مامور شه په اقتداء د شرائع من قبلنا باندې ترڅو چې نسخه مصرحه نه وي .

نو تفاسيرو کې چې تاسو دا مسئله پيدا کوي چې شرائع من قبلنا مونږ لپاره دليل دی او که نه نو فبهداهم اقتده کې تفاسير وګورئ .

په تفاسيرو کې مسائل وي خو ځای يې چاته نه وي معلوم .

په تفسير کې ددې مسئلې ځای فبهداهم اقتده دي .

دويم دليل سورة نساء کې راځي :

﴿وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ (سورة نساء آيت : ۲۶)

چې وښايي تاسو ته طريقې د من قبلکم باري تعالى تاسو باندې تخفيف راولي .

د من قبلکم د طريقو هدايت درته کوي نو دا دليل ددې شو چې قرآن عظيم ټول په ټوله شرائع من قبلنا منسوخ کړې نه دي .

بلکې څه جزيات يې منسوخ کړي چې کوم ځای کې نسخه مصرحه راغله بيا دليل نه دي .

نو اوس دې مونږ ته ثوک دا وښايي چې توسل بالذوات الفاضله په هغه دينونو کې جائز خوزمونږ دين کې ناروا .

لکه سجده تعظيمي هلته روا مونږ ته حرامه ده حديث پرې شته نو دا شان دې توسل کې مونږ ته ثوک پيش کړي چې هلته جائز مونږ ته ناروا .

نو چې نسخه نه شي ښودلې شرائع من قبلنا مونږ ته دليل دي او دليل دې باندې عبارات د فقهاء او اصولينو دادى :

تفسير قرطبي جلد ۱ صفحه ۳۱۳:

مسألة : في قصة البقرة هذه دليل على ان الشرع من قبلنا شرع لنا .

د ماقبلنا شريعت زمونږ لپاره شريعت دي .

وقال به طوائف من المتكلمين وقوم من الفقهاء .

په دې د متکلمينو څه ډلې او د فقهاو يو قوم قائل دي .

واختاره الکرخي . د احنافو نه کرخي اختيار ورکړې .

ونص عليه ابن بکير القاضي من علماءنا .

چې مالکي دي .

وقال القاضي ابومحمد عبدالوهاب هو الذي تقتضيه اصول مالك .

د امام مالک صاحب اصول هم ددې تقاضا کوي چې شرائع من قبلنا دليل دي .

واليه مال الشافعي .

دي ته امام شافعي صاحب هم ميلان کړي .

نو جمهور علماء په دې شول چې شرائع من قبلنا زمونږ لپاره دليل دي ترڅو چې نسخه نه وي .

دا رنګې تفسير رازي جلد ٦ صفحه ٣٦٥ :

قال آخرون : المراد الاقتداء بهم في شرائعهم الا ما خصه الدليل .

د څه علماو قول دا دی چې :

فبهداهم اقتده . اقتداء هغوي پسې په شريعت کې په کار ده .
ترڅو چې تخصيص دليل نه وي په نسخه کې .

وبهذا التقدير كانت هذه الآية دليلاً على ان الشرع من قبلنا يلزمنا .

په دې کې دليل ددې خبرې شو چې شريعت من قبلنا لازم دي په مونږ اتباع د هغې .
دا رنګې تفسير اللباب د ابن عادل جلد ٧ صفحه ٤٠ فبهداهم اقتده شرحه کوي :

المراد الاقتداء بهم في شرائعهم الا ما خصه الدليل على هذا . فالآية دليل على ان الشرع من قبلنا يلزمنا .

دا رنګې تفسير نيسابوري جلد ٣ صفحه ١٦٨ :

وقد يستدل بالاية على ان الشرع من قبلنا يلزمنا لان الهدى والنور لا بد ان يكون احدهما يتعلق بالفروع والآخر بالاصول والا كان تكراراً .

امام نيسابوري استدلال کوي : هدا او نور نو لابدي دې نه شوه چې دا يو چې هدا دی دا دې فروع شي او دا نور دا دې اصول شي که دا بيل بيل وانه خلو کان تکرار تکرار به لازم شي نو معلومه شوه چې اعتقادياتو او په شرعياتو کې عمليات فروعاتو کې ټولو پسې اقتداء کوه ترڅو چې نسخه نه وي .

دا رنګې تفسير خازن جلد ٢ صفحه ٤١٩ همغه آيت کې دليل وايي :

وفي الآية دليل على ان الشرع من قبلنا شرع لنا .

دا رنګې اضواء البيان في التفسير القرآن بالقرآن :

وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً.

څه ډير علماء فقهاء دي ايت كريمه نه فرضيت د حج ثابتوي نو چې دې نه فرضيت د حج ثابتوي دا خو ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلان كړې وه چې شرائع من قبلنا چې دليل نه دي نو فريضه څنګه ثابتوي نو وايي :

وعلى قول الجمهور فوجوب الحج بها على هذه الامة مبني على ان الشرع من قبلنا شرع لنا.

د جمهورو په نزد باندې چې دې آيت نه د حج فرضيت ثابتيږي نو هله به ثابتيږي چې شرع من قبلنا دې زمونږ شريعت شي .

دارنګې تفسير دفع ايهام الاضطراب عن ايات الكتاب جلد ۱ صفحه ۲۴ هغه دويم آيت چې ما پيش كړې وه :

يُرِيدُ اللهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ .

ددې نه هم پته لږي سنن د من قبل تاسو ته ښايي :

هذه الايات تدل بظاهرها على ان الشرع من قبلنا شرع لنا فجمهور العلماء على ان الشرع من قبلنا ان ثبت بشرعنا فهو شرع لنا مالم يدل دليل من شرعنا على نسخه .

دارنګې عمدة القاري شرح د صحيح البخاري جلد ۵ صفحه ۲۸۴: دا ذكر كوي د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ چې كوم عرياناً اغتسال په دغه باب كې :

لكن هذا مبني على ان الشرع من قبلنا من الانبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ هل يلزمنا ام لا فيه خلاف والاصح انه يلزمنا ان لم يقص الله علينا بالانكار .

دارنګې فتح الباري د ابن حجر جلد ۱۳ صفحه ۳۵۶:

واستدل بهذا على ان الشرع من قبلنا شرع لنا هي مسئلة مشهورة في الاصول .

دارنګې شرح د مختصر خليل للخرشي جلد ۱ صفحه ۱۶ :

بناء على ان الشرع من قبلنا شرع لنا مالم يرد ناسخ .

دارنګې حاشية العدوي جلد ۸ صفحه ۳۲۱:

على ان الشرع من قبلنا شرع لنا ما لم يرد ناسخ.

دارنګې الموسوعة الفقهية الكويتية جلد ۲۷ صفحه ۱۴:

ان هذه الايات وغيرها تدل على ان الشرع من قبلنا من الانبياء شرع لنا.

دارنګې مجموع فتاوى ابن تيميه جلد ۱ صفحه ۷۶:

ان الشرع من قبلنا هل هو شرع لنا ام لا والنزاع في ذلك مشهور لكن الذي عليه الائمة واكثر العلماء أنه شرع لنا ما لم يرد شرعنا بخلافه.

دا هغه دويم اعتراض ددوي وه چې ددوي ټولو سر کرده وو منکريسو کړې دي چې دا شرائع من قبلنا دي زمونږ لپاره دليل نه دي نو ما ځکه دا حوالې ذکر کړې چې [illegible] دا خبره بې بنياده د جمهورو خلاف ده د جمهورو رأيه داده چې شرائع من قبلنا زمونږ لپاره دليل دي ترڅو چې نسخه نه وي.

دريم اعتراض: په دغه شان نزول باندې چې کوم اهل کتابو توسل نيولې دي:

وايي په سند ددې روايت کې:

عبدالملك بن هارون بن عنتره عن ابيه عن جده فعبدالملك متروك كما قال به الذهبي.

دهغې جواب به داوي چې روايات د توسل د اهل کتابو بالنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري دي: بعضو کې باسم النبي دي، بعضو کې بحق النبي دي، بعضو کې بمحمد دي معنى د ټولو يوه ده.

دغه راوي عبدالملک بن هارون روايت د دلائل النبوة د بيهقي الشريعة د آجيري په دې کې دا مذکور دي.

او هر چې روايت د ابي نعيم دي په هغې کې دغه راوي چې دوي پرې جرحه کوي نشته او متن د وروستني حديث دي سره موافق نه دي خو معنى يې يوه ده معنى داده چې توسل بمحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شوې دي او توسل بمحمد باسم النبي بحق النبي دا يوه معنى ده.

لهذا دا وروستني روایت متابع شو لپاره د هغه روایتینو که څه نا څه په دغه راوي باندې جرحه شته او سبب د ضعف جوریږي خو په متابعت کې ورته مونږ هغه دویم روایت د ابي نعیم د دلائل نبوت نه پیش کړ چې په هغې کې دغه راوي نشته هغه تائید قوت ورکوي دغسې سند لره .

ابن ابي حاتم وابي نعیم اعتراض ما ددې جواب په خپله رساله کې کړي دي .

في بعض الروايات السؤال بحق النبي كما في رواية الحاكم والبيهقي والشريعة للآجري وفي بعض الرواية السؤال بالنبي كما في رواية ابن ابي حاتم في تفسيره ودلائل النبوة لابي نعيم عبدالملك في سند الرواية الاولى دون الثانية ومراد الرواية الثانية والاولى واحد لان السؤال بالنبي وباسم النبي هذا هو التوسل القولي الذي هو مرادنا ومورد بحثنا . في هذه الرسالة فرواية ابن ابي حاتم وابي نعيم كثير شاهدا على رأي بعض الأصوليين لرواية الآجري والبيهقي والحاكم .

او دا ما تاسو ته په اصولو کې ویلي چې که یو حدیث ضعیف هم شي خو چې تعدد د طرقو راشي نو حسن لغیره ترې جوړ شي حسن لغیره د مقبولاتو نه دي استدلال ترې نه کیدې شي تاسو په مقابله کې مونږ ته یو قوي پیش کړي بیا دا رده وي .

څلورم اعتراض : رستمي کړي او ددې علاقې وهابیانو یې تقلید کړې :

په شان نزول ددې آیت کریمه کې احتمالات دي او اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال .

هذه الآية تحتمل تأويلاة ثلاثة ذكر الالوسي في تفسيره روح المعاني فلا استدلال مع الاحتمال .

دا قاعده شته په اصولو کې خو دوي یې په مقصد نه پوهیږي مقصد ددې چې : اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال دا دی احتمال احتمالان دوه دي یو احتمال ناشي من دليل دي بل غير ناشي من دليل دي یعني یو مجرد احتمال دي بل احتمال ناشي من دليل دي بیا چې دا کوم

احتمال ناشي من دليل احتمالين دي ته به ګوري چې دا احتمالين په خپلو کې متضاد دي که غير متضاد دي که غير متضاد وه نو بيا توافق شته په کې بيا بطل الاستدلال ولې شو خو هغه احتمالينو کې توافق وکړه کنه که داسې وشو چې احتمالين ناشي من دليلين او په دغه احتمالينو کې تدافع ده دې صورت کې چې دا يو احتمال ناشي من دليل دي دا دفعه کوي هغه بل احتمال چې ناشي من دليل اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال ولې اذا تعارض تساقط ځکه تعارض راغي چې تعارض راغي دواړه د استدلال نه ساقط شول.

خو دا به هغه وخت کې وي چې احتمال د خصمينو به متضاد وي احتمال د روايتينو به متضاد وي نو صاحبانو دلته تضاد چرته دي يو روايت کې راځي توسل يې وکړو بمحمد يا بالنبي بل کې راغي چې توسل يې وکړو باسم النبي، بل کې راغي توسل دي بحق النبي دې کې تدافع کوم ځای کې ده دا خو تول توسل قولي دي يا په لفظ د حق سره مذکور يا په لفظ د اسم النبي سره نو دا باء خو هم سببيه ده نو چې په مينځ کې تدافع نشته دي.

دلته خو احتمالات راغله خو متضاد نه دي کنه چې متضاد نه دي ځنګه د استدلال نه دا ساقطه وي او که مجرد احتمال په شان نزول کې چې مختلف راشي هغلته بيا بطل الاستدلال راځي بيا خو قرآن عظيم الشان ټول د استدلال نه ساقط ځکه داسې آيت نشته چې د هغې په شان نزول کې پنځه يا شپږ مختلف روايت نه وي دا مکي دي دا مدني دي دا دې باره کې نازل دي يا د دې لپاره تاسو د شان نزول کتب وګوري هر آيت کې احتمالات ذکر کوي خو هغه احتمالات چې متضاد نه وي بيا چې کله متضاد په شان نزول کې راشي هلته مفسرين دا قاعده نه جاري کوي چې يره شان نزول کې تضاد راغي بطل الاستدلال ولې قرآن کريم دې د استدلال د پاره نه پرې ځنګه استدلال باطلوي هغلته بيا دوي دفعه په دې سره کوي چې ايت نازل شده ده مرتين يو ځل به دې کې نازل وي.

بل ځل دي کې بيا داسې جواب ترې نه کوي داسې نه کوي چې استدلال باطل کړي بس دا متضاد راغلل يو يې مکي کړ بل يې مدني کړ دوه ځايه به نازل شوې وي نو دا محض ددوي خبره: اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال هغې کې يوه خبره ده چې کله احتمال ناشي من

دلیل وي بیا په خپلو کې متضاد وي توافق یې نه راځي په قاعدې د اذا تعارضا تساقطا سره دواړه درجې د استدلال نه ساقطیږي او دلته تضاد نشته دي .

دریم دلیل د قرآن عظیم الشان نه :

سورة مائدة آیت : ۳۵:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَابْتَغُواْ إِلَيهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُواْ فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾.

ای ایمان والو ! د الله نه ویریږئ ولټوئ الله لره وسیله معنین دي په کې یوه معنی قربت لکه اوله معنی مونږ په قربت سره کړې وه نو وابتغوا الیه تقرب الیه ده ته نزدیکت ولټوي بأي شيء آیت ساکت وسیله ثابته شوه خو متوسل به مذکور نه شو .

یا وابتغوا الیه الوسیلة وابتغوا الیه مایتوصل به الی الغیر هغه څیز الله ته ولټوي په کوم څیز چې نزدیکت الله ته راځي هغه څه شي دي پته نه لږي آیت ساکت دي .

هر کله چې آیت ساکت شو دې ځای کې تاته اصول شته تفاسیر شته ته به اوس څه کوي اصول ستا دا وایي چې کله مطلق راشي دوه قاعدې تاته ذکر کوي یوه قاعده دا مطلق صرف کیږي فرد کامل ته دویمه قاعده دا مطلق یجري علی اطلاقه دا قاعدې په خپلو کې تدافع لري که مطلق جاري په خپل اطلاق شي نو شمول د حکم د مطلق کل افرادو د مطلق ته سیان معنی یې دا شوه په اطلاق یې جاري کړه کل افرادو ته حکم شامل دي .

او که مطلق صرف فرد کامل ته وشي نو فرد کامل به مراد وي نور به مراد نه وي نو تضاد راغې کنه که صرف فرد کامل ته که یې یو فرد به مراد وي نور به نه مراد وي که په خپل اطلاق یې جاري کوي نو شمول د حکم کل افرادو د مطلق ته سیان ټولو ته شامل شو اوس یو مراد وي که ټول مراد وي نزاع راغله .

مولوي ددغې قاعدې توافق کوي مطلق ته وګوره دا مطلق ذات دی که وصف که مطلق چیرته ذات وي نو صرف یې فرد کامل ته وکه .

او که مطلق چیرته وصف وي نو په خپل اطلاق یې جاري که .

قوله تعالی : ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾.

یې مثال شو ، بیولي بنده خپل لیلاً د شپې بنده ته هم یې ته یې نه یې بیولې ولې ته نه

يې مراد ځکه عبد ذات دي ذات چې ذکر شي مطلق صرف يې کيږي فرد کامل ته او کامل اکمل په عبادو کې هغه يو ذات دي په ټولو کې کامل دي نو دې ترې مراد ده عبد نه زه او ته ترې مراد نه يو او که ذات چيرته وصف وي په خپل اطلاق يې جاري کړه شمول د حکم کل افرادو ته وکړه.

وابتغوا اليه الوسيلة اوس دلته وصف دي نو چې هر کله وصف دي په خپل اطلاق به يې جاري کوي شمول د حکم به کل افرادو د وسيلې ته سيان وي ټول به مراد وي الله ته نزديکت ولټوه بالعمل الله ته نزديکت ولټوه په توسل فعلي الله ته نزديکت ولټوه په توسل قولي د وسيلې چې څومره انواع دي ټولو ته شامل شو.

دا طريقه د اخذ او استدلال شوه د آيت کريمه نه.

يوه بله طريقه اصولي باندې هم ته بحث جوړولې شي هغه دا چې دلته قيد لړول:

وابتغوا اليه الوسيلة بالعمل دون الذات.

دا نه دي مګر تقيد د مطلق او تقيد د مطلق دا نه دي په اصولو د احنافو کې مګر نسخه د مطلق ده تر بعضې افرادو تقيد د مطلق نسخه د مطلق ده په بعضې افرادو کې حکم بعضې افرادو کې حکم بعضې افرادو ته نه شاملوي چې نه يې شاملوي نسخه دې په هغه افرادو کې راوسته او نسخه د قطعي دا په ظني باندې نه شي کيدې نو په قول د رُستمي او بشاوري به ځنګه وشي د يو مفسر په قول هم نه شي کيدې چې تا په تفسير هم دلته وليدل چې وابتغوا اليه الوسيلة بالعمل نو داسې مه وايه چې بالذات نه بيا خو ته تقيد کوي تقيد مه کوه ځکه دا تقيد د مطلق ده او تقيد د مطلق دا نسخه د مطلق ده د بعضې افرادو نه حکم د مطلق دي بعضې افرادو نه منسوخ کړه او نسخه د مطلق د قطعي په قطعي باندې کيږي اوس به ته په بل متواتر حديث کې يا په بل آيت کې استثناء ثابتوي که دې ثابته نه کړه نو د چا په قول ته تقيدات نه شي کولې.

زيات تشريح اِله ته وسيلې ولټوي عام خالق ذکر کوي بالعمل يې نه ده ويلې بالذات يې نه ده ويلې نو حکم ټولو ته شامل شو اوس ته دلته وايي چې عمل مراد دي او ذات مراد نه دي تقيد دي وکړو نو تقيد د مطلق دي چې وکړ حکم د دې مطلق چې تر ذات عام وه تا منسوخ

کړنو تقید د مطلق دا نسخه د مطلقوي او نسخه د قطعي په قطعي باندې کیبږي داد چا په
نول نه شي کیدې ولو که تفاسیر هم دلته څوک پیش کړي قبول به نه وي .

ها قبول دي خو ذکر د شي نفي د ماعدا نه کوي تخصیص بالشيء نفي د ماعدا نه کوي .
یو فقیه وویل چې :

وابتغوا الیه الوسیلة بالعمل ....

نو دا اوس په کې ته داخلوي چې دون الذات دا خو هغه نه دي ویلې هغه غلي ده ددې نه
چې هغه ساکت دي نو ته هم ساکت شه لکه تصریح په یوه نوعه د شي باندې دا خو رد په
نوعې آخرې باندې نه وي لکه زه توسل بالذات ثابتوم او دا دلیل پیش کړم نو دا خو ما باندې
الزام نه شو چې زه د توسل بالعمل منکریم یا ماتوسل بالذات ثابت کړ توسل بالعمل گڼې
دې نه، نه ثابتیږي نه څوک به توسل بالذات اخلي څوک به یې بالعمل اخلي څوک به یې عام
اخلي چې هر یو یې واخیست رد په آخر نه جوړیږي دلته نو تخصیص بالشيء نفي د ماعدا نه
کوي او تخصیص بالشيء لسبب نفي د ماعدا گرځول استدلال په وجه مخالفه ده نه په موافقه
باندې .

نو هیڅ جواب ددې آیت دوي سره نشته سوا د یو څه نه چې دوي وایي قرآن او سنت چې
کله بند شي نو بیا مفسرینو ته مجبور شي نو وایي :

وقد اتفق المفسرون من لدن الصحابة الی یومنا هذا الا المبتدعین المعاصرین علی ان
التوسل المامور به في هذه الایة انما هو التوسل بالایمان والعمل الصالح واسماء الله وصفاته ولم
یقل احد منهم بانما علی ان الایة توسل الیه بوسیلة الصالحین .

وایي د صحابوو نه تر اوسه پورې یو مفسر هم وسیله په صالح نه ده اخیستې اوس یې
مفسر ته ضرورت پیدا شو وایي دا وسیله بالعمل مراد ده صالح نه ده مراد گڼې مفسرینو به
رااخیستې وای نو مفسرین خو دوي ته ډیر مقبول دي ځکه یې مونږ ته دلیل کې پیش کوي .
مونږ به ددوي د اعتراض صرف دفعه وکړو او د مفسرینو فقهاو اقوال او عبارات به
وگورو چې دې ځای کې اخذ کړي او که نه یې دي کړي :

تفسير روح المعاني جلد ۴ صفحه ۱۸۷ د روح المعاني متعلق صرف يوې خبرې ته لږ متوجه شي : خاصكر افغاني طالبان او علماء زمونږ د افغانستان علماء اكثر كتابونه نه لري مكتبې نه لري او د پاكستان علماء مكتبې لري خو علماء د افغانستان محققين دي او د پاكستان علماء ظاهربين دي ولو كه مفتيان هم دي سخت زړه وردي ډير ز فتوى وركوي تحقيق نه كوي بيا چې ورته و وايي چې خطاء شوې يې ضد او عناد هم نه كوي خپله خطائي مني.

خو د افغانستان علماء تر هغه فتوى نه وركوي چې تحقيق يې نه وي كړي كمزوري دوي كې داده چې مكتبې اسباب نه لري د افغانستان لوي عالم دا وي چې په تفاسيرو كې روح المعاني ورسره وي نو بيا په روح المعاني انتهائي غټ اعتماد لري زما مطلب دا نه دي چې زه تاسو په كتبو بې اعتماده كړم خو چې د يو سړي كتاب كې ګوتې وهل شوې وي او كتاب په هغه شكل نه وي پاتې چې كوم مصنف ليكلې وي نو بيا ترې لږ احتياط په كار دی.

علامه زاهد الكوثري اشاره كړي په محق التقول كې دې خبرې ته چې د محمود آلوسي ځوي عثمان آلوسي هغه اهل حديث غير مقلد وه او پلار يې صوفي وه پلار يې دا تفسير ليكه دې وفات شو په دې تفسير كې چې څو مره متضاد اقوال د اهل سنت په نظر درته راغلل دا په كې د عثمان آلوسي لخوا ګوتې وهل شوې يعني عثمان آلوسي د محمود الوسي ځوي په كې ګوتې وهلې .

ما ته يو عالم چې دا اسلامي او جهادي تنظيمونو سره وابسته وه او پخوا د جهاد دوره كې عربو ته د چندو لپاره تللې وه په مكتبو ډير ګرځيدلې وه ډير پوي عالم وه هغه ما ته وويل چې په مكه معظمه كې يو عظيمه مكتبه كې ما د محمود آلوسي په ګوتو ليكلې شوې تفسير پيدا كړ وايي ما د مكتبې والا نه تپوس وكړ چې دا تفسير د چا دي هغه وويل چې دا د محمود آلوسي د خپلو ګوتو ليكلې تفسير دي وايي بيا صاحب د مكتبې ما ته وويل چې محمود آلوسي دوه نسخې په خپلو ګوتو ليكلې وي دا چاپ خانې هغه وخت كې نه وې بيا يې وليكله بيا يې هغې نه بله وليكله .

بيا د فارس بادشاه ده ته ملاقات ته راغې او دده تفسير هغه ترې نه په ډير قيمت واخيسته وي وروسته نو دا نسخه فارس ته لاړه هغه دويمه نسخه يې كور كې پاتې شوه د هغه وخت سره د انډيا بادشاه فارس ته راغې هغه به علماء وه د فارس د بادشاه په مكتبه كې د

محمود آلوسي روح المعاني وليده وايي دا مې خوښه شوله دا ماته راکړه د فارس بادشاه ورته وويل چې ددې مصنف حيات دي زه به دې کور ته ملاقات ته ورولم.

که دويمه نسخه وه دريه يې کړي د فارس بادشاه او د انډيا بادشاه دواړه په شريکه بغداد ته د آلوسي کور ته لاړل اتفاقاً آلوسي وفات شوې وه ځوي يې عثمان آلوسي دده په کتاب کې پوره ګوتې وهلې وي هغه دويمه نسخه کې بادشاه ورته وويل چې داد انډيا بادشاه دي دا نسخه ده ته ورکړه.

وايي په دې شرط يې ورکوم چې دوه ځل به يې د سوني سره تلي بيا به يې ورکړم د انډيا بادشاه دوه ځل روح المعاني د سونې سره وتله او دا يې ترې راواخيست وايي دا تاسو چې په عرب عجم کې کوم تفسير ګوري داد عثمان آلوسي تفسير دي چې انډيا ته تلې بيا خور شوې دي او چې کوم د فارس بادشاه سره د محمود آلوسي خپل تفسير دي هغه په مکه معظمه کې اوس هم قلمي پروت دي نو دې کې ګوتې وهل شوې دې کې ډير زيات نزاعات دي ما راويستلي دي.

دې آيت کريمه نه لاندې دې څه حصه کې په توسل رد کوي روح المعاني په توسل رد کوي بيا اوه ځايه روح المعاني په خپله وايي چې ان شاء الله دا مسئله بيانومه بحرمة النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نو که دې په خپله د توسل قائل نه واي نو دې د اوه ځايه وعدې ولې کولې چې دا مسئله په حرمت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ان شاء الله فلاني صورت کې بيانوم.

ما ته دې خداى توفيق راکړي چې زه دا مسئله په حرمت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بيان کړم په آخره کې چې د مفسرينو حواله جات پيش کوم بيا به د روح المعاني هغه حوالې درکړم درته.

دلته هم دي په صفحه ۱۸۷ د ۴ جلد کې دا کوم بحث يې چې کړي دي دا تاسو ته چې خلک وايي روح المعاني مخالف دي دا په آخره کې خلاصه وايي:

وبعد هذا كله انا لا أرى بأساً في التوسل الى الله تعالى بجاه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عند الله تعالى حياً وميتاً.

زه باک نه ګڼم په وسيله نيولو کې خداى تعالى ته په جاه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه دنيا کې حيات وي که دنيا نه تللې وي. بيا په صفحه ۱۸۸ کې بله مسئله ذکر کوي:

بقي ههنا أمران : دلته دوه خبرې نورې پاتې شوي يوه :

ان التوسل بجاه غير النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا بأس به ايضاً ان كان المتوسل بجاهه مما علم ان له جاها عندالله تعالى . د يو ولي په جاه باندې وسيله هم روا ده باک نشته خو په دې شرط باندې چې د هغه ولايت د مقبولاتو نه وي .

او روح المعاني مكتبه حقانيه جلد ۳ صفحه ۴۰۶-۴۰۷ د غه حوالو کې دا مسئله ذکر کړي ما سره د غه مکتبې والا روح المعاني ده او شيخ صاحب اکثر حوالې د بيروتي چاپ کتابونو ورکولې .

نو دوي وايي چې من لدن د صحابو و نه تر اوسه پورې کوم مفسر اخذ نه دي کړي .

محمود آلوسي دا اخذ د غه آيت کې کړي د غه آيت باندې د غه خبرې کړي .

دارنګې تفسير صاوي جلد ۲ صفحه ۱۸۲ :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ ﴾ .

دې ددې آيت کريمه شرحه کوي :وابتغاء الوسيلة ما يقربه اليه مطلقاً .

ابتغاء د وسيلې هر هغه شي دي چې دې نزدي کوي خداى تعالى لره مطلق عام دي يعنې هر شي چې دې خداى تعالى ته پرې نيزدي کيږي .

ومن جملة ذلك . د جملې د هغه آلاتو نه چې آله د قرب الى الله دي :

محبة انبياء الله واولياءه والصدقاة وزيارة احباب الله تعالى وكثرة الدعاء وصلة الرحم وكثرة الذكر وغير ذلك فالمعنى كل ما يقربكم الى الله فالزموه .

هر شي چې تاسو خالق ته نزدې کوي هغه کلک ونيسي ، واتركوا ما يبعدكم عنه ، کوم مو چې ترې لرې کوي هغې نه ځان لرې کړي ، اذا علمت ذلك كله چې ته پوه شوې دې باندې چې وسيله دلته عامه ده .

فمن الضلال البين والخسران الظاهر تكفير المسلمين بزيارة اولياء الله تعالى .

د ښکاره ګمراهي نه او د ښکاره تاوان نه دا خبره ده چې يو مسلمان ته د کافر نسبت

وشي په زيارت د اولياء الله باندې زاعمين دوي ګمان كوي ان زيارتهم من عبادة غير الله ، چې زيارت د اولياء عبادت د غير الله دي .

كلا هر ګز داسې نه ده :

بل هي من جملة المحبة في الله التي قال فيها رسول الله ﷺ الا لا ايمان لمن لا محبة له ، والوسيلة له التي قال الله فيها وابتغوا اليه الوسيلة .

اوداولياء مزارات چې دي دا وسيلې هغه دي چې رب كريم ويلې وابتغوا اليه الوسيلة.

دارنګې فقهاو كې عبدالحي لكهنوي رحمه الله شرح الوقاية :

المتوسل اليه باقوى الذريعة .

دى ځاى باندې حاشيه چې عبدالحي لكهنوي رحمه الله ليكلي ده هغه وايي :

المتوسل معنى المتقرب بمعنى نزديكت جستن ووسيله خواستن .

وفيه امتثال لقوله تعالى : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ ، ودلت الاحاديث على جواز التوسل بالاعمال الصالحة والذوات الفاضلة .

دارنګې تفسير روح البيان جلد ۳ صفحه ۲۴۷ دغه آيت كريمه د لاندې ليكي :

واعلم ان الاية الكريمة صرحت بالامر بابتغاء الوسيلة ولا بد منها البتة فان الوصول الى الله تعالى لا يحصل الا بالوسيلة وهي علماء الحقيقة ومشايخ الطريقة .

دارنګې رد المختار جلد ٦ صفحه ۲۹۷ ، د محترم شيخ صاحب كتابونه اكثر بيروتي دي په هغه ځاى باندې خبره كوي :

وكره قوله بحق الرسول .

هدايه كې چې راځي دې كې وايي :

وفي التتارخانية وجاء في الآثار مادل على الجواز .

په احاديثو كې داسې روايات شته دي چې سوال بحق الغير جائز دي قوله لانه لا حق للخلق على الخالق قد يقال انه لا حق لهم وجوبا على لله تعالى .

حق وجوبي نشته دي .

لكن الله سبحانه وتعالى جعل لهم حقاً من فضله .

حق فضلي يې ورکړي دي .

كان حقاً علينا نصر المؤمنين . په مونږ باندې حق دي مدد د مؤمنانو .

د مؤمنینو دادی حق يې ثابت کړي ځان لره هغه وجوبي نه دي تفضلي دي .

او يراد بالحق الحرمة والعظمة . يا دې مراد حق نه حرمت شي .

فيكون من باب الوسيلة وقد قال الله تعالى وابتغوا اليه الوسيلة .

نو حرمت ته په دې آيت كريمه کې علامه شامي ياد هغې متن څه ويلي دي حرمت باندې سوال يې داخل کړې ده وسيله کې .

وقد عد من اداب الدعاء يتوسل على ما في الحصن .

صاحب الحصن دا ذکر کړي چې د دعا د آدابو نه توسل دي .

وجاء في الحديث : اللهم اني اسئلك بحق السائلين عليك وبحق ممشاي اليك .

دې نه يې هم استدلال کړې دي .

دارنګې علامه کوثري في محق التقول في مسئلة التوسل صفحه ۲ کې وايي : د وسيلې منکرين چې دي دا په هغه ۷۲ ډلو کې ګمراه کن فرقه حشويه ده .

وهم الحشوية محجوجون بالكتاب والسنة والعمل المتوارث والمعقول .

په باب د وسيلې کې په ذواتو باندې .... حشويه فرقه چې ده محجوج دي يعنې حجت يې مقابل کې پيش کيږي .

بالقرآن وبالسنة وبالعمل المتوارث وبالمعقول اما الكتاب فمنه قوله تعالى وابتغوا اليه الوسيلة والوسيلة بعمومها تشمل التوسل بالاشخاص والتوسل بالاعمال .

چې وسله عامه شوه دواړو ته شامله شوه .

فكل متبادر من التواسل في الشرع هو هذا .

متبادر په شريعت کې د توسل نه هغه توسل بالذات دي .

المبحث الثالث تحقيق الوسيلة في ضوء السنة النبوية :

حديث اول :

ترمذي شريف جلد ۲ صفحه ۱۹۷ رقم الحديث ۳۷۲۱ :

حدثنا محمود بن غيلان قال حدثنا عثمان بن عمر قال حدثنا شعبة عن ابي جعفر عن عمارة بن خزيمة بن ثابت عن عثمان بن حنيف ان رجلاً ضرير البصر أتى النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

په سترګو باندې يو کمزورې صحابي رحمت عالم ته راغې :

فقال ادع الله ، وې فرمايل ماته دعاء وکړه چې :

ان يعافيني ، الله تعالى ماته عافيت په نصيب کړي :

قال : ان شئت دعوتُ وان شئتَ صبرتَ فهو خير لك .

که دې خوښه وي دعاء کوم او که دې خوښه وي صبر وکړه دا تاته ډيره غوره ده ، صحابي عرض کوي :

قال فادعه ، دعاء راته وکړه :

قال فأمره ، دې ځای ته ګوري .

دا کوم حديث چې جاري دي ښه سوچ په کې وکړي دوي ابن تيميه پسې ذهاب کړي تول منکرين دلته چې راشي وايي چې دا خو توسل فعلي دي نه قولي وايي دا راغلې نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ته چې ما ته دعاء وکړه دا خو جائز دي د يو شخص صالح نه دعاء غوښتل دا خبره مونږ نه منو چې صالح خالق ته پيش کوي او دعاء ته په خپله کوي دا نه منو توسل اسمي قولي نه منو .

نو اوس تاسو د حديث الفاظو ته ګوري نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ده ته دعاء نه ده کړي بلکې د دعاء د الفاظو طريقه يې ورښودلې ده هغه خو راغې دعاء يې وغوښتله .

په حديثو کې دا نشته چې نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ دعاء ورته وکړه بلکې دعائې وروښوده چې دعاء يې وروښوده نو اوس دعاء هغه په خپله کړې ده او په هغې کې يې نبي اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باري تعالى ته پيش کړې دي ، دغه توسل قولي دي کنه .

خو دا اعتراض ددوي بې ځايه ده چې دا خو راغلې دي دعاء يې غوښتې ده او دا خو جائزه ده نه راغلې دعاء يې غوښتې ده خو رحمت عالم دعاء ورته کړې نه ده بلکې د دعاء الفاظ يې ورته ښودلي دي .

فأمره لفظ راغلې چې امر يې ورته وکړ : ان يتوضأ فيحسن وضوءه ويدعوا بهذا الدعاء نو دعاء صحابي وکړه .

دوي ټول رسائلو کې دلته ضد او عناد کوي چونکې دا حديث صحيح دي دوي پرې جرحه نه شي کولې د توسل په باب کې د جرحې نه پاک روايت هغه دادی نو دوي دلته نورې لارې ورته ګوري بهانې ګوري داسې نه کوي چې دا خپله هوا د حديث تابع کړي مونږ پورې خندا کوي وايي تاسو حديث ته بهاني ګوري او حديث ته خو دوي بهانې ګوري .

مونږ خو ديو فقيه قول راشي هغه په هغې کې څه محمل لټولې وي هغه محمل صحيح وي مونږ يې راواخلو ... د حديث لپاره خپل محمل ولټوو رد وو خو يې نه چې د حديث نه جوابونه کوو .

زمونږ حنفي فقه په احاديثو ردونه ، نه کوي چې دا حديث ضعيف دي دا داسې دي او هسې دي دا ټوله فقه زمونږ وګورئ نا هغه روايت ته يو ښکلي محمل مونږ لټوو او خپل ځان لپاره يې دليل پيش کوو نو دوي ځان ته اهل حديث وايي په کار داده چې حديث پيش کيدې او صحيح وي د سند په لحاظ تسليمي يې هم کولې کنه دا خپله هوا يې پريخودلې او دا خپله هوا يې تابع ګرځولې .

لما جئت به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې راتلل کړي دي نو دوي وايي چې نه شيخ صاحب ويلي چې جائزه نه ده څنګه يې پريږدو دا اوس پريښودې شي د شيخ خبره به پريږدي او حديث به را اخلي دا خوډيره ګرانه خبره ده .

نادرشاه مولوي صاحب الله پاک دې قبر دده د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه کړي بهترين انسان وه هغه به خندل وايي يو اشاعتي پنجپيري وه غويان يې څرول وايي چې کمرته دا غوائي ورسيده غورځيده نو دلکي نه يې ونيو غوائي لاندې خطا شو دې هم ځان سره خطا کړچا ورته وويل خوشي کړې به دې وه کنه غوائي دې څه کوه ځان دې پرې خوږ کړ .

وايي مونږ ته شيخ صاحب ويلي چې يو شي مو ونيوه ټينګ مو کړ بيا يې مه پريږدي نو

دې پنجپيري د غوائي لکي ټينګه کړې وه نو اوس دوي هم چې يو شي ټينګ کړي بيا يې نه پرېږدي په آيتونو کې هم تاويل د ځان نه کوي بهانې لټوي څو مره اعتراضات چې دوي کړي هغه ما تاسو ته ذکر کړه اخوا دوي نور څه اعتراضات نه لري او کاشکې په معارضه کې دوي نصوص لرلې بيا هم يوه خبره وه يو آيت يې لرلې يو حديث يې لرلې په توسل کې چې څو مره دلائل تاسو وګورئ پيدا به يې نه کړي دوي سره نصوص نشته.

﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ﴾.

دا آيت پيش کوي نو د نعبد، نتوسل څو مره فرق دي عبادت وسيلې ته وايي هغوي خو عبادت د بتانو کوه دې لپاره چې مونږ په منزلت کې نزدې کړي خالق له نو دلته دا غلط تاويل به درته کوي چې ګورئ دا دعاء قولي نه ده فعلي ده او دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دعاء غوښتل شوې ده هغه کړې ده هغه نه ده کړې هغه الفاظ د دعاء ښودلې ګوره حديث ته:

ويَدعُوَ بهذا الدعاء. امر يې ورته وکړ چې دا دا دعاء وکړي دعاء داده:

اللهم اني اسئلك، يا الله زه سوال کوم له تا نه.

واتوجه اليك بنبيك، مخامخ کوم تا ته نبي ستا.

محمد نبي الرحمة اني توجهت بك الى ربي.

محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې نبي د رحمت دي يا رسول الله تا خپل رب ته مخامخ کوم.

في حاجتي هذه. زما په حاجت دغه کې.

لتقضى لي، چې ته پوره کړې ما لره حاجت زما.

اللهم فشفعه فيّ، يا الله ده شفاعت زما باره کې قبول کړې.

هذا حديث حسن صحيح غريب.

إيرادات:

منکرين د توسل په دغه روايت کې په خپلو کې په جګړه دي څه متعصبين پيدا شول چې هغوي دې حديث ته ضعيف وويل تصحيح د امام ترمذي يې رد کړه قبوله يې نه کړه هغوي دليل دا پيش کوي چې ددې په سند کې ابو جعفر راغلې دي لکه سند مخکې تير شوې

دي نو ابو جعفر جعفران دوه دي يو ابو جعفر الرازي دي دويم ابو جعفر الخطمي المديني.
ابو جعفر الخطمي المديني ثقة بالاتفاق. ابو جعفر الرازي ثقة سيء الحفظ ده باندې دا يوه جرحه وه چې دې سيء الحفظ وو كان صدوقاً يسيء الحفظ، نو اوس دې سند كې كوم يو جعفر دي.

دا لانجه راغله نسخې د ترمذي درې (۳) راغلې دنيا كې معروفې يوه نسخه چې هغې ته نسخې د بولاق وايي په هغې كې الفاظ دادي: وابوجعفر هو الخطمي، بس اعتراض دفعه شو چې دا ګنې ابو جعفر رازي دي صدوقاً يسيء الحفظ نه دا ابو جعفر خطمي دي جرحه ختمه شوه.

دوه نسخې نورې دي په يوه نسخه كې راځي: ابو جعفر غير الخطمي، په بله نسخه كې راځي: ابو جعفر ليس بالخطمي، دلته مونږ سره په پاكستان كې چې ده دې كې دادې من حديث ابو جعفر وهو غير الخطمي، دا نسخه غلطه ده صحيح نه ده، دا ابو جعفر خطمي دي، رازي نه دي چې غير خطمي دې كړو نو رازي دې ترې جوړ كړ كنه الصدوق يسيء الحفظ دي نو بيا امام ترمذي ورته ولې صحيح وويل دې يسيء الحفظ حديث ته خو حسن وويل كيږي په قول د ترمذي خو صحيح خو نه ويل كيږي ورته.

اوس څه دلائل دې پر دې چې نسخه د بولاق صحيح ده نسخې خو درې راغلې دي غير الخطمي ليس بالخطمي هو الخطمي، بولاق نسخه كې هو الخطمي دي هغه راجحه ده، دا علامه كوثري وړوكي سړي نه دي او ډيره مينه ورسره كوي څكه د حنفيت او د اهل سنت انتهائي زيات خدمت دې سړي كړې دي او دې په ډيره غټه رتبه هم پاتې شوې دي د جامع اظهر شيخ الحديث وه، د جامع اظهر د ماهانه مجلې مدير وه، او بله لويه عهده يې دا وه چې په ۵۲ اسلامي ملكونو كې د هر اسلامي ملک نه ۱۲ علماء چې دا څه د پاسه ۵۰۰ علماء كيږي د تمامې دنيا علماء مشائخ به تركيا كې جمع كيدل مياشت كې يو ځل هغې ته يې مشيخة الاسلام وويلې.

ددې مشيخة الاسلام صدر چې دي علامه كوثري وه په خلافت عثماني كې نو دده په

القابو کې کتابونو کې دا راځي چې دده کتاب راشي محمد زاهد الکوثري وکیل مشیخة الاسلام بدار الخلافة العثمانیة نو چې یو څوک د ټولې دنیا تقریباً څه د پاسه ۵۰۰ علماو صدر پاتې کیږي دا خو به څوک وه کنه نو ډیر لوي سړې وو .

اوس دا خبره چې دا ابو جعفر خطمي مدیني دي ثقة بالاتفاق دي رازي نه دي دې لپاره مونږ د نورو کتب الحدیث نه اخذ کوو دغه حدیث چې تاسو ته مخکې تیر شو :

اول تائید : امام احمد په مسند خپل کې ذکر کړي جلد ۴ صفحه ۱۳۸ باندې دده سند او الفاظو ته ګوري :

حدثنا روح قال حدثنا شعبة عن ابي جعفر المدیني قال سمعت عمارة .

نو امام احمد د ابي جعفر سره المدیني قید لګوي نو رازي نه شو خطمي شو خطمي چې دې مدیني دي او جرحه په رازي دي نه په خطمي باندې .

دویم تائید : مونږ د حاکم مستدرک نه پیش کوو جلد ۳ صفحه ۲۰۲ :

حدثنا ابو العباس محمد بن یعقوب قال حدثنا عباس بن محمد الدوري قال حدثنا عثمان ابن عمر قال حدثنا شعبة عن ابي جعفر المدیني قال سمعت عمارة .

په حدیث نمبر ۱۸۸۵ مستدرک بیا لیکي :

عن ابي جعفر المدني وهو الخطمي .

دریم تائید : دا رنګې امام طبراني معجم الصغیر جلد ۱ صفحه ۳۰۶ کې د حدیث سند چې بیانوي خبره یې خلاصه کړې ده څه وایي :

حدثنا طاهر بن عیسی بن قیرس المقري المصري التمیمي قال حدثنا اصبغ بن الفرج حدثنا عبدالله بن وهب عن شبیب بن سعید المکي عن روح بن القاسم عن ابي جعفر الخطمي المدیني .

ګوره ده خطمي هم کړ او مدیني یې هم کړ نو ابو جعفر نه ابو جعفر خطمي مراد دي .

څلورم تائید : دا رنګې طبراني معجم الکبیر جلد ۹ صفحه ۳۰ :

حدثنا طاهر بن عيسى بن قيرس المقري المصري التميمي قال حدثنا اصبغ بن الفرج حدثنا ابن وهب عن شبيب بن سعيد المكي عن روح بن القاسم عن ابي جعفر الخطمي المدني عن ابي امامة بن سهل بن حنيف عن عمه عثمان بن حنيف.

نو هلته يې هم خطمي مديني کړ.

پنځم تائيد: دارنګې امام بيهقي په دلائل النبوة جلد ٦ صفحه ۳۵۲ کې سند وايي:

اخبرنا ابو عبدالله الحافظ قال حدثنا ابو العباس محمد بن يعقوب قال حدثنا عباس بن محمد الدوري وانبأنا ابو بكر واحمد بن حسن القاضي قال حدثنا ابو علي حامد بن محمد الهروي قال حدثنا محمد بن يونس قالا حدثنا عثمان بن عمر قال حدثنا شعبة عن ابي جعفر الخطمي نو امام بيهقي هم خطمي کړ امام طبراني په معجم کبير او صغير کې ابو جعفر خطمي کړ او امام احمد په مسند کې او امام حاکم په مستدرک کې ابو جعفر خطمي المديني کړ.

نو دا ټول په دې خبره دلالت کوي چې مراد د ابو جعفر نه جعفر خطمي مدني ده نه رازي.

شپږم تائيد: شرح د ترمذي:

بانه ابو جعفر الخطمي كما في نسخة البولاق.

د ترمذي نسخه د بولاق هم پرې ګواه دي.

مونږ سره نشته خو علامه کوثري محق التقول کې ويلې دي نو هغه سره به ضرور دا نسخه وه چې نسخه د بولاق د ترمذي کې يې هم دا قيد لږولې ده چې:

بانه ابو جعفر الخطمي.

هغه نسخه راجحه شوه چې هغې کې راغلې.

ابو جعفر هو الخطمي غير الخطمي ليس بالخطمي نه.

اوم تائيد: دلته په اکثرو سندونو کې شاګرد د ابو جعفر شعبه دي او د شعبه چې څومره روايات دي محدثينو کتلې د خپل شيخ ابو جعفر نه چې پيش کوي.

عن عمارة د خطمي نه پيش کوي نه د رازي نه .

ان مشائخ الشعبة الرازي والخطمي كلاهما لكن ابو جعفر عن عمارة بين الشيوخ الشعبة هو الخطمي دون الرازي .

شعبه خو د رازي هم شاګرد دي او د خطمي هم شاګرد دي خو شعبه عن ابي جعفر عن عماره راغلي دي نو شيوخ د شعبه په ابو جعفرينو کې عن عماره هغه مديني ځاي نه رائحي .

كما يظهر من كتب رجال المعروف ولا يخفى ذلك على من له ممارسة في كتب الرجال والتراجم .

دليل څه دي .

لان اباجعفر الرازي لا لقاءه لعماره . ابو جعفر رازي د عماره سره لقاء نه لري .

او په مسند احمد کې سند داسې ده :

عن ابي جعفر المديني قال سمعت عماره .

نو چې هر کله لقاء نشته نو بيا خو انقطاع راغله نو حديث ته څنګه حسن او صحيح وايي نو چې رازي دي کړ او رازي د عماره سره لقاء نه لري نو چې لقاء رانه غله په عنعنه کې سقوط راغې ځکه چې لقاء نشته روايت څنګه کوي .

او په مسند احمد کې بيا وايي : سمعت عماره ، چې لقاء نشته ، سمعت څنګه وايي نو لقاء د ابو جعفر المديني خطمي له عماره سره شته او د رازي سره نشته دي .

نو دا اوه (۷) دليله د دې خبرې شو چې دا خطمي مديني دي رازي نه دي ځکه وفات د عماره په سنه ۱۰۵ کې وفات شوې ده او وفات د ابو جعفر رازي په سنه ۱٦۰ کيده او رحلت د ابي جعفر رازي حجاز ته وروسته له وفات د عماره تقريباً نهه (۹) کاله شوې وه .

ابي جعفر رازي چې د عماره علاقې ته ورځي نو د هغه د وفات نهه (۹) کاله شوې دي .

مع ان ابا جعفر صرح بالسماع كما في رواية امام احمد ورواية الحاكم وطبراني وشرط السماع لقاء فعلم من ذلك السهو نسختي الترمذي حيث ذكر فيها غير الخطمي وليس بالخطمي بل النسخة الصحيحة ابو جعفر هو الخطمي .

اتم تائيد : امامانو تصريح کړې ده په تصحيح ددې سند سره څو مره امامان چې دا حديث ذکر کوي تصحيح کوي که دا ابو جعفر رازي وي نو هغه خو سيء الحفظ ده حديث يې صحيح نه ده نو بيا صحيح ورته څنګه وايي دا مؤيد ددې ده چې دا ابو جعفر رازي نه ده بلکې ابو جعفر الخطمي مدني ده . ګوره امام ترمذي وايي :

حديث حسن صحيح غريب .

او حسن صحيح غريب يې څنګه سره يو ځای کړل له وجهې د انفراد د عثمان ابن عمر عن شعبه نه او انفراد د ابي جعفر عن عماره صار الحديث غريباً ، دوه ځايه تفرد راغې .

وكم من حديث صحيحة لاجل انفراد الراوي تصير غريب كحديث انما الاعمال بالنيات.

صحيح دي په اتفاق ليکن غريب .

ولايخفى ذلك على من طالع الترمذي اقلاً ولوجه ...

تعدد الطرق بعد ابي جعفر وعثمان ابن عمر صار الحديث حسناً ولوجه التفات كمال الرواة في هذا السند صار الحديث صحيحاً .

روات هر يو يې په صفاتو د کمال د راوي چې خمسه دي متصف دي نو صحيح شو .

لذا قال ترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

دارنګې امام حاکم چې حديث ذکر کړي نو وايي :

قال حاكم هذا حديث صحيح على شرط البخاري ومسلم ووافقه الذهبي في ذيليه في تلخيصه .

تلخيص کې ذهبي هم بيرته غلې پاتې شوې چې حاکم ورته صحيح ويلې نو صحيح دي دارنګې صحيح ابن خزيمه دا حديث ذکر کړي في صحيحه او ده شرط لږولې په مقدمه کې ځان باندې چې زه به ضعيف حديث نه راوړم .

ابن ماجه دا حديث ذکر کوي وايي :

قال ابو اسحاق حديث صحيح .

نو دا محدثين يې چې تصحيح کوي نو دا دليل ددې دي چې مراد ابو جعفر مدني دي رازي نه دي .
او ددوي کتابونه څه وايي :
واقر الباني في كتاب التوسل صفحه ۷۰ بعد ذكر اعتراض صاحب تطهير الجنان قلت قائل الباني: لكن مدفوع ثم قال والاسناد جيد لا شبهة فيه .
د خپلو وهابي حواله يې پيش کړې ده صاحب د تطهير الجنان وايي دې سند ته ضعيف ويلې دي الباني وايي لکن مدفوع دا اعتراض يې دفعه دي .
ثم قال والاسناد جيد لا شبهة فيه . كذا اقر البشاوري في فتاوى الدين الخالص جلد ۱ صفحه ۱۲۵: قال الشيخ اسناده صحيح .
مراد يې د شيخ نه الباني دي .
ومن ضعفه من المتأخرين فلم يصب .
نو مخکې ما ويلې وه چې بعضې متعصبينو دې سند ته ضعيف ويلې دي نو دا اول اعتراض وه .
دويم اعتراض :
دې کې ټول منکرين د ابن تيميه تقليد کوي چې دا توسل فعلي دي قولي نه دي مخکې ما جواب وکړ چې :
فأمره أن يتوضأ فيحسن وضوءه ويَدعُوَ بهذا الدعاء .
نو هغه خپله دليل ددې ده چې دعاء خپله صحابي کړې ده او فقط رحمت عالم تعليم د الفاظو د دعاء ورکړ چې دعاء د صحابي نه ثابته شوه .
او روايت د حاکم په دې دال دي چې دا په مجلس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې نه ده شوې بلکې دا بهر ته وتلې ده ځکه عثمان بن حنيف فرمايي :
ما طال بنا الحديث . مونږ لا خبره نه وه اوږده کړې چې هغه سړي را دننه شو .
وقد ابصره . او سترګې يې جوړې وې .

یاما به ضر قط: په سترګو یې ضررر نه وه.

نو هغه ددې دلیل دې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ محضر کې یې هم نه ده کړې ځکه مسجد نبوي کې چا اودس نه کولو هغه وخت سره ده ته یې ویلې اودس وکړه هغه تلې بهر ته اودس یې کړي دوه رکعته لمونځ یې کړي بیا یې دعاء کړې ده بیا را دننه شوې نو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه په غیاب کې شوې ده.

دریم اعتراض:

بعضې کسان دا وایي چې شاه انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللَّهُ په فیض الباري شرحه د بخاري کې دا ویلي دي چې:

بأن هذا التوسل هو توسل الفعلي لا القولي.

او د ابن تیمیه قول فیض الباري کې شته دي نو زه به صرف دومره و وایمه چې آیا دا به څه الزامي حجت پر مونږ جوړیږي چې هغه داسې وویل یا ابن تیمیهؤ ویلي یا فلانيؤ ویلي دا خو څه الزامي حجت نه دي بس بیا هم شاه انور شاه صاحب نه زه انتهائي زیات متأثریمه د هغه د علم نه د هغه د اهل زیغ د مقابلو نه چې ډیر خدمت یې کړي نو مونږ جرأت درد نه کوو په هغه باندې بلکې دومره وایو چې دده په فیض الباري کې تدافع ده دا کومه خبره یې چې کړې ده چې دا توسل فعلي دي نه قولي دا یې په دویم جلد کې کړې ده.

بیا څلورم جلد صفحه ٦٨ پاکستاني چاپ مطالعه کړي بیرته په دغه ځای خپله رد کوي وایي:

بأن التوسل في حديث ضرير البصر توسل قولي. توسل په حدیث د ضریر بصر کې توسل قولي دي.

وعند الترمذي ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ علم اعرابيا هذه الكلمات وكان اعمى اللهم اني اسئلك واتوجه اليك بنبيك محمد نبي الرحمة اني توجهت بك الى ربي في حاجتي هذه لتقضي لي اللهم فشفعه في.

اوس شاه انور شاه صاحب وایي:

فثبت منه التوسل القولي ايضاً وحينئذ انكار الحافظ ابن تيمية تطاول .

داد شاه صاحب خبره ده چې هر کله د ضرير البصر د حديث نه توسل قولي ثابت شو اوس د حافظ ابن تيميهٔ د وسيلې انکار زبان درازي ده نو په دغه صفحه د فيض الباري کې په ابن تيميه هم رد شوې دي .

فيض القدير جلد ۲ صفحه ۱۷۰ بيروتي چاپ بعضو کې صفحه ۱۳۴ ده ، همدغه حديث ذکر کوي :

اللهم إني اسئلك واتوجه اليك بنبيك محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دې باندې خبره کوي وروسته وايي :

قال السبكي ويحسن التوسل والاستعانة والتشفع بالنبي الى ربه .

وسيله استعانت تشفع په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رب کريم خپل ته جائز دي او ښه کار دي .

ولم ينكر ذلك احدٌ من السلف ولا من الخلف حتى جاء ابن تيمية فأنكر .

په سلفو او خلفو کې چا ددې نه انکار نه دي کړي تر دې چې ابن تيميه راغې ابن تيميه ددې نه .

ذلك وعدل عن الصراط المستقيم وابتدع ما لم يقله هو عالم قبله وصار بين أهل الاسلام مثله .

انکار وکړ او د صراط مستقيم نه يې عدول وکړ بدعتي شو يو نوي قول يې راپيدا کړ چې ابن تيميه نه د خلکو او مسلمانانو په مينځ کې يوه بده نمونه جوړه شوه .

همدغه حديث نه علامه مناوي شارح د جامع الصغير په فيض القدير کې توسل ثابتوي او د فقهاو عبارات نقلوي .

دارنګې شرحه د ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۹۹ د شيخ عبد الغني فخر الحسن دهلوي رَحِمَهُ اللهُ شرحه ده همدغه حديث ذکر کوي وايي :

والحديث يدل على جواز التوسل والاستشفاع بذاته المكرم .

دارنګې تحفة الاحوذي جلد ۱۰ صفحه ۲۵ :

والحدیث یدل علی جواز التوسل والاستشفاع بذاته المکرم.

بیا وروسته وایي:

قال الشوکاني في تحفة الذاکرین وفي الحدیث دلیل علی جواز التوسل برسول الله صلی الله علیه وسلم الی الله عزوجل مع اعتقاد ان الفاعل هو الله سبحانه.

دارنګې علامه دمشقي یو کتاب لیکلی دی داد ابن تیمیه هم عصر دی:

دفع شبه من شبّه وتمرد ونسب ذلك الی السید الجلیل الإمام أحمد.

دا کتاب چې ډیر سخت اورد نوم یې ده په دې کې یې لیکلي دي چې ابن تیمیه به وغیره بعضې چې د تجسیم عقیده خوروله نو دا یې امام احمد ته منسوبوله چې داد هغه مذهب دی نو ده پرې رد وکوه په دغه کتاب کې مسئله د وسیلې ذکر کوي او بیا حدیث راوړي:

فیها الدلالة علی ان التوسل بالنبي علیه السلام في الحاجات بعد وفاته کالتوسل به في حال حیاته وهذا وامثاله یرد علی هؤلاء المبتدعة الذین تبغوا في زماننا ومنعوا التوسل برسول الله.

او دده په زمانه کې څوک پیدا شوې وه ابن تیمیه او ابن قیم دا خلک وه ځکه دې هم عصر دي ددوی.

دارنګې علامه کوثري محق التقول صفحه ۳ کې وایي:

اما السنة. هرڅې حدیث په دلیل کې پیش کوم.

فمنها حدیث عثمان بن حنیف وفیه التوسل بالشخص ای بالذات وصرفه عن ظاهره تحریف الکلم عن مواضعه.

ګرځول ددې دې طرف ته چې ذات نه دی مراد هغه دعاء کړې ده قولي نه ده فعلي ده وایي دا تحریف د کلمو دی د مواضع خپلو نه.

دا اول نمبر حدیث وه.

دویم نمبر حدیث: معجم الکبیر د طبراني جلد ۹ صفحه ۱۷:

عن ابي امامة بن سهل بن حنیف عن عمه عثمان بن حنیف ان رجلاً کان یختلف الی عثمان

بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في حاجة له .

عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته به يو شخص راتللو څه حاجت يې وه .

فكان عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لا يلتفت اليه ولا ينظر في حاجته فلقي ابن حنيف .

د عثمان بن حنيف سره د غه حاجت والا ميلاو شو .

فشكى ذلك اليه . شكايت يې وكړ .

فقال له عثمان بن حنيف ائت الميضأة فتوضأ ثم ائت المسجد فصل فيه ركعتين ثم قل اللهم اني اسئلك واتوجه اليك بنبينا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي الرحمة يا محمد اني اتوجه بك الى ربي عزوجل فتقضي لي حاجتي وتذكر حاجتك ورُحْ حتى اروح معك .

بيا راځه زه په درسره عثمان صاحب ته لاړ شم حاجت به دې پوره كړي .

فانطلق الرجل ، هغه سړي لاړ .

فصنع ما قال له ثم اتى باب عثمان بن عفان فجاء البواب حتى اخذ بيده فادخله على عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فاجلسه معه على الطنفسة حنيفاً فقال حاجتك فذكر حاجته وقضاها له ثم قال له ماذكرت حاجتك حتى كان الساعة و قال ما كانت لك من حاجة فأذكرها ثم ان الرجل خرج من عنده فلقي عثمان بن حنيف فقال له جزاك الله خيراً ما كان ينظر في حاجتي ولا يلتفت الي حتى كلمته فيّ.

مخكې له دې نه ، حتى كلمته فيّ ، تر څو چې تا زما سفارش وكړ.

دده دا ګمان دي چې ګني زما سفارش عثمان بن حنيف كړې ده .

فقال عثمان بن حنيف والله ماكلمته . ما ستا نوم هم ورته نه دي اخيستې ما خبرې نه دي كړي .

ولكني شهدت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واتاه ضرير فشكا اليه ذهاب بصره فقال له النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فتصبر فقال يا رسول الله انه ليس لي قائد وقد شق علي فقال له النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ائت الميضأت فتوضأ ثم صل ركعتين ثم ادع بهذا الدعوات قال عثمان بن حنيف فوالله ماتفرقنا وطال بنا الحديث حتى دخل علينا الرجل كانه لم يكن به قال ابن حنيف ضر قط.

نو ددوي دا اعتراض چې دا خو هغه زمانه کې شوې وه هغه حيات وه دا راوي د حديث د ترمذي عثمان بن حنيف دي دغه الفاظ د دعا چې توسل قولي په کې ده مختص يې نه کړتر زمانې د حيات د نبي عَلَيْهِ السَّلَام پورې او د هغې زمانې بعد يې هم صحابو ته تعليم ورکړ چې دا الفاظ استعمال کړه مشکل به دې پوره شي او په دې کې د ابن تيميه او الباني هغه اعتراض هم دفعه شو چې هغوي وايي دا توسل فعلي دي.

إيرادات:

دوي څه اعتراضات لري زمونږ په دې سند او سند د مخکني حديث دادی:

حدثنا طاهر بن عيسى بن قيرس المقري المصري التيمي حدثنا اصبغ بن الفرج قال حدثنا عبدالله بن وهب عن شبيب بن سعيد المكي.

اعتراض دا کوي:

ان في سنده شبيب بن سعيد وهو ضعيف.

په ده باندې جرحه کوي جواب دادي که تعصب کوي نو دیو امام متقن ثقه بلکه اوثق په حق کې چې جارحينو کې يو سړي قول وکړي د ضعف نو ما الحمد لله اسماء الرجال کې ډيره مطالعه کړې ده داسې روات نشته چې چا په هغه څه نا څه جرحه نه وي کړې دې کې به تعصب نه کيږي دې کې به د اکثرينو قول ته به کتلې شي چې اکثر جارحين د ده باره کې څه وايي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په حق کې ۷ جارحينو په حديثو کې د ضعف قول کړي دي او په دې ۷ جارحينو کې اکثر شيعه ګان دي نو دا خو هغه سره وران دي خامخا به پرې جرحه کوي.

بيا ۱۴ جارحين يې توثيق بيانوي نو چې د ۱۴ جارحينو قول پسې نه ځي او د ۷ جارحينو چې اکثر يې شيعه ګان دي قول پسې ځي امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ خو مره عمده دي په احاديثو کې ليکن امام نسائي جارح چې کوم دي هغه ده ته ضعيف ويلي داسې که ديو يو کس جرحې پسې مونږ لاړ شو نو بيا به دا امامان هم خلاص نه شي دا به هم بيا مجروح شي.

دا خپله امام نسائي چې کتاب يې مقبول دي په عرب او عجم کې په ده باندې جرحه د

تشيع شته دي چې دا شيعه وه کتب چې وګوري جرحه د تشيع پرې شته خو افتراء ده چا چې کړې ده بې ځايه ده ځکه فقط ده د حسنينو او د فاطمې بي بي او د حضرت علي صاحب په مدحه کې مستقل کتاب ليکلي دا سبب د جرحې د تشيع شو په ده چې ته ځنګه دې خلکو صفت کوي او د معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه کوي.

نو خلکو په ده دا جرحه وکړه نو جرحه بې ځايه ده ته به تحقيق کوي که د يو کس قول پسې ځوک لاړ شي نو بيا به امام نسائي هم شيعه شي اوس ائمه د دې فن چې کوم معروف دي ابو زرعة الرازي دي داد ابو حاتم رازي پلار دي ابو زرعه په محدثينو کې هغه انسان دي چې حافظ د جميع الاحاديث دي داد ټولو احاديثو حافظ وه ځومره روايات چې دي ابو زرعه يې حافظ وه چې چا به حديث زده کړو او سم به پرې پوه نه وه نو چې حديث به يې صحت ته رسوه رابه غي ابو ذرعه ته ده به ورته تکرار کړ ده د نظر نه به يې ويست که ده به يې تائيد وکړ نو حديث به يې مقبول وه ځکه دا د کل احاديثو حافظ وه.

ابو ذرعه علي ابن مديني ابن حبان ابو حاتم رازي امام نسائي دا عمده ائمه د شبيب بن سعيد توثيق بيانوي په مختلفو الفاظو باندې.

الجرح والتعديل جلد ۴ صفحه ۳۵۹ دا ذکر کوي:

شبيب بن سعيد ابو سعيد التميمي والد احمد بن شبيب بن سعيد البصري روى عن روح ابن قاسم ويونس بن يزيد ومحمد بن عمرو وروى عنه عبدالله بن وهب وابنه احمد بن شبيب بن سعيد سمعت ابي يقول ذلک.

وايي: وسالته عنه، ماد ابو زرعه نه تپوس وکړ دده باره کې:

فقال کان عنده کتب يونس بن يزيد وهو صالح الحديث لا بأس به.

دارنګې عبد الرحمن صاحب وايي:

سمعت ابا زرعه يقول شبيب بن سعيد لا بأس به.

دارنګې ابن حبان کتاب الثقات جلد ۸ صفحه ۳۱۰ کې ليکلي دي دا ټول ثقه ذکر کوي او دده نوم يې هم ذکر کړې دي.

دارنګې امام ذهبي ميزان الاعتدال في نقض الرجال جلد ۲ صفحه ۲۶۲:

شبيب بن سعيد الحبطي البصري صدوق يغرب قال ابن مديني شبيب بن سعيد ثقة .
دارنګې ذهبي په الکاشف جلد ۱ صفحه ۴۷۹ کې ذکر کوي :
شبيب بن سعيد صدوق قال ابن مديني .
دارنګې الکامل في ضعفاء الرجال جلد ۴ صفحه ۳۰ :
قال ابن مديني شبيب ابن سعيد ثقة .
دارنګې تهذيب الکمال د مذي جلد ۱۲ صفحه ۳۶۱ دي ده باره کې ليکي :
قال علي ابن مديني ثقة کان من اصحاب يونس بن يزيد کان يختلف في تجارة الى مصر وکتابه کتاب صحيح وقد کتبتها عن ابنه احمد وقال ابوزرعة لا بأس به .

وقال ابو حاتم وکان عنده کتب يونس بن يزيد وهو صالح الحديث لا بأس به وقال ابن سعيد ليس به بأس وذکر ابن حبان في کتاب الثقات ورواله البخاري وابوداؤد في الناسخ والمنسوخ والنسائي .

دوي ترې اخذ کړې ده دا اولين اعتراض وه شبيب بن سعيد باندې چې دا ضعيف دي مونږ ترې نه جوابونه وکړل چې جرحه بې ځايه ده .
دويم اعتراض الباني کړي په توسل کې : په کتاب التوسل کې يې ويلي :
يمکن ان يکون من خصوصياته عَلَيْهِ السَّلَامُ .
وايي دا ممکنه ده چې دا دې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيت وي هغه دي دا تعليم ورکړې وي بل چا ته دي دا جائز نه وي .

ويکون مختص بذلك الرجل ضرير البصر فلا يعم لعامة الناس .

ددې نه جواب شوې ده چې دا عامة الناس ته جائز نه وايي نو راوي د حديث عثمان بن حنيف زمانه د عثمان ذي النورين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کې دي بل صحابي ته ولې تعليم ورکوي دا اعتراض الباني کړې ده او روايت د عثمان بن حنيف پرې رد کوي چې ده ولې بل صحابي ته تعليم ورکوه خو دده په نزد تخصيص نه وه تر زمانې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې يا تر دغې ضرير

البصر پورې .

بل د تخصيص دا دعوی ددوي باطله ده ابوبکر بن أبي خيثمه په تاريخ کې هم دا حديث ذکر کړې ده او آخري يې دا دی :

وان كانت حاجتاً فافعل مثل ذلك .

که څه ضرورت دې وه نو داسې کار بيا کوه هغه الفاظ چې ابوبکر بن خيثمه په تاريخ کې زيات کړې دي دليل د تعميم دي چې دا ترضرير البصر پورې خاص نه وه هر چا ته چې مشکل پيښ شي دا الفاظ دې ووايي .

دريم دليل :

مصنف ابن ابي شيبه جلد ۷ صفحه ۴۸۲ او بيروتي چاپ جلد ٦ صفحه ۳۵٦ :

حدثنا ابومعاوية عن الاعمش عن ابي صالح عن مالك الدار قال وكان خازن عمر على الطعام قال اصاب الناس قحط في زمن عمر .

داد عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دورِ خلافت کې د خزانې وزير وه په زمانه د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قحط خلکو ته ورسيده .

فجاء رجل الى قبر النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استسق لأمتك فانهم قد هلكوا .

راغې يو سړي قبر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وي ويل يا رسول الله باران وغواړه د خپل امت لپاره دوي هلاک شو .

فاتى الرجل في المنام فقيل له ائت عمر فاقرئه السلام .

راغې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ده ته په خوب کې ورته وي ويل ورشه عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته سلام ووايه.

واخبره انكم مستقيمون ، اى مستسقون .

يعنې په تاسو به باران کيږي او دغه باران مؤرخينو ليکلې چې بيا وشو .

اوس دلته د مشکل په وخت کې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روضې ته تلل او د هغه نه استشفاع د دنيا د مشکل د پاره ثابتيږي چې دا جائز ده .

إيرادات :

ابن تيميه او ابن قيم وغيره ټولو دا اعتراض کړې ده چې په سند ددې روايت کې مالک الداره وکان مجهول الحال او داسې نه ده او نه مجهول العدالة ده يو سړي چې دأمير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې وزير خزانه وي هغه به څنګه عادل نه وي عدالت د عمر فاروق څو مره معروف دي .

او مصنف ابن ابي شيبه دې وايي :

كان خازن الطعام . دا په طعام مقرر وه .

نوم څه شي دي .

اسم مالك عيسى بن عبدالله بن مالك الدار بن عياض العمري مولاهم قيل عبدالله بن عيسى وهو وهم .

د طبقې ثالثې نه دي .

رواله ابوداؤد ونسائي في عمل يوم والليلة وابن ماجة .

رتبه يې په نزد د ابن حجر عسقلاني مقبوله ده وعند الذهبي ثقة .

الاصابة في معرفة الصحابة جلد ۳ صفحه ۴٦۱ د مالك الدار حالات ذكر كوي دا حديث هم ورکې ذکر کوي :

وذكر ابن سعد في الطبقة الاولى من التابعين في اهل المدينة روى عن ابي بكر وعمر .

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت د حديث لري .

وكان معروفاً . او دا معروف انسان وه .

نو ددوي دا اعتراض چې مجهول دي بې ځايه دي .

دارنګې طبقات الکبری د ابن سعد جلد ۵ صفحه ۱۲ کې ذکر کوي چې :

روى مالك الدار عن ابي بكر صديق وعمر رحمهما الله روى عنه ابو صالح السمان وكان معروفاً . مجهول نه وه معروف وه .

دویم اعتراض :

حدیث کې مخکې چې مالك الداریې راوي وه تیر شو : جاء رجل الی قبر النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، یو سړي راغې نو دا سړي وایي څه پته لږي چې دا صحابي وه که تابعي که تابعي وي نو بس وایي بد یې کړي دوي خو بې آدبه دي کنه دې کې خو دا نه معلومیږي چې دا عمل صحابي کړې ده .

ددې اعتراض جواب ابن حجر عسقلاني په فتح الباري جلد ۲ صفحه ۴۹۵ کې کړې دي .

روی ابن ابي شيبة باسناد صحيح من رواية ابي الصالح السمان عن مالك الدار وكان خازن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

هغه حدیث ذکر کوي :

وقد روى سيف في الفتوح ان الذي رأى المنام المذكور هو بلال ابن الحارث المزني احد الصحابة .

دارنګې علامه سهمودي په وفاء الوفاء جلد ۴ صفحه ۱۳۷۴ ددې اعتراض په جواب کې ذکر کوي :

وروى سيف في الفتوح ان الذي رأى المنام المذكور هو بلال بن حارث المزني أحد الصحابة.

دریم اعتراض :

وایي دا تاسو چې د سیف نه نقل کوي چې سیف په فتوح کې ؤ ویلي چې دا بلال بن حارث مزني دي وایي السيف ضعيف ، دا خپله سیف ضعیف دي .

جواب : مونږ تپوس دا کوو چې سیف په تاریخ کې ضعیف دي که په حدیثو کې ضعیف دي که وایي چې په حدیثو کې ضعیف دي نو مونږ حدیث د مصنف ابن ابي شیبه نه نقل کړي د سیف نه مو نه ده نقل کړې او د ابن ابي شیبه نه ۳۸ احادیث امام بخاري په بخاري

کې نقل کړي دا شيخ د بخاري دي ، او دا شيخ د امام مسلم هم ده د نسائي ابي داؤد د ټولو شيخ دي مونږ حديث له هغه نه نقل کوو چې ته جرحه پرې کوي.

پاتې شوه يوه تاريخي جزيه چې دا رجل څه نوميږي نو د رجل د نوم باره کې چې دا يو تاريخي مسئله ده مونږ د سيف د فتوح نه اخذ وکړ او د تاريخ په باب کې سيف قوي دی د سند او حديثو په لحاظ کې ضعيف دي .

تقريب التهذيب جلد ۱ صفحه ۲٦۲ دا ذکر کوي :

سيف بن عمر التميمي صاحب كتاب الرداء يقال الضبي يقال غير ذلك الكوفي ضعيف الحديث عمدة في التاريخ .

نو دې په تاريخ کې ثقه ده مونږ ده نه حديث نه نقلوو د يو تاريخي رجل نوم ترې زده کوو چې د دې رجل نوم څه شي دي .

همدغه عبارت صاحب د تحفة الاحوذي جلد ۱۰ صفحه ۲۴۹ کې نقلوي چې سيف بن عمر ضعيف دي په حديثو کې عمدة في التاريخ .

څلورم اعتراض :

د بلال بن حارث مزني دا عمل چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روضې ته راغې د استسقاء دعاء کوي نو اعتراض دا کوي وايي دا حديث معارض دي د روايات معروفه ؤ د استسقاء نه وايي چې مونږ په استسقاء کې څو مره احاديث کتلې مونځ شوې دي يا دعاء شوې ده قبر ته تلل نه دې شوي نو دا حديث د استسقاء د معروفو طريقو مخالف دي .

جواب : څو مره روايات چې په معروفو طريقو د استسقاء کې ذکر دي هغه استسقاء په هيئت اجتماعي سره ده يا انفرادي سره هر چې استسقاء ده په هيئت انفرادي سره هغه چې هر ځای کې شوې ده په دعاء سره شوې ده او توسل هم له باب د دعاء نه دي نو هيڅ مخالفت نشته .

کومو احاديثو کې چې صلاة راغلې هغه هيئت د استسقآتو اجتماعيه وو بيانوي او کوم چې مونږ بيان کړ دا هيئت د استسقاء انفرادي بيانوي نو دعاء د خالق نه وغواړه وسيله په کې څوک پيش کړه معارضه نشته .

شلورم حديث :

سنن الدارمي جلد ۱ صفحه ۱۰۹ باب ما اکرم الله تعالی نبیه بعد موته .

خدای تعالی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وروسته له وفات څخه څومره عزت ورکړې .

نو په هغې کې دا حدیث ذکر کوي چې دده قبر مبارک کله آسمان ته وښودلې شو نو باران وشو امام دارمي دا ذکر کوي چې بعد الوفات دا خدای تعالی ته څومره ګران دي دده د قبر له وجهې باران کوي . سنن الدارمي جلد ۱ صفحه ۵٦. بیا حدیث ذکر کوي :

حدثنا ابو نعمان قال حدثنا سعید بن زید حدثنا عمرو بن مالك النكري حدثنا ابو الجوزاء اوس بن عبدالله قال قُحِطَ اهل المدينة قحطاً شديداً .

سخت قحط راغې اهل مدينه وو باندې .

فشكوا الى عائشة فقالت . صحابه کرام شکایت کوي عائشې بي بي ته هغه جواب ورکوي :

انظروا قبر النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قبر ته وګورئ .

فاجعلوا منه كِوىً الى السماء . بيا وګرځوي دغه قبر نه کړکي طرف د اسمان ته .

كِوى هغه روشندان چې طرف د آسمان ته مائله وي .

حتى لا يكون بينه و بين السماء سقف . چې د آسمان او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مینځ کې چت پاتې نه شي یعنې دا قبر آسمان ته ښکاره کړي .

قال ففعلوا فمطرنا مطراً . راوي وايي دا كار مونږ وکړو په مونږ باران وشو .

حتى نبت العشب . تر دې چې ګیاګانې شنې شوې .

وسمنت الابل . او ښان چاغ شول .

حتى تفتقت من الشحم . تر دې چې په مرض د فتق ککړ شول د وازدو نه .

فسمي عام الفتق . نامداره شو دغه کال په کال فتق باندې .

نو دا دومره باران ځکه وشو قبر مبارک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آسمان ته ښکاره شو دا باب د توسل دي دوي دا شانته په مشکلاتو کې قبر ته تلل شرک ګڼي او بي بي عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د مشکل په وخت کې صحابه کرام ماموره وي په ذهاب الی قبر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې.

الإيرادات:

ددې مخکني حديث په سند کې سعيد بن زيد راغلې ده باندې دوي جرحه کوي چې دا ضعيف دي امام نسائي دې ضعيف ګڼلې.

جواب له دې اعتراض به دا وي چې جرحه د امام په حق د يو رجل کې کله جرحه مفسره وي کله غير مفسره وي اصولين دا ذکر کوي چې جرحه غير مفسره مقبوله نه ده بيا په هغه وخت کې چې توثيق د بعضې الائمه وو نه ثابت شي نسائي ابي حاتم رازي دار قطني دري واړو په سعيد بن زيد باندې څه جرحه کړې ده د ضعف خو غير مفسره وجه او علت يې نه دي ښودلي.

ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ په حق کې صدوق ليکلي او يحيى ابن معين ورته ثقه وايي.

نو اوس ته د نورو امامانو اقوال په حق د سعيد بن زيد کې واوره چې څه وايي:

قال الإمام احمد بن حنبل لا بأس به قال يحيى ابن معين ثقة قال الامام البخاري صدوق حافظ قال ابن سعد ثقة قال العجلي ثقة.

قال الامام ابوزرعة ثقة. قال امام ابو جعفر دارمي ثقة قال ابن عدي ليس لسعيد بن زيد حديث منكر تفرد به.

داسې روايت به يې څوک و نه ښايي چې منکر وي يوائې ده پرې راتله کړې وي.

قال ابن حبان صدوق حافظ.

داد ائمه وو اقوال وه، تهذيب التهذيب جلد ۴ صفحه ۲۹ کې ذکر کړي دي: د چا چې دومره ائمه توصيف بيانوي بيا د دري جارحينو جرحه چې غير مفسره ده څه اعتماد پرې کيدې شي.

دويم اعتراض :

اعتراض دا کوي چې دا شيخ د دارمي چې ده :

ابونعمان محمد بن فضل عارم السدوسي ابونعمان بصري من رجال البخاري و مسلم ثقة بالاتفاق واختلط في آخري عمره .

مختلط في آخر عمره دي .

يو راوي چې ثقه شو شيخ الکل شو بيا اوثق شو بيا آخر د عمر کې اختلاط پرې راغې محدثين بيا دده روايات ګوري چې **قبل الاختلاط** روايات وي مقبول يې ګڼي او چې **بعد الاختلاط** وي مقبول يې نه ګڼي دده باره کې د دارقطني رايه داده چې :

لم يظهر له بعد اختلاطه شيء منکر .

وروسته له اختلاط نه هم چا ترې حديث منکر نه دي اوريدلې .

او دويم دا چې امام ذهبي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي چې کله اختلاط پرې راغې نو ده درس بيا نه دې کړي .

نو په رأي دامام ذهبي **ليس له روايات بعد الاختلاط .**

او په رايه د دار قطني روايات **بعد الاختلاط** شته خو منکر روايت نه لري .

نو اوس ګورو چې امام دارمي دده شاګرد وه **قبل الاختلاط** وه که **بعد الاختلاط** :

الکواکب النيرات جلد ۱ صفحه ۷۴ ابو البرکات الذهبي شافعي يې ذکر کوي وايي چې :

امام الدارمي روا عنه قبل الاختلاط .

امام دارمي ترې روايات مخکې له اختلاط نه کړي هغه شاګرد د ابونعمان امام محمد **بن فضل قبل الاختلاط** دي بيا نو څه جرحه شوه .

او دغه امام ابونعمان محمد بن فضل **قبل الاختلاط** استاد د امام بخاري ده څه کم څلويښت احاديث يې ترې روايت کړي نو ثقه څه چې اوثق ده .

دریم اعتراض :

هذه من اجتهادات عائشه رضي الله عنها فلا يلزم علينا اقتداء عائشة في أراءها الاجتهادية .

دا اعتراض الباني کړي دي په توسل باندې ، ددې نه مونږ دوه جوابونه کوو :

اول جواب دا چې مسئله د توسل اعتقادیاتو نه ګڼي که د اجتهاداتو نه ، اجتهاد خو په عقیده کې نه کیږي په مسئله فرعي کې کیږي داد مسئلي فرعي عملي نه ، نه ګرځوي ؟ که د مسائل اعتقادي نه ګرځوي ؟ که دا چیرته د مسائلو عملي فرعي نه ګرځوي نو آیا په یو عمل کې مسئله فرعي عمل کې هم کفر شرک لازمیږي لکه دوي چې فتوی د کفراو شرک کړې دي.

په مسائلو اجتهادیه فرعیه وو کې بیا شرک څنګه لازم شو او که داد اعتقاداتو نه وي نو اعتراض بیا نه صحیح کیږي چې دا اجتهاد له چا نه دي په عقیده کې خو اجتهاد نه کیږي اجتهاد خو په عمل فرعي کې کیږي .

دویم جواب دا چې صاحبانو تاسو قائلین د څه یې ،دې ته شرک وایي د عائشې بي بي تقلید کوي او که نه یې کوي نو اوس چې تا قول کړي چې شرک دي زه غلام حضرت معلم خلکو ته د توسل د ذواتو فاضله یم مشرک راته وایي او که نه یې وایي بلکې اعلی د مشرکینو را ته وایي ما ته تعلیم ددې امام دارمي راکړي زه چې معلم خلکو ته توسل بذوات فاضله شوم عظیم مشرک شوم ددوي په فتوی نو ماته تعلیم ددې امام دارمي راکړي .

نو زما تپوس دوي نه دادی چې امام دارمي لوي مشرک دي که نه چې هغه ما ته دا تعلیم راکړي .

او دویم تپوس مې ترې داده چې امام دارمي ته او دې صحابه وو ته به د غه مسئله کې معلمه بي بي عائشه رضي الله عنها وه نو تاسو خو دې عمل ته شرک وایي بي بي عائشه رضي الله عنها ستاسو په فتوی څنګه شوه ؟

څلورم اعتراض :

ابن تیمیه کړي او دوي د هغه تقلید کړي وایي دا روایت چې دوي سوري کړي آسمان ته وایي دې کې کذب دي ځکه چې وایي :

في مدة حياة عائشة لم يكن للبيت كيوة .

دې کوټه کې واي سوري نه وه ځکه وايي په روايت د بخاري کې راځي :

لم تزل الحجرة كذلك حتى زاد الوليد بن عبدالملك في المسجد .

حجره همدغسې وه تر ځو پورې وليد بن عبد الملک زيادت په مسجد کې وکړ نو تغير په کې راغې .

جواب دادی چې د بخاري د خبرې دا مقصد نه دي چې د عائشې بي بي په کوټه کې چا کهړکي نه ده جوړه کړې اصلاً دغه وخت عبدالملک د زيادت د مسجد نبوي پورې حجره د عائشي بي بي د مسجد نه بهر وه کله چې زيادت په مسجد کې راغې په زمانه د عبد الملک بن مروان کې حجره داخل المسجد وګرځيده دا تغير يادوي چې دا داخله وه که خارجه وه .

زمانه د خلافت د صحابه کرامو کې دا خارجه وه او په وخت د عبدالملک بن مروان کې داخله في المسجد شوه .

نور حديث د بخاري ساکت ده چې د هغې په دروازه کې چا کار کړي يا نه يا چت کې او کهړکي کې کار شوې او کنه دې نه هغه ساکت دي .

پنځم حديث :

سنن ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۵۷ :

حدثنا محمد بن سعيد بن يزيد بن ابراهيم التستري حدثنا الفضل بن الموفق ابوالجهم حدثنا فضيل بن مرزوق عن عطية عن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من خرج من بيته الى الصلوة .

څوک چې کور نه بهر شو لپاره د مانځه .

فقال اللهم اني اسئلك بحق السائلين عليك واسئلك بحق ممشاي هذا .

سوال درنه کومه په حق د دعاء کوونکو باندې او سوال درنه کوم په وسيله زما ددغه بنه مزل باندې چې مانځه ته دي .

ممشاء مصدر ميمي دي نو ګوري په حق د عمل هم وسيله شوه او حق سائلين دا دعاء کوونکي دي دا ذات دي نو هم په حق د ذات سره دعاء ده هم په حق د عمل سره چې ممشاء ده .

فاني لم اخرج اشرا ولا بطراً ولا رياء ولا سمعة وخرجت اتقاء سخطك وابتغاء مرضاتك

فاسألك ان تعيذني من النار وان تغفر لي ذنوبي انه لا يغفر الذنوب الا انت اقبل الله عليه بوجهه واستغفر له سبعون الف ملك .

خدای تعالی دې رانه راضي شي متوجه شي ورته او اویا زره فرشتې دده لپاره د مغفرت دعاء شروع کړي کوم څوک چې کور نه بهر شي د مسجد په خوا او دا دعاء وکړي نو حق د سائلینو ذوات او حق ممشايَ عمل شو .

إيرادات :

سند ته چې وګوري نو دابو سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شاګرد عطیه دده باندې اعتراض کوي چې دې ضعیف دي .

جواب دادی چې یحیی ابن معین دده په حق کې لیکي :

حديث العطية صالح . ميزان الاعتدال جلد ۳ صفحه ۸۰ :

امام عجلي په کتاب الثقات کې لیکي :

عطية العوفي كوفي تابعي ثقة . ثقات د عجلي جلد ۲ صفحه ۱۴۰.

دویم جواب دادی چې عطیه متفرد نه دي په روایت د ابو الحکم بن ذکوان کې عن ابي الصديق عن ابي سعيد الخدري نو دا ابو صديق چې شاګرد د ابو سعید خدري دي متابع وګرځیده لپاره د عطية العوفي نو تفرد رانغي دده لپاره متابع پیدا شو توثیق یې وشو درجې د حسن لغیره ته رسي دغه وجه ده چې ائمه دده حدیث ذکر کوي نو حسن یې ګڼي .

حافظ منذري په ترغيب الترهيب جلد ۲ صفحه ۳۰۵ کې ذکر کوي : دغه حدیث او بیا وايي :

وحسنه الشيخنا الحافظ ابو الحسن رَحِمَهُ اللَّهُ . دا حدیث زمونږ شیخ حسن ګڼلي دي .

دارنګې حافظ عراقي في تخريج احاديث الاحياء جلد ۳ صفحه ۹۰ کې احياء العلوم باندې چې کوم تخریج شوې دي حافظ عراقي کړې دي او ډیر معتمد دي او سني تخریجونه اکثر د تعصب نه ډک وي هغه متعصب نه دي د پخوانو علماو نه دي هغه دا حدیث ذکر کوي بیا وايي :

من حديث ابي سعيد الخدري بأسناد حسن .

او حسن د مقبولاتو نه دي .

شپږم حديث :

ابن السني في العمل اليوم والليلة کې ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۱۵۹ دد ې فرق له هغه حديث سره په قوليت او فعليت کې دي روايت د ابن ماجه قولي دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قول خلکو ته داسې وايي چې که چا داسې الفاظ وويل نو فرشتې به ورته دعاء غواړي .

دا حديث فعلي دي نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کور نه راووځي خپله دا دعاء کوي :

حدثنا ابن منيع قال حدثنا حسن ابن عرفة قال حدثنا علي ابن ثابت الجزري عن الوازع بن نافع العقيلي عن ابي سلمة بن عبد الرحمن عن جابر بن عبدالله عن بلال مؤذن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اذا خرج الى الصلوة .

کله به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ راوته مانځه ته ، قال : ويل به يې :

بسم الله آمنت بالله توكلت على الله لا حول ولا قوة الا بالله اللهم بحق السائلين عليك وبحق مخرجي هذا .

باقي مخکې حديث کې چې کوم الفاظ ذکر شو همغه الفاظ دلته هم دي نو دا حديث فعلي دي بلال صاحب وايي چې هلته ابو سعيد خدري راوي ده دا بلال صاحب راوي ده هغه قولي روايت دا فعلي روايت دي داد دليل لپاره بل روايت شو .

اووم حديث :

معجم الكبير جلد ۸ صفحه ۳۱٦ دا هم همغه الفاظ دي فعلي روايت دي فرق يې دادی چې دلته راوي ابو امامة الباهلي دي هلته راوي بلال مؤذن وه هلته الفاظ دادي چې کله د کوره راوتو هر مانځه سره يې دا دعاء کړي دلته الفاظ دادی چې صباء کې او بيګا کې به يې دا دعاء کوله :

عن ابي امامة الباهلي قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اصبح وامسى دعا بهذا الدعوات.

صبا او بيګا به يې دا دعاء کوله الفاظ د هغې نه جدا دي :

اسئلك بنور وجهك الذي اشرقت له السموات والارض بكل حق هو لك وبحق السائلين عليك .

الفاظ پوره جدا دي هغې نه :

ان تقبلني في هذه الغداة او في هذه العشية وان تجيرني من النار بقدرتك .

ددې په سند کې عطيه راغلي دي هغه جرحه چې مخکې شوې ده جواب يې مخکې د ابن ماجه په حديث کې ذکر شو .

تاسو سره چې د ابن ماجه قولي حديث په دغه مضمون پروت دي چې :

اسئلك بحق السائلين عليك :

دې کې يوه سندي جرحه شوه ، دويم يوه علمي جرحه کړې ده الباني هغه جرحه داده چې دا عطيه چې وه د کلبي مفسر سره ناسته کوله او دا کلبي مکناوه په ابو سعيد باندې نو دا عطيه د ابو سعيد خدري شاګرد وه چې صحابي وه هغه چې وفات شو د شاګردي د کلبي اختيار کړه نو ده به حديث بيان کړ عن ابي سعيد نو خلکو به ګمان کوه چې ابو سعيد خدري يادوي هغه به کلبي وه ده مقصد به د ابو سعيد نه کلبي وه خلکو به ترې نه ابو سعيد خدري جوړ کړ نو دا وهم وايي دلته باقي ده چې دا حديث دې د ابو سعيد کلبي نه شي نو شو حديث د مراسيلو نه ابو سعيد کلبي خو تابعي دي هغه څنګه مونږ ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامْ قول او فعل پيش کوي .

نو دغه اعتراض بې ځايه دي تعصب دي هسې يو تش وهم پسې ځي او د ابن ماجه تقيد د خدري پسې نه ځي چې داسې او هام ابن ماجه راغونډ ولې نو بيا يې کتاب ولې مقبول شو په امت کې صحاح سته وو نه بيا څنګه وګرځيده نو په تقيد د خدري سره کلبي بهر شو .

مسند احمد جلد ۳ صفحه ۲۱ کې همدا حديث ذکر کيږي يزيد شاګرد دې د فضيل بن مرزوق هغه شاګرد د عطية العوفي دي هغه د ابو سعيد خدري دي دا يزيد وايي :

قلت لفضيل رفعه . ما دې خپل استاد فضيل ته وويل چې تاته ستا شيخ عطيه حديث مرفوع پيش کړي؟

قال احسبه قد رفعه .

او ګمان کوم مرفوع يې پيش کړي دي نو دا به مرفوع کله جوړيږي چې دا کله ابو سعيد کلبي وي بيا خو مرسل ده کنه نو چې ابو سعيد خدري نه شي او متصل تر نبي عَلَيۡهِ‌السَّلَامُ نه شي نو څنګه دې ته مرفوع بيا وايي .

دارنګې مسند ابن الجعد جلد ۴ صفحه ۳۳۷ هغې کې هم دا يزيد سوال کوي :

فقلت لفضيل رفعه .

شيخ عطيه درته دا حديث مرفوع کړ .

قال احسبه قد رفعه .

ګمان کوم مرفوع يې ويلي دي .

دغه حديث کتاب الدعاء د طبراني هم را اخيستي جلد ۱ صفحه ۴۳۱ کې .

امالي د ابن بشرام را اخيستې دي جلد ۲ صفحه ۳۰۷ کې .

مسند احمد بن حنبل جلد ۳ صفحه ۲۱ کې را اخيستي دي .

دعاوات کبير د بيهقي را اخيستي جلد ۱ صفحه ۷۲ کې

مسند ابن الجعد را اخيستي جلد ۴ صفحه ۳۳۷ کې

عمل اليوم والليلة د ابن سني را اخيستي جلد ۱ صفحه ۱۶۱ کې

دې ټولو دا حديث ذکر کړي ده .

د ابن ماجه د دغه حديث په سند کې فضيل بن مرزوق راغلې دې شاګرد ده د عطيه د يزيد شيخ دي .

نو بل اعتراض دا کوي چې فضيل بن مرزوق ضعيف .

فضيل بن مرزوق الاغر الرقاشي ابوعبدالرحمن الكوفي مولى بن عنزة من الطبقة السابعة في كبار أتباع التابعين رواله البخاري في جزء رفع اليدين ومسلم وابوداؤد وترمذي ونسائي وابن ماجه .

دا ټول يې شاګردان دي او امام بخاري په بخاري کې ترې روايت نه کوي خو په جزء رفع اليدين کې ترې روايت لري .

اوس دده باره کې علماء څه وايي تهذيب الكمال جلد ۲۳ صفحه ۳۰۷ کې د ائمه وو

اقوال د فضیل بن مرزوق متعلق :

قال سفیان الثوري فضیل بن مرزوق ثقة قال ابن عیینة فضیل بن مرزوق ثقة قال احمد بن حنبل لا اعلم به الا خیراً قال یحیی بن معین ثقة قال ابن عدي لا بأس به قال یحیی بن معین صالح الحدیث ذکره ابن حبان في الثقات ذکره العجلي في الثقات .

دې ټولو ده ته ثقه ویلي دي او په کتاب الثقات کې عجلي او ابن حبان ذکر کړي .

حواله د کتاب الثقات د ابن حبان جلد ۷ صفحه ۳۱٦ او حواله د کتاب الثقات د عجلي جلد ۲ صفحه ۲۴۸ .

او باقي روایت دائمه وو چې کوم دي کاشف د ذهبي تهذیب الکمال الجرح والتعدیل دي کتب نقل کړي .

د مرګ او د ژوند پته نه لګي ما د اځل اراده د کورس مناظرې ډیره طولاني تفصیلي کړې ده تاسو تنګیږي که خوشحالیږي دا ځل به د ریکاډ د پاره هم زه دا تفصیلي کوم د توسل مسئله نور کله څلور (۴) ګینټې وه دا ځل اته (۸) ګینټې ته رسي .

اتم حدیث :

معجم الکبیر للطبراني جلد ۲۴ صفحه ۳۵۲ دا حدیث معجم الاوسط هم ذکر کړي جلد ۱ صفحه ٦۷ :

حدثنا احمد بن حماد بن زغبة حدثنا روح بن صلاح حدثنا سفیان الثوري عن عاصم الاحول عن انس بن مالك قال لما ماتت فاطمة بنت اسد بن هاشم ام علي بن ابي طالب دخل علیها رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فجلس عند رأسها .

فاطمه بنت اسد چې وفات شوه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورغې سر ته یې کیناسته .

فقال رحمك الله یا امي کنتِ امي بعد امي وتشبعیني وتعرین وتکسیني وتمنعین نفسك طیباً وتطعمیني تریدین بذلك وجه الله والدار الآخرة .

دې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خدمت کړې وه ماشومتوب کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وویل رحم دې وکړي الله تا باندې ته به وږې وې زه په دې مړو لم ته به جامو نه کمزورې وې زه به دې پټولم تا

په خپل ځان نه ښکلي طعام لري کړ خو زه به دې مور کړم په دې ټولو کارونو کې ستا مقصد د رب کریم رضا والدار الآخرة وه هغه وفات وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورسره خبرې کولې.

ثم امر ان تغسل ثلاثاً فلم بلغ الماء الذي فيه الكافور سكبه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيده

ثم خلع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قميصه فالبسها اياه.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل قميص وويست دې ته يې ورواغوست.

وكفنها ببرد فوقه.

له پاسه يې پرې بل څادر هم د كفن لپاره ورواغواست او هغه خپل قميص مبارک يې لاندې تنې مبارکې د هغې سره ولړوه.

ثم دعا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسامة بن زيد وابا ايوب الانصاري وعمر بن الخطاب وغلاماً اسود يحفرون. چې قبر وكني.

فحفروا قبرها فلما بلغوا اللحد حفره رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيده واخرج ترابه بيده.

په خپلو لاسونو مبارکو يې خاورې ترې راوويستې.

فلما فرغ دخل رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فاضطجع فيه ثم قال: الله الذي يحيي ويميت وهو حي لا يموت اغفر لامي فاطمة بنت اسد. زما مور ته بخښنه وكړه.

ولقنها حجتها. دليل ورته تلقين كړه.

ووسع عليها مدخلها. قبر ورته فراخه كړه.

بحق نبيك والانبياء الذين من قبلي. په حق زما باندې او د هغو انبياو په حق چې زما نه مخكې تير شوې دي.

داد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بالفعل توسل په خپل ذات او په كل انبياء عَلَيْهِ السَّلَامُ په دعاء كې.

وكبر عليها اربعاً وادخلوها اللحد هو والعباس وابو بكر الصديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.

هسې چې څوک مؤمن وي سند قوي دي ضعيف دي دا دومره محدثين يې كتبو كې را اخلي نو دې به جرأت وكړي چې دې ته شرک ووايي يا حرام او بدعت ورته ووايي چې هسې

لړزره د ایمان په کې وي دې به و نه ویریږي چې دا خو په حدیث کې د محمد مصطفی ﷺ نه ثابت ده زه نا روا ولې ورته و وایم.

إيرادات :

اول اعتراض دا کوي چې سند ددې حدیث کې روح بن صلاح راغلې دي نو اعتراض کوي چې روح بن صلاح ضعیف دي، تضعیف یې چا کړي ابن عدي او دار قطني کړي دي.

جواب به همغه وي چې مخکې ما تاسو ته وویل چې جرحه ددې غیر مفسره ده سره ددې نه ابن حبان په کتاب الثقات جلد ۸ صفحه ۸۴۴ کې دده نوم را اخیستي او دې یې ثقه ګانو کې شمار کړي.

دارنګې امام حاکم دده باره کې لیکي :

ثقة مامون.

دویم اعتراض دوي دا کوي چې بحق نبیك وایي دا وسیله نه ده ځکه وایي حق د نبي علیه السلام په خدای تعالی باندې استجابت د دعاء دده ده.

په دوه طریقو به جواب دې اعتراض نه کوو : چې هر کله بحق فلان ته ته توسل نه وایي نو بیا په مورد د توسل باندې خو یوه جزیه پیدا کړه فقه کې خو لا ینبغي نسأل بحق فلان راغلې بوسیلة خو نه دي راغلې او بحق فلان ته ته وسیله نه وایي چې نه یې وایي او جائزېږي ګڼي نو د هدایه عبارت په رد کې ولې پیش کوي.

دویم دا چې دوي وایي بحق فلان چې دا استجابت د دعاء ده دلته راغلو بحق نبیك والانبیاء الذین من قبلي ځه نبي علیه السلام سره به دا قید ولړوي چې حق یې استعانت د دعاء دي دا نور انبیاء خو دنیا نه تللي وه کنه ولې په حیات برزخي کې د دعاء قائل یې ته چې ګڼې انبیاء علیهم السلام په قبورو کې چا ته دعاء کولې شي دا ستا رأیه ده دا خو دې ستا رأیه نه ده او بیا دا لازمیږي ورنه چې ته ترې توسل فعلي دعاء ثابتوي استجابت د دعاء نو دا به مني چې دې نور وانبیاء په قبورو کې بي بي فاطمې ته دعاء کړي ده او دا خو ددوي رأیه نه ده.

ددې نه خو لویه پیچیده بله مسئله ثابتیږي نو دوي اصول نه لري جمهور نه دي ځان نه

راپیدا شوي خلک دي او خبرې یې شروع کړي چې د تناب یو سر راټینګ کړي بل طرف ترې خلاص شي .

نهم حدیث :

کتاب الدعاء د طبراني جلد ۱ صفحه ۳۹۷ کې ذکر کوي :

حدثنا یحیی بن ایوب العلاف المصري حدثنا ابوطاهر بن السرح حدثنا ابومحمد موسی بن عبدالرحمن الصنعاني المفسر حدثني ابن جريج عن عطاء عن ابن عباس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال ح وحدثنا مقاتل بن حيان عن مجاهد عن ابن عباس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من سره ان يوعيه الله عزوجل حفظ القرآن .

د چا دا خوښه وي چې خدای تعالی ده ته په ذهن کې واچوي حفظ قرآن .

وحفظ اصناف العلم . او د علم انواع ورته په حافظه کې واچوي .

فليكتب هذا الدعاء .دا دعاء دې ولیکي .

في اناء نظيف .په پاک لوښي کې

او في صحفة قوارير : او یا په کاسه د شیشې کې .

بعسل وزعفران . په شهدو او زعفرانو سره .

وماء مطر . په اوبو د باران سره .

ويشربه على الريق . دا دې وڅکي بیا .

واليصم ثلاثة ايام . دري ورځې روژې دې ونیسي .

وليكن افطاره عليه .روژه ماتې دې په دغه اوبو کوي .

فانه يحفظها ان شاء الله عزوجل . که حفظ غواړي که اصناف د علم غواړي که د خدای تعالی خوښه وي ده ته به یې ورزده کړي .

ويدعوا به في ادبار صلواته المكتوبة .او د فرض مونځ پسې دې هم دا دعاء کوي .

اللهم اني اسألك بانك مسئول لم يسأل مثلك ولا يسأل اسألك بحق محمد رسولك ونبيك وابراهيم خليلك وصفيك وموسى كليمك ونجيك وعيسى كلمتك وروحك و اسألك بصحف ابراهيم وتوراة موسى وزبور داؤد وانجيل عيسى وفرقان محمد ﷺ و اسألك بكل وحي اوحيته وبكل حق قضيته وبكل سائل اعطيته و اسألك باسمائك التي دعاك بها انبياؤك فاستجبت لهم و اسألك باسمك المخزون المكنون الطهر الطاهر المطهر المبارك المقدس الحي القيوم ذي الجلال و الاكرام واسألك باسمك الواحد الاحد الصمد الفرد الوتر الذي ملأ الأركان كلها والذي من اركانك كلها اسألك باسمك الذي وضعته على السموات فقامت واسئلك باسمك الذي وضعته على الارضين فاستقرت واسئلك باسمك الذي وضعته على الجبال فرست . واسألك باسمك الذي وضعته على الليل فاظلم واسئلك باسمك الذي وضعته على النهار فاستنار . و اسألك باسمك الذي يحيي به العظام وهي رميم و اسألك بكتابك المنزل بالحق ونورك التام ان ترزقني حفظ القرآن وحفظ اصناف العلم وتثبتها في القلبي وان تستعمل بها بدني في ليلي ونهاري ابدا ما ابقيتني يا ارحم الراحمين .

خو مطلبي تكي په كې دادي چې دعاء وركې شه ده .أسألك بحق محمد رسولك ونبيك وابراهيم خليلك وصفيك وموسى كليمك ونجيك وعيسى كلمتك وروحك په دې انبياء اولوا العزم باندې او دهغې په حق باندې توسل دې .

لسم حديث :

مستدرک للحاکم جلد ۲ صفحه ٦٧٢ :

حدثنا ابوسعيد عمرو بن محمد بن منصور العدل حدثنا ابو الحسن محمد بن اسحاق بن ابراهيم الحنظلي حدثنا ابوالحارث عبدالله بن مسلم الفهري حدثنا اسماعيل بن مسلمة انبأ عبدالرحمن بن زيد بن اسلم عن ابيه عن جده عن عمر بن الخطاب رضي اله عنه قال قال رسول

الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما اقترف آدم الخطيئة.

آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله اقرار وکړ په خپله خطاء.

قال يا رب اسألك بحق محمد لما غفرت لي.

سوال درنه کوم په حق د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې دا غوارم چې ماته بخښنه وکړه.

فقال الله يا آدم وكيف عرفت محمداً ولم اخلقه؟ قال يا رب لأنك لما خلقتني بيدك ونفخت في من روحك.

زه دې خپل يد بلا کيف باندې پيدا کړم او ما کې دې خپل روح معظم يعنې مشرف روح او ذي عزت روح دي واچوه.

بعضې ځايونو کې تأويلات د ضروریاتو نه وي ګنې د اسلافو مذهب دادی چې په داسې مسائلو کې چون چرا ونه شي او بس علم مفوض الی الله تعالی وګرځيږي خلقتني بيدک، اوس دلته به نور تصورات نه کوي العياذ بالله چې دده تنه په عرفات کې وه خدای تعالی ګنې راغې داسې سوچ وکړي يا جسم مجسم وه عياذ بالله، يد نه تعبير په لاس وکړي چې ختې راخيستې او دده تنه يې ترې جوړوله.

نا حديث قدسي کې راځي چې زما کار دادی چې وايم: کن فيکن، نو دا ځمکې او اسمانونه داسې نه دي پيدا شوي چې ګنې الله پاک په کې العياذ بالله ځان ستړي کړي هغه دا تول په کلمې د کن فيکن سره پيدا کړي دي په اسبابو بناء نه دي.

باقي د اسلافو رأيه داده چې يد ثابت شو بس ترجمه يې هم مه کوه نه بايد دانست که ترجمه يې شود بدست نور ظلم داسې ليکي ترجمه په لاس مه کوه دلته بس تعبير ترې نه په دې سره کوه.

خلقتني بيدك.

دده يې ولې مضاف کړ دا نور خلک چې پيدا شوي دي مور او پلار په کې توسط لري دده پيدائش محض بقدرت الله تعالی بدون الاسباب نو مضاف شو الی قدرة الله تعالی ځکه ورته خلقتك بيدك نسبت کيږي او دا تاويل خو به ځکه کوي چې نفخت في من روحك اوس څه ترې نه جوړوي وا دې چوه ما کې دا خپل روح نو اوس څه وايي چې خالق روح لري په ده کې واچوه

نو خپله به تاويل کوي تاويل به څه شي وي يا خو علم مفوض الى الله که د متشابهاتو نه يې ک
لکه ايت کې متشابه دي .
په احاديثو کې هم متشابه دي داد اسلافو رايه شوه او يا دا چې اضافت للتشريف
والتعظيم، ما کې دې واچوه هغه روح چې ډير عزتمند وه .
لکه بيت الله اضافت للتشريف دي يا ناقة الله يا اسد الله روح الله نو دا ټول اضافتو
داسې شوې دي .
ونفخت في من روحه ....
رفعت رأسي فرأيت على قوائم العرش مكتوباً لا اله الا الله محمد الرسول الله فعلمت انه
لم تضف الى اسمك الا احب الخلق اليك فقال الله صدقت يا ادم انه لاحب الخلق الي ادعني بحقه.
دده په حق رانه دعاء وغواړه .
قد غفرت لك .بخښنه مې درته وکړه .
ولولا محمد ما خلقتك .که چيرته دې نه وايي ما به ته نه واي پيدا کړي .
هذا حديث صحيح الاسناد وهو اول حديث ذكرته لعبدالرحمن بن زيد بن اسلم في هذا
الكتاب .

إيرادات :

دې په سند کې عبدالرحمن بن زيد بن اسلم راغلې هو ضعيف نو چې امام حاکم وويل
چې صحيح الاسناد اعتماد وکه کنه له ده نه خو ستا علم زيات نه دي ذهبي چې کله نقل دې
نه وکړي اعتماد پرې کوي خپل قول ته يې اعتماد ور نه کړي ځکه دې خاص شاګرد د ابن
تيميه وه نو چې هر کله ابن تيميه توسل ته حرام وويل او دې يې شاګرد وه نو هغه روايات چې
توسل ترې ثابتيږي او دده د رأيه مخالف وي نو دې به ورته موضوعي نه وايي .
تلخيص کې په دغه ځای باندې ذهبي ورته موضوعي ويلي دي په قول يې اعتماد نه
دي په کار او وهابيانو ټولو دې کې د ذهبي تقليد کړي چې نسبت د موضوع يې ورته کړې

هغه باندې تاثير د خپل استاذ ابن تيميه وه هغه اولين انسان دي چې توسل نه يې انکار کړي دي مثال زه غلام حضرت مثبت د توسل يم .

او بل څوک منکر د توسل دي نو د هغه قول ته په رد د توسل کې چې جرحه کوي اعتبار به ورکوي که نه په ورکوي ، اعتبار به نه ورکوي هغه منکر دي دغې مسئلې د خپلې رأى موافق چې کوم روايت مثبت دد ې وي خپله به يې مجروحه وي کنه او زه مثبت يمه .

نو چې زه وايمه دا حديث قوي دي نو زما قول ته به هم اعتبار نه وي ځکه چې زما رايه داده چې توسل جائز دي نو زه خو به خامخا زور لګوم خپله دعوى به ثابتوم کيدې شي ضعيف قوي کړمه نو زه به هم نقل کوم د چا نه او دې به هم نقل کوي د چا نه که عمده قول يې پيش کړه خو صحيح ده که دده قول وه هيڅ اعتبار ورته نشته زه به هم نقل کوم که ما په توثيق ديو امام قول پيش کړ نو قبول کړ که ما خپل قول پيش کړ نو مردودو به وي ځکه زما رأيه د توسل ده .

او دده رأيه د نفي ده نو دغه شان ابن تيميه دا خلک چې وه دا يوه ډله دوي د توسل منکرين دي نو هر کله چې کوم روايت ثبوت د توسل کوي ددوي اقوالو ته اعتبار په کې نشته ځکه هغه ددوي د رأى مخالف دي نو ضرور به دوي هغه روايت ته د جرحې نسبت کوي او څه ضعف به ثابتوي .

نو جواب دا دى چې عبد الرحمن بن زيد بن اسلم چې وه ابو احمد ابن عدى دده باره کې ليکي ؛

له احاديث حسان . دده احاديث حسان شته چې حسن د مقبولاتو نه دي .

وهو ممن يكتب حديثه . دا هغه څوک دي چې حديث يې ليکلې شي يعنې مقبول دي .

تهذيب الکمال د حافظ مزي جلد ۱۷ صفحه ۱۱۹ دده حالات ذکر شوې دي اول جرحه ده باندې امام مالک رَحِمَهُ اللهُ کړې ده دا څو مره خلک چې ده باندې رد کوي تقليد د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ کوي .

علامه کوثري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي ؛

عبد الرحمن وان ضعفه مالك وتابعه آخرون لكن الخبر مما قبله امام مالك بنفسه .

حديث د توسل د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې امام مالک خپله د مقبولاتو نه

گرځولي ده په عبد الرحمن جرحه کوي او حديث يې قبلوي ولې يې قبلوي څه علت دي.

د اصول حديث دا طريقه ده چې يو حديث لره مثلاً پنځه راويان پيدا شول ددې مصنف شيخ باندې جرحه نشته خو په شيخ الشيخ باندې جرحه راغله تاسو به دا حديث دې بله رتبه کې ګوري د هغې نه مخکې رتبه د صحابي رتبه به ګوري چې هغه زمانه کې حديث معروف معمول به دي که نه دا چا باندې چې جرحه شوې نه دا نه دده نه مخکې زمانه کې.

که چيرته دا حديث دده نه مخکې زمانه کې معمول به معروف وګرځيده جرحه ده باندې بې ځايه شوه حديث خو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام قول ته وايي ده باندې خو جرحه د سند له وجهې ددغه راوي نه راغله چې دده نه مخکې زمانه کې يې صحابه معمول به ګرځوي معروف يې ګڼي تابعينو زمانه کې يې معمول به ګرځيږي معروف يې ګڼي نو بيا جرحه په دې وروستي سړي بې ځايه ده حديث د مقبولاتو نه وګرځيده.

امام مالک صاحب په عبد الرحمن صاحب جرحه کوي او خپله حديث د توسل د آدم عَلَيْهِ السَّلَام قبلوي ولې قبلوي چې دا په زمانه د صحابه وو تابعينو کې معروف ؤ.

نو ګويا دا حديث د سند په اعتبار سره د عبد الرحمن صاحب نه مجروح شو خو د معروفيت په وجه په زمانه د صحابه وو تابعينو کې بيرته قوي وګرځيده.

قاضي عياض رَحِمَهُ اللَّهُ په الشفاء جلد ۲ صفحه ۴۱ کې د ابو جعفر المنصور بادشاه امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ ته راځي سند ذکر کوي د ابن حميد:

ناظر ابو جعفر امير المؤمنين مالكاً في مسجد رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

مناظره يې وکړه يا يې وکتل.

فقال له مالك يا امير المؤمنين لاترفع صوتك في هذا المسجد.

پادشاه په زوره غږيده منصور بادشاه دا هغه بادشاه ده چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ يې په قضاء باندې جيل ته اچولې وه.

فان الله تعالى ادب قوماً فقال لا ترفعوا اصواتكم فوق صوت النبي ومدح قوماً فقال ان الذين يغضون اصواتهم عند رسول الله وذم قوماً فقال ان الذين ينادونك من وراء الحجرات

أكثرهم لايعقلون .

امام مالک صاحب بادشاه ته وویلي :

وان حرمته ميتا كحرمته حيا. دي چې دنيا نه لاړ او په دنيا کې وه احترام يې يو شان لازم دي.

فاستكان لها ابوجعفر . بادشاه ورته رانرم شو غلې شو .

وقال يا ابا عبدالله . امام مالک صاحب ته وايي :

استقبل القبلة وادعو ام استقبل رسول الله . قبلې ته مخ کړم دعاء وکړم که رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مخ کړم دعاء وکړم. امام مالک صاحب ورته فرمايي :

لم تصرف وجهك عنه . ولې مخ ترې اړوي .

هو وسيلتك ووسيلة ابيك آدم عَلَيْهِ السَّلَام . دا ستا هم وسيله ده او ستا د نيکه د آدم عَلَيْهِ السَّلَام هم وسيله وه .

نو امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ ته څنګه پته ولګېده چې دا آدم عَلَيْهِ السَّلَام وسيله کړي وه نو چې امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ ته دغه حديث د عمر فاروق د توسل د آدم عَلَيْهِ السَّلَام معروف نه واي څنګه بادشاه ته دا خبره کوي نو جرحه په عبدالرحمن امام مالک کړې ده او امام مالک خپله دغه حديث د عبدالرحمن مقبول ګڼي ځکه يې مقبول ګڼي له وجهې د شهرت ماسبق دده کې .

په دغه روايت باندې الباني وغيره څه اعتراض کړې دي چې په سند ددې کې محمد بن حميد رازي په کې راغلي دي د شفاء په روايت کې د امام مالک دې نه اول جواب دا په کار دي چې دائمه وو اقوالو کې د سند په لحاظ جرحې بې ځايه دي .

دا جرحه قبلول في قول النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وافعاله مقبول دي په قول د ائمه وو کې سند يا په سند جرحه بې ځايه ده .

چې تا يو کتاب کې د قال ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ قول پيدا کړ فاقبلوا نو قبول يې کړه ، دې کې سند ونه ، مه لټوي چې ما ته د قال ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ سند وښايه .

د امامانو د اقوالو سند ونه خو نشته دي پاتې لا دا چې قاضي عياض شفاء کې د امام

مالک رحمه الله قول سره د سند ذکر کړي بیا هم محمد بن حمید رازي چې دې داد امام ابي داؤد ترمذي ابن ماجه شیخ دي د هغه باره کې عبد الله بن امام احمد صاحب وایي چې ما د خپل پلار امام احمد نه واوریدل ؛

لایزال بالري علم مادام محمد بن حمید حیاً . په ري علاقه کې تر هغې پورې علم حیات وه چې محمد بن حیمد ژوندي وه او چې دې وفات شو نو علم ختم شو .

دارنګې ابو قریش محمد بن جمعه بن خلف الحافظ وایي چې ما محمد بن یحیی ذهلي ته وویل :

ماتقول في محمد بن حمید قال ألا تراني هو ذا احدث عنه . ځه رأیه دده په حق د محمد بن حمید کې هغه وویل نه ګوري زه ترې روایت کومه چې زه ترې حدیث نقلوم ته یې څنګه نه قبلوي .

دارنګې ابو قریش وایي زه په مجلس د ابي بکر الصاغاني کې موجود ومه چې محمد بن اسحاق دي حدیث یې بیانوه نو وي ویل ؛

حدثنا محمد بن حمید . وایي ما ورته وویل :

تحدث عن ابي حمید . د محمد بن حمید نه حدیث نقلوي .

فقال : ما لي لا أحدث عنه وقد حدث عنه احمد بن حنبل ویحیی بن معین .

زه به ترې څنګه روایت نه نقلوم امام احمد ابن حنبل او یحیی ابن معین یې ترې نقلوي، دا ټول دلائل د توثیق دي چې دغه شان ائمه حدیث نقلوي ، ابوبکر بن خیثمه وایي :

سئل یحیی ابن معین عن محمد بن حمید الرازي فقال ثقة لیس به بأس رازي کیس.

دارنګې ابو العباس بن سعید وایي :

سمعت جعفر بن ابي عثمان الطیالسي یقول ابن حمید ثقة .

نو دا جرحه په هغه بې ځایه ده .

نو شیخ صاحب مرحوم فرمایي په خپله رساله کې ؛

بعد ان أقر الامام مالك بصحة الخبر واحتج به زالت تهمة الوهم وقلت الضبط عن

عبدالرحمن الذي انما يقتدي من رماه بذلك بما لك.

چاچې په ده جرحې کړې اقتدای يې په امام مالک صاحب پسې کړې ده هغه خپله قبول کړې ده.

وهذا هو الامام الشافعي يستدل في دين الله ببعض احاديثه في الام وفي مسنده.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په کتاب الام کې او په مسند کې د عبد الرحمن روايات ذکر کوي او استدلال د مسائلو ترې نه کوي.

فلا لوم على الحاكم في عده هذا الحديث صحيحاً.

هيڅ ملامتيا په امام حاکم نشته دي چې دده حديث ته يې صحيح ويلي دي.

تلك عشرة كاملة

لس روايات مرفوعه په دې باندې د توسل باب ختم نه دي، بلکې د مرفوع حديثو د نصوصو آياتونو هغه استدلالات تمام ته ورسيدل.

ددې نه اخوا چې کوم مبحث د صحابوو د اقوالو دي د لسو صحابوو روايات او د متعددو فقهاء عبارات ان شاء الله ذکر کولې شي.

المبحث الرابع: تحقيق الوسيلة في ضوء اقوال الصحابة رضوان الله تعالى عليهم اجمعين:

دې سره به د منکرينو هغه خبره هم دفعه شي چې دوي وايي صحابه کرامو دا توسلات نه دي نيولي دا د دوي افتراء ده او هغه زمانه کې توسل په ذواتو فاضلوو باندې معروف وه.

توسل بالاعمال او توسل باسماء الله وصفاته او توسل بالذوات الفاضلة زمانه د صحابه کرامو کې توسلات معروفه چې وه په ذواتو باندې وه يا باسماء الله تعالى و صفاته باندې وه دا دير معروف وه.

او هر چې توسل توسل بالاعمال وه جائز وه بعضې رواياتو کې ثابت ده استدلالات پرې شته خو زمن د صحابه وو کې معروف نه وه د صحابه کرامو په تاريخ کې چې وکتل شي نو هغوي توسلات بالعمل دير کم نيولي دي اولين د صحابه کرامو چې وه هغه صديق اکبر

رضي الله عنه.

نو توسل د صديق اکبر رضي الله عنه امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې جلد ۱ صفحه ۳۲۱ کې ذکر کړي نو په دې کې دعاء د ابوبکر صديق رضي الله عنه باندې يو باب لړوي او بيا ذکر کوي :

علم رسول الله صلى الله عليه وسلم ابابکر الصديق رضي الله عنه ان يقول .

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم صديق اکبر رضي الله عنه ته دا دې تعليم ورکړې وه چې ته به داسې دعاء کوي :

اللهم اني اسألك بمحمد نبيك وابراهيم خليلك وموسى نجيك وعيسى كلمتك وروحك وبتوراة موسى وانجيل عيسى وزبور داود وفرقان محمد صلى الله عليه وسلم وبكل وحي او حيته او قضاء قضيته او سائل اعطيته او غني افقرته او فقير اغنيته او ضال هديته اسألك باسمك الذي انزلته على موسى عليه السلام و اسألك باسمك الذي بسط به ارزاق العباد و اسألك باسمك الذي وضعت على الارض فاستقرت .

هغه د کتاب الدعاء د طبراني د حفظ القرآن چې کومه دعاء وه کوم ثابت چې مخکې تير شوې وه باقي الفاظ چې دي تقريباً همغه الفاظ دي نو رسول اکرم صلى الله عليه وسلم صديق اکبر رضي الله عنه ته دا دې تعليم ورکړې وه ، چې ته داسې دعاء کوه .

نو دا دې په ابتداء کې توسلات دي :

اللهم اني اسألك بمحمد نبيك .

دا باء سببيه ده لکه واستعينوا بالصبر والصلوة کې د توسل بالعمل لپاره استدلال ترې کيږي .

وابراهيم خليلك .

نو که يو بې ځايه تأويل تقدير بلا ضرورته څوک کوي چې :

اسألك بمحمد نبيك بدعاء محمد .

نو دلته خو نوم اخیستل شوې دي او دعاء هم شوې ده نو دا توسل بالاسم دي دعاء د دغه نه یادوي ځکه دې نه بعد ابراهیم خلیلک موسی نجیک هغوي دنیا نه دغه وخت کې تللي وه.

نو دا اولین د صدیق اکبر رضي الله عنه توسل وه او یوائې امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې نه بلکې د دغه الفاظو تائید د روایت د ابن مسعود رضي الله عنه نه هم کیدې شي چې د هغې روایت خطیب بغدادي کړې دي په الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع جلد ۵ صفحه ٦٦ کې دغه روایت ذکر کړي دي.

او د رنګې ابو الشیخ ابن حبان دغه روایت په کتاب الثواب کې ذکر کړې دي او روایت د عبدالله ابن عباس چې امام طبراني په کتاب الدعاء کې حواله مخکې ذکر شوې ده:

تؤیدوا هذه الروایة معناً.

هغه هم ددې روایت معنوي تائید کوي هغې کې هم ددغې الفاظو تلقین دي.

دویم توسل د حضرت عمر رضي الله عنه:

صحیح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۳٦ باب سؤال الناس الامام الاستسقاء اذا قحطوا، په دې کې د انس ابن مالک رضي الله عنه:

حدثنا الحسن بن محمد قال حدثنا محمد بن عبدالله الانصاري قال حدثني ابي عبدالله بن المثنى عن ثمامة بن عبدالله بن انس عن انس بن مالك ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه كان اذا قحطوا. عمر فاروق رضي الله عنه وه:

اذا قحطوا (اى اذا أصابهم القحط) استسقى بالعباس بن عبد المطلب رضي الله عنه فقال اللهم انا كنا نتوسل اليك بنبينا فتسقينا. مونږ به وسیله کوه تا ته نبي خپل تا به مونږ باندې باران کوه.

وانا نتوسل اليك بعم نبينا فاسقنا. مونږ اوس وسیله کوو تا ته تره د نبي زمونږ په مونږ باران وکړه.

قال فيسقون. انس صاحب وايي باران به پرې وشو.

دې ځای ته لږ متوجه شئ هغه دا چې ژور نظر بعضې خلک نه کوي دې ځای کې او ولته دا ځای دليل ګرځوي لپاره د توسل فعلي نه قولي وايي عمر فاروق رضي الله عنه ګوره تره د نبي علیه السلام راوغوښته دعاء يې ترې وغوښته .

په بخاري کې د حضرت عباس رضي الله عنه دعاء فعلي موجوده نه ده هغه شارحينو او نورو محدثينو په څه رواياتو کې ذکر کړې ده زه يې ذکر کوم خپله په بخاري کې د عمر فاروق رضي الله عنه توسل اسمي او قولي مذکور دي ګوري حضرت عباس صاحب يې راحاضر کړ دغه ځای کې مجمع عامه موجوده وه دلته يو توسل عمر فاروق رضي الله عنه نيولي دي او بله دعاء حضرت عباس رضي الله عنه کړې ده دعاء د حضرت عباس رضي الله عنه دلته مذکوره نه ده .

په حديث د بخاري کې توسل د عمر فاروق رضي الله عنه مذکور دي نو دوه دعاء ګاني شوې دي يوه عمر فاروق رضي الله عنه په خپله کړې ده بله حضرت عباس رضي الله عنه کړې ده الفاظ د دعاء د حضرت عباس رضي الله عنه دادی :

اللهم لم ينزل بلاء الا بذنب ولم يكشف الا بتوبة وقد توجه بي القوم اليك لمكاني من نبيك .

محشي د بدر الدين عيني عمدة القاري نه دلته نقل کړې دي په دغه ځای باندې يا الله دي قوم زه تاته مخامخ کړې يمه ځکه يې مخامخ کړم لمكاني من نبيك ما ته يو شرف دي چې حاصل دي ما ته ستا د پيغمبر نه چې تره د هغه يمه ....

وهذه أيدينا اليك بالذنوب ونواصينا بالتوبة فاسقنا الغيث .

خپله د عباس صاحب دا الفاظ د دعاء دي دا مذکور نه دي په بخاري کې .

دويم الفاظ د عمر فاروق رضي الله عنه دي مذکور دي په بخاري کې هغه دادی :

اللهم انا كنا نتوسل اليك بنبينا فتسقينا وانا نتوسل اليك بعم نبينا فاسقنا .

يا الله اوس درته وسيله کې تره د نبي علیه السلام پيش کوم په مونږ باران وکړه .

اللهم ندا شته مقصود بالنداء فاسقنا شته دعاء وشوه د دعاء الفاظ خو دلته هم شته د عمر فاروق رضي الله عنه په الفاظو کې دا تره د نبي علیه السلام پيش کول خپله توسل قولي دي د عمر فاروق رضي الله عنه په الفاظو کې توسل قولي مذکور دي يو شيخ صالح دلته موجود دي او ته

وايي يا الله دده په خاطر په مونږ باران وکړه دا قولي اسمي شو .
دا چې بيا هغه دعاء کوي هغه بيا فعلي دي نو د عباس صاحب دعاء توسل فعلي دي.
او د عمر صاحب قول چې کوم بخاري را اخيستي دا توسل قولي دي او دوي د توسل قولي نه منکر دي .
بدر الدين عيني چې کوم الفاظ د دعاء ذکر کړي د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تصريح په دې باندې ده چې دوه دعوات شوي ده هم کړي ده او عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم کړې ده .
دوي داسې وايي چې عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغې تره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې وويل ته مونږ ته دعاء وکړه .
داسې نه ده يوه دعاء عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کړې ده او يوه دعاء تره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې ده .
مونږ استدلال د عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د الفاظو نه کوو چې هغه توسل قولي دي دلته محض داسې نه دي شوې چې هغه يې د لاس نه رانيولې راوستې ده چې راځه مونږ ته ،ته دعاء وکړه.
نه راوستې دي و درولي دي بيا عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دعاء کړې ده ، يا الله دا تره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ درته پيش کوو په مونږ باران وکړه .
دا قولي توسل شو بيا هغه پاځيدلې بله دعاء يې هم کړې ده هغه بيا توسل فعلي دي.
د عيني په حاشيه کې چې نقل دي عبارت د هغې الفاظو نه خپله پته لږي چې دوه دعاء ګاني شوي دي هغه دا دی :
فلما صعد عمر ومعه العباس المنبر .عمر صاحب او عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دواړه منبر ته پورته شول.

قال عمر : عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دعاء وکړه :

اللهم انا توجهنا اليك بعم نبيك وصنو أبيه فاسقنا الغيث ولا تجعل من القانطين ثم قال قل يا ابا الفضل قال العباس اللهم لم ينزل بلاء الخ.

بيا يې وويل عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوس ته هم دعاء وکړه .
نو مونږ استدلال د عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د الفاظو نه ، نه کوو هغه مذکور في البخاري نه دي هغه توسل فعلي دي .

په خپله عمر صاحب چې کوم الفاظ استعمال کړي دا قولي توسل دي دوي دې ځای نه داشې جوړ کړ.

که توسل په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او له دنیا نه تللي اشخاصو باندې جائز واي نو عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به دې وخت کې قبر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې توسل نیولې واي کنه نو مونږ یې په ژوندو هم روا ګڼو اسمي توسل، او مونږ یې په وفات شده باندې هم روا ګڼو اوس توسل په اشخاصو صالحو باندې چې حیات وي فعل د هغې خو دلیل د حرمت د آخر نه جوړیږي.

فتح الباري عیني قسطلاني څو مره چې تاسو په دې ځای ګوري هغوي به دا خبره کوي چې دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې جائز دي توسل د فاضل په مفضول باندې.

دایې خلکو ته ښودله چې فاضل په مفضول هم توسل نیولې شي شان د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خو په عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې بلند دی په اتفاق د امت باندې، نو هغه بیا څنګه ده باندې وسیله نیسي واي دې ته اشاره ده چې فاضل په مفضول توسل نیولې شي.

علامه کوثري رَحِمَهُ اللَّهُ په محق التقول کې دغه ځای باندې لیکي؛

انا کنا نتوسل الیك بنبینا قول صحابي کنا نفعل کذا ینصب علی ماقبل القول.

فیکون المعنی ان الصحابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ کانوا یتوسلون به في حیاته وبعد لحوقه بالرفیق الاعلی الی عام الرماد.

داسخته قحطي چې راغلې دا کال د رمادي ده او دا ۱۲ کال د امیر المؤمنین د خلافت جوړیږي دا ډیر وروسته شوې دي او ده وویل چې:

انا کنا نتوسل الیك نبینا.

علامه کوثري رَحِمَهُ اللَّهُ وایي چې صحابي وویل:

کنا نفعل کذا.

دا کار به مونږ کوو نو منسوب شو داعلی ماقبل زمن القول ته د دغې خبرې نه مخکې وخت ته شامل شو نو خپله ترې پته ولږیده چې دا دولس کاله صحابه وو هم په قبر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ توسل نیولې وه دغه وجه ده چې ابن عبد البر په الاستیعاب جلد ۱ صفحه ۲۴۶ کې لیکي ذکر کوي:

وفعل عمر انما يدل على ان التوسل بقرابة الرسول الأحياء جائز كجوازه بالنبي ﷺ.

دعمر صاحب دا فعل دليل دې خبرې دې چې د انبياء او د رسولانو په اقرباء باندې توسل روا دې لکه چې په نبي عليه السلام روا دې.

او مستدرک للحاکم په جلد ۱۲ صفحه ۳۶۸ کې چې رقم د حديث : ۵۴۴۷ جوړيږي ذکر کوي الفاظ د دعاء د عمر فاروق رضي الله عنه:

اللهم هذا عم نبيك العباس نتوجه اليك به فاسقنا.

دا تره د نبي عليه السلام دې چې عباس رضي الله عنه دې مونږ تا ته مخامخ کړ چې ته په مونږ باران وکړه.

دا الفاظ د توسل قولي دې.

فما برحوا حتى سقاهم الله قال فخطب عمر الناس فقال ايها الناس ان رسول الله ﷺ كان يرى للعباس ما يرى الولد لوالده.

نبي عليه السلام به دغه تره ته داسې نظر باندې کتل لکه ماشوم بچي چې پلار ته ګوري:

يعظمه ويفخمه ويبر قسمه. دده تعظيم به يې کوه او که دده به په غصه کې قسم وخوړ نبي عليه السلام به دې مبرور وه په کې نه به يې حانث کوه په کې.

فاقتدوا ايها الناس برسول الله ﷺ في عمه العباس.

ټول خلک د نبي عليه السلام تابعداري وکړي په حق د تره د هغه کې چې عباس رضي الله عنه دې نو چې هغه يې تعظيم کوه تاسې يې هم تعظيم کوي.

واتخذوه وسيلة الى الله عزوجل. ټول دې وسيله الى الله وګرځوي.

في مانزل بكم. په هر تکليف کې چې نازل شي په تاسو باندې نو تاسو وسيله کې تره د نبي عليه السلام پيش کوي.

دغه روايت چې د عمر رضي الله عنه په تقرير کې دا الفاظ راغلل:

واتخذوه وسيلة الى الله.

ابن عساكر په معجم ابن عساكر جلد ۱ صفحه ۴۳۰ کې هم ذکر کړي او کتاب الدعاء
طبراني جلد ۵ صفحه ۴۲۷ کې هم ذکر کړي.
ابن حجر عسقلاني فتح الباري جلد ۳ صفحه ۴۴۳ ذکر کړي.

دريم توسل په قول د حضرت علي المرتضى رضي الله عنه.

څلورم توسل په قول د حضرت عباس رضي الله عنه.

پنځم توسل په قول د حضرت عائشې رضي الله عنها کې.

دا دري واړه په يو ځای يوه دعاء کې جمع کيږي په شريکه دعاء کوي توسل نيسي.

تاريخ فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۱۶۸ کې ذکر کوي دا هغه واقعه ده چې کله شام دمشق ونيول شول.

قيصر روم هرقل غصه شو يو عظيم لښکر د لس لکه او شپيته زره يې تيار کړ.

يو عام پاڅون د مسلمانانو خلاف وشو نو څومره ښارونه چې په شام او دمشق کې نيول شوي وه هغه مشورتاً صحابه کرامو پرېښودې بيرته سرحداتو د عربو ته راورسيدل ټول ځايونه هغوي بيا ونيول.

نو سرحد د عربو سره نزدې د يرموک يوه عظيمه دشته وه په دغه ځايکې ابو عبيد بن جراح رضي الله عنه او حضرت خالد رضي الله عنه ملګري دي دوي تقريباً يو ديرش زره لښکر کې دلته واړول.

نو دې ځای نه امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه ته قاصد ځي خط ورکوي چې لاړ شه امير المؤمنين نه مونږ دپاره مشوره واخله ورته ووايه چې ټول ښاريې مو خوشې کړې دي ځکه زمونږ تعدا د کم دي او کافران ډير زيات وه.

ددې نه بعد باقي ستاسو مرضي ده که وايي چې مدينې منورې ته راشي نو هلته درځو او که وايي چې وجنګيږي نو جنګيږو.

د قاصد نوم دي عبدالله بن قرط هغه د يو خالي هفتې په ورځ روان شو او د راروانې جمعې په ورځ ورسيده.

د جمعې د لمانځه نه مخکې امير المؤمنين اودس کوي دې راورسيده ودريده ورته هغه داسې رعب وه چې څوک نزدې ورته ودريدې نه شو او چې ورته وبه ودريده نو زر به يې

نرې ټپوس کوه څوک یې نوم دي څه ده له کوم ځایه راغلې .
هغه ورته وایي قاصد د ابو عبیده بن جراح یمه خط مې راوړې دي عبد الله بن قرط یم ،
هغه خط یې چې را واخیست چې وي کتلو نو رنګ کې یې تغیر راغې په دې خفه شو چې په
دغه علاقو خو ډیر شهیدان شوې وه د مشق حلف شام باندې دا ټول مو بدون د جنګ نه
خوشې کړل او اوس نورې مشورې غوارې چې مونږ را شو او که مخکې وجنګیږو .
کله چې د جمعې خطبې ته پاڅیده نو جهادي بلیغ بیان یې وکړ او ددې نه بعد یې
متصل چند صحابه کرام کینول مشوره یې وکړه چې مونږ ته آخري حکم دي چې د دوه کافرو
مقابل کې یو مسلمان دي دلته چې ګورو دوي صحابه کرام یو دیرش زره دي او کافران لس
لکه او شپیته زره دي دوي ته خو جائز دي چې وروسته راشي تاسو څه فیصله اوس کوي د
اکثرینو رأیه دا شوه چې قومنده د جهاد او جنګ ورکړل شي او د وروسته راتلو اجازت ورته
مه کوه .
نو خط یې ولیکه عبد الله ابن قرط ته یې خط وسپاره چې څه ځان رسوه هغه اته ورځې
مزل کړي ماز دیګر یې بیا ولیږه هغه واقعه ده په فتوح الشام کې منقوله ده او دا فتوح الشام د
امام واقدي د متقدمینو نه دي ۳۵ کاله د امام بخاري نه مخکې تیر شوې دي او امام بخاري
په خپل تاریخ کې له ده نه نقل کوي دې په فن د تاریخ کې ثقه دي بلکې اوثق دي .
چې څو مره مؤرخین دي له ده نه اخذ کوي نو عبد الله بن قرط وایي ما خط را واخیست :

وخرجت من المسجد من باب الحبشة .

دغه وخت کې غټ دیوال چې مسجد نبوي نه تاو وه په هغې کې یوه دروازه باب حبشه
وه زه باب حبشه باندې ووتم چې بهر ته ووتم نو زړه کې مې راغله چې ته خو روان جهاد ته یې
او هسې نه شهید شي راځه د نبي عليه السلام روضې ته راشه یو څه تلاوت وکړه دعاء وکړه بیا به
ځې :

فقصدت حجرة رسول الله صلى الله عليه وسلم .

بعضې علماء ادباً قبر د نبي عليه السلام ته د قبر نسبت بنه نه ګني د هغې نه تعبیر په
حجره شریفه یا په روضه مبارکه باندې کوي نو ګوره دا الفاظ د ادب دي .

فقصد حجرة رسول الله صلى الله عليه وسلم . د نبي عليه السلام د حجرې اراده مې وکړه .

وعائشة رضي الله عنها جالسة عند قبره . هغه روضې سره ناسته وه .

وعلي بن ابي طالب رضي الله عنه والعباس رضي الله عنه جالسان عند القبر .

او حضرت حسين رضي الله عنه په غیږه د حضرت علي رضي الله عنه کې ناست وه او حضرت حسن رضي الله عنه په غیږه د عباس رضي الله عنه کې وه دوي ټول ناست وه د سورة هود او سورة انعام تلاوت یې کولو :

فسلمت على رسول الله . سلام مې واچولو :

فقال علي رضي الله عنه يا ابن قرط ! اعوالت على المسير الى الشام .

ولې راوګرځیدلې له تللو د شام نه ، دې ورته وایي چې ما دا اراده وکړه چې یو ځل سلام وکړم او بیا تاسو دعاء راته وکړي او هغه چې کله روانیده امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ورته ډیره دعاء کړې وه .

حضرت علي رضي الله عنه ورته وویل چې عمر فاروق رضي الله عنه غوندې شخصیت تاته دعاء کړې د نور چا دعاء ته څه ضرورت دې هغه خو هغه انسان دې چې نبي علیه السلام یې باره کې ویلي وه که ما نه وروسته نبي راتلې شوې هغه به عمر فاروق رضي الله عنه وه خو هغه نه راځي د حضرت عمر رضي الله عنه مناقب یې ورته بیان کړه .

عبدالله بن قرط رضي الله عنه ورته مخ راواړوه :

فقال عبدالله قرط ما ذكرت شيئاً الا و انا عارف به من فضل عمر بن الخطاب رضي الله عنه.

تا چې د عمر رضي الله عنه کوم مناقب بیان کړه ما ته پته ده ما ته د هغه شان معلوم دې :

ولكني أردت الزيادة من دعائك ودعاء العباس عم رسول الله صلى الله عليه وسلم .

زما مقصد دا دی چې راته دعاء وکړې او حضرت عباس رضي الله عنه هم راته دعاء وکړي .

ولا سيما عند قبر الرسول المعظم المكرم . بالخصوص دلته په روضه کې یې راته وکړې دې ورته دا وایي هغه هم صحابه دې دې هم صحابي دې .

دلته اوس دا الفاظ نقلوي ۱۲۱۷ کاله مخکې امام واقدي تیر شوې دې :

قال فرفع العباس رضي الله عنه يديه . او چت کړه حضرت عباس رضي الله عنه لاسونه .

وعلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كذلك. او علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دغه شان لاسونه اوچت کړه داد دعاء هيئت شو.

وقالا. دواړه دعاء کوي:

اللهم انا نتوسل بهذا النبي المصطفى والرسول المجتبى.

مونږ وسيله نيسو په دغه نبي مصطفى رسول مجتبى باندې.

الذي. دا خو هغه ذات وه.

توسل به آدم فاجبت دعوته. چې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په ده وسيله نيولې وه تا يې دعاء قبوله کړې وه.

وغفرت خطيئته. او خطيه دې ورته معاف کړې وه.

دا مخکې ما تاسو ته وويل چې توسل د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ حديث معروف وه په زمانه د صحابه کرامو کې که معروف نه واي نو حضرت عباس او حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوي څنګه وايي چې دا هغه دي توسل پرې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نيولي وه دا صحابه وو کې معروف روايت وه چې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خطيه په توسل د محمد مصطفى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معاف شوې ده نو ځکه دلته ورته اشاره کوي:

الا سهلت على عبدالله طريقه وطويت له البعيد. دا درنه غواړو چې آسان کړي عبد الله بن قرط لره لاره او رالنډ کړي ورته اوږده مسافه.

وأيدت اصحاب نبيك بالنصر انك سميع الدعاء.

او د خپل پيغمبر د صحابه وو په جهاد کې مدد وکړه او تائيد يې وکړه.

ثم قال: سر يا عبدالله بن قرط. ځه روان شه.

فالله تعالى اكرم من ان يرد دعاء عمر وعباس وعلي والحسن والحسين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وازواج رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

الله تعالى ډير کريم ذات دي نه شي کيدې چې هغه دې رد کړي دعاء د عمر فاروق او د عباس او د حضرت علي او د حسنينو او په ازواجو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې د بي بي عائشې دعاء

دې رد کړي.

وقد توسلوا اليه بأكرم الخلق عليه.

حال دا دی وسیله کې ورته هغه څوک پیش کړي چې ټول مخلوق کې اکرم دي.

قال عبدالله بن قرط فخرجت من الحجرة وانا فرح مستبشر واستويت على كور الطية وركبة القلاة وانا فرح بدعاء علي والعباس وعمر رضي الله عنهم اجمعين قال عبدالله خرجت من المدينة بعد العصر من يومي ذلك الذي دخلت فيه المدينة.

چې د جمعې ورځ وه په لاره تلم انتظار مې کولو چې له اخوا نه خواته شوا روزه کې راغلې وم اوس به هم اته ورځې مزل یې.

ولم ازل سائرأ ثلاثة ايام فلما كانت صلاة العصر من اليوم الثالث اشرفت على اليرموك.

پنځه ورځې ورته خدای تعالی دا ځمکه رالنډه کړه په دعاء د عمر فاروق او د اهل بيتو باندې عند قبر النبي صلى الله عليه وسلم، نو دا توسل د صحابه کرامو وه اوس که دوی اعتراض کوي چې امام واقدي ضعیف دي نو د هغې جواب دا دی چې امام واقدي خو په فن د تاریخ کې ثقه دي په اتفاق.

او هر چې فن د حدیثو دي دي کې هم د ډیرو رایه دده باره کې د توثیق دي.

امام ذهبي په سیر اعلام النبلاء جلد ۹ صفحه ۴۵۵ کې ذکر کوي:

فلا يستغني عنه في المغازي وايام الصحابة واخبارهم.

استغنی دې نه شي کولې امام واقدي نه په مغازي وو کې او په تاریخ د صحابه وو کې او په اخبارو د هغوي کې استغنا ترې مه کوه ځکه هغه جزیات د تاریخ چې ده مفصل کړي دا بیا ډیرو کې نه پیدا کیږي.

ابن سعد په طبقات کې ذکر کوي:

كان عالماً بالمغازي والسير والفتوح واختلاف الناس في الحديث والاحكام واجتماعهم.

په دې ټولو کې عالم وه.

خطیب بغدادي یې په شان کې لیکلي دا هغه څوک وه چې تمامه دنیا دده نوم نیولې و

هرچا به یادوه .

وكان جواداً كريماً .

ابراهيم حربي ذكر كوي :

كان الواقدي اعلم الناس بأمر الاسلام واما الجاهلية فلم يعلم منها شيئاً .

تاريخو نه دوه دي دوه قسمه مؤرخين دي يو د ادم عَلَيْهِ‌السَّلَامُ نه د هغه وخت نه مؤرخين دا

نول تاريخ بيانوي بل د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَامُ د مغازي وو نا دي وايي :اعلم د خلكو وه بامر الاسلام .

هرچې د جاهليت د زمانې تاريخ وه په هغې نه پوهيده .

موسى بن هارون ليكي :

سمعت مصعب الزبير يقول ما رأيت مثله قط . دده په مثل عالم ما نه وه كتلې .

يعقوب مولى ابي عبدالله ليكي :

سمعت الدراوردي يقول الواقدي امير المؤمنين في الحديث .

دا لقب د امام بخاري دي د ډير توثيق نه كتابونه د جرحې او تعديل د يو محدث باره

كې امير المؤمنين ليكي نو دراوردي وايي چې الواقدي امير المؤمنين في الحديث نو

علماء په آحاديثو كې هم توثيق بيانوي په تاريخ كې خو هسې هم ثقه دي .

يعقوب ابن شيبة يقول حدثني بعض اصحابنا ثقة .

يعقوب ابن شيبه وايي زمونږ بعضې مشائخو مونږ ته دا وويلې چې واقدي ثقه دي بيا

وايي :

سمعت اباعامر العقدي يقول نحن نسأل عن الواقدي وانما يسأل الواقدي عنا .

عجيبه خبره ده خلك راځي مونږ نه تپوس باره د واقدي كې چې څنګه سړي وه قوي وه

كه ضعيف ، په كار داده چې واقدي ته خلك لاړ شي او زمونږ باره كې ترې تپوس وكړي

يعنې هغه ته لاړ شي زمونږ جرحه پرې معلومه كړي .

خلك مونږ ته راځي د واقدي جرحې مونږ نه غواړي دا دده توثيق دي دده صفت كوي

چې مونږ نه دده تپوس مه كوي ده نه زمونږ تپوس وكړي ځكه دي اعلم دي په مونږ كې .

دغسې نور وډيرو علماو د امام واقدي رَحِمَهُ‌اللَّهُ د ثقه والي باره كې اقوال كړي او ابن

حجر عسقلاني رحمه الله تهذيب التهذيب جلد ۹ صفحه ۳۲۴ کې نقل کړي پوره تفصيل بايد هلته وکتل شي.

شپږم توسل د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه

جامع الاحاديث جلد ۱ صفحه ۴۴۴ رقم د حديث ۲۳۰۶ دي دا روايت د حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما دي چې مسند الفردوس هم ذکر کړي.

بمأثور الخطاب للديلمي جلد ۱ صفحه ۳۲۴ الفاظ دادی حديث مرفوع دي:

عن عمر وعلي اذا شجاك شيطان او سلطان فقل يا من يكفي من كل احد ولا يكفى منه احد يا احد من لا احد له يا سند من لا سند له انقطع الرجاء الا منك فكني مما انا فيه واعني على ما انا عليه مما قد نزل بي بجاه وجهك الكريم وبحق محمد صلى الله عليه وسلم عليك آمين.

دا حديث کنز العمال هم ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۱۲۰ کې.

اوم توسل په قول د حضرت معاويه رضي الله عنه:

تاريخ ابي زرعة الدمشقي ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۸۶:

حدثنا الحكم بن نافع عن صفوان بن عمرو عن سليم بن عامر ان الناس قحطوا بدمشق فخرج معاوية يستسقي بيزيد بن الاسود.

رااوو ته معاويه رضي الله عنه استسقاء غوښته په يزيد بن اسود باندې نو ظاهراً توسل قولي دي که تقدير په کې کوي بدعاء يزيد بن الاسود نو بيا فعلي جوړيږي.

دا روايت الاصابة في معرفة الصحابة هم ذکر کړي جلد ۳ صفحه ۶۳۴ او تاريخ دمشق د ابن عساکر هم ذکر کړي جلد ۶۵ صفحه ۱۱۱.

اتم توسل په قول د حضرت عبدالله رضي الله عنه:

صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۳۲:

حدثنا عمرو بن علي قال حدثنا ابو قتيبة قال حدثنا عبدالرحمن بن عبدالله بن دينار عن ابيه قال سمعت ابن عمر يتمثل بشعر ابي طالب. وامي وريدل د ابن عمر رضي الله عنه نه.

يتمثل اى ينشد. چې انشاد يې کوه په شعر د ابي طالب رضي الله عنه سره.

یو انشاء ده بل انشاد ، انشاء جوړولو د شعر ته ویلې شي او انشاد د بل چا شعر خپل
نغم کې زمزمه کولو ته ویلې شي ، نچوړ د شعر دادي :

وابیض یستسقی الغمام بوجهه * ثمال الیتامی عصمة للارامل

نبي عليه السلام د سپین مخې والا دي وریځ چې کومه ده باران کوي .

بوجهه بوسیلة وجهه . دده د مخ د خاطره وریځ باران کوي .

ثمال الیتامی أي مطعم . د یتیمانو دی او د کونډو ساتونکي دي .

نو یستسقی الغمام بوجهه دا باء سببیه ده وریځ باران کوي بوجهه ای بسبب ذاته .

نهم توسل په قول د ابي عبیده ابن الجراح رضي الله عنه :

فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۱۷۹–۲۲۰ ، دې کې ابي عبیده رضي الله عنه یزید بن ابي سفیان
رضي الله عنه ته د یو لښکر مشري ورکوي لیږي یې سره د پینځه زره کسانو :

وامره ان یلحق بخالد رضي الله عنه الی بیت المقدس .

د حضرت خالد رضي الله عنه به ملګري شي بیت المقدس ته به لاړ شي .

وقال له یا ابن ابي سفیان ما علمتك الا ناصحا فاذا اشرفت علی بلد ایلیاء .

ابي عبیده رضي الله عنه یزید بن ابي سفیان راغواړي نصیحت ورته کوي ورته وایي کله چې
ته د پنځه زره لښکر سره د بیت المقدس ښاریه باندې ورښکاره شوې .

فارفعوا اصواتکم بالتهلیل والتکبیر . اوچت کړي آوازونه په لا اله الا الله سره او په تکبیر
سره دا چغې وهي په ښاریه ورشي **واسألوا الله** او د خدای تعالی نه دعاء ګانې وغواړي .

بجاه نبیه . په جاه د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې .

ومن سکنها من الانبیاء والصالحین .

او په جاه د هغه انبیاء کرامو چې بیت المقدس کې اوسیږي دفن دي او څومره اولیاء
چې دي په دا ټولو اولیاء باندې وسیله ونیسي بیا پرې ورشي :

ان یسهل فتحها علی ایدی المسلمین .

نو مجاهدينو ورونو ته دا په کار دي چې د صحابه وو دا طريقه خپله کړي خپلو اسبابو او ټريننګونو باندې غَره نه شي چې ګني ما جديد ټريننګ ياد کړي زه به په ټريننګ د هغوي مقابله کومه.

اعدوا لهم ما استطعتم.

بنه خبره ده يو ټريننګ په کار دي خو غَره کيدل په ټريننګ نه دي په کار هر وخت کې کفار د مسلمانانو نه په آلات ظاهريه او ټريننګونو کې مقدم وي کوم ټريننګ چې هغوي کړې دي زمونږ د مجاهدينو ټريننګ هغې ته نه شي رسيدلې که د خالق امداد ترې نه لرې شي نو په هرو اسبابو مونږ کمزوري يو خو دا محضې د خالق امداد دي چې ددې عظيم کافر مقابله کې غريب مجاهدين په کمزورو اسبابو باندې جنګيږي خو په کار دا دی چې د صحابه وو طريقه اختيار کړي هر ولايت ته چې ځي په هغه ولايت کې چې معروف اولياء وي که حيات وي که وفات وي د هغوي په ذات دې توسل نيسي بيا دې جهاد کوي.

دا د صحابه کرامو طريقه ده او پنځه زره لښکر تياريږي يزيد بن ابي سفيان ته يې لاس کې ورکوي په طرف د بيت المقدس او اوه زره (۷۰۰۰) لښکر خالد بن وليد مخکې بيولې دي نو دا دولس زره کسان جوړيږي. بيا تعليم ورته کوي چې کله ورننوځي نو تاسې لا اله الا الله وايي الله اکبر وايي او :واسألوا الله بجاه نبيه. وسيله په ذات د نبي ونيسي.

لسم وسيله په قول د حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه:

دا هم فتوح الشام ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۷۶، په دې کې عبدالله بن جعفر دعاء کوي:

فضاق لذلك ذرعه وما نزل به في نفسه مثل ما نزل بالمسلمين فألجأ الى الله تعالى امره فوض الى صاحب السماء شأنه ورفع يديه الى السماء وقال في دعائه يا من خلق خلقه وابلى بعضهم ببعض وجعل ذلك محنة لهم أسألك بجاه محمد النبي صلى الله عليه وسلم الا ما جعلت لنا من امرنا فرجاً ومخرجاً ثم عاد الى القتال واصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يقاتلون معه تحت رايته.

تلك عشرة كاملة

هغه مخکې مرفوع هم لس وه دا هم لس شول.

فهذه اقوال الصحابة رضوان الله تعالى عليهم اجمعين وارائهم الذين قال الله في حقهم والسابقون الاولون من المهاجرين والانصار والذين اتبعوا هم باحسان رضي الله عنهم ورضوا عنه.

مونږ الحمد لله قوي روايات لرو د اسلافو متقدمينو كتب پيش كوو.

دا فتوح الشام څه د پاسه دولس سوه كاله مخكې تير شوې دي ده سره مخكې هم تعصب شوې دي شاه انور شاه صاحب فيض الباري كې وايي علت د جرحې په واقدي څه دي چې دا ډير عمده سړي دي خلك پرې جرحې كوي وايي د هغې وجه دا وه چې دې متمذهب بمذهبٍ نه وه اودا رشتيا يقيني خبره ده چې كله يو پارټي كې نه وي نو هره پارټي به درپسې ښتې وي مخالفت به دې كوي خبرې به درپسې كوي.

هغه وخت سره چې څومره سياسي پارټيانې جوړې وې نو واقدي صاحب يوې سره هم نه وه يو خوا عبد الله بن زبير يا دې نه بعد بنوا عباس وه بل خوا ته بنوا اميه وه دې يو سره هم نه وه د يو جانب علماء دي مجروحه وه چې دې ولې زمونږ ملګرې نه دي د بل جانب علماء هم دي مجروحه وه چې دې ولې زمونږ ملګرې كيږي نه.

لكه اوس پاكستان كې دوه لوي پارټي جوړې دي ديوبند او بريل داد مدرسو نومونه وه اوس خلكو ترې نه مذهبونه جوړ كړل مسلكونه يې ترې جوړ كړل يو خوا وايي مسلك ديوبند زنده باد ، نو ديوبند مدرسه ده مسلك ورته مه وايي.

دا نور وايي مسلك بريل زنده باد ، يو بريلوي ما ته يو خط راليږلي وه هغه كې يې ليكلي وه : واي بريل فصل مميز دي په پاكستان كې او دې علاقو كې چې څوك بريلوي وي نو مسلمان دي اهلسنت دي ګڼې سره اهلسنت نه دي مونږ اهلسنت نه شو دې اهلسنت شو دې شيعه دي اهلسنت شو او مونږ اهلسنت نه شو عجيبه خبره ده ټول بريلويان نه يادوم خو څه خلك بريلويانو كې شيعه ګانو ته كار كوي نو هغې ته بيدار شي.

دلته هم اوس دا كار دي كه ته په ديوبند كې داخل شوې او چغې دې كړې چې ديوبند زنده باد بس بريليان خو دې هسې هم نه مني چې د بزرګي بنكر دې هم وشي خو داده چې هغه ديوبنديان درباندې رد نه كوي وايي ديوبندي دي.

او كه بريلوي شي هم دغسې ده ديوبنديان به دې نه مني ولو كه څومره بزرګ شي هم خو دومره خبره ده چې خپل بريالويان خو به دې تائيد كوي نو جرحه درباندې كيږي.

د باړي حضرت صاحب باندې د جرحې بنيادي وجه دا وه چې هغه به چغې وهلې چې نه ديوبندي يم نه بريلوي يم ديوبنديان يې هم مخالف شول بريالیان يې هم مخالف شول نو اوس چې هغه دا خبره کړي چې نه ديوبندي يم نه بريلوي يم نو کفر خو يې نه دي کړي.

ديوبند او بريل کې ننوتل څه فرض وه يا دا څه عقيده وه يا څه مذهب وه يا څه د طريقت نومونه وه چې خامخا به سړي ځان ته ديوبندي او بريلوي وايي.

خبره يې ډيره ښه کړې وه خو اوس خبره يې داسې وکړه چې ديوبندي يې هم دشمن جوړ شو چې ولې ديوبندي ځان ته نه وايي او بريلوي يې هم دشمن جوړ شو چې ولې بريلوي ځان ته نه وايي. نو چې ما فيض الباري کې د امام واقدي په باره کې دا وليدل چې دې متمذهب بمذهب نه وه دې به يوه ډله کې ننوتو نه ځان ته به مستقل وه چې ډلې به يې وليدې چې سياسي به وي که هر څه به وي دې به يو طرف ته شو ترې نه.

بس د هغه ټولو مقابل کې به شو نو هر چا به پرې اعتراض کوه نو امام واقدي باندې لويه وجه د جرحې دا ده چې دده ملګرې به نه وه. او ما باندې هم دا جرحې ډيرې دي وجه يې همدغه ده چې زه نه ديوبندي يم او نه بريلوي يم نو دوي دواړه جرحې کوي چې ته بريلوي يا ديوبندي ولې نه يې چې ديوبند کې څه چل دي نو زه خو نه وايم چې څه چل دي په کې يا ديوبنديان بد خلک دي خو زه نه يمه په کې.

بس زه ديوبند ته مسلک نه وايم نو ديوبندي نه يم او که د نسبت خبره شي چې استاذان دې څوک دي استاذان مې د ديوبند علماء پاتې شوې هغه نسبت جدا خبره ده کله به يې سړي کوي يو شيخ ته نسبت ځان ته به سيفي وايي کله به يې يو استاذ ته کوي ديوبندي به ځان ته وايي کله به يې امام د مذهب ته کوي حنفي به ځان ته وايي دا بيله خبره ده خو دا چې دې زمانه کې ترې خلکو مسلک جوړ کړ او دا يې کړه چې خامخا مسلمان يې ديوبندي به يې که ديوبندي نه يې نو مسلمان به نه يې. بس مونږ اوس دې ته مجبور شو چې چغې کړو چې مونږ ديوبنديان نه يو اخوا بريالیانو دا فصل مميز جوړ کړه چې بريلي نه يې نو مسلمان د سره نه يې هغوي هم دې ته مجبور کړو چې ووايو مونږ بريلويان نه يو نه مې استاذ بريلوي دې نه مې شيخ بريلوي دي نه مې د بريل په مدرسه کې سبق ويلې دي نو زه په کومه معنی ځان ته بريلوي ووايمه.

المبحث الخامس : تحقيق الوسيلة عند عامة المصنفين والمحدثين والفقهاء الحنفين :

د احنافو فقهاء د اقوالو په رڼا کښې د وسيلې ثبوت :

مجمع الانهر في شرح ملتقى الأبحر جلد ۳ صفحه ۴۳۹ دي د بعضې علماء پسي ا...
...وامو پسې چې هغوي د مسخرو په مجالسو کې غيبتونو وغيره وو کې مصروف وي.
او فرق د خواصو د عوامو سره په مجلس کې نه کيږي په دغه شان ته خواصو رد کوي...
...فاظ يې دادی :

ثم يشتغلون طول النهار بالسخرية والغيبة والوقوع في الناس وغيرها مما يستحقون به...
بيا لا مشتغل وي ټول ورځ په مسخرو غيبتا او د خلکو په حالاتو کې.
اوس آخر کې دې ذعاء ورته کوي :
اصلحهم الله تعالى. خدای دې دغه علماء صالحه کړي.
اصلحهم الله تعالى وايانا بجاه نبيه.
مونږ دې يو ټکي نه اخذ کوو دا چې فقهي حنفي دي بالفعل په خپله په ذات د نبي...
...عليه السلام وسيله نيسي.
حاشيه رد المختار جلد ۴ صفحه ۲۹۴ :
دام في عز وانعام ومجد واحترام بجاه من هو للأنبياء ختام واله وصحبه السادات الكرام...
صاحب متن يادوي خدای تعالی دی په عزت په انعاماتو په بزرګي او احتراماتو کې...
...ساتي.

بجاه من هو للانبياء ختام. په جاه د هغه ذات باندې چې هغه د ټولو انبياء ختم دي او...
...په جاه د اهل د هغه باندې او په جاه د تمامو صحابه وو باندې چې هغه سادات الکرام دي.
نو دا توسل دي په نبي عليه السلام او په ال د هغه او په ټولو صحابه کرامو باندې.
دارنګې الدر المختار جلد ۱ صفحه ۸۴ دا هم په دې ابتداء کې دعاء کوي :
فلسأل الله تعالى التوفيق والقبول بجاه الرسول.

دارنګې مراقي الفلاح جلد ۱ صفحه ۲۱۸ دعاء کوي :

نسأل الله تعالى من فضله العفو والعافية بجاه سيدنا محمد ﷺ .

دارنګې په آخره کې بيا مراقي الفلاح جلد ۱ صفحه ۲۹۶ بله دعاء کوي :

وفقنا الله تعالى بفضله ومَنّ علينا بالعود الى احسن حال اليه بجاه سيدنا محمد ﷺ .

دارنګې فتح القدير جلد ٦ صفحه ۲۴۹ د حج په باب کې فتح القدير مديني منورې ته چې لاړ شي تا ته الفاظ د دعاء ښايي ته به هلته څه وايي :

يا رسول الله اسئلك الشفاعة يا رسول الله اسئلك الشفاعة واتوسل بك الى الله في ان اموت على ملتك وسنتك .

وايي دا طريقه به هلته اختيار وي باقي دې که کوم ضروريات وي نو بيا طريقه درښايي.

اسأل الله تعالى حاجته .

خومره حاجتونه چې دي وي د خالق نه هلته دعاء وغواړه متوسلاً الى الله بحضرة نبيه عليه الصلاة والسلام .

دارنګې بحر الرائق جلد ۱ صفحه ۴ :

واسأله سبحانه وتعالى متوسلاً اليه بمن صلاته عليه تتوالى ان يلهمني الصواب وان يسلك بي سبيل السداد .

سوال کوم د باري تعالى نه په حال کون زما کې چې وسيله نيوونکي يم ده ته.

بمن صلاته عليه تتوالى .

چې هميش پرې درود په کار دي چې ما ته د صواب او حقې لارې القاء وکړي.

همدغه صفحه کې وروسته نوره دعاء کوي وايي :

وكما احسن لي المبدأ يحسن لي الختام بحرمة نبيه عليه الصلاة والسلام .

لکه اوله ابتداء ما ته ښکلي کړه غواړم ورنه دا چې ما ته ختم د کتاب هم حسن کړي د

نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خاطر سره .

دارنګې رد المختار جلد ۱ صفحه ۱۹۶ :

وكذا يقول اسير الذنوب جامع هذه الاوراق راجيا من مولاه الكريم متوسلاً بنبيه العظيم وبكل ذي جاه عنده تعالى ان يمن عليه كرماً .

مصنف په خپله لګيا دي وايي هغه څوک چې ګناهو کې راګير دي .... څوک دي چې جامع ددې اوراقو دي هغه څوک دي چې اميد ساتي مولا کريم لره هغه څوک دي چې وسيله ورته په نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره نيسي دارنګې وسيله نيسي بکل ذي جاهٍ عنده تعالى .

دارنګې حاشيه ردالمختار جلد ۱ صفحه ۴ :

واني اسأله تعالى متوسلاً اليه بنبيه المكرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وباهل طاعته من كل ذي مقام علي معظم وبقدوتنا الامام الاعظم .

سوال ورته کوم په حال کون زما کې چې وسيله ورته نبي عَلَيْهِ السَّلَام پيش کومه وسيله ورته کل د طاعاتو والا تابعدار خلک پيش کومه چې لوي مقام لري .

وبقدوتنا الامام الاعظم متوسلاً اليه بنبيه ومتوسلاً اليه بقدوتنا الامام الاعظم ان يسهل علي ذلك من انعامه .

دايې دعاء ده .

شرح غرر الحکم جلد ۲ صفحه ۲۴۳ :

دارنګې درر الحکام شرح غرر الحکام جلد ۳ صفحه ۲۴۳ :

والله سبحانه وتعالى اسأل وبنبيه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتوسل ان ينفعني والمسلمين به النفع العميم .

سوال د باري تعالى نه کوم وسيله ورته نبي عَلَيْهِ السَّلَام پيش کوم چې نفعه راکړي په دې کتاب ما لره او عامه مسلمينو ته .

دارنګې طحطاوي جلد ۲ صفحه ۸ :

روى سعيد بن منصور وثمرة ابن حبيب وحكيم بن عمير قالوا اذ سوي على الميت قبره .

کله چې مړي باندې د هغه قبر برابر کړي شي .

وانصرف الناس. خلک راو ګرځیږي .

كانوا يستحبون. دوي مستحبه ګڼله .

ان يقال للميت عند قبره. چې مړي قبر کې کیخودلې شي او دې مړې ته وویلې شي:

يا فلان قل لا اله الا الله ثلاث مراة .

دا تلقين دي داد بره نه کیږي هغه دفن شوې دي .

يا فلان قل لا اله الا الله ثلاث مراة يا فلان قل ربي الله وديني الاسلام ونبي محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللهم اني اتوسل اليك بحبيبك المصطفى ان ترحم فاقني بالموة الاسلام والايمان وان تشفع فينا نبيك عليه افضل الصلاة والسلام .

دارنګې مراقي الفلاح جلد ١ صفحه ٢٩٨ دې کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام او د يارانو د سلام طريقه بنايي يارانو ته به ودريږي وايي به :

السلام عليكما يا ضجيعي رسول الله ورفيقيه ووزيريه ومشيريه والمعاونين له على القيام بالدين والقائمين بعدأ بمصالح المسلمين جزا كما الله احسن جزاء جئنا كما نتوسل بكما ال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليشفع لنا ويسأل الله ربنا ان يتقبل سعينا .

باقي نوره دعا هم شته .

دارنګې فقه العبادات جلد ١ صفحه ٢٠٧ دې کې هم د زيارت طريقه دربنايي :

يارسول الله نحن وفدك وزوار قبرك جئناك قاصدين قضا حقك والتيمن بزيارتك والاستشفاع بك الى ربنا.

آخره کې به وايي :

الشفاعة الشفاعة الشفاعة يارسول الله .

که چا سلام ورکړې وي هغه به پيش کړي .

يبلغه السلام من اوصى فيقول السلام عليك يا رسول الله من فلان بن فلان يستشفع بك

الى ربك فاشفع له و لجميع المسلمين .

دارنگې مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر جلد ۹ صفحه ۴۴۰ :

اللهم اجعله لي ذخراً نافعاً وخيراً باقيا .

يا الله وګرځوي دا کتاب زما د پاره د خير ذريعه نافعه خير باقي .

بحرمة جميع الانبياء والمرسلين . په حرمت د ټولو انبياء او رسولانو باندې .

خصوصاً بحرمة حبيبك محمد ن المصطفى .

خاصتاً په حرمت د حبيب ستا چې محمد مصطفى ﷺ دې .

دا ټول چې ما ذکر کړل بالفعل توسلات د فقهاو دي بالفعل يې په کتبو کې نيولې دي د يو چا قول يې نه دي نقل کړي نو دوي بالفعل توسلات نيولې دي .

دارنگې نور الايضاح صفحه ۸٦ د روضې مبارکې د سلام طريقه درته بنائي :

جزا كما الله احسن الجزاء جئنا كما نتوسل بكما الى سيدنا رسول الله ﷺ ليشفع لنا ويسأل الله ربنا ان يتقبل سعينا و يحيينا على ملته ويميتنا عليها ويحشرنا في زمرته ثم يدعو لنفسه ولوالديه ولمن اوصاه بالدعاء ولجميع المسلمين .

دارنگې فتاوى عالمگيري جلد ٦ صفحه ۴۱۱ طريقه د زيارت د روضې درته بنائي :

جزا كما الله احسن الجزاء جئنا كما نتوسل بكما الى رسول الله ﷺ ليشفع لنا .

اى يارانو تاسو ته راغلي يم دې د پاره چې تاسو زما سفارش نبي عليه السلام ته وکړي مونږ تاسې وسيله کې پيش کوو چې هغه زمونږ شفاعت وکړي .

دې نه وروسته د فقه حنفي نه د يو اعتراض جواب چې مخکې مونږ ورته اشاره کړې وه چې :

کره ان يسئل بحق فلان .

يا : لا ينبغي ان يسئل بحق فلان .

هدايه کې لفظ د کره راځي او بعضې کتب لفظ د لا ينبغي ذکر کوي نو د هغې تطبيق دا دی چې کره محمول کړه په کراهيت تنزيهي باندې نو د جواز ترجمه ترې کيږي دليل

وربانديې لفظ د لاينبغي د فقهاو شو او کومو فقهاو چې جواز ويلې دي او چا مکروه ويلې دي تطبيق به يې داشي چې په حق د عوام الناس کې لفظ د حق استعمالول دي مکروه شي.
توسل پنځه الفاظ لري:
نتوسل اليك (۱) بجاه فلان. (۲) بحق فلان. (۳) بحرمة فلان. (۴) بوسيلة فلان (۵) بفلان.
نو دا لفظ د حق دي په حق د عوامو کې مکروه هله شي فرق نه شي کولې په مينځ د حق وجوبي او تفضلي کې او کومو فقهاو چې جائز ګڼلي دي په حق سره سوال هغه دي محمول شي په حق د خواصو کې چې علماء او مشائخ دي چې هغوي پوهيږي د تفضلي او حق وجوبي فرق کولې شي اصلاً لکه څنګه چې امام ترمذي ليکي چې فقهاء مجتهدين عالمين دي بمعاني الحديث نو دا شان فقهاء اصحاب الفتياء متاخرين فقهاء دوي اعلم دي په اقوالو د فقهاء سابقينو باندې زمونږ نه سلفو کې د يو فقيه قول پيدا شي خلف کې بيا ګوره چې هغه فقهاء دي باره کې څه وايي.
طحطاوي جلد ۲ صفحه ۳۹۴ دغه اعتراض نقلوي چې هدايه کې دا راغلي دي:
مکروه دي سوال بحق الغير هغه حديث د ضرير البصر پيش کوي:
اني توجهت بك الى ربي.
بيا وايي:
يشكل هذا على ما انه قالوه يكره للرجل ان يقول.
اشکال واقع شو په دې روايت کې په هغه قول د فقهاء باندې چې وايي مکروه دي سړي ته چې ووايي: **اللهم اني اسألك بأنبيائك.**
طحطاوي صاحب وايي:
واجيب. زه جواب ورکوم.
بان السماء خص هذا، شريعت په حق د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې دا دعاء خاص کړې ده.
يو جواب يې دا وکړو چې **اسألك بانبيائك** دا نور انبياء يادوي او زمونږ شريعت سوال

بحق النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لکه رواياتو کې تير شو ثابت کړې دي نو دا جائز دي.

والحق عدم الخصوصية. حق دا چې خاص هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې نه دي.

لما ورد في استسقاء عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بالعباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

هغه د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په استسقاء کې په عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ توسل نيولې دي نو توسل تر انبياء خاص نه شو صلحاء هم پيش کيږي.

وما قيل في وجه الكراهية انه لا حق لاحد على الله فيه نظر.

چا چې دا وجه ويلې دي چې مکروه ځکه دي چې د مخلوق په خالق حق نشته. فيه نظر په دې کې اعتراض دي.

لان للعباد المخلصين عليه حق. د مخلصو عبادو خالق باندې حق شته.

فضلاً منه وكرم. حق تفضلي خو شته کنه حق وجوبي نشته.

نو دغه عباراتو باندې زمونږ نورو فقهاو هم اعتراضونه کړي دي او ما تطبيق وکړو چې حق وجوبي نشته حق تفضلي خو شته دي.

په بخاري کې دا حديث موجود دي:

من آمن بالله و برسوله واقام الصلاة واقام رمضان كان حقا على الله ان يدخل الجنة.

او دارنګې:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلاً إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (سورة روم آيت: ٤٧)

نو حق خدای تعالى د مخلوق په ځان ثابت کړې دي خو حق تفضلي وجوبي نشته دغه لفظ کې شبهه چې د وجوب د حق ده او د مخلوق په خالق وجوبي حق نشته دې نه بعضې فقهاء محققين دي لفظ ته مکروه ويلي دي شرک او کفريې ورته نه دي ويلې او مکروه هم تنزيهي ځکه د لفظ د لاينبغي نه پته لږي.

دارنګې رد المختار جلد ۲۷ صفحه ۴ باندې ذکر کوي:

كره قوله بحق رسولك.

دعاء بحق رسولك مكروه دي او دې وايي:

وفي التاتارخانية: جاء في الآثار ما دل على الجواز.

فتاوى تاتارخانيه دا ذكر كړې دي په حديثو كې هغه روايات چې دليل د جواز دي او دا مونږ مخكې پيش كړي په حق سره دعاء شوې ده.

لانه لا حق للخلق على الخالق.

چا چې مكروه ويلي دا دليل يې ويلې وايي د مخلوق په خالق حق نشته.

قد يقال انه لا حق لهم وجوباً على الله.

ويلې شي جواب كې چې وجوبي حق نشته.

لكن الله سبحانه تعالى جعل لهم حقاً من فضله.

فضلي حق يې ځان لپاره ثابت كړې دي يا دې داسې وشي چې چا سؤال بحق الرسول ويلي مراد دي له حق نه الحرمة والعظمة حرمة فلان دي ترې مراد شي.

فيكون من باب الوسيلة.

دا به وسيله شي.

قد عد من آداب الدعاء التوسل.

شمار كړي دي علماء له آدابو د دعاء نه وسيله نيول.

دارنګې رد المختار جلد ٢٧ صفحه ٥ د امام سبكي قول نقلوي دا معصر د ابن تيميه دي:

قال السبكي يحسن التوسل بالنبي الى ربه.

نبي عليه السلام باندې وسيله رب كريم ته ښه كار دي.

لم ينكره احد من السلف ولا خلف، الا ابن تيمية فابتدع ما لم يقله عالم قبله.

سلفو او خلفو كې دې نه چا انكار نه دي كړي مګر ابن تيميه نوي قول يې پيدا كړې دي

نه مخکې چا پرې قول نه وه کړې.

دارنګې بحر الرائق چې کوم معرب دي جلد ۲۲ صفحه ۲۰۸ هغې کې هم د بحق فلان دعاء چې کوم ورته مکروه ویلې شوې د هغې وجه بیانوي ځکه د مخلوق په خالق حق نشته.

البته انما يخص برحمته من يشاء من غير وجوب عليه.

بعضې عباد مختاره وي حق وجوبي نه ورکوي.

المبحث السادس : تحقيق الوسيلة في ضوء أقوال الفقهاء الشافعين:

اعانة الطالبين جلد ۱ صفحه ۲۹ :

فنسأله سبحانه وتعالى ان يمتعنا واهلنا واحبابنا وسائر المسلمين بالنظر الى وجهه الكريم بجاه نبيه عليه افضل الصلوة واتم التسليم.

سوال د خدای تعالی نه کوو چې مونږ ته راکړي اهل زمونږ احبابو ټولو مسلمانانو ته ورځ د قیامت کې دیدار خپل په خاطر د نبي عليه السلام.

دغه کتاب کې مصنف علامه دمياطي جلد ۱ صفحه ۱۵۲ کې بله دعاء کوي :

رزقنا الله الاخلاص والنجاة حين لامناص وجعلنا من عباده الصالحين بجاه سيدنا محمد افضل الخلق اجمعين.

همدغه کتاب اعانة الطالبين جلد ۱ صفحه ۳۱۳ کې بله دعاء کوي :

ارجو الله الكريم المنان بجاه سيدنا محمد سيد وُلد عدنان ان يرزقنا رضاه وان يصحح منا ما افسدناه ان يمن علينا بقربه.

د الله نه امید ساتم هغه منان دي په جاه د سردار خپل چې هغه سید وُلد عدنان دي چې راکړي مونږ ته رضا خپله مونږ چې کوم فساد دین کې جوړ کړي هغه خپله صالحه کړي په خپل قربت باندې په مونږ احسان وکړي.

بیا اعانة الطالبین جلد ۲ صفحه ۷۸ کې بله دعاء ذکر کوي :

رزقنا الله التقوى والاستقامة واعاذنا من موجبات الندامة بجاه سيدنا محمد المظلل بالغمامة.

دارنګې اعانة الطالبين جلد ۲ صفحه ۱۰۷ کې ذکر کوي:

واعاذنا من العجز والكسل عن مواظبته بجاه سيدنا محمد ﷺ وآله وصحبه.

دارنګې اعانة الطالبين جلد ۲ صفحه ۱۶۴ کې بله دعاء ذکر کوي:

نسأل الله أن يمن علينا بالشهادة ويمنحنا الحسنى وزيادة ويرزقنا التقوى والاستقامة بجاه سيدنا محمد ﷺ المظلل بالغمامة.

دارنګې همدغه کتاب جلد ۲ صفحه ۲۸۹ کې بله دعاء ذکر کوي:

فنسأل الله الكريم المنان أن يجعلنا ممن حافظ على حدود صيام رمضان ففاز بالفردوس والجنان والقصور والحور العين والحسان بجاه سيد ولد عدنان.

دادده د دعاء الفاظ دي دا څو ځایه ده په خپل کتاب کې توسل په ذات د نبي عليه السلام نيولي دي.

دارنګې حواشي الشرواني جلد ٦ صفحه ۳۸۱ کې:

وأسأله تعالى الاعانة الاتمام بجاه محمد سيد الانام.

د الله نه مدد غواړم په اتمام د کتاب په جاه د محمد ﷺ.

دارنګې حواشي الشرواني جلد ۸ صفحه ۴۳۲ کې ذکر کوي:

نسأله حسن الختام بجاه سيدنا محمد عليه وآله وصحبه الصلاة والسلام.

دارنګې نهاية المحتاج الى شرح المنهاج د امام نووي د منهاج شرحه ده جلد ۱ صفحه ۳ کې دعاء ذکر کوي:

ونفعنا والمسلمين ببركته بجاه محمد وآله وعترته.

الله پاک دي نفعه راکړي مونږ ته او مسلمانانو ته په برکت دده سره يو عالم ته اشاره کوي په جاه د محمد ﷺ په وسيله د آل دده په وسيله د عترة د هغه.

دارنګې جلد ۱۷ صفحه ۴۷۱ کې هم دعاء کوي:

حرسها الله تعالی من کل سوء بجاه محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دارنګې جلد ۱۹ صفحه ۱۴ کې هم دعاء کوي :

واسأله الاعانة علی الاتمام بجاه محمد سید الانام ومصباح الظلام .

دارنګې جلد ۲۹ صفحه ۴۷۷ کې هم دعاء کوي :

والله اسأل وبرسوله أتوسل .

دارنګې حاشیة الجمل جلد ۳ صفحه ۴۹۳ کې دا ذکر کوي :

آدم فمن بعده من الانبیاء کل منهم یتوسل به الی الله سبحانه وتعالی .

آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ او د هغه نه وروسته ټول انبیاء چې دي دا ټول توسل نیسي خدای تعالی ته په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې .

دارنګې حاشیة البجیرمي علی الخطیب جلد ۵ صفحه ۴۸۸ ددې ځای شرحه کوي :

انا نتوسل الیك بعم نبیك فاسقنا وحکمة توسله به دون النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

د عمر فاروق رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ د غه ځای کې وسیله په تره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

مع انه اعظم وسیلة حیاً ومیتاً .

سره ددې چې اعظمه وسیله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي که دنیا کې وي که برزخ کې دي نو وایي حکمت دې کې :

الاشارة الی رفعة قرابة رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقربهم من الله .

دا یې خلکو ته خوده چې خپلوان او خپلولي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا قرابت ددوي شان هم اوچت دي .

دارنګې المجموع شرح المهذب د امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ جلد ۸ صفحه ۲۷۴ مدینه منوره کې چل دربنایي :

ثم یرجع الی موقفه الاول قبالة وجه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخ مبارک چې کوم طرف ده هغه ځای ته به راشي وبه دریږي .

ویتوسل به في حق نفسه ویستشفع به الی ربه سبحانه وتعالی .

وسیله به ونیسي په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ځان باره کې او شفاعت کې به دي پیش کړي.
بیا واقعه ذکر کوي چې دلته به څه وایي :
ومن احسن ما یقول ما حکاه الماوردي والقاضي ابوالطیب وسائر اصحابنا عن العتبي مستحسنین له قال کنت.
احسن هغه دي چې دلته ووایي هغه الفاظ چې ماوردي قاضي ابوطیب او ټولو ائمه وو زمونږ د عتبي نه روایت کړي مستحسنین له سند یې حسن دي.
قال کنت جالساً. عتبي وایي زه ناست وم.
عند قبر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. روضې سره.
فجاء اعرابي. یو بدوي راغې.
فقال السلام علیك یا رسول الله سمعت الله یقول ولو انهم اذ ظلموا انفسهم جاءوك فاستغفروا الله واستغفر لهم الرسول لوجدوا الله توابا رحیماً، وقد جئتك مستغفراً من ذنبي مستشفعاً بك الی ربي ثم انشأ یقول:

یا خیر من دُفنت بالقاع أعظمه	فطاب من طیبهن القاع والأکم
نفسي الفداء لروضٍ أنت ساکنه	فیه العفاف وفیه الجود والکرم

د شعر ترجمه : یا هغه څوک ځمکې او ډاګونو د هغه وجود د فن کړي دي ای غوره هغه چا چې د هغه د خوشبوي نه دغه علاقه ټول کورونه ډاګونه او چتې غونډې ګانې ټولې خوشبوي دي.
کوم ځای کې چې تاسو یاستې هغې نه مې دا ځان قربان شه په هغې کې عفاف دي په هغې کې کرم دي په هغې کې جود دي.
ثم انصرف، دا اعرابي لاړ، امام عتبي وایي:
فحملتني عیناي، ستر ګې مې پټې شوې.
فرأیت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في النوم. په خوب کې مې نبي علیه وسلم ولید،

فقال : وي ویل : یاعتبي الحق الاعرابي ، ای عتبي پاځه لاړ شه اعرابي ته ، فبشره ، زيري ورکړه :

بان الله تعالی قد غفر له .

امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ په مجموع شرح مهذب کې دغه ځای کې دا لیکي چې احسن الفاظ روضې سره چې څوک ووایي دا الفاظ دي :

یا خیر من دُفنت بالقاع أعظمه | فطاب من طیبهن القاع والأکم

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ﴾. سورة نساء پاره ۵ .

په دغه ځای باندې تفسیر ابن کثیر دا الفاظ او د عتبي دا واقعه یې نقل کړې ده دغه واقعه د عتبي او اعرابي حاشیة الجمل ذکر کړي جلد ۹ صفحه ۳۵۶.

تفسیر ثعلبي را اخیستې جلد ۱ صفحه ۳۲۴

او تفسیر ابن کثیر را اخیستې جلد ۲ صفحه ۳۴۷

معجم ابن عساکر را اخیستې جلد ۱ صفحه ۳۶۳

شرح الکبیر د ابن قدامه را اخیستې جلد ۳ صفحه ۴۹۴

تفسیر الوسیط لسید طنطاوي جلد ۱ صفحه ۹۸۵

مغني د ابن قدامه ذکر کړي جلد ۷ صفحه ۴۲۰

المبدع شرح المقنع ذکر کړي جلد ۴ صفحه ۲۵۱

د امام عتبي رَحِمَهُ اللَّهُ دغه واقعه چې زه ناست وم اعرابي راغې دا الفاظ او دا اشعار یې وویل ما ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوب کې وویل چې ښبنه ورته شوې ده زیرې ورکړه .

دارنګې الحاوي الکبیر د ماوردي جلد ۴ صفحه ۵۴۴ دې کې د رحمت عالم د زیارت او سلام ذکر کوي او بیا همغه واقعه ذکر کوي :

فاما زیارة قبر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فمأمور بها ومندوب الیها .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د روضې سلام مامور بها دي او د امندوب دي .

روی عبید الله عن نافع عن ابن عمر عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال من زار قبري وجبت له شفاعتي . بیا همغه قصه د عتبي ذکر کوي .

المبحث السابع : تحقيق الوسيلة في ضوء أقوال الفقهاء المالكين:

شرح مختصر خليل جلد ۱ صفحه ۲۴۳ دعاء كوي :

والحمد لله الكريم الوهاب العطايا ومسبب الاسباب نتوسل اليك بجاه الحبيب ان تبلغ المقاصد عن قريب فانك قريب مجيب .

دا يې دعاء ده او په دې کې الفاظ د توسل دي .

دغه كتاب جلد ۹ صفحه ۱۴۰ کې بيا تصريح ذكر كوي :

واما التوسل ببعض مخلوقاته فجائز .

وسيله په بعضې مخلوق جائزه ده .

اما الاقسام على الله تعالى في الدعاء ببعض مخلوقاته كقوله بحق محمد اغفرلنا فخاص به ﷺ .

اقسام خاص دې تر نبي عليه السلام خالق ته په مخلوق قسم وركول وايي دا خاص دې تر نبي عليه السلام په نبي عليه السلام وركولې شي په بل چا يې نه شي وركولې .

مسئله د اقسام جدا ده له توسل نه څوک چې وايي روح المعاني کې په توسل رد کړې وايي هغه رد په اقسام باندې دي په توسل نه دي توسل کې خو خپله وايي :

انا لا أرى بأساً في التوسل الى الله تعالى بجاه النبي ﷺ عند الله تعالى حياً وميتاً.

توسل ناجائز نه ګڼي اقسام ناجائز ګڼي يا الله د فلاني پيغمبر په ذات قسم درکوم چې زما دا مشكل پوره كړه .

اودا حق چې كوم ده كه دا حق دې وجوبي كړ هم د اقسام الفاظ دي بيانو دې کې بيا اختلاف دي څوك اقسام خالق ته په مخلوق مطلقاً ناجائز ګڼي توسل جائزِ اقسام ناجائز .

څه علماء د مواليكو نه او زمونږ د احنافو نه قاضي عبد السلام دوي چې كوم دي اقسام په ذات د نبي عليه السلام فقط جائز ګڼي او په بل چا يې ناجائز ګڼي .

حاشية الصاوي على شرح الصغير جلد ۱۱ صفحه ۳۶۰ د خپل كتاب د فراغ ذكر كوي :

وکان الفراغ من تبییضه غرة ربیع الاول ونسأل الله ان یفرج کرب آل بیت نبینا

المؤمنین انه لطیف کریم حلیم بجاه جدهم سید المرسلین علیه افضل الصلوة واتم التسلیم .

منح الجلیل شرح مختصر الخلیل جلد ۱۶ صفحه ۱۱ دعاء کوي :

ونسأل الله تعالی التوفیق للصواب وان یسلك بنا الزلفی وحسن مآب بجاه سیدنا محمد

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعلی آله والاصحاب .

مذکور کتاب جلد ۹ صفحه ۱۴۰ کې بیا ذکر کوي :

اما التوسل ببعض مخلوقاته فجائز واما الاقسام علی الله تعالی فخاص به صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حاشية الصاوي على شرح الصغير جلد ۳ صفحه ۴۴۶ مدینه منوره کې د سلام طریقه

دربنایي :

ثم یأتي قبالة القبر الشریف ویقول السلام علیك یا سیدي یا رسول الله السلام علیك یا

سیدي یا حبیب الله السلام علیك یاسیدي یا اشرف رسل الله السلام علیك یا امام المتقین

السلام علیك یا رحمة للعالمین اشهد انك رسول الله بلغت الرسالة وادیت الامانة ونصحت الامة

وکشفت الغمة وجلیت الظلمة ونطقت بالحکمة صلی الله علیك وعلی آلك واصحابك اجمعین ثم

یتوسل به في جمیع مطلوباته .

ثم ینتقل قبالة قبر أبي بکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویقول السلام علیك یا خلیفة رسول الله السلام

علیك یا صدیق رسول الله أشهد انك جاهدت في الله حق جهاده جزاك الله عن امة محمد خیراً رضی

الله عنك وارضاك وجعل الجنة متقلبك ومثواك ورضي الله عن کل الصحابة

أجمعین ثم یتوسل به إلی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

بیا به ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وسیله کړي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره .

حاشية العدوي على شرح كفاية الطالب الرباني جلد ۱ صفحه ۱۲ ذکر کوي :

قوله بمحمد وآله . ددې شرحه کوي :

وآله طاهرة ولو عصاة .

په آل د نبي عَلَيْهِ‌السَّلَام كې شمارل كيږي اگر كه گنهكار وي .

ولامانع من التوسل بآله ولو عصاةً لانهم بضعةٌ منه لان المراد بهم اقاربه من بني هاشم.

همدغه كتاب جلد ۸ صفحه ۳۲۷ خپله دعاء كوي :

والله سبحانه وتعالى المسؤل ان يوفقنا للاقبال على امتثال مأموراته والاحتجام عن ارتكاب محظوراته ويلهمنا ما يقرب من اجره وثوابه ويباعدنا من سخطه وعقابه بمحمد وآله وصحبه وصلى الله على سيدنا محمد النبي الامي وعلى آله واصحابه وسلم .

دارنگې مواهب الجليل شرح د مختصر شيخ خليل جلد ۹ صفحه ۱۸۰ دې كې دا مسئله ذكر كوي چې :

ان يقسم على الله ببعض مخلوقاته .

نو وايي دا :

فان القسم بها تعظيم لها نحو قولک.

دا قول چې :

بحق محمد يغفر لنا ونحوه .

دا څنگه دي .

نو په اقسام كې بعضې علماو توقف كړي دي او بعضې علماو جواز وركړې دي.

دارنگې ددغه كتاب جلد ۹ صفحه ۱۸۳ كې استسقاء ذكر كوي :

في أسئلة عز الدين بن عبد السلام هغه مخكې چې ذكر شو دا هغه عبد السلام نه دي.

هل يقسم على الله في دعائه بمعظم من خلقه كالنبي والولي والملك او يكره .

قسم على الله په دعاء كې بمعظم خلقه څنگه دي لكه نبي ولي ملک أويكره اويامكروه دي .

فاجاب . جواب يې وركړې .

في بعض الاحاديث انه عَلَيْهِ السَّلَامُ علم الناس الدعاء فقال: اللهم اني اقسم عليك بنبيك محمد نبي الرحمة فان صح هذا فينبغي ان يكون مقصورا عليه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نو دا اقسام تر هغه پورې خاص شو بل چا باندې نه شي کيدې.

بيا وروسته وايي:

قلت وهذا كله توسل وهو.

عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وغيره چې نيولې دا توسلات دي.

غير القسم والقسم ان يقول اقسمت عليك بنبيك محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او عليك بنبيك او اقسم عليك به كما في الحديث الذي ذكره اما التوسل فظاهر أنه جائز.

المبحث الثامن: تحقيق الوسيلة بأقوال الفقهاء الحنابلة:

الفروع لابن مفلح حنبلي جلد ۳ صفحه ۱۵۲ کې تصريح کوي:

ويجوز التوسل بصالح. جائز دي توسل په نيک سړي باندې.

وقيل يستحب. چا ويلي مستحب دي.

د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ قول پيش کوي:

قال أحمد في منسكه الذي كتبه للمروذي انه يتوسل بالنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في دعائه وجزم به في المستوعب وغيره.

دارنګې الانصاف جلد ۴ صفحه ۱۷۸:

ويجوز التوسل برجل الصالح على الصحيح من المذهب.

خپل مذهب حنبلي يادوي صحيح د مذهب حنبلي نه داده چې توسل په نيک سړي جائز دي.

قيل يستحب قال الامام احمد في منسكه الذي كتبه للمروذي يتوسل بالنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في دعائه وجزم به في المستوعب وغيره.

وهو من الوسيلة المأمور بها في قوله تعالى اتقوا الله وابتغوا اليه الوسيلة.

دارنګې کشاف القناع عن متن الاقناع جلد ۴ صفحه ۲۴۹ :

لا بأس بالتوسل في الاستسقاء بالشيوخ والعلماء المتقين وقال في المذهب.

زمونږ مذهب حنبلي دادی :

يجوز ان يستشفع الى الله برجل صالح قيل يستحب قال احمد في منسكه الذي كتبه للمروذي انه يتوسل بالنبي ﷺ في دعائه وجزم به في المستوعب وغيره.

دارنګې مطالب اولى النهى في شرح غاية المنتهى جلد ۴ صفحه ۲۴۹ :

وكذا ابيح التوسل بصالحين على الصحيح من المذهب قاله في الانصاف وقيل يسن قال الامام احمد في منسكه الذي كتبه للمروذي انه يتوسل بالنبي ﷺ في دعائه.

دارنګې المبدع شرح المقنع جلد ۲ صفحه ۴۱۹ :

قال في المذهب ويجوز ان يستشفع الى الله برجل صالح قيل يستحب قال احمد في منسكه الذي كتبه للمروذي يتوسل بالنبي في دعائه.

دارنګې الفروع د ابن مفلح ج ۳ صفحه ۱۵۲ :

قال ابراهيم الحربي: الدعاء عند قبر معروف الترياق المجرب.

اوس دا چې ابراهيم حربي څوک دي.

كان ابراهيم الحربي من معاصريه احمد بن حنبل توفى بعده اربعين سنة.

څلويښت كاله وروسته ترې وفات شوې.

كان من جملة المحدثين الثقات بل هو من المجتهدين وذكر في ترجمته انه يشبه بأحمد بن حنبل.

بلكل د احمد بن حنبل نمونه وه په حديثو كې په فقه كې په نورو علومو كې.

المبحث التاسع : تحقيق الوسيلة عند عامة المصنفين من المفسرين والمحدثين والفقهاء :

دا باب مې دې لپاره لرولي چې د هغه مصنف متعلق تيقن د تمذهب بمذهب نه وي د يو محدث يو مفسر باره کې تيقن نه وي چې دا کوم مذهب نه دي بس عام مفسرين محدثين او فقهاء مې ذکر کړه .

تفسير قرطبي جلد ۸ صفحه ۲۴۰ معروفه داده چې دا مالکي مذهبي ده ځکه د موالکو امامانو نه تعبير کوي په اصحابنا سره .

دعاء کوي :

فجعلنا اخوانه ان اتقينا الله واقتفينا اثاره حشرنا الله في زمرته ولا حاد بنا عن طريقته وملته بحق محمد واله .

دعاء يې په حق د نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ سره کړې ده .

تفسير روح المعاني جلد ۴ صفحه ۴۷۵ :

وبعد هذا كله انا لا أرى بأساً في التوسل الى الله تعالى بجاه النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ .

تحقيق نه بعد زه باک نه ګڼم وسيله خدای تعالی ته په جاه د نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ سره عند الله تعالی .

حياً وميتاً . دنيا کې وي که دنيا نه تلې وي .

تفسير روح المعاني جلد ۱ صفحه ۵۷ کې خپله دعاء کوي :

اللهم اجعلنا سعداء الدارين بحرمة سيد الثقلين صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ .

ما مخکې درته ويلې وه چې په تفسير روح المعاني کې مو که ردونه په وسيلې پيدا کړه دا به د عثمان آلوسي نه وي خپله محمود آلوسي د وسيلې مخالف نه دي ده په خپله بالفعل وسيله نيولې ده په دعواتو کې .

دا رنګې تفسير روح المعاني جلد ۱۰ صفحه ۱۷ کې خپله توسل نيسي :

نسأل الله تعالى أي يجيرنا منها بحرمة سيد ذوي الالباب صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ .

دارنګې تفسير روح المعاني جلد ۱۴ صفحه ۱۵۷:

نسأل الله تعالى ان يمن علينا برضائه ويمنحنا بسوابغ نعمائه والائه بحرمة سيد انبيائه واحب احبائه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وشرف قدره وعظم.

دارنګې تفسير روح المعاني جلد ۱۷ صفحه ۲۸۱ کې دعاء کوي:

نسأل الله تعالى ان يرقينا الى مقام يرضاه ويرزقنا رضاه يوم لقاه وان يجعلنا من جنده الغالبين وعباده المخلصين بحرمة سيد المرسلين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دارنګې بيا محمود آلوسي په جلد ۱۷ صفحه ۴۱۲ کې دعاء کوي:

نسأل الله تعالى ان يوفقنا لفهم كتابه بحرمة سيد انبيائه واحبابه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دارنګې جلد ۲۱ صفحه ۳۹۵ کې دعاء کوي:

نسأل الله تعالى عظيم مغفرته ورحمته لنا ولوالدينا ولكافة مؤمني بريته بحرمة سيد خليقته وسند اهل صفوته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصحبه وشيعته.

دا په حرمة سره دعاء ده او دا توسل دي.

دارنګې تفسير روح المعاني جلد ۴ صفحه ۱۱۳ د دې آيت په ذيل کې: ولو انهم اذ ظلموا انفسهم، لاندې ليکي:

جاءوك که معنی کوي:

أي على إثر ظلمهم بلا ريث متوسلين بك.

تا ته راشي يا رسول الله وسيله نيوونکې وي په تا باندې.

دا حوالې محترم شيخ صاحب اکثره د بيروت د چاپ ذکر کوي.

تفسير حقي روح البيان د اسماعيل حقي رَحِمَهُ اللهُ جلد ۱ صفحه ۱۷۶ کې دعاء کوي:

اللهم لا تنسنا ذكرك واجعلنا من الذين معك في تقلباتهم وفي كل معاملاتهم آمين آمين آمين بجاه النبي الامين.

دارنګې تفسير البحر المديد في تفسير القرآن المجيد د ابن عجيبه جلد ۷ صفحه ۱۲۷

نسأل الله تعالى سبحانه ان يكسوه جلباب القبول ويبلغ به كل من طالعه او حصله القصد المأمول بجاه سيد الاولين والآخرين سيدنا ومولانا محمد خاتم النبيين وامام المرسلين .

دارنگې تفسير بحر مديد جلد ۲ صفحه ۲۸۱ :

في تفسير قوله تعالى : قالوا يا موسى ادع لنا ربك بما عهد عندك : اى بعهده عندك و هو النبوة او بالذي عهده اليك ان تدعوه به فيجيبك كما اجابك في اياتك والمعنى ادع الله متوسلاً اليه بما عهد عندك من النبوة والجاه او بدعائك اليه ووسائلك .

تفسير سراج المنير د مصنف محمد شربيني الخطيب جلد ۱ صفحه ۵۳۴۹ :

واسأله بخضوع العنق وخشوع البصر ووضع الخد لجلاله الاعظم الاكبر مستشفعاً اليه بنوره الذي هو الشيبة في الاسلام متوسلاً اليه بسيد الانام ﷺ .

دارنگې تفسير سراج المنير جلد صفحه ۲۶۵۵ :

اللهم بجاه محمد ﷺ ان تجعلنا ووالدينا واحبابنا من اهله .

وقال الشوكاني في تفسيره فتح القدير جلد ۲ صفحه ۱۶۸ :

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ﴾ . د جاؤک معنى کوي :

متوسلين اليك ، دوي ژاشي تاته په تا وسيله نيسي .

وقال ابي السعود في تفسيره تفسير ابي السعود جلد ۲ صفحه ۱۰۷ :

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ ، وعرضوها لعذاب زائد على عذاب النفاق بترك طاعتك والتحاكم الى غيرك . جاءوك من غير تاخير كما يفصح عنه تقديم الظرف متوسلين بك .

قال ابن الجوزي في تفسيره زاد المسير في علم التفسير جلد ۳ صفحه ۴۴۷ :

فلما آتوه موثقهم اى اعطوه العهد وفيه قولان : احدهما انهم حلفوا له بحق محمد ﷺ ومنزلته من ربه قاله الضحاك عن ابن عباس .

ابن جوزي او ابن تيميه دا دوه دوه کسان وه ، ابن تيميه يو لمسي دي بل يې نيکه دي

کتابونو کې چې کله ابن تیمیه الجد راشي دا هغه نیکه مراد وي هغه حنبلي دي او ابن تیمیه المجد چې راشي نو خپله دې مراد وي کله ورسره حراني راغلې وي یا ورسره کنیه د تقي الدین راغلې وي دا بیا دې مراد وي هغه نیکه یې هم لوي محدث دي ابن تیمیه الجد د هغه لقب زین الدین دي او دده لقب تقي الدین دي دده خپل نوم احمد حراني دي.

او هر چې ابن جوزي دي دا هم دوه کسه وه یو ابن جوزیه دي د هغه نوم ابن قیم دي دا شاګرد د ابن تیمیه دي او بل ابن جوزي دا مکنا دي په ابو الفرج باندې دا ۹۶ کاله د هغه ابن جوزیه نه متقدم دي او داد ابن تیمیه نه هم مخکې تیر شوې دي خو محدث وه حافظ وه جارح وه دا زیات کتابونه چې تاسو ګوري داد ابن قیم نه دي داد هغه ابن جوزي دي دا معروف. موضوعات چې تاسې پیژني دا د ابن جوزي دي د ابن جوزیه نه دي کوم چې شاګرد د ابن تیمیه دي.

هغه ابن جوزیه دي ابن قیم هم ورته وایي نو چې کوم ځای کې ابن جوزي راشي دا به هغه مخکنې وي نو دا خپله حنبلي مذهبي دي جارح دي او ډیر تصانیف لري او خپله ابن قیم هم تصانیف لري خو دا زیات شهرت ورته د ابن جوزي کتابونو ورکړې چې خلک یې فرق نه کوي چې ابن جوزي راشي نو خلک وایي دا به دې وي نه دې نه وي.

نو تفسیر زاد المسیر داد ابن جوزي دي، دې یو عجیب استدلال کوي په سورة یوسف کې چې راځي:

فلما آتوه موثقهم. یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې ځامن راغله چې مونږ ته بُن یامین راکړه یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وویل نه درکوم تاسو به ورسره هغه معامله وکړي کومه مو چې دده ورور سره کړې وه هلته یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ دوي ته ویلې وه چې هغه ورور مو رانه ولي بیا رانه شي دوي پلار مجبور وي چې دا مونږ سره پرېږده پلار یې ورته وویل تر څو قسم ونه کړي او کلک عهد ونه کړي زه یې درسره نه پرېږدم. نو رب کریم فرمایي:

فلما آتوه موثقهم. کله چې ورته دوي هغه قسم میثاق او عهد پیش کړ دې ځامنو راوړاندې کړ یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته میثاق خپل دا میثاق څه شي وه په څه شي باندې یې د یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ عقیده جوره کړه چې دا بچي مونږ درته راولو بیرته او هغه پرې یقین وکړ.

اعطوه العهد. عهد یې ورکړ.

ليه قولان . په دې کې دوه قوله دي : يو قول دادى :

انهم حلفوا له بحق محمد ﷺ ومنزلته من ربه قاله الضحاك عن ابن عباس رضي الله عنه.

د ابن عباس رضي الله عنه د ضحاک روایت دادی چې دا میثاق وسیله وه دوي ورته ویلې چې خاطر د محمد مصطفی ﷺ د رته پیش کوو چې دا مونږ سره پرېږده .

حلفوا له بحق محمد ﷺ .

د نبي عليه السلام په حق د رته قسم خورو چې دا به درته راولو نو بیا یې ورسره پریخود .

دارنګې تفسیر النیسابوري جلد ٦ صفحه ١٣٠ کې دعاء کوي :

اللهم اجعلنا من العارفين واكشف عنا غطائنا بحق محمد ﷺ وآله .

دا توسل بالفعل شو .

دارنګې تفسیر الثعالبي چې الکشف والبیان ورته ویلې شي جلد ۷ صفحه ۲۰۴ دې ترجمه کوي :

قال لهم يعقوب لن ارسله معكم حتى تؤتون تعطوني مؤثقاً من الله يعني تحلفوا لي بحق محمد خاتم النبيين وسيد المرسلين ان لا تغدروا باخيكم .

په حق د محمد ﷺ به قسم کوي راته چې تاسو به خیانت نه کوي .

بیا جلد ۷ صفحه ۲۰۵ د تفسیر الثعالبي کې :

فلما آتوه موثقهم .

ددې ترجمه کوي :

اعطوه عهودهم وقال جويبر عن الضحاك عن ابن عباس رضي الله عنه حلفوا له بحق محمد ﷺ ومنزلته من ربه .

داد مفسرینو اقوال شول .

المبحث العاشر : أقوال عامة المحدثين :

(١) قال الحافظ بدر الدين العيني في شرحه عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ١ صفحه ٢٧ په ابتداء كې ذكر كوي :

فها نحن نشرع في المقصود بعون الملك المعبود ونسأله الاعانة على الاختتام متوسلاً بالنبي خير الانام ﷺ وآله وصحبه الكرام .

وايي سوال ترې كوم په اعانت د اختتام باندې په حال كون زما كې زه وسيله نيوونكې يم بالنبي خير الانام وآله وصحبه الكرام .

(٢) قال العلامة المحدث الشيخ عبدالحي اللكهنوي في التعليق الممجد على موطأ محمد جلد ١ صفحه ٢٥ كې دعاء كوي :

اللهم كما منحت على عبادك بفضله ولطفه فامنن عليه بعلو درجة في الدنيا والآخرة واحفظه بحفاظتك من بليات الدنيا والآخرة بحرمة نبيك سيد الانبياء وآله .

دا توسل بالحرمة .

(٣) دارنګې سُلوَةُ الكئيب بوفاة الحبيب جلد ١ صفحه ٣٧ كې توسل نيسي :

متوسلاً بمن الفت فيه صلوات الله وسلامه عليه الى الله تعالى ان يغفر ذنوبه ويستر في الدارين عيوبه فقير عفو الله تعالى عبدالرحمن بن محمد ابن احمد الغرفور الحنفي تاب الله عليه وعلى سائر عصاة المسلمين بحرمة سيد المرسلين صلواة الله وسلامه عليه وعليهم اجمعين .

(٤) دارنګې سلک الدرر في اعيان القرن الثاني عشر جلد ١ صفحه ٦٦ :

والتوفيق بأرائها وحركاتها معقوداً بحرمة سيد المرسلين صلى الله تعالى عليه وعلى آله وصحبه اجمعين .

بيا دغه كتاب جلد ٢ صفحه ٢٣٢ كې دعاء كوي :

بلغه من كل خير مطلوبه هو مراد بحرمة سيد المرسلين وآله الطاهرين وصحبه الاكرمين

صلی الله تعالی وسلم علیه وعلیهم اجمعین .

(۵) قال الخفاجي في ریحانة الالبا وزهرة الحیاة الدنیا جلد ۱ صفحه ۴ کې دعاء کوي:

اللهم بحرمة سید الانام کما یسرت الابتداء یسر الاختتام صارفاً عنه سوء القضا ناظراً الینا بعین الرضاء .

(٦) دارنګې عجائب الاثار في التراجم والاخبار جلد ۱ صفحه ۹ دعاء کوي :

اللهم بحرمة سید الانام یسر لنا حسن الختام واصرف عنا سوء القضاء وانظر لنا بعین الرضاء وهذا اوان انشقاق کمائم طلع الشماریخ عن زهر مجمل التاریخ .

(۷) دارنګې حلیة البشر في تاریخ القرن الثالث عشر جلد ۱ صفحه ۳۴٦ کې دعاء کوي :

والاجر الجزیل بحرمة سید الانام الذي یحسن بذکره البدء والختام .

(۸) دارنګې تخریج احادیث الاحیاء حافظ عراقي جلد ۲ صفحه ۳۰۴ دي هم دعاء کوي :

یا خیر من دعاه داع و افضل من رجاه راج بحرمة الاسلام وبذمة محمد علیه السلام اتوسل الیك فاغفر لي جمیع ذنوبي .

(۹) دارنګې النور السافر عن اخبار القرن العاشر جلد ۱ صفحه ۱۷ کې شعر وایي :

أسأل الرحمن لي من فضله العفو والغفران والرزق الرغد

رب جنبنا بجاه المصطفی کل کد وبلاء ونکد

نو بجاه المصطفی دعاء ده ورکې .

دارنګې اضوء اللامع د علامه سخاوي جلد ۲ صفحه ۲۸۲ :

بجاه عریض الجاه والعالي الشان محمد المختار من آل عدنان .

دارنګې اضوء اللامع د علامه سخاوي جلد ۴ صفحه ۳۳۸ :

بجاه النبي المصطفی أتوسل الی الله في ما ابتغی وأؤمل

واقصد باب الهاشمي محمد وفي كل حاجات عليه اعول
اقول حبيبي يا محمد سيدي ملاذي عياذي من به أتوسل
عسى نفحة يا سيد الخلق اهتدي بها من ضلالي التي متعطل.

دارنگي خلاصة الاثر في عيان القرن الحادي عشر جلد ١ صفحه ٩٤ ليكي:

بجاه رسول الله افضل مرسل ترى الأسد في الغابات من خوفه صرعى
عليه صلوات الله ثم السلام واصحابه والال اجمعهم جمعاً.

دارنگي طبقات السنية في تراجم الحنفية جلد ١ صفحه ٢٠٧:

ويا رب فاحرسه بجاه محمد وأيده بالمأمون من حادث الدهر.

دارنگي ازهار الرياض في اخبار القاضي عياض جلد ١ صفحه ١٨٨ دعاء كوي:

نسأل الله بجاه هذا النبي الشرف القدر العظيم المزية ان يعتقنا من النار ويجيرنا في الدنيا والآخرة.

دارنگي النجوم الظاهرة في ملوک مصر و القاهرة جلد ٤ صفحه ٤٢٢:

فالله بجاه سيد عدنان عوض لنا منك بإحسان

دارنگي تاريخ الخلفاء د سيوطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ جلد ١ صفحه ٢٢٠:

كانت فتنة تمر لنك التي استصغرت بالنسبة اليها فتنة التتار على عظمها و اسأل الله تعالى ان يقبضنا الى رحمته قبل وقوع فتنة المائة التاسعة بجاه محمد صلى الله عليه وآله وصحبه اجمعين آمين.

دارنگي تاريخ ابن خلدون جلد ٢ صفحه ١٩٠ دعاء كوي:

اللهم انا نسألك يا اكرم مسئول ونتوسل اليك باعظم نبي و اكرم الرسول.

دارنگي فهرس الفهارس للكتاني جلد ٢ صفحه ١١٧٢:

فجزى الله مؤالفه على هذا الصنع الجميل احسن الجزاء وادام النفع به وحفظه من الاسواء

بجاه من هو للأنبياء ختام عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ .

دارنګې ابجد العلوم د قنوجي جلد ۳ صفحه ۲۸۰ :

صانها الله وإيانا عن كل رزية و بلية بجاه نبيه المصطفى خير البرية .

دارنګې طبقات الشافعي الكبرى جلد ۳ صفحه ۲۴۳ :

وله الشفاعة والوسيلة والفضيلة وللواء وكوثر الزمان فأسئل الهله بالنبي محمد متوسلاً تظفر بكل آمان .

درانګې عقد الجمان في تاريخ اهل الزمان جلد ۱ صفحه ۲۰۸ دعاء کوي :

فنسئل الله العظيم متوسلين بنبيه الكريم ان يحرسنا من شر كل ذي شر وحسد و من عداواة كل ذي حقد ونكد وان يجعلهم مشغولين بانفسهم حتى لا يشتغلون بالحط علينا وبلوغ المنكدات الينا انه على ذلك قدير ويدفعهم عنا هو القادر الجدير .

سوال کوم د خالق نه وسيله نيو ونکې يو په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره چې وساتي مونږ د شر د هر ذي شر او حسد نه د عداوت د هريوه کينه کرو حسد کر او وګرځوي باري تعالی دا حسد کر مشغولين په خپلو ځانونو باندې نه چې مشغول شي په ظلم په مونږ او ددوي تکاليف مونږ ته راورسي دې نه دې الله مونږ وساتي خالق په دې قادر دي ويدفعهم عنا هو القادر الجدير .

دا چند مباحثو باندې مسئله د توسل مشتمله وه نصوص د قرآن کريم بيا احاديث سره د مفسرينو محدثينو صحابه کرامو او فقهاء اربعه مذاهب نه اقوال .

داسې څوک نشته چې مؤرخ وي يا محدث وي يا دې فقيه مفسر وي او هغه دې بالفعل توسل نه وي نيولې بغير له ابن تيميه نه او چند تلاميذ د هغه او ددې زمانې د اهلسنت والجماعة مخالفين چې څو مره دي :

دا خو نصوص د شريعت وه دا کومې حوالې چې د کتابونو متعدده تاسې ته ما درکړي بايد په دې اکتفاء او اعتماد وشي او د چا قول پسې ذهاب ونه شي او هسې د معقول په لحاظ سره چې سوچ وکړو دا قياس د خالق په مخلوق صحيح هم نه دي خو قياس د معقولاتو

په محسوساتو د توضيح د معقولاتو د پاره وي .رب ذو الجلال مونږ په قدرتو پيژندو ذات يې چا مشاهده کړې نه دي مونږ که وګورو دنيا کې بادشاهان چې مونږ ګورو يو شخص د بادشاه نه مطالبه د مطلوب کوي په توسل کې ذات پيش کوي ورته .

او دويم سړي مطالبه د مطلوب کوي او په توسل کې عمل پيش کوي تاسو اوس سوچ وکړي چې بادشاه د چا کار بنه پوره کوي يو څوک د وخت بادشاه ته لاړ شي او دې د هغه نوج کې يو فوجي وي يا د هغه په ملک کې د يو دفتر ملازم يا عام سرکاري نوکريې يو عمل والا يې او لاړ شي د بادشاه مخکې ودريږي څه ترې غواړي نو بادشاه به ورته وايي ته څوک يې دې به ورته خپل عمل پيش کوي چې ما ستا دا کار کړي د هغې خاطر وکړه ما ته څه راکړه.

او دا بل کس راځي هغه دې بادشاه ته وزير پيش کوي خپله يې هيڅ عمل ورته نه دي کړي ذي قرب والا انسان ورته پيش کوي چې زه دده رشته داريم ددې وزير خاطر وکړه زما دغه مشکل پوره کړه .نو اوس تاسو سوچ وکړي په عرف کې بادشاه به ددې عام مزدور کار ډير لحاظ ساتي او که د هغه وزير د اقرباوو به ډير خيال ساتي ؟ضرور د هغه ذات سره چې د چا قرب دي او ذات يې پيش کړې دي بادشاه د هغه لحاظ ډير کوي .

دا څومره اعمال چې مونږ کوو داد خداى تعالى په دين کې مزدوري ده مونږ ته پرې أجرت راکوي ثوابونه راکوي هغه چې عمل کې پيش کوي جائز دي او ذات چې انبياء عليهم السلام او صلحاء دي هغه قرب مع الله لري د هغوي ذات پيش کول ناروا نه دي بلکې خداى تعالى ورکړه په توسل د ذات کې د توسل د عمل نه زياته کوي .

او بله خبره دا چې يو سړي دا خپل عمل پيش کوي توسل پرې ولې جائز دي ځکه جائز دي چې دده دا يقين دي چې زما دا مونځ او عبادت خالق سره وجاهت لري قدر لري نو زه هغه څيز ورته پيش کوم چې کوم شي چې د خالق په درګاه کې قدرمن وي وجاهت او جاه ولري.

نو دا عمل هلته جاه او شان لري هغه پيش کوي اوس چې ذات نه پيش کوي ستا به دا عقيده وي چې زما دوه رکعته لمونځ وجاهت او قدر لري او ذات د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم د خالق په درګاه کې جاه نه لري نعوذ بالله

نو داد کوم چا عقيده شوه چې خپل دوه رکعته لمونځ د خالق درګاه کې اشرف ګڼي د ذات د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم نه توسل بالعمل خو دوي هم جائز ګڼي کنه ولې جائز

کني وايي دا زمونږ عمل هلته جاه لري نو ځکه يې پيش کوو نو ستا کمزوري عمل چې هلته جاه او قدر لري نو ذات د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم يې ولې نه لري.

كان وجيها عند الله . كان وجيها في الدنيا والآخرة .

د حضرت عيسى او موسى عليهما السلام حال دي نو وجاهت دد وي هلته شته دي نو هغه جاه دد وي خالق ته پيش کول او ستا د خپل عمل جاه هلته منل چې کوم څوک د ذواتو جاه نه مني او په هغې وسيله نه مني به الفاظِ ديگر دې د خپلو اعمالو وجاهت مني خو د انبياء عليهم السلام او د اولياء په درگاه الهي کې وجاهت او شان نه مني که يې منلې نو څنگه هغه نه پيش کوي چې دا پيش کوي .او زما خو دا عقيده ده چې زما دا ټول اعمال را واخلي په مقابله د ذات محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم کې د درياب د څاڅکې وجاهت هم نه لري ځکه زمونږ خو ټول اعمال چې وجاهت پيدا کړ او درجه د قبول ته ورسيده نو ذات د محمد صلى الله عليه وسلم چې نه وي نه به رسيدل نو ټولو اعمالو زمونږ ته ښائست د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم له وجهې ورکړل شو که مونځ ده که روژه ده دا او داسې نور اعمال.

اوس که يو څوک فرضي لمونځ کوي او د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم سنتونه يې اخوا کړي نو د فرضي مونځ دانچه جوړول امکان نه لري نه شي جوړيدې بغير له سنتو نه د فرض مونځ دانچه نه جوړيږي الله اکبر به ووايي سبحانك اللهم سنت دي دا ترې لرې کړه بيا اعوذ بالله بسم الله سنت دي دا ترې لرې کړه رکوع ته ځي الله اکبر سنت دي دا ترې لرې کړه سبحان ربي العظيم تثليث سنت دي دا ترې لرې کړه.

داسې ټول سنت شو نو دانچه د فرض مونځ بغير د سنتو نه ، نه شي جوړيدې نو دا تزين او ښائست له وجهې د سنتو د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم دي ځکه دانچه د فرضو نه جوړيږي نو ټولو اعمالو ته ښائست له ذات د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم نه حاصل دي نو چې په خپلو اعمالو باندې توسل جائز کني وجاهت او جاه يې عند الله ثابتوي نو جاه د ذات محمد صلى الله عليه وسلم څنگه نه مني چې هغه جاه نه لري.

دا مسئله د توسل وه چې متفق وه په نزد د سلفو او خلفو ، ديوبند او بريل ټول متفق دي دد ې په جواز باندې .

مسئله د توسل ختمه شوه

مسئلة تقبيل اليدين و الرجلين :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبيين.

أما بعد! فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًا .الاية

دا مسئله نزاعي بيننا وبين الخصم دا هغه عظيمه مسئله ده چې زمن د صحابه کرامو تابعينو کې او تر دې وخته طرز او طريقه د مسلمانانو د خپلو اکابرو علماء مشائخو صلحاء سره تعظيم کول دي په تقبيل د يد باندې يا تقبيل د رجل باندې خصم د اهل السنة والجماعة مخالفين دې عمل ته شرک وايي اکابرين علماء ددوي اهل تصنيف ددوي جرأت د فتوی په شرک د تقبيل د يد او رجل باندې نه شي کولې او ددوي په کتبو کې هم نسبت د شرک ورته نه دي شوې خو عوامو خپلو ته په دې باندې فتوی ورکوي او عوام د اهل خصمو چې دې ټول په دې متفق دي چې ښکلول د لاس او خپو ته شرک وايي ، خاصتاً اشاعة التوحيد والاچې مسمی دي په دې علاقه کې په پنجپيريانو سره هغوي مطلقاً لاس او خپو ښکلولو ته شرک وايي .

نو مونږ دغه مسئله په چند مباحثو باندې مشتمله کړځو و چې مبحث اول عمل د صحابه کرامو د نبي اکرم ﷺ سره چې طرز او طريقه د صحابه کرامو هغه زمانه کې له رحمت عالم سره څه شي وه آيا هغوي ادب او تعظيم د نبي علیه السلام په تقبيل د يد او رجل سره کړې او که نه .

نو نصوصو نه به واضحه شي چې صحابه کرامو تعظيماً وتکريماً د نبي اکرم ﷺ خپې او لاسونه ښکل کړي دي .

دارنګې دغه مبحث کې به ضمناً څه داسې روايات هم راشي چې رحمت عالم تقبيل د غير کړې وي هغه به هم ورسره واضحه شي .

دير داسې مسائل دي چې هغې کې نص مرفوعه مونږ ونه لرو نو مخالفين وايي چې دې کې حديث مرفوعه نشته نو انکار ورنه کوي که موقوفات او د تابعينو فتوی او د فقهاء نصوص ولرو راسره يې نه تسليموي په دغه وجه چې دې کې ګڼې نص مرفوع نشته او دې کې د نبي علیه السلام نه څه ثبوت نشته بيا چې کومه مسئله مونږ د نصوصو مرفوعه وو نه ثابته

کړو هغلته بیا د مخالفینو دانکار لاره بیا څه شي وي نو بیا وایي نه جي هغه خو پیغمبر وه د
بل چا سره دا عمل ناروا دي چې کوم شي هغه نه ثابت نه وي نورو نه ثابت وي وایي نه یې
مني هغه نه یې ثابت کړه.
او چې کوم شي د هغه نه ثابت کړو بیا وایي نه هغه خو پیغمبر وه بل چا د پاره دا نه منو
نو اوس به مونږ پیش کوو څه شي نصوص به مرفوع پیش کوو که موقوف که مرفوع پیش
کوو وایي هغه خو پیغمبر دي هغه پورې خاص دي که غیر مرفوع پیش کوو وایي نه، نه یې
منو مرفوع راته وښایه.
داد مخالفینو طرز او طریقه د انکار ده لاس او خپي ښکلولو ته دوي شرک وایي بیا
چې احادیث مرفوع مونږ پیش کړو د صحابه وو عمل د رحمت عالم سره نو جواب دا کوي چې
هغه خو پیغمبر وه نو دا کوم دین دي چې په هغې کې شرکت د انبیاء مع الله جائز دي او د غیر
نبي ناجائز دي دا خو یو دین کې هم نشته.
یو شي چې شرک وي هغه عمل مع الانبیاء بیا هم شرک دي او مع الاولیاء هم شرک دي
په شرکیاتو کې خو څه خصوصیات د انبیاء نشته دي چې انبیاء شریک مع الله کښل جائز دي
او اولیاء ګني ناجائز دي چې شرک شو خو د هرچا لپاره شرک شو بیا نو بیا خو هم هغوي دا
تاویل کولې شي په هغه روایاتو کې چې هغه خو پیغمبر وه.
نو دویم مبحث به ددوي ددې اعتراض جواب هم وکړي چې عمل صحابه رضوان الله
تعالی علیهم اجمعین فیما بینهم نو ددوي شبهه به دفع شي چې صحابه کرام رضي الله عنهم خو
انبیاء نه وه په خپل مینځ کې یې د یو بل تعظیم په تقبیل د ید او رجل سره کړي.
دریم مبحث عمل د تابعینو او تبع تابعینو فیما بینهم چې ددوي عمل خپل مینځ کې یا
د صحابه کرامو سره په تعظیم او تکریم کې څه شي وه.
څلورم اقوال د فقهاء او د محدثینو د څلورو مذهبونو معروف وو نه به تائیدا په کې
پیش شي چې هغوي دې باره کې څه قول کړي او دا مسئله زما په شکل د استفتاء ده په نوم د
عبدالولي یو کس چې د مردان او سیدو نکي دي ما سره یې رابطه وکړه او ما نه یې استفتاء
وکړه:

مایقول العلماء في تقبیل الید الصالح ورجله ههنا في مردان باکستان جماعة للپنجپیریة

مسماة بإشاعة التوحيد والسنة يقولون ان تقبيل يد الصالح ورجله شرك او وسيلة من وسائل الشرك فهل هم يصيبون في قولهم أم لا بينوا توجروا .

جواب : نو هغې نه مونږ جواب کړې :

نعم ان تقبيل يد غيره وكذا رجله اذا كان لزهده وصلاحه او علمه وشرفه وصيانته ونحو ذلك من الامور دينية فهو جائز بل مستحب كما كانت الصحابة رضوان الله عنهم تفعلوه مع النبي صلى الله عليه وسلم وان كان لغناه ودنياه وشوكته ووجاهته عند اهل الدنيا ونحو ذلك فمكروه شديد الكراهية .

نو دا هغه جواب مختصراً شوې دي .

عام فقهاء بيا تقبيل په پنځه قسمه کوي :

(۱) قبلة المودة : د محبت او مودت تقبيل مثال يې لکه تقبيل د والد دي ولد لره على الخد وغير ذلک دا يوه نوعه د تقبيل جائز ده .

(۲) قبلة الرحمة : هغه تقبيل دي د والد ولد لره على الرأس او يا پلار مور بوډاګان شي يا بيمار شي بچي راشي پلار يا مور بښکل کړي سر باندې .

(۳) قبلة الشفقة لأخيه على الجبهة : کشر ورور د شفقت له وجهې په تندي بښکلول .

(۴) قبلة الشهوة لمرأته وأمته على الفم وغيرها : دا هم له جائزو نه دي .

(۵) قبلة التحية : د احترام او تعظيم لپاره للمؤمنين على اليد والرجل .

بعضې فقهاء شپږمه نوعه د تقبيل جائزه ذکر کړي ده چې قبلة الديانة ده للحجر الاسود ، حجر اسود چې بښکل يې کړي دا قبله د ديانت ده .

زمونږ دغه مذکور روايات به دغه ټولو باره کې راشي چې مونږ ذکر کړل چې دا جائز دي جانب مقابل چې تقبيل غير جائز ګڼي تقبيل د حجر اسود باره کې څه نه شي ويلې ځکه هغه په نص ثابت دي او تقبيل د ښځې او وينځې لره اويا دا نور تفصيلات چې ذکر شول دوي منکر نه دي بغير د تقبيل تحيه نه دينه دوي منکر دي او دا فرق بايد مونږ دوي نه وپوښتو

تاسو څه فرق لري په دې کې چې تقبيل د تحيه شرک دي او تقبيل د شهوة جائز دي او يا نور تقبيلات جائز دي.

تقبيل د ديانت د حجر اسود چې هغه يو عام کاڼي دي جنت نه راغلي معبود خو نه دي مخلوق دي که څه هم شرافت لري خو شرافت د پيغمبر او ولي ته نه شي رسيدلې د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه رأيه داده چې دا کعبه هم د مؤمن شرافت ته نه شي رسيدلې.

بخاري شريف کې دده روايات راځي کعبې مبارکې ته راغې ورته ودريده الله دې شرافت او عزت نور هم زيات کړه خو ما ته په يقين سره معلومه ده چې ستا عزت او شرافت د مؤمن عزت او شرافت ته نه شي رسيدلې نو تقبيل د حجر اسود يا مسحه کول د کعبې لپاره د تبرک او حال دادی چې د عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما په فتوی باندې د مؤمن شرافت او عزت په کعبه باندې زائد دي.

او حضرت معاويه رضي الله عنه تمسيس د کعبې لپاره د تبرک جائز ګڼي د بخاري شريف روايت دي چې معاويه رضي الله عنه به کله طواف کوه نو دا څلور ګوټونه د کعبې چې حجر اسود دي يا رکن عراقي دي يا رکن شامي دي يا رکن يماني دي نو معاويه رضي الله عنه به يو رکن هم نه پريخوده بدون د تمسيس نه هريوه رکن ته به يې لاس وروړو نو چا پرې آواز وکړو چې معاويه رضي الله عنه دا ته څه کوي نو هغه ورته جواب کې وايي:

ليس شيء من البيت مهجوراً.

د کعبې يو شي هم متروک نه دي دا هر يو له برکت نه ډک دي نو د احترام او برکت لپاره تمسيس کولې شي اګر که زمونږ فقهاء په حالت د طواف کې تمسيسات دد ې دوه عراقي او د شامي د ګوټونو مکروه ګڼي خو د هغې وجه دا نه ده چې ګنې تعظيم يې ناروا دي او تمسيس للتبرک يې ناروا دي د هغې وجه داده چې دا داخل د طواف مثل د داخل الصلوة دي او په هغې کې زيادات په قول د يو شخص باندې نه شي کيدې نو چې هر کله حالت د طواف وي نو په مرفوع حديث کې دلته نه دي ثابت نو نه دي کول په کار کله چې طواف ختم شو دا خو د کعبې ګوټونه دي چې د مکې معظمې خاوره باندې لاس کشول د برکت لپاره هم روا ده ځکه هغه ځای د نزول د رحمت دي هلته انوار وريږي هر ځای برکت نه ډک دي.

اول مبحث: د صحابه کرامو رضي الله عنهم عمل:

مبحث في عمل الصحابة رضوان الله اجمعين مع النبي صلى الله عليه وسلم انهم كانوا يقبلون يد النبي ورجله صلى الله عليه وسلم وكذا عمل النبي صلى الله عليه وسلم مع الصحابة رضوان الله اجمعين.

اول روایت: فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ۵۷ حديث ذکر کوي:

ان عمر رضي الله عنه قد قبل يد النبي صلى الله عليه وسلم.

حضرت عمر رضي الله عنه د رحمت عالم صلى الله عليه وسلم لاس بښکل کړې دي.

تحفة الاحوذي شرح د ترمذي جلد ۷ صفحه ۳۹ کې ذکر کوي:

حدثنا عبدالله بن جعفر القصير قال نا احمد بن الحسين سجادة قال نا صالح بن مبارك قال نا عبيدالله بن سعيد قائد الأعمش عن الاعمش عن ابي سفيان عن جابر ان عمر رضي الله عنه قام الى النبي صلى الله عليه وسلم فقبل يده.

حضرت عمر رضي الله عنه نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته ودریده او د هغه لاس مبارک یې ښکل کړ.

دا روایت الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري چې شیخ دامام بخاري دي محمد بن ابراهيم المقري یې نوم دي د رجالو د بخاري نه دي.

جلد ۱ صفحه ۱۳ کې چې رقم د حديث ۱۱ جوړیږي هم ذکر کړې دي.

سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۹۷ د پاکستان چاپونو نه دي ذکر کوي او هر چې د بیروت چاپ دي جلد ۵ صفحه ۷۶ ده.

ان زيد بن حارثة رضي الله عنه قد قبل يد النبي صلى الله عليه وسلم چې مرقم دي په رقم د ۲۷۳۲ باندې او باب نمبر دي ۳۲ باب ماجاء في المعانقة والقبلة.

تفسير قرطبي جلد ۱۵ صفحه ۳۶۱:

دویم روایت: حدثنا محمد بن اسماعيل قال حدثني ابي يحيى بن محمد عن محمد بن اسحاق عن محمد بن مسلم الزهري عن عروة بن الزبير عن عائشة قالت قدم زيد بن

حارثة المدينة ورسول الله صلى الله عليه وسلم في بيتي فأتاه فقرع الباب الخ.

مطلب دا چې قميص به يې نه وه دې مبارک به اکثر چې بهر وتلو نو ډير تجمل کې به وتلو په دغه ورځ د حضرت زيد رضي الله عنه په مينه باندې همداسې ووتلو .

فاعتنقه وقبله ، دې کې احتمال د دواړو شته دي که ضمير مرفوعه د فاعتنقه وقبله راجع نبي عليه السلام ته شي نو ضمير منصوبه ده د هو به راجع حضرت زيد رضي الله عنه ته شي چې دا معروف تاويل دي په غيږ کې وه نيوه نبي عليه السلام حضرت زيد رضي الله عنه لره او ښکل کړ نبي عليه السلام حضرت زيد رضي الله عنه لره او يا عکس وکړ .

ضمير مرفوعه په دواړو کې حضرت زيد ته راجع کړه او ضمير منصوبه نبي عليه السلام ته راجع کړه چې حضرت زيد رضي الله عنه نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ښکل کړ غيږ کې يې ونيوه . اود قرطبي نه غير دا حديث سيوطي رحمه الله ذکر کړي په جامع الاحاديث جلد ۴ صفحه ۱۱۸ دغه شان ابن الاثير في جامع الاصول من احاديث الرسول جلد ۵ صفحه ۳۰۲۷ کې هم ذکر کړي .

او امام بغوي رحمه الله په شرح السنة جلد ٦ صفحه ۱۹۸ کې هم ذکر کړي او دغه شان امام طحاوي رحمه الله په شرح د معاني الآثار جلد ۴ صفحه ۲۸۱ کې ذکر کړي د غسې امام نووي رحمه الله رياض الصالحين جلد ۱ صفحه ۴۵۷ او ابن حجر عسقلاني رحمه الله فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ۵۷ ذکر کړي او ابن بطال په شرح د بخاري جلد ۱۷ صفحه ۵۳ کې ذکر کړي عون المعبود شرح د ابي داؤد جلد ۱۱ صفحه ۲۵۲ کې هم ذکر کړي .

او تحفة الاحوذي جلد ۷ صفحه ۴۳۴ کې ذکر کړي محمد بن ابراهيم المقري په الرخصة في تقبيل اليد جلد ۱ صفحه ۲۴ کې ذکر کړي چې رقم د حديث ۲۲ دي .

دارنګې فتح الباري جلد ۸ صفحه ۱۲۲ په بعضې چاپونو کې جلد ۱؛ صفحه ٦٧ ده کې ذکر کوي :

ان كعب ابن مالك رضي الله عنه قد قبل يد النبي صلى الله عليه وسلم وركبته ، حضرت كعب رضي الله عنه د نبي عليه السلام لاس او زنګنونه ښکل کړي وه .

دريم روايت : اخبرنا ابو القاسم اسماعيل بن احمد أنبأنا احمد بن محمد بن احمد انبأنا عيسى بن علي بن عيسى انبأنا عبدالله بن محمد بن عبدالعزيز حدثنا محمد بن الفرج

حدثنا عبدالسلام بن حرب الملائي عن اسحاق بن عبدالله عن عبدالرحمن بن كعب بن مالك عن ابيه قال: لما نزلت توبتي اتيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقبلت يده وركبته.

دا هغه ثلاثه وو کې داخل دي چې غزوي د تبوک ته پاتې شوي وه او دوي نه تعبير کولې شي په متکاسلينو بالتوبه سره، توبه يې وروسته قبوله شوه.

﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾.

هغه دري کسان مراره ابن ربيع هلال ابن اميه او کعب ابن مالک، دا دري کسان وو او دا واقعه ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دوي سره مکالمات او تسليمات منعه کړې وه ځلويښت ورځ باندې رحمت عالم بيبياني هم ترې جدا کړې امتحان وه پنځوسمه ورځ وه چې آيت نازل شو توبه يې قبوله شوه نو دې وايي کله چې نازله شوه توبه زمونږه يعنې قبوله شوه آيت نازل شو او د بشارت لپاره ځوک دده کور ته لاړ او خپلې جوړې يې انعام کې ورکړي نو زه چې راغلم:

فقبلت يد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ما د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس ښکل کړ.

وعند ابن مردوي من وجهٍ آخر ان كعب ابن مالك لما نزلت توبتي اتيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقبلت يده وركبتيه.

د مسند ابن مردويه روايت کې دادی چې هر کله آيت نازل شو او زما توبه نازله شوه نو راغلم ما دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس ښکل کړل او زنګنونه مې ورته ښکل کړه هغه ناست وه.

اوس هم ډير مريدان د خپل شيخ او شاګردان د خپل استاذ لاسونه او چې ناست وي زنګنونه ښکلوي او د اهلسنت والجماعت مخالفين دې ته شرک وايي خو دا شرک نه دي صحابه کرامو د رحمت عالم سره دا عمل کړې دي.

تاريخ دمشق لابن عساکر جلد ۵۰ صفحه ۲۰۶، دا رنګې تفسير در المنثور جلد ۵ صفحه ۱۸۴ ذکر کوي:

واخرج ابوالشيخ وابن المردوية عن كعب ابن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال لما نزلت توبتي اتيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقبلت يده وركبتيه.

نو ابن مردویه متفرد په لفظ د تقبیل د رکبتیه کې نشو ابو الشیخ هم ورسره دغه روایت کې معي شو .

ونزعت له ثوبي فکسوته اياها ببشراه. چا چې زيرې راباندې کړې وه هغه ته مې جامې ورکړې.

او دا روایت محمد ابن ابراهیم المقري په الرخصة جلد ۱ صفحه ۳ کې ذکر کړي.
سیوطي رَحِمَهُ اللهُ په جامع الاحادیث جلد ۳۷ صفحه ۴۹۷ کې هم ذکر کړې رقم د حدیث دي : ۴۰۹٦۰.

څلورم روایت :

امالي د محاملي جلد ۱ صفحه ۲۵۱ رقم د حدیث ۲۰۴۱ ذکر کوي :

حدثنا الحسين حدثنا ابو هشام الرفاعي حدثنا سعيد بن عامر حدثنا شعبة عن زياد بن ابي علاقة عن اسامة ابن شريك قال قمنا الى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقبلنا يده.

دغه حدیث خطیب بغدادي په الجامع لاخلاق الراوي وآداب السامع جلد ۱ صفحه ۳٦۳ رقم د حدیث ۳۱۴ کې ذکر کړي .
دارنګې محمد بن ابراهیم المقري الرخصة جلد ۱ صفحه ۴ کې هم ذکر کړي .
دارنګې ابن حجر عسقلاني په فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ۵۷ کې ذکر کړي ، بیا وایي :
وسنده قوي .

او تحفة الاحوذي جلد ۷ صفحه ۳۹ کې ذکر کړي بیا وایي وسنده قوي ، سند د حدیث قوي دی .

پنځم روایت :

مسند احمد جلد ۲ صفحه ۲۴۸ :

حدثنا عبد الله قال حدثنا ابي قال حدثنا محمد بن الفضيل عن يزيد عن عبد الرحمن عن ابن ابي ليلى عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انه قد قبل يد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا حدیث مسند ابي یعلی جلد ۵ صفحه ۲٦۰ کې ذکر کړي او مجمع الزوائد منبع

الفوائد جلد ۷ صفحه ۳۵۴ هم ذکر کړي.

دارنګې ابن الاعرابي په القبل والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۳ کې ذکر کړي رقم د حديث ۲ ده.

دارنګې الورع جلد ۱ صفحه ۱۴۴ کې ذکر کړي.

فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ۶۷ کې فرمايي: د باندې نه يو کس راغي د وفد نجران دا راغې د رحمت عالم سر هم ښکلوي او خپې يې هم ورته ښکل کړي:

ان رجلاً اعرابياً قد قبل الرأس النبي صلی الله علیه وسلم ورجليه.

شپږم روايت:

دارنګې القبل والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۵۳ تحفة الاحوذي جلد ۷ صفحه ۴۳۷ کې ذکر کوي:

قال حدثنا ابراهيم بن ابي الجحيم حدثنا عبدالعزيز بن الخطاب حدثنا حبان بن علي عن صالح بن حيان عن ابي بريدة عن ابيه قال جاء اعرابي الى النبي صلی الله علیه وسلم فقال يا رسول الله! اني قد اسلمت فأرني شيئاً ازدد به يقيناً قال ما تريد.

وښايه ما ته يو شي چې زما يقين پرې زيات شي معجزه وښايه نبي علیه السلام ورته وويل څه دې مقصد دي.

قال ادع تلك الشجرة فلتأتك. دغه بوټي ته آواز وکړه تا ته دې راشي.

قال اذهب اليها فادعها. نبي علیه السلام دې اعرابي ته وايي ورشه پسې راوي غواړه هغې ورغې ورته وايي:

اجيبي رسول الله صلی الله علیه وسلم. دعوت قبول کړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم.

فمالت فقطعت عروقها. دغه ونه يو طرف ته راکږه شوه هغه جرړې يې راپرې کړي.

ثم اقبلت. بيا را راوانه شوه.

تجر عروقها وفروعها. هغه جرړې او څانګې يې راښکلې ځان پسې را روانه وه.

حتى أتت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالت السلام عليك يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .
هغه بوټي آواز وکړ .

فقال حسبي . هغه اعرابي وويل کفايت کوي دا ما لره .

فمرها فلترجع فرجعت فدلت عروقها في ذلك المكان ثم استوت كما كانت فقال ائذن لي ان اقبل رأسك ورجليك .

هغه اعرابي راوړاندې شو وايې اجازت وکړه چې سرد ې ښکل کړم خپې دې ښکل کړم .

فاذن له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقبل رأسه ورجليه .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اجازت ورکړ اعرابي ته نو اعرابي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سر مبارک هم ښکل کړاو پښې مبارکې يې هم ورته ښکل کړي ، اعرابي بيا وويل :

ائذن لي ان اسجد لك قال لا يسجد احد لأحد ولو كنت أمرا احدا ان يسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها تعظيما لحقه .

نو تقبيل للتكريم جائز دي ستا دا انحنا به لقصد تقبيل وي لا لقصد التعظيم ، نو انحنا محضه بدون د تقبيل نه ممنوع ده نو تقبيل للتكريم ثابت ده او انحنا للتعظيم ممنوع ده نو تېيدل د ښکلولو لپاره وکړه او ښکلول د تعظيم لپاره وکړه .

دا مخکې ذکر شوې حديث محمد ابن ابراهيم المقري په الرخصة جلد ١ صفحه ٧ کې هم ذکر کړي .

اوم روايت :

ان زارع وكان في وفد عبد القيس ثلاثة عشر راكباً رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ كلهم قد قبلوا يد النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

أبي داؤد شريف کې دا روايت مذکور دي ديارلس کسان راغلي دې خلکو ته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه تعليمات په محضر عام کې ورکړې وه هغه تعليمات ډيرې اصولې خبرې

وي تول محدثين يې ذکر کوي هغې نه د دين ډيرې غټې شعبې خورې شوې دي دوي ته چې کوم تعليم ورکول شوې نو دا وفد عبد القيس ديارلس کسان وه ټولو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس او خپي ښکل کړي خو څه کتابونو کې يو يو بيل بيل ذکر کړي دي هغه مونږ په عدد کې راوستي دي.

مسند ابي يعلى الموصلي جلد ۱۲ صفحه ۲۴۶ رقم د حديث ۶۸۵۰ :

حدثنا محمد بن صدران ابو جعفر حدثنا طالب بن حجير العبدي حدثنا هود العصري عن جده قال بينما رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحدث اصحابه اذ قال.

رحمت عالم خبرې کولې بيا يې وفرمايل :

يطلع عليكم من هذا الوجه ركب من خير اهل المشرق.

ګوره هغوي نه دي راغلي اخبار عن الغيب ده د صحابه کرامو مينځ کې ناست ده خبرې کوي وايي دې طرف نه به تاسو ته څه سواره مسافر اوس راشي چې داد مشرق په خلکو کې غوره مسافرين دي ځکه د دين زده کړې ته راغلي.

فقام عمر بن الخطاب فتوجه في ذلك الوجه.

په هغه طرف عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بهر ته ووتلو شک نه کوي چې دا خلک راځي او که نه.

فلقي ثلاثة عشر راكباً فرحب وقرب وقال من القوم.

ديارلس کسان راکبين وه هغوي سره ملاقي شو مرحبا يې ورته ووېل ورنږدې شو ورته وې وېل څوک ياستې ؟

قالوا قوم من عبد القيس قال فما اقدمكم هذه البلاد ؟ التجارة.

څه شي راوستي مدينې منورې ته تجارت ته راغلي يې.

قالوا لا. وايي نه.

قال فتبيعون سيوفكم هذه. دا تورې مو لاسونو کې دي دا خو به خرڅوي نه.

قالوا لا. هغوي ووېل نه.

قال فلعلكم انما قدمتم في طلب هذا الرجل.

کیدي شي دې شخص باره کې راغلي یاستې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یې ورته یاد کړ.

اوس هذا النبي هذا الرسول تعریفات یې هم ذکر نه کړل، هذا الرجل یې وویل هغوی ته دا بنایي معلومات ترې اوس کوي د هغوی حال معلوموي چې دوی د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په حق کې حسن عقیدت دي او که غلط خلک دي دا الفاظو ته ګوري:

في طلب هذا الرجل، دې سړي ته ملاقات لپاره راغلي یې هغوی ته یې ذهن کې دا راځوله چې زه هم ګنې ډیر عظیم د محبینو نه، نه یم خو چې دې تاسو حال څه دي.

دا هغه کشف کوي د هغوی د حالاتو خبره یې روغه وه په نیت د بي ادبي خو یې نه ده کړي تفتیش لپاره یې کړي:

قالوا آجل فمشی معهم. هغوی وویل او دې هم ورسره راغې.

یحدثهم. خبرې یې ورسره کولې.

حتی نظر الی النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال لهم هذا صاحبکم الذي تطلبون.

ورته وي ویل وایې ستاسو صاحب دا دی چا پسې چې راغلې یې.

فرمی القوم بأنفسهم عن رحالهم.

دې دیارلس کسانو د خپلو رحلونو نه چې هغه اوښانو باندې سواره وه د هغې نه یې ځانونه راوغورځول.

فمنهم من سعی سعیًا. چا منډې وهلې.

ومنهم من هرول. چا په مزل کې سعیه کوله.

ومنهم من مشی. چا عادي مزل کوه.

حتی اتوا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأخذوا بیده یقبلونها.

لاس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یې ونیوه ښکلوه یې.

وقعدوا الیه. کیناستل.

وبقي الاشج وهو اصغر القوم.

هغه رانغي .

فاناخ الابل وعقلها . هغه هلته اوښ چوکوي ترړي يې .

وجمع متاع القوم ثم اقبل يمشي على تؤدة .د قوم سامان يې جمع کړ بيا راروان شو راته په ډير سکون اطميان سره ښه په عزت سره راغې .

بل روايت کې راځي چې جامې يې هم بدلې کړي .

حتى اتى رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فاخذ بيده فقبلها .

ده هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس مبارک ښکل کړ ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې اشج تعريف کوي :

فقال النبي صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيك خصلتان يحبهما الله ورسوله .

دوه خويونه درکې دي د خدای تعالى او د رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير خوښ شول .

قال : وماهما يا نبي الله ؟ هغه څه دي ای د خدای نبي ؟

قال : الاناءة والتؤدة .

دغه حديث ذکر کړي امام طبراني معجم الكبير جلد ۲۰ صفحه ۳۴۵ کې رقم د حديث دي : ۸۱۲. مجمع الزوائد ممبع الفوائد جلد ۹ صفحه ۳۸۰ رقم د حديث دي : ۱۶۰۶۰. او ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ اللَّهُ په المطالب العالية جلد ۱۱ صفحه ۴۳۸ کې هم ذکر کړي دا حديث ابي داؤد هم ذکر کړي خو مخکې حديث کې دا راځي چې لاس يې ورته ښکل کړي خو روايت د ابي داود کې راځي :

فتقبل يد النبي صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورجله .مونږ لاس او خپې ورته ښکل کړل هلته بل څوک روايت د وفد عبد القيس نه کوي دلته خپله وفد قيس روايت کوي .

حديث د ابي داؤد داده :

حدثنا محمد بن عيسى بن الطباع حدثنا مطر بن عبد الرحمن الأعنق حدثتني ام ابان بنت الوازع بن زارع عن جدها زارع وكان في وفد عبد القيس قال لما قدمنا المدينة فجعلنا نتبادر من رواحلنا فنقبل يد النبي صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورجله قال وانتظر المنذر الاشج حتى اتى عيبته فلبس ثوبيه ثم اتى النبي صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال له : ان فيك خَلَّتَيْنِ يحبهما الله : الحلم . والاناة.

دا حدیث چې کوم حدیث کې د وفد قیس تقبیل د رجل ذکر دي اما بیهقي ذکر کړي په سنن الکبری جلد ۲ صفحه ۳۵۰، دارنګې امام بیهقي دا حدیث ذکر کړي په دلائل النبوة کې جلد ۵ صفحه ۴۱۶، دارنګې شعب الایمان جلد ۱۸ صفحه ۴۷۶ کې هم ذکر کړي.

دارنګې امام طبراني په معجم الاوسط جلد ۱ صفحه ۱۳۳ کې هم ذکر کړي رقم د حدیث: ۴۱۸.

دارنګې جامع الاصول من احادیث الرسول جلد ۱۱ صفحه ۹۳۲۵.

دارنګې القبل والمعانقة والمصافحة کې جلد ۱ صفحه ۵۲ رقم حدیث: ۴۲.

اتم روایت:

الادب المفرد د امام بخاري جلد ۱ صفحه ۳۲۷ کې فرمایي:

ان جمعاً غفیراً من الصحابة وفیهم ابن عمر رضي الله عنهما قد قبلوا ید النبي صلى الله عليه وسلم.

نو امام بخاري رحمه الله په ادب المفرد کې باب لړوي باب تقبیل الید په هغه کې دغه حدیث ذکر کوي:

حدثنا موسی قال حدثنا ابو عوانة عن یزید بن ابي زیاد عن عبدالرحمن بن ابي لیلی عن ابن عمر قال کنا في غزوة فحاص الناس حیصة.

شکست ګډ شو په خلکو کې.

قلنا کیف نلقی النبي صلى الله عليه وسلم وقد فررنا.

په کومو سترګو به لقاء کوو مونږ خو تیښته کړې ده.

فنزلت: إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ، سورة الانفال آیت: ۱٦. فقلنا لا نقدم المدینة فلا یرانا احد فقلنا لو قدمنا فخرج النبي صلى الله عليه وسلم من صلاة الفجر قلنا نحن الفرارون.

دوي خپل مینځ کې مشوره وکړه چې د صبایي په مانځه کې چې کله نبي علیه السلام راشي مونږ به ورته وایو: نحن الفرارون، یعني عاجزي به وکړو چې مونږ را تختیدلي یو بس شفقت به یې رانادې راشي غصه به ونه کړي.

قال: نو رحمت عالم صلى الله عليه وسلم جواب ورکوي:

انتم العكارون . تاسې بيا حمله کوونکي ياستئ .
يعني فراريان ځان ته مه وايي تاسې بيا حمله کوونکي يئ .
فقبلنا يده . ښکل کړ مونږ لاس د نبي عليه السلام . انا فئتكم .
بيا بل باب لړوي : باب تقبيل الرجل .
دا چې بيا احاديث پرې را آخلي هغه خو وروسته خبره ده نو د باب د ترجمې نه خو دا خبره معلومه شوه چې امام بخاري قائل د تقبيل د رجل ده د نيکانو د خپو د ښکلولو قائل دي چې دا دې ښکل شي دده خپل مذهب دا شو .
که يو څوک وايي چې دې باب کې دا حديث ضعيف دي يا راوي باندې جرحه ده دا په خپل ځای امام بخاري خو پرې باب لړولې هغه خو ددې قائل دي او تاسې مخالفين د اهلسنت والجماعت خو دې عمل ته شرک وايي .
دا حديث ابي داؤد هم ذکر کړي بيروت چاپ جلد ۸ صفحه ۱۱۲، بيهقي ذکر کړي سنن خپل کې جلد ۲ صفحه ۳۴۶، ابن ابي شيبه ذکر کړي مصنف جلد ٦ صفحه ۵۴۱ کې باب لړوي : باب ما جاء في الفرار من الزحف .
دارنګې امام بيهقي ذکر کړي شعب الايمان جلد ۱۸ صفحه ۴۷۴، امام طحاوي ذکر کړي په مشکل الآثار جلد ۲ صفحه ۳۸٦ ، خطيب بغدادي په الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع جلد ۱ صفحه ۳٦۳ ، فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ٦۲ ذکر کړي .
امام بيهقي په الاداب جلد ۱ صفحه ۱۳۲ کې هم ذکر کړي .

نهم روايت :

سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۹۸ کې ذکر کوي :
ان يهوديين قد قبلا يدي النبي صلى الله عليه وسلم ورجليه وما انكر عليهما .
دوه يهوديان راغلل د نبي عليه السلام لاس او خپې يې ښکل کړي که څوک اعتراض کوي چې هغه خو يهوديان دي جواب دادی :
وما أنكر عليه السلام عليهما .
نبي عليه السلام ترې انکار ونه کوه .

مونږ دې ځای نه استدلال کوو که دا شرک واي نبي عليه السلام به منع کړې واي، امام ترمذي باب لړولې پرې : باب ما جاء في قبلة اليد والرجل، په آدابو کې ښکلولو د لاس او خپو ترې ثابتوي، امام ترمذي د حديث ذکر کولو نه وروسته وايي :

هذا حديث حسن صحيح .

د پښاوري يو شاګرد دلته راغلې وه چرته چا زما لاس ښکل کړې وه هغه يې ليدلې وه ما نه يې وويل چې : مونږ شيخ مونږ ته وايي چې دا شرک دي ما ورته دا حديث وليکه چې دا دې شيخ ته ورکه هغه لاړو دا يولسم کال دي چې جواب به يې راځې خو زه به دنيا کې نه يم .

حدثنا محمود بن غيلان حدثنا ابوداود ويزيد بن هارون وابوالوليد عن شعبة عن عمرو بن مرة عن عبدالله بن سلمة عن صفوان بن عسال ان يهوديين قال احدهما لصاحبه اذهب بنا الى هذا النبي صلى الله عليه وسلم نسأله .

د صفوان رضي الله عنه روايت دی دوه يهوديان راغلل يو يهودي بل ته وايي راځه چې لاړ شو دغه نبي عليه السلام ته .

فقال : هغه بل دې ملګرې ته وايي : لا تقل له نبي، نبي ورته مه وايه ده ته .

فانه ان سمعها كان له اربعة اعين .

که يې واوري دا خبره د ستا نه چې ته ورته نبي وايي شي به ده لره څلور سترګې دا کنايه ګرځوي سرور نه چې دا به بيا ډير خوشحاله شي بيا .

فاتيا النبي صلى الله عليه وسلم . دواړه راغلل نبي عليه السلام ته .

فسألاه . تپوس کوي .

عن قول الله عزوجل وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ الاسراء آيت : ١٠١.

دا څه شي دي چې قرآن کريم کې راځي .

د علم بلاغت دا قاعده ده کله مجيب د سائل د سوال خلاف کوي ځکه چې سوال د سائل بې ځايه وي مفيد د فائدې نه وي هغه مجيب او مفتي د هغه د ذهن موافق څه نور جوابونه ورکړي ذهن يې خلاص کړي نو نبي عليه السلام ورته نور شيان ښايي :

فقال لهم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لا تشركوا بالله شيئاً ولا تزنوا .

دا خو تسع آیت بینات کې نه دي خو لکه دویته بنایي چې په شرک ککړیږې په زنا ککړ یږې په نورو حرامو مبتلا یږې او تاسې اوس تپوسونه د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د معجزو کوي دا خپل ځانونه خو یو ځل اصلاح کړي نو ورته فرمایي :

لاتشركوا بالله شيئاً ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا النفس التي حرم الله الا بالحق ولا تمشوا ببريء الى سلطان فيقتله ولا تسحروا ولا تأكلوا الربا ولا تقذفوا محصنة ولا تفروا من الزحف .

دا یې ورته بیان کړه بیا ورته وایي :

وعليكم يا معشر اليهود خاصة الا تعدوا في السبت قال فقبلا يديه ورجليه .

دې دواړو ښکل کړه دواړه لاسونه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او دواړه خپې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

وقالا نشهد انك نبي .

دې حدیث نه یوه بله جزیه اختلافي زمونږ او د برای نام اهل حدیثو تر مینځ هم ترې ثابتیږي هغه دا چې دوي وایي چې په دواړو لاسونو سترې مشې کول بدعت ده او په یو لاس سترې مشې کول سنت ده نو دې ځای نه دا مسئله ثابتیږي .

فقبلا يديه . ښکل کړه دې دواړو لاسونه دواړه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

دوي یعنې برای نام اهل حدیث استدلال د څه شي نه کوي دا مخکې څو روایتونه چې تیر شول .

فقبل يده ، نو ید مفرد دي لاس یې ورته ښکل کړ دا افراد لفظ د لاس چې مفرد راځي په حدیثو کې ، دا دلیل دي چې یو لاس دي دوه نه دي نو جواب ترې نه داده چې دلته ید مفرد ذکر کولو نه مطلب دا نه دي .

چې ګنې یو لاس یې ورکړي بلکې دا کنایه ده له سترې مشو نه عرفاً دا اصطلاح دي لکه دلته پاکستان کې چې څوک چا سره میلاو شي د هغې نه حکایت کوي ، زه ورغلم لاس مې ورسره میلاو کړیا ما سره فلاني لاس میلاو کړ حال داده چې سترې مشي یې په غیږه کړي ،

كنايه ترې نه په لاس ميلاويدلو سره كوي كه دوه لاسه يې هم وركړې وي واي لاس مې ورسره ميلاو كړ.

او د عربو هم دا اصطلاح ده : اخذت يده ، ما يې لاس ونيوه ، يعنې سترې مشي مې ورسره وكړل قطعه لحاظ ددې نه چې يويې راكړدوه يې راكړه مفرد راغې تثنيه نه ده مراد.

يو ځل دلته مدرسې زما ته د رستمي له مدرسې نه څه ملايان راغلې وه څو مسئلو كې يې ما سره بحث وكړيوه په كې دا مسئله وه او ما ته يې وويل چې يد مفرد راغلې بس يو مراد دي دوه نه دي ما ورته وويل دا كنايه د سترې مشو نه ده په عرف كې د عربو او د پاكستان د خلكو دي ما لاس ميلاو كړ نو مقصدي سترې مشي وي يو دوه دې كې نه وي ، مراد دوي وويل نه يد مفرد دي ما ورته وويل چې يد مفرد وي په هر ځاى كې يو به مراد وي دواړه به نه وي مراد د هغوي وويل آو ، ما ورته وويل :

المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده.

دې كې اوس تاسې څه وايې يد خو مفرد دي كنه اوس بنې لاس مراد دي كه چې نو هغوي وويل دا خبره پرېږده مونږ هسې ملاقات ته راغلي يو نو په دواړو لاسونو سترې مشو ته بدعت وايي او چې ورته وايي چې امام بخاري دې كې باب لړولي : باب الاخذ باليدين په كتاب الادب كې مستحب داده چې په دواړه لاسه سترې مشي وشي نو بيا دوي وايي نه د امام بخاري دير بعيد استدلال دي.

استدلال يې تام نه دي ځكه وايي باب شته خو حديث نشته ورسره ولې نشته خو هر كجا كله پرې پوهيږي هغه دا حديث را اخيستې دي عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي : ما ته نبي عَلَيْهِ السَّلَام تعليم د تشهد كوه نو هغې كې روايات دادي چې ما لاسونه د هغه مبارك په لاسونو كې وركړل نو ماته يې تعليم راكړ هغه د بيعت او تعليم طريقه كې لاسونه وركولو باندې قياس كوي.

امام بخاري هلته يدين وركول جائز وه دلته هم يدين جائز دي نو دوي وايي استدلال يې بعيد دي تام نه دي دې سره وايي حديث د مصافحې نشته ځكه يې مونږ نه منو ، نو مونږ ورته وايو چې د امام بخاري په كتاب كې باب وي او حديث نه وي تاسو يې نه منې نو بيا زه درته چيلنج دركوم.

امام بخاري باب لړولې امين بالجهر باندې: باب التأمين بالجهر، حديث ورسره نشته، حديث يې ورسره دارا اخيستې:

اذا قال الامام ولا الضالين آمين فقولوا آمين.

امام چې ولا الضالين آمين ووېلې نو تاسو هم آمين ووايي كه دا آمين په جهر نه واي نو چې امام ولا الضالين آمين نو ته څه پوه شوي چې امام آمين ووېلې دا ستا آمين وروسته له آمين د امام نه دي دې نه پته لږي چې امام به آمين په زوره وايي.

ګوره دوي اوس څومره بعيد استدلال وكوه زمونږ د بخاري شريف شيخ صاحب به ووېل دغه حديث د آمين په رابطه چې مذكور دي په بخاري شريف كې د ئمدغې صفحې په آخره كې يو بل باب لګيدلې دي هغې كې حديث راځي:

اذا قال الامام سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد فقولوا ربنا ولك الحمد.

امام چې ربنا لك الحمد ووايي تاسې هم ربنا ولك الحمد ووايي نو وايي چې ولا الضالين آمين نه چې آمين بالجهر ثابتوي.

نو ربنا ولك الحمد هم امام ته په جهر سره ثابت كړه او دا د هيچا مذهب هم نه دي نو اوس تاته څه پته لږي چې امام ربنا ولك الحمد ووېلې خو دغه ځاى د همدغې شي دي چې سمع الله لمن حمده يې ووېلې نو د ربنا ولك الحمد وخت راورسيده نو ته به يې وايي.

او چې امام ولا الضالين ووېلې نو چپ كيږي ولې خو آمين وايي نو ته يې هم ووايه نو جهر خو ترې نه ثابتيږي.

دا كوم چې تير شو نهم روايت وه او دا حديث ذكر كړي مسند احمد جلد ۴ صفحه ۲۳۹، امام بيهقي په خپل سنن كې ذكر كړي جلد ۲ صفحه ۴۹ دا رنګې امام بيهقي ذكر كړي په دلائل النبوة جلد ۷ صفحه ۱۴ كې.

ابو عبيد هيروي ذكر كړي په فضائل القرآن جلد ۱ صفحه ۴۹۸ كې

ابن كثير ذكر كړي په خپل تفسير جلد ۵ صفحه ۱۲۵ كې

قرطبي ذكر كړي په خپل تفسير جلد ۱۰ صفحه ۳۳۵ كې

شوكاني ذكر كړي فتح القدير جلد ۴ صفحه ۳٦۲ کې
ثمر قندي ذكر كړي بحر العلوم جلد ۳ صفحه ۲۸ کې
سيوطي رَحِمَهُ اللهُ در المنثور جلد ٦ صفحه ۳۲۷ کې ذکر کړي هغې کې يې تائيدات هم ذکر کړي ددغه روايت.

لسم روايت :

ان مزيدة العبدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قد قبل يد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وكان في وفد القيس.

معجم الكبير جلد ۲۰ صفحه......

المنتقى من كتاب الطبقات لابي عروبة الحراني جلد ۱ صفحه ۹۲:

حدثنا اسحاق بن ابراهيم الصواف حدثني يحيى بن راشد حدثنا طالب بن حجير العبدي حدثنا هود العصري قال سمعت جدي مزيدة قال وفدنا الى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د وفد په شکل کې راغلو مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په وفد قيس کې.

فنزلتُ فقبلت يده. د اوښانو نه را کوز شو مونږ ښکل کړل لاس د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دا حديث په طبقات المحدثين کې ابو شيخ اصبهاني جلد ۳ صفحه ۱۰۵ کې ذکر کړي.
محمد بن ابراهيم المقري ذکر کړي په الرخصة في تقبيل اليد جلد ۱ صفحه ۱۱ کې.

يولسم روايت :

ان عامر بن طفيل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قد قبل رجلي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري جلد ۱ صفحه ۱٦:

حدثنا ابو يعلى احمد بن علي قال حدثتنا ام الهيثم بنت عبد الرحمن بن فضالة بن عبدالله بن ابي بكر السعدية من بني سعد بن بكر وجدتها فيما ذكرت حليمة بنت كبشة بنت ابي ذؤيب القطوية مرضع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قالت حدثني ابي عبد الرحمن بن فضالة بن عبدالله بن ابي بكر بن ربيعة قال حدثني ابي فضالة بن عبدالله قال حدثني ابي عبدالله بن ابي بكر.

وكان عبدالله قد رأى النبي ﷺ أن عامر بن الطفيل إنتهى الى رسول الله ﷺ فقال له رسول الله ﷺ : يا عامر ! اسلم تسلم . قال واللاتِ والعزى لا اسلم . اسلام نه راوړم .

حتى تعطيني المدر واعنة الخيل والوبر والعمود .

آسونه، اوبنان يعني طلب د مشري ترې كوي رسول الله ﷺ نه .

قال رسول الله ﷺ لاتصيب يا عامر بن الطفيل واحدا منهم حتى تسلم . قال واللات والعزى لأملأن اكنافها عليك خيلاً ورجالاً وذكر كلاماً كثير .

په غته ډله لښكر كې به راشم سواره او پيدل علاقې به د آسونو نه ډكې كړم .

ثم لحق برسول الله ﷺ فأرسل خطام ناقته وطرح السلاح وأقبل يتعادى حتى أتى رسول الله ﷺ فقبل قدميه قال اشهد ان لا اله الا الله وانك رسول الله آمنت بك وبما انزل عليك وعقد له رسول الله ﷺ اللواء واسلم على يدي رسول الله ﷺ واعطاه رسول الله ﷺ السيف وقاتل بين يدي رسول الله ﷺ .

دوولسم روايت :

ان النبي ﷺ قد قبل جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه بين عينيه .

المستدرک على الصحيحين للحاكم جلد ۳ صفحه ۱۲۱۶ كې ذكر دي : حضرت جعفر رضي الله عنه حبشو ته تللې وه اولو مهاجرينو كې واپس چې كله راغي مدينې منورې ته دا شپږم كال د هجرت وه د خيبر د فتحې ورځ وه دې چې كله راغې دارک خيبر ته لاړ سره د هغو كسانو چې نوي يې ايمانونه راوړي وه :

عن ابن عمر رضي الله عنه قال وجه رسول الله ﷺ جعفر بن ابي طالب الى بلاد الحبشة فلما قدم اعتنقه وقبل بين عينيه .

هر كله چې حضرت جعفر رضي الله عنه راغې نبي عليه السلام په غيږ كې ونيوه معانقه ثابته شوه خو حالتِ اكثري نه دي اقلي دي ، دې مقابله كې حالتِ اكثري د نبي عليه السلام مصافحه ده

جائز ده معانقه او بنكل كره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په تندي باندې بيا دلته ورته د صلوة تسبيح تعليم ښودلې دي.

اوږد روايت دي نورو مؤرخينو دا راخيستې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل:

لا ادري انا افرح بقدوم جعفر ام بفتح خيبر.

ډير خوشحاله يمه چې دا خوشحالي په فتحه د خيبر ده كه په قدوم د جعفر ده.

همدا حديث امام طحاوي په شرح د معاني الآثار جلد ۴ صفحه ۲۸۱ كې راخيستې.

امام بيهقي رَحِمَهُ اللهُ په دلائل النبوة جلد ۴ صفحه ۳۳۹ كې را اخيستې دي، ابن عدي په الكامل جلد ۵ صفحه ۲۴۳ كې ذكر كړي چې راوي په كې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي، ابن قانع را اخيستې په جلد ۱ صفحه ۱۵۲ كې، مسند البزار په جلد ۴ صفحه ۱۵۹ كې ذكر كړي، مجمع الزوائد جلد ۹ صفحه ۴۱۹ كې ذكر كړي.

دیارلسم روایت:

ان ابابكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قد قبل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بين عينيه.

حدثنا موسى بن ابي عائشة عن ابي عن عبيدالله بن عبدالله عن ابن عباس عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ان أبابكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قبل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وهو ميت.

د رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې وصال وشو حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې هغه يې ښكل كړ.

دا حديث امام نسائي هم را اخيستې جلد ۴ صفحه ۳۰۹ په باب تقبيل الميت كې.

امام ترمذي هم ذكر كړي په جلد ۳ صفحه ۱۴ كې بيا وايي:

حديث عائشة حديث حسن صحيح واقر الالباني بصحة الحديث.

ابن ماجه ذكر كړي په سنن خپل جلد ۴ صفحه ۴۶۷ كې، مسند احمد را اخيستې په جلد ۸ صفحه ۶۰ كې، ابن حبان ذكر كړي په صحيح خپل جلد ۷ صفحه ۲۹۹ كې، طيالسي ذكر كړي مسند خپل جلد ۱ صفحه ۲۳۷ كې، ابويعلي ذكر كړي په مسند خپل جلد ۱ صفحه ۳۵ كې.

څوارلسم روايت :

ان النبي صلى الله عليه وسلم قد قبل عثمان بن مظعون رضي الله عنه بين عينيه بعد موته.

عثمان بن مظعون رضي الله عنه چې وفات شو نبي عليه السلام راغې دې يې په تندي باندې ښکل کړ.

دا حديث ابي داؤد ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۹۵ :

حدثنا محمد بن كثير اخبرنا سفيان عن عاصم بن عبيد الله عن القاسم عن عائشة قالت رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبل عثمان بن مظعون رضي الله عنه وهو ميت حتى رأيت الدموع تسيل.

اخرجه الطحاوي في شرح معاني الآثار جلد ۴ صفحه ۲۹۳ په باب تقبيل الميت کې ذکر کړي.

واقر الالباني بصحة الحديث واخرجه الترمذي في سننه جلد ۴ صفحه ۱۹۶، وقال حديث عائشة رضي الله عنها حديث حسن صحيح.

او مصنف عبد الرزاق ذکر کړي په جلد ۳ صفحه ۵۹۶ کې، الفاظ يې د مصنف عبد الرزاق دادي :

ان رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل على عثمان بن مظعون وهو ميت فاكب عليه فقبله ثم بكى حتى رأيت الدموع يسيل.

پنځلسم روايت :

ان يسار ابو بزه مولى عبد الله بن السائب المخزومي رضي الله عنه قد قبل رأس النبي صلى الله عليه وسلم ويده ورجله.

دا حديث ذکر کړي : الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري جلد ۱ صفحه ۲۶ کې سند ذکر کوي :

حدثنا عبد الله بن محمد بن حيان حدثنا ابو خبيب العباس بن احمد بن محمد القاضي

البري حدثنا احمد بن محمد بن عبدالله بن القاسم بن نافع بن ابي بزة قال حدثني ابي محمد عن ابيه عن جده عن ابي بزة قال دخلت مع مولاي عبدالله بن السائب على رسول الله ﷺ لنت الى رسول الله ﷺ فقبلت رأسه ويده ورجله .

زه ورپاڅيدم د نبي عليه السلام سر مې ښکل کړ لاس او خپې مې هم ښکل کړې .

شپاړسم روایت :

ان عائشة رضي الله عنها قد قبلت رأس النبي ﷺ بنية الاكرام رواه ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۲۸۲. او بيروتي چاپ جلد ۱۱ صفحه ۴۶۵ رقم د حديث دي : ۳۹۹۲.

حدثنا ابو يوسف الصيدلاني محمد بن احمد الرقي قال حدثنا محمد بن سلمة عن الفزاري عن ابي شيبة عن عبدالله بن عكيم الجهني عن عائشة رضي الله عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ يقول : اللهم إني أسألك باسمك الطاهر الطيب المبارك الاحب اليك الذي اذا دعيت به اجبت واذا سئلت به اعطيت واذا استرحمت به رحمت واذا استفرجت به فرجت قالت وقال ذات يوم يا عائشة رضي الله عنها ! هل علمت ان الله قد دلني على الاسم الذي اذا دُعي به اجاب .

بي بي پوهه يې ما ته الله پاک علم راکړي دي د هغه اسم بنودنه يې راته کړي چې په کوم اسم باندې دعاء غوښتلې شي قبلوي يې يعنې اسم اعظم .

قالت فقلت يا رسول الله ﷺ بأبي انت وامي فعلمنيه قال انه لا ينبغي لك يا عائشة رضي الله عنها.

تا ته مناسبه نه ده .

قالت فتنحيت وجلست ساعة ثم قمت فقبلت رأسه ثم قلت يا رسول الله علمنيه قال انه لا ينبغي لك يا عائشة ان اعلمك انه لا ينبغي لك ان تسألين به شيئاً من الدنيا قالت فقمت فتوضأت ثم صليت ركعتين ثم قلت اللهم اني ادعوك الله وادعوك الرحمن وادعوك البر الرحيم وادعوك باسمائك الحسنى كلها ما علمت منها وما لم اعلم ان تغفر لي وترحمني قالت فاستضحك رسول الله

صلى الله عليه وسلم ثم قال: انه لفي الاسماء التي دعوت بها.

دا کوم نو مونه چې تا واخیستل هغه نوم دي کوم چې ده نو زمونږ استدلال فقبلت رأسه نه دی.

اولسم روایت:

ان ابن عباس رضي الله عنه قد قبل يد النبي صلى الله عليه وسلم خمس مرات.

دا حدیث ذکر کړي: الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري جلد ۱ صفحه ۲۷ رقم د حديث: ۲۵:

حدثنا ابن حيان حدثنا ابراهيم بن محمد بن الحسن حدثنا محمد بن معاوية بن صالح عن عبدالرحمن بن مالك بن مغول عن ليث عن مجاهد عن ابن عباس رضي الله عنه

قال صنع رسول الله صلى الله عليه وسلم الي معروفاً.

ما سره رسول الله صلى الله عليه وسلم څه ښیګړه وکړه.

فقبلت يد رسول الله صلى الله عليه وسلم خمس مرات.

په یو ځل مې پنځه واره لاس مبارک د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښکل کړ.

بعضې علماو نه چې پو ښتنه وشي چې لاس ښکلول څنګه دي جواب یې دا وي چې جائز دي خو سنت مستمره نه دي دا لفظ چې سنت مستمره نه دي دا یې ابن تیمیه نه دي یاد کړي بعضې علماو باندې د ابن تیمیه تاثیر شوې وي.

اتلسم روایت:

ان فاطمة رضي الله عنها قد قبلت النبي صلى الله عليه وسلم بنية الاكرام.

دا حدیث سنن الکبری للبیهقي جلد ۷ صفحه ۱۰۱ کې ذکر کړي:

اخبرنا ابو عبدالله الحافظ وابو بكر احمد بن الحسن القاضي قالا حدثنا ابو العباس محمد بن يعقوب حدثنا محمد بن اسحاق الصغاني حدثنا عثمان بن عمر حدثنا اسرائيل عن ميسرة بن حبيب عن المنهال بن عمرو عن عائشة بنت طلحة عن ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها انها

قالت ما رأيت احداً كان أشبه كلاماً وحديثاً من فاطمة برسول الله صلى الله عليه وسلم وكانت اذا دخلت عليه رحب بها وقام اليها فأخذ بيدها فقبلها واجلسها في مجلسه وكان اذا دخل عليها.

کله به چې نبي عليه السلام ددې کور ته ورغې :

رحبت به وقامت فأخذت بيده فقبلته.

فاطمې بي بي به د نبي عليه السلام لاس ښکل کړل.

دا حديث حاكم في المستدرک على الصحيحين جلد ۱۱ صفحه ۴۰ کې ذکر کړي.

وقال هذا الحديث صحيح على شرط الشيخين.

امام طبراني ذکر کړي معجم الاوسط جلد ۴ صفحه ۲۴۲ کې، او محمد بن ابراهيم المقري ذکر کړي په الرخصة في تقبيل اليد جلد ۱ صفحه ۲۸ کې.

نولسم روایت :

ان ابا الهيثم بن التيهان رضي الله عنه قد قبل النبي صلى الله عليه وسلم بنية الاكرام.

دا حديث ذکر کړي معرفة الصحابة لابي نعيم جلد ۱۷ صفحه ۱۸۰ :

حدثنا ابوبكر بن خلاد حدثنا محمد بن غالب حدثنا سليمان بن داؤد المنقري حدثنا عبدالحكيم بن منصور عن عبدالملك بن عمير عن ابي سلمة عن ابي الهيثم بن التيهان ان النبي صلى الله عليه وسلم لقيه فاعتنقه وقبله والتزمه وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم المستشار مؤتمن.

دا حديث محمد بن ابراهيم المقري په الرخصة جلد ۱ صفحه ۳۰ کې هم ذکر کړي.

شلم روایت :

ان سلمان الفارسي رضي الله عنه قد قبل النبي صلى الله عليه وسلم بنية الاكرام.

دا حديث معجم الكبير د طبراني جلد ۶ صفحه ۳۹ کې ذکر کړي، دې کې د خپل ايمان قصه ذکر کوي چې زه راغلم په څه شکل مې ايمان راوړ :

فقلت هذه الامارة دلوني على صاحبكم فجئته فقلت تحملني الى المدينة قال ما تعطيني قلت ما اجد شيئاً اعطيك غير اني لك عبد فحملني فلما قدمت جعلني في نخلة فكنت أسقي كما يسقي

البعير حتى دبر ظهري وصدري من ذلك ولا اجد احدا يفقه كلامي حتى جاءت عجوز فارسية تسقي فكلمتها ففهمت كلامي فقلت لها اين الرجل الذي خرج دلني عليه قالت سيمر عليك بكرة اذا صلى الصبح من اول النهار فخرجت فجمعت تمراً فلما اصبحت جئت فقربت اليه التمر فقال ما هذا صدقة ام هدية فأشرت انه صدقة قال انطلق الى هؤلاء واصحابه عنده فاكلوا ولم يأكل فقلت هذه الامارة فلما كان من الغد جئت بتمر فقال ما هذا فقلت هذه هدية فأكل ودعا اصحابه فأكلوا ثم رآني اتعرض لأنظر إلى الخاتم.

ما ته يې کتل چې زه يو خوا بل خوا تاويدم مقصد مې دا وه چې:

لأنظر الى الخاتم. چې وګورم مهرِ نبوت يې.

فعرف. نبي عَلَيْهِ السَّلَام پوه شو په ما.

فالقى رداءه. څادر يې وغورځوه.

فاخذت اقبله والتزمه. زه شروع شوم مهرِ نبوت مې ښکلوه او نبي عَلَيْهِ السَّلَام مې په غيږ کې نيولې وه څان ته مې راجختوه.

فقال ما شأنك؟ څه حال دې ستا.

فسألني فاخبرته خبري.

تول قصه مې ورته بيان کړه چې زه غلام شوې يمه پردې راغلې يم تاسو پسې.

فقال اشترطت لهم انك عبد اشترِ نفسك منهم فاشتراه النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نو دې ځای نه استدلال دې:

فاخذت اقبله والتزمه.

- دا حديث ذکر کړي مجمع الزوائد جلد ۹ صفحه ۳۱۶ کې.

يوويشتم روايت:

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قد قبل عمه عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بين عينيه.

دا حدیث ذکر کړي معجم الاوسط د طبراني جلد ۲۰ صفحه ۲۱ :

حدثنا النعمان بن احمد حدثنا احمد بن رشد بن خثیم الهلالي حدثني عمي سعید بن خثیم عن حنظلة بن ابي سلیمان عن طاؤس عن عبدالله بن عباس حدثتني ام الفضل بنت الحارث الهلالیة قالت مررت بالنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وهو جالس بالحجر فقال یا ام الفضل قلت لبیك یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال انك حامل بغلام .

دا نبي عَلَيْهِ السَّلَام اخبار عن الغیب کوي ، ته په یو هلک حامله یې .

قلت یا رسول الله وکیف وقد تحالفت قریش ان لا یاتوا النساء .

قسمونه خوړلي قریشو چې بي بیانو ته نزدیکت به نه کوي .

قال هو ما اقول لك . ما چې درته څه وویلې دغسې به کیږي .

فاذا وضعتیه فأتني به . که ماشوم دې پیدا شو ما ته یې راوله .

قالت فلما وضعته أتیت به النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأذن في اذنه الیمنی واقام في اذنه الیسری والبأه من ریقه .

وریې کړي په خوله کې لاړې مبارکې تحنیک شو .

وسماه عبدالله ثم قال اذهبي بأبي الخلفاء .

دا یې مخکې نه پیش کوي وکړه څکه بنو عباس وروسته تول خلفاء ، امراء راغلې وه اشاره یې ورته وکړه .

قالت فأتیت العباس فاعلمته وکان رجلاً لباساً جمیلاً موتئد القامة فتلبس ثم أتی النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلما راه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته یې دا تره راغې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ورته پاڅیده گورئ د تعظیم لپاره قیام هم ثابت شو .

فقبل ما بین عینیه . ښکل یې کړ په تندي باندې .

ثم اقعده عن یمینه ثم قال : هذا عمي فمن شاء فلیباه بعمه .

دا حديث ذكر كړي علامه هيثمي په مجمع الزوائد جلد ۹ صفحه ۲۳۳ کې.

دوه ويشتم روايت :

ابن اعرابي په القبل والمعانقة والمصافحه جلد ۱ صفحه ۱۵ کې يو مرفوع حديث پيش کوي :

حدثنا احمد بن موسى السعدي قال حدثنا عمر بن ابراهيم الكردي قال حدثنا مندل عن سعيد بن مرزبان عن مقسم عن الحسين بن علي عليه السلام قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تقبيل المسلم يد اخيه المصافحة.

بنكلول د يو مسلم لاس د ورور خپل لره دا تتمه د مصافحې ده دا من المصافحه ده لكه مصافحه چې د مندوباتو نه ده تتمه د مصافحې په تقبيل د لاس د اخيه کې ده.

دا مرفوع حديث شو خو د تعجب خبره داده چې رحمت عالم دنيا نه ځي او د حضرت حسين رضي الله عنه عمر پنځه کاله وه نو دا څومره ذهين انسان دي چې پنځه کلن دي او د نبي عليه السلام الفاظ يې زده کړي ده ته خو يې خبرې نه دي کړي خبرې يې بل چا ته کړي خو دې هغه مجلس کې ناست دي او ده يادې کړې دي دا کمال ذهانت دده وه. همدا وجه ده محدثين وايي چې عمر د تحمل الحديث پنځه کاله دي دا دده له وجهې وايي او د حضرت حسين رضي الله عنه دوه حديث مروي دي او دواړه صحيح هم دي مقبول دي محدثينو ته.

درويشتم روايت :

ان ازهر بن حرام الاشجعي قد قبل كف النبي صلى الله عليه وسلم.

دا حديث مذكور دي په معجم الكبير جلد ۵ صفحه ۲۷۴ کې :

حدثنا علي بن عبدالعزيز حدثنا شاذ بن الفياض حدثنا رافع بن سلمة قال سمعت ابي يحدث عن سالم عن رجل من اشجع يقال له زاهر بن حرام الاشجعي قال وكان رجلاً بدوياً لا يأتي النبي صلى الله عليه وسلم اذا اتاه إلا بطرفة او هدية يهديها.

بغير د تحفې نه به نه راتلو.

فرآه رسول الله ﷺ بالسوق.

وليد نبي عليه السلام ده لره په يو بازار کې.

يبيع سلعة. چې سامان خرڅوي.

ولم يكن أتاه. په دغه ورځ نبي عليه السلام ته دې نه وه راغلې.

فاحتضنه من ورائه بكفيه. شاه خوا نه يې ونيوه نبي عليه السلام.

ورغي او دې ولاړ دي نبي عليه السلام په سترګو ورته لاسونه کيخودل سترګې يې پرې پټې کړې شاه خوا نه، هغه سوچ کوي چې دا څوک ده چې ما سره دا مزاح کوي يو خوا بل خوا التفات کوي خو پيژني يې نه دلته خو دا راځي:

فالتفت وابصر رسول الله ﷺ.

نور څه روايتونو کې راځي چې نبي عليه السلام يې له لاسونو نه وپيژنده.

فقبل كفيه. لاسونه يې ورته ښکل کړه.

پوه شو چې نبي عليه السلام دي نبي عليه السلام دې نيولې دي آواز کوي:

من يشتري العبد. څوک غلام اخلي.

قال اذن تجدني يارسول الله ﷺ كاسداً.

وويل ده چې مونده به کړې ما يارسول الله کوته زه خو څه د ډيرو ړو والانه يم، دې له رنګ نه ښائسته نه دي يعني غلام خو دې شوم خرڅ مې کړه خو زه ډير ښائسته نه يم څوک به په ما باندې ډيرې روپې در نه کړي.

قال ولكنك عند الله ربيح.

رسول الله ﷺ فرمايي ته د خداى تعالى په نزد ډير قيمتي يې.

نو استدلال د فقبل كفيه نه کوو.

دا حديث مذکور دي په معرفة الصحابة جلد ۸ صفحه ۴۱۲ کې، او علامه هيثمي په مجمع الزوائد جلد ۹ صفحه ۳۵۷ کې ذکر کړي، ابن عربي هم ذکر کړي په القبل والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۱۷ کې.

دوهم مبحث : د صحابه كرامو رضي الله عنهم عمل په خپل مينځ كې:

اول روايت :

كان علي رضي الله عنه يقبل يد العباس رضي الله عنه ورجليه .

حضرت علي رضي الله عنه د خپل تره حضرت عباس رضي الله عنه لاس او خپې بنكلول.

دا حديث ذكر كړي ادب المفرد د امام بخاري جلد ۱ صفحه ۳۲۸، ۳۳۹ كې :

حدثنا عبدالرحمن بن المبارك قال حدثنا سفيان بن حبيب قال حدثنا شعبة قال حدثنا عمرو عن ذكوان عن صهيب قال رأيت علياً يقبل يد العباس ورجليه .

دا حديث په باب د تقبيل الرجل كې را اخلي .

دې حديث باندې الباني څه تحقيقات كړي دي :

قال الباني في ذيله ضعيف الاسناد موقوف .

يو خو دا موقوف دي او ضعيف دي سنداً .

مونږ جواب كوو :

قلنا قوله مردود على عقبيه لان رجال السند كل ثقات .

اول راوي عبدالرحمن بن المبارک ابن عبد الله العيشي التخاوي دي .

يقال السدسي ابوبكر يقال ابو محمد البصري الخلقاني .

طبقه دده لسمه وه د كبار الاخذين عن تبع الاتباع وفات يې په ۲۲۸ كې شوې رواله بخاري ابوداؤد والنسائي دي د رجال البخاري نه دي نو په ده كې خو ضعف نشته رتبه يې په نزد ابن حجر ثقه دي او رتبه يې په نزد د ذهبي قال ابو حاتم ثقة همدا وجه ده ابن حبان يې په كتاب الثقات كې ذكر كوي .

سند كې دويم راوي سفيان بن حبيب رضي الله عنه البصري ابو محمد البزاز طبقه يې نهمه دده له اصغارو د اتباع تابعينو نه دي .

رواله البخاري في ادب المفرد وابوداؤد والترمذي وابن ماجه والنسائي شيخ الكل رتبه يې

په نزد د ابن حجر ثقة رتبه يې په نزد د ذهبي ثبت په سند کې دریم راوي حدثنا شعبة بن حجاج الورد عتكي ثم البصري . طبقه يې او مه ده من كبار اتباع التابعين رواه البخاري مسلم وابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة شيخ الكل رتبه يې په نزد د ابن حجر ثقة حافظ متقن سفيان ثوري به وويل هو امير المؤمنين في الحديث او رتبه يې په نزد امام ذهبي امير المؤمنين في الحديث ثبة حجة يخطئ في الاسماء قليلاً .

دده او د سفيان ثوري مينځ کې فرق دا وه سفيان ثوري د اسماء الرجال لوي حافظ وه او دې د حديثو طوالو حافظ وه دې په متن کې د هغه نه مخکې وه هغه په سند کې له ده نه مخکې وه نور دواړه د يو استاذ شاگردان وه څلورم راوي په سند د تير شوي حديث کې عمرو بن دينار المكي ابومحمد الاكرم الجمحي مولى موسى بن بازم طبقه يې څلورمه ده داستاذ تابعينو نه دي روى له البخاري مسلم وابي داؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه شيخ الكل دي له رجالو د بخاري او مسلم نه دي رتبه په نزد ابن حجر ثقة عند الذهبي رتبه امام .

په سند کې پنځم راوي ذكوان ابوصالح السمان الزيات المدني دده طبقه دريمه ده له استاذ تابعينو نه دي روى له البخاري مسلم وابي داؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة ، رتبه يې په نزد د ابن حجر ثقة ثبة عند الذهبي من الائمة الثقات .

په سند کې شپږم راوي صهيب دي يقال صهبان مولى العباس بن عبد المطلب طبقه يې دريمه ده استاذ د تابعينو روا له البخاري في الادب المفرد رتبه يې په نزد ابن حجر صدوق وذكر ابن حبان في كتاب الثقات .

اوس دې کې په کوم راوي جرحه ده دا نور راویان خو رجال البخاري دي يو صهيب پاتې دي هم د رجالو د بخاري نه دي خو په ادب المفرد کې او ابن حبان ذکر کړي په ثقاتو کې .

فعلم من ذلك تعصب الالباني . د الباني تعصب معلوم شو .

چې د خپلې راى مخالف حديث وګوري ضعيف ورته وايي :

مع انه ليس اهل لتصحيح والضعيف . الباني د تصحيح او د تضعيف اهل نه دي .

لان الشرط اهلية التصحيح والتضعيف الحفظ والالباني ليس بحافظ الحديث .

شرط د تصحيح او تضعيف داده چې دا به هغه سړي وي چې حافظ به وي د حديثو او الباني حافظ نه دي.

كما أقر به في عدة المواضع فافهم ولا تكن من الغافلين .

الباني په خپله اقرار كړي چې زه حافظ د حديثو نه يمه ، كمپيوټر ته به ناست وه كتابونه به يې كتل غم دا وه چې دا شامله او د كمپيوټر دا مكتبې چې وي دا تقريباً ۲۵ كاله مخكې الباني او دده شاګردانو جوړې كړې د يهودو په مرسته او كوششونو دوي ته يې آسانه كړي او دا يې ورته برابرې كړي او دوي ورته كيناستل او په هر كتاب ولړيدل نو چې اوس عربو ته لاړ شي هلته به ته مكتبو كې وګوري صحيح ابي داؤد ضعيف ابي داؤد چې دلته پاكستان كې كوم ابي داود دي دا غټ هلته دا نشته دي وړوكې ابوداؤد دي هغې ته صحيح ابي داؤد وايي د الباني جوړ شوې كتاب دي .

بيا لتهوه صحيح ترمذي ضعيف ترمذي دا كومه ترمذي چې دلته ده دا هلته نشته يو وړوكي كتاب يو څو احاديث يې په كې راغونډ كړي د الباني په رأى موافق احاديث صحيح هغه نور يې رد كړي همداسې صحيح ابن ماجه ضعيف ابن ماجه صحيح نسائي ضعيف نسائي داسې ټول صحيح ترغيب الترهيب صحيح احياء العلوم داسې دا ټولو كتابونو كې يې كار كړي هغلته به هغه كتابونه پيدا كيږي چې كوم د الباني وي دا نور كتابونه ختم شوي نه پيدا كيږي .

هلته د الباني عظيمه چرچه ده او بيا يې آخر كې جرأت وكړو او كتاب يې وليكه صحيح مسلم ، ضعيف مسلم ، بس چې دا يې څنګه وليكه علماء د عربو پسې راپاڅيدل تر دې وخت يې ده ته غټ ملا ويلې خلكو ته پته نه وه چې دې كمپيوټر ته ناست دي خلكو ويلې ګنې دا حافظ دي او دومره ماهر دي چې په هر حديث او هر راوي جرحې كوي .

او هر څوك چې كمپيوټر ته كيني دا كار كولې شي دا قصه خوانې كې چې كوم كتابونه مونږ اخلو او دا تخريجونه پرې شوې دي د پاسه دا چا چې دا تخريجات كړي دا يو هم ملانه دي ټولو معهدونه ويلې كمپيوټر يې ياد كړي شاملې يې مخې ته وي راري را اخلي اسماء الرجال كتاب پرې ګوري چې بل چا څه ويلې دي بس ګزور كړي بيا خاصتاً چې دده د رأى

مخالف وي هغه حديث خو هسې هم مردود وي.

يو تحقيق د حافظ العراقي دي هغه مخکيني دي په احياء العلوم باندې او بل دې مصرينو کې چې دي ابو غده تحقيق د ابو غده دا بيا ګذاره کوي او بعضې تحقيقات حافظ الکوثري کړې دي هغه مخکې شوې دي د کمپيوټر زمانه، نه وه د حفظ نه يې کړي او هغه محقق دي او دا نور چې کله هم کتاب اخلي تخريج والا مه اخلي ځکه دا تخريجات د وهابيانو دي او کالجيانو معهديانو کړې دي محققين نه دي نو الباني کتاب وليکه صحيح مسلم ضعيف مسلم.

دغه وخت کې بيا د مدينې منورې د يونيورستي د ترمذي استاذ هغه کتاب پرې وليکه په نوم د تنبيه المسلم على تعدي الالباني على صحيح المسلم، چې الباني په امام مسلم تعدي وکړه چې دا په اتفاق د امت سره صحاح سته دي او په دې کې بيا دا دوه صحيحين دي په دې کې ضعيف روايات ډير کم دي او دې ولړيده صحيح مسلم ضعيف مسلم او که خلکو دې پرېښې وې صحيح بخاري ضعيف بخاري يې هم جوړولو دې ته هم ورنژدې شوې وه.

خو چې کله د عربو علماو پسې قلم پورته کړو نو سرې يې پسې واخيسته ما ته په مکه معظمه کې يو عربي شيخ وويل ما ته يې دعوت کړې وه او هغه ډير کلک عالم هم وه ځکه هغه په انګلش پوهيده او د بهر ملکونو نه په چې استفتاءات راتلل حرم ته د هغې جواب کننده دغه شيخ يوسف وه.

او بل په جده کې د کلياتو يو غټه اداره وه د لغاتو هغه کې دي استاذ هم وه هفته کې به يې دوه ورځې درس هلته کوه نو دغه شيخ يوسف راته د الباني ذکر وکړ چې ما ته د مدينې منورې د هغه يونيورستي هغه شيخ الحديث چې کوم په امام مسلم الباني رد کړې وه او دې شيخ الحديث بيا کتاب وليکه هغه واي راته حکايت وکړ چې د مدينې د يونيورستي هغه علماء چې وهابيان وه هغوي تلاش وکړو چې موږ الباني د مدينې منورې يونيورستي ته راولو او بيا يې د مدينې د مسجد خطيب کوو په دې تلاش کې شول او الباني ته يې دعوت ورکړو چې عربو ته راشي.

دا شيخ الحديث وايي وويل چې زه هم په يونيورستي کې وم او له ده سره وايي وران هم وم ځکه ده د الباني په رد کې کتاب ليکلې وه نو حذيفي چې خطيب د مسجد نبوي دي کلک

اهل حدیث دي وهابي دي نو حذيفي او دده ملګرو ډير قدريې ورکړو البانی ته او ډیر عزت يې وشو په ټوله مدینه منوره کې خبره خوره وه چې الباني راغلی دی د ملاقات لپاره به خلک راتلل په دغه کال زمونږ يو ملګري هم دغه یونیورستي کې سبق ويلې .

یوه ورځ وايي مانځه کې ورسره خوا کې ودریدم ما رفع اليدين ونه کړو وايي دې دومره متشدد وه چې په مانځه کې ما نه روان شو او مخکې صف يې په لاسونو جدا کړاو ځان يې هلته ځای کړو چې زه له ده سره نه ودرېږم ځکه رفع اليدين نه کوي .

ما ته زما دا ملګري دا قصه کوله چې ما رفع اليدين ونه کړو مانځه کې رانه روان شو مخکې صف کې يې ځان داخل کړو نو بيا د حرمينو امامان چې دي د شاهانو د اجازې نه بغير نه مقررېږي او دا دومره غټه رتبه ده په سعودي کې چې دومره رتبه دوزير هم نه وي وزارت اسان ده خو د حرمينو امامت په آسانه . نه حاصلېږي او هغوي پوره تحقيق او تلاش هم دې کې کوي چې د عمل په لحاظ هغه سړي روغ وي .

نو دې مشائخو الباني ته وويل چې کله شافهد مديني منورې ته راشي مونږ به تاته موقعه د تقرير درکړو او ته به تقرير وکړي دې به خپلو خبرو نه متأثر کړي نو بيا به مونږ پيش کش وکړو چې صيب ده ته اجازت ورکړي چې کليه کې داخل شي دلته په يونيورستي کې شيخ شي بيا به په مرور د وخت سره تا مسجد نبوي کې مونږ خطيب کړو .

حدیث کې راځي نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي :

المدينة كالكير تنفي الخبث . مدینه منوره چې ده داد آهنګر بټي ده خبث زنګونه مرداريانې ختموي .

خپله هغه چيرته داسې مردار ځان سره پريښنودل وايي چې څنګه مسجد نبوي کې شوری جوړه شوه په دې کې شاه فهد او نور ارکان ناست دي نو وايي الباني ته موقعه ورکړل شوه چې دا عالم ده ميلمه ده لږ بيان به وکړي دې پاڅيده چې کله يې بيان وکړو شاه فهد ډير ورته متوجه وه په آخره کې دده له خولې نه دا خبره ووتله چې مونږ ملک فهد ته يو پيشکش لرو او هغه دادي چې دا روضه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام مسجد نبوي کې داخله ده ته کوشش وکړه چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ځای نه وباسي او جنت البقيع کې يې دفن کړي ځکه دې مسجود د زرګونو خلکو ګرځيدلې دي وروسته خلک ده پسې مونځ کوي او خلک دې قبر ته سجدې

کوي د ټولو خلکو مونځونه خراب شول.

چې څنګه یې وایي دا خبره له خولې نه وو تلې نو ملک فهد ورته اشاره وکړه چې خاموش شه بیا ده کې څو نور جرأت نه وه غلې شو دعاء ته یې هم پرې نه خود وایي کینه.

حذیفي او دده ملګرو ته یې وویل چې تاسو ددې انسان پیشکش ما ته کوي چې څه د پاسه ۱۴۰۰ کاله دا امت تیر شوې دې یو عالم هم نه پیدا کیدو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یې دې ځای نه ایستلې وای دا په زمانه د عبد الملک بن مروان کې دخیل في المسجد ګرځیدلې دې دا دومره امت پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سجده کړې ده دا ټول مشرکین تیر شوې.

ډیر زیات غصه شو بیا یې ۲۴ ساعته وخت ورکړو چې سعودي عرب کې الباني ونه ګورم تاسو یې راته صفت کړې کنه دده سر د پریکولو دې او بیا یې سیاسي پابندي پرې ولږوله چې د حج او عمرې لپاره دې هم الباني دې ملک ته نه راځي همغه وه چې وي شړه او الباني یې په سعودي عرب بند کړو.

خو چونکې په عربو کې اشاعت د وهابیانو ډیر دې نو همغه مکتبو کې او همغه خو سیاسي خلک دې شاهان نور دې ته متوجه نه دي چې دا ستاسې زیر تحت تعلیم او تربیه کوم اشاعت کوي همغه اشاعت چې روان دې نو د الباني کوشش او سعیه روانه ده نو ټول سعودي کې د الباني قبضه ده هر څوک الباني پیژني نور یو امام هم نه پیژني چې حدیث ورته پیش کړې وایي الباني دې باره کې څه وایي نو دومره مقرب ده همغه خلکو کې.

نو الباني دا مخکې حدیث ته ضعیف ویلې دي خو ما د همغې تحقیق د رجالو تاسو ته ذکر کړو چې دا تعصب د الباني دي.

دویم روایت:

ان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قبل ابا المسلم الخولاني رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بين عينيه.

عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ښکل کړو ابا مسلم خولاني په تندي باندې.

دا حدیث حلیة الاولیاء ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۱۲۹ کې، اسود ي عنسي چې وُرته وایي د پیغمبري دعوی یې کړې وه ابي مسلم خولاني پسې څوک ولیږل ورته یې وویل:

أتشهد ان محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رسول الله؟ قال: نعم: قال فتشهد اني رسول الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قال ما اسمع.

گواهي كوي چې زه هم رسول الله يمه ابي مسلم ورته وويل دا ما نه دي اوريدلي.

قال: فامر بنار عظيمة فأججت. يو غټ اور يې بل كړو هغه بنه په لمبو كې شو.

وطرح فيها ابومسلم فلم تضره. ابو مسلم خولاني يې دې اور ته واچوه اور تكليف ورنه كړو ابي مسلم ته دا دده كرامت وه.

فقال له اهل مملكته ان تركت هذا في بلدك افسدها عليك.

دا وشړه جلا وطن يې كړه گنې دا علاقه به درته خرابه كړي.

فأمره به بالرحيل فقدم المدينة و قد قبض رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واستخلف ابوبكر فعقل راحلته على باب المسجد وقام الى سارية من سواري المسجد يصلي اليها فبصره به عمر بن الخطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فاتاه.

عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته راغې.

فقال من اين الرجل. دا څوك دي.

قال من اليمن. د يمن نه راغلې.

آوازه راغلې وه چې ابو مسلم خولاني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو صحابي دي او اسود عنسي اورته غورځولې خو حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يې نه پيژني چې هغه دا سړي دي نو تپوس ترې كوي:

قال فما فعل عدو الله بصاحبنا الذي حرقه بالنار فلم تضره.

قصه راته وكړه چې عدو الله چې اسود عنسي وه زمونږ ملگري هغه چې اورته يې غورځولې وه اور تكليف نه وه وركړي څه يې ورسره كړې وه.

قال ذاك عبدالله بن ثوب. خپل نوم يې واخيست ابامسلم يې كونيه وه.

قال نشتدك بالله انت هو؟. قسم دركوم هغه ته يې.

قال اللهم نعم. قال فقبل ما بين عينيه.

په تندي يې ښكل كړو.

ثم جاء به حتى اجلسه بينه وبين ابي بكر وقال الحمد لله الذي لم يمتني من الدنيا حتى اراني في امة محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من فعل به كما فعل بابراهيم خليل الرحمن عَلَيْهِ السَّلَامُ .

هغه ذات لره ثناء ده چې تر هغې يې مړ نه کړمه چې ما په امت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې هغه خلک وليدل چې هغوي سره کفارو هغه ظلم وکړو کوم چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ سره نمرود کړې وه هغه اور نه وه سوځولې معجزه دي هغه ده دي او رونه سوځوه کرامت دده شو .

دريم روايت :

ان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قبل رأس ابي بكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

ابن ابي الدنيا كتاب ليکلي په نوم د الاخوان جلد ۱ صفحه ۱٦۵ :

حدثنا ابوطالب عبدالجبار من عاصم حدثنا عبيدالله بن عمر عن بصيرة عن الحسن عن ابي رجاء العطاردي قال : قدمت المدينة فرأيت عمر يقبل رأس ابي بكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا .

راغلمه عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مې وليد چې د صديق اكبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سريې بنكلوه .

دا حديث امام سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ په جامع الاحاديث جلد ۲۵ صفحه ۳۰۷ کې ذکر کړې دي.

څلورم روايت :

ان اباعبيدة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قبل يد عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

دا حديث الاخوان لابن ابي الدنيا جلد ۱ صفحه ۱۵۵ کې ذکر کړې فرمايي :

حدثنا علي بن الجعد قال اخبرني عبدالملك بن حسين عن زياد بن فياض عن تميم بن سلمة ان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لما قدم الشام استقبله ابوعبيدة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فنزل فقبل يده.

عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله شام ته راغې مخې ته ابوعبيدة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته راغې راكوز شو لاس يې ورته بنكل کړو .

همدغه حديث امام بيهقي په سنن کې ذکر کوي جلد ۲ صفحه ۳۴۷ د هغې الفاظ دادي :

لما قدم عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ الشام استقبله ابو عبيدة بن جراح رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فقبل يده ثم خلوا يبكيان.

دواړو ژړل د ډير محبت نه.

قال فكان يقول تميم تقبيل اليد سنة. راوي وايي چې تميم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به ويل:

تقبيل اليد سنة. د نيكانو لاس ښكلول سنت دي.

همدا حديث امام بيهقي په شعب الايمان جلد ۱۸ صفحه ۴۷۵ کې ذکر کړي. ابن اعرابي په قبل والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۹ کې ذکر کړي.

بنځم روایت:

ان زيد بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قبل يد عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

دا حديث ذکر کړي په الرخصة في تقبيل اليد لابن المقري جلد ۱ صفحه ۳۲ کې:

حدثنا محمد بن علي نا ابو يشجب يعرف ابن خيران نا علي بن محمد بن شبيب نا احمد بن علي بن زيد نا الحسن بن داود الاحمر حدثنا حماد بن سلمة عن عمار بن ابي عمار ان زيد بن ثابت ركب يوما. زيد بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو ورځ سپور شو په آس يا په اوښ باندې.

فاخذ ابن عباس بركابه. ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته هغه رکاب ونيوه خدمت کې ولاړ دی دده خپې ته رکاب جوړوي.

فقال تنح يا ابن عم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

زيد ابن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وايي يو طرف ته شه لرې شه دې ځاى نه يعنې د آس رکاب ما ته مه نيسه ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د تره زامنو کې يې.

فقال: هكذا امرنا ان نفعل بعلمائنا وكبرائنا. مونږ ته امر د شريعت دغسې دی چې مونږ آداب د علماو کوو ته عالم يې زيد ابن ثابت عالم وه په ميراثو کې چې دوی آس نه خيژي علماء او مشران مونږ به رکاب ورته نيسو.

فقال زيد أرني يدك. زيد ابن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وايي لاس دې راکړه.

فاخرج يده. لاس يې ورته راوويسته .

فقبلها. حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس ښکل کړو .

فقال: هكذا امرنا ان نفعل باهل بيت نبينا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

مونږ ته هم امر دي چې مونږ اهل بيت نبوي سره داسې عمل وکړو او ته د اهل بيت نبوي نه يې او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په عمر کې کشر وه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس ښکل کړو د شرافت علمي نه او حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس ښکل کړو له شرافتِ نسبي نه .

دا حديث ذکر کړي ابن عساکر په تاريخ خپل جلد ۱۹ صفحه ۳۲۵ ، امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي په جامع الاحاديث جلد ۳۵ صفحه ۴۸ ، ابن بطال ذکر کړي په شرحه د بخاري جلد ۹ صفحه ۱۹۴ کې ، علامه مناوي ذکر کړي په فيض القدير على جامع الصغير جلد ۲ صفحه ۲۸ کې ، بدر الدين عيني ذکر کړي په شرحه د بخاري جلد ۲۲ صفحه ۱۲ کې .

شپږم روايت :

ان عمرو جمع من الصحابة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **قبلوا رأس عبدالله بن حذافة** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د صحابه وو يوه ډله د عبدالله ابن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر ښکلوي .

له څه وجې يې ښکلوي وجه يې دا وه چې عبدالله بن حذافه د يو لوي لښکر سره اميرالمؤمنين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په طرف د روميانو وليږه .

فاسره الروم فذهبوا به الى ملكهم فقالوا ان هذا من اصحاب محمد فقال له الطاغية .

باچا ورته ووېل :

هل لله ان تنصر و أشركك في ملكي وسلطاني .

بيا به تا شريک کړم په بادشاهي او سلطان کې ، نصراني شه .

فقال له : عبدالله لو اعطيتني جميع ما تملك وجميع مملكة العرب على ان ارجع عن دين

محمد ﷺ طرفة عين ما فعلت.

كه ته ټول له بادشاهي راکړې او عرب چې څومره دي دا ټول هم راکړې وا به نه ورم له دين د محمد ﷺ نه د سترګو رپ قدرې به ترې هم اخوا نه شم دا کار به ونه کړم، بادشاه ورته وايي : اذاً أقتلك، بيا به دې مړ کړم.

قال انت وذاك. ته او دغه کار کوه کنه مړ مې کړه درسره يمه.

قال فامر به فصلب. امر يې وکړو چې دا زوړند کړي.

وقال للرماة. وي ويل غشي ويشتونکو ته :

ارموه قريباً من يديه قريباً من رجليه. وي وولې په لاسو او خپو په سينه يې مه ولې په لاسو او خپو په غشو ويشتل کيږي بادشاه ورته ولاړ دی.

وهو يعرض عليه وهو يأبى. ورته وايي نصراني شه او هغه انکار کوي.

ثم أمر فأنزل. امر يې وکړ وايي راکوزيې کړي.

ثم دعا بقدر وصب فيها ماء حتى احترقت. يوه غټه کټوي راوړه هغې کې اوبه واچولې تر دې چې اوبه ګرمې شوې وه خوټيدې.

ثم دعا باسيرين من المسلمين. ددې مسلمانانو نه دوه بنديان يې راوستل هغوي ته يې نصرانيت پيش کړو هغوي انکار وکړو.

خپلو فوجيانو ته يې وويل دا دې ګرمو اوبو ته واچوي.

فلما ذهب به بكى. کله چې هغه مسلمانان دې ګرمو اوبو ته راولې وي ژړل.

فقيل له إنه قد بكي. چا بادشاه ته وويل هغه سړي چې دې ګرمو اوبو ته غورزوو ژاړي.

فظن انه رجع. کيدې شي نصراني شي.

فقال ردوه فعرض عليه النصرانية فابى. ده ورته نصرانيت پيش کړه هغه انکار وکړو.

قال فما ابكاك؟ نو ژاړې ولې.

قال ابكاني اني قتلت هي نفس واحدة تلقى هذه الساعة في هذا القدر فتذهب فكنت اشتهي

أن يكون بعدد كل شعرة في جسدي نفس تلقى هذا في الله عز وجل .

ژړا مې دي باندې ده چې زما يو نفس دي او س كړايې ته غورځيږي نو شهيد كيږي كاش زما په وجود چې څومره ويښتان دي د هر ويښته بدل كې زما تنې واي چې دومره ځايه شهيد شوې واي په دې ژاړم .

قال له الطاغية هل لك ان تقبل رأسي واخلي عنك ؟ عبد الله بن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راووست بادشاه ورته وويل كه زما سر د تعظيم لپاره ښكلوې نو زه به دې خوشې كړم .

قال عبدالله وعن جميع اسارى المسلمين ؟ سر دې ښكلوم يو اځې ما خوشي كوې كه دا ټول مسلمانان .

قال عبدالله : فقلت في نفسي عدو من اعداء الله .د خداى غټ دشمن .

فأقبل رأسه . سر ښكلوم .

يخلي عني وعن اسارى المسلمين لا ابالي .خوشي به كړي ما او ټول مسلمانان خير دي باك نه كوي .

قال فدنا منه وقبل رأسه . ورنزدې شو دې بادشاه ته سريې ورته ښكل كړو .

فدفع اليه الاسارى . بنديان يې وركړل راخوشې شول .

مدينه منوره كې آوازه شوه يو بل ته به يې سترګې وهلې ويل به يې چې عبد الله بن حذافه هغه سړي دي چې د كافر سريې ښكل كړي .

فقدم بهم على عمر فاخبر عمر بخبره .چا عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبر كړ چې عبد الله بن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كمال كړي او خلك پسې خبرې كوي .

عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لويه اجتماع جوړه كړه ټول خلك يې د مدينې منورې را غونډ كړه.

فقال حق على كل مسلم ان يقبل رأس عبدالله بن حذافة وانا ابدأ فقام عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فقبل رأسه .په هر مسلمان واجب دي چې هغه به د عبد الله بن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر ښكلوي اول شروع زه كوم راپاځيده د خلكو مخكې ده سرو رلره ښكل كړو وايي راشي تاسې هم سر دده ښكل كړي ده خو څه بد كار نه دي كړي چې د يو كافر سريې ښكل كړو او دومره مسلمانان

يې پرې خوشي کړه او تاسې لا اوس پيغورونه هم ورکوي .

نو د خلکو خولې يې هم بندي کړي او مونږ ته دا جزيه ثابته شوه چې صحابه وو دده سر بنکل کړې دي .

دا حديث ابو نعيم په معرفة الصحابة جلد ۱۱ صفحه ۳۵۲ کې ذکر کړي ، سبل الهدی والرشاد في سيرة خير العباد ذکر کړي په جلد ۱۱ صفحه ۳۶۱ کې ، ابن سعد ذکر کړي په طبقات خپل جلد ۱ صفحه ۱۹۹ کې ، ابن عساکر ذکر کړي په تاريخ خپل جلد ۲۷ صفحه ۲۵۸ کې ، امام ذهبي ذکر کړي په تاريخ الاسلام جلد ۱ صفحه ۴۲۵ کې ، ابن کثير ذکر کړي په البداية والنهاية جلد ۷ صفحه ۲۴۷ کې .

اوم روايت :

ان معاوية رضي الله عنه قبل رأس عثمان رضي الله عنه.

دا حديث ذکر کړې تاريخ دمشق جلد ۵ صفحه ۲۱۸ کې .

بعث عثمان بن عفان المسور بن مخرمة الى معاوية رضي الله عنه يعلمه انه محصور ويأمره ان يبعث اليه جيشاً سريعاً يمنعونه .

عثمان رضي الله عنه مسور بن مخرمه يې وليږه په ايامو د محاصرې کې چې دې محصور دی معاويه رضي الله عنه خبر کړه چې يو تيز لښکر را وليږي چې ما ته مدافع شي د دې ظالمانو نه مې بچ کړي .

فلما قدم على معاوية رضي الله عنه وابلغه ذلك ركب معاوية رضي الله عنه نجائبه ومعه معاوية بن حديج ومسلم بن عقبة . کله چې مسور بن مخرمة رضي الله عنه شام ته ورسيده معاويه رضي الله عنه خپله هم په آس راسپور شو .

ومعه معاوية بن حديج مسلم بن عقبة فسار من دمشق الى عثمان عشراً فدخل المدينة نصف الليل فدق باب عثمان فدخل فأكب عليه فقبل رأسه .

معاويه رضي الله عنه د شپې را ورسيده او پرې راتيت شو د ده سر يې بنکل کړو .

اتم روايت :

ان ابوبكر صديق رضي الله عنه قبل خد عائشة رضي الله عنها.

دا حديث صحيح البخاري بيروت چاپ جلد ۳صفحه۱۴۲۶کې ذکر ده رقم د حديث ده : ۳۷۰۴ دا اوږد روايت دي :

قال البراء فدخلت مع ابي بكر على اهله فاذا عائشة رضي الله عنها ابنته مضطجعة قد اصابتها حمى فرأيت أباها فقبل خدها وقال كيف انت يا بنية .

دا حديث امام بيهقي په سنن خپل جلد ۲ صفحه ۳۴۳ کې هم ذکر کړې .
دارنګې معجم الکبير د طبراني جلد ۱۷ صفحه ۲۲ کې هم ذکر کړي .

نهم روايت :

ان جابر رضي الله عنه قبل اباه بعد موته .

خپل والد صاحب يې شهيد شوې وه حضرت جابر رضي الله عنه راغې ښکل يې کړو .
دا حديث ذکر کړي ابن اعرابي په القبل والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۳۵ کې فرمايي :

اخبرنا يحيى بن ابي طالب انبأ عبدالوهاب بن مسلم عن ابي الزبير عن جابر رضي الله عنه قال : لما قتل أبي يوم احد أتيته وهو مسجى فجعلت اكشف عن وجهه اقبله والنبي صلى الله عليه وسلم رأني ولم ينهني .

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې هر کله چې زما والد شهيد شو په ورځ د احد زه ورته راغلم او دې په څادر کې پټ وه نو شروع شوم زه لوڅ مې کړ مخ ورلره ښکلوه مې او نبي عليه السلام ما ته کتل او زه يې نه منع کولم نو د شهيد او مړي ښکلول ترې ثابت شو چې دا جائز دي .

لسم روايت :

ان ابوهريرة رضي الله عنه قبل بطن حسن رضي الله عنه.

دا حديث ذكر كړي مسند احمد جل د ١٦ صفحه ٢٠١ كې فرمايي :

حدثنا محمد بن ابي عدي عن ابن عون عن عمير بن اسحاق قال كنت مع الحسن بن علي فلقينا ابو هريرة رضي الله عنه فقال : ارني اقبل منك حيث رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبل قال فقال بقميصه قال فقبل سرته .

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه حضرت حسن رضي الله عنه ته فرمايي را وښايه ما ته هغه ځاى چې ما نبي اكرم صلى الله عليه وسلم ليدلې وه چې ته به يې پرې ښكلولې راوي وايي چې حضرت حسن رضي الله عنه اشاره قميص ته وكړه .

قال فقال بقميصه .

تعديت د قال چې په باء راشي په معنى د اشارې سره وي نو قميص ته يې اشاره وكړه قميص يې اوچت كړو حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د حضرت حسن رضي الله عنه نوم ښكل كړو ، ځكه دده په ماشومتوب كې نبي عليه السلام په دغه ځاى شوندې مباركې ايښې وي هغه تبرك پرې حاصلوي ، بعضې خلك ورته نو وايي.

شعيب الارنوط په نوم باندې چې كوم تخريج دي او تخريجات يې كړي ده نه هم ډيرې زياتې غلطې شوې دي ده د مسند احمد تخريج كړي او صحيح ابن حبان تخريج يې هم كړي د مسند احمد په تخريج كې د دغه حديث ته يې ضعيف ويلې دي وايي د دې په سند كې عمير بن اسحاق راغلې دي باقي رجال د صحيح بخاري دي سوا د عمير بن اسحاق نه دده د وجې نه يې حديث ضعيف كړي دي ، بيرته بيا په صحيح ابن حبان جلد ١٥ صفحه ۴۲۰ ابن حبان همدا حديث ذكر كوي او بيا وايي :

قال شعيب الارنوط اسناده صحيح .

نو ددوي حافظې نشته .

دا حديث ذكر كړي امام بيهقي په سنن خپل جلد ٢ صفحه ١٨ كې امام طحاوي ذكر كړي په مشكل الآثار جلد ۴ صفحه ٢٦٧ كې ، هاجري ذكر كړي په الشريعة جلد ۴ صفحه ٣٣٢ كې ، احمد بن حنبل ذكر كړي په فضائل الصحابة جلد ٣ صفحه ٣٥۴ كې ، خطيب بغدادي ذكر كړي په تاريخ بغداد جلد ۴ صفحه ١٣٢ كې ابن كثير ذكر كړي په البداية جلد ٨

صفحه ۳٦ کې .

بل قسم روایت :

ان يزيد بن الاسود رضي الله عنه قبل كف واثلة ابن الاسقع رضي الله عنه.

حضرت يزيد د حضرت واثله رضي الله عنه كف ښكل كړو .

دا حديث ذكر كړي القبل والمعانقة والمصافحة د ابن اعرابي جلد ۱ صفحه ۴۴ کې

فرمايي :

حدثنا عباس الدوري حدثنا شبابة حدثنا هشام بن الغاز حدثنا حيان ابو النضر قال قال

لي واثلة بن الاسقع قدني الى يزيد بن الاسود .

ابو النضر وايي چې واثله بن أسقع ماته وويل چې ما يزيد بن اسود ته بوځه .

فانه قد بلغني ان الماً به . هغه بيمار ده ورځمه .

فقدته فلما دخل عليه قلت انه ثقيل قد وجه وذهب عقله فقال نادوه فقلت هذا اخوك

واثلة قال اظن شبابة قال فلما سمع ان واثلة قد جاءه قال فرأيته يلتمس بيده .

هغه چا پوه كړو چې حضرت واثله رضي الله عنه راغې د هغه د سترګو نظر كمزوري وو لاس

يې تپه وو وايي ما راواخيسته لاس د واثله .

فجعلتها في يده .د حضرت واثله رضي الله عنه لاس مې د حضرت يزيد رضي الله عنه په لاس كې

كيخود .

فجعل يقلب كفه .شروع شو چې لاس د حضرت واثله رضي الله عنه يې اړوه راړوه .

ويضعها مرة على فؤاده ومرة على وجهه وعلى فيه .كله هغه لاس د واثله بن اسقع رضي الله عنه

په زړه ږدي كله يې په مخ باندې ږدي كله يې په خوله باندې ږدي .

وانما أراد ان يضع يده موضع يد واثلة من رسول الله صلى الله عليه وسلم .

مقصد يې دا وه چې كيږدي لاس خپل په هغه ځاى باندې چې حضرت رسول الله

صلى الله عليه وسلم حضرت واثله رضي الله عنه ته لاس ايخي وو .

دا حديث ذكر كړي ابن قدامه په المتحابين في الله جلد ۱ صفحه ۹۱ کې .

دريم مبحث : د تابعينو رحمهم الله عمل مع الصحابة رضي الله عنهم وفيما بينهم :

ادب المفرد د امام بخاري جلد ١ صفحه ٣٣٨،٣٣٨ عبد الرحمن بن رزين فرمايي مونږ ربذه مقام ته لاړو چا مونږ ته وويل دلته سلمه بن الاكوع صحابي موجود دي مونږ ورغلو .

حدثنا ابن ابي مريم قال ثنا عطاف بن خالد حدثني عبد الرحمن بن رزين قال مررنا بالربذة فقيل لنا ها هنا سلمة بن الأكوع فأتيناه .

فسلمنا عليه فأخرج يديه . لاسونه يې راوويستل دڅادر نه وي ويل :

بايعت بهاتين نبي الله صلى الله عليه وسلم . په دغه لاسونو مې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت کړي دي .

فأخرج كفاً له ضخمة . لاس يې راوويست چاغ .

كانها كف بعير فقمنا اليها فقبلناها . مونږ ورپاڅيدو مونږ ښکل کړو .

تابعي دي د صحابي لاس ښکلوي .

ادب المفرد باندې الباني تخريج کړې لاندې ليکي :

اقر الباني في ذيليه في تحسين الحديث وقال حسن الاسناد .

دا حديث ذکر کړي امام طبراني په معجم الاوسط جلد ٢ صفحه ١٦٧ کې .

علامه هيثمي ذکر کړي په مجمع الزوائد جلد ٧ صفحه ٣٥٤ کې .

دويم روايت :

ان يحيى بن الحارث الذماري رحمه الله قال يدوا ثلة بن الأسقع رضي الله عنه .

دا حديث مذکور دي په معجم الکبير جلد ٥١ صفحه ٤٦٩ کې فرمايي :

حدثنا محمد بن هارون بن محمد بن بكار الدمشقي حدثنا محمود بن خالد حدثنا مروان بن محمد الطاطري حدثنا ابو عبد الملك الفزاري حدثني يحيى بن الحارث الذماري قال

ثابت واثلة بن الاسقع فقلت بايعت بيدك هذه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال نعم فقلت اعطني يدك اقبلها فاعطانيها فقبلتها .

ما ورته وويل په دې لاس دې بيعت کړې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ؟ ويلې او ما ويل لاس دې راکه ښکلوم يې پلاس يې راکړو ما ښکل کړو .

دا حديث ذکر کړي علامه هيثمي په مجمع الزوائد جلد ۷ صفحه ۳۵۳ کې .

دریم روایت :

ان ثابت رَحِمَهُ اللهُ قبل يد انس ابن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

امام ابي يعلى په مسند خپل جلد ٦ صفحه ۲۱۲ کې دا حديث ذکر کړې :

حدثنا محمد بن مرزوق حدثنا محمد بن عبدالله الانصاري حدثنا ابي عن جميلة ام ولد انس بن مالك قالت كان ثابت اذا اتى أنساً قال انس يا جارية هاتي لي طيبا امسح يدي فان ابن ام ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذا جاء لم يرض حتى يقبل يدي .

حضرت ثابت به چې کله حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغې انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به خپلې وينځې ته چې جميله نوميږي هغې ته اواز کوي لږ خوشبوي راکړه چې لاس باندې ومږم وجه داده چې حضرت ثابت نه راضي کيږي ترڅو لاس زما ښکل نه کړي ده به له عاجزي نه خپل وس کوه چې لاس ورته پرې نږدي وايي حضرت ثابت چې زما لاس ښکل کړې نه واي راضي کيږي وويل به يې چې دا خو هغه لاس دې چې لږيدلي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د لاس سره .

دا حديث ذکر کړي امام بيهقي په شعب الايمان جلد ۴ صفحه ۱۲۱ کې ، علامه هيثمي په مجمع کې ذکر کړي جلد ۱ صفحه ۱۵۵ کې ، دا حديث حلية الاولياء کې ذکر کړي جلد ۲ صفحه ۳۲۷ دې کې الفاظ بدل دي :

ثابت البناني يقول قلت لانس ابن مالك احب ان اقبل ما رأيت به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا مې را مان دي چې زه هغه ځاى ښکل کړم په کوم سترګو چې تا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کتلي که اجازت وي دا سترګې دې ښکلوم .

فامكنه من عينيه . نو اجازت يې ورکړو چې سترګې مې ښکل کړه نو هغه دده سترګې

بنکل کړي چې تا په دې سترګو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته کتلي .

څلورم روايت :

ان ابو مالك الاشجعي رَحِمَهُ اللهُ قبل يد عبدالله بن اوفى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

دا حديث مذكور دي په الرخصة في تقبيل اليد د محمد بن ابراهيم المقري شيخ البخاري جلد ۱ صفحه ۲۵ کې :

حدثنا محمد بن عبدالله بن عبدالسلام البيروتي مكحول حدثنا يوسف بن سعيد بن مسلم حدثنا خالد بن يزيد حدثنا ابو مالك الاشجعي قال قلت لعبدالله بن ابي اوفى ناولني يدك التي بايعت بها رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فناولنيها فقبلتها .

پنځم روايت :

ان ابو النضرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قبل خد الحسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

دا حديث ابي داؤد ذكر کړي جلد ۲ صفحه ۷۷۷ کې :

حدثنا ابوبكر بن ابي شيبة حدثنا المعتمر عن اياس بن دغفل قال رأيت أبا نضرة قبل خد الحسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا.

دا حديث امام بيهقي سنن خپل کې ذكر کړي جلد ۲ صفحه ۳۴۴ ، ابن ابي الدنيا ذكر کړي په الاخوان جلد ۱ صفحه ۱۶۶ کې .

شپږم روايت :

ابو العالية رَحِمَهُ اللهُ قبل تفاح مدفوعه من كف انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس کې منه وه سيب چې ورته هم وايي اړه يې را اړه يې په لاس کې ابو العالية ته يې چې ورکړه هغه بنکل کړه ځکه چې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس ورسره لږېدلي وه .

دا حديث ذكر کړي القبلة والمعانقة والمصافحة جلد ۱ صفحه ۴۲ کې فرمايي :

حدثنا محمد بن اسماعيل حدثنا ابوسلمة هو موسى بن اسماعيل التبوذكي حدثنا حماد بن

سلمة حدثنا ثابت ان انسا دفع الى ابي العالية تفاحة فجعلها في كفه وجعل يمسحها ويقبلها ويمسحها بوجهه وقال: تفاحة مست كفا مس كف النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ثابت صاحب فرمايي حضرت انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ حضرت ابو العالية ته منه وروا چوله هغه لاس کې ونيوله هغه يې داسې مسحه کوله بيا يې ښکلوله او په مخ يې مږله ځکه دې منې سره لاس لږيدلي کوم لاس چې د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د لاس سره لږيدلې وه يعنې دې منې سره د حضرت انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ لاس لږيدلي او د حضرت انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ لاس سره د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ لاس لږيدلي له هغې وجې نه دې منې ته د برکت عقيده ساتي او پر مخ يې مږي او راکاږي.

المبحث الرابع : في ذكر أقوال الفقهاء والمحدثين من المذاهب الأربعة المعروفة وغيرهم :

فقهاء نه در المختار جلد ۵ صفحه ۷۰۱ ذکر کوي :

ونقل المصنف عن الجامع انه لا بأس بتقبيل يد الحاكم والمتدين السلطان العادل وقيل السنة. باک نشته دي په ښکلولو د حاکم متدين کې چې عادل بادشاه وي چا ويلې سنت دي.

وتقبيل رأس العالم اجود كما في البزازية ولا رخصة فيه لغيرهما.

د غير عالم او د غير عادل بادشاه تقبيل کې اجازت نشته.

وفي المحيط ان لتعظيم اسلامه واكرامه جاز وان لنيل الدنيا كره.

که د اسلام او اکرام لپاره وي جائز دي عامو خلکو کې هم او که د دنيا د حصول لپاره وي مکروه دي.

او دا مسئله هم دلته راغله که طلب د عالم او زاهد نه وشي :

ان يدفع اليه قدمه ويمكنه من قدمه ليقبله اجابه وقيل لا .

چا ورته وويل دا قدم راته پريږده ښکلوم يې فقهاء مختلف دي بعضې وايي اجابه خبره دې ومني قدم دې ورته پريږدي چې ښکل يې کړي. قيل لا، چا ويلي نه دې پريږدي. بيا وايي :

يكره تقبيل المرأة فم اخرى او خدها عند اللقاء او الوداع .
ښځه چې بله ښځه په خوله ښکلوي او يا يې رخسار ښکلوي د ستړي مشو او مخدښي په وخت کې مکروه دي خو دا ټول حمليږي په شهوت باندې که يوه زنانه وي او ذي عزت وي او هغې ته خلک ښه عقيده لري شيخه صالحه ده هغه صورة بيا ترې مستثنى ده.
بعضې خلک داسې کوي چې چا ته لاس ورکړي نو خپل لاس ښکل کړي مونږ دير داسې ګورو .
وكذا ما يفعله الجهال من تقبيل يد نفسه فهو مكروه فلا رخصة فيه .
نو دا هم وايي مکروه دي ، بعضې خلک داسې وي چې د عالم د وړاندې يو ځل ځمکه ښکلوي بيا ورپا ځيږي .
وكذا ما يفعلونه من تقبيل الارض بين يدي العلماء والعظما فحرام .
د فقهاء لفظ د حرام نه مکروه تحريمي مراد وي .
والفاعل والراضي به آثمان لانه يشبه عبادة الوثن .
فاعل او راضي په دې کار دواړه ګنهګار دي ځکه دا مشابه دي د عبادت د بُت سره.
وهل يكفران . کافر کيږي په دې عمل سره .
على وجه العبادة والتعظيم كفر وان على وجه التحية لا .
که هسې اکرام او تحيه وي کافر کيږي نه مرتکب د کبيرې جوړيږي او که په نيت د عبادت باندې وي بيا کفر دي .
وفي الوهبانية يجوز بل يندب القيام تعظيماً للقادم .
مستحب دي ودريدل تعظيماً د قادم لپاره څوک چې د بهر نه راشي .
دارنګې محيط د برهاني جلد ۵ صفحه ۲۷۹ کې فرمايي :
ان قدم يد نفسه لغيره فهو مكروه لانه من فعل الفساق .
که چا دا خپل لاس واخيست په زور يې بل ته مخامخ کړو چې ښکل يې کړه ور جوړيږي کړو نو مکروه دي ځکه دا له عمل د فساقو نه ده .

وان قبل يد غيره او قبل يد عالم او سلطان عادل لعلمه وعدله لا بأس به .
درانګې حاشية الطحطاوي على المراقي جلد ۲ صفحه ۳۱۱ کې فرمايي :
وسنة ان تكون بكلتا يديه بغير حائل .
سنت دا دی چې سترې مشي په دواړو لاسونو وشي بغير د حائل نه .
وعند اللقاء بعد السلام ان يأخذ الابهام .
په وخت د لقاء کې لاس چې دې ورکړل وروسته له سلام نه وبه نيسي ابهامه ګوته .
فان فيه عرق تتشعب منه المحبة .
په دې ځای کې يو رګ دي چې دې رګ ته دې زور ورکړو محبت زياتيږي .
د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه څه اقوال منقول شوې دي په کراهيت د تقبيل باندې هغه حمل دي ټول په شهواتو باندې د اکرام لپاره په هغې نه دي حمل .
الاختيار للتعليل المختار جلد ۱ صفحه ۴۸ کې فرمايي :
ولا بأس بالمصافحة ولا بأس بتقبيل يد العالم والسلطان العادل .
تبيين الحقائق شرح د کنز الدقائق جلد ۱۶ صفحه ۴۰۰ کې ليکي په دې کې وايي چې چا معانقې ته مکروه ويلې لکه امام صاحب نه منقوله ده نو دا :
ماكان على وجه الشهوة . مراد ده .
اما على وجه البر والكرامة فجائز ورخص الشيخ الامام شمس الأئمة السرخسي وبعض المتأخرين تقبيل يد العالم او المتورع على سبيل التبرك وقبل ابو بكر بين عيني النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد ما قبض ، وقال سفيان الثوري تقبيل يد العالم او يد السلطان العادل سنة .
دې ته يې سنت ويل په دغه وخت کې عبد الله بن المبارک ورپاڅيده .
فقبل رأسه . سر يې ورته ښکل کړو .
وما يفعله الجهال من تقبيل يد نفسه اذا لقي الغير فهو مكروه فلا رخصة فيه .
لکه مخکې تير شول .

دارنګې العناية شرح هداية جلد ۱۴ صفحه ۲۷۱ کې ليکلي دي :

المکروه من المعانقة ما کان على وجه الشهوة وعبر عنه المصنف رَحِمَهُ اللهُ بقوله في ازار واحد فانه سبب يفضي اليها فاما على وجه البر والکرامة اذا کان عليه قميص او جبة فلا بأس به وعن سفيان تقبيل يد العالم سنة .

دارنګې درر الحکام شرح غرر الاحکام جلد ۳ صفحه ۴۹۹ کې ليکلي :

رخص الشيخ الامام شمس الأئمة السرخسي وبعض المتاخرين تقبيل يد العالم المتورع على سبيل التبرک .

دارنګې بحر الرائق شرح کنز الدقائق جلد ۲۲ صفحه ۱۶۶، ۱۴۵، کې ليکلي دي کې هم همغه مضمون ذکر کوي د سفيان صاحب قول را اخلي :

تقبيل اليد العالم او السلطان العادل سنة .

دارنګې مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر جلد ۸ صفحه ۱۷۵ کې ليکلي ددې عبارت هم د ماسبق په شان دي تحفة الملوک جلد ۱ صفحه ۲۳۴ کې ليکلي :

ويکره تقبيل الرجل فم الرجل ومعانقته ولا بأس بالمصافحة وقيل لا بأس بهما ايضاً اذا قصد المبرة والاکرام ولا بأس بتقبيل يد العالم والسلطان العادل .

تر دې ځای پورې تقبيل باندې د احنافو دلائل وه .

دويم فقه د امام مالک صاحب :

شرح مختصر خليل جلد ۵ صفحه ۴۶۱ کې ليکلي :

وبقي عليه تقبيل الميت وهو جائز وقد فعله ابوبکر بالنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعثمان بن مظعون .

دا روايت مخکې تير شوې ، دارنګې الفواکه الدواني على رسالة ابن ابي زيد القيرواني جلد ۸ صفحه ۳۰۱ کې ليکي :

وانما کره مالک تقبيل اليد . تقبيل د لاس د غير امام مالک مکروه ګڼلې .

بیا فتح الباري کې د ابن بطال مالکي قول دي هغه وايي چې د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ قول حمل دي په شهواتو باندې هر چې په نيت د تحيه او اکرام باندې وي بيا جائز دي هغه مالکي دي د موالکو مجتهد دي فقيه دي د خپل امام په قول ښه پوهيږي .

دارنګې حاشية العدوي على شرح كفاية الطالب الرباني جلد ۸ صفحه ۳۰۱ کې مذکور دي :

قال ابن بطال انما يكره تقبيل يد الظلمة والجبابرة .

امام مالک چې مکروه ګڼلې د ظالمانو جبابروو لاس ښکلول يې مکروه ګڼلي .

واما يد الاب والرجل الصالح ومن ترجى بركته فجائز .د پلار او د رجل صالح او هر هغه څوک چې هغه نه د برکت اميد کيږي لاس ښکلول يې جائز دي .

دريم فقه د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ :

شرح البهجة الوردية جلد ۱۴ صفحه ۲۰۲ :

مسئلة يسن تقبيل يد العالم او الصالح او الشريف او الزاهد كما فعلته الصحابة مع رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويكره ذلك لغني ونحوه ويستحب القيام لأهل الفضل اكراما لا رياء واعظاما اى تفخيما .

د عالم، شريف، زاهد او صالح لاس ښکلول مسنون دي صحابه وو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دا عمل کړې وه مالدار غني بيا مکروه دي ښه خلک چې راشي مجلس ته قيام ورته مستحب دي د رياء لپاره جائز نه دي .

دارنګې روضة الطالبين وعمدة المفتين جلد ۲ صفحه ۴۵۷ کې ليکلي :

قلت المختار ان تقبيل يد غيره ان كان لزهده وصلاحه او علمه او شرفه وصيانته ونحو ذلك من الامور الدينية فهو مستحب وان كان لغناه ودنياه وشوكته ووجاهته عند اهل الدنيا ونحو ذلك فمكروه .

دارنګې اعانة الطالبين جلد ۳ صفحه ۳۰۵ کې مذکور دي :

ويسن تقبيل يد الحي لصلاح او نحوه من الامور الدينية كعلم وزهد ويكره ذلك لغني او

نحوه من الامور الدنيوية كشوكة ووجاهة ويسن القيام لاهل الفضل اكراماً لا رياء وتفخيماً
اهل فضل ته اكراماً قيام مسنون دي .
دارنګې حواشي الشرواني جلد ۷ صفحه ۲۰۸ کې مذکور دي :
ولا بأس بتقبيل وجه الميت الصالح ويسن تقبيل يد الحي الصالح ونحوه من الامور الدينية كعلم وشرف وزهد ويكره ذلك لغناه او نحوه من الامور الدنيوية كشوكته ووجاهته عند اهل الدنيا ويكره حق الظهر .
دارنګې المجموع شرح د مهذب جلد ۴ صفحه ۴۳۶ کې ليکلي :
يستحب تقبيل يد الرجل الصالح والزاهد والعالم ونحوهم من اهل الاخرة واما تقبيل يده لغناه ودنياه وشوكته ووجاهته عند اهل الدنيا بالدنيا ونحو ذلك فمكروه شديد الكراهة .
دارنګې اسنى المطالب جلد ۱۴ صفحه ۲۹۸ کې ليکلي دي :
قد تقرر انه يسن تقبيل يد الصالح بل ورجله .
ثابته ده چې د صالح لاس ښکلول مسنون دي بلکې ورجله خپې ښکلول يې هم جائز او مسنون دي .
دارنګې تحفة المحتاج في شرح المنهاج جلد ۲۹ صفحه ۲۹۱ کې ليکلي :
ويسن تقبيل يد الحي الصالح ونحوه من الامور الدينية كعلم وشرف وزهد ويكره ذلك لغناه او نحوه من الامور الدنيوية كشوكته ووجاهته عند اهل الدنيا .
د شوافعو حوالې په دغه مسئله ډيرې زياتې دي د زيات طوالت له وجې مې په دې اکتفاء وکړه .

څلورم فقه د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ :

الاقناع جلد ۲ صفحه ۷۱ :
ويسن تقبيل يد الحي الصالح لصلاحه ونحوه من الامور الدينية كعلم وزهد ويكره ذلك لغني أو نحوه من الامور الدنيوية كشوكة ووجاهة ويسن القيام لاهل الفضل اكراماً لا رياء وتفخيماً

جائز او مسنون دي د بنه سړي لاس ښکلول د امور ديني له وجهي نه لکه علم او زهد او مکروه دي لاس ښکلول د غني او يا په مثل د غني له وجې د امورو دنيويه نه لکه شوکت او جاه او سنت دي قيام لپاره د اهل فضل اکراماً لا رياءً وتفخيماً .

دارنګې د کويت موسوعة الفقهية الكويتية من وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية بالكويت جلد ۲ صفحه ۴۶۴۸ کې ليکلي :

يجوز تقبيل يد العالم الورع و السلطان العادل وتقبيل يد الوالدين ايضاً والاستاذ وكل ما يستحق التعظيم والاكرام كما يجوز تقبيل رأس والجبهة وما بين العينين ولكن كل ذلك اذا كان على وجه المبرة والاكرام او الشفقة عند اللقاء والوداع وتديناً واحتراماً مع امن الشهوة.

دارنګې فتاوى شبكة الاسلامية جلد ۱۰۹ صفحه ۱۵۳ رقم د فتوى دي ۴۳۷۶۰ عنوان د فتوى حکم تقبيل يد الوالدين تاريخ د فتوى دی ٦ د ذالحجې ۱۴۲۴ :

سوال : تقبيل يد الاب والام هل هو من السنة .

الفتوى : الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أما بعد !

فقد سبقة الاجابة على حكم تقبيل اليد على العموم في الفتوى رقم : ۳۵۷٦٦، کې وايي مونږ دا فتوى ذکر کړي ده .

اما بخصوص الوالدين فقد صاحب تبيين الحقائق عند قول زيلعي تقبيل يد العالم او السلطان العادل سنة قلت كذلك يجوز تقبيل يد الوالدين .

دارنګې فتح الباري د ابن حجر جلد ۵ صفحه ۲۷۳ کې ليکلي : عجيبه استدلال کوي : استنبط بعضهم من مشروعية تقبيل الاركان جواز تقبيل كل من يستحق التعظيم من آدمي وغيره .

هر کله چې حجر اسود او رکن يماني ددې تقبيل په احاديثو ثابت شو او جائز شو نو معلومه شوه چې روا ده تقبيل د هر هغه شي چې هغه مستحق د تعظيم وي آدمي وي که غير وي له آدمي نه .

فأما تقبيل يد الآدمي فيأتي في كتاب الادب حواله ورکوي .

اما غيره فنقل عن امام احمد انه سئل عن تقبيل منبر النبي صَلَّىٰٓاللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ وتقبيل قبره صَلَّىٰٓاللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ . چا د امام احمد نه تپوس وکړ چې مدينه منوره کې د نبي عَلَيۡهِٱلسَّلَامُ ممبر ښکلول او يا د رسول الله صَلَّىٰٓاللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ روضه ښکلول څنګه دي .

فلم ير به بأس . امام احمد رَحِمَهُٱللَّهُ ورته وويل دا باک نه کوي .

واستبعد بعض اتباعه صحة ذلك .

ددې بعضې تابعدارانو نسبت ددې قول امام احمد رَحِمَهُٱللَّهُ ته بعيد ګڼلې دي چې په بعضې تابعدارانو کې اشاره ابن تيميه او ابن قيم ته ده چې فروعو کې دده مقلدين دي او داسې راى ته شرک وايي .

ونقل عن ابن ابي الصيف اليماني احد علماء مكة من الشافعية جواز تقبيل المصحف واجزاء الحديث وقبور الصالحين .

هغوي دا فتوى ورکړې ده د شوافعو نه چې قرآن کريم ښکلول د احاديثو کتابونه ښکلول او قبرونه د صالحانو ښکلول باک نه لري .

بهر حال د قبر ښکلولو متعلق د نبي عَلَيۡهِٱلسَّلَامُ ممبر او روضه مبارکه خصوصيات دي او دې نه غير عام قبرونه بعضې فقهاو مکروه ګڼي بعضې لا بأس ګڼې نو دا به په حق د عوامو کې فتوى نه ورکوي او نه به عوامو ته دا وايي چې قبر ښکلول جائز دي .

که استفتاء وشي نو ورته وايي چې دې شيانو نه ځان ساته ځکه سد باب په کار دي عوام هسې نه چې د کاڼي ښکل کړي او د هغې سره يې بيماري ښه شي دا مؤثرِ حقيقي ګڼي او ذات الله يې له ياده وځي او دا کرامت دده نه ګڼي او دې مؤثرِ حقيقي ګڼي .

او که يو عالم سړي چې هغه قبر او مافي القبر پيلولې شي او هغه تاثير د خالق حقيقتاً مؤثرِ مجازي نه پيلولې شي که هغه بيا تقبيل د قبر کوي نو شرک نه دي .

شيخ حسن جان صاحب رَحِمَهُٱللَّهُ نه بار بار دا خبره طالبانو اوريدلې او په کيسو کې موجود ده چې زه کله بخارئ کې د امام بخاري قبر ته لاړمه ما يې شناختې ښکل کړي نو داد

ټربښکلول دي کنه نو چې د امام بخاري شناختې د محبت نه ښکلوي نو د نبي اکرم ﷺ د روضې ښکلول څنګه ناجائز شو یا د صحابي یا بل ولي څنګه ناجائزه شول.

خو شیخ حسن جان صاحب رَحِمَهُ اللهُ عالم وه او عالم مؤثرِ حقیقي د مجازي نه بیلولې شي دا په نیت د محبت او اظهار محبت سره شوې نو بیا د غه فتوی د شوافعو دې باره کې ده چې نور د صالحینو لابأس به دي تقبیل د هغې نو چا چې د جواز فتوی کړې په حق د خواصو کې او چا چې مکروه ویلې په حق د عوامو کې عوامو ته دې د دې فتوی ور نه کړې شي.

دارنګې تحفة الاحوذي جلد ۷ صفحه ۳۹ کې مذکور دي د امام نووي رَحِمَهُ اللهُ قول نقلوي:

تقبيل يد الرجل لزهده وصلاحه او علمه او شرفه او صيانته او نحو ذلك من الامور الدينية لايكره بل يستحب فان كان لغناه او شوكته او جاهه عند اهل الدنيا فمكروه شديد الكراهية.

دا مسئله د تقبیل وه چې د مختلفو کتابو حوالو سره او نصوصو سره ذکر کړه او مجموعه د ټولو داده چې دا امرِ جائز دي که د چا زړه یې مني ودې کړي که نه وي امرِ لازم نه دي چې خامخا دې تقبیل وشي او یا دا چې چا تقبیل ونه کړو هغه نه سړي خفه شي چې ولې دې ونه کړو دا هم صحیح نه ده.

او بعضې وخت داسې هم وي چې یو کس تقبیل نه کول په نیت د کبر باندې کوي او یا تقبیل نه کول علامه د پنجپیریانو وګرځیږي هغه مجلس د دوي نه وي چې دې راشي نو ته پرې پوهیږي چې دا سړي نور هم ګډوډ دی.

هغه جدا خبره ده چې بعضې کار د غلطو خلکو علامه شي بیا د هغې خلکو خلاف په کار دي زمونږ د بارې د حضرت صاحب شیخ مولانا محمد هاشم سمنګاني صاحب زمونږ شیخ به ویل چې هغه د تقبیل الید سخت مخالف وه یو مرید به یې هم د لاس ښکلولو ته نه پریښوده چې چا به ښکل کړو وایي ده به وویل چې دومره زور راکوي لکه چې زما لاس کې څوک ستنې منډي وایي بیا په کندوز کې پنجپیریان پیدا شول هغه وخت کې او هغوي دې عمل ته شرک وویل نو بیا به یې مخالفت نه کوه د تقبیل الید.

مسئله د تقبیل الیدین والرجلین ختمه شوه.

بعون الملك الوهاب

مسئله تقبيل المصحف :

التحقيق في تقبيل المصحف :

بله مسئله متنازعه تقبيل المصحف ده يو وخت داسې وه چې دوي به د قبر ښکلول شرک ګڼل چا ورته څه ونه ويل بيا يې د خپو ښکلول شرک ګڼل چا ورته څه ونه ويل بيا يې لاسونه د علماء صلحاء ښکلولو ته شرک وويل هغې نه پس هم چې علماء چپ پاتې شول نو اهل حديثو وهابيانو لاس اوږد کړ ده دې خبرې ته چې د قرآن عظيم الشان ښکلول شرک دي بدعت دي ، دې حد ته دوي ورسيدل نو ما په تحقيق د دې مسئلې شروع وکړه او ما په دې مسئله يوه مستقله رساله هم ليکلې ده او ما په هغه مقدماتي کلماتو کې وجه د تصنيف د دې رسالې ليکلې ده :

أما بعد ! يقول العبد الفقير خادم العلماء والدين غلام حضرت غلام الحنفي إني رأيت في فتاوى الدين الخالص بخط الأمين البشاوري ان تقبيل المصحف تركه أولى .

ښکلولو د مصحف نه ، نه ښکلول غوره دي او دا يې هم ليکلي په جلد ۱ صفحه ۱۶۵ فتاوى دين الخالص کې وايي :

لم ينقل ذلك عن النبي رَحِمَهُ اللهُ ولا عن أصحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ .

د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه او د صحابو نه دا منقول نه دي .

وكذا رأيت في الفتاوى الكبرى لابن تيمية جلد ۱ صفحه ۴۹ کې استفتاء شوې ده :

القيام للمصحف وتقبيله لانعلم فيه شيئاً مأثوراً عن السلف .

هغه وخت کې رواج داوه چې کوم ځای کې به چې قرآن عظيم الشان چا سره وه اکثراً به چې غټه جلسه وه يا به کوم پروګرام وه نو هغه به د فخر لپاره راوړلو چې خلک يې وګوري چې قرآن دادی هغه وخت سره کم وه ځکه چاپ خانې نه وي خلک به د دې سلام او زيارت ته تلل د بادشاهي هال کې به يو دانه ايخي وه نو ملاقات لپاره به خلک لرې نه راتلل او غټ به هم وه او چيتد لې به په آسانه نه شو نو بيا به چې کومه جلسه کې خلکو قرآن عظيم الشان را روان کړې وه د زيارت لپاره چې خلک يې وګوري نو چې دا به را روان وه نو خلکو به ورته

قیام تعظیمي وکړو دا تړوله جلسه به ودریده دا خبره مشهوره وه نو د ابن تیمیه نه استفتاء دې کې شوې ده چې قیام مصحف ته څنګه دي مصحف را روان دي خلک یې راوړي او د جلسې خلک ورته د آدب لپاره ودریږي دا څنګه دي نو دې باره کې ابن تیمیه وایي :

القيام للمصحف وتقبيله لا نعلم فيه شيئاً مأثوراً عن السلف .

دارنګې : ورأيت في اللجنة الدائمة للبحوث العلمي والإفتاء حكم تقبيل المصحف السؤال الثاني عشر من الفتوى رقم : ۴۱۷۲ .

رأيت في الناس ما لم أسمع به قط ولا رأيت وهو تقبيل القرآن كما يقبل رجلان أحدهما الآخر جلد ۱۲ . لا نعلم لتقبيل الرجل القرآن اصلاً ؟

د وهابيانو دا فتوى جواب ورکوي ما کله هم نه دي اوریدلي خلکو داسې سوال کړې لکه څنګه چې یو سړي بل ښکلوي داسې یو سړي قرآن کریم ښکل کړي یو سړي چې قرآن کریم ښکلوي دې د پاره هیڅ دلیل زمونږ په علم کې نشته نو مطلب دا دی چې دا جائز نه دي دلیل نه لري .

دا دري عبارتونه د وهابیانو ما پیدا کړل د ابن تیمیه د بشاوري او د فتاوی اللجنة :

فتحيرتُ في قولهم ان تقبيل المصحف لم ينقل عن السلف .

زه په حیرت کې شوم ددوي له دې قول نه .

وتفحصت متون الأحاديث وشروحها وأقوال الفقهاء من المذاهب الأربعة المعروفة فرأيت أن عكرمة بن أبي جهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ من الصحابة كان يأخذ المصحف ويضعه على وجهه .

حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به قرآن کریم را اخیسته او په مخ به یې ایښوده .

ويقول . وویل به یې .

كلام ربي ومنشور ربي وصرح كثيراً من الفقهاء بجواز تقبيل المصحف بل باستحبابها وبعضهم توقفوا في ذلك .فها أنا أذكرُ أولاً عمل عكرمة بن أبي جهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مع ذكر سندها ومسندها وثانياً أريد أقوال الفقهاء من المذاهب الأربعة المعروفة وغيرهم .

المبحث الأول : تقبيل المصحف :

د عکرمه بن أبي جهل سنن الدارمي را اخیستې جلد ۲ صفحه ۵۳۲ باندې چې معرب بیروتي چاپ جلد ۱۰ صفحه ۲۲۹ جوړیږي غیر معرب بیروتي چاپ جلد ۲ صفحه ۵۳۲ده چې رقم د حدیث دي : ۳۳۵۰:

أخبرنا سليمان بن حرب حدثنا حماد بن زيد عن أيوب عن ابن أبي مليكة أن عكرمة بن أبي جهل كان يضع المصحف على وجهه ويقول كتاب ربي كتاب ربي .

دا حدیث حاکم في المستدرک علی الصحیحین ذکر کړي جلد ۱۱ صفحه ۴۳۴ کې الفاظ یې دادی :

كان عكرمة بن أبي جهل يأخذ المصحف فيضعه على وجهه ويبكي ويقول كلام ربي وكتاب ربي.

دارنګې ابو نعیم اصبهاني په معرفة الصحابة جلد ۱۵ صفحه ۳۱۳ کې ذکر کړې ده هغې کې دده حالات هم دي څه حالات په کې ذکر دي د مبایعت مسئله په کې ده چې فتح مکه کې دې وتبنتیده جدي ته ورسیده اراده یې وه کشتي کې کیني بل خوا لاړ شي دده بي بي ایمان قبول کړو هغې پسې څوک ولیږه چې راځه ام الحکیم بنت الحارث بن هشام نومیده ورته یې وویل چې ما ایمان راوړي دي تاته مې هم امان غوښتې ده بیا راغې ایمان یې راوړ ایمان یې قبول شو .

دارنګې بیهقي في شعب الایمان جلد ۵ صفحه ۲۴۳ کې ذکر کړي دي .

دارنګې عبد الله بن أحمد بن حنبل په السنة جلد ۱ صفحه ۱۷ کې هم ذکر کړي.

ابن کثیر په البدایة والنهایة جلد ۷ صفحه ۴۱ کې هم ذکر کړي دده د ایمان او اسلام ذکر یې هم کړې دي ، ابن کثیر دا ذکر کوي :

كان يقبل المصحف ويبكي ويقول كلام ربي كلام ربي .

ده به مصحف ښکلوه او ژړل به یې او ویل به یې :

كلام ربي كلام ربي .

احتج بهذا الامام احمد على جواز تقبيل المصحف ومشروعيته .

ابن کثیر بیا لیکلي دده دغه عمل نه امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل نیولې په دې چې ښکلول د مصحف جائز دي.

خطیب بغدادي په تاریخ بغداد جلد ۴ صفحه ۴۵۶ کې دا روایت ذکر کړي.

علامه هیثمي په مجمع الزوائد جلد ۴ صفحه ۳۰۲ کې ذکر کړي.

بیا وایي : رجاله رجال صحیح.

نو دومره کتبو د عکرمة بن ابي جهل دا عمل ذکر کړي چې د قرآن کریم باندې مخ ایښې دي او په روایت د ابن کثیر کې یې ښکل کړي او ژړلي دي ادباً او صحابه چې کوم عمل وکړي هغې ته بدعت ویل حماقت دي ځکه بدعت هغه عمل ته ویلې شي چې په قرونو ثلاثوو کې اصل ونه لري قرنِ ثاني د صحابوو کې چې موجود وي نو بیا بدعت څنګه شو که د استحباب عقیده دې ورځي فبها که نه ورځي دلیل د جواز خو کیدې شي چې صحابه کوم عمل وکړي.

المبحث الثاني : في إيراد أقوال الفقهاء من المذاهب الأربعة المعروفة وغيرهم في تقبيل المصحف :

مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر جلد ۸ صفحه ۲۱۴ کې فرمایي :

وكذا لا بأس بقبلة المصحف. باک نشته په ښکلولو د مصحف کې.

لأن ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كان يأخذ المصحف كل غداة ويقبله.

ځکه ابن عمر صاحب به مصحف را اخیسته هر سحر به یې ښکلوه.

ويقول عهد ربي و منشور ربي عزوجل كما في القلية.

نو دلته دې دا ثابتوي چې ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به دا ښکلوه.

دارنګې :

قال عبدالله بدرالدين محمد بن عبدالله الزركشي الشافعي في البرهان في علوم القرآن جلد ۱ صفحه ۴۷۸ کې فرمایي :

ويستحب تقبيل المصحف. ښکلول د مصحف مستحب دي.

لان عكرمة بن ابي جهل كان يقبلة . عكرمه بن ابي جهل به ښكلوه .

وبالقياس على تقبيل الحجر الاسود .د قياس نه هم لږ كار واخله تقبيل د حجر اسود تعظيماً مسنونا تو نه دي نو دادليل خوكيږي چې هريوشي ذي عظمت ښكلول مستحب دي.

ولانه هدية لعباده . هغه د عبادو لپاره هديه من الجنة ده .

فشرع تقبيله . نو جائز شو تقبيل د مصحف .

كما يستحب تقبيل الولد الصغير وعن امام احمد ثلاث رويات (١) الجواز (٢) والاستحباب (٣) والتوقف .

مقلدين يې دري ډلې شوې جمهور خو يې جائز ګڼي خو امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ نه توقف راغلې .

ابن حجر عسقلاني په فتح الباري جلد ٥ صفحه ٢٧٣ کې ذکر کوي :

استنبط بعضهم من مشروعية تقبيل الأركان جواز تقبيل كل من يستحق التعظيم من أدمي وغيره فأما تقبيل يد الادمي فيأتي في كتاب الأدب وأما غيره فنقل عن امام أحمد أنه سئل عن تقبيل منبر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتقبيل قبره .

د امام احمد نه چا تپوس وکړو چې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ منبر ښکلول څنګه دي او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روضه ښکلول څنګه دي .

فلم ير به بأساً . امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ وايي باک نه لري .

واستبعد بعض اتباعه صحة ذلك . دده بعضې تابعدارانو د دې نسبت امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ ته بعيد ګڼلې اشاره ابن قيم او ابن تيميه ته کوي .

ونقل عن ابن ابي الصيف اليماني احد علماء مكة من الشافعية جواز تقبيل المصحف واجزاء الحديث وقبور الصالحين .

دارنګې حواشي الشرواني د علامه عارف بالله شيخ عبد الحميد شرواني شافعي جلد ١ صفحه ١٥٥ کې فرمايي :

وقال البجيرمي واستدل السبكي على جواز تقبيل المصحف بالقياس على تقبيل الحجر الاسود. امام سبكي وايي چې مصحف ښکلول روا دي دليل دادی چې حجر اسود باندې دې قياس شي.

ويد العالم والصالح والوالد اذ من المعلوم انه افضل منهم.

په لاس د عالم او صالح او والد باندې دې قياس شي معلومه خبره ده چې حجر اسود نه عالم نه او صالح نه هر چا نه مصحف او قران كريم بهتر دي چې د هغوي تقبيل جائز او مستحب ده تعظيماً نو د قرآن كريم په طريقه اولى تعظيم په كار دي.

دارنګې صاحب د تحفة المحتاج شرح د منهاج جلد ۲ صفحه ۱۵۷ کې ليکلي دي:

واستدل السبكى على جواز تقبيل المصحف بالقياس على تقبيل الحجر الاسود ويد العالم والصالح والوالد اذ من المعلوم انه افضل منهم.

دارنګې حاشية الجمل جلد ۹ صفحه ۱۸۱:

قال بعضهم يؤخذ من هنا أي من سن تقبيل الحجر الاسود سن تقبيل المصحف والمنبر الشريف والقبر الشريف أيضاً ومثله قبور بقية الأنبياء والصالحين واجزاء الحديث افتى بذلك ابن ابي الصيف من الشافعية.

دارنګې وقال صاحب حاشية البجيرمي على الخطيب جلد ۳ صفحه ۳۱۶:

واستدل السبكي على جواز تقبيل المصحف بالقياس على تقبيل الحجر الاسود ويد العالم والصالح والوالد اذ من المعلوم انه افضل منهم.

دارنګې وقال العلامة شمس الدين ابوعبدالله محمد بن مفلح المقدسي الحنبلي رَحِمَهُ اللَّهُ في الآداب الشرعية جلد ۲ صفحه ۳۹۱: ويجوز تقبيل المصحف قدمه في الرعاية وغيرها وعنه يستحب لان عكرمة بن ابي جهل كان يفعل ذلك رواه جماعة منهم الدارمي وابوبكر عبدالعزيز.

او دده نه منقول دي: التوقف: توقف هم ترې منقول دي.

دارنګې ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ په مرقات شرح د مشکوة کې فرمايي په جلد ۷ صفحه ۷۲:

وقد اطنب ابن حجر هنا بذكر الفروع الفقهية المتعلقة بالقرآن من تحريم توسد المصحف ومستثنياته .

نو ابن حجر صاحب دلته دا مسئله چيرلې چې حرام دي په قرآن كريم تكيه كول بالښت ترې جوړول عربو كې دا كيږي .

وتحريم مد الرِجْلِ ووضع الشيء فوقه .

حرام دی خپې غزول طرف د قرآن كريم ته دارنګې له پاسه پرې يو شي ايښودل .

دارنګې : واستدبارة وتخطيه ورميه . شاه كول قرآن كريم ته او تخطي كول د قرآن پاك نه خپه اړول او ويشتل د قرآن كريم چې يو كس يې بل ته ور اچوي .

دا ټول عربان كوي په قرآن پاك خپه هم اړوي او يو بل ته يې ورغورځوي هم چې قرآن كريم يو د بل نه وغواړي نو هغه يې را واخلي ور وايي چوي دلته وهابيان هم دا كوي .

ما ته يو كس راغې داسې دوه دزې غوندې وه دلته به هم راتلو او د رستمي وهابي سره يې هم ترجمه كوله او زما هم شاګرد وه نويوه ورځ راغې ماته يې وويل چې زه خو هلته تللي وم او ماپرون عجيبه كار وليد و ماورته وويل هغه څنګه وايي مونږ چې ترجمه كوله نوزر (۱۰۰۰) كسان يو تقريباً څه طالبان دي څه كالجيان دي دې ټولو كې مونږ دوه كسه پټكي (عمامه) لرو وايي مونږ ته بريلويان وايي هرې خوا چې تلل كوو نو آوازونه راپسې كوي چې بريلويان دي وايي دا ټول د ترجمې په وخت كې قرآن پاك په ځمكه ږدي دوي هم ناست وي په ځمكه او قرآن پاك يې هم په ځمكه ايښي وي وايي ما ورو كي بالښت ځان سره وړي او په هغې قرآن پاك له پاسه ږدم نو وايي راپورې خاندي چې دا څه ليمځي ځان سره ګرځوي .

نو پرون وايي داسې وشول چې په تفريح كې ما قرآن كريم ايخي وه يو كس وهابي راغې خپه يې پرې واړوله نو وايي ما ونيوه چې قرآن كريم نه دې ولې خپه واړوله نو وايي ماته يې وويل چې ددې څه تعظيم خو په مونږ لازم نه دي دا خو په قصه خواني كې چاپ كيږي د قرآن كريم ادب خو داده چې څه يې درته ويلې وي هغه ومنه دا چاويلي چې خپه به ترې نه اړوي نو دې ځای ته خبره راورسيده .

نو دا تخطي ده دا يې حرام ثابت كړي توسد د مصحف تكيه شوه او مستثنياته يې ثابت

کول چې قرآن کریم دوه قطعه کړي بې ځایه او یا یې یوه پاڼه بې ځایه قط کړي او تحریم د مد الرحل خپه وروغزوي یا برسیره څه شي پرې کیدې یا شاه ورواړوي تخطي کول یې یو بل ته بې اچول او یا تصغیر د لفظ یې وکوي مصیحف ورته ووایي لکه قرآن ګوتې یا سورة ګوتې.

وجواز تقبیله. دا مسئله یې هم چیړلې.

وکذا ذکر روایة عکرمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

وفي الموسوعة الفقهية الكويتية جلد ۴ صفحه ۲۳۵ :تقبيل المصحف ذكر الحنفية وهو المشهور عند الحنابلة جواز تقبيل المصحف تكريماً له وهو المذهب عند الحنابلة وروي عن أحمد استحبابه لما روي عن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أنه كان يأخذ المصحف كل غداة ويقبله ويقول عهد ربي ومنشور ربي عزوجل.

دا مخکې مونږ ذکر کړي داد عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه منقول نه دي بلکې د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه منقول دي دا په دې ځای کې دوي نه غلطي شوې ده.

وكان عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يقبل المصحف ويمسحه على وجهه.

حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به مصحف ښکلولو په مخ به یې مسحه کولو.

وقال النووي في التبيان روينا في مسند الدارمي بإسناد صحيح عن ابن ابي مليكة أن عكرمة بن أبي جهل كان يضع المصحف على وجهه ويقول كتاب ربي كتاب ربي ونقل صاحب الدرعن القنية وقيل إن تقبيل المصحف بدعة.

نو فتاوی کویتیه پرې رد کوي وايي:

ورده بما تقدم نقله عن عمر وعثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. چې رد یې په دې کې ده د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه ثابت دي نو بدعت څنګه شو.

فتاوی الکبری د ابن تیمیه هم دې ته ترجیح ورکوي چې سلفو نه ثابت نه دي خو قیام دې مصحف ته وشي د قیام قائل دي جلد ۱ صفحه ۱ کې وايي:

فاما إذا اعتاد الناس قيام بعضهم لبعض. که کومو علاقو کې دا رواج وي چې په خپلو

کې يو بل ته پاڅيږي لکه دلته دا رواج دي صلحاء او علماء ته خلک قيام کوي .

فقد يقال لو تركوا القيام للمصحف مع هذه العادة لم يكونوا محسنين في ذلك ولا محمودين بل هم الى الذم اقرب .

چې هر کله عالم او صالح ته قيام کوي او قرآن کريم ته قيام نه کوي تعظيمي نو دوي وايي په دې کار کې محسنين نه دي محمودين نه دي بلکې دوي ذم ته اقرب دي .

حيث يقوم بعضهم لبعض ولا يقومون للمصحف الذي هو احق بالقيام .

چې خپلو کې يو بل ته قيام کوي نو قرآن کريم ته يې څنګه نه کوي دا احق بالقيام دي.

حيث يجب من احترامه وتعظيمه ما لا يجب لغيره .

د قرآن کريم چې څومره احترام لازم دي د بل څيز هغومره لازم نه دي .

حتى ينهى ان يمس القرآن الا طاهراً والناس يمس بعضهم بعضاً مع الحدث لا سيما وفي ذلك من تعظيم حرمات الله وشعائره ما ليس في غير ذلك وقد ذكر من ذكر من الفقهاء الكبار قيام الناس للمصحف ذكر مقرر له غير منكر له .

وايي چې څومره فقهاء مونږ ګورو قيام د قرآن کريم تعظيماً ثابتوي رد پرې نه کوي نو ابن تيميه د قرآن عظيم الشان د قيام تعظيماً قائل دي وهابيان دي مسئله کې خپل مشر پسې هم لانړل او دوي چا دې ته بدعت وويل بيا خلاف اولى ورته وويل چونکې دوي په دې باندې قول کړې وه نو زه مجبوره شومه او دا وړه جزيه مې دلته زير بحث کړه د څو فقهاء په نصوصو کې د قرآن عظيم الشان پوره احترام کوي او وهابيان مو چې ليدل قصداً يې بنکلوي ځکه دوي د خالق د کلام په تعظيم هم خفه کيږي هسې په خولې چغې د قرآن قرآن وهي په حقيقت کې د قرآن کريم لويه بې آدبي دوي وکړه هم يې د معنى تحريف وکړو او هم يې ظاهري بې عزتي بې حرمتي روانه کړې ده دې نه بعد ما د قاريانو طالبانو خواصو او عوامو لپاره د قرآن کريم حرمات ذکر کړي دا زمونږ دې مسئلې سره يو څه تړاو لري نو وي ګوري چې کوم يو په چا کې کم وي نو کوشش وکړي چې هغه په ځاى باندې راوړي .

ذكر بعض حرمات القرآن :

(۱) ومن حرمته ان يقرأه على طهارة . (۲) ومن حرمته أن يستاك ويتحلل فيطيب فاه.

بل له حرمت د قرآن كريم نه داده چې مسواک به وو هي خوله به ښه پاکه کړي .

اذ هو طريقه . د قرآن كريم د لوستلو لاره دغه ده .

قال يزيد بن أبي مالك : إن أفواهكم طرق من طرق القرآن فطهروها ونظفوها ما استطعتم .

(۳) ومن حرمته ان يتلبس كما يتلبس للدخول على الامير لانه مناج .

بل د احتراماتو د قرآن عظيم نه داده هغه لباس دې آچوي کوم لباس کې چې بادشاه او حاکم ته ورځي ځکه دا مناجات مع الله دي د عامو بادشاهانو نه خالق ته کم کتل نه دي په کار .

(۴) ومن حرمته ان يستقبل القبلة لقراءته .

بل له احتراماتو د قرآن کريم داده مخامخ دې کيني قبلې ته .

وكان أبو العالية إذا قرأ اعتم ولبس وارتدى واستقبل القبلة .

ابو العالية حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به چې کله تلاوت کولو نو پګړي به يې په سر کړه ښائسته جامې به يې واچولې څادر به يې واغوسته او قبلې ته به مخامخ شو نو دا پټکي په سر کول ښکلي جامې اغوستل څادر اغوستل داد آدابو د تلاوت نه شول نو چې پټکې په سر کول له آدابو د تلاوت نه شول د جماعت د آدابو نه خو په طريقه اولى سره ده ځکه جماعة کې خو خامخا تلاوت راځي هغه هم حالات د مناجات دي مع الله تعالى .

(۵) ومن حرمته أن يتمضمض كلما تنخع .

بل د آدابو د تلاوت داده کله چې غاړه تازه کوي نو بيا به مضمضه کوي .

روى شعبة عن أبي حمزة عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا انه كان يكون بين يديه تور .

يو لوښي به وه د کانړي نه جوړ .

إذا تنخع مضمض ثم اخذ في الذكر او التلاوة .

(٦) ومن حرمته اذا تثائب أن يمسك عن القراءة .

بل د آدابو د تلاوت نه داده چې د اسويلي په وخت کې دې بند شي .

لانه اذا قرأ فهو مخاطب ربه ومناج والتثاؤب من الشيطان . وقال مجاهد : اذا تثاءبت وأنت تقرأ القرآن فأمسك عن القرآن تعظيماً حتى يذهب تثاؤبك .

(۷) ومن حرمته ان يستعيذ بالله عند ابتدائه للقراءة من الشيطن الرجيم ويقرأ بسم الله الرحمن الرحيم وان كان ابتدأ قراءته من أول السورة أو من حيث بلغ .

(۸) ومن حرمته إذا أخذ في القرءة لم يقطعها ساعة فساعة بكلام الادميين من غير ضرورة.

يعني د معمولي خبرې لپاره دې تلاوت نه بندوي .

(۹) ومن حرمته أن يخلوا بقراءته .

بل د آدابو د قرآن کريم نه داده ځان ته دې تلاوت کوي .

حتى لا يقطع عليه أحد بكلام فيخلطه بجوابه لأنه اذا فعل ذلك زال عنه سلطان الاستعاذة الذي استعاذ في البدء .

وايي که خبرې يې وکړې هغه استعاذه چې سرکې ويلې ده د هغې قوت ختم شو اوس د بلې استعاذې ضرورت دې چې خبرې وکړي بيا به اعوذبالله وايي چې مدد د خداى تعالى معي شي ورسره .

(۱۰) ومن حرمته أن يقرأه على تؤدة وترسيل وترتيل .

(۱۱) ومن حرمته أن يستعمل فيه ذهنه وفهمه حتى يعقل ما يخاطب به .

استعمال د ذهن او فهم دې کوي تر دې چې ده ته د څه خطابات شوې په هغې پوه شي .

(۱۲) ومن حرمته أن يقف على آية الوعد فيرغب الى الله تعالى ويسأله من فضله وأن يقف على آية الوعيد فيستجير بالله منه .

(۱۳) ومن حرمته أن يقف على أمثاله فيتمثلها .

عبرت دې ترې واخلي .

(۱۴) ومن حرمته ان يلتمس غرائبه .

(۱۵) ومن حرمته اذا انتهت قراءته ان يصدق ربه ويشهد بالبلاغ وكلاهما مروي عن

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقد روي أبو هريرة عنه أنه قال أعربوا القرآن والتمسوا غرائبه.

(١٦) ومن حرمته إذ قرأه أن لا يلتقط الآي من كل سورة فيقرأها فإنه روى لنا عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ألا مَرَّ ببلال وهو يقرأ من كل سورة شيئاً فأمره أن يقرأ السورة كلها أو كما قال عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ.

(١٧) ومن حرمته اذا وضع المصحف ألّا يتركه منشوراً وألّا يضع فوقه شيئاً من الكتب حتى يكون أبدا عالياً لسائر الكتب علماً كان أو غيره.

(١٨) ومن حرمته أن يضعه في حجره إذا قرأه أو على شيء بين يديه ولا يضعه بالارض.

(١٩) ومن حرمته أن لا يمحوه من اللوح بالبصاق ولكن يغلسه بالماء.

(٢٠) ومن حرمته اذا غسل بالماء أن يتوقى النجاسات من المواضع والمواقع التي توطأ فان لتلك الغسالة حرمة وكان من قبلنا من السلف منهم من يستشفي بغسالته.

(٢١) ومن حرمته ألّا يتخذ الصحيفة إذا بليت ودرست وقاية للكتب فان ذلك جفاء عظيم ولكن يمحوها بالماء.

(٢٢) ومن حرمته ألّا يخلي يوماً من أيامه من النظر في المصحف مرةً وكان أبو موسى يقول إني لأستحيي ألّا أنظر كل يوم في عهد ربي مرة.

(٢٣) ومن حرمته ان يعطي عينيه حظهما من العبادة روى زيدا بن اسلم عن عطاء بن يسار عن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اعطوا أعينكم حظها من العبادة قالوا يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وما حظها من العبادة؟ قال: النظر في المصحف والتفكر فيه والاعتبار عند عجائبه وروي مكحول عن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افضل عبادة امتي قراءة القرآن نظراً.

(٢۴) ومن حرمته أن لا يتأوله عند ما يعرض له شيء من أمر الدنيا.

بل له احتراماتو د قرآن کریم داده چې تاويلات د امورو دونياويو دې په کې نه کوي او دا فساد نن صبا طالبانو کې شته دي او په ملايانو کې هم شته دي لکه دسترخوان ته به ناست

وي نو وايي :

كلوا واشربوا هنيئاً بما اسلفتم في الايام الخالية ، هذا عند حضور الطعام واشباه هذا .

دا تاويل دي بامور الدنيا او يا لکه يو کس ډوډي ته ناست دي او بل کس راشي او دا ناست کس دې راغلي کس ته وايي :

جئت على قدر يا موسى. بنه په تيم راورسيدي وايي داتاويل د امورو د دنيا ده دا مه کوه.

(٢٥) ومن حرمته ألا يتلى منكوسا كفعل معلمي الصبيان يلتمس احدهم بذلك ان يرى الحذق من نفسه والمهارة فان تلك مخالفة .

(٢٦) ومن حرمته ألّا يقعر في قراءته .

بل له آدابو د قرآن کريم داده چې په تلاوت کې به ډير ژور نه ځي چې د خپل حد نه بل خوا لاړ شي .

كفعل هؤلاء الهمزيين المبتدعين المتنطعين في إبراز الكلام من تلك الافواه المنتنة تكلف فان ذلك محدث القاه اليهم الشيطان فقبلوه عنه .

(٢٧) ومن حرمته ألّا يقرأه بالحان الغناء .

او بل له احتراماتو د قرآن کريم نه داده چې قراءت به نه کوي په لحن د سندرو باندې.

كلحون أهل الفسق .

د اهل فسقو لکه کومې مسابقې د قراءت چې کيږي د ايران او مصر نه چې کوم قاريان راځي او په اوږده ساه قراءت کوي دا خو يو کتاب کې هم نه دي راغلي چې ساه دې اوږده کړه ډير ثواب لري ، او دلته نن صبا چې دچا ساه اوږده وي هغه غټ قاري وي .

ولا بترجيع النصارى ولا نوح الرهبانية فان ذلك كله زيغ و قد تقدم .

نوح الرهبانية دا چې يو قاري په ژړا تلاوت کړي وي او بل د هغه پيښې کوي هسې ځان ژړه غوني کړي نو دا پيښې په کې ناروا دي .

(٢٨) ومن حرمته أن يجلل تخطيطه اذا خطه وعن أبي حكيمة أنه كان يكتب المصاحف

بالكوفة فمر علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فنظر الى كتابته فقال له اجل قلمك فاخذت القلم فقططته من طرفه قطاً ثم كتبت وعلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قائم ينظر الى كتابتي فقال هكذا نوره كما نور الله عزوجل .

(۲۹) ومن حرمته ألّا يقرأ في الاسواق ولا في مواطن اللغط واللغو ومجمع السفهاء ألا ترى أن الله تعالى ذكر عباد الرحمن وأثنى عليهم بأنهم إذا مروا باللغو مروا كراماً هذا لمروره بنفسه فكيف اذا مر بالقرآن الكريم تلاوة بين ظهراني اهل اللغو ومجمع السفهاء .

(۳۰) ومن حرمته ألّا يتوسد المصحف ولا يعتمد عليه ولا يرمي به الى صاحبه اذا اراد ان يناله.

(۳۱) ومن حرمته ألّا يصغر المصحف .

بل له آدابو د قرآن کریم نه داده چې قرآن کریم به وړوکي کوي نه دا به غټ وي چې څومره غټ وي ښه ده په دې بې آدبي کې دا ټولو مکتبو والا راغله .

روى الاعمش عن ابراهيم عن علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال لا يصغر المصحف وروي عن عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه رأى مصحفا في يد رجل فقال من كتبه ؟ قال انا فضربه بالدرة وقال عظموا القرآن .

وروى عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنه نهى ان يقال مسيجد او مصيحف .

د تصغير لفظ نه يې منع کړي چې څوک وايي قرآن ګوټې يا مسجد ګوټې .

(۳۲) ومن حرمته ألّا يكتب على الأرض ولا على حائط كما يفعل في المساجد المحدثة.

بل له آدابو د قرآن نه داده چې په ځمکه به يې نه ليکي په ديوال به يې نه ليکي په دا مساجدو کې چې آيت کرسي په ديوال ليکلې شوې وي دا بې آدبي ده دغه شان په قبرونو چې ليکلې شوې دي دا بې آدبي ده که سپي يا بل حيوان راځي ددې له پاسه بول کوي ګنهګار هغه څوک ده چې چا ليکلې وي .

حدثنا محمد بن علي الشقبقي عن ابيه عن عبدالله بن المبارك عن سفيان عن محمد بن الزبير قال : سمعت عمر بن عبدالعزيز يحدث قال مر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بكتاب في أرض فقال لشاب من اهل هذيل ما هذا قال من كتاب الله كتبه يهودي فقال لعن الله من فعل هذا لا تضعوا كتاب الله الا موضعه .

مسئله تقبيل المصحف

(۳۳) ومن حرمته انه اذا اغتسل بكتابته مستشفياً من سقم ألا يصبه على كناسة ولا في موضع النجاسة ولا على موضع يوطأ ولكن ناحية من الأرض في بقعة لا يطؤه الناس او يحفر حفيرة في موضع طاهر حتى ينصب من جسده في تلك الحفيرة ثم يكبسها او في نهر كبير يختلط بمائه فيجري.

(۳۴) ومن حرمته أن يفتحه كلما ختمه حتى لا يكون كهيئة المهجور ولذلك كان رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا ختم يقرأ من أول القرآن قدر خمس آيات لئلا يكون في هيئة المهجور وروى عن ابن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ قال جاء رجل فقال يا رسول الله اي العمل افضل؟ قال عليك بالحال المرتحل قال وما الحال المرتحل؟ قال صاحب القرآن يضرب من أوله حتى يبلغ آخره ثم يضرب في اوله كلما حل ارتحل.

آخره کې بيا علامه قرطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا ذکر کوي دا مخکې عبارتونه اکثره د قرطبي دي.

قلت ويستحب له اذا ختم القرآن ان يجمع أهله.

چې ختم کوي نو اهل به راغونډوي.

واخبرنا ادريس حدثنا جرير عن منصور عن الحكم قال كان مجاهد وعبدة بن لبابة وقوم يعرضون المصاحف فاذا ارادوا ان يختموا وجهوا الينا.

چې کله به يې ختم کوه مونږ ته به يې ځوک راوليږل.

احضرونا. چې راځئ را حاضر شئ مونږ سره راجمع شي.

فان الرحمة تنزل عند ختم القرآن.

ختم القرآن کې رحمت نازليږي نو د قرآن کريم په ختم راغونډيدل اجتماع کول داد مندوباتو نه دي د احترام د کلام شريف نه دي.

دلته پاکستان کې چې کوم ماشوم قرآن کريم خلاص کړي نو خلک را جمع کوي ختم جوړوي نو داد حضرت انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ نه هم مروي دي او نورو صحابه کرامو نه هم دا مروي دي.

مسئلة السيماء :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبيين أمابعد! فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ﴾ الآية . پاره ۲۶ سورة الفتح آيت : ۲۹.

بله مسئله متنازع فيها بيننا وبين الخصم هغه تفسير د سيماء المذكورة في القرآن الكريم ، قرآن عظيم الشان كې د رحمة للعالمين او د هغه د بهترينو صحابه كرامو نشان دابنودلې شوې ده :

﴿ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ﴾ ، ددوي په مخونو كې به د سجدې د اثر له وجهې نه څه سيماء وي .

مشهور غلط چې خواص او عوام ددې زمانې پرې سر شوي دي او د اسلافو تفاسير يې پريښي دي او د سيما معنى يې په سجدة سوداء سره كړې ده يوه توره ټاپه حال دا دغه تفسير د سيما په سجدة سوداء سره نه د رحمت للعالمين نه منقول دي او نه د صحابه كرامو نه او نه د ائمه مجتهدينو في التفسير نه بلكې دغه سيماء چې نن صبا خلك هغې ته جنتي محراب وايي او د سعداء شعار او نخښنه يې گرځوي در حقيقت دا سيماء د خوارجو ده.

اقوال د مفسرينو په دې باندې شته چې دا اول په خوارجو كې پيدا شوي او دا سيماء د سعداء نه ده بلكې دا سيماء د اشقياء وه د بدبخت خلكو نښه ده دغه ټاپه زما د كمې تجربې او علم موافق په تفريطيانو او افراطيانو دواړو جماعتو كې پيدا كيږي صراط مستقيم نه چې څوك د حد نه زياتي كوي او څوك په درجه د تفريط كې كمې كوي په دواړو كې دا پيدا كيږي .

شيعه گان اولين مفرطين دي د صراط مستقيم نه ډير زيات مخكې تللې دي او په هر كار كې افراط كوي نو د شيعه گانو په تنديو كې دا ټاپه ډيره زياته ده څومره شيعه گان چې تاسو گوري د هغوي په تندي كې به توره ټاپه وي او دارنگې دعوت اسلامي داد شنو پټكو

چې کوم تنظيم جوړ دي دلته په پاکستان کې د الياس عطار قادري په مشري باندې ډير بريلوي مزاج يې بنکار کړي دي صرف په دې خبره چې الصلاة والسلام عليك يا رسول الله. يې په کُتب ليکلې وي او دارنګې د يارسول الله نعرې وهلو باندې بريلويان دوکه کړي دي.

او ګمان د بريلي حضراتو پرې داده چې دا به اهلسنت وي حال دا دی چې ددغه دعوت اسلامي شين پټکو والا عقيده د جبريه وو ده ددوي په ډيرو رسائلو کې ما کتلي به ذات خود چې دوي ترجمه د کلمې کړې ده په دې الفاظو باندې چې اللہ سے ہونے کا یقین مخلوق سے نہ ہونے کا یقین نو دغه عقيده چې دالله نه د کيدلو او مخلوق نه د نه کيدلو يقين دا عقيده د جبريه وو ده داد اهلسنت عقيده نه ده.

يو خو د کلمې طيبې تفسير غلط کوي له ځان نه دا ترجمه او تفسير چا نه دي کړي او بل خو دا مضمون چې دوي را اخيستي:

أن ليس للعبد فعل اصلاً.

چې بنده هيڅ نه شي کولې دغه عقيده د اهلسنت نه ده، زمونږ د عقائدو کُتب راخيستې داد جبريه وو عقيده ده په دغه عقيده تبليغي جماعت د ديوبنديانو نه او دعوت اسلامي جماعت د بريلويانو نه قائل دي نو مونږ ټول بريلوي حضراتو ته او ديوبندي حضراتو ته د خپلې رقبې او ګردن د خلاصي لپاره ددې اظهار کوو چې حق باندې سترګې پټول نه دي په کار.

دغه عقيده د الله نه د کيدو او د مخلوق نه د نه کيدو د جبر عقيده ده مونږ ډير وخت نه په چيلنجونو سترې شو دعوت اسلامي لره او جماعت تبليغي لره بار بار مونږ ددې چيلنج ورکړې چې ددې عقيدې پرچار مه کوي او که دا تاسو ته د اهلسنت عقيده ښکاريږي نو علماء به لري مونږ سره په هغې کيني خبرې وکړي نو نه څوک خبرو ته کيني او نه په دې مباحثه مونږ سره کوي او نه د خپلې عقيدې نه اوړي.

بريلوي حضراتو ته خصوصاً مونږ ددې وضاحت کوو چې د دعوت اسلامي شنو پټکو والا تنظيم نه دې لاتعلقي اعلان کړي او ددوي دې سخت مخالفت وکړي او ځانو نه دې وساتي ځکه له دې خلکو سره دوستي کول ددوي د بدنامي ذريعه جوړيږي داد خارجيانو يو

کیږدي دغه تنظیم د دعوت اسلامي فقط جوړ د څو مقاصدو لپاره دي :
دري جماعاته دي په دې امت کې چې هغه ذي قدر دي له اسلافو نه او د هغه دري جماعاتو د لاسه کفار د مسلمانانو په ملکونو نه کامیابیږي :
(۱) جماعت علماء د مدارسو دي ، (۲) جماعت مشائخ د طریقت او درباروندي ، (۳) جماعت د مجاهدینو في سبیل الله دي .
دا دري جماعتونه چې کله هم په مسلمانانو کې فعال وي اداره علمي ګلاوي د مشائخو دربارونو ته د قدر په نظر کتل کیږي او د مجاهدینو في سبیل الله تحریک موجود وي هیڅ کله هم کفار په مسلمانانو نه شي کامیابیدې .
دا څه د پاسه څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله تیر شوي تاریخ کې کفارو په زبردستي د مسلمانانو په ملکونو حملې کړي او د مسلمانانو ملکونو ته داخل شوي خو ماتې یې خوړلې او نه دي کامیاب شوې او هر قسم جاني او مالي تاوانونه یې کړي .
هغوي نن نه تقریباً څه د پاسه سل (۱۰۰) کاله مخکې دا خپل مشن بدل کړو د هغوي دا مستقیمې حملې او د ارک راتلل لکه برطانیه راغلې وه دا پاکستان او نور زیات اسلامي ملکونه یې قبضه کړې وه او بیا یې شکستونه خوړلې وه نو هغوي خپل مشن بدل کړو او زړې پالیسې ته یې تغیر ورکړو .
برطانیه والا په دې پوه دي چې په مسلمانانو کې ادار علمي ورانه نه شي او دربارونه وران نه شي د مجاهدینو في سبیل الله په مینځونو کې تفرقې رانه شي نو کله هم مونږ نه کامیابیږو .
نو برطانیه والا د دغه مشن لپاره چې علماء بدنام کړي ، مشائخ بدنام کړي او د مجاهدینو نه خلک واړوي نو دې لپاره دوي تحریک د جماعت تبلیغي او تحریک د دعوت اسلامي پیدا کړو د دې دواړو تنظیمونو مقصد یو اځې او یو اځې د علماء بدنامي ده دغه شان د مشائخو بدنامي ده او د مجاهدینو مخالفت دي څومره فضائل چې د جهاد باره کې دي هغه دوي په خپلو بسترو باندې چسپانوي هم دعوت اسلامي دا کار کوي او هم تبلیغي جماعت والا .
نو دعوت اسلامي د الیاس عطار قادري چې مُلانه دي نعت خوان دي نو یو نعت خوان

انسان یې امیر جوړ کړې دي او علم د سره لري نه لکه د تبلیغي جماعت والا مشر عبدالوهاب مُلا نه دي ماسټر دي نو الیاس عطار قادري یو کتاب لیکلي په مسئله د ۴۹ کروړ باندې او دا خپل شین پټکي تنظیم والا او بستره باندې یې حمل کړې دي چې مونږ سره څوک دلته بستره واخلي نو یو مونځ یې په یو کم پنځوس کروړه باندې قبلیږي .

او تبلیغي جماعت والا هم په دې لیکل کړي او ټول تبلیغیان دا خبره کوي نو چې ستا د عوامو ذهن په دې جوړ شي چې ما ته د خپل مسجد نه د یوې بسترې په اخذ باندې بل مسجد ته تللو کې د یو کم پنځوس کروړه اجر ملاویږي نو بیا څوک لیوني دي چې د افغانستان او عراق د مجاهدینو سره په غرونو کې او په سختو مشکلاتو کې بارانونو کې په غرو کې شپې کوي نو هغه فضیلت چې د ۴۹ کروړ کوم علماء لیکلي دي هغه صرف په صف د جهاد کې میلاویږي .

هلته هم علماء اختلاف لري چې دا ضرب حقیقت لري او که نه یې لري خو که چا ضرب ورکړې هم دي نو په صف د جهاد کې دي علم کې نشته په دربار د مشائخو کې د دغه فضیلت نشته داد یو کم پنځوس کروړو که څوک ضرب ورکوي یو اځې او یو اځې مجاهدینو في سبیل الله ته میلاویږي د هر چا خپل فضائل دي د یو جماعت فضائل په بل جماعت چسپانول حماقت او لا علمي دي .

کله نبي اکرم ﷺ د امر بالمعروف تعریفونه کړي دي کله یې د جهاد تعریفونه کړي دي کله د مجلس ذکر تعریفونه کړي دي بیا د مجلس ذکر والا فضیلت حلقې د ذکر والا ته پریږده هغه په مجلس د علم او نورو مه چسپانوه کله یې د علماء تعریفونه کړي دي .

د امر بالمعروف خصوصي تعریف دا دی چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر داسې یو څیز دي چې د ناهیینو عن المنکر په وجه رفعه د عذاب د اهل دنیا نه کیږي چې دا څومره خلک مستحق د دنیاوي عذاب دي چې ناهیین موجود وي نو ددوي په وجه دا رفعه کیږي او دا ددوي خصوصیت دي .

او د مجلس ذکر خصوصیت دا دی چې :

هم جلساء لا یشقی بهم جلیسهم .

اهل ذکر داسې جلساء دي چې څوک دوي سره په نیت د ذکر نه وي ناست هغوي نه

بدبخته کیږي د دوي یعني اهل ذکر له برکته هغوي بخښلي شي ګوري دا صفت په یو کې هم
نشته دي علم ته څو مره خلک ناست وي که دوي کې د یوه هم نیت د علم نه دي هغه ورکې نه
بخښلې کیږي مونځ ته څومره خلک ځي مسجدونو ته که د یوه نیت په کې خراب دي هغه ته
ئه فائده نه کوي دغسې جهاد ته څومره خلک روان دي که د یوه نیت په کې خراب شي نو د
نورو جهاد ده ته څه فائده نه کوي .

نو د مجلس ذکر د ذاکرینو دا خصوصیت دي چې کوم د مسلم روایت کې تیر شوې او
ماتاسو ته ویلې وه چې تپوس کیږي او فرشتې عرض کوي چې یو کس په کې وه چې هغه
هسې د یو کار د پاره راغلې وه رسول کریم صلی الله علیه وسلم ورته فرمایي :

هم جلساء لا یشقی بهم جلیسهم . نه بدبخته کیږي .

جلیس بهم بسببهم وببرکتهم .

داد ذاکرینو خصوصیت شو .

دغه شان د اهل علم د طالبانو خصوصیت دادی چې فرشتې ورته خپلې وزرې خوروي
دادې او س مجاهد ځان باندې نه چسپانوي چې ما ته یې هم خوروي او تبلیغي دې هم په ځان
نه چسپانوي چې ماته یې هم خوروي او ذاکر دې په ځان نه چسپانوي چې ماته یې هم خوروي
داد هر چا خپل خپل ځای دي .

نو د ۴۹ کروړ ثواب مسئله ضرب چې چا ورکړې دي هغه صرف په صف د جهاد کې دي
چې هغه فضیلت بیا نه په علم کې شته نه په مجلس د ذکر کې دغه اجر بیا شته دي او نه په
نورو څیزونو کې شته دي .

نو دیوبندي او بریلوي حضرات دې ټول متوجې شي دې ته مونږ به :

اولاً : د سیما معنی ذکر کوو د روایت مرفوعه نه .

ثانیاً : به ددې معنی ذکر کوو د روایت موقوفوو نه .

ثالثاً : به تفسیر د سیما په اقوالو د تابعینو او تبع تابعینو پیش کوو .

رابعاً : به ذکر د هغه ردودو وي چې کوم صحابوو تابعینو په دې باندې کړې دي هغه
ردود به پیش کوو .

او خامساً : ددې ذکر کوو چې دا سيما په تاريخ او سيرت د انبياء صحابه وو کې موجود نه ده بلکې دا په تندو د خوارجو کې پيدا شوې دي .

المبحث الاول : تفسير السيما من الرواية المرفوعة :

معجم الاوسط د طبراني جلد ۱۰ صفحه ۱۷۳ رقم الحديث ۴۶۱۹ ، دا حذيث ذکر کړي دي په خپل سند سره :

حدثنا عبدالله بن محمد بن علي ابن اخي رواد ابن الجراح قال حدثنا محمد بن ابي السري العسقلاني قال حدثنا رواد بن الجراح والمسيب بن شريك قالا حدثنا ابوجعفر الرازي عن الربيع بن انس عن ابي العالية عن ابي بن كعب قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : سيماهم في وجوههم من اثر السجود ، قال النور يوم القيامة.

أبي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي : رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل :

سيماهم في وجوهم من اثر السجود .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترجمه د سيما وکړه په : النور يوم القيامة ، سره چې دا په ورځ د قيامت کې يو نور مراد دي د صحابه کرامو د هغوي د متبعينو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ريشتينې امتيانو ورځ د قيامت کې به يې له تندو نه نور خيژي او رڼا به ترې روانه وي د عامو امتيانو فرق به ددوي په مقابله کې په نور يوم القيامة سره وي په دې به يې خلک پيژني .

دا حديث مرفوعه په ټولو اقوالو مقدم ځکه دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترجمه په يو ايات کې موجوده شي نو بيا د هغې مقابله نه اهل لغت کولې شي او نه اهل فقه او نه د هغې مقابله اهل تفسير کولې شي نو دې نه معلومه شوه چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سيما نه په دې دنيا څه نخښه او ټاپه يا تور ټاکي د تندي نه دي اخيستې .

ددې نه بعد بيا تحقيق سندي د دغه روايت ما کړې دي په متعددو ورقاتو کې چې : د سند په لحاظ سره دغه حديث درجه د حسن کې دي او د مقبولاتو نه دي .

دغه حديث مذکور دي په المعجم الصغير للطبراني جلد ۱ صفحه ۳۷۰-۲۳۶ چې رقم د حديث دي : ۶۱۹ .

دارنګې علامه هیثمي هم ذکر کړي په معجم الزوائد جلد ۷ صفحه ۱۰ چې رقم د حدیث دي: ۱۱۳۴۷.

دارنګې علامه آلوسي هم په تفسیر روح المعاني جلد ۱۹ صفحه ۴۳۷ کې ذکر کړي دي کم چې بیروتي معرب چاپ دي دغه ذکر شوي آیت په تفسیر کې الفاظ یې دادی:

وأخرج الطبراني في الأوسط والصغير وابن مردويه بسند حسن عن ابي بن كعب قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في قوله تعالى سيماهم في وجوههم من اثر السجود. النور يوم القيامة.

دارنګې علامه شوکاني په تفسیر فتح القدیر جلد ۷ صفحه ۷ کې ذکر کړي.

دارنګې تفسیر در المنثور ذکر کړی په جلد ۹ صفحه د ۲۳ کې تائید ددې حدیث کوي چې مراد سیما نه نور یوم القیامة دي روایت د حاکم په المستدرک جلد ۲ صفحه ۵۲۰ کې او د مجمع الزوائد جلد ۱۱ صفحه ۲۷۳ کې:

أنه سمع عن أبا ذر وابي الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قالا قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنا أول من يؤذن له في السجود يوم القيامة واول من يؤذن له ان يرفع رأسه فأرفع رأسي فأنظر بين يدي فأعرف أمتي من بين الأمم وانظر عن يميني فأعرف أمتي من بين الأمم وانظر عن شمالي فأعرف أمتي من بين الأمم فقال رجل يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وكيف تعرف أمتك من بين الأمم مابين نوح إلى أمتك؟ قال غر محجلون من أثر الوضوء ولا يكون لأحد من الأمم غيرهم وأعرفهم أنهم يؤتون كتبهم بأيمانهم وأعرفهم بسيماهم في وجوههم من أثر السجود وأعرفهم بنورهم الذي بين أيديهم وعن أيمانهم وعن شمائلهم هذا حديث صحيح الاسناد.

ترجمه: د حضرت ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې حضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي زه اول هغه شخصیت یم چې د سجدې نه د خپل سر د اوچتولو حکم به راته کولې شي بس زه به خپل سر اوچت کړم او مخکې به وګورم نو زه به تمام امتونو کې خپل امت پیژنم او زه به ښي طرف ته وګورم نو تمام امتونو کې به خپل امت پیژنم او زه به ګس طرف ته وګورم نو تمام امتونو کې به خپل امت پیژنم.

پس یو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه وکړه یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ

نه ستاسو امت پورې خو ډير امتونه تير شوې دي تاسو به ددوي درميان کې خپل امت څنګه پيژني ؟

حضرت رسول اکرم ﷺ مبارک جواب کې ورته وفرمايل د اودس د اثر د وجې نه ددوي د اودس اندامونه به تک سپين رڼا کوونکې وي او دا اعزاز به د يو امت ته هم نه وي او زه به خپل امتيان په دې پيژنم چې دوي له به عمل نامې په ښي لاسونو ورکولې شي او زه به خپل امتيان په دې پيژنم چې د هغې مخکې او ښي او ګس طرف ته به رڼاګانې وي .

نو دا روايت د هغه مخکې روايت تائيد کوي چې دا هغه دنيا کې يوه رڼا ده چې نبي عليه السلام به پرې خپل امتيان پيژني نو نبي اکرم ﷺ د سيما معنى په توري تاپې سره ونه کړه بلکې معنى يې وکړه په نور يوم القيامة باندې .

المبحث الثاني : تفسير سيما من الرواية الموقوفة :

په رواياتو موقوفه وو کې او په رواياتو د تابعينو کې چا يې معنى په بياض الوجه هم المحجل اخيستې ده ، چا يې معنى په سمت الحسن سره اخيستې ده ، چا يې معنى په اثر الخشوع سره اخيستې ده چې د عاجزي نښې به وي ، چا يې معنى په صفرت او زيړ والي سره اخيستې ده اثر د سهر چې د بې خوبې نه به دده په تندي کې پته لږي .

نو که مراد ترې نه بياض د وجهې شي په ورځ د قيامت نو دا معنى قريبه شوه د نوريوم القيامة سره او که دې دنيا کې اثرات مراد کړي مفسرينو نو هغې نه مراد اثر د خشوع چې د بې خوبي له وجې نه تندي کې زيړوالې راشي .

اول تفسير د عبد الله بن عباس رضي الله عنه به موقوف پيش کړو : تاريخ الكبير د امام بخاري جلد ۳ صفحه ۲۱ رقم د حديث ۸۳ امام بخاري رحمه الله په خپل سند سره د حضرت عباس رضي الله عنه في قوله تعالى سيماهم في وجوههم من اثر السجود ، معنى د سيما دا کوي :

بياض يغشى وجوههم يوم القيامة . دا به يو سپين والې وي ددوي په مخ به غالب شوې وي په ورځ د قيامت ددوي مخ به سپين والې او رڼا پټ کړې وي نو دا معنى د نور يوم القيامة سره ولږيده .

دغه تفسير د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ محمد بن نصر للمروزي په مختصر قيام الليل جلد ۱ صفحه ۲۵ کې ذکر کړې دي.

دارنګې الدولابي په الکنی والاسماء جلد ۵ صفحه ۴۵۶ او تفسير روح المعاني جلد ۱۱ صفحه ۲۳۷ کې ذکر کړي، او تفسير فتح القدير د شوکاني جلد ۷ صفحه ۷، تفسير الدر المنثور جلد ۹ صفحه ۲۳۵ کې ذکر کړي.

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دويم روايت هم منقول دي او هغه داده:

صلاتهم تبدوا في وجوههم يوم القيامة.

مونځونه به يې رابنکاره شي د قيامت په ورځ په مخونو کې.

نو مونځ څنګه ښکاره کيږي په ورځ د قيامت يعنې اثر د مونځ به ښکاره شي چې رڼا او بياض دي.

تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲۶۲ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترجمه کوي:

سيماهم في وجوههم من اثر السجود. قال صلاتهم تبدوا في وجوههم يوم القيامة.

دې هم دې دنيا کې څه نه اخلي دا ورځ د قيامت کې اثرات دي.

بله ترجمه چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقوله ده هغه دې دنيا کې:

السمت الحسن.

سنن کبری للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۸۶ د علي بن ابي طلحه په روايت د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترجمه دا کوي:

سيماهم في وجوههم من اثر السجود قال السمت الحسن.

تفسير بغوي جلد ۷ صفحه ۳۲۴ کې هم دا ترجمه کړې:

والسمت الحسن والخشوع والتواضع.

او روايت د الواليبي دي د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه:

قال ليس بالذي ترون.

نه ده داسې چې تاسو يې ګورئ دا ټاپه داسې ټاپه نه ده چې تاسو ته به ښکاري.

لكنه سيما الاسلام وسمته وخشوعه وهو قول مجاهد .

معنى دا شوه :

ان السجود اورثهم الخشوع والسمت الحسن الذي يُعرفون به .

دې زياتو مونځونو او تهجدونو دوي ته يوه عاجزي راپيدا كړې وي او ددوي په دې تندي كې يو خوږوالي پيدا كړې وي رشتيا هم د تهجدو والا انسان په سړي بنه لږي چې سړي ورته ګوري نو خوږ لږي هغه خوږوالې مراد وي .

دا معنى د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې خشوع مراد ده او السمت الحسن مراد دي، تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲۶۴ نقل كړي، او تفسير ابن كثير نقل كړي جلد ۷ صفحه ۱۶۱ كې.

زاد المسير جلد ۵ صفحه ۳۹۴

او فتح القدير جلد ۷ صفحه ۷

او تفسير البحر المحيط جلد ۱۰ صفحه ۹۹

او تفسير اللباب لابن عادل جلد ۱۴ صفحه ۲۹۴

تفسير الدر المنثور جلد ۹ صفحه ۲۳۵

او تفسير الخازن جلد ۵ صفحه ۴۵۴

تفسير الثعالبي جلد ۳ صفحه ۴۶۶

تفسير محرر الوجيز جلد ۶ صفحه ۱۶۲

او تفسير ابن ابي حاتم جلد ۱۲ صفحه ۲۳۳ دې ټولو مفسرينو ددې دنيا اثر واخسته خو اثر الخشوع يې واخيسته نه توره ټاپه.

المبحث الثالث : تفسير سيما من أقوال التابعين وتبع التابعين :

اول تفسير د امام مجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ:

الزهد د احمد بن حنبل جلد ۵ صفحه ۱۵۴ ذكر كړي په سند خپل سره :

عن غالب بن عبدالله عن مجاهد سيماهم في وجوههم من أثر السجود . قال بياض

وجوههم يوم القيامة لكثرة سجودهم كان في الدنيا.
د ډيرو سجدو له وجې نه په ورځ د قيامت په مخونو سپين والي راشي.
گوره د مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا معنی د ابن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ ترجمه شوه او هغه معنی د بياض د النور يوم القيامة سره قريبه ده، دغه روايت ذکر کړي سنن الکبری للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۸۷کې د منصور روايت پيش کوي:

قال قلت لمجاهد. ما امام مجاهد ته ووويل:
سيماهم في وجوههم من اثر السجود أهو اثر السجود في وجه الانسان.
دا اثر د سجدې دې په مخ او تندي د انسان کې همدغه مراد دي.
فقال. ماته مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويل: لا، دغه نه دي مراد:
إن أحدهم يكون بين عينيه مثل ركبة العنز وهو كما شاء الله من الشر لكنه الخشوع.
يو کس خو دوي کې داسې هم شته چې تندي باندې داسې تاپه وي لکه زنګون د چيلي.
نو معلومه شوه چې د کم خلکو تندو کې تور تاکي دي دا قرآن او سنت نه څوک هم نه شي ثابتولې بلکې قران او سنت کې ددغې تورې تاپې مذمت ذکر دي او صحابه کرامو رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ او تابعينو رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ په دغه توره تاپه ردونه کړي چنانچه امام مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ جليل القدر تابعي دي او دده مبارک دا دويم روايت پرې دلالت کوي، او ابن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ هم رد په دې کوي:

قال: ليس بالذي ترون. نه ده دا تاپه داسې چې تاسو به يې گوري.
د مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ دغه روايت سنن الكبرى للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۸۷ کې ذکر شوې دي.
دا رنګې معاني القرآن للنحاس جلد ٦ صفحه ۵۱۴، تفسير الثوري جلد ۱ صفحه ۲۷۸ ،تفسير روح المعاني جلد ۲٦ صفحه ۱۲۵، او تفسير القرطبي جلد ۱٦ صفحه ۲۴۸. فتح القدير جلد ۵ صفحه ۷۹، دې ټولو کې مذکور دي، حضرت منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي چې ما د حضرت مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه پوښتنه وکړه چې:

سيماهم في وجوههم من اثر السجود.

کې ددې نخښې نه مراد په تندي او مخ کې توره ټاپه ده نو هغه مبارک رَحِمَهُ اللّٰهُ وفرمايل چې د کوم کس په تندي کې د اوبښ د زنګون په شان ټاپه لږېدلې وي نو هغه کې خوچې د خدای څو مره خوبنه وي شرا و فساد وي بلکې دغې نخښې نه مراد عاجزي ده.

دویم تفسیر د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ:

تفسير الطبري جلد ۲۶ صفحه ۲۶۳ کې دا لاندې روايت مذکور دي:

قال علي بن المبارك سمعت غير واحد عن الحسن في قوله تعالى سيماهم في وجوههم من اثر السجود قال بياضاً في وجوههم يوم القيامة وفي رواية عنه الصفرة الخ.

ترجمه: حضرت علي المبارک فرمايي چې ما د ډيرو ارباب علم نه اوريدلي دي چې د حضرت حسن رَحِمَهُ اللّٰهُ نه يې ددې ايت کريمه:

سيماهم في وجوههم من اثر السجود.

تفسير داسې نقل کولو چې داد قيامت په ورځ د مخ سپينوالې دي او بل روايت کې ذکر دي چې زيړوالې ترې مراد دي توره ټاپه مراد نه ده.

دارنګې تفسير زاد المسير جلد ۵ صفحه ۳۹۴ کې هم دا روايت ذکر شوې.

دریم د حضرت مقاتل رَحِمَهُ اللّٰهُ تفسير:

عن المقاتل بن حيان قال: سيماهم في وجوههم من اثر السجود قال: النور يوم القيامة، في رواية: بياض في وجوههم يوم القيامة. تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲۶۲، الزهد لابي حاتم الرازي جلد ۱ صفحه ۷۵.

ترجمه: د حضرت مقاتل بن حيان نه روايت دي چې د سيماهم في وجوههم من اثر السجود نه مراد د قيامت د ورځې نور دي او بل روايت کې فرمايي چې د قيامت د ورځې د مخونو سپين والې دي.

څلورم د حضرت عطية العوفي رَحِمَهُ اللَّهُ تفسير :

عن عطية في قوله : سيماهم في وجوههم ، قال مواضع السجود من وجوههم يوم القيامة اشد وجوههم بياضاً. تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲۶۲.

ترجمه : د حضرت عطية رَحِمَهُ اللَّهُ د سيماهم في وجوههم الاية په تفسير کښ فرمايلي دي چې د سجدې ځايونه اندامونه ددوي به او خصوصاً مخونه ددوي به د هر چا د مخونو نه به زيات سپين وي.

پنځم د حضرت عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُ اللَّهُ تفسير :

قال عطاءُ بن ابي رباح استنارت وجوههم من كثرة ما صلوا . تفسير البغوي جلد ۷ صفحه ۳۲۴، تفسير النسفي جلد ۳ صفحه ۳۳۸، تفسير النيسابوري جلد ۷ صفحه ۳۵، الكشاف جلد ٦ صفحه ۳٦۱، تفسير الخطيب الشربيني رَحِمَهُ اللَّهُ جلد ۱ صفحه ۴۲۰۲.

ترجمه : حضرت عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُ اللَّهُ د مذكوره آيت كريمه په تفسير کښ فرمايي چې رڼړا به کوي مخونه ددوي د وجې د ډير مونځونو نه نن د خلکو مخونو کښ تياره وي او بيا ددې آيت كريمه نه استدلال کول چې دې نه مراد د تندو تورتاکې دي لاحول ولاقوة الا بالله .

شپږم د حضرت ربيع بن انس رَحِمَهُ اللَّهُ تفسير :

وقال عطاء بن ابي رباح والربيع بن انس رَحِمَهُ اللَّهُ استنارت وجوههم من كثرة ماصلوا . الكشف والبيان لثعلبي جلد ۱۲ صفحه ۲۴۲.

ترجمه : حضرت عطاء بن ابي رباح او حضرت ربيع بن انس رَحِمَهُ اللَّهُ د مذكوره نخښې په تفسير کښ فرمايي چې رڼړا به کوي مخونه ددوي د ډير مونځونو د وجې نه .

اوم د حضرت سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ تفسير :

وقال سفيان وعطاء استنارت وجوههم من طول ما وصلوا بالليل لقوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: من كثرت صلاته بالليل حسن وجهه بالنهار . البحر المديد جلد ٦ صفحه ۹۸.

ترجمه : حضرت سفيان ثوري او عطاء رَحِمَهُمَا اللَّهُ فرمايي چې رڼړا به کوي مخونه ددوي

د وجې د شپې د اوږدو مونځونو نه ځکه چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ مبارک فرمايلي دي ځوک چې دشپې مونځونه ډير کوي (يعني تهجد کوي) نو د ورځې به يې مخ ښائسته وي.

اتم د حضرت سعيد بن جبير رَحِمَهُ اللهُ تفسير:

وقال ابن جبير في وجوههم يوم القيامة يعرفون به الهم سجدوا في الدنيا لله تعالى وفي رواية ثرى الارض اوندى الطهور. البحر المديد جلد ٦ صفحه ٩٨، سنن البيهقي جلد ٢ صفحه ٤١١، تفسير الطبري جلد ٢٢ صفحه ٢٦٤، الدر المنثور جلد ٩ صفحه ٢٣٦.

ترجمه: حضرت سعيد بن جبير رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د مذکوره ايت کريمه مطلب دادی چې د قيامت په ورځ به دوي په سپين مخونو پيژندلې شي چې دوي په دنيا کې الله تعالى ته سجدې کړې وي.

او بل روايت کې فرمايي چې دې نه مراد د خاورې اثر دي او يا د اودس د اوبو لوندوالې دي چې کوم مونځ کوونکي په لوند مخ سجده لګوي نو په مخ يې خاوره انخلي بس هم دغه خاوره مراد ده تورواِلې د تندي مراد نه دي.

نهم د حضرت شهر بن حوشب رَحِمَهُ اللهُ تفسير:

وقال شهر بن حوشب رَحِمَهُ اللهُ: تكون مواضع السجود من وجوههم كالقمر ليلة البدر. تفسير البغوي جلد ٧ صفحه ٣٢٤.

ترجمه: حضرت شهر بن حوشب رَحِمَهُ اللهُ د مذکوره آيت کريمه په تفسير کې فرمايي چې د سجدې اندامونه به يې د قيامت په ورځ د څوارلسمې د سپوږمې په شان ځليږي.

معلومه شوه د تندي توره ټاپه مراد نه ده.

لسم د حضرت الضحاك رَحِمَهُ اللهُ تفسير:

واخرج ابن نصر وابن المنذر عن الضحاك في الآية قال هو السهر اذا سهر الرجل من الليل اصبح مصفراً. الدر المنثور جلد ٩ صفحه ٢٣٦.

ترجمه: د حضرت ضحاک رَحِمَهُ اللهُ د مذکوره آيت مبارکه په تفسير کې فرمايي چې دې نه مراد د مخ زيړوالې دي ځکه چې کله يو سړي شپه رونړه کړي نو د ورځې يې مخ زيړ وي.

یولسم د حضرت عکرمه رَحِمَهُ اللّٰهُ تفسیر :

واخرج ابن ابي شيبة و ابن نصر عن عكرمة رَحِمَهُ اللّٰهُ سيماهم في وجوههم قال السهر وفي روايةٍ عنه هو اثر التراب. الدرالمنثور جلد ۹ صفحه ۲۳۶، تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲٦٤.

ترجمه : حضرت عکرمه رَحِمَهُ اللّٰهُ د مذکوره آیت په تفسیر کې فرمایي چې دې نه مراد د شپې د رونړولو آثار دي او بل روایت کې فرمایي چې د خاورې اثر ترې مراد دي چې په لوند تندي ځوک سجده لګوي نو په تندي خاوره انخلي فلهذا هغه مراد ده د تندي توره تاپه مراد نه ده.

دولسم د حضرت سعید بن المسیب رَحِمَهُ اللّٰهُ قول :

وعن سعيد ابن المسيب رَحِمَهُ اللّٰهُ هي ندى الطهور وتراب الارض. تفسير النيسابوري جلد ۷ صفحه ۳۵، الكشاف جلد ٦ صفحه ۳٦۱.

ترجمه : حضرت سعید بن المسیب رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي چې ددې نه مراد د اودس د اوبو لوندوالې او اثر د خاورې دي.

د حضرت سعید بن المسیب د تاویل تائید د مرفوع روایت نه :

عن واثلة بن الاسقع قال قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يمسح الرجل جبهته حتى يفرغ من صلاته ولا بأس ان يمسح العرق عن صدغيه فان الملائكة تصلي عليه مادام اثر السجود بين عينيه.

ترجمه: حضرت واثلة بن الاسقع رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک فرمایلي دي چې مونځ کوونکې سړي به د مانځه د فراغت نه مخکې خپل تندي د خاورې نه، نه پاکوي او که په لستونړې خوله پاکوي نو په هغې کې څه باک نشته ځکه چې تر څو مونځ کوونکي د دوو سترګو مینځ کې د سجدې اثر پروت وي یعنې تندي کې خاوره وي ملائک کرام ورته استغفار غواړي.

امدم بر سر مطلب ! پس د مجموعه اقوالو نه معلومه شوه چې د مذکوره سیما نخښې نه مراد یا خو په آخرت کې نور دي او یا د اودس د اندامونو سپین والې او روښنایي

ده او يا په دنيا کې د سجدې د وجې آثار د عاجزي او زيږوالې د مخ دي يا اثر د خاورې دي.
او سواد زمحشري نه يو شخص هم د مفسرينو رَحِمَهُ اللهُ نه نشته چې هغه د دغه سيما تفسير په تاپې سره کړې وي بلکې په دې خبره اول زبان چې خلاصه کړې ده نو هغه زمحشري معتزلي دي او بيا بعضې متاخرينو مفسرينو چې غير مجتهدين دي زمحشري په دې خبره کې خپل امام ګرځولې.

المبحث الرابع: رد الصحابة والتابعين والمفسرين على هذه السيماء السوداء يوجد تكلفاً:

اول: د حضرت سيدنا عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رد په توره تاپه:

عن ابي الشعثاء قال قال عبدالله حبيب يرى انه ابن عمر قال قال عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لرجل قد اثر السجود بأنفه لاتعلب صورتك. تهذيب الآثار للطبري جلد ۵ صفحه ۳۳۹.

ترجمه: د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه سړي ته وفرمايل د کوم سړي پوزه کې چې توره تاپه پيدا شوې وه مه عيبجن کوه خپل صورت (لوبې او نخرې ورسره مه کوه).
معلومه شوه چې نن کوم رياکاران په څمکو باندې خپل تندي ددغې تاپې د پاره سوله وي نو دا خپل مخونه عيبجنه کوي.

دويم: د حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په تورې تاپې رد:

عن مجاهد عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في قوله: سيماهم في وجوههم من اثر السجود قال أما إنه ليس بالذي ترون ولكنه سيما الاسلام وسمتته وسمته. تفسير الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲٦۴، تفسير البغوي جلد ۷ صفحه ۳۲۴، زادالمسير جلد ۵ صفحه ۳۹۴، تفسير الخازن جلد ۵ صفحه ۴۵۴، الكشف والبيان للثعلبي جلد ۱۲ صفحه ۲۴۳.

ترجمه: حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مذکوره آيت کريمه په تفسير کې فرمايلي

چې ددې نه مراد هغه توره ټاپه نه ده کومه چې تاسو يې د خوارجو په تندو کې ګورئ بلکې ددې نه مراد اسلامي نخښې او د څرمنې نرموالي او عاجزي ده .

حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مبارک ته رئيس المفسرين او ترجمان القرآن لقب ورکړل شوی دی هغه مبارک هم د تندي په توري ټاپې رد کوي ليکن افسوس چې نن پرې خوارج فخر کوي .

دريم رد : د ابو الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ على هذه السيماء السوداء:

حدثنا وكيع عن ثور عن ابي عون الاعور عن ابي الدرداء انه رأى امرأةً بين عينيها مثل ثفنة الشاة فقال إما أن هذا لو لم يكن بين عينيك كان خيراً لك . سنن البيهقي الكبرى جلد ٢ صفحه ٢٨٦، مصنف ابن ابي شيبة جلد ١ صفحه ٢٧٣.

ترجمه : ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وليدله يوه زنانه د هغې په تندي کې په شان د زنګون د ګډ ټاکي وه ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته فرمايي : ای بي بي ! که دا ټاپه دې په تندي کې نه واي ډيره به تاته ښه وه کاشکې دا ټاپه دې تندې کې نه واي .

بل روايت پيش کوي الفائق في غريب الحديث والاثر جلد ١ صفحه ۵۴، ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو سړي وليده :

بين عينيه مثل ثفنة البعير .

په تندي کې يې په شان د زنګون د اوښ ټاکې وه .

فقال لو لم يكن هذا كان خيرا .

شبه السجادة بين عينيه باحدى ثفنات البعير وهي ما يلي الارض من اعضائه عند البروك فيغلظ .

ورته وويل ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ که نه واي دا نو ډيره به ښه وه ، د لغت معنی ما کړې ده په شبه السجادة الخ سره کله چې دا څملي د ملاستې په وخت کې ددې هغه زنګون لړې د بروک په وخت کې فيغلظ نو سخت شي زنګون د اوښ يا ګډ او چيلې سخت شي تور ټاکې شي او د هغې نه ويښتان هم لرې شي نو واي دغه مراد دی .

سجاذ، تندو کې دغه څیزونه را پیدا کړي د هغې تشبیه یې د ې سره ورکړې ده.

د ابو الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه ردود غريب الحديث د ابي عبيده جلد ۴ صفحه ۱۵۲ کې ذکر دي.

او غريب الحديث د ابن سلام جلد ۴ صفحه ۱۵۲ کې هم ذکر دي، نظم الدرر للبقاعي جلد ۸ صفحه ۱۴۳، او تفسير سراج المنير جلد ۱ صفحه ۴۲۰۲.

حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تندي توره ټاپه د اوښ د هغه زنګون سره مشابه کړه چې اوښ یې د ناستې په وخت کې په ځمکه لږوي او بیا هغه سخته شي او تورو الې پرې حاوي شي نن هم مونږ ډیر ریاکاران او خوارج ګورو چې د اوښ د زنګون په شان ټاپې یې تندي کې جوړې کړې وي او خلکو ته وايي چې دا جنتي محراب دي، عياذا بالله سبحانه وتعالى.

څلورم رد د حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ على هذه السيماء السوداء:

اخبرنا ابو محمد جناح بن نذير بن جناح المحاربي بالكوفة انبأ أبو جعفر بن دحيم حدثنا احمد بن حازم أنبأ ابو نعيم حدثنا العمري عن سالم ابي النضر قال جاء رجل الى ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فسلم عليه قال من انت؟ قال: انا حاضنك فلان ورأى بين عينيه سجدةً سوداء فقال ما هذا الاثر بين عينيك فقد صحبت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وابابكر وعمر وعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فهل ترى هاهنا من شيء. سنن الكبرى للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۸۶.

ترجمه: یو شخص راغې حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې یې سلام واچولو حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترې پوښتنه وکړه چې ته څوک یې؟ هغه سړي وویل زه ستا خادم ومه تاسو واړه وې ما به ستا خدمت کوه فلان مې نوم دي ولیدا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دغه سړي په تندي کې توره ټاپه ولیده نو تپوس یې وکړو چې ستا د سترګو مینځ کې دا نخښه (توره ټاپه) د څه وجې نه ده که ته وايي چې زه مونځونه ډیر کوم نو یقیناً ما د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک سره صحبت کړې دي د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق او عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره مې صحبتونه کړي دي ته وګوره زما په تندي کې څه تورو الې وینې تعجب دي او بیا انکار دي ستا په حالت چې تندې دې ځان له خراب کړې دې.

نو دا دليل دد ې شو چې د صحابه كرامو په تندو كې دا نه وه يو شخص يې وليد تندي كې تور تاكې ده بد يې وګڼلو :

ما هذا الاثر بين عينيك . دا څه شي دي مونږ صحبتونه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام او د صحابه وو كړي دي زما تندي كې څه ښكاري دا عجيب رد كوي .

مسند ابن الجعد جلد ۱ صفحه ۹۵ كې د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دويم رد مذكور دي:

عن حبيب بن ابي ثابت قال سمعت ابا الشعثاء قال قال فلان اراه بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لرجل لا تعلب صورتك .

حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د يو سړي تندي كې توره تاپه وليده نو هغه ته يې ونرمايل مه عيبجن كوه خپل مخ ځكه چې تندي كې تورې تاپي سره مخ عيبجن كيږي.

امام بيهقي په سنن الكبرى جلد ۲ صفحه ۲۸٦ ، او مصنف ابن ابي شيبه جلد ۱ صفحه ۲۷۲ كې بل روايت ذكر كوي :

عن اشعث بن ابي الشعثاء عن ابيه عن ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه رأى أثراً فقال يا عبد الله إن صورة الرجل وجهه فلا تنشن صورتك .

ترجمه : چا كې څه تاپه وليده هغه سړي ته وايي اى د خداى بنده ! صورت او ښائست د سړي خو همدغه مخ دي مه عيبجن كوه مخ دې په دې تورې تاپې سره .

او روايت د ابن ابي شيبه هم په دغه رابطه په مذكوره حواله كې ذكر دي خو معمولي فرق د عبارت په لحاظ سره په كې موجود دی :

عن اشعث بن ابي الشعثاء عن ابيه قال كنت قاعدا عند ابن عمر فرأى رجلاً قد اثر السجود في وجهه فقال ان صورة الرجل وجهه فلا يشين احدكم صورته .

دريم رد: د حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دغه تورې تاپې:

حدثنا محمد بن زريق بن جامع البصري حدثنا عبدة بن عبد الرحيم المروزي حدثنا الفضل بن موسى السناني عن الجعيد بن عبد الرحمن قال كنت عند السائب بن يزيد اذ جاءه

الزبير بن سهيل بن عبدالرحمن بن عوف وفي وجهه اثر السجود فلما راه قال من هذا: قيل الزبير قال لقد افسد هذا وجهه اما والله ما هي السيما التي سماها الله ولقد صليتُ على وجهي ثمانين سنةً ما اثر السجود بين عينيّ. المعجم الكبير جلد ۷ صفحه ۱۷۸، مجمع الزوائد جلد ۷ صفحه ۱۱، الآحاد والمثاني لابن ابي عاصم جلد ۷ صفحه ۱۲.

بيا وايي: هذه الروايات رواه طبراني ورجاله ثقات.

الدر المنثور جلد ۷ صفحه ۵۴۲، تفسير روح المعاني جلد ۱۹ صفحه ۲۳۶، اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة جلد ۱ صفحه ٦٦.

وقال هذا اسناد صحيح موقوف.

ترجمه: حضرت جعيد بن عبدالرحمن فرمايي چې زه د حضرت سائب بن يزيد سره ناست وم راغې ورته زبير بن سهيل بن عبدالرحمن بن عوف داد عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه لمسي دي زبير نوميږي د سهيل زوي دي دا راغې او د هغه په مخ او تندي کې د سجدې څه نخښه وه هر کله چې وليد سائب بن يزيد رضي الله عنه ده لره وي ويل دا څوک دي چې تندي کې ځان ته ټاپه جوړه کړې ده، چا ورته وويل چې زبير ابن سهيل دي حضرت سائب بن يزيد رضي الله عنه وفرمايل چې ده خو دا خپل مخ فاسد کړې دي دې ټاپي سره، خبردار قسم په الله! دا هغه سيما نه ده کومه چې الله تعالى د صحابه کرامو رضي الله عنه صفت کې ذکر کړې ده.

گوره صحابي دي قسم سره دا وايي چې دا هغه سيما نه ده چې سيماهم في وجوههم کې مذکوره ده.

ما خو په دغه تندي او مخ اتيا (۸۰) کاله سجدې لګولې دي نښته اثر د سجدې چې دا ټاپه ده په تندي زما باندې يعنې دغو سجدو زما په تندي دا توره ټاپه نه ده پيدا کړې.

کورئ ﴿مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ﴾، هغه چې د نبي عليه السلام په معيت کې دي چې صحابه دي ﴿أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ﴾ نو ضمير د سيماهم راجع شو صحابه کرامو ته او نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته محمد رسول الله او صحابه چې دي ﴿سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾، هغه صحابي قسم کوي

چې دا هغه سيما نه ده چې دا تاسو کومه يادوي او رد کوي په دې شخص چې اتيا کاله ما سجدې لګولې دي :

ما اثر السجود بين عيني .

مراد د اثر نه هغه نور يوم القيامة دي لکه مخکې تير شوې .

او امام بيهقي په خپل سنن جلد ۲ صفحه ۲۸۷ کې هم دغه مذکور روايت ذکر کوي او په هغې کې هم دادی :

قد أفسد وجهه والله ماهي السيما والله لقد صليت على وجهي منذ كذا وكذا ما اثر السجود في وجهي شيئاً .

شپږم رد د حضرت انس بن مالك رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دغې تورې تاپې باندې :

عن انس بن مالك رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه قال إني لابغض الرجل واكرهه اذا رأيت بين عينيه اثر السجود ليتجافى احدكم في سجوده . مسند الفردوس بمأثور الخطاب جلد ۱ صفحه ٦۱ .

ترجمه : حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي يقيناً زه بغض کوم له هغې سړي سره او بد يې ګڼم هغه سړي چې وګورم هغه څوک د چا په تندي کې چې د سجدې دنياوي څه اثر وګورمه کله چې ستاسې يو کس سجده لګوي نو تندې له ډير زور په ځمکه دې نه ورکوي ځکه داد ډير زور نه پيدا کيږي بلکې لرې والې دې کوي د ډير زور نه .

د صحابوو په وخت کې دا نه وه تابعينو او د هغې نه بعد چې خوارج او روافضرا پيدا شول نو دغه وخت کې دا څيزونه راپيدا شول نو صحابوو دا بد وګڼل نو انس ابن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورسره بغض کوي او چې مونږ ورسره بغض کوو دې تاپو والا سره وايي ولې کوي .

او علامه بقاعي په نظم الدرر جلد ۸ صفحه ۱۴۳ کې علامه بقاعي هم زما غوندې سم پيژندلې دي فرمايي :

ولا يظن ، ګمان دې ونه شي :

ان من السيماء ما يصنعه بعض المرائين من هيئة اثر السجود في جبهته .

دا ګمان دې ونه شي چې مراد د سيما نه هغه کار دي چې رياکارو تندو کې پيدا کړې دي چې د سجدې څه ټاپه ده.

فان ذلك من سيما الخوارج. دا خو د خوارجو نخښه ده.

وفي نهاية ابن الاثير في تفسير الثفن، ددې ترجمه کوي:

منه حديث ابي الدرداء رضي الله عنه رأى رجلاً بين عينيه مثل ثفنة العنز فقال لو لم يكن هذا لكان خيراً يعني كان على جبهته اثر السجود وانما كرهها خوفاً من الرياء بها وقد روى صاحب الفردوس عن انس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال اني لابغض الرجل واكرهه اذا رأيت بين عينيه اثر السجود.

دلته يوې باريکۍ ته متوجه شئ هر کله چې مفسرينو او فقهاء حديث ذکر کړو نو لږ به يې ګوري تحقيق کوي ځکه دا ددې فن خلک نه دي اوس دې وايي:

قد روى صاحب الفردوس عن انس عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال.

چې نبي عليه السلام ويلي او دا نبي عليه السلام نه دي ويلي دا انس ابن مالک رضي الله عنه ويلي نو هر ځای کې چې تفسير حديث را واخلي او يا د فقه کتاب کې حديث راشي نو بدون د تحقيق نه به يې نه قبلوي بلکې يو ځل به يې غور ځوي محدثينو ته چې د هغوي په زبان دا حديث څنګه دي نو ګوره ده اوس موقوف نه مرفوع جوړ که ځکه دا د نبي عليه السلام قول نه دي داد حضرت انس رضي الله عنه قول دي.

همدغه عبارت د علامه بقاعي علامه شربيني رحمه الله په تفسير السراج المنير مکتبه حقانيه جلد ۴ صفحه ۴۳ کې هم نقل کړي او بيا وروستو فرمايي:

وعن بعض المتقدمين كنا نصلي فلا يُرى بين اعيننا شيء ونرى احدنا الان يصلي فترى بين عينيه ركبة البعير فلا ندري اثقلت الرؤوس ام خشنت الارض وانما اراد بذلك من تعمد ذلك للنفاق.

ترجمه: د بعضې متقدمينو نه نقل دي چې مونږ خو هم دوام سره مونځونه کوو خو زمونږ تندو کې څه ټاپې نه ښکاري مونږ ګورو اوس يو کس نن وخت مونځ شروع کړي ګوري

تندي کې زنګون د اوښ او چاپ پیدا شي پوهیږو نه چې درانده کړې شو سرونه او که سخته ځوله ځمکه هغه وايي چې مونږ به مونځونه کول مونږ کې نه پیدا کیدل اوس چې دې لږ وخت مونځ شروع کړي بیا په کې پیدا شي چې دا ځمکه زیږه شوه خشونة په ځمکه کې راغې او که سرونه درانده شو سرونه خو هم د پخوانیو درانده وه او ځمکه هم پخواني زیږه وه داسې هوار کاني چیرته وه نو چې هغوي کې نه پیدا کیدل او دلته اوس په قالینه پیدا کیږي نو دا د زړه ځه توروالې دي چې تندي ته رابهر شوي دي .

وانما أراد بذلك من تعمد ذلك للنفاق .

صاحب د تفسیر وايي مراد د متقدمینو رد په هغه چا دي چې قصدا دا ټاپه پیدا کوي او دوي ټول قصدا پیدا کوي ټول کوشش کوي چې دا پیدا شي دا جنتي محراب ورکې راشي او چا کې چې ډیره غټه وي هغه دوي کې غټ امیر وي او که همزې نه دي حا (حا) جوړه کړه نوسم ورسره لږي ، یعنې لوي او غټ حمیر صیب وي .

روح المعاني تفسیر دا لیکلي چې کوم څوک تعمد په دې کوي چې دا پیدا شي .

وذلك محض رياء ونفاق يستعاذ بالله تعالى منه .

چې قصدا وايي دا پیدا کړي او کوشش په دې کوي دا خو وايي خالصه ریا او منافقت دي د خدای په ذات استعاذه له دغه حال نه غوښتل په کار دي .

اوم رد په دغه توره ټاپه د حضرت ام المؤمنين میمونه رضي الله عنها:

ابن ابي شيبه څومره لوي انسان دي په دې ټاپه باب لږوي : باب من كره أن يؤثر السجود في وجهه ، چا چې بد ګڼلي دا چې تندي کې توره ټاپه وشي جلد ۱ صفحه ۲۷۳ کې د میمونې رضي الله عنها قول پیش کوي :

حدثنا عمر بن ايوب عن جعفر بن برقان عن يزيد بن الاصم قال قيل لميمونة رضي الله عنها ألم ترى الى فلان ينقر جبهته بالارض يريد ان يؤثر السجود فقالت دعه لعنه ملح .

ترجمه : حضرت یزید بن اصم فرمايي چې حضرت میمونه رضي الله عنها ته وویلې شو چې فلاني ته دې خیال نه دي چې هغه تندي ټکوي په ځمکه دې لپاره چې تندي کې توره ټاپه

پیدا شي حضرت میمونه رَضِيَ اللهُ عَنهَا ورته وفرمایل پرېږده هغه به ریا کار وي.
یعني تندو کې تور داغونه خو د ریاکارانو خلکو پیدا کېږي.

اثر د حضرت مجاهد رَحِمَهُ اللهُ د په دغه تورې تاپې:

سنن البیهقي الکبری جلد ۲ صفحه ۲۸۷ دلته اوس گوري امام مجاهد رَحِمَهُ اللهُ څنګه رد کوي:

أخبرنا ابو نصر بن قتادة انبأ ابو منصور العباس بن فضل الضبي الهروي ثنا احمد بن نجدة ثنا سعيد بن منصور حدثنا جرير عن منصور قال قلت لمجاهد سيماهم في وجوههم من اثر السجود أهو اثر السجود في وجه الانسان.

دا دغه اثر دي چې مخ د انسان کې راځي:

فقال لا. امام مجاهد رَحِمَهُ اللهُ وایي دا نه دي.

ان احدهم يكون بين عينيه مثل ركبة العنز.

یو کس مونږ گورو چې د هغه په تندي کې د چیلي د زنګون په شان چاپه وي.

وهو كما شاء الله يعني من الشر. هغه هغه شان خدای ته پته ده چې څومره شري وي.

لكنه الخشوع. لیکن د دغې نخښې نه مراد عاجزي ده، انظر تفسير طبري.

دا مذکوره روایت تفسیر الطبري جلد ۲۲ صفحه ۲۶۴ کې هم نقل کړي دي.

دارنګې همدغه تفسیر جلد ۱۱ صفحه ۳۶۹ کې م ذکر شوې ده.

او بل روایت د مجاهد رَحِمَهُ اللهُ دا الفاظ راغلي دي:

لا ان احدهم يكون بين عينيه مثل ركبة العنز وهو اقسى قلباً من الحجارة ولكنه نور في وجوههم من الخشوع.

د کوم سړي تندي کې چې توره تاپه وي د هغه زړه د کاڼې نه هم سخت وي.

الکشف والبیان للثعالبي جلد ۱۲ صفحه ۲۴۳:

قال منصور سألت مجاهد عن قوله سبحانه وتعالى سيماهم في وجوههم اهو الاثر يكون بين

عيني الرجل قال لا ربما يكون بين عين الرجل مثل ركبة العنز وهو اقسى قلبا من الحجارة لكنه نور في وجوههم من الخشوع.

دغه حواله چې زړه يې د كاڼي نه هم سخت وي او ټاپه وركې وي تفسير قرطبي جلد ۱٦صفحه ۲۴۸ کې ذكر كړې دي.

دارنګې آلوسي رَحِمَهُ اللَّهُ په تفسير روح المعاني جلد ۱۹صفحه ۲۳۷ او تفسير البحر المحيط جلد ۱۰صفحه ۹۹، او البحر المديد جلد ٦ صفحه ۱۹۸ او المحرر الوجيز جلد ٦ صفحه ۱٦۲ دي ټولو دا حواله ذكر كړې ده.

دريم رد امام مجاهد كوي:

ربما كان بين عيني من هو اقسى قلبا من فرعون. ډير كرته دا توره ټاپه د هغه سړي په تندي کې راپيدا كيږي چې د هغه زړه د فرعون د زړه نه هم سخت وي.

فتح الباري دابن حجر عسقلاني جلد ۱۳صفحه ۳۹۹:

قال منصور عن مجاهد هو الخشوع. تواضع مراد ده.

بيا منصور وايي چې ما ورته وويل:

ماكنت أراه إلا هذا الاثر الذي في الوجه. منصور امام مجاهد ته وايي چې ما داسې ګمان كوو چې دا به دغه ټاپه وي په تندي کې.

فقال. ماته امام مجاهد وويل.

ربما كان بين عيني من هو اقسى قلبا من فرعون.

ډير كرته وي دا ټاپه په تندي د هغه چا کې چې زړه يې د فرعون نه هم سخت وي دا خبره چې زړه يې د فرعون نه هم سخت وي ذكر كړې بحر العلوم د سمر قند جلد ۴ صفحه ۱۷۳ کې او تفسير ابن كثير جلد ۴ صفحه ۲٦۰ کې هم ذكر كړي.

څلورم رد دا چې امام مجاهد دا ويلي:

ليس الاثر في الوجه ولكنه الخشوع.

چې دا په مخ کې څه اثر نه دي بلکې دې نه مراد عاجزي ده هغه هم رد د امام مجاهد

رَحِمَهُ اللهُ جوړيږي چې دغه معنی نه ده مراد چې خلکو اخيستې ده.

دا مذکور روايت د امام مجاهد الدر المنثور جلد ۹ صفحه ۲۳۶ تفسير روح المعاني جلد ۱۹ صفحه ۲۳۷ کې ذکر کړې دي.

بل روايت د حضرت مجاهد رَحِمَهُ اللهُ:

دارنګې ابن ابي شيبه په خپل مصنف جلد ۱ صفحه ۲۷۳ کې د حبيب بن أبي ثابت روايت پيش کوي:

عن حبيب بن ابي ثابت قال شکوت الی مجاهد الاثر بين عيني.

دده به بد راتلل شاګردان به چې ورته ناست وه چا کې به چې تاپه وه هغه سري به يې دباوه وه مونږ ته هم دغه ده څومره شاګردان ناست دي يوه کې هم توره تاپه نه ښکاري يو کال راته يو ناست وه تندي کې تاپه وه چې دا مسئله شروع شوه دا پتکي يې ورو ورو راکوزه وه هغه تاپه چيرته پټيده او دا طالبان چې يو يو روايت تيريږي هغه طالب ته به يې کتل او هغه سره د تيبنتي لاره نه وه هغه هم حيران وه چې په دې ورځ ولې راتلم چې بيخي راغلې نه واي نو اوس ګورم يوه کې هم نښته ده او چې کوم اهلسنت احناف وي هغوي کې دا شې نه وي.

د اهلسنت مشائخ وګوري هغوي کې دا شې نه وي ډير ډير مونځونه کوي دا لوي لوي پيران او علماء او که په پنجاب کې چا کې پيدا کيږي او پيدا شوې وي هغه به د دعوت اسلامي په جال کې ګير شوې وي او که دلته کوم پير صاحب يا شيخ کې پيدا شوې وي هغه به د تبليغي جماعت په جال کې ګير وي دوي سره به تيج وي دې دوه جماعتونو کې چې راګير شي دا څيزونه په کې پيدا کيږي.

دا دعوت اسلامي والا يو ځل دلته راغله ديارلس (۱۳) څوارلس (۱۴) کاله مخکې خبره ده تقريباً نو دلته راغله زه ناست وم ما درس کوه دوي سي روزي ته راغلې وه تقريباً څوارلس پنځلس کسان وه ما نه يې تپوس وکړو چې داد صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسجد دي ما ورته وويل هاو خدمت څه دي وايي مونږ د کراچي نه راغلې يو هلته مرکز کې مونږ ته ددې مسجد نوم راکړل شوې دي.

ګوري ددوي تحريک ته د کراچي مرکز نه هم دوي ته پته لږي چې دلته يو ملا صاحب دي تبليغي جماعت سره وران دي نو تاسې به پريږدي ورشي ورته.

نو ما ورته وويل چې دلته يو بل مسجد هم په دغه نوم شته دي هغه يې درته ليکلي دي هلته ورشي نو روان شول چې هلته لاړل لږ وروسته بيا راغلل وايي نه هغه نه دي دا مسجد مونږ ته بنودل شوې له جيب نه يې کاغذ رابهر کړو وايي گوره ستا نوم پرې ليکل شوې دي، ما ورته وويل چې دلته خو زه تبليغ کوم ستاسو ضرورت نشته دي نو هغه يوه آواز راکړو چې مونږ درود والا يو ما ورته وويل چې زه دې هم پيژنم خو دلته ځای نشته لاړ شي ومي شړل.

دلته مونږ سره خوا کې د تبليغي جماعت والا مرکز دي نو هلته ورغله هغوي ورته ځای ورکړو او د هغه مرکز امير تر دري شپو ورته دعوتونه کول او د مرکز کشران تبليغيان ډير په غصه وه وايي دا بريلويان يې دلته ډيره کړي او هغه مشرانو به ورته وويل چې دا د دين کار کوي کار ورسره مه لري دا دواړه خپلو کې تيچ دي دا اميران يې ښه پوه دي چې يو مشن دي يو مقصد دي روپې برطانيه نه مونږ ته راروانې دي مقصد دا چې عالم بدنام ،شيخ بدنام، مجاهد بدنام دا دري مقاصد و ته دوي راغلې دي او کفار ښه پوره په دغه مشن کې کامياب شول مثلاً ته به د پنځوسو کالو د بخاري شيخ الحديث يې او چې کله گا دي ته پورته شي نو په تا به آواز کيږي امير صاحب دلته کينه دا به ستا لقب وي.

او چې کوم سړي دري ورځې تيري کړې وي هغه به هم امير وي او چې څوک ډيره لري او هسې غل وي هغه هم امير صاحب دي او شيخ الحديث هم امير صاحب دي نو د علم او د علماو خويې بنياد وويسته.

او مشائخ خو پريږده هغه خو اول قدم کې دا تربيه ورکوي چې داد شرک اډې دي.

او مجاهدين نو په دعوت وای کار کيږي دې ته څه ضرورت دي د طالبانو د حکومت په آخري کال کله چې طالبانو شکست وخوړ نو هلته رائيونډ اجتماع وه نو د مشر ملا صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه يو وفد راغې يو خط ورسره د ملا عبد السلام ضعيف په لاس ليکل شوې وه ما ته هغه طالب حکايت وکوه چې ملا عبد السلام ضعيف خپله ما ته دا قصه وکړه چې مونږ ته ملا صاحب وويل او زه دلته سفير وومه چې تاسو يو خط وليکي او يو وفد وليږي خط هم ورکړي او دوي نه مطالبه د دعاء هم وکړي او د چندې مطالبه ترې نه وکړي چې دا ډيره غټه اجتماع ده کله لږ روپې هم واچوي نو ډير شي جوړيږي.

نو وايي ما خط وليکه د عبد الوهاب په نوم کوم چې د تبليغي جماعت مشر وه او وفد

مې وليږه او د وفد سره د جماعت اسلامي څه کسان وه هغوي ته يې دا خط ورکړې وه هغه کسان چې هلته تللې وه عبدالوهاب ته چا نه پرېښو دل بيا په هغه وخت کې اوصاف اخبار يا هغه مضمون را اخيستې وه نو چې انتظاميه والا دا وفد عبدالوهاب ته نه وراپرېښوده نو شور جوړ شو بيا جماعت اسلامي والا ځان يو ځاي ته ورسولې وه.

نو عبدالوهاب وويل چې دا څه مسئله ده دا شور څنګه دي چا ورته وويل چې دا څه کسان دي وفد ده خط تاسو ته راوړي هغه وايي ورته وويل چې وفد مه راپرېږدي خط ترې راوړي کله چې يې وايي خط راوړ نو چې خط يې کتلې او د جهاد خبرې په کې وې نو خط يې شلولې او غورځولې ده او بيا وايي خپله پاڅيده چې دا دور اوس دد ې خبرو نه دي چې کافر په دعوت او نرمه مسلمانيږي نو توري ته څه ضرورت دي نو دا مضمون يا اوصاف اخبار د هغې اجتماع را اخيستې وه خور کړې وه.

نو اوس هم چې څوک لاړ شي کابل ته او د مولوي عبدالسلام ضعيف نه پوښتنه وکړي چې تبليغي جماعت والا څنګه خلک دي نو هغه ورته دا مذکوره قصه کوي چې دا ډير بې دينه قوم دي او مونږ د جهاد د چندې لپاره ورغلې وو او مونږ يې خفه کړې وو.

اوس تول پرې پوه شوې دي زما يو کيسټ چا وړې وه شاه منصور شيخ ته هغه شيخين چې دي کوم چې وړه دوره تدريس کوي دوې ته او دغه کس ورسره وړه دوره کوله هغه کس ما ته قصه کوله چې کيسټ مې ورکړه د شپې کور کې اوريدلې وه سحر وايي راغې ماته يې وويل طالب جانه ديخوا راشه وايي کمره کې يې کينولم ماته يې وويل چې څه خبرې دې مولوي صاحب کړي زما هم دغه عقيده ده د تبليغي جماعت په رابطه خو زه دې ته حيران يم چې دې دور کې څومره دوي ډير دي دا مقابله دې کوي څنګه خلک اوس دا نه شي کولې ځکه ډير شوې دي ترې نه.

يو ځل يو پروګرام کې زه د ډاګي مولانا صاحب سره ناست وم مه يو څه کسان نور هم وو يو طالب ده ته وويل صوابي نه راغلې وه چې هلته مونږ ترجمه کوله يو تبليغي امير وويل چې دا قرآن کريم اجتماعي کتاب نه دي تبليغي نصاب اجتماعي کتاب دي او قرآن کريم بند کړي ددې په ځاي به دا فضائل اعمال درس کولې شي.

شيخ صاحب ته يې دا خبره وکړه نو شيخ صاحب سر اوچت کړو يو خوا بل خوا يې وکتل

چې څوک تبليغي خو ناست نه دي وايي دا خبره چې تا ماته وکړه دا يې کړې ده يقيناً کافر دي په دې باندې چې دې فضائل اعمال د قرآن کريم په مقابله کې مفيد ګڼي وايي دا خو يقيني کافر دي.

بيا يې سر تيټ کړو غلي وه بيا يې راپورته کړو يو خوا بل خوا يې وکتل چې څوک خو نشته وايي ما په حديثو کې ليدلې وه چې:

فتنة عمياء. يوه ړنده کڼه فتنه به قيامت نه مخکې پيدا شي.

وايي د ړندې کڼې مقصد دادی چې علماء او عوام به ړانده وي په کې به روان وي وايي زما يقين دي چې هغه فتنه د تبليغي جماعت دي.

دا خبره د ډاکي شيخ صاحب نه ما په خپلو غوږونو واوريدله او ماته يې دې خبرې دومره خوند راکړو چې جيب کې مې څه وه راوا مي خيستل او ده ته مې په تحفه کې ورکړه ما ويل چې دا خو دې سمه خبره وکړه خو ما وويل کاشکې دې دا خبرې په منبر هم کولې نو اوس به دامشکل دومره نه وه جوړ.

د طالبانو د امارت په وخت کې ډاکټر شيرعلي شاه صاحب چې د حقانيې مدرسې له نامتو مشائخو نه دي په صوابي کې يوه جهادي جلسه وه په هغې کې شيخ صاحب شيرعلي شاه هم بيان وکړو او په خپل بيان کې يې وويل چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر تبليغي جماعت چې کوم کوي دې ته نه شي ويلې او طالبانو ته يې وويل د امر تعريف څه شي دي:

قول القائل للغير على سبيل الاستعلاء افعل.

طالبانو ته يې وويل شرط په کې استعلاء ده کنه وايي چې هاو نو وايي دوي خو سوال کوي استعلاء کومه ده وايي امر بالمعروف هغه ده کومه چې د امارت اسلامي طالبانو اعلان کړي چې که مونځ کوي بنه ده ګنې کوتک درپسې را اخلي استعلاء وايي هلته ده.

او نهي عن المنکر هو قول القائل للغير على سبيل الاستعلاء لا تفعل.

نو وايي امر بالمعروف او نهي عن المنکر چې څوک په تبليغي جماعت چسپانوي نو غلطه کوي ځکه وايي دا نه دي دې کې وايي استعلاء نشته ده.

دوي خو وايي ټول سوال کوي يو بل ته نو ده هم بنه علمي تاويل کړي يو علمي رد يې پرې کړي هغه هم خپل انداز کې په تبليغي جماعت ردود کوي.

شيخ حسن جان صاحب د هغه کیستي هم موجودې دي هغه وربانديې په دې ضمن کې رد کوي وايي چې دوي د اسلام دانچه چې کومه ده په تبليغ او شپږ نمبرو منحصره کړې ده او دا فکر قاصر دي دا هم بنائسته رد دي او رشتيا دوي داسې کوي چې دوي شپږ نمبرو ته اخوا اسلام او دين نه ګڼي او دين همدا ګڼي او هم دا کشتي نوح ګڼي که دغه کار چا کوه مسلم يې ګڼي که دا نه کوي نه يې ګڼي .

شيخ حسن جان صاحب بيا وايي چې زه چارسده کې چا سره ميلمه وم وايي د سحر مانځه ته لاړمه يو امير د تبليغي جماعت والا وايي بيان کوه وروسته يې بيا وايي خپلو کې يو بل ته ويلې چې دعاء وکړي خدای تعالی دې دا مشائخ هم د دين کار ته قبول کړي وايي ما وويل چې ځه خو څوک به يادوي بله ورځ بيا لاړمه بيا ناست ومه امير صاحب لګيا دي چې دا مشائخ وګوره په بخاري او دې شيانو وخت تيروي دعاء وکړي چې خدای تعالی يې دا خپل دين کې قبول کړي وايي زه ورپاڅيدم ما ورته وويل چې څناوره د هغه دا الفاظ وه داد بخاري درس څه د دين کار نه دي وايي راته يې وويل چې نه د دين کار دا چې تاسو مونږ سره لاړ شي او دې کار کې مونږ سره کار وکړي .

نو بيا طالبانو هغه چيټونه ورته راليږي چې صيب تاسو ددې په مطلب پوه شوي نه يې بيا دې غصه شوې دي په خندا خندا کې ويلي دي د کتاب المغازي درس دې چې طالبانو نبي عليه السلام غزوې د بدر ته مجاهدين ليږلې وه که سي روزي ته يې ليږلي وه نو هغه ناست طالبان ټول په خندا شي .

بيا وايي چې صحابه غزوه بني مصطلق ته روان شوې که چيلي ته يې ليږلي وه داسې او په دې شکل بيا پرې راليږدلي خپل انداز کې هغه هم خپله خواري کړې ده چې دا خلک پوه کړي چې ددې جماعت دا مفکوره قاصره ده دا دين يې راخيستې او منحصر کړې يې دي دې شپږو نمبرو کې نه داسې نه ده خو دا څه نا څه چې ټول غلي پاتي کيږي خبره په ديوبند کې ده ځکه دا شق راوتلې د هغه ځای نه او دوي ټول د ديوبند په مينه کې ننوتې دي بس دې ځای کې ددوي خوله بنده ده .

او بريلوي علماء چې د دعوت اسلامي والا نه غلي پاتي کيږي خبره په بريل کيده هلته هغوي ځان ته بريلويان وايي هغې سره دوي څه چل وکړي او خبر نه دي چې دعوت اسلامي

والا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په درود کې څومره بې ادبي وکړه شنو پتکو والا چې کله تشناب ته لاړ شي نو چې دويم ورشي هلته ورته ولاړ وي دروازه ټکوي آواز کوي مدينه مدينه چغې وهي ناسو تجربه وکړي او تپوس نه وکړي ددوي دا کار دي.

ددوي رسالې ما سره دي او د رسالو په غاړه چې کومې کرخې وي د دوی لپاره نو د دوي رسالو کې د هغه کرخو پر ځای جدول دي او په هغه کې مدينه مدينه مدينه يې کرخه او جدول جوړ کړي نو په دغه څيزونو او صلاة سلام نعرو باندې بريلويان دوکه کړل.

او بريلوي حضرات خو څه بنه دي خو څه داسې هم دي چې الصلاة والسلام عليك يا رسول الله دي ورته وويلې نور چې کوناټو ته يې کوتک ونيسي هم وايي نه دا بزرګ ده صلاة او سلام وايي نو دومره احمقان په کې دي چې صلوات او سلام باندې تله دوکه کيږي نو عقيده خو يې وګوره چې عقيده يې څنګه ده بس الصلاة والسلام دا خبره کوه نور چې څه کوي کوه يې نور دوي خواران ړانده دي څه نه وايي ورته.

ماسره اوس دوي په څه وران دي دوي ماته وايي چې ته تقرير ته پاځيږي الصلاة والسلام عليك يا رسول الله ولې نه وايي نو دا اوس تقرير کې وويل فرض دې تول بريلي حضرات رانه خفه دي وايي چې غلام حضرت مولانا بيان ته پاځيږي نو صلوة او سلام نه وايي او بل وايي ځان ته بريلوي نه وايي، نو زه ولې ځان ته بريلوي ووايمه نه مې استاذ بريلوي وه نه مې پير بريلوي وه نه د بريل د علاقې يمه نو په کوم نسبت ځان ته بريلوي ووايمه او نه بريل مسلک ګڼمه چې دا ګڼې مسلک دي اوس ما نه په دې خفه دي چې ولې ځان ته بريلوي نه وايي.

يوه راته کراچي نه ټيليفون وکړو وايي که ته هر څومره ځان ته بريلي ونه وايي نو خلک خو درته بريلوي وايي نو ما ورته وويل چې خلک خو دلته ماته شيعه هم وايي او خلک راته مشرک هم وايي بدعتي راته هم وايي نو د خلکو په ويلو خو زه هغه نوم په ځان نه شم کيښودلې کنه.

نو لوي فساد خلکو ديوبند او بريل نه جوړ کړو ديوبند او بريل کې فساد نه وه خلکو ترې جوړ کړو هغه خو اداري وي د دين خدمتونه دواړو کړي د حنفيت خادمين دي دواړه بس

دومره فرق يې وه چې په دې بريل تصوف طريقت غالب وه او په ديوبند شريعت غالب وه نور داداسې نه چې گني يا يو طرف يا بل طرف كافر وه داسې نه وه چې گني احمد رضا خان بريلوي د كفر اډه خلاصه كړې وه لكه بعض ديوبنديان چې دا نظر لري چې يا مشرك وه يا كافر وه نه داسې نه ده هغه يو حنفي وه د هغه فتاوى رضويه وگوري اول نه تر آخره پورې د حنفيت نه بهر كيږي نه او ښه قوي دلائل د احنافو وايي او ښه كلک حنفي دي څومره چې هغه په حنفيت كلک وه هغو نه دا نور نه دي وروسته له هغې نه خلكو يوه عجيبه قيصه جوړه كړه او مشن يې ترې جوړ كړو ځله يې ترې جوړه كړه مسلک يې ترې جوړ كړو دا د خلكو زياتې دي له هغه سره هغه دا نه دي ويلي هغه د شيعه گانو په كفر هم دلائل ويلي .

او اوس راشه ښكته د نن صبا بريلويانو ته څه شقونه دي ددوي هغه نومونه تاسو كتلي دي سجاد نقوي نو دا اوس د شيعه گانو تخلص نه دي چې ته يې په ځان ږدي او ټول چې چيرته وي رضا به په كې راځي نو كه چيرته يې احمد رضا خان ته منسوبوي بيا هم ښه ده او كه امام رضا ته يې منسوبوي هغه خو بد سړي نه وه خو د شيعه گانو امام خو وه كنه، نو دغه فرقونه كول خو په كار دي ددوي دغه القاب ددوي دانو مونه .

د پنجاب د بريلويانو نومونه ټول تاسو وگوري ځان ته يې د شيعه گانو نومونه ايخي دي القاب يې ځان ته د شيعه گانو وضع كړي دي .

نو اوس يو خوا پاتد دي بلخوا پرانګ دي كه څه نه وايو نو خالق نه يريږو او كه څه وايو نو دوي ته حيران شو جانبين بيا خفه وي نو دعوت اسلامي چې كوم دي خطرناک تنظيم دي دا خبره مونږ ښكاره كوو او بريلويانو ته مونږ چيلنج هم وركړې دي .

مونږ سره خوا كې څه بريلويان دي هغوي نه په دې ما باقاعده خط هم ليكلي دي چې الله سے ہونے کا یقین مخلوق سے نہ ہونے کا یقین دا عقيده دعوت اسلامي ساتي او ته يې تائيد كوي داد سر كاني په نوم باندې چې كوم بريلوي دي ما درې پاڼې خط ده ته ليكلي دي ته يې تائيد كوي په دې مسئله باندې علمي مباحثې ته ځان تيار كړه او يا خپل عوام پوه كړه چې دا غلطه عقيده ده او دغه شان توره تاپه چې د دعوت اسلامي او تبليغي جماعت په تندو كې پيدا ده .

كوم علماء د ديوبند چې د تبليغي جماعت تائيد كوي زمونږ ورته چيلنج دي مونږ سره

دي په دې خبرو ته کيني او کوم بريلوي چې ورته قائل دي د دعوت اسلامي پرچار کوي هغوي ته هم زمونږ چيلنج دي هغوي دې هم مونږ سره په دې خبره کې دا غلطه ثابته ده داد خوارجو نخښه ده داد شيعه ګانو په تندو کې پيدا کيږي داد اهلسنت په آثارو کې نشته .

نو بيرته خپلې خبرې ته راځم : مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۷۳ کې د مجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ هغه روايت نقلوي :

عن حبيب بن ابي ثابت قال شكوت الى مجاهد الاثر بين عيني فقال لي اذا سجدت فتجاف.

ترجمه : حبيب بن ابي ثابت رَحِمَهُ اللَّهُ وايي شکايت مې وکړو ددې ټاپې چې دا پيدا نه شي.

فقال لي اذا سجدت فتجاف بروایة فتخاف بروایة.

ابن بطال په شرحه کې فتخاف ته ترجيح ورکوي .

والمحفوظ عندي بالخا فتخاف معنى خفف نفسك وجبهتك على الارض .

دا خپل ځان او تندي په ځمکه سپک ږده زور مه ورکوه ورته .

نهم رد د حضرت شعبي رَحِمَهُ اللَّهُ په دغه تورې ټاپې :

عن حريث عن الشعبي انه كره الاثر في الوجه . مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۷۳ .

ترجمه : حضرت حريث فرمايي چې حضرت شعبي رَحِمَهُ اللَّهُ په تندي کې تور داغ دير بد ګڼړلو .

دا بعضې حقائق مونږ د مجبوري نه وايو چې دوي نه پوهيږي په خپلو ښو باندې دير مسائل داسې دي چې هغې کې به بريل مونږ سره متعهد وي هغوي به هغه مسئله پرچار کوي مونږ به يې هم کوو خو مونږ په دې نيت نه ده کړي چې ګنې زه د بريل خادم يم هغوي ته خدمت کوم مونږ د اهلسنت والجماعت د حنفيت تائيد کوو که يوه مسئله بريلويانو خپله کړې وي او هغه د حنفيت وي هغوي ته په کې فائده ورځي ورد ې شي هغوي هم احناف دي خو زه د حنفيت مؤيد يمه د بريلويت او ديوبنديت مؤيد نه يمه .

که څوک په ديوبنديانو رد کوي د ديوبنديانو بعضې کتابونو کې څه خبرې دي بريلويان پرې اعتراضات لري نو هيڅ قسم پرتوګ يې مونږ نه شو جوړولې تاسو ته هم وايم ؛

چې مه په کې غلط تاويلات کوي او مه ورته پرتوګونه جوړوي.

که يو چا په يوه مسئله کې غلط تاويل کړي وو ايه چې غلط تاويل يې کړې بنه يې نه دي کړي چې داسې ويلې دي نو د بريل خوا نه د ديوبند په کتبو به اعتراضات وي هغوي دې اعتراضاتو کې چې کوم څوک تاويلات لټوي چې نه دا يې بنه کړي دي دا تاويل او هغه تاويل هسې بد کوي بنه يې نه ده کړي غلط يې ويلې.

او بعضې خوبونو نه دي اخذ نه کوي خوب داسې وي چې هغه تاويل لري تعبير لري او د هغې نه سيوا بعضې کمزورې شوې دي د اشرف علي صاحب په څه کتابونو اعتراضات لري د اسماعيل په څه کتابونو اعتراضات لري اسماعيل چې کوم دي داد شاه محمد اسحاق صاحب زوي وه د شاه عبد العزيز صاحب وراره دي د شاه ولي الله صاحب لمسې دي خو که ده ته څوک حنفي وايي زياتې کوي دې په دې کورنې کې اهل حديث وه ده به رفع اليدين کول په دې رفع اليدين شاه عبد العزيز صاحب مناظره ورسره کړې وه نو په دې، دې ديوبنديان نه دو که کيږي چې ګنې د اسماعيل پسې ولې خبرې کوي بنه کوي چې خبرې پسې کوي.

که تاسو د هغه کتابونه مطالعه کړي نو د هغه او د اهل حديثو هيڅ فرق نشته دي څه عقائد چې اهل حديث لري او تکفير د امة مسلمه کوي دې يې هم کوي نو داسې څه اعتراضونه بريلويان د ديوبنديانو په کتابونو لري او بعضې بيا زياتي کوي لکه محمود قاسم نانوتوي باندې اعتراض کوي بې ځايه دې هغه باندې دا اعتراض کوي چې ده داسې ويلې دي ولو بالفرض که چيرته نبي پيدا شي نو ختم نبوت کې تاثير نه پريوځي.

نو اعتراض يې دا کړي چې نبي خو پيدا کيږي نه نو ده ولې داسې ويلې ولو بالفرض که چيرته نبي پيدا شي دلته داسې ويل په کار وه ولو بالفرض که مدعي د نبوت پيدا شي نو ختم نبوت کې څه تاثير نه پريوځي.

الفاظ روغ هم داسې دي او دده غريب هم دا مقصد دي او دا کتاب يې هم په ختم نبوت ليکلي دي ولو بالفرض که چيرته نبي پيدا شي نو نبي خو نه پيدا کيږي دوي دا لفظي تنازع کې دا غريب را ټينګ کړي دي وګوره دا وايي د ختم نبوت منکر دې منکر نه منکر نه دي هغه وايي ولو بالفرض والتقدير که چيرته مدعي د نبوت يې نه ده ويلې نبي پيدا شي يعني نبي خو نشته يو سړي وايي زه نبي يمه نو ختم نبوت کې څه تاثير نه راځي خبره د هغه روغه ده خو

دا الفاظو کې د نبي په ځای مدعي نبوت په کار وه نو د يو مؤمن قول کې به تاويل کوي نو د هغه مقصد همدغه مدعي د نبوت دي نو دا اعتراض په محمود قاسم نانوتوي بې ځايه دي .

او مسئله د امکان الکذب چې د خدای تعالی نه د دروغو ويل ممکن دي دا چې هر چا چېرلي بد يې کړي او د ديوبند په علماء کې پرې چا قول کړې دي بريلويان پرې اعتراضات لري دا غلطي ده د هغوي او د هغې لپاره پرتوګ جوړول بنه کار نه دي د ديوبند بعضې علماء دامکان الکذب په مسئله قائل وه چې خدای تعالی دروغ ويلې شي که نه شي ويلې نو وايي قادر دي په دروغو ويلو باندې دروغ ويلې شي .

نو داد خالق د ذات سره ډيره بعيده خبره ده او له دې ځای نه چې ان الله علی کل شيء قدير نو دا بې ځايه خبرې ولې چيړي بل څوک به تپوس وکړي په خپل شريک قادر دي که نه دي اوس به دلته دا وايي چې په شريک هم قادر دي ، دې ځای کې تمهيد د عقائدو چې کوم کتاب دي ليکلې دي چې په دروغو باندې په خپل شريک باندې دا څيزونه مستثنی دي د ان الله علی کل شيء قدير نه په استثناء عقلي سره دا مستثنی دي ترې نه دا به دلته يېخي چيړي نه چې په دروغو قادر دي کنه او په شريک قادر دي او که نه .

دغه مسئله دلته چيړل بې ادبي ده د خالق د ذات سره ولې دا بحث اچول کيږي چې ته په دې ځای کې دا اعتراض را واخلې چې خالق په دروغو قادر دي که نه او بيا دلته تفسير دا وکړي چې په دروغو هم قادر دي نو د ديوبند بعضې کتابونو کې دا الفاظ دي د امکان الکذب خبره دا غلطه ده چې هر چا کړې ده .

بعضې بريلوي حضرات مونږ ته په ټيليفون دا وايي چې د ديوبند څه عبارت دي تاسو يې تائيد کوي او مونږ يې تائيد نه دې کړي او نه يې تائيد کوو دا غلطي او خامي دي او مونږ د ديوبند متبعينو ته دا وايو چې هغې ته څه پرتوګ مه جوړوي کوم يو شي کې چې جوړيږي لکه د محمود قاسم نانوتوي سره دوي ضد کړې دي .

او څومره تعصب د بريلوي حضراتو لخوا روان دي دلته نمک منډي کې يو طالب راته قصه کوله چې يو بريلوي مونږ سره سبق کې وه او ډير په سبق پوهيدو هم نه او هغه هم پيژنمه چا چې دا خبره کړې ده نو وايي ناست وو کلاس خلاص شو تشناب ته تللو وايي ما ته يې

وويل چې دا کتابونه لړ واخله د ديوبند ته څمه نو تشناب يا ليترين ته يې ديوبند ويلي نو دومره تعصب د بريلويانو لخوا روان دي چې ديوبند ته ليترين وايي .

ددوي بيا دا عقيده ده چې ديوبند د کفر مرکز دي دا غلطه خبره ده ديوبند د کفر مرکز نه وه هغه د علم مرکز وه د حنفيت اډه وه دا چې په منتهی کې هر يو شي زيب بد ليږي مونږ او تاسې تول امتيان د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو اول صحابه څنګه وه تابعين څنګه شو وروسته څنګه شول اوس څنګه دي بيا به څنګه وي ګوره رابهر شوي ديو مرکز نه يو او په منتهی کې راکې څومره دلې پيدا شوې او څومره دا خلک غلط شول نو اکابر نه يې بدناموله په کار دي باندې مدرسه د ديوبند د کفر مرکز نه وه بلکې د علم او حنفيت اډه او مرکز وه .

او دغه شان د بريل مدرسه د شرک اډه نه وه د حنفيت اډه او مرکز وه لا اقل په هغوي شريعت غالب وه او په دوي طريقت غالب وه او اوس هم داسې دي څومره بريل مزاج چې دي طريقت کې ننوتي دي څومره ديوبند مزاج چې دي شريعت کې ننوتي دي دا هغه ځای نه دا مسئله همدغه شان را روانه وه او دا اصل کې د شاه ولي الله صاحب د کورني نه دا مسئله جوړه وه د شاه ولي الله صاحب دوه ځامن وه شاه محمد اسحاق شاه عبد العزيز دا شاه عبد العزيز چې وه طريقت پرې غالب وه او شاه محمد اسحاق صاحب باندې شريعت غالبه وه د ديوبند شاخونه تول شاه محمد اسحاق صاحب ته رسيږي او د بريل شاخونه شاه عبد العزيز صاحب ته رسيږي .

دا بيا په شاه ولي الله صاحب کې سره راغونديږي او د يو ځای نه رابهر شوې دي د چا استاذ چې طريقت ته زور ورکوي شاګرد يې خپله طريقت ته مائله وي او کوم استاذ چې شريعت ته زور ورکوي شاګرد يې شريعت ته مائله وي دغه يو فرق د دوي مينځ کې وه دا نزاع ورځ په ورځ په ګرميدو ده چې انتهاء به يې کوم ځای ته رسي داد ديوبند بعضې کتبو کې عبارتونه وه هغې ته ما اشارات وکړه چې تائيد يې مه کوي .

او د بريل خامي دادي چې زيات بريلويان نن صبا د شيعه ګانو سره تيچ دي نو دا ددوي عظيم عيب دي په دې دوي د اهلسنت نه وځي چې څوک د شيعه ګانو سره تيچ وي .

لسم د حضرت ضحاک رَحِمَهُ اللّٰهُ رد په دغه توري باندې :

قال ضحاك: اما انه ليس بالندب في الوجوه . الكشف والبيان للثعلبي جلد ۱۲ صفحه ۲۴۳.

ترجمه : حضرت ضحاک رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي دا هغه لوند والې په مخ کې نه دي يا چې مراد د دغه نخښې نه په مخونو کې د زخم نشان نه دي .

يو لسم د بعضې متقدمينو علماو رَحِمَهُمَا اللّٰهُ رد په دغه تورې تاپې :

وعن بعض المتقدمين كنا نصلي فلا يُرى بين اعيننا شيء ونرى احدنا الآن يصلي فترى بين عينيه ركبة البعير فما ندري اثقلت الرؤس ام خشنت الارض وانما اراد بذلك من تعمد ذلك للنفاق. الكشاف جلد ٦ صفحه ٣٦٠، تفسير السراج المنير جلد ١ صفحه ۴۲۰۲، تفسير الآلوسي جلد ١٩ صفحه ٢٣٦، دا عبارت مخکې تیر شوې وه .

المبحث الخامس : په ذكر د خوارجو او د تورو تاپو د هغوي کې :

ان هذه السيماء المختلق السوداء كانت في جباه رؤساء الخوارج واهل الزيغ .

دا مونږ بار بار چيلنجونه ورکړي چې څوک دي دا تاپه د محمد مصطفى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سيرت کې وه بنايي ګوره د هغه مبارک د ږيرې سپين ويښتان هم صحابه وو شمارلې د هغه مبارک د سينې ويښتان يې هم شمارلې چې سينې يې ويښتان لرل په مينځ کې طويل المسربة وه د هغه مبارک ختم نبوت هم بيان شوې دي د هغه مبارک د مخ رنګ هم بيان شوې دې د هغه مبارک پوزه وريزې بانه هر څه په شمائل کې مذکور دي نو

دا د ومره غټه تاپه په کې څنګه نه بيانيږي چې دې تندي کې يو تور تاپ کي هم وه عياذاً بالله دا خو هم سيرت را اخيستل په کار وه کنه د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم تمام سيرت شمائل بنودلې شوي دا دې څوک وښائي خلفاء صحابو وکې چې دا تاپه په کې وه يو لاکه څليريشت زره زيات او کم انبياء تير شوي دي د يو په سيرت کې دي څو وښايي چې د هغه په تندي کې دا اثر موجود وه دا ائمه محدثين څلور امامان د هر چا په سيرت کې که چا دا ثابته کړه چې تندي کې تاپه وه مونږ منو ورسره دا څوک نه شي خودلې .

بلکې مونږ اوس دا ښايو چې دا تاپه د ذوالخويصرة په تندي کې وه او دا تاپه د عبدالرحمن بن ملجم المرادي چې د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قاتل وه د هغه په تندي کې وه د

غلطو خلکو په تندو کې پيدا شوې د اشقی الناس په تندو کې پيدا ده .

(۱) اول د خوارجو مشر د ذوالخويصرة په تندي کې توره تاپه وه :

بحواله مصنف ابن ابي شيبة جلد ۷ صفحه ۵۵۹ :

عن هريك بن شهاب الحارثي ، وايي :

جعلت اتمني ان القي رجلاً من اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم .

دا مې ډيره تمنی وه چې د نبي عليه السلام يو صحابي سره ملاقات وکړم .

يحدثني عن الخوارج .چې ماته د خوارجو باره کې څه احاديث بيان کړي .

فلقيت ابا برزة الاسلمي في نفر من اصحابه في يوم عرفة .اتفاقاً زما ملاقات وشو د ابوبرزة الاسلمي سره د عرفې په ورځ په داسې حال کې چې ملګرې هم ورسره وو .

فقلت حدثني بشيء سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم يقوله في الخوارج .

ما ورته عرض وکړو چې تاسو ماته هغه احاديث بيان کړي کوم چې تاسو په خپله د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم مبارک نه په حق د خوارجو کې اوريدلې وي .

فقال احدثكم بما سمعت اذناي ورأت عيناي اى رسول الله صلى الله عليه وسلم بدنانير .

حضرت ابوبرزة اسلمي رضي الله عنه وفرمايل زه تاته هغه احاديث بيانوم کوم چې زما دې غوږونو اوريدلي او يا هغه خبره درته بيانوم کومه چې زما دې دواړو سترګو ليدلې دي هغه داچې حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم مبارک ته د غنيمت چند دنانير حاضر کړې شو .

فجعل يقسمها وعنده رجل اسود مطموم الشعر عليه ثوبان ابيضان بين عينيه اثر السجود.

او محبوب خدا صلى الله عليه وسلم د هغې په تقسيم باندې شروع وکړه نو دغلته يو تور مخ والا ګنو ويختو والا سړي وو چې دوه سپينې جامې يې په بدن وې او تندي کې توره تاپه لګيدلې وه .

وكان يتعرض لرسول الله صلى الله عليه وسلم فلم يعطه فأتاه فعرض له من قبل وجهه فلم يعطه شيئًا فأتاه من قبل يمينه فلم يعطه شيئاً ثم اتاه من قبل شماله فلم يعطه شيئاً ثم أتاه من خلفه

فلم يعطه شيئاً.

او د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې مخې ته کيدو خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مبارک ده له هيڅ ورنه کړل دغه سړي بيا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ښي طرف او ګس طرف او د وروستو طرف نه راغې خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورله هيڅ ورنه کړل.

فقال يا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما عدلت منذ اليوم في القسمة فغضب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غضباً شديداً ثم قال والله لا تجدون احداً اعدل عليكم مني ثلاث مرات.

دغه سړي وويل اى محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نن ورځ تا په دې تقسيم کې هيڅ انصاف ونه کړو، العياذ بالله، حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک دې خبرې اوريدو سره ډير سخت غصه شو او بيا يې وفرمايل په خداى قسم تاسو به خپل ځان د پاره زما په شان ډير انصاف والا شخص پيدا نه کړې او دا خبره دوي مبارک درې (۳) ځلې وفرمايله.

ثم قال يخرج عليك رجال من قبل المشرق.

بيا يې وفرمايل چې د مشرق د طرف نه څه خلک به تاسو ته راشي مدينې منورې نه مشرق نجد دې رياض ورته ويلې شي محمد بن عبد الوهاب نجدي هم دلته پيدا شو کيدې شي هغه ته اشاره وي.

كأنَّ هذا منهم. ګوياکې داد هغوي نه دې يا هغه خوارج مراد وه چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقابله کې وه عراق هم په دغه طرف دې.

هديهم هكذا. په دې طريقه به هغوي برابروي.

يقرؤون القرآن لا يجاوز تراقيهم يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية.

قرآن کريم به لولي خو د مرې نه به يې ښکته نه تيريږي او د دين اسلام نه به داسې وځي لکه غشې چې د ليندې نه وځي يا د ښکار نه.

ثم لا يعودون اليه. بيا به نه راګرځي دې دين له.

ووضع يده على صدره سيماهم التحليق راځي.

او بيا نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک لاس خپل په سينه کيخودلو او وي فرمايل نخښه

ددوي به د سرو نه خريل وي .

لا يزالون يخرجون حتى يخرج اخرهم مع المسيح الدجال .

هميشه به وي چې راوځي به تر دې چې آخري سړي ددوي به د دجال لښكر سره راوځي.

فاذا رأيتموهم فاقتلوهم ثلاثاً هم شر الخلق والخليقة يقولها ثلاثاً.

نو چې كله تاسو دا خلک وليدل جنګ ورسره وكړي مړه يې كړي دا خبره نبي عَلَيْهِ السَّلَام دري ځلې وكړه دا تول خلق او خليقه كې بد خلق هم دوي دي يعني دا خلق دا وچې او د لوندې د تمام مخلوق نه ناكاره دي .

زمونږ اخذ دلته چې دا كس څوک وه ذوالخويصرة وه دا اتفاق دادى او دې ځاى نه استدلال دي .

بين عينيه اثر السجود .

دده تندي كې دا ټاپه وه دا چې د ذوالخويصرة تندي كې توره ټاپه ذكر كړې ده مسند احمد را اخيستي جلد ۴۳ صفحه ۱۱۵ معرب بيروتي چاپ دارنګې مسند. احمد غير معرب جلد ۵ صفحه ۴۲ المستدرک على الصحيحن للحاكم را اخيستې جلد ۶ صفحه ۲۵۵.

جامع الاحاديث د امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ را اخيستي جلد ۳۸ صفحه ۲۶۹، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد جلد ۶ صفحه ۲۴۲، اتحاف الخبرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة جلد ۸ صفحه ۲۲، غاية المقصد في زوائد المسند جلد ۲ صفحه ۱۸۸، السنة لابن ابي عاصم جلد ۲ صفحه ۴۵۴، فضائل القران للفريابي جلد ۱ صفحه ۱۸۸، مسند والروياني جلد ۲ صفحه ۳۸۵، فتح الباري لابن حجر جلد ۱۹ صفحه ۳۸۹.

فكلهم قد صرحوا ان ذوالخويصرة كان بين عينيه اثر السجود .

نو ما ورسره دومره ليكلي :

لوكان هذا من سيما الصالحين فكيف وجدت في جبهة الطالح الشقي بل اشقى الناس .

كه دا د صالح ټاپه وي نو څنګه د اشقى الناس په تندي كې پيدا شوه .

(۲) دويم د حضرت علي المرتضى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مبارک د قاتل دي عبد الرحمن بن ملجم مرادي بدبخته په تندي كې هم دا توره ټاپه وه ، بحواله الطبقات الكبرى لابن سعد جلد ۳

صفحه ۹۳.

عبدالرحمن بن ملجم مرادي چې وه دا خارجي وه کله چې حضرت علي رضي الله عنه د خوارجو نه څه کم څلور زره کسان مړه کړل دو لس (۱۲) کسان تري وتښتيدل دوه کسان يمن ته لاړل او هلته يې د خوارجو تنظيم جوړ کړو دوه تري نه عمان مسقط ته لاړل اباضية چې ورته وايي هلته يې تنظيم جوړ که او هر ځای ته دوه دوه کسه لاړل او چې کوم ځای ته به تلل هلته به يې د خوارجو تنظيم جوړوه ، عبدالرحمن بن ملجم مرادي چې وه نو نبي اکرم صلى الله عليه وسلم حضرت علي رضي الله عنه يو ځل پروت وه راپاڅيده نو ډيره يې ورته خاورو نه وڅنډله ورته وايي اي علي رضي الله عنه ته اشقى الناس پيژني بدبخته د خلکو پيژني هغه غلي شو وايي دا دوه کسان دي تمامو کفارو اشقياو کې دوه اشقى الناس دي :

يو هغه سور ګوتي چې د صالح عليه السلام اوښه يې مړه کړې ده ، او بل هغه سړي دي :

يدبله على هذه . دې څټ ته يې ګوتې وروړې چې تا به په دې ځای ووهي تر دې چې په وينو به ککړه شي .

هذه . ږيره يې ورته ونيوله دا ږيره به دې په وينو ککړه شي .

دا اشقى الناس دي ټولو کفارو او ټولو اشقياوو کې دادوه کسان بدبخته وخودلې شول.

اتفاق دادی چې هغه قاتل د حضرت علي رضي الله عنه عبدالرحمن بن ملجم مرادي وه داد خوارجو نه وه ده ځان سره قسم وکړو چې ځم به عراق کوفي ته او حضرت علي رضي الله عنه به وژنم دا روان شو راغې په لاره کې يو چا سره يې شپه شوه هغه هم خارجي وه د هغه د کور هغه جينکي هم وهابياني خارجياني وې نو دې کې دغه خارجي يوه جيني وه دا عبدالرحمن پرې عاشق شو چې شپه يې تيره کړه پرې عاشق شو هغه د چا خبره پرې واسکټ شو .

نو چې عاشق شو په صبا ترې د علي رضي الله عنه مرګ له ياده بهر شو دلته يې جرګه شروع کړه چې دا جيني ماته راکړي پلار يې ورته وايي د جيني شرط دادی چې اول خو يو لاکه درهم غواړي وايي دا به ورکړم وايي دويم شرط يې دې دير سخت وايي څه وايي دا وايي چې هغه چا سره نکاح کوم چې څوک حضرت علي رضي الله عنه شهيد کړي هغه ورته وويل چې زه خو دې لپاره را روان شوې يمه دا خو ما قسم خوړلې چې زه به يې وژنم هله دې واده

راسره وکړي چې کله ما هغه مړ کړو نو هغه ښځې خارجي د سره په دې شرط عهد د نکاح وکړو چې ته به حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وژني .

نو بیا دې را روان شو بل ملګري هم ځان سره کړو د عراق په کوفه کې کوم مسجد ته به چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سحر مونځ ته راتلو هغې کې شپه تیره کړه حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به راتلو او د جمعې په وخت کې به له ده سره یو ځای تلو دغه سحر باندې چې حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې ګوري چې پلار به یې مخکې تهجد کړي وه تیار به برابر وه مانځه ته به لاړو حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې راغې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیبیانې راویښه وي دا بیا ویده کیږي هغه یې راویښه وي دا بیا ویده کیږي هغه راپاڅولو ځوي ته وایي دلته لږ کینه عجیبه خوب مې ولیده .

وایي څه وایي محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې راغې ما ورته عرض وکړو چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مشرکانو کافرانو نه یم تنګ کړي دې خوارجو نه ډیر تنګ یم تولو خلکو ته وایم چې کافر دي مړه یې کړي نه یې مني راسره ، وایي تلاوت کوي علماء دې قراء دي څنګه یې مړه کړو مشرکان او کافر خو راسره مني جهاد ته د هغوي یعنې کافرانو مشرکانو د مقابلې لپاره راسره ځي هغې نه ، نه یم تنګ خو دوي نه ډیر تنګ یمه .

وایي ما ته رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل خیري ورته وکړه وایي زه چې راپاڅیدمه ماوویل که خوب کې داسې ویلي چې یا الله زما په شر دوي اخته کړه ددوي د شر نه ما وساته دا مې وویلې نو مراد د شر نه شر اخروي وه کنه چې عقیده مې خرابه نه شي دنیوي شر کې خو اخته شو بس را روان شو اوس مسجد ته راځي تیاره ده عبد الرحمن بن ملجم مرادي کوڅه کې ورته پټ ولاړ دي دوه ملګري وه بس چې څنګه راغي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ګردن یې ورته ګذار وکړو هغه پریوت دلته عقیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موجود وه حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم وه دوي دواړو هغه یو کس وتختیده عبد الرحمن بن ملجم یې ونیوه .

د جمعه سحر وه چې دې ولګیده دومره خبرې وکړي چې زه څو حیات یم دا به وژني نه او چې زه کله وفات شومه بیا ستاسو اختیار دي د شریعت فیصله پرې وکړي د جمعه ورځ دې مبارک زخمي وه د خالي په شپه هم زخمي وه د خالي په سحر کې بیا شهید شو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بس چې هغه څنګه دفن شو د هغه د قبر د ورکیدو وجه هم دغه ده چې خوارج ډیر

زيات وه اهل بيت په دې باندې ويريدل كه دا معلوم قبر وي هسې نه دا حراميان رانه شي راوي نه سپړي او دلته څه حيوان وغورځوي او بيا خلكو ته عياذا بالله ووايي چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا شې جوړ شوې وه نو دا دوي ځكه پټ كړو چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قبر پټ دي او چاته يې پته نه لږي چې چيرته دفن دي څوك د افغانستان مزار شريف كې يادوي ځوك يې د عراق په نجف كې يادوي تاريخ نجف ته ترجيح وركوي اهل د روحانياتو او صوفيه چې كوم دي مزار شريف ته ترجيح وركوي.

بهر حال كه مزار كې هر څوك دي كه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دي هم نو گوري ډير لوي انسان دي گنې چې څوك هم ورشي او څه نا څه د تصوف سره وابسته وي په ده كې به يو عجيب تحول راشي او د مزار شريف په سلام زه دوه ځلي تللې يمه يقين وكړي د مدينې منورې نيم خوند په كې دي هغو مره سړي ته يو ذوق او خوند ميلاويږي او ډير سړي ورسره بدليږي اول ځل ما باندې څه چل وشو او دويم ځل چې زه بيا لاړم نو ماوويل چې څه هغه اول ځل وه.

په دويم ځل چې لاړم نو چې څنگه په هغه وردننه شوم هماغه حال بيا راباندې راغې كوم حال چې په اول ځل شو كاله وړاندې زه تللې ومه نو دادې كې يو تاثير دي لوي سړي دي شكوك مه كوي چې دا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي او كه نه دي چې هر څوك دي خو ښه سړي دي بهترين سړي دي دا چې جنډه او چتول څنگه دي داد شيعه گانو رواج دي كتابونو دې باندې رد كړې دي او د افغانستان په ډيرو علاقو باندې د فارس د شيعه گانو رواجونه اوس هم پاتې دي نو دا جنډا او چتول زمونږ په شريعت كې نشته دي او نه احناف ددې تائيد كوي.

نو دغه عبد الرحمن يې ونيوه كله چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفن شو نو دوي فيصله پرې كوي عقيل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ډير تيز انسان وه حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو وويل چې بس مړيې كړي ختم يې كړي چې قصاص ترې واخلو، حضرت عقيل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل نه دا به ما ته پريږدي ددې انتقام به زه اخلم ځكه ده دومره جرأت ولې وكړو صبا به زمونږ په هر يو بادشاه كفار او خوارج دومره جرأت او زړورتيا كوي نو بس چاقو يې را واخيست اول يې ترې نه د خپې دا يوه گوته كټ كړه بيا يې بله كټ كړه پسې بله كټ كړه.

طبقات ابن سعد ليكلي چې د خپو گوتې ترې كټ كيدې نو ده څه كول:

اقرأ باسم ربك الذي خلق خلق الانسان من علق، عبدالرحمن تلاوت کوه په تلاوت او ترجمو د چا مه دو که کېږي دا گوره اشقى الناس دي او تلاوت کوي بيا يې دا نورې گوتې ترې کټ کړي نو هم تلاوت کوي بيا يې لاسونه ترې کټ کړه نو هم تلاوت کوي ژاړي هم نه او نه څه وايي بيا يې سيخان سره کړه او په سترگو يې ور دننه کړه ده بيا يې هم تلاوت کوه بيا چې ژبه يې ترې کټ کوله نو ده وژړل وايي څکه ژبه رانه مه کټ کوي په دې د خپل خالق د کلام تلاوت کوم دا رانه مه کټ کوي.

دده حالات دادی طبقات الکبری لابن سعد جلد ۳ صفحه ۹۳:

وكان عبدالرحمن بن ملجم في السجن فلما مات علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ و دُفن بعث الحسن بن علي الى عبدالرحمن بن ملجم فأخرجه من السجن ليقتله فاجتمع الناس وجاؤوه بالنفط والبواري والنار فقالوا نحرقه فقال عبدالله بن جعفر وحسين بن علي ومحمد بن الحنفية دعونا حتى نشفي انفسنا منه فقطع عبدالله بن جعفر يديه ورجليه فلم يجزع ولم يتكلم فكحل عينيه بمسمار محمى فلم يجزع وجعل يقول انك لتكحل عيني عمك بملمول مض وجعل يقول اقرأ باسم ربك الذي خلق حتى اتى على آخر السورة كلها وان عينيه لتسيلان ثم امر به فعولج عن لسانه ليقطعه فجزع فقيل له قطعنا يديك ورجليك وسملنا عينيك يا عدو الله فلم تجزع فلما صرنا الى لسانك جزعت؟ فقال ما ذاك مني من جزع الا أني اكره ان اكون في الدنيا فواقا لا اذكر الله فقطعوا لسانه ثم جعلوه في قوصرة وأحرقوه بالنار والعباس بن علي يومئذ صغير فلم يستأذن به بلوغه وكان عبدالرحمن بن ملجم رجلاً اسمر حسن الوجه افلج شعره مع شحمة اذنيه في جبهته اثر السجود.

آخر کې وايي عبدالرحمن بن ملجم زيړ رنگ يې وه ښائسته مخ يې وه د غاښونو په مينځ کې جدايي وه ويښتان يې د غوږو تر نرمي پورې وه زلفې يې هم پريخې وي او په تندي کې تاپه وه نو گوري نبي اكرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته اشقى الناس د تمام دنيا ويلي دي دی دوا.

کسان دي يو په کې دي ده د تمامو نه حتى ابوجهل نه تږلو نه اشقى الناس دي او په تندي کي ټاپه ده نو که دا چيرته د بنو خلکو په تندي کې پیدا کيدې نو ده کې څنګه پيدا شوه نو دعوت اسلامي د بريلويانو او تبليغي جماعت د ديوبنديانو دوي کې دا ډير زيات پيدا شوې دا د بدبخته خلکو علامه ده.

(۳) دارنګې رئيس الخوارج عبدالله بن وهب الراسبي کان بين عينيه اثر السجود.

رئيس دخوارجو عبدالله بن وهب الراسبي چې وه د هغه په تندي کې هم توره ټاپه وه. بحواله الکامل في التاريخ لابن الاثير جلد ۲ صفحه ۸۲، تاريخ الرسل والملوک للطبري جلد ۳ صفحه ۱۱۵، او تاريخ ابن خلدون جلد ۲ صفحه ۱۷۹، واللفظ لابن الاثير چې خوارج بيا بعضې د بعضې سره مخ شو او د عبدالله بن وهب الراسبي کور کې راجمع شو او عبدالله بن وهب الراسبي ورته خطبه وويله اوږده واقعه ده نو دې ځاې کې آخره کې وايي:

وکان يقال له ذو الثفنات. عبدالله بن وهب الراسبي ته به ذو الثفنات ويلې کيده دا ذوالثفنات ورته ولې وايي:

لان جبهته کثفنة البعير بطول السجود. دومره اوږدې سجدې به يې کولې چې تندي ده په شان د زنګون د اوښ ګرځيدلې وه.

(۴) څلورم د اکثرو خوارجو په تندو کې د اوښ د زنګون په شان توري ټاپې وي بحواله المعجم الاوسط للطبراني جلد ۹ صفحه ۲۵۲، په دې کې کله چې په خوارجو باندې جهاد کيږي حضرت جندب رضي الله عنه فرمايي:

عن جندب قال لما فارقت الخوارج علياً رضي الله عنه خرج في طلبهم.

خوارج چې کله د حضرت علي رضي الله عنه نه جدا شول حضرت علي رضي الله عنه د دوي جهاد پسې راووته.

وخرجنا معه فانتهينا الى عسکر القوم. مونږ ذي خوارجو ته ورغلو.

فاذا لهم دوي کدوي النحل من قراءة القرآن.

دا خوارج چې د نهروان وه حروريه کې چې راغونډ وه دوي زنګاوي جوړې کړې وې په شان د زنګاوو د مچيو د شهدو په تلاوت باندې.

وفيهم اصحاب الثفنات . په دوي کې د تاپو والا وه .

اصحاب الثفنات څه ته وايي :

لان جباههم كثفنة البعير . د اوښ د زنګون غوندې ټاکي يې په تندو کې وه .

واصحاب البرانس .

برانس جيږي ټوپي ته وايي ، دا هغه ټوپي ده مونږ چې ورته قره قول وايو قره قول خو د چيلي د پوټکي نه جوړوي ياد ګډ وړې خو هغه د قره قول په شکل ټوپې وي خو د کپړې نه جوړه شوې وي په پنجاب کې بعضې تنظيمونه د بريلويانو د نوراني ګروپ هغوي يې په سر کوي او دا صديقيان يې هم په سر کوي خو صديقيان سپينې په سر کوي او دا نور چې کوم دي د ټوپي په سر کولو خو څوک خارجي کيږي نه د هغې نښه به دا وه چې قره قول غوندې مخکې او شاته بنکر لرل او څه نورې وي چې دري کونجه يا څلور کونجه وي جيږي جيږي ټوپي دې ته برانس ويل کيږي دا په مسقط کې رواج دي د عمان يا مسقط کې عام او خاص دا ټوپي په سر کيږي ځکه هغوي آباضيان دي او اوباضيان د خوارجو يوه غټه فرقه ده اباضيه نو دا اباضيان چې دې اوس هم هغه ټوپي په سر کوي .

فلما رأيتهم دخلني من ذلك شك .

دا جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې زه د لته شکي شومه چې دا خو تلاوت کوي دا به په دوي جنګ څنګه وي وايي ما وويل چې راځه دا تجهد وکړه بيا به ګورو مانځه کې سوچ کومه :

اللهم ان كان قتال هؤلاء القوم لك طاعة فائذن فيه .

که د دې خلکو سره جهاد طاعت وي نو اجازت راته وکړه زړه کې راواچوه .

وان كان معصية فأرني برأتك . او که چيرته ستا نافرماني وي نو ماته د خلاصي لار وښايه ما هم دغسې سوچونه کول چې :

اذا اقبل علي على بغلة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قچره سپور دي راغې .

فلما حاذاني . چې ما ته مخامخ شول وي ويل .

قال تعوذ بالله یا جندب من الشك. د شک نه پناه وغواړه ای جندبه.

فجئت اسعی الیه.

دوي لفظ څه ته وایي :

صوة لیس بالعالي کصوت النحل.

ثفنات څه ته وايي.

جمع ثفنة هي غلظ يحصل في الركبة من اثر البروك. بحواله جامع الاحاديث جلد ۳۱ صفحه ۴۹۷، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد جلد ٦ صفحه ۲٦۰، تاريخ دمشق جلد ۱۱ صفحه ۳۱۰، تاریخ بغداد جلد ۷ صفحه ۲۴۹، دې ټولو دغه مذکور روایت په دغه مذکورو حوالو کې ذکر کړي دي.

الإيراد :

دلته یو اعتراض ما ذکر کړي دي روح المعاني بحر محیط بعضې کتابونه بدون د سند نه د علي بن حسين زين العابدين رضي الله عنه ته.

وعلي بن عبدالله بن عباس ابي الاملاك رضي الله عنهما.

ددې دوه کسانو په باره کې مؤرخین لیکي چې دا ذو الثفنات وه خوارج هم ذو الثفنات وه دوي هم ذو الثفنات نو دغه صغار د تابعينو جوړيږي دغه دوه تابعينو کې په تاريخونو کې د ذو الثفنات قید راغلي دي چې دا دواړه ذو الثفنات وه.

نو اصلاً عمده تاريخونو دوي ته فقط ذو الثفنات ويلي دي بيا بعضې مفسرينو تفصيل نه دي کړي هغوي وويل چې څکه ذو الثفنات ورته وايي لکه خوارج چې ذو الثفنات وه تاريخ دا نه دي ليکلي چې ددوي په تندو کې توري ټاپي وي تاريخ دا ليکلي چې دا مسمی په ذي الثفنات باندې وه د ذي الثفنات معنی په حق د خوارجو کې دا چې تندو کې ټاپي وي څکه مخکې روایاتو کې تندي راغلي دي او د زين العابدين او د علي بن عبدالله بن عباس ابي الاملاک دوي ته چې ذو الثفنات وايي نو څکه چې ددوي زنګونونو کې ټاپې وې ډيرې سجدې لږولې وي په زنګونونو کې ټاپي وي په تندي کې نه وي.

حوالې ته ګوري تهذيب للكمال د مذي جلد ۳۵ صفحه ۴۱، ذو الثفنات علي بن الحسين زين العابدين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سمي بذلك لانه كان يصلي كل يوم الف ركعة فصار في ركبتيه مثل ثفنات البعير.

ترجمه: حضرت علي بن حسين زين العابدين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ذو الثفنات وايي دا نوم ورته ځکه ايخودلې شوې دې چې ده به هره ورځ زر (۱۰۰۰) رکعته نفل کول نو په زنګون کې تور داغ پيدا شوې وو د اوښ د زنګون د داغ په شان.

او ددوي دا خبره چې ذو الثفنات وګنو کتابونو دغو مبارکانو ته د ذو الثفنات نسبت کړې دې لکه بحر المحيط جلد ۱۰ صفحه ۱۰۰، او تفسير النيسابوري جلد ۷ صفحه ۱۳۴ او تفسير کشاف جلد ٦ صفحه ۳٦۰، او تفسير ابي السعود جلد ٦ صفحه ۱۷۸ او تفسير حقي جلد ۱۴ صفحه ۴۲ تولو را اخيستي چې دا دوه کسان چې وه ذو ثفنات وه دهمدغه ايت په تفسير کې را خيستې .دا عبارت که بيا تاسو هلته ګوري شک درته پيدا نه کړي روح المعاني وغيره هغوي د ذو الثفنات ترجمه په دې کړي چې تندي کې تاپه وه .نو زه وايم د زين العابدين او ابي الاملاك باره کې دغه تفسير مروي نه دي تهذيب الكمال حواله مخکې تيره شوه.

مسئلة زيادة الإيمان ونقصانه :

أدلة المثبتين :

﴿قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ (آل عمران آيت : ۱۷۳)

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾(الانفال آيت : ۲)

﴿وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ (التوبة آيت : ۱۲۴)

﴿وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلاَّ إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا﴾ (الاحزاب آيت : ۲۲)

﴿هُوَ الَّذِي أَنزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَّعَ إِيمَانِهِمْ﴾(الفتح آيت: ٤)

﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾ (المدثر آيت : ۳۱)

بله مسئله د زيادة الايمان ونقصان الايمان زير بحث گرځو و مخکې له دې نه چې خپلې موضوع ته راشم او بحث پرې وکړم چې مسئله د زيادت او نقصان ده .

د ايمان او اسلام په مينځ کې نسبت د نسب اربعو نه څه شي دي او دا رنګې حقيقت د ايمان او تعريف د ايمان کې چند مذاهب دي د هغې بيان ځکه مسئله د زيادة الايمان ونقصان الايمان دا فرع دي په يو بل اصل باندې چې هغه جزئية العمل دي للايمان چې ايمان د عمل نه جزء دي او که نه دي کوم علماء چې قائلين د جزئية العمل دي هغوي د زيادت او نقصان هم قائل دي ځکه عمل کې زيادت واقع کيږي .

او کوم علماء چې د جزئية العمل قائل نه دي هغوي ايمان ته د زيادت او نقصان هم

قائل نه دي .

نو زيادة الايمان ونقصان الايمان دا بناء شول په جزئية العمل باندې چې حقيقت د ايمان كې جزء دا عمل دي او كه نه دي كه ييا جزء دي جزء عرفي دي كه جزء حقيقي دي په نفي د جزء سره نفي د كل لازميږي او كه نه لازميږي دا يو اختلاف دي .

نو مسئله د زيادة الايمان ونقصان الايمان فرعه شوه په جزئية العمل او غير جزئية العمل باندې او مسئله د جزئية العمل او غير جزئية العمل للايمان دا بله فرعه ده او بناء ده په يو اصل عظيم باندې چې هغه نسبت دي بين الاسلام والايمان .

كه د ايمان او د اسلام په مينځ كې د ترادف نسبت راغې د مساوات او د اتحاد نو ييا جزئية العمل في الايمان درنه خپله ثابت شو ځكه په اتفاق دائمه وو باندې په اسلام كې عمل داخل دي چې اسلام ايمان مترادفين او متساويين شي او نسبت بينهما المساواة شي نو چې اسلام كې عمل دخيل مني نو ايمان كې خپله عمل دخيل شو .

او هر كله چې عمل في الايمان دخيل ثابت شو نو زيادت او نقصان كه څوك هر څومره چغې وهي چې نه منم خپله ثابت شو چې عمل جزء شي نو عمل كې خو زيادت ښكاره دي ديو چا عمل زيات دي او ديو چا كم دي نو مونږ او تاسو په دري خبرو ته ذهن بوځو د ټولو نه به اول د ايمان اسلام مينځ كې مساوات باندې بحث كوو چې دا مساوات دي كه نسبت د عموم خصوص مطلق دي كه نسبت د عموم خصوص من وجه دي .

دويمه مرتبه كې به مسئله د جزئية العمل چيړو او بحث به پرې كوو .

دريم به راځو خپلې مسئلې نزاعي ته چې زيادة الايمان و نقصان الايمان دي .

ايمان لغتاً :

په معنى د تصديق باندې ايمان باب افعال دي د امن نه :

يقال امنه اذا صدقه چې تصديق يې كړي او ايمان په مؤمن به باندې ګوياكي :

امنه من التكذيب والمخالفة ييا تعديت د ايمان راځي ، كله په باء باندې ، او كله يې

تعديت راځي په لام باندې کله چې تعديت د ايمان راشي په باء باندې نو دلته معنى د تصديق ځکه اخيستې شي :

لتضمنه معنى الاقرار . د ايمان په معنى کې شرط خارجي اقرار دي نو آمن په معنى اقر په اقرار يې پرې وکړو .

او چې کله تعديت په لام باندې راشي نو بيا يې معنى د استسلام وي انقياد وي نو آمن له معنى استسلم وانقاد له .

ځان يې ورته تسليم کړو نفس ايمان چې راشي لغتاً په معنى د تصديق سره شو .

او شرعاً اصطلاحاً :

تصديق النبي بجميع ما جاء به بالضرورة .

تصديق د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ټولو هغو چې ده پرې مجيئت کړي ثابت موږ لره دي په طريقې قطعي باندې .

هر چې اسلام دي لغتاً په معنى د استسلام او انقياد سره راځي او شرعاً اصطلاحاً د :

الانقياد لله ولرسوله بالنطق بکلمتي الشهادة .

تسليمي ده رسول الله او خداى تعالى لره په اظهار د نطق د کلمتينو د شهادة سره . سره د ترك التمرد والاباء .

د ايمان او اسلام په مينځ کې نسبت د نسب اربعو نه څه دي د قرآن عظيم الشان او د احاديثو اصطلاحاتو ته چې موږ لاړ شو داسې ځايونه دي چې کله کله هغلته د ايمان او اسلام مينځ کې د هغه اطلاق نه نسبت د مساوات فهميږي بعضې اطلاقات په نص د کتاب او احاديثو کې داسې دي چې د هغې نه نسبت د تباين فهميږي او بعضې اطلاقات داسې دي چې هغې نه نسبت د تداخل عموم خصوص مطلق فهميږي چې هر ايمان اسلام دي او هر ايمان اسلام نه دي هر مؤمن مسلم دي خو هر مسلم مؤمن نه دي .

دا دري واړه اطلاقات په کلام الله کې شته دي او س موږ نه پوهيږو چې دې کې کوم نسبت واخلو مساوات واخلو ، تباين واخلو او که عموم خصوص مطلق د تداخل واخلو .

هغه چې د ايمان اسلام په مينځ کې مساوات نسبت ترې فهميږي هغه اطلاقات لکه د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په حکاياتو کې راځي قوم خپل ته دا وايي:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ﴾ (پاره ۱۱، سورة يونس آيت: ۸۴).

جزاء چې کله د شرطينو وسط کې راشي نو په قول د کوفينو باندې دا جزاء د دواړو نه وي او په قول د بصرينو باندې ثاني شرط لپاره جزاء مقدره وي:

إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ فعليه توكلوا.

نو دا نسبت د مساوات فهم شوې که مؤمنان يې که مسلمانان يې.

يا لکه هغه واقعه:

﴿فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ○ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ﴾

نو من كان فيها من المؤمنين هغه همدغه بيت د مسلمينو وه چې د لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ وه اطلاق پرې د مؤمنينو هم وشو او د مسلمينو هم وشو.

بعضې اطلاقات داسې وي چې تبائن ترې فهميږي:

﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ (سورة حجرات آيت: ۱۴).

منافقينو ويل آمنا تاسو ورته ووايي: لم تؤمنو، مؤمنين نه يې.

ولكن قولوا اسلمنا، داسې ووايي چې مسلمين يو دلته پته لږي چې اسلام ايمان نه غير دي.

يا هغه حديث د بخاري شريف سعد بن ابي وقاص فرمايي رحمت عالم غنائم تقسيمول يو شخص ما ته ډير ګران وه هغه ته يې څه ورنه کړل التفات يې ونه کړو زه ورو ړاندې شوم عرض مې وکړو:

والله اني لأراه مؤمناً. ما ته دا مؤمن ښکاري وايي رحمت عالم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

أَوْ مسلماً معنى اني لأراه مسلماً او تراه مسلماً يا او اني اراه مسلما.

دلته د أَوَ مسلماً قرأت غلط دي چې استفهام ترې جوړ کړي صحيح قرأت أَوْ مسلماً دي.

ما ته مسلم ښکاري يعني هغه ته يې دا فهم ورکړو چې د يو چا باره کې قول د قطعيت د
يمان امر مبطن دي ولې کوي مؤمن مه وايه مسلم وايه اني لأراه مسلماً وايه مؤمنا مه وايه نو
دې نه پته لږي چې ايمان اسلام کې فرق دي ايمان امر مبطن قلبي او اسلام امور ظاهره.

اطلاق ثالث د تداخل دي فهميږي د هغه حديث نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تپوس کيږي :

ايها الاعمال افضل قال الاسلام.

بيا تپوس کيږي :

ايها الاسلام افضل قال الايمان.

کوم د اعمالو نه بهتر دي وايي اسلام وايي کوم اسلام بهتر دي وايي ايمان نو ايمان ته
يې اسلام وويل اسلام ته يې ايمان وويل نو چې هر کله د مساوات تباين او تداخل د نسبو
اطلاقات متعدد راغلل.

دې کې د شبير احمد عثماني يو تطبيق زما خوښ شوي هغه يو تطبيق وركې كوي
وايي ايمان او اسلام چې کله په نظم نسق عبارت کې معي راغلل نو په مينځ کې بيا تباين دي
يا عموم خصوص مطلق دي او چې کله په نظم او عبارت کې جدا راغلل بيا په کې نسبت د
مساوات دي.

اطلاق بيا د ايمان په اسلام او د اسلام بيا په ايمان کيدي شي څه بُعد بيا نشته، مثال
ددې د فقير او مسکين د بيع او شراء دي بيع خرڅول شراء اخيستل خو چې کله جدا جدا
راشي بيا اطلاق د بيع په شراء کيږي او د شراء په بيع که يو ځای کې راغلل نو بيع خرڅول او
شراء اخيستل.

او که جدا جدا راغلل ذکر به د بيع راغلې وي مراد به ترې شراء وي يا بالعکس يا لکه
فقير او مسکين که يو ځای راغلل نو بيا دا جدا جدا دي که جدا راغلل نو دا بيا مساوات دي
اطلاق يې په يو بل کيدې شي مسکين هغه وي چې د هغه لپاره سوال روا وي د ماښام طعام
نه لري.

فقير هغه دي چې روټي لري خو مالک د نصاب نه وي د بل نه زکوة اخيستې شي خو
سوال ورته روا نه وي نو مسکين او فقير کې فرق دي کله چې مصرف د زکوة کې راغلل.

للفقراء والمساكين .

يو ځای راغلل نو فقراء غير مالكين د نصاب شو او مساكين هغه شول چې طعام او قوت نه لري د ماښام او جدا جدا كه راشي :

كانت لمساكين يعملون في البحر .

دا كشتي د مساكينو وه په بحر كې كار كوه نو چې غته بيړي كشتي لري نو څنګه ورته مسكين وايي نو جواب دا چې مراد له مسكين نه دلته فقير دي ، يا لكه :

﴿ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ .

د زكواة د مصرف بل ځای درته ښائي :

﴿ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ .

طلباء او مجاهدين دي نو ذكر د فقراء دي مساكين په كې داخل دي مساكين هم مراد دي دغه شان ايمان او اسلام دي كله چې دواړه يو ځای راغلل دا بيا تباين ايمان يو شي دي اسلام بل شي دي لكه :

﴿ إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ ﴾ (پاره : ۲۲، سورة الاحزاب آيت : ۳۵).

كه شي واحد واي نو تكرير ته څه ضرورت وه مؤمنين مؤمنات كې مسلمين مسلمات داخل وه كنه خو دا يو ځای راغلل نو مراد د مؤمنين والمؤمنات نه عقائد و والا شو صحيح عقيدې والا ، او مراد د مسلمين نه كلمه د شهادت به يې ظاهراً ويلې وي اعمال ظاهره پنځ بناء به يې پوره كړې وي .

كله چې بيا جدا جدا راشي بيا مراد د ايمان نه اسلام ، اسلام نه ايمان اخيستل كيږي لكه دې حديثينو ته ګوري څنګه تطبيق په كې كوي :

لا يزني الزاني حين يزني وهو مؤمن .زناكار زنا نه كوي په داسې حال كې چې مؤمن وي، نو دې حديث نه پته لږي چې و خ -د زنا كې ايمان لاړه .

دويم حديث حضرت ابوذر رضي الله عنه راوي دي كلمه چا وويله :

دخل الجنة و ان زنا وان سرق .

اگر که زنا او سرقه یې کړې وي په دې خو اتفاق دي چې کافر جنت ته نه شي تللې نو سره د زنا او غلا ایمان سلب نه شو او لایزني زان وهو مؤمن کې سلب دي .

دلته حدیثینو کې تدافع ده تطبیق به دا وي لایزني زانٍ وهو مؤمن کې دا مؤمن په معنی د مسلم سره دي اطلاق د ایمان په اسلام دلته شوې دي .

لایزني زانٍ وهو مسلم .

چې مسلم وي نو زنا نه کوي چې کوي یې عمل اسلامي یې ونه کړو خو ایمان سلب نه دي د هغه حدیث نه پته لګي : وان زنا وان سرق ایمان شته په کې زنا او غلا سره جنت ته ځي ، دا تطبیق شبیر احمد عثماني کړې دي .

او چا مطلقا ویلي په مینځ کې مساوات دي نو وايي چې ایمان بدون د اسلام نه مقبول نه دي او اسلام بدون د ایمان نه مقبول نه دي فرق یې وايي دا دي : ایمان چې دي بدء یې د قلب نه کیږي انتهاء په جوارحو راځي ، اسلام چې دي بدء یې د جوارحو نه کیږي او انتهاء په قلب راځي نو کامن اولاً بارز ثانیاً ایمان دي بارز اولاً کامن ثانیاً اسلام دي .

اسلام بارز اولاً ښکاره شي کلمه شهادة او اعمال کامن ثانیاً قلب کې قوت ښکاره شي پیدا کړي ، او ایمان کامن اولاً دي نفس ایمان پټ دي خو بارز ثانیاً دي وروسته ښکاره شي په اعمالو باندې .

په تعریف د ایمان کې د علماو مذاهب :

تقریباً لسو (۱۰) ته رسي په جزئیة العمل او غیر جزئیة العمل په ترکیب بساطت د ایمان کې چې ایمان بسیط دي او که مرکب دي ، اهل قبله یعني دا فِرَقْ د مسلمینو کې چې جوړ دي لس (۱۰) جماعته دي په ایمان کې :

اول : قول دا عبارت دي د تصدیق نه فقط :

تصدیق النبي بجمیع ما جاء به اقرار او عمل .

ته دخل په حقيقت د ايمان کې نه ورکوي دا مذهب أُحدِئ بسيط بالکلية بساطت قائلين شول په بساطت د ايمان باندې .

دا مذهب د شيخ ابو الحسن اشعري الشافعي دي ابو منصور ماتريدي حنفي دي د امام فخر الدين الرازي دي د علامه تفتازاني او د جمهورو متکلمينو دي منهم ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ على التحقيق ، د امام صاحب تحقيقي قول دادی چې ايمان عبارت د تصديق محض نه دي اقرار ورته شرط خارجي دي رکن نه دي عمل يې د تقوي لپاره څه اسباب خارجي دي نفس ايمان بدون د عمل نه وجود لري نفس ايمان بدون د اقرار نه مقبول عند الله نه دي ځکه شرط رائغي چې کوم اقرار خارجي دي .

دا چې نفس ايمان بدون د عمل نه وجود لري باب د ابو داؤد پرې دال دي : ﴿باب من لا صام ولا صلى﴾ ، بيا هغه روايت را اخلي چې يو شخص راغي دوره د جهاد وه ايمان قبول کړو په جهاد ورکډ شو او بيا شهيد شو لا صام ولا صلى نه يې روژه نيولې وه نه يې مونځ کړې وه ، عمل نشته ايمان شته او قوت د ايمان دي په صحبت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډيرو اولياء نه يې مقام اوچت دي نو تصديق شته اقرار شته عمل نشته ايمان وجود لري .

دا چې اقرار او عمل وي تصديق نه وي ايمان نشته د هغې مثال د منافقينو شو :
﴿قَالَتِ الأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ .

اقرار شته دي عمل شته دي خو تصديق نشته نو ايمان نفي شو نو د دې عبارت نه دا پته ولږيده چې ايمان عبارت د تصديق نه وه کنه دا چې اقرار ختم شي لساناً خو تصديق قلبي وي ايمان مقبول دي مثال ايمان د مُکرَه دي په خوله اقرار نشته کلمه د کفر وايي خو قلب مطمئن بالايمان ، ايمان مقبول دي .

نو دا ټول دلائل د دې شو چې عمل جزء نه دي که واي په نفي سره دي ايمان نفي شوې واي دا شان اقرار رکن نه دي که واي په نفي سره دې ايمان نفي شوې واي مُګرَه کيدې ايمان نه واي ثابت چې هر کله د مُکرَه ايمان مقبول دي او د فاسق ايمان مقبول دي نو دا دلائل د دې دي چې ايمان عبارت د عمل او اقرار نه ، نه دي عبارت دي د تصديق محض نه دا د جمهورو

متکلمينو اشاعره وو ماتريديه وو منهم ابوحنيفة .

دویم مذهب :

ايمان عبارت دي د تصديق او اقرار نه معاً الا ان الاقرار امر غير لازم دي ساقطيږي عند الاكراه دا مذهب دفقهاو دي په يو روايت منهم ابوحنيفة .

ايمان عبارت دي د تصديق قلبي او اقرارِ لساني نه دوي ايمان مركب كړو د شيئينو نه تصديق اقرار ، اقرار يې جز كړ خو بيا وايي چې دا اقرار امر لازم نه گڼي نو مُكرَه نه ساقط شو دضرورت پر بناء د امام صاحب يو قول دي كې هم شته دي چې دا قول يې هم كړي خو قول تحقيقي دادی چې دي هلته متكلمينو سره دي دې دي د احدى بسيط قائل دي چې بسط انفرادي بسيط د ايمان چې تصديق دي .

دريم مذهب :

ايمان عبارت دي د تصديق بالجنان اقرار باللسان عمل بالاركان ، نه په داسې شان چې ترک العمل مخرِج دي د لره د ايمان نه مدخل دي دلره په كفر كې حتى كې فعل د مندوباتو ترک د محظوراتو ولو صغيرا هغه مخرِج د ايمان نه گڼي مدخل يې په كفر كې گڼي هذا هو المذهب الخوارج چې ايمان مركب د ثلاثة اشياء نه دي : تصديق قلبي ، اقرار لساني ، عمل بالاركان .

خو په ترک د عمل سره نفي د جزء ته نفي د كل وايي گويا كي عمل جزء حقيقي كړو په نفي د يو مندوب عمل سره او په اتيان د يو صغيرې سره سړي كافر كوي يا په اتيان د كبائرو باندې او په ترک د مفروضاتو سړي كافر كوي داد خوارجو رأيه ده په ايمان كې ، وهابيان مو دوكه نه كړي .

بل فرق د محدثينو دي فرق د محدثينو خوارجو او معتزلوو ډير معمولي دي مخكې د فقهاء او متكلمينو ،متكلمينو څه ويلي هغوي وايي بسيط احدى دي فقط تصديق دي اقرار ورته شرط خارجي عمل اسباب خارجي للتقوية ، فقهاء څه وايي تصديق او اقرار اقرار امر لازم نه دي مُكرَه نه ساقطيږي خوارج څه وايي اقرار تصديق او عمل خو ترک العمل مفضي

گرځوي کفر ددې صاحب لره داد خوارجو قول.

محدثين څه وايي اقرار عمل او تصديق هغوي هم وايي دې دري څيزونو نه مرکب دي معتزله هم وايي دري څيزونو نه مرکب دي نو فرق يې په کوم ځای کې راغي خوارج وايي په ترک د مفروضو باندې په ارتکاب د گناه کبيره باندې سړي کافر دي.

معتزله وايي په ارتکاب د گناه کبيره او په ترک د مفروض باندې سړي خارج عن حد الايمان غير داخل في حد الكفر منزله بين منزلتين.

محدثين څه وايي عمل داخل دي خو په ترک العمل باندې کافر کيږي نه.

څلورم مذهب :

ايمان عبارت تصديق بالجنان اقرار باللسان عمل بالاركان بحيث بترك العمل نه وځي سړي دايمان نه داخل په کفر کې نه وي دا مذهب د قاضي عبدالجبار ابن يزيد المعتزلي دي.

پنځم مذهب :

ايمان عبارت د تصديق او اقرار او د عمل نه ليکن فعل د واجباتو ترک د کبيري هذا هو په ترک د کبائرو باندې دوي وايي چې مخرج دي د ايمان نه غير داخل دي په کفر کې ثابتوي منزله بين منزلتين دا مذهب د جمهور معتزلو شو.

شپږم مذهب :

ايمان عبارت دي د تصديق اقرار او د عمل نه خو ارتکاب د کبائرو مخرج ايمان لره نه گرځوي ليکن فاسق شو هذا هو مذهب جمهور المحدثين ومنهم البخاري ، امام بخاري هم ددې قائل دي چې عمل جزء دي خو په ترک عمل سړي نه کافر کيږي.

اووم مذهب :

ايمان عبارت دي د معرفت نه فقط دا مذهب د جهم بن صفوان الكوفي المرجئي دي.

اتم مذهب :

ايمان عبارت دي له اقرار نه فقط دا مذهب د کراميه وو دي دوي په نزد به منافق هم مؤمن وي.

نهم مذهب :

ایمان عبارت دي د اقرار باللسان نه لیکن په شرط د معرفت في الخارج سره دا مذهب درقاشي دي .

لسم مذهب :

ایمان عبارت دي له اقرار نه بشرط تصدیق دا مذهب د قطان دي مرجئه ایمان عبارت د معرفت محض نه که اعمالو لره یې څه دخل ورنه کړو .
متکلمینو هم ایمان عبارت د تصدیق نه که اعمال یې رکن نه که اوس به فرق کوي فرق شته دي .
متکلمین وایي دا اعمال اسباب خارجیه مقوي للایمان دي ترك العمل مضاعف للایمان.
مرجئه وایي څومره نیکي چې کوي مقوي للایمان نه دي څومره ګناهونه چې کوي مضاعف للایمان نه دي هغوي یعني مرجئو عمل ته بالکل اهمیت ورنه کړو .
او متکلمینو اعمالو ته هغومره اعتبار ورکړو څومره چې محدثینو ورکړې دي ، فقط دومره وایي چې داد ایمان نه جزء نه دي که جزء کوي یې په نفي د عمل به نفي د ایمان راشي مذهب د خوارجو به لازم شي یا به مذهب د معتزلوو لازم شي لکه څرنګه چې اعمال اسباب مقوي للایمان محدثین امام بخاري ګڼي همدغه شان امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ یې هم ګڼي خو هغه ورته جزء وایي دې ورته جزء نه وایي په دغه کې اختلاف دي .
اصلاً د شاه انور شاه رَحِمَهُ اللهُ د فیض الباري آخري عبارات که وګورې په دې دال دي هغه تاسو ته دا ښکاره کوي په زمانه د محدثینو او صحابوو کې مرجئه زیات شوې وو هغوي عمل ته سپک کتل محدثین او جمهور او صحابه اکثرین هغوي دا جزیه راوویسته چې :

الایمان قول وعمل یزید وینقص .

ایمان قول او عمل دي زیاتیږي او کمیږي دا خبره یې ولې وکړه رد یې کوه په مرجئو باندې چې هغوي دا وویل چې ایمان قول بلا عمل ، دغه بلا عمل سره داسې وو چې عمل ته یې بالکلیه مقوي اسباب د ایمان نه ګڼل .

نو هغوي ددې مرجئوو په خلاف قانون جوړ کړو چې عمل داخل کړي دا خو عمل ته
سپک ګوري نو د مرجئوو په خلاف هغوي دا پرچار وچلوه چې د يزيد وينقص قول هم د
مرجئوو په رد کې شوې دي.

د متکلمينو په زمانه کې بيا خوارج او معتزله زيات شول او مرجئه کم وو هغوي دا
عمل د ايمان داسې ارکان ګڼل چې په ترک د کبيره عمل يې سړي کافر که، متکلمين مجبور
شول وي ويل چې ايمان قول بلا عمل دا خبره يې ددوي د رد له وجې نه وکړه وي ويل ايمان
عمل مه ګڼه په ترک د عمل سړي مه کافر کوه داد اهلسنت راي نه ده.

شاه انور شاه صاحب وايي دواړو په خپل ځای ښه پرچار کړي دي يوې ډلې په خوارجو
رد کړي بلې ډلې په مرجئوو رد کړي دي محدثينو زور عمل ته ځکه ورکړې چې هغه وخت
کې ډله داسې وه چې عمل يې نه منه بالکل او متکلمينو فقهاء زور دي خبرې ته ډير ځکه
ورکړې دي چې خوارجو عمل نه داسې شي جوړ کړو چې په ترک العمل يې سړي کافر کوه
يعنې دواړو محدثينو او متکلمينو انصاف کړي څه ظلم يې نه دي کړي د خپلې زمانې سره
يې په خپلو اصولو کې د خوارجو او د مرجئوو رد کړي دي.

او داد اهل حديثو تعصب دي هغه وخت سره هم بعضې محدثينو کړي دي چې احنافو
نه يې تعبير په مرجئه سره کړي دي فرق يې نه دي کړي ولې احناف هم وايي چې ايمان قول بلا
عمل، ابو منصور ماتريدي هم دا وايي.

ابو الحسن اشعري هم دا وايي متکلمين قول دا وايي چې: ايمان قول بلا عمل، او
مرجئه هم وايي: قول بلا عمل نو دلته خو خبره يوه شوه سره چې تحقيق ونه کړي متکلمين او
احناف اسباب مقوي للايمان عمل ګڼي او مرجئه چې کوم دي هغوي اعمال بالکليه مقوي نه
ګڼي او بالکل مضاعف يې نه ګڼي نو لوي فرق ښکاره شو مرجئه عمل ته سپک ګوري د
مرجئوو دا مذهب دي چې ايمان ولو که څومره ګناه دې کړې وي دا ايمان والا به جهنم ته نه
ځي نو احنافو کله دا خبره کړي چې زناکار به جهنم ته نه ځي قاتل به جهنم ته نه ځی نو د
مرجئوو او د احنافو خو لوي فرق راغې مينځ کې.

هغوي اعمالو ته بالکليه دخل نه ورکوي نه يې مقوي ګڼي نه يې مضاعف ګڼي هغوي

وايي چې صاحب الايمان جهنم ته نه شي تللې داد هغوي مذهب دي د مرجئو او احناف وايي چې ځي متکلمين وايي ځي به البته خلود به نه وي خلود به ولې نه وي چې رد راشي په خوارجو باندې خوارج وايي کبائرو والا مخلد في النار به وي.

نو اهلسنت احناف د خوارجو او مرجئو مينځ کې چليدلي دي نو عمل ته بايد دومره سپک و نه کتل شي چې په ترك العمل سړي جهنم ته نه بو ځي هغه نصوصو سره به څه کوي چې: ﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ ﴾ او دغه شان د خوارجو په شان هم مه ځه چې مرتکب د کبائرو مخلد في النار گڼي نو دا اختلاف راغې په تعريف د ايمان کې.

دا چې اوس څوک وايي امام صاحب د محدثينو خلاف ولې کړي دي نو څه جرم يې کړي دي نو اوس امام صاحب باندې د امام بخاري تقليد لازم دي د امام صاحب وفات په سنه ۱۵۰هـ کې وفات شوې او امام بخاري په سنه ۲۵۵ کې وفات شوې دي دا اوس په امام صاحب لازم وه چې امام بخاري ويلي وه چې ايمان يزيد وينقص ولې امام صاحب مخالفت وکړ.

زه وايم: امام بخاري ولې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مخالفت کړې دي مخکني خو د وروستنو تابع نه جوړيږي وروستني به د اسلافو تابع وي نو خبره داده چې ايمان يزيد وينقص کې اول مونږ د اسلام او ايمان د مساوات خبره مونږ وچيړله، دويم مو د هغې په تعريف کې د ترکيب او بساطت خبره وچيړله اوس راځو خپلې موضوع ته چې ايمان زياتيږي او کمه کميږي.

خوارج وايي زياتيږي او کميږي معتزله وايي زياتيږي او کميږي او محدثين وايي زياتيږي او کميږي دې دري واړو چې دا خبره وکړه نو ولې يې وکړه ځکه يې وکړه چې په تعريف د ايمان کې عمل رکن گڼلي دي ايمان عبارت د اقرار تصديق او عمل نه گڼي او عمل خو مونږ او تاسو گورو چې د چا زيات دي او د چا کم دي نو چې ايمان کې عمل داخل شو په زيادت د عمل زيادت د ايمان او په کمبود د عمل کمبود د ايمان هغوي يې له دې نورو سره په تعريف د ايمان کې اختلاف لري.

او هر کله چې متکلمين فقهاء او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ على قول تحقيقي ايمان ته د

بساطت قائل دي تصديق محض ګرځوي او بيا ته وايي چې دا زياتيږي او کميږي، نو بيا شاه انور شاه صاحب په دغه رابطه فيض الباري شرح د بخاري جلد ۱ صفحه ۸۱ کې فرمايي:

فنقول ان الزيادة والنقصان في الايمان يحتمل اربعة معانٍ.

زيادت او نقصان په ايمان کې د څلورو معانيو احتمال لري دغه څلورمه رجعه يې کيږي دريمې ته نو دري جوړيږي:

الاول: الزيادة والنقصان في نفس الايمان، حقيقت او ماهيت د ايمان کې.

والثاني: الزيادة والنقصان في الايمان باعتبار التصديق.

والثالث: الزيادة والنقصان في التصديق باعتبار انبساطه وانفساحه في الصدر. شرح صدر کې زيادت، **لا باعتبار الحقيقة.**

والرابع: الزيادة والنقصان في الصورة الايمانية التي هي صورته وهو بالحقيقة راجع الى الثالث.

دا څلورم راجع شو په حقيقت کې ثالث لره نو ټول دري شول چا چې قول د زيادت او نقصان کړي دي هغه **الايمان يزيد وينقص باعتبار البساطه والفساحه في انصدر** شرح صدر او اطمينان قلبي زياتيږي او کميږي.

او يا **يزيد وينقص باعتبار التصديق بالمؤمن به**، زياتيږي او کميږي په اعتبار د مؤمن به سره زمانه د صحابه کرامو کې مؤمن به چې وه هغه زياتيده کنه ځکه يو په مؤمن به کې کتاب وه او کتاب ټول نازل نه وه وخت په وخت به آيتونه نازليدل نو د مؤمن به د زيادت سره يې ايمان کې زيادت د هغوي راتلو کله نه چې ټول دين نازل شو: **امنت بالله والملائكة والكتب واليوم الاخر** تقدير وغيره په دې کې اوس د زيادت امکان نشته مؤمن به نه زياتيږي نو ايمان هم نه زياتيږي.

خلاصه دا چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او لګه ايمان او د اسلام د ترادف قائل نه دي دا جدا جدا څيزونه ګڼي هر کله چې جدا شول نو اسلام زياتيږي او کميږي خو ايمان زياتيږي او کميږي نه

عمل په اسلام کې داخل ګڼي خو عمل په ایمان کې داخل نه ګڼي دا چې دې دواړو کې فرق دي شواهد څه دي :

اول دلیل دې لپاره هغه حدیث طویل د جبریل دي صحیح مسلم جلد ۱ صفحه ۲۸ کې ذکر کړي دي جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَام راغې نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته :

وقال يامحمد أخبرني عن الإسلام فقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلاً قال صدقت قال فعجبنا له يسأله ويصدقه قال فأخبرني عن الايمان قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره .

دا مضمون د امنت بالله دي استدلال د احنافو په دې شکل دي که د ایمان اسلام مینځ کې ترادف مساوات واي چې تپوس د اسلام کړې واي ولې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام د اخبرني عن الايمان ، بله پوښتنه کوي شي یو دي بیا پوښتنه کوي .

که بیا جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام ته پته د ترادف نه واي تپوس به یې کړې واي نبي عَلَيْهِ السَّلَام په نورو الفاظو تعبیر ولې ورته کوي ورته به یې ویلې واي چې د اسلام تپوس دې وکړو ایمان او اسلام شي واحد دي خو دا هغه وخت کې چې اسلام عبارت د پنځ بناء نه وګرځيږي د اسلام لپاره قران کریم کې یوه بله اصطلاح ده چې هغه اصطلاح قدیمي ده من زمن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې مراد له اسلام نه فطرت اسلامي دي نو هغه اصطلاح د اسلام چې ده د هغې اطلاق په عقیده سالمه باندې کیږي هغه بیا د ایمان سره مترادفه ده .

﴿إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾ (پاره ۳ سورة آل عمران آيت : ۱۹).

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ﴾ (پاره ۳ سورة آل عمران آيت : ۸۵).

اسلام چې دي دا په معنی د جزي عملونو باندې نه دي مراد دلته له اسلام نه نوم ګرځیدلي دي دیو خاص شریعت او عقیدې لپاره او د دین لپاره نو دا حدیث دال دي په فرق بين الاسلام والايمان باندې ایمان عبارت د امورو مبطنو نه شو ، اسلام عبارت د امورو

ظاهرو و نه شو اعمال و ګوري په اسلام کې داخل شو په ایمان کې نه دي .

دارنګې روایت د مسلم جلد ۱ صفحه ۹۱ هغه حدیث مخکې د بخارئ په حواله چې ذکر شو چې حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې یو شخص ما ته ګران وه :

فقلت یا رسول الله مالك عن فلان فو الله إني لأراه مؤمنا فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مسلما أي أو إني لأراه مسلما .

یعنې داسې وایه چې د مسلم ګمان پرې کومه مؤمن مه وایه هغه امر مبطن دي په قطعي طریقې څوک نه شي ویلې د مسلم اطلاق پرې کوه .

دارنګې د سورة حجرات ۱۴ نمبر آیت :

﴿قَالَتِ الأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ .

ګورئ منافقینو ته داسې وایي چې اسلمنا وایي خو آمنا مه وایي ځکه ایمان عبارت له تصدیق قلبي نه دي ستاسو نشته اسلام عبارت له اقرار لساني نه ستاسو شته اسلمنا وایي مسلمین یاستي خو مؤمنین نه یې دا ادله شو د فرق په مینځ د اسلام او ایمان کې چې فرق شته .اوس که مونږ ته څوک بل ځای پیش کوي چې اطلاق د ایمان په اسلام او د اسلام په ایمان شوې وي نو مونږ به هغه د شبیر احمد صاحب قول پیش کوو چې هغه یو ځای نه دي راغلې جدا جدا راغلې کله چې جدا جدا راشي نو هر ځای کې دې چې ایمان کې عمل ذکر کړو نو هلته به مراد له ایمان اسلام وي الایمان بضع وسبعون شعبةً څانګې دي بیا یې ورسره اعمال ذکر کړي دا قوي دلیل دي د جزئیت د عمل لپاره .

نو جواب به دا وي چې دلته ایمان مستقل راغلې انفرادي کله چې ایمان جدا شي د اسلام نه اطلاق د ایمان په اسلام د اسلام په ایمان کیدې شي نو دلته ذکر د ایمان دي مراد ترې اسلام دي : الاسلام بضع وسبعون شعبة ، داد اسلام شعبې دي د ایمان نه دي د ایمان شعبې چې دي مؤمن به دې شپږ شیان دي دوي نه هم چې تپوس وکړي چې د ایمان څو شعبې دي ویلې شي چې بضع وسبعون نو که دلته ایمان په خپله معنی واخلي خو بیا دې ورته مؤمن به ۷۵ کړه کنه نه شي ویلې چې دا اجزاء د ایمان دي بلکې دا اجزاء د اسلام دي او هر چې ایمان دي د هغې لپاره اجزاء هغه شپږ څیزونه دي دا فرق ثابت شو په مینځ د دواړو کې .

هر چې دويمه خبره ده چې دا جزء دي او که نه د هغې لپاره د احنافو تاييد د متکلمينو تائيد کې ما مخکې وويل چې تصديق نه خو ځکه عبارت دي چې يو يې لغوي معنى سره مطابقت دي دويم وجود د تصديق بدون د عمل نه او ايمان به وي مونږ به قول د ابي داؤد روايت کې پيدا کړو چې : لا صام ولا صلى ، دارنګې ايمان د جمله فُساقو دي عمل نشته دي او ايمان شته دي .

دارنګې اقرار رکن نه دي مونږ پيدا کړو ايمان په صورت د مُکرَه کې چې اقرار نه لري اقرار نشته او ايمان شته دي خو دا څوک هم نه شي پيدا کولې چې تصديق دې نه وي ايمان دې وي ورکړي چيلنج ورته چې څوک دي هغه سړي چې تصديق نه لري او اطلاق د ايمان پرې شوې وي که څوک وايي منافق نو مؤمن نه دي مسلم دي منافق ته مؤمن نه ويل کيږي اطلاق د اسلام پرې کيږي د ايمان پرې نه کيږي ځکه تصديق قلبي نشته نو دا ددې دلائل شو چې عمل جزء نه دي اقرار جزء نه دي اقرار شرط خارجي قبول نه دي عند الله تصديقات بدون د اقرار نه په صورت د ضرورت د اکراه کې ساقط شو اقرار .

او هر چې عمل دي داد شرائطو نه هم نه دي البته اسباب خارجيه مقوي للايمان دي په دې ټکړه کې فرق وشو زمونږ له مرجئيو نه چې مرجئه يې مقوي للايمان نه ګڼي اعمالو ته اعتبار نه ورکوي او مونږ يې مقوي للايمان ګڼو دا فرق شو .

حکايت :

د اهل حديثو څه علماء دلته راغلي وه د رستمي د مدرسې مدرسين هم په کې وه ما سره په توسل کې د رستمي ځوي ابو سعيد چا مناظر تاکلي وه څه وخت مخکې يې په توسل مونږ سره مناظره وه بيا هغه خلکو وويل يو په کې باجوړي وه چې ددوي امام وه چې مونږ به تا ته د رستمي ځوي ابو سعيد راولو ما ورته وويل چې هر څوک راولې را يې ولې نو د غه علماء د رستمي د مدرسې سره ملګري شوې وه چې بله ورځ مناظره ده دا مولوي صاحب وګورو چې ددهٔ د علم اندازه څنګه ده زما سيل ته راغلې وه .

څه طالبان وه څه په کې علماء وه هغه باجوړي ملا يې هم راوستلې وه فضل مولى نوميده بيا د هغه مناظرې په ورځ حاضر نه شول د تيښتې لاره يې غوره کړه تر دري کالو بيا هغه جومات بې له امام تش پروت وه ددوي دا فائده د هغه مناظرې نه ولاړه شوې وه چا په

کې مونځ نه کوه ما وويل دا يې څه فائده شوه هغه ملا د شپې تېښتېدلې وه باجوړي دزي کاله بيا هغه جومات د پير سباق پير صاحب يو مريد وه هغه دا مسئله د نزاع جوړه کړې وه نو هغه خلکو ته به د جنازي مونځونه بيا د پير سباق صاحب دې مريد ورکول او مسجد همداسې بې له امام نه وه خالي وه لانجه وه په کې.

چا به ويل حنفي راولو چا به ويل وهابي راولو نو دغه فضل مولی يې هم ځان سره راوستلې وه چا چې مناظره تاکلي وه ما ته يې وويل چې تا ده ته چيلنج ورکړي دي ما وويل زه خو دا نه پيژنمه ده په هغه علاقه کې زمونږ يو حنفي ته چيلنج ورکړي مونږ قبول کړي دي اوس ستاسو څه مقصد دي څه ته راغلي ياستې واي مونږ هسې يو معلومات لپاره راغلي يو چې مونږ د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ سره رحمة الله عليه وايو مونږ هغه ته د بزرګي عقيده لرو خو تپوس دا کوو چې د هغه خبره د قرآن او حديث نه خلافه راشي نو تاسو به قرآن او حديث پسې ځې او که د هغه خبرې پسې به ځې .ما ورته وويل چې تا مخکې وويل چې مونږ هغه ته رحمة الله عليه وايو او بزرګ ورته وايو زمونږ علاقه کې بزرګ هغه سړي وي چې نه د قرآن مخالف وي او نه د سنت چې د قران او سنت مخالف وي مونږ هغې ته ګمراه وايو بزرګ ورته نه وايو وايي نه مطلب هغه حديث به ورته رسيدلې نه وي کنه ما ورته وويل چې تا وويل چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ قول د قرآن او د سنت خلاف راشي څه سنت ورته ونه رسيدل قرآن خو ورته رسيدلې وه کنه نو داد قرآن مخالفت يې ولې وکړو او چې وي کړو څوک چې د قرآن مخالف وي هغه خو ګمراه وي بزرګ نه وي دا بزرګ دې ولې ورته وويل.

غصه شو وايي زه به درته وښايم چې د قرآن مخالفت يې کړي وي ما ورته وويل چې ته به وښايي د هغې به جواب نه واوري يخ کرخ به شي خو دا خبره به واخلي چې ته وايي چې زه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته بزرګ وايم دا دې دروغ وويل منافقت کوي ما ته چاپلوسي کوي دا ته دروغ وايي چې زه هغه ته رحمة الله عليه وايم هغه ستا په نزد مخالف د قرآن يو ګمراه انسان تير شوي العياذ بالله ستا دا عقيده ده ما ته بيا چاپلوسي مه کوه چې زه بزرګ ورته وايم بزرګ هغه نه وي چې د قرآن مخالف وي وايي زه يې ښايم درته ما ورته وويل وښايه بس دارک لاړ : الايمان يزيد وينقص ته ، ما ته معلومه وه چې دې به همدغه ځای ته ځي نو دري ملايان وه يو په کې زما غوندې ښه چاغ وه او هغه دوه داسې کمزوري غوندې وه نو دا

کمزوري غږيده کونړي يې ورته ويلي څه نوم يې وه هغوي ما ته ويلي چې دي هلته مسلم الثبوت درس کوي .ما وويل چې دا څه لالا دي دا په مسلم الثبوت څه پوهيږي نو هغه نه ما تپوس وکړو چې داسې وکړه يا به مخکې څو الايمان يزيد وينقص دا خو حکم دي په ايمان باندې حکم خو په مجهول نه کيږي يو ځل به ايمان پيژنو چې ايمان څه ته وايي د ايمان شرعي تعريف راته وکړه شرعي تعريف څه ده ؟

وايي اقرار باللسان تصديق بالجنان داسې شروع شو ما ورته وويل چې دا تا کوم تعريف وکړو دا خو نه په قرآن کې شته او نه په سنت کې شته دا دې د څه تعريف وکړو تا نه ما شرعي تعريف غوښتې شرعي شارع غواړي شارع خو خداى تعالى او نبي عليه السلام دي صاحب د ابو المنتهى خو شارع نه دي کنه تا خو ما ته د هغه تعريف شروع کړو نو دا وچ کلک چې وه دا خو غلي شو هغه چاغ شروع شو وايي زه تعريف کوم ما ويل وکړه وايي : ان تؤمن بالله وملائكته وكتبه هغه حديث طويل د جبرائيل :اخبرني عن الايمان دا تعريف يې ذکر کړو ما ورته وويل چې دا تا شرعي تعريف ذکر کړو دا صحيح تعريف شرعي دي چې ايمان عبارت دې څيزونو نه دي خو ما وويل چې زه دا تپوس کوم چې يو سړي دي په دې نورو ټولو ايمان لري خو ايمان بالله نه لري نيم مؤمن دي که پوره مؤمن دي که کافر دي .

وايي سو چه کافر دي ما وويل امنت بالله کې نور ايمان لري خو وملائکته په ملائکو يې نه لري وايي دا هم کافر دي ما وويل په نورو يې ايمان نشته دي خو په رسل يې نه لري وايي دا هم کافر دي ټول مې ورته تکرار کړه ما ورته وويل چې په دې شپږ واړو يې ايمان دي وايي مؤمن دي ما ورته وويل چې ته وايي چې زياتيږي نو چې دې کې يو شي کې ايمان نه وه کفر وه چې ايمان راغې ايمان راغې ته وايي زياتيږي ته يې اوس زيات کړه څنګه يې زياتوي ؟

سړي نه لار ورکه شوه وايي نه زه به مثال پيش کړم ما ورته وويل پيش کړه وايي د ايمان مثال د ونې دي د ونې خاښونه يا شاخونه زياتيږي خلک وايي دا ونه زياته شوه نو ونه خو مساغه وه دي خاخ يې زيات شوي ما ورته وويل چې ستا دا عقيده ده چې د ايمان خاښونو کې زيادت راځي وايي هو ما ورته وويل چې دا خو د مسلمان عقيده نه ده وايي داد امام بخاري عقيده ده ما ورته وويل دروغ مه وايه امام بخاري دا نه وايي دايمان خاښونه دا شپږ

ځیزونه دي امنت بالله وملائكته وكتبه الخ داد ایمان ځانګونه دي ته وایي ځانګې یې زیاتیږي
نو امنت بالله ستا عقیده دا چې خدایان به زیاتیږي دجال به خدای شي ته به پرې ایمان راوړې
امنت بالله وملائكته ملائک به زیاتیږي ورسوله رُسل به زیاتیږي و كتبه كتب به زیاتیږي ته
چې مثال د ونې ورکوې چې د ونې ځانګونه زیاتیږي نو مؤمن به به زیاتوي، کنه دغه مثال دې
نو ما وویل داد امام بخاري عقیده ده چې خدایان زیاتیږي یا رسل زیاتیږي.
بیا ما ورته وویل چې ګوره د ایمان مثال د ونې سره مه ورکوه د ایمان مثال د راډ سره
ورکړه یو راډ دي بطور مثال ۴۰ انچه دي یا یو میټر دي یا یو ګز دي چې هر څومره دي خلک
وایي راډ زیاتیږي او کمیږي دا اطلاق من حیث الانجلاء رڼا یې زیاتیږي او کمیږي په اعتبار
د انجلاء سره دې ته نسبت وشو خپله راډ نه زیات شوي نه کم شوي د ایمان مثال د دغې راډ
دي مؤمن بِه نه عبارت دي نه زیاتیږي نه کمیږي البته چې څوک وایي زیاتیږي او کمیږي
باعتبار الانجلاء د ایمان رڼا زیاتیږي کله چې ایمان قوي شي رڼا یې زیاته شي چې ایمان
ضعیف شي دي ګوري ځکه مونږ په نور د ایمان لیدل نه کوو کشف نه لرو.

اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله، د ایمان رڼا مو په سترګو نه ده کتلي په هغې کې
انجلاء او مغیبات مو نه دي کتلي نو دا ضعف د ایمان دي.
د اولیاء ایمان قوي دي د هغوي په زړونو کې رڼا پیدا شي او دا رڼا دومره زیاته شي
چې په هغې کې بیا کشوف ګوري مغیبات ګوري نو زیادت ایمان او نقصان ایمان په حقیقي
اطلاق کې نه زیاتیږي نه کمیږي که وایي چې زیاتیږئ او کمیږي مجازي نسبت دي من حیث
الانجلاء رڼا یې زیاتیږي او کمیږي .نو بیا یې وویل نه دا خبره ته پریږده مونږ دي معلوماتو
لپاره راغلو چې په هغه ورځ به دلائل څه شي وي بیا ما ورته وویل چې تاسو دا خبره وکړه چې
امام صاحب د قرآن او سنت مخالفت کړي دي وایي دا قرآن کریم کې چې آیتونه راغلي د
مسئلې په ابتداء کې چې کوم آیتونه لیکل شوي وه هغه یې وویل فزادتهم ایماناً داد زیادت
نسبتونه چې څو ځایه شوي دي دایې پیش کړه وایي دا قرآن کریم کې چې د زیادت نسبات کړي.
نو ما وویل چې د زیادت نسبت یې کړي خو مجازاً قرآن کریم کې ولې مجاز نشته دیرو
ځایونو کې مجازي نسبتونه شوي دي نو دا خو د ابن قیم مقلدین دي یوه په کې آواز وکړو

چې قرآن کریم کې مجاز نشته دي ما ورته وویل مجاز نشته دي وایي نه : إني اراني اعصر خمراً ،هغه یو ورته خوب تیروي خوب ګورم چې شراب نچوړوم نو شراب نچوړوي که انګور نچوړوي وایي انګور ما ویل دا څنګه وایي چې اعصر خمراً وایي هغه بیا په اعتبار د ما یؤل الیه سره بیا شراب ګرځیږي ، ما ورته وویل چې دا اعتبار د ما یؤل الیه مجاز دي کنه فما ربحت تجارتهم ، تجارت یې ګټه ونه کړه نو تجارت ګټه کوي که تاجر ګټه خو تاجر کوي نسبت یې تجارت ته کو مه معنی شوه ،تجري من تحتها الانهار ، لاندې ترې ولې روانې دي ولې نه دي روانې او به په ولو کې روانې دي وله کله روانیږي .

نو دا تول مجاز نه دي نو قرآن کریم خو د مجازي اصطلاح نه ډک دي مشحون او مملوء دي ما وویل دا نسبت د زیادت شته خو مجازاً دي زادتهم ایماناً من حیث الانجلاء رڼا د ایمان یې زیاته شي خپله ایمان خو عبارت دي له مؤمن بِه نه زیاتیږي نه او نه کمیږي وایي نه دلته زیادت راغلي مونږ دې پسي ځو ما وویل ځې پسې خو دا مه وایي چې امام صاحب د قرآن او سنت خلاف وکړو دا تعصب دي او داد امام صاحب سره انتهائي زیات تعصب روان دي که امام صاحب د مرجئو قول کړې وای عمل ته یې اعتبار نه وي ورکړې مقوي للایمان نه ګڼلي بیا به مو دا اعتراضونه کول هغه خو الحمد لله د متکلمینو اهلسنت نه دي عمل ته پوره اعتبار ورکوي پوره مقوي یې ګڼي خو صرف وایي ایمان کې د خیل مه ګڼي .

که تعصب ونه شي دا خو ډیره ښائسته خبره ده نو که انصاف وشي او عمل دې داخل کړو په ایمان کې د هر عمل په نفي سره به قول د نفي د ایمان کوي بیا مثلاً مونځ چا نه پاتې شو کافر حج پرې فرض وه لاړ نه کافر زکوة یې ورنه کړو کافر ګناه کبیره یې وکړه کافر وغیره نو داد خوارجو مذهب دي که د اهلسنت وهابیان دلته خلکو ته دوکه ورکوي په خوله کې د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ قول پیش کوي چې هغه د زیادت قائل دي نو د زیادت خو خوارج هم قائل دي معتزله هم قائل دي محدثین هم قائل دي خو محدثین وایي چې په ترك العمل کفر نه لازمیږي او خوارج وایي کفر لازمیږئ او معتزله وایي منزله بین المنزلتین ثابتیږي .

نو دې ځای کې باید ستاسو فکر وي چې د وهابیانو په دې دسیسه ونه غولیږي چې د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ قول نه استدلال وکړي او خپل مذهب پرې ثابت کړي داد خوارجو نه دي

دوي تارك الصلوة ته كافر وايي دوي ساحر ته كافر وايي دوي قاتل ته كافر وايي دوي هر يو مخالف د مسلک خپل ته مشرک وايي اباحت د دماء د هغوي کوي او اباحت د اخذ د اموالو د هغوي کوي نن صبا ښکاره مونږ ګورو چې کوم ځای د دوي تسلط راشي په نوم د جهاد باندې هغلته بيا اهلسنت او د هغوي کورونه ورانول د هغوي مال لوټ کول جائز او جهاد ګني.

يوه خبره بدر الدين عيني کړي ده او زما خوښه ده اګر که شاه انور شاه صاحب اشارتاً څه ردود پرې هم کړي دي هغه دا نزاع لفظي جوړه کړې ده هغه وايي الايمان ايمانين، ايمانونه دوه دي يو ايمان منجي من دخول النار دي بل ايمان منجي من خلود النار دي يو هغه ايمان دي چې د نفس جهنم نه سړي بچ کوي بالکليه بيا جهنم ته پرې نه شي تللې منجي من النار دي .بل ايمان نجات ورکوي د خلود النار نه هميشه لپاره دي جهنم نه بچ کوي خو د څه وخت لپاره دې په کې پريږدي .دا يو ايمان ته ايمان مطلق وايي دې بل ايمان ته ايمان کامل ويلې شي ايمان کامله منجي من النار دي،ايمان مطلق نفس ايمان منجي من خلود النار دي.

وايي امام صاحب چې وايي الايمان لا يزيد ولا ينقص دا ايمان مطلقه يادوي چې منجي من خلود النار دي په فاسق کې شته کنه په جهنم کې به وي خو هميشه به نه وي دې کې وايي عمل جزء نه دي او هر چې ايمان هغه دي چې منجي من النار دي چې د هغې ايمان په وجه بالکليه جهنم ته نه شي تللې دا ايمان کامل دي نو وايي دا کمال ايمان ته نه راځي بدون العمل داد عمل په وجه راځي نو دغه ايمان چې تا د نار نه خلاصوي مطلقاً دغه ايمان چې کامل دي عمل په کې داخل دي هغه ايمان چې تا د خلود نه بچ کوي په هغې کې عمل داخل نه دي ښه منصفانه قول يې کړي دي نو د امام صاحب د لايزيد ولا ينقص د ايمان مطلق سره ولږوه د محدثينو د يزيد وينقص د ايمان کامل سره ولږوه ، ايمان کامل يزيد وينقص عمل په کې دي او ايمان مطلقاً چې کوم دي عمل په کې داخل نه دي.

په دغه جزيه کې زما دغه څو خبرې يادي وي په دغه الفاظو مې ستاسې ذهنونو خلاصولې شول نور پرې زه هم نه پوهيږمه خداى جَلَّ جَلَالُهُ دې وکړي چې ذهنونه مو پرې خلاص شوې وي او په خپل امام معترض نه شي امامنا چې څه استدلالت لري قوي دي په

خپل ځای ولې دا خبره وکړه چې بلا عمل قول یې وکړو مقصد یې ردوو په خوارجو باندې او په معتزلوو باندې چې دا دیر شوې وه او دوي عمل داسې جزء وګرځوه چې، په ترک العمل یې سړي کافر کوه لکه نن صبا مونږ دا مسئله ولې زیر بحث کړه ځکه وهابیان دې ته دومره زور ورکوي چې امامنا مخالف د قرآن پرې ثابتوي څوک چې قائل د لایزید ولا ینقص وه مؤمن یې نه ګڼي او د مرجئوو نه یې ګڼي او حقیقت داسې نه دي.

مونږ مرجئه نه یو مونږ اهلسنت یو او د مرجئوو مخالف یو مرجئه نفس ایمان ناجي ګرځوي د دخول النار نه او مونږ ایمان کامل ناجي ګرځوو د دخول النار نه دا څومره لوي فرق شو هغوي وايي چې نفس ایمان چا کې وي جهنم نه شي کتلې او مونږ وايو چې نفس ایمان چا کې وي د ګناه کبیرې مرتکب وي جهنم ته به ځي خو خلود به نه وي په جهنم کې فرق د خوارجو سره دا شو چې دوي وايي ګناه کبیره یې وکړه خلود به په جهنم کې وي.

مونږ وايو خلود به نه وي بیا به جنت ته ځي یا په مرور د وقت سره یا په شفاعت د عبادو سره شهداء سره انبیاء او صلحاء سره په شفاعاتو باندې به بیا ترې راوځي.

باقي د فیض الباري صاحب چې دي د نفس ایمان دې هم قائل نه دي د زیادت خو ایمان په اعتبار د تصدیق انجلاء چې واخلي بیا زیاتیږي او کمیږي ایمان په اعتبار د مؤمن به سره چې بیا واخلي بیا نه زیاتیږي او نه کمیږي زیاتیده او کمیده خو په زمانه د صحابوو کې چې قرآن کریم نوي نازلیده کله چې قرآن کریم تمام ته ورسیده د امنت بالله مؤمن به واخله هغې کې نه زیاتیږي او نه کمیږي او نفس ایمان په اعتبار د انشراح صدر زیاتیږي د انجلاء سره زیاتیږي د تصدیق قلبي سره زیاتیږي په دغه اصطلاحاتو کې زیاتیږي خپله ماهیت د انسان چې تصدیق محض واخیستلې شي او عبارت د مؤمن به سته نه وګرځولې شي لا یزید ولا ینقص.

دا مسئله د زیادة الایمان ونقصانه خلاصه شوه

ددې نه مخکې چې کومه مسئله وه هغه مسئله د سیماء وه هغې کې مونږ پوره وضاحت وکړو چې دا په تندو د بریلویانو دعوت اسلامي کې پیدا شوې ده او دا دیر خطرناک تنظیم دې او بیکاره خلک دي د خارجیانو چمچې دي او بریلویان پرې سترګې پټوي نو مونږ د بریلویانو سترګې په خپل تحقیق سره خلاصې کړي چې سترګې مه پټوي ولې سترګې پټوي

چې دا توره تاپه د يوبندي تبليغي جماعت کې وه نو گمراه دي گڼله او چې ستاسو په دعوت اسلامي کې دري دانې پيدا شوي نو اوس دې جنتي محراب ترې جوړ کړو دا ستاسو انصاف دي نو دې ته دې بريلوي حضرات متوجه شي.

او دغه شانته ديوبندي جماعت کې چې کوم تبليغي جماعت کې تاپې پيدا شوې دي او دا جنتي محراب گڼي نو هغوي تبليغي جماعت خو ناپوهه دي جاهلان دي نو علماء سترګي به يې خلاصي کړو چې داد خوارجو نښې دي دا جنتي محرابونه، نه دي او داد انبياء عليهم السلام او د صحابه اولياء په تاريخ کې د هيچا په تندي کې نه وه پيدا شوي بغير د يو څو غلطو خلکو نه چې ذوالخويصرة وه او څه نور د خوارجو رؤساء وه او دغه شانته يو بل بدترين انسان وه چې دې هغه چا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ډير تعريف وکړو چې ښه مونځ کوي نوي راغلي وه مدينې منورې ته بيا نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست وه او هغه شخص راغې داسې ډارک تير شو سلام يې وانه چوه مسجد ته لاړ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته توره ورکړه وايي ورشه دا سړي په مسجد کې قتل کړه هغه چې ورغې هغه داسې په عاجزي ولاړ وه او ډير ښائسته مونځ يې کوه زړه يې پرې ونه شو.

چې راغي يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تا ماته توره دې لپاره راکړي چې څوک مونځ نه کوي نو چې زه پرې جهاد وکړم هغه په مونځ ولاړ دي څنګه يې مړ کړمه، عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې توره ورکړه وايي ورشه ته يې مړ کړه هغه چې ورغي چې عاجزي يې ورته وليده نو بيرته راغې وايي زما هم پرې زړه ونه شو. بيا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ويل چې ما ته توره راکړې زه يې وژنم وايي دا واخله خو چې ته ورځې نه به وي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې ورغې هغه شخص نه وه وتلي وه په بل طرف بيا چې داسې راغې تير شو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راوغوښت وايي ته چې تيريدې زړه کې دې څه راغله وايي زړه کې مې راغله چې زما نه بهترين انسان بل نشته صحابه دلته بيا راګرم شول چې اوس يې مړ کړي چې ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه هم بهتر يې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک وويل اوس خاموش شي مه يې وژني.

هغه روايت کې راځي چې: **بين عينيه سفعة من الشيطان**، دده په تندي کې د شيطان اثر وه چې مائل تور والي ته وه.

د سفعه په معنی پسې زه ډیر وګرځیدمه تلاش مې وکړو زړه کې مې د تورو والي معنی کوله خو پیدا کړې مې نه وه بیا مې پیدا کړه د سفعه معنی اهل لغت په تور والي سره کوي نو ددې په تندي کې تور والي وه چې دا اثر پیدا وه من الشیطن له شیطان نه مونځ یې کولو تندي کې تاپه وه نبي عَلَيْهِ السَّلَام د قتل فیصله کوله چې مړ یې کړي.

نو دا تاپه د اهلسنت په تندو کې نشته او نن صبا چې چا کې مو دا تاپه ولیده یا به د مفرطینو نه وي په بریلویانو کې به هغه بریلوي وي چې د شیعه ګانو چمچه به وي، او یا به د مفرطیانو نه وي چې د خوارجو چمچه به وي تبلیغي جماعت هم وهابیانو ته کار کوي ممدوي سره لاړ شي بله ورځ ترې نه وهابي جوړوي اګر که په خوله به وایي چې مونږ وهابیان نه یو خو څو مره خلک چې وهابیان شول دا ددوي په دې تبلیغ باندې دوي سره تلې وي بیا وروسته آزاد خیالي شي او منتهاء یې بیا وهابیت او پسې مخکې لاړ شي.

او هغه روایت علی وجهه سفعة من الشیطن سنن دار قطني جلد ۴ صفحه ۴۶۷ کې د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت سره ذکر شوې دي.

الله پاک دې مونږ او تاسې علم نافع او انشراح صدر نصیب کړي ګوري طالبانو زه چې کومه حواله د نظر نه خپله ونه باسمه زه یې وایم نه ولو که د زمانې د معتمد شخص د خولې نه مې اوریدلې وي حدیث ترې نه جوړوم صبا درته وایمه چې ما د یو شیخ د خولې نه داسې اوریدلي دي خو چې ما خپله لیدلې وي زه به هغه وایمه او که څوک وایي چې دا دومره کتابونه دې څنګه وکتل نو عقل دلته کار نه کوي بس دا دعاګانې کوي چې، :

﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾.

شرحه د صدر چې راغله بیا دا خبرې مشکلې نه وي په څو چنده ددې نه زیاتې حوالې به کې بیا د ننه پرتې وي.

دا مسئله ختمه شوه

مسئلة التقليد :

التحقيق في اثبات التقليد :

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده . لا نبي بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبيين أما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً﴾ (سورة النساء آيت : ۵۹)

بله مسئله متنازع فيها مسئله د تقليد ده چې په دې کې د اهل زيغ جماعات پاکستان کې مودودي جماعت او اشاعت التوحيد او تبليغي جماعت دعوت اسلامي جماعت دا ټول چې داد احنافو اهل حقو ملګرې دي په ثبوت د تقليد کې ائموو لره دوي قانع دي مخالف په دې کې هغه غير مقلدين چې ځانونه مسمی کړې په اهل حديثو باندې جماعت المسلمين عثمانيان دي او پرويزيان دي دارنګې قاديانيان دي دارنګې شيعه ګان دي شيعه ګان هم د تقليد قائل نه دي هغوي وايي چې د اجتهاد دروازه خلاصه او ګلاو ده او په هر وخت کې الله پاک يو مجتهد پيدا کوي خلک به د هغه متبع وي لکه دوي د خُميني په حق کې د امام او مجتهد عقيده لرله .

مخالف جانب منکرين د تقليد اګر که په وخت د مناظرې کې بيا قول د شرک نه شي کولې قول د حرامو هم نه شي کولې البته خپلو درميانه مباحثو کې د دوي دعوی داده چې تقليد په بعضې مواضعو کې شرک دي او په بعضې مواضعو کې بدعت دي يا حرام دي نو مونږ دلته په يو څو ورقاتو کې د ټولو نه اول دغه دعوی سره د خپلو دلائلو ذکر کړې ده:

د تقليد تعريف

ثاني مبحث استدلالات من القرآن الكريم

ثالث مبحث استدلالات من الاحاديث النبوية او بيا متعدد دلائل چې په هغې کې عقلي او نقلي دلائل جمع شوې دي په اثبات د تقليد باندې .

که څوک منصف وي متعصب نه وي هغه يو ه ورقه هم هغه ته کفايت کوي چې دي

کوري د اول نه تر آخره پورې هيڅ ګنجائش نشته چې انسان د تقليد نه ووځي او چې کوم خلک ځان ته غير مقلدين وايي نو په هر قدم کې هغوي هم په تقليد کې داخل دي مګر دومره خبره ده چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ سره به تعصب لري د هغه له تقليد نه به ووځي او د بل چا په تقليد کې به داخل شوې وي.

بيا آخره کې د مخالف جانب ادله او د هغې مختصر جوابات هغه ما ذکر کړې دي.

اول : تعريف د تقليد :

تقليد څه شي ته وايي، لغتاً تقليد: جعل القلادة في العُنق اچول د هار دي په غاړه کې.

شرعاً اطلاق د تقليد کيږي په چند معانيو باندې: اول اطلاق د تقليد:

حكم والٍ بكون فلان قاضياً في موضع كذا.

يو والي فيصله وکړي چې فلانې په فلاني موضع کې قاضي دي، كذا في جامع الرموز في كتاب القضاء، تقليد په دغه معنى باندې دلته زير بحث نه دي متنازع نه ده.

دويمه شرعي معني د تقليد چې معروفه ده په اصطلاح د شريعت او علماء کې هغه:

العمل بقول الغير من غير حجة.

د بل چا په قول عمل کول دي من غير حجة من غير طلب حجة په غير د طلب د حجت نه د هغه انسان لکه ما خبره وکړه او تاسو بې له حجته قبوله کړه نو دا تقليد زما شو ګويا کې قول زما مو ځان ته په خپله په غاړه کې هار کړو او مراد دلته د قول نه عام دي چې فعل وي که تقرير وي.

نو خلاصه دا چې عمل په قول د غير عمل په فعل د غير عمل په مسئله ثابته بتقرير الغير بدون طلب الحجة دې ته تقليد ويلې شي.

ولذا قيل: ويلې شوي دي په بعضو شروحو د حسامي کې چې نامي ده:

التقليد اتباع الانسان غيره فيما يقول او يفعل معتقداً للحقية.

تقليد څه ته وايي يو انسان د بل انسان اتباع وکړي په هغه څه کې چې هغه يې وايي يا په هغه څه کې چې هغه يې کوي په حال کون دده متبع او مقلد کې چې عقيده لري په حقيت د

قول د مقلد خپل باندې په غير د نظر او استدلالاتو نه .

في الدليل ، دليل کې نظر نه اچوي قول يې قبلوي :

كَاَنَّ هذا المتبع جعل قول الغير او فعله قلادة في عنقه من غير مطالبة دليل .

نو ګويا کې چې دې متبع چې مقلِد دي وګرځوه قول د غير چې مقلد دي فعل د غير چې مقلد دي قلادة في عنقه هغه يې په غاړه کې يو هار کړو بغير د مطالبې د دليل نه .

دغه تعريف نامي کړې دي د حسامي شرحې په صفحه ۱۹۰ باندې او هغه مخکې چې کوم تعريف تير شو : العمل بقول الغير من غير حجة کشاف اصطلاحات الفنون جلد ۱ صفحه ۸۴۷ کې کړې دي .

معجم الفلسفي د لغتو کتاب دي جلد ۱ صفحه ۲۹۲ کې د تقليد تعريف په شان د تعريف د نامې کوي چې يعنې د تقليد په تعريف کې اتباع راوړي نو وايي :

التقليد هو اتباع الانسان غيره ، تقليد څه ته وايي اتباع د انسان ده غير لره .

فيما يقول او يفعل . په حال کون دده کې چې :

معتقدا الحقية فيه من غير نظر الى دليل .

نو لغوي معنى سره يې رابطه دا شوه چې ګويا کې دې متبِع چې مقلِد دي وګرځوه قول د غير چې مقلد دي يا فعل د غير چې مقلد دي قلادة في عنقه ، يا اسانه تعبير :

قبول قول الغير بلا حجة ولا دليل .

تقليد څه ته وايي قبلول د قول د غير بغير د حجت او دليل نه خو دې ځاى کې ګوري دا اهل خصم چې دي اهل حق نه دي متعصبين دي دې لپاره دوي بحث نه کوي چې ځان پرې حق ته ورسوي بس يو ميشن يې روان کړې هغه په تاسو منل غواړي په قبول قول الغير بلا حجة .

دې تعريف باندې يو اعتراض در باندې کوي : او غلط تاويل کوي دلته بلاحجة کې ددې جار او مجرور تعلق ورکوي تر قول الغير پورې نو معنى دا شوه چې تقليد قبلول د قول د غير دي چې دا قول د غير بلا حجته وي نو دا تعصب ددوي دي دغه معنى د تقليد نه ده بلا حجة جار مجرور تعلق تر قول نه دي تر قبول دي قبول د قول د غير قول د غير خو بلا حجته نه

وي هغه سره به ډير دلائل وي خو دا قبلول ستا به بلا حجته وي ته به تري استدلالات نه غواړي بدون د استدلال او بدون د حجت د طلب نه تا به هغه قبول كړي وي دغه معنى ده.

نن نه تقريباً شل (۲۰) يا پنځه ويشت (۲۵) كاله وړاندې په مردان كې عبدالعزيز نورستاني سره مناظره شوې ده په تقليد باندې په هغې كې دا نورستاني متعصب دا عبارت ويلي دي بلا حجة كې جار او مجرور تعلق تر قول د غير نيسي نو قول د غير بلا دليله دي نو تقليد وايي دې ته چې د ائمه وو سره دلائل نشته او تاسو پسې روان يې هلته جانب مقابل كې درانه علماء ناست دي.

هغوي ورته وايي دا بې انصافي ستا ده ظلم مه كوه چې د بلا حجة تعلق تر قبول دي مونږ ترې دليل نه غواړو دا نه چې هغوي سره دلائل نشته دي زمونږ قبلول بلا دليله دي.

هر كله چې تعريف د تقليد تاسو په دغه حواله د معجم الفلسفي او د نامي په حوالې سره تاسې وپيژندو نو د تقليد په تعريف كې اتباع راغله.

اوس د تقليد د اتباع او د اطاعت ددوي مينځ كې څه فرق شته دي او كه نه اګر كه په اصطلاح عامه كې خو فرق داسې لري چې اطاعت اطاعت الامراء كې مستعمل دي د بادشاه او د حاكم او د امارت اسلامي قانون چې مني نو دې ته مطيع ويلې شي اتباع استعمال شوې ده په دين د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم كې او تقليد چې كوم دي دا په فروعي جزئياتو كې دائمه وو د علماو په اقوالو په تسليم كې استعمال شوې دي.

خو ددې دا معنى نه ده چې ګنې د تقليد اطلاق په اتباع نه كيږي او يا به د اتباع اطلاق په اطاعت نه كيږي او يا به د اطاعت اطلاق په اتباع نه كيږي نه په معنى كې ددې هر يو اطلاق په بل كيدې شي دا سره بعيد نه دي.

وهابيان او منكرين د تقليد ابتدائي دعوى كې تاسو سره په دې كې نزاع جوړوي او ته به هم ترې دا تپوس كوې چې ستا په نزد باندې مخكې له بحث نه تقليد اتباع او اطاعت الفاظ مترادف قريب المعنى دي او كه نه دا سره متبائنين دي دوي دلته قول دا كوي چې اتباع او تقليد او اطاعت ددوي مينځ كې سره ترادف نشته مساوات نشته يعنې اطلاق د يو په بل نه شي كيدې نو معنى دوي دا كوي چې اتباع ويلې شي تسليم قول الغير مع الدليل ته.

او تقليد ويلې شي تسليم قول الغير بلا دليل ته كه دا قول دي بلا دليله ومنه نو دا

تقليد دي او كه د چا قول دي مع الدليل ومنه نو دا اتباع ده.

دوي سخت زور په دې خبره لږوي چې د اتباع او تقليد مينځ كې فرق دي چې بيا يې ځوك را ګير كړي چې ګوره دې ځاى كې دې د دغه عالم خبره منلې تقليد دې وكړو وايي نه ما خو اتباع كړې ده تقليد خو ما نه دي كړي ما خو هغه نه دليل غوښتې دي دليل سره مې د هغه قول منلې دي نو دا اتباع شوه بدون د دليل نه د هغه قول منل دا تقليد شو دا تعريف دوي د ابن قيم د اعلام الموقعين نه نقلوي.

په دغه تعريف كې هم دوي اصول نه لري او خپله هم مقلدين شول پ. ذكر د تعريف كې نه پوهيږم چې دوي ولې ليوني شوي دي چې د تقليد او اتباع په مينځ كې دوي فرق راويستلې دي دا دوي ته نقصان كوي خو په خپل نقصان نه پوهيږي نو چې هر كله دوي د تقليد او اتباع په مينځ كې د مساوات قائل نه شول اطلاق د يو يې په بل جائز و نه ګڼه نو بيا چيلنج ور كړي چې قرآن او حديث كې مونږ ته په تقليد رد و ښايه.

﴿قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا﴾. (سورة البقرة آيت : ۱۷۰)

دا رد كې پيش كوي :

﴿يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا﴾. (سورة الاحزاب آيت : ٦٦).

دا پيش كوي دوي.

نو ځومره قرآن كريم نه چې دوي رد پيش كوي تقليد باندې هغلته په اتباع د أباوو رد راغلې او دې په ابتداء كې د اتباع او د تقليد په مينځ كې د فرق قائل دي نو رد خو په اتباع راغې په تقليد خو نه دي راغلې او كه وايي چې اتباع او تقليد يو شې دي نو ستاسو رسائل مشحون او مملوء دي په دې باندې چې اتباع او تقليد فرق لري نو دا دوي ته نقصان كوي خو احمقان سره را غونډ شوي په خپله ګټه نه پوهيږي د ابن قيم تعريف صحيح دي : تسليم قول د غير بلا دليله دا تقليد دي او مع الدليل اتباع ده.

خو اطلاق د تقليد په اتباع كيږي او د اتباع په تقليد كيږي په خارج كې د دې اطلاق په يو بل كيدې شي كوم اعرابو چې ايمان راوړې دي د نبي عليه السلام نه يې طلب د معجزې كړي په طبق نبوت كې هغه ته متبع ويلې كيږي او كوم صحابه وو چې د نبي عليه السلام قول منلې بدون د معجزې نه بدون د طلب د دليل نه دا ټولو ته مقلدين ويل كيږي.

هر کله چې صحابه ټول مقلدين شول مونږ او تاسې به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قول منو تسليمه وو به يې مع الدليل که بدون د دليل نه بدون د دليل نه قول الرسول مونږ ته بدون د دليل نه قبول دي او تسليم د قول د غير بلا حجة تقليد دي کنه نو مونږ ټول مقلدين د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ شو او حال دا چې دغه تقليد ته اتباع وويلې شوه قرآن عظيم الشان کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اطاعت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اتباع د اتباع او اطاعت الفاظ استعمال شوې دي نو د اتباع او اطاعت اطلاق په تقليد باندې کيږي د تقليد اطلاق په اتباع باندې کيږي کله چې دې بلا دليله تسليمي وکړه.

او که چرته دې مع الدليل دي تسليمي وکړه نو بيا ورته اتباع ويل کيږي او تقليد ورته نه شي ويل کيدې تاسو ته به دا راشي چې کوم خلک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اقوال بدون د دليل تسليموي دا مقلدين دي په دوي باندې اطلاق د تقليد کيدې شي.

المبحث الأول : الاستدلالات من القرآن الكريم :

منکرينو د تقليد عوامو ته او خواصو طالبانو ته په ذهن کې يو تشويش اچولې دي دوي داسې يو نظر ورکړې دي چې دا تقليد د ائمه وو ګڼې داد قرآن او سنت نه خارج يو ثالث څيز دي او داسې يو نظريې ورکړې دي چې مقلدين د قرآن او سنت په مقابله کې قول د امام ته ترجيح ورکوي نو دا خو افتراء ده دوي ده په ټولو اصولو د مقلدينو باندې زمونږ اصول دا خبره کوي چې ادله د شرعې څلور دي اول دليل مونږ کتاب الله ګڼو مونږ د کتاب الله مقابله کې سنت هم حجت نه ګڼو او ترجيح کتاب الله ته ورکوو.

دويم دليل زمونږ سنت رسول دي دريم دليل زمونږ اجماع ده څلورم دليل قياس د مجتهد دي هلته مونږ په اصولو کې وايو چې هغه قياس دليل دي چې د هغې استناد دې ثلاثه وو اصولو ته شوې وي هغه قياس مونږ منو چې کوم د کتاب الله نه وي اصل د هغې سنت رسول نه وي اجماع امت نه وي دا زمونږ ټول اصول په دې باندې قائل دي.

نو دا محض افتراء ده په مونږ باندې چې مقلدين هغه خلک دي چې قول د امام خپل په مقابله د کتاب الله او سنت رسول کې مقدم ګڼي کوم ځای کې مونږ مقدم ګڼلې دي که په کوم ځه باندې څوک اعتراض لري نو مونږ سره دې کيني د هغې به ان شاء الله جواب واوري چې مونږ د خپل امام قول د قرآن کريم مطابق درته پيش کړو مخالف نشته کوم ځای کې امام صاحب

د قرآن او سنت مخالفت کړې دي؟ دا د تقلید تعریف وه چې ذکر شو.

دا چې تقلید په کومو مسائلو کې ګنجائش لري او کومو کې نه لري:

نو یو مسائل منصوصه دي بل مسائل غیر منصوصه دي هر چې مسائل منصوص دي هغه بیا په دوه (۲) قسمه دي: متعارضه بل غیر متعارضه.

خامخا به تقلید کوي کنه هلته آحادیث متضاد راغلي لکه مسئله د رفع الیدین دا منصوصي ده نص وارد دي په مسئله د رفع الیدین کې چا قیاس پسې ذهاب نه دي کړي او نه دلته قیاس دخل لري او نه په عقل دا مسئلې ثابتیږي که څوک امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ پسې ځي نصوص په آحادیثو کې لري که څوک امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ پسې ځي هم نصوص په آحادیثو کې لري نو دا مسئله منصوصي ده خو متعارضه ده یو اځې د ابن مسعود او د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا د روایتینو تعارض نه دي.

د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خپل روایت او عمل کې تعارض دي نو دا مسئله منصوصي ده خو متعارضه ده د رفع د تعارض لپاره لابد من التقلید د چا قول به مني چې تا ته دلته تعارض ختم کړي او یوه لاره در وښايي دا مسئله منصوصه متعارضه شوه.

بله مسئله منصوصه غیر متعارضه ده او دا په دوه قسمه ده یو هغه منصوصه غیر متعارض ده چې محتمل د احتمالاتو شتی وو نه وي.

بله هغه مسئله منصوصه غیر متعارضه ده چې په هغې کې احتمالات شتی وي.

مسئله منصوصه غیر متعارضه محتمله د احتمالات شتی وو په دغې کې د رفعې د احتمالاتو لپاره او د تعیین د احتمال لپاره لا بد من التقلید تعارض نه وي په کې یو متن راغلې وي په هغه متن کې اختلاف وي او احتمال د ډیرو معانیو لري که یوه معنی اخلي یوه مسئله راوځي او که بله معنی اخلي بله مسئله راوځي دلته د رفع د احتمالاتو لپاره او د تعین د احتمال واحد لپاره لا بد من التقلید.

یو قسم منصوص پاتې شو چې منصوصه وي غیر متعارضه وي محتمل د احتمالاتو شتی وو نه وي هغلته بیا د تقلید ګنجائش نشته دي مثلاً پنځه مونځونه فرض دي په دې کې که تا ته د امام قول وي که نه وي تا ته طبقه عن طبقه په تواتر پاتې ده چې هغه فرضي مونځونه د ورځې پنځه دي او په دغه دغه اوقاتو باندي دي په دې کې هیڅ نزاع نشته ده یو

روايت هم څوک متعارض نه شي پيش کولې چې مونځونه شپږ دي او چې کوم وارد دي په هغې کې هم څه نزاع نشته البته په تعيين د اوقاتو کې مسئله منصوصي ده مسئله غير متعارضه ده خو محتمله د احتمالاتو شتی وو ده هغه امامت د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ دا يو حديث چې ګوري نو تاته خپله په اوقاتو کې اختلاف ښکاره کيږي ولې د مازيګر مونځ يې وکړو په هغه وخت باندې چې پرون يې په کې د ماسپخين مونځ کړې وه داد حديث الفاظ دي.

اوبل روايت کې دا راځي د ماسپخين مونځ يې په دويمه ورځ په هغه وخت کې وکړو چې پرون يې په کې د مازيګر اول مونځ کړې وه په دې د چا قول دي چې د ماسپښين او د مازيګر په مينځ کې تداخل دي او داسې يو وخت ده چې دواړه په کې کيږي.

داد چا مذهب دي داد هيڅا رايه هم نه ده د اهل حديثو هم دا رايه نشته دي نو حديث صحيحه د امامت د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اول او آخر مونځونه ورته ښايي چې دې مينځ کې تا ته وخت دي الفاظ يې دغه دي چې د ماسپښين مونځ يې په دويمه ورځ په هغه وخت کې وکړو چې په کوم وخت يې پرون د مازيګر مونځ کړې وه.

نو پرون د مازيګر مونځ شوې وه مثل اول ختم وه مثل ثاني شروع وه صبا ته يې د ماسپښين مونځ په دغه وخت کې وکړو نو د ماسپښين وخت مثل ثاني ته اوږد شو کنه د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ترې ثابت شو چې مثل ثاني د ظهر نه دي ليکن هغه بل جانب چې استدلالات ترې کوي هغه يې د پروني امامت نه کوي همدې حديث نه يې کوي چې پرون يې دې وخت کې د مازديګر مونځ کړي چې د مازديګر يې وکړو خو مثل ثاني مازديګر شو کنه.

نو ګوري دا تعارض نه دي يو شان حديث دي ليکن محتمل د احتمالات شتی وو دي د رفع د احتمالاتو لپاره او د تعين د احتمال لپاره لابد من التقليد.

خلاصه دا شوه مسئله منصوص مسئله غير منصوص مسئله منصوص متعارض غير متعارضه مسئله غير متعارضه محتمل د احتمالاتو او محتمل د احتمالاتو نه وي کومه چې منصوص وي غير متعارضه وي محتمل د احتمالاتو نه وي تقليد جائز نه دي بيا کومه چې منصوص وي غير متعارض وي محتمل د احتمالاتو وي دلته تعين د احتمال لپاره لابد من التقليد تقليد نه لابدي ده کومه چې منصوص وي خو متعارض وي لابد من التقليد.

او څه مسائل غیر منصوصي دي هر چې مسائل غیر منصوصي دي هلته بیا لا بد من التقلید مطلقاً نص نشته څه به کوي هغه مسئله کې جزیه تاته راپیښه شي او نص کتاب الله کې او سنت رسول کې نه وي نو خود بخود به په هغه مسائلو کې د چا قول پسې ځي په هغې کې به هم اقوال د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وغیره راشي یا د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بذات خود خپل اقوال به راشي چې کوم یو ځای کې تاسو کتاب الله او سنت رسول نه وي نو هلته تاسو لاړ شي په کوم چې فیصله صالحینو کړې وي که هغې کې نه وي :

فاجتهد برأيك، په خپله رایه دې اجتهاد وکړي خو دا خطاب مجتهد ته وه کوم شو تا کې قوه د اجتهاد نشته خپله د مجتهد قول پسې ذهاب وکړه .

شیخ حسن جان صاحب -نور الله مرقده- به کله غصه شو ویل به یې چې هغه احمق انسان چې هغه نصوصو کې تعارض نه لا خبر نه دي چې ګنې نصوص هم متعارض دي یو خو عوام دي عوامو ته خو چې دا نظر ورکړې شي چې کتاب الله او سنت رسول شته امام ته څه ضرورت دي نو هغوي وایي چې ریشتیا وایي کنه قرآن او سنت چې وي بیا امام صاحب ته په کې څه ضرورت دي نو جاهلان خو پوهیږي نه چې آحادیثو کې تعارض دي .

یوائې بخاري شریف کې په سلګونو تعارضات دي یو ځای کې یو روایت دي بل ځای کې بل روایت راغلی دي عوام خو ددې نه خبر نه دي لا علمه دي هر چې علماء او طلباء دي شیخ حسن صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ به غصه شو چې دا وهابي کیږي دا لوي احمق وي دې واي بنه پوهیږي چې په روایاتو کې تعارض شته دي او دې دغې تعارض د دفعې لپاره د چا قول ته ضرورت دي نو بیا د امام صاحب سره څه تعصب را اخیستي چې دا مذهب پریږدي او په بل کې داخلیږي یو کې خو به خامخا تنوځي چې رفع د تعارض کوي .

اول دلیل چې مونږ پیش کوو دې کې به د اهل حدیثو اصل مات شي زمونږ اصل څه دي چې ادله څو دي اربعة څلور دي او ددوي اصل دي چې ادله دوه دي کتاب الله سنت رسول دې نه اخوا دوي دلائل نه مني چې کله دې د سنت رسول نه اخوا یو دلیل هم پیدا کړو بس په دوي رد راغلو خود بخود مثلاً نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړو چې تاسو ما نه بعد په صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پسې اقتداء وکړي ما نه بعد تاسو عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پسې اقتداء وکړي .

تاسو دده متبعین شي دا خود بخود په اهل حدیثو رد دي ځکه هغوي وایي ادله دوه (۲) دي چې دوه (۲) دي قول د صدیق اکبر رضي الله عنه او قول د عمر فاروق رضي الله عنه په سنت رسول کې نه دي داخل دا خود بخود په هغوي باندې رد دي.

سورة نساء آیت نمبر :۵۹ :

دا فرق باید هم ښکاره وي چې زمونږ څو مره استدلالات وي اکثر أ مُصَدّرْ به وي په يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ باندې او یا به هغه حال د بیان د مؤمنینو وي.

او ددوي چې څومره استدلالات راځي وي ګوري دا به د مکې معظمې د مشرکینو باره کې نازل شده ایات پیش کوي یا به يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ، نو په سترګو روند شي یا اهل الکتاب وایي یا اهل پشاور خو نه وایي یا اهل افغان خو نه وایي نو دا یا اهل الکتاب باندې به مصدر وي.

نو چونکې دوي خوارج دي آیتونه نازل شده په حق د کفارو کې په مؤمن چسپانوي نو دوي او سه پورې د اهل کتابو او د یهودو او د عیسویانو او د مشرکینو باره کې نازل شده آیات او هغه چې يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ باندې خطاب وي هغه نه شي بیلولې.

زمونږ دلائلو ته ګورئ په يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ سره به خطاب کوي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ ای د ایمان والو.

﴿أَطِيعُواْ ٱللَّهَ﴾ اطاعت وکړي د خدای تعالی، اطاعت الله څه شي دي اطاعت د کتاب الله دي.

﴿وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ﴾ او اطاعت وکړي د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، اطاعت الرسول څه شي دي هغه اطاعت د سنتو د هغه دي.

﴿وَأُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ﴾ اطاعت وکړي د أُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ستاسې نه.

د معروفو صحابه کرامو په نزد باندې مراد د اولی الامر نه فقهاء دي اطاعت وکړي د أُوْلِي ٱلْأَمْرِ د خاوندانو د فقه، مِنكُمْ ستاسې نه.

دلته يو تفسيرد عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي او بل تفسير دي د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي أُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ دا نازل په حق د امراء د سرايااوو کې دي د يو سرې او د يو کنډک د امير او د يو قومندان متعلق چې تاسو جهاد کې د قومندان خبره ومني ، دا تفسير د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي .

تفسير د عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا دا دی :

أُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ أولى الفقه منكم اولى العلم منكم .

تاسو کې چې علماء دي فقهاء دي د هغوي اطاعت وکړي .

نو اوس چې ته دا دليل پيش کوي ضرور درته د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه تفسير مقابل کې پيش کوي چې دا خو امراء د سراياوو يادوي حکماء يادوي امارت اسلامي يادوي دا عالم ار فقيه نه يادوي .

نو لنډ جواب به دا وي چې آيا تفسير د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مقابل د تفسير د عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا کې څه مثابت او منزلت لري انصاف په کار دي په صحابه کرامو کې د هر چا خپله رتبه ده د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تفسير په مقابله د تفسير د عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا کې به څومره اهميت ولري .

هغه خو رئيس المفسرين في التفسير دي په تفسير کې د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا تفسير چې متعارض راشي د تفسير د حضرت عبد الله ابن مسعود او د ابن عمر او د حضرت عبد الله ابن الزبير د ابو موسى الاشعري او د ابو سعيد الخدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دې ټولو نه مقدم دي سواد خلفاء اربعه وو نه چې هغوي ته امت مسلمه په يو ځانته عقيده قائل دي ګنې داسې علماء شته چې په تفسير کې قول د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خلفاء هم مقدم ګڼي نو په تفسير کې عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ امتيازي شان لري .

قول د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ده مقابله او معارضه نه شي کولې صحيح دي هلته هم حديث راغې روايت موقوف راغې دلته هم ترجمه موقوفه ثابته شوه اوس دا دواړه ته په معارضه کړه نو معارضه کې تفسير د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د تفسير د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه شي کولې دا چې مونږ وايو مراد د اولى الامر نه فقهاء دي علماء دي تفسير الدر المنثور

جلد ۴صفحه ۵۰۴ سیوطي رَحِمَهُ‌ٱللَّهُ فرمايي :

وأخرج ابن جرير و ابن المنذر و ابن أبي حاتم والحاكم عن ابن عباس في قوله : وَأُوْلِي الْأَمْرِ مِنكُمْ يعني اهل الفقه والدين و اهل طاعة الله الذين يعلمون الناس معاني دينهم .

هغه چې خلکو ته د دین معاني ښايي .

ويأمرونهم بالمعروف وينهونهم عن المنكر فأوجب الله .

بس واجب کړو خدای تعالی .

طاعتهم على العباد . د فقهاء علماء طاعت خدای تعالی لازم کړو په عبادو باندې دا مونږ چې تقلید ته واجب وایو نو دا دغه ځای نه چې ابن عباس رَضِيَ‌ٱللَّهُ‌عَنْهُ لفظ د وجوب استعمال کړي .

ما یو کس ته دا آیت پیش کړي وه عالم وه نو ما ته یې وویل چې بیا په اطیعوا امر متوجه اولی الامر ته شو نو امر د وجوب تقاضا کوي بیا خو د قرآن کریم نه چې امر ثابت شي بیا خو تقلید فرض شو ته خو ورته فرض نه وایي واجب ورته وایي نو ما وویل چې زه واجب ورته ځکه وایم چې دې کې د حضرت ابو هریره رَضِيَ‌ٱللَّهُ‌عَنْهُ تفسیر منقول دي نو شبه راغله که د حضرت ابو هریره رَضِيَ‌ٱللَّهُ‌عَنْهُ تفسیر دلته نه وایي چې امراء د سرایاو مراد دي نو دا به فرض وایي بیا منکر به یې کافر وایي خو چونکې دلته شبه راغله .

هغه مخکې چې استدلالات تقسیم شوې وو څلورو انواعو لره یو دلیل وي **قطعي الثبوت قطعي الدلالة** نو هغه په صورت د امر کې افاده د فرضو ورکوي او په صورت د نهي کې افاده د حرمت ورکوي .

دویم دلیل دي **ظني الثبوت ظني الدلالة** هغه په صورت د امر کې ندب راولي او په صورت د نهي کې کراهیت راولي .

دریم دلیل دي **قطعي الثبوت ظني الدلالة** او څلورم **ظني الثبوت قطعي الدلالة** دا دواړه په صورت د امر کې افاده د وجوب ورکوي په صورت د نهي کې کراهیت تحریمي راولي دا اصول دي زمونږ. دا دلیل دلته قطعي الثبوت دي کوندډې ایت **من القرآن قطعي الثبوت** دي

خو ليکن ظني الدلالة دي دلالت يې په ثبوت د تقليد باندې ظني دي قطعي نه دي ولې ځکه دلته تفسير د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موجود دي نو شبه راغله چې هغه معنى اوس دلته مراد شوه او که فقهاء مراد دي شبه راغله .

نو دليل قطعي الثبوت او ظني الدلالة په موضوع ستا باندې هغه په صورت د امر کې افاده د وجوب کوي نو اطيعوا امر راغلې افاده د وجوب د تقليد يې وکړو او د عالم او فقيه خبره منل دغې ته تقليد وايي تقليد د علماو خبره منل .

حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دغه معنى کې متفرد نه دي ده سره صحابه کرام او تابعينو کې چې کوم عمده دي کوم فقهاء دي کوم مشهور في التفسير دي هغه ټول تابعين ده سره ملګرې دي چې مراد له اولى الامر نه دي مقام کې امراء د سرايا وو نه دي بلکې فقهاء مراد دي .

په دغه مذکوره صفحه باندې د حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت منقول دي :

واخرج ابن ابي شيبة وعبد بن حميد والحكيم الترمذي في نوادر الاصول وابن جرير وابن المنذر وابن ابي حاتم والحاكم وصححه عن جابر بن عبدالله في قوله واولى الامر منكم قال أولي الفقه وأولي الخير .

خاوندان د فقه ستاسې چې دي د هغې اطاعت وکړي .

دريم امام مجاهد تابعينو کې معروف في التفسير تفسير ابن جرير الطبري جلد ۷ صفحه ۱۷۹:

حدثني سفيان بن وكيع قال حدثنا ابي عن علي بن صالح عن عبدالله بن محمد بن عقيل عن جابر بن عبدالله قال حدثنا جابر بن نوح عن الاعمش عن مجاهد في قوله أَطِيعُواْ اللهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ قال اولى الفقه منكم .

خاوندان د فقهې ستاسو کې .

تفسير ابن جرير الطبري جلد ۷ صفحه ۱۸۰ :

حدثني محمد بن عمرو قال حدثنا ابو عاصم عن عيسى عن بن ابي نجيح واولى الامر منكم قال اولي الفقه في الدين والعقل .

خاو اندان د عقل او فقه مراد دي د هغوي اطاعت وکړي .

پنځم : عطاء بن السائب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مراد ترې نه فقهاء دي :

حدثني يعقوب بن ابراهيم قال حدثنا هشيم قال اخبرنا عبد الملك عن عطاء بن عبد الملك السائب في قوله أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ قال اولى العلم والفقه.

دارنګې د عطاء بن ابي رباح هغه هم رايه داده چې مراد ترې فقهاء دي تفسير الطبري جلد ۷ صفحه ۱۸۱ :

حدثني المثنى قال حدثنا عمرو بن عون قال حدثنا هشيم عن عبد الملك عن عطاء واولى الامر منكم قال الفقهاءُ والعلماءُ .

دارنګې د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ رايه داده چې مراد ترې نه علماء دي .

حدثنا الحسن بن يحيى قال اخبرنا عبد الرزاق قال اخبرنا معمر عن الحسن في قوله وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ قال هم العلماء .

دارنګې ابو العالية رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې مراد ترې نه علماء دي :

حدثني المثنى قال حدثنا اسحاق قال حدثنا ابن ابي جعفر عن ابيه عن الربيع عن ابي العالية في قوله وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ قال هم اهل العلم .

ابي العالية حسن بصري عطاء ابن ابي رباح عطاء ابن السائب ابن ابي نجيح امام مجاهد عبد الله بن عباس رضوان الله عليهم اجمعين ددوي ټولو دا رايه ده چې مراد د اولى الامر نه فقهاء دي دا په دوه (۲) طريقو په دوي رد شو دوي وايي : اہل حدیث کے دو اصول کتاب اللہ اور سنت رسول ، نو رديې وکړو وربانديې چې دريم هم پيدا شو اطيعوا الله و اطيعوا الرسول دا ستا خبره کے دو اصول په کار دا وه چې اولى الامر يې بيا نه وي ذکر کړې بس خبره به خلاصه وه دا چې رب کريم اطاعت د اولى الامر ذکر کوي دا ددوي د بنيادي اصل بطلان کوي چې ادله

دوه نه دي دريم هم پيدا شو چې هغه قول د فقيه منل دي.

إيرادات مع الجوابات :

اول اعتراض د رباندې دا کوي چې مراد د اولی الامر نه دلته أمراء د سراياوو دي د هغې جواب ذکر شو د ابن عباس او د تابعينو په اقوالو کې چې قول د ابوهريرة رضي الله عنه په مقابله د قول د ابن عباس رضي الله عنه څومره اهميت لري هغه دې وهابيان خپل ګريوان کې سر ښکته کړي او فيصله دې خپله وکړي.

دويم اعتراض دا کوي چې واولی الامر منکم اولی الامر دا جمع ده اولوا جمع د ذو ده کنه من غير لفظ نو اطاعت الله اطاعت الرسول اطاعت د علماءنو وايي دا خو د اجماع منل شو دا وهابيان خپلو کې هم سره وران دي د پنجاب وهابيان ډير متشدد دي هغوي اہل حدیث کے دواصول کتاب اللہ اور سنت رسول چغې وهي دوي هم په خوله دا چغې وهي خو چې راتينګ يې کړي نو اجماع بيا مني وايي دا خو اجماع ده او اجماع مونږ منو اولی الامر علماء په يوه خبره راغونډ شول منه يې.

نو د هغې جواب به داسې کوي چې دلته اطيعوا جمع راغلې ده و اولی الامر دا هم جمع راغلې او جمع مقابل د جمع کې تقسيم د احادو په احادو قبلوي دا يوه معقوله قاعده ده نو معنی دا شوه چې اطاعت وکړي هر يو د يو فقيه داسې نه شي کيدې چې ته به راځې د ټولو فقهاو اطاعت به کوي د فقهاو عبارات به متضاد وي څنګه به اطاعت کوي يو به په خوب اودس ماتوي بل به يې نه ماتوي دغه وخت کې به څه کوي يو به په وينه اودس ماتوي بل به يې نه ماتوي نو بيا به په اوړي کې يو مذهب ته ځې او په ژمي کې به بل مذهب ته ځې.

چې اوبه ښې لګيږي بيا به په وينه اودس مات وي حنفي به وي او چې ژمې شي بيا به اودس نه يې مات کنه بيا به شافعي يې بيرته خو د هوا او د خيټې متبع شوې ته خو د دليل متبع نه شوي او نه د رايي نو جمع په مقابل د جمعې کې تقسيم د احادو په احادو قبلوي هر يو د يو فقيه ومني دغه يې نچوړ دي د ټولو نه منلې کيږي د هغوي اقوال متضاد دي.

يو وخت د بحث په ټيم کې ما ددوي يو ملا ته ويلې وه ما ته يې وويل چې دا جوړ شوې قواعد دي دا مونږ نه شو منلې چې جمع مقابل د جمعې کې تقسيم د احادو په احادو قبلوي

ما وويل دا به ته خپله مني څنګه يې نه شي منلې چې ژاړي او که خاندي دا به ته مني وايي دا خو خلکو جوړ کړې دي دا په کوم ځای کې راغلي چې جمعه مقابل د جمعې کې تقسيم د احادو په احادو قبلوي.

ما ورته وويل : وامسحوا برؤسكم ، امر راغلې دي د سر مسحه فرض ده وايي هاو ما ورته وويل دليل راته پيش کړه وايي : وامسحوا برؤسكم ، ما وويل رؤس جمع ده اقل د جمعې درې دي هر يو او دس والا به درې درې (۳) سره مسحه کوي هله به يې او دس صحيح کيږي ځکه جمع راغله دلته چې په ما اعتراض کوي چې جمع راغله ديو فقيه قول ترې نه ثابتيږي ټول فقهاء به مني لا اقل درې خو به مني اګر که مونږ درې منلې دي امام ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ امام ابي يوسف امام محمد رَحِمَهُمَا اللهُ زمونږ مذهب جوړ دوي نه دي کنه.

خو هسې دوې ته تحقيقي جواب دادی چې دا جمع مقابل د جمعې کې ده تقسيم د آحادو په آحادو باندې نو دليل يې وامسحوا پيش کړو ما وويل چې وامسحوا برؤسکم کې رؤس جمع ده او ته جمع مقابل د جمعې کې تقسيم د آحادو په آحادو قبلوي دا قاعده مني نه چې مني يې نه هريو سړي به درې درې سره مسحه کوي نص دا ثابتوي بيا غلي شو.

نو خپله دې ته جوړ شو چې جمع مقابل د جمع کې تقسيم د آحادو په آحادو قبلوي هر سړي يو سر مسحه کړي دلته هم اطيعوا جمع ده اولی الامر جمع ده جمع مقابل د جمع کې تقسيم دآحادو په احادو قبلوي هر يو د يو فقيه خبره و مني دا دويم اعتراض وه د دوي دې ځای باندې.

دريم اعتراض دادی چې وګوره اطيعوا اطيعوا هلته ذکر د اطيعوا مکرر اولی الامر منكم دلته اطاعت نه دي راغلي چې نه دي راغلي نو معنی دا شوه چې د فقيه هره خبره نه شي منلې بلکې ته به په کې سوچ کوي چې کومه خبره موافق وي د کتاب الله او سنت رسول سره قبلوي به يې کنه رد وي به يې نو چې ورته وايي څه نه پته لګي وايي دلته يې اطيعوا مکرر نه کړو کنه دا خو د قرآن عظيم الشان طرز او طريق دي بليغ او فصيح کلام دي درې ځل چې اطيعوا مکرر شوې واي په ژبه به څو مره درو ند لګيدې لکه اطيعوا الله و اطيعوا الرسول واطيعوا اولی الامر منكم دا خو به تکرير وه له دغه تکرير نه ځان ساتلې شوې دي او هغه واو د عطف لپاره دي

او عطف هم ددې لپاره دي چې اولي الامر دلته منصوب ولې دي دا په الرسول عطف دي چې عطف شو نو عامل د الرسول په ده کې عامل شو کنه اطيعوا الرسول واطيعوا اولي الامر که.

او که ته داسې ترک د لفظ د اطيعوا نه استدلال په دې باندې کوي چې د اولي الامر هره خبره به منل نه وي قرآن عظيم الشان کې دوه ځايه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ متعلق دا راځي اطيعوا الله والرسول لفظ د اطيعوا په الرسول کې ترک شوې دي نو اوس به دا معنی وي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به هره خبره نه منو سوچ به کوو په کې چې کومه سمه وي منو به يې او چې کومه سمه نه وي بيا به يې نه منو.

د ترک د اطيعوا نه چې دا استدلال کوي نو هلته په والرسول کې هم ترک د اطيعوا راغلې دي کنه هم دا به وايي چې والرسول عطف دي په الله باندې هغه معمول منصوب د اطيعوا دي دلته اطيعوا مکرر دي ددې خبرې ايجاد ورته رستمي کړي هغه دوي کې دوه درې تکي ملا دي چې ګوره دا اطيعوا رانغي نو دا دريم اعتراض شو.

څلورم اعتراض دادی وايي دا وروستو آيت په تاسو باندې رد کوي فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ که په جګړه شوې په څه شي کې فَرُدُّوهُ رد کړي مسئله متنازع فيها شي متنازع فيه إِلَى اللهِ الى کتاب الله وَالرَّسُولِ الى سنة رسول إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا.

وايي دا آيت خو ثابتوي چې مسئله لانجه منه به کتاب الله او سنت رسول ته ردوي دا خو يې نه دي ويلې چې فقه ته به يې رد کړي اولي الامر ته به يې رد کړې وايي دا روستي ايت خپله په تاسو رد دي.

نو جواب به دا وي چې يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ اطيعوا الله و اطيعوا الرسول واولي الامر منکم دا خطاب عام دي چا ته يا ايها الذين آمنوا ته چې په چا د ايمان اطلاق کيږي هغه ټولو ته دا خطاب دي او که ته وايي چې مقلد خو د امام خبره منې قرآن او سنت باندې استدلال نه شي ولې نه شي دا خبره غلطه مشهوره شوې ده مسئله چې منصوصي وي غير متنازعه وي محتمله د احتمالاتو نه وي دا په سونو مسائل دي هغې

خو هر سړي کولې شي چې کتاب الله نه اخذ وکړي زه مؤمن يمه مقلد يمه ته مؤمن يې مقلد يې په مسئله منصوصي غير متعارضه کې ته نص نه اخذ کولې شي کنه دا مونږ مقلدين ځومره ځايونو کې مونږ په توسل او په دې مسائلو کې اخذ کوو په تبرک کې يې کوو.

دا اوسه پورې مونږ چې دلائل وايو مقلدين يو کتاب الله او سنت رسول نه اخذ کوو ولې کوو ځکه يې کوو دا مسئله د ائمه وو مينځ کې اختلافي نه وي اتفاقي مسئله وي نصوص وربانده وي تقليد ته ګنجائش په کې نشته نو دلته خطاب عام دي چې په چا د ايمان طلاق کيږي نو تر دې ځای پورې چې اولی الامر منکم اطاعت د فقهاو به کوي.

چې کوم سړي اطاعت د فقهاو نه کوي او اطاعت د فقيه ته شرک او ناروا وايي د قرآن کريم دې نص نه انکار دي پاتې شو فان تنازعتم دلته بل خطاب راغې ګوري يا ايها الذين منوا دا يو خطاب دي فان تنازعتم که تاسو په جګړه شوې دا تاسو کې خطاب دوي وايي چې يا ايها الذين آمنوا نه دي ای مؤمنانو که په جګړه شوي نه تفسير ته لاړ شه ځان په خبره پوه کړه د قرآن کريم غلطې ترجمې مه کوي فان تنازعتم دا خطاب دي اولی الامر ته فقهاء مجتهدينو ته دا خطاب دي د اولی الامر منکم خطاب عام د مؤمنينو وه اوس دې ځای پورې خطاب خلاص شو.

فان تنازعتم أي اولی الامر ای فقهاء ای مجتهدينو که د تاسو په يوه مسئله کې لانجه راغله فردوه الی الله والرسول تاسو به بيا مسئله کوم ځای نه را اخلي فقهاء مجتهدينو تاسو به يې بيا کتاب الله او سنت رسول ته ردوي.

نو دا خطاب مجتهدينو ته دي مقلد او عامو مسلمانانو ته نه دي دليل په دې باندې هيڅ دليل ته ضرورت نشته د عقل په لحاظ سره تکليف بما لا يطاق چې کوم دي دا ظلم دي عدل نه دي خالق داسې نه کوي چې څوک د يو شي طاقت نه لري او هغه يې مکلف کړي دا خو عدل نه دي دا خو ظلم دي اله العالمين تکليف بما لا يطاق نه کوي.

عام عباد مثال په طور زه تاسو ناستو طالبانو کې يو کشر طالب پاخوم نو چې پاڅيده دا به په يا ايها الذين آمنوا کې داخل وي او که نه به وي داخل دې کنه که ته وايي چې ان

تنازعتم دا خطاب چا ته دي یا ایها الذین آمنوا ته دي اوس معنی دا شوه چې ای فلانیه تاته چې مسئله پیښه شوه رد یې کړه کتاب الله او سنت رسول ته نو دا اوس مسئله سنت رسول ته ردولې شي دده په وس کې ده دا خبره دا خو کشر طالب ده کنه تکلیف بما لا یطاق خالق کوي چې دده وس نه کیږي او خالق ورته وایي چې وي کړه .

یو عام سړي چې بازار کې سبزي خرڅوي یا نور څه کار کوي نو یا ایها الذین امنوا کې داخل دي که نه دي داخل دي کنه فردوه الی الله والرسول تماتر چې خرڅوي هغه هم رد د مسئلې کتاب الله او سنت رسول ته کولې شي د عقل په لحاظ باندې دا خو تکلیف بما لا یطاق دي دا په کروړونو عام جاهل خلک چې بې علمه دي دوي د مسئلې رد کتاب الله او سنت الرسول ته څنګه وکړي.

دا زمونږ حنفیان په ځای پریږده ددوي وهابیان خو تول په تولـه ملایان نه دي کنه کله هم چې مباحثه او مناظره وه نو پنځه به ملایان ناست وي پنځوس به عام وهابیان ناست وي چې دې ځای ته راورسیده دا ملا به په ځای پریږدي او امي به د غوږ نه راونیسي یو مسئله به ورته د طلاق او عتاق مخې ته واچوي وایي دا لږ کتاب الله ته رد کړه دا سنت رسول ته رد کړه چې دا څنګه ردیږي ردولې شي نه شي ردولې تکلیف بما لا یطاق خالق کوي نه دا واضح دلیل ددې خبرې دي چې دا خطاب اولی الامر ته دي ای فقهاء مجتهدینو تاسو مسئله بیا رد کتاب الله او سنت رسول ته کړي دوي د قرآن کریم معنوي تحریف کوي په هر ځای کې کړي دي چونکې په نحو صرف باندې پوهیږي نه د خطاباتو د ضمیر په ارجاع پوهیږي هم نه او د ځان نه یې راجع کوي چې چا ته یې راجع کړو یو مشن روان دي .

زما دغه تاویل تفسیر جصاص کړي دې احکام القرآن للجصاص جلد ۳ صفحه ۱۷۷ کې مذکور دي :

فان تنازعتم في شيء فردوه الی الله والرسول یدل علی ان اولی الامر هم الفقهاء .

اولی الامر فقهاء دي وایي دا بل دلیل شو په دې د ابن عباس رضي الله عنه د ترجمې تائید پیش کوي که مراد له دې نه امراء د سرایا و وایي اکثرا قومندان د جهاد امي سړي وي د وخت

هغه ناپوهه چې هغه کوتاه وي د درک د نظر نه نظر هغه اجتهاد او استدلال دي چې دې د اجتهاد او استدلال درجې ته نه وي رسيدلې په دغه باندې دوي اطلاق د جاهل هم کوي د غير عالم هم کوي د عامي هم کوي د متفقه هم کوي .

واختلف العلماء في جوازه في مسائل الاصول . هر چې اصولو کې دي اختلاف دي .

واما جوازه في مسائل الفروع فصحيح . فروعي مسائلو کې تقليد صحيح خبره ده چې دا جائز دي .

الرابعة التقليد عن العلماء حقيقته قبول قول بلا حجة وعلى هذا فمن قبل قول النبي ﷺ من غير نظر في معجزته يكون مقلدا .

تاسو ته ما مخکې ابتداء کې دا ويلې وه که چا د نبي عليه السلام قول قبول کړو بدون د معجزې نه او سوچ يې په معجزاتو کې ونه کړو قبلوه يې لکه مونږ او تاسو ټولو د نبي عليه السلام قول بدون د معجزې نه قبلوو عوامو ته معجزه سندي څه معلومه وي چې دا معجزه ده يې قول قبلوي نو دا مقلِد دي .

واما من نظر فيها فلا يكون مقلدا . او که چا يې په معجزه کې نظر وکړو او د معجزې د طلب نه بعد يې قول تسليم کړو نو بيا مُتبِع دي خو مقلِد نه دي دا اول استدلال وه زمونږ په خپله دعوى باندې څلور اصولو د پاره زمونږ دري اصولو ته دغه ايات جامع دي ﴿ أَطِيعُواْ اللَّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ ﴾ .

دري اصول شو څلورم اصل اجماع ده اجماع د پاره د سورة نساء هغه ايات دليل دي:

﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءتْ مَصِيرًا ﴾ .

هغه څوک چې هغه تابعداري کوي د مؤمنانو لارې نه سوا د بلې لارې تابعداري کوي وبه يې ګرځوو کوم ته چې ده مخ ګرځولې ده منتهى کې به يې جهنم ته داخل کړو بده مرجع ده.

په دې ځای باندې تفسير الکبير تفسير القرطبي روح المعاني څومره تفاسير چې تاسو ګوري په دې ځای باندې وايي چې دا ايات دليل دي د حجيت د اجماع لپاره چې اجماع دليل دي.

ايات نمبر ثاني :

سورة نساء ايات نمبر ۸۳ :

﴿وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ﴾.

كله چې راشي دې منافقينو ته يو كار د امن يا د خوف خور كې دوي هغه لره.

﴿وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الأَمْرِ مِنْهُمْ﴾.

كه چيرې دوي رد كولې دغه كار إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الأَمْرِ ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِينَ﴾ پوه شوې به وه په حقيقت د هغې هغه كسان ﴿يَسْتَنبِطُونَهُ﴾ چې هغوي طلب د استخراج د هغې كوي.

﴿مِنْهُمْ﴾ له دوي نه دوي كې چې كوم مستنبطين دي هغه به پرې پوه شوې وه.

﴿وَلَوْلاَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لاَتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلاَّ قَلِيلاً﴾.

دا ايات دا ثابتوي چې په كومې مسئلې پوه نه شوي د هغې رد وكړه والرسوال لره او رد يې وكړه اولى الامر لره نو ددوي هغه اعتراض هم دفع شو چې هلته يې ويلي. وه فان تنازعتم في شيء فردوه الى الله والرسول نو رد اولى الامر ته نه دې په كار دغه ايات دا ثابتوي چې رد به اولى الامر ته هم كوي او اولى الامر څوك دي ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ﴾ چې هغوي نه اهل د استنباط دي استنباط څه ته وايي طلب د نبط نبط څه ته وايي كوهي كې چې اولې اوبه راوځي هغه راويستل نو فقهاء ته مستنبطين ځكه وايي چې دغه مسائل چې منصوص نه وي قرآن كريم كې د هغې اصول پراته وي خو دومره ژور وي لكه لاندې كوهي كې اوبه چې پرتې وي.

نو هغه دوي په خپلو مشقاتو او تكاليفو د عقل په استعمال سره د هغې ځاى نه راوباسي د قرآن كريم او د احاديثو مثال يې ديو كوهي او د بحر سره وركړې هغه مسئله چې وركه ده نص كې ښكاره نه معلوميږي د هغې تشبيه يې د نبط او اوبو سره وركړې او دا مجتهد يې مستنبط دي هغه نبط اوبه د هغه ځاى نه را اوباسي.

شيخ حسن جان صاحب به عامه خبره كوله دا به يې ويل وايي داسې احمقان دي چې هلكه دې كوهي نه اوبه ما را ويستي او ګيلاس كې مې واچولې پاكې سُتره اوبه او تاته مې

درکړي چې دا او به وڅکه او ته احمق يې وايي چې نه نه زه او به خپله را او باسمه نو را او باسه کنه ځان به پرې سترې کړي او چې څومره هم ځان سترې کړي هغه نصوصو ته به ځي او ائمه وو چې کوم اقوال کړي په همغې اصولو به بيا مسئله راوباسي هغه چا چې تيارې راويستلي او په ګيلاس کې درته اچولې خوله کې درکوي د هغې ناشکري کوي او شرک يې ګڼي خپله دې ځان پرې بيا سترې کړي دي او هسې اچار دې جوړ کړي .

يو ه مسئله دې مذهب نه راپېژو بله د بل مذهب نه پېژو ه کاشکې د دې څلورو مذهبونو اصول دې نه راخيستي او د دوي دلائل او تا چيرته ځان ته يو اصل دې لرلې بيناد دې لرلې بيا به مونږ منلې وي چې ته هم څوک يې .

دا خو اسان کار دي کمپيوټر ته کينه امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دا وايي بس متون الحديث ته دا حديث ورواچوه د احاديثو استخراج وکړه بس دې ستا چې کومه رايه وي په خيټه کې هغې ته ترجيح ورکړه دلائل وو ايه هغه نورو سره به بيا څه کوي چې هغه متضاد نور روايات راغلي هغه نورو ائمه وو پرې قول کړي دي او د عوامو نه دا حق پېژوي هغې سره به بيا څه کوي .

تفسير الرازي جلد ۱۰ صفحه ۱۵۴ کې د دې ايات کريمه نه د تقليد احذ کوي :

ولولا ان الاستنباط حجة لما امر المكلف بذلك .

وايي که استنباط دليل نه وايي نو مکلف به يې نه ماموره ولې په رد د مستنبطينو باندې .

فثبت ان الاستنباط حجة .نو ثابته شوه چې استنباط دليل دي .

والقياس . او قياس د فقهاو .

إما استنباط او داخل فيه فوجب ان يكون حجة . نو لازمه شوه چې دليل دې شي .

إذا ثبت هذا فنقول الآية دالة على أمور أحدها ان في أحكام الحوادث ما لا يعرف بالنص بل بالاستنباط . وثانيها أن الاستنباط حجة .

څه حادثې داسې شته دي چې هغې کې به نص صريح نه وي د هغې معلوموالي به په استنباط او استخراج باندې کيږي دويمه دا ثابته شوه چې استنباط حجت دي ځکه يې

مکلف مامور کړو په رد د هغې باندې.

دریمه دا چې:

ان العامي يجب عليه تقليد العلماء في احكام الحوادث. عامي چې دي عامي چې غير مجتهد وي واجب ده په ده تقليد د علماو په حادثو کې.

دا رنګې تفسير اللباب لابن عادل جلد ۱ صفحه ۱۵۴۸:

ومنها ان العامي يجب عليه تقليد العلماء في احكام الحوادث.

دا رنګې تفسير المنير جلد ۵ صفحه ۱۷۸:

ومنها ان العامي عليه تقليد العلماء في احكام الحوادث.

دا رنګې احکام القرآن د جصاص جلد ۳ صفحه ۱۸۳:

ومنها ان العامي عليه تقليد العلماء في احكام الحوادث.

ومنها ان النبي صلی الله علیه وسلم قد كان مكلفاً باستنباط الاحكام والاستدلال.

دې هم مجتهد وه نبي کريم صلی الله علیه وسلم چې کومه مسئله جزيه به پيښنه شوه ده کې وحي کيده او څه به يې استنباط د مسئلې کولو لکه هغه بي بي چې ورته راغله زما پلار وفات شوې دې او په هغه باندې حج وه زه ترې حج وکړم وايي که ستا په پلار د چا قرض وايي نو تا ادا کولې شو وايي هاو وايي دا حق في الاداء حق الله دې دا هم ادا کړه.

نو دا قياس د حق الله يې وکړو په حق العبد باندې په جامع مشترک نو علت سره چې هغه حق حق دې هغلته صحت د اداء د غير نه دلته صحت د اداء د غير نه حکم را معاد شو.

دليل نمبر ثالث:

دا دې څوک نه وايي چې د مفسرينو اقوال مونږ نه منو ځکه چې مونږ غير مقلدين يو او مونږ ته به نصوص پيش کوي دا مونږ تائيد کې را اخلو چې دا څوک ونه وايي چې دا أخذ تاسو ځان نه کړيدې ځان نه مو نه دې کړي په تائيد کې مونږ د مفسرينو اقوال پيش کړل چې دغه فقهاء د غه مفسرين ذهاب دغې مسئلې ته کوي چې کوم ما ورته کړې دې او دا ايات دال ګرځوي په استنباط او د استنباط په حجيت باندې.

دا رنګې ايات نمبر دريم:

والیان او گورنران علماء نه وي ردالی کتاب الله او سنت رسول باندې نه پوهیږي نو که مراد له اولی الامر نه اُمراءد سرایاوو واخلي نو هغوي ته بیا د ان تنازعتم خطاب څنګه متوجه کوي چې امي قومندانانو تاسو مسئله قران او سنت ته راجع کړي هغوي چیرته راجع کولې شي.

او که ته ترې فقهاء واخلي مجتهدین واخلي په رد پوهیږي نو دې وایي ددغه فان تنازعتم د خطاب نه پته لګي چې مراد له اولی الامر نه علماء دي اُمراءد سرایاوو نه دي:

لانه امر سائر الناس بطاعتهم. ټولو خلکو ته خدای امر کړي په طاعت د فقهاء باندې.

ثم قال فان تنازعتم في شيء فردوه الی الله والرسول.

فامر. نو امر وکړو خدای تعالی، اولی الامر لره برد المتنازع فيه الی کتاب الله وسنة نبيه صلى الله عليه وسلم اذا كانت العامة ومن ليس من اهل العلم ليست هذه منزلتهم.

د عوامو دا منزله نه ده چې رد وکړي.

لانهم لا يعرفون كيفية الرد الى كتاب الله والسنة ووجوه دلائلهما على احكام الحوادث

فثبت انه خطاب للعلماء.

ثابت شو چې دا خطاب علماو ته دي عوامو ته نه دي فان تنازعتم عامو ته نه دي لږ انصاف هم په کار دي هر څوک دې ګریوان کې سر ټیټ کړي چې څوک زما خبره اوروي ګریوان کې دې سر ټیټ کړي چې ایا فان تنازعتم کې خطاب امي ته شوې دي نه دي شوې امي ته خطاب هغه اهل ددې نه دي دا به تکلیف د بما لا يطاق لازم شي هغه په لس شل کاله درس وایي هغې نه بعد به کیفیت درد پیژني او ددې زمانې خلک کیفیت درد هم نه پیژني که عالم هم شي څکه په آحادیثو کې تقدیم او تاخیر سنه چا ته معلومه ده د ناسخ او منسوخ پیلول څوک کولې شي رجحان په سند د حدیث او متني اضطرابات څوک دفعه کولې شي هغه محدثین هغه حفاظ هغه ماهرین ددې فن کوم دي او نن صبا چې هغه په دې ټولو ماهر وي په تقدیم تاخیر په ناسخ منسوخ د سند په تحقیق په اسماء الرجال د متن د اضطراب په رفعه باندې نو چې نه وي قادر په دې نو علماو ته هم دا خطاب نه دي په کار څکه چې دلته هم

تکلیف بما لا یطاق دي .

زه مُلا یمه خو کیفیت درد د مسئلې متنازع فیه چې کله غیر منصوص وي یا منصوص متعارضه وي الی کتاب الله ته سنت رسول زه نه شم کولې ترڅو په کې د اسلافو قول راوانخلمه د مجتهدینو قول په کې راونه خلمه نو ته دا خطاب فقهاء مجتهدینو ته دي هغه علماو ته هم نه دي چې کوم اهل ددې کار نه دي .

دا کوم څلور اعتراضات چې ما ذکر کړل دا امین الله بشاوري وهابي په خپله رساله کې کړي دي القول السدید في مسئلة التقلید غالباً چې دا یې نوم دي د کتاب ، د کراچي نه یو عالم کتاب پرې ولیکه القول السدید علی القول العنید ، دا قول عنید یې د بشاوري قول را اخیستې او ټکي په ټکي یې بشاوري ملا کونړي ملا دا خبره کړې پښتو کې لیکل شوې ډیر بهترین کتاب دي .

په یوه صفحه یې عجیبه خبره کړې ده بشاوري ابن ابي شیبة نه نقل کړې دي څه د پاسه سل اعتراضات چې ابن ابي شیبه په خپل مصنف آخري جلد کې کړي هغه یې قطار کړي او خلکو ته دا ښایي چې ګنې زه دومره باتوریمه چې ما په امام ابوحنیفه اعتراضونه کړې دي هغې کې یو اعتراض دادی چې امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې اودس چې کوم دي دا حسن ذاتي نه لري دا حسن لغیره دي که مونځ او طواف وغیره نه واي نو ده کې به څه حسن نه واي نو داد عبادات مقصودي وو نه ، نه دي حسن غیري په کې راغلي دي او حال دادی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي چې دا طهارت او وضوء چې کوم دي شطر الایمان دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته نیم ایمان ویلې دي او امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ ورته عبادات مقصودي نه وایي .

یو یې دا اعتراض کړي دي نو د کراچي هغه عالم چې دې ځای ته را رسیدلي دي وایي عجبه ده دا خو مخکې ما ته پته نه وه چې اهل حدیث وهابیان وایي چې اودس نیم ایمان دي نو وایي عجیبه داده چې کله سرې فساط او ضراط واچوي اودس یې لاړ شي چې اودس یې لاړ شي نو ددوي په فتوی باندې نیم ایمان ترې نه لاړ که ځکه دوي وایي دا خو نیم ایمان دي نو نیم ایمان ترې نه لاړ چې اودس یې وکړو ایمان یې بیرته راغې چې بیا ترې نه فساط او ضراط لاړ شي نو نیم ایمان بیا لاړ .

بيا وايي چې د وهابيانو عجيب ايمان دي چې په يوه پوسكي سره ترې نه نيم ايمان ځي
دا څه رقم ايمان دي چې شطر الايمان دي چې او دس دې مات کړو نو نيم ايمان ترې لاړو کنه
ظاهر بين دي حمقاء دي شطر کل او قاتو کې په معنی د نصف نه وي کله په معنی د حصې سره
راځي او ايمان هلته په معنی د اسلام دي نو د اسلامي ارکانو نه يو رکن خو دي کنه دا چې د
مقاصد مقصود دي وو نه ندي او مقصود للغير دي نو يو شي چې مقصود للغير وي دين نه خو
ونه وته کنه د غير له وجې نه خو حسن په کې راغې کنه.

که دا مونځ طواف تلاوت او نور د دين چې کوم کارونه دي دا ټول نه وايي نو اودس کې
به څه اهميت وه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ خبره په خپل ځاى صحيح ده خو داسې هم نه وايي چې
من الدين نه دي دا خو يې چيرته نه دي ويلې دين نه خو دې خو د دين کارونه څه حسن ذاتي
لري او څه حسن غير لري ده کې حسن غير دي بنائسته خبره يې کړې ده.

نو دې ځاى کې دا څلور اعتراضونه بشاوري کړي دي او جوابونه يې ما وکړل.

بشاوري دغه ځاى باندې يو بل اعتراض هم کړي:

بل دليل دا وايي چې تفسير القرطبي په تقليد باندې رد کړي دې په خپله رساله کې
وايي بيا يې د هغه يو عبارت نقل کړې نو **تؤمنون ببعض الكتاب وتكفرون ببعض** دا د يهودو
کاروي قرطبي که ټول وکتل شي بيا تاته پته لګيږي چې هغه د **تقليد في الاصول** منکر دي که
د **تقليد في الفروع** منکر دي يو په اصولو اعتقادياتو کې تقليد دي يو په فروعو جزئياتو
عملي وو کې تقليد دي دې هغه عبارت زه د دې لپاره نقلوم چې د هغه خوله بنده شي تفسير
قرطبي جلد ۱۱ صفحه ۲۸۲:

مسألة: لم يختلف العلماء، علماء اختلاف نه لري.

ان العامة عليها تقليد علمائها، چې په عامو باندې تقليد د علماء لازم دي **عليها** کې دا
على د وجوب لپاره دي.

وانهم المراد، همدغه علماء مراد دي په دې قول کې چې:

﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾

واجمعوا على ان الاعمى لا بد له من تقليد غيره ، په دې اجماع ده چې کوم سړي قرآن او سنت کې اعمى وي عامي وي دا علماء هم عوام دي مجتهد چې نه شو هغه عامي دي نو په هغوي لا بد له من تقليد غيره .

دا رنګې تفسير القرطبي جلد ۲ صفحه ۲۱۱:

الثالثة – قوم تعلق قوم بهذا الآية .

هغه ايات يادوي .

﴿ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ﴾. (سورة البقرة آيت : ۱۷۰)

ددې تفسير کې وايي تعلق نيولې يو قوم په دې ايات باندې في ذم التقليد ، دې ايات نه يې دليل نيولې چې دا خو مشرکين وه چې ويل به يې چې مونږ پلارانو پسې ځو ددې نه يې دليل نيولې په ذم د تقليد کې .

لذم الله تعالى الكفار باتباعهم لابائهم في الباطل واقتدائهم بهم في الكفر والمعصية .

له وجې د ذم د خدای تعالی نه کفارو لره په اتباعو ددوي اباو لره په باطل کې او اقتداء ددې بچو تر پلارانو په کفر او معصيت کې دي جواب کوي .

وهذا في الباطل صحيح . که ته دا په تقليد باطل کې اخلي يو بچي د پلار پسې په شرک کې ځي پلار يې چرس څکي بچي پسې روان دي په حرامو معصياتو کې نو وايي بيا صحيح دي .

اما التقليد في الحق ، هر چې تقليد دي په حق کې .

فاصل من اصول الدين ، داد دين د اصولو نه يو دليل دي ځکه ادله څلور دي او دا ترې يو اصل دي .

وعصمة من عصم المسلمين . او داد مسلمانانو د ساتلو نه د ساتلو لپاره د بچاو يوه لاره ده .

يلجأ اليها الجاهل المقصر عن درك النظر .

جائز نه دي.

اما من يسوغ له التقليد فهو العامي .هغه تقليد چې ورته جائز دي هغه عامي دي عامي دوي چا ته وايي چې غير مجتهد وي عامي نه عوام جوړ نه کړي چې څوک غير مجتهد وي په اصطلاح د مجتهدينو کې ده ته عامي ويل کيږي دوي ورته غير عالم هم وايي ګوره خپله تعريف کوي.

الذي هغه عامي **لا يعرف طرق الاحكام الشرعية** ، د احکامو شرعيه وو د استخراج طُرق چې نه پيژني نو نه يې زه پيژنم او نه يې تاسو پيژني او نه يې ددې زمانې مفتي پيژني هغه چيرته په اخذ د مسائلو پوهيږي.

فيجوز ، جائز شو ده ته ، **ان يقلد عالماً** چې دې د يو مجتهد تقليد وکړي، **ويعمل بقوله** ، دليل څه دي :

﴿**قال الله تعالى فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ**﴾.

ګوره تقليد لپاره يې دا دليل وګرځوه.

ثم قال بيا خطيب بغدادي په فقيه والمتفقه جلد ۲ صفحه ۳۵۳ کې ليکي وايي ددې داسې مثال دي :

كتقليد الاعمى في القبلة ، چې يو سړي عامي وي طريقه د استخراج د مسائلو شرعيه وو نه پيژني او وايي چې تقليد هم نه کومه وايي داسې مثال دي لکه ړوند سړي د قبيلې په معرفت کې د چا نه مني نو خطاء کيږي به کنه نو ړوند سړي ته کله د قبلې پته لږي او که يو سړي ورته ووايي چې قبله داسې نه ده دا بل طرف ده راتاو يې کړي او دې ورته وايي نه ما ته به دې دليل پيش کړه نو اوس به دلائل پرې وايي دليل به نه وايي تسليم به کوي.

دا ړوند به تقليد کوي څه معنى **تسليم قول الغير بلا دليل** ستر کې پټې دي دا غير چې ورته ويلي قبله داسې ده ددې غير قول به بدون د چون چرا نه قبلوي دا ړوند او که نه يې قبلوي بيا به دا سړي ګمراه وي کوم ړوند چې د بناء خبره نه مني دا به ګمراه وي بيا دغه شان ته دا عوام ددې زمانې دي که علماء دي دا عاميان دي مجتهدين بنايان دي دا ړانده دي په

قرآن او سنت کې چې هر کله راند دي د غه روند به د هغه بناء لاس نیسي او چون چرا نه بغیر به یې قول قبلوي او که قبول یې نه کړو یا به احمق وي یا به ګمراه وي دا سړي.

فانه لما لم یکن معه آلة الاجتهاد في القبلة. آله د اجتهاد في القبلة سترګي دې کنه په عقل خو دا نه معلومیږي په سترګو معلومیږي هغه آله د اجتهاد في القبلة په سترګو معلومیږي مطلب که په یو ځای کې تا نه قبله ورکه شي نو که ته لږ انتظار وکړي د لمر په سفر به هم پوهه شي چې لمر کوم خوا روان دي خپله تا ته په دې علاقو کې پته لګیږي نو چې هر کله رانده سره آله د اجتهاد في القبلة نشته.

کان علیه تقلید البصیر، په ده باندې تقلید د بصیر لازم شو په دې کې کنه دغه شان کوم عوام کوم علماء آلې د اجتهاد في المسائل نه لري په هغوي باندې تقلید د مجتهد لازم شو زه بار بار دا خبره کوم چې مونږ هم رانده یو او وهابیان هم رانده دي دې زمانه کې څوک هم بناء نشته ها داسې نه چې د اجتهاد دروازه بنده ده د اجتهاد دروازه خلاصه ده خو مجتهد مونږ نه دي لیدلي مجتهد نشته.

نو که چا وویلي چې مجتهد دي وخت کې ممکن دي که ممتنع دي نو وایه چې ممکن دي عنقا ممکنه ده وجود لري په خارج کې ممکن ده خو وجود په خارج مونږ نه دي پیدا کړي مهدي آخر زمان به مجتهد وي اتفاقاً د هغه تقلید به د هغې زمانې په خلکو لازم وي بیا.

عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به مجتهد وي تقلید یې په خلکو لازم دي د هغه صحابه به د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کلک مقلدین وي دلائل به نه غواړي د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه چې ما ته دلیل پیش کړه مهدي آخر زمان چې فیصله وکړي نو عوامو ته د دې ګنجائش نشته چې هغوي نه به د دې دلائل غواړي چې دې نه په دې څه دلیل دي هیڅ دلیل به نه وي د هغه قول به قبلوي ځکه هغه دواړه مجتهدین دي دوي کله نا کله دا عوام دوکه کوي کنه چې تاسې وایي چې غیر مقلد ګمراه دي نو عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ مقلد دي که غیر مقلد دي که مقلد وي د چا مقلد دي هغه غیر مقلد دي خو مجتهد دي ته خو نر شه د اجتهاد دعوی خو وکړه ته خو پرې شرمیږي.

دوي هغه خپلو بشاوري او رُستمي ته هم اعلاناً نه شي ویلي چې مجتهدین دې پټ پټ وایي چې کله یې را ګیر کړي نو ولې څه چل کیږي چې مجتهد شي نو بنه په نره ووایه چې

مجتهد دي ويلې نه شي د شرم نه وايي بيا مو راتپنگه وي په هغې .

اوس دا خبره چې عوام به قول د غير نه قبلوي او بلکې مطالبه د دليل به کوي الفقيه المتفقه کې خطيب بغدادي وايي چې داد معتزله وو قول دي .

وحكي عن بعض المعتزلة انه قال لا يجوز للعامي العمل بقول العالم حتى يعرف علة الحكم .

معتزله وايي چې عوام په قول د مجتهد عمل نه شي کولې تر څو چې د هغه د حکم دليل بې نه وي معلوم کړي اوس دا خبره وهابيان کوي چې د مجتهد خبره بدون د معرفت د دليل نه منل نه دي په کار او خطيب بغدادي وايي چې دا قول د معتزله وو دي .

واذا سأل العالم فإنما يسأله أن يعرفه طريق الحكم .دوي داسې وايي چې کله د عالم نه تپوس وشي نو عالم به ورته هغه لاره د استخراج بنايي چې ماپه دې دليل راويستلي ده .

فاذا عرفه وقف عليه وعمل به .دوي وايي چې کله يې دليل وښوده نو بيا به عمل پرې کوي سائل .

وهذا غلط . دا غلطه خبره ده .

لان لا سبيل للعامي الى الوقوف على ذلك .

عوام کله پوهيدې شي په استخراج د مسائلو باندې چې عامي دليل وغواړي او مجتهد دليل پيش کړي نو عامي د هغې په استدلال کله پوهيږي .

إلا بعد أن يتفقه سنين كثيرة . مگر وروسته له دې نه چې دې څه ډير کلونه فقه حاصله کړي .

ويخالط الفقهاء المدة الطويلة . او مخالطت د فقهاء مد طويله وکړي .

ويتحقق طرق القياس . وپيژني طرق لارې د قياس .

ويعلم ما يصححه ويفسده . او وپيژني هغه صحيح د فاسد قياس نه .

وما يجب تقديمه على غيره من الادلة . او وپيژني هغه چې واجبوي تقديم په غير د ادله

وو باندې .

وفي تكليف العامة بذلك تكليف ما لا يطيقونه .

او په تكليف د عامه وو كې دا تكليف بما لا يطاق دي .

ولا سبيل لهم اليه . او دې ته څه لاره نشته دي .

واما العالم هل يجوز ان يقلد غيره؟ مجتهد د بل تقليد كولې شي .

ينظر فيه فأن كان الوقت واسعاً عليه يمكنه فيه الاجتهاد لم يجز له التقليد و لزمه طلب الحكم بالاجتهاد .

ومن الناس من قال يجوزله تقليد العالم . خو دا په هغه وخت كې چې وخت ورسره كم وي .

دارنګې الفقيه والمتفقه د خطيب بغدادي جلد ۲ صفحه ۳۵۰ ذكر كوي :

اما الاحكام الشرعية فضربان . احكام شرعي په دوه قسمه دي :

احدهما: يعلم ضرورة من دين الرسول ﷺ كالصلواة الخمس والزكواة وصوم شهر رمضان والحج وتحريم الزنا وشرب الخمر وما اشبه ذلك فهذا لا يجوز التقليد فيه .

ځكه دا منصوصي غير متعارض دي .

لأن الناس كلهم يشتركون في ادراكه والعلم به فلا معنى للتقليد فيه .

وضرب آخر لا يعلم الا بالنظر والاستدلال كفروع العبادات والمعاملات والفروج والمناكحات وغير ذلك من الاحكام فهذا يسوغ فيه التقليد بدليل قول الله تعالى ﴿ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ .

دا مې دلته ځكه راوړل چې دې ايات نه فقهاء استدلال د تقليد كړې دي .

ولأنا لو منعنا التقليد في هذه المسائل التي هي من فروع الدين لاحتاج كل احد .

ان يتعلم ذلك . هر يو به بيا محتاج شي چې دا به خپله زده كوي .

﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ (سورة التوبة آيت : ۱۲۲)

نه دي په کار مؤمنينو ته چې هغوي نفير جهاد ته په غونډه وځي ولې نه ځي په دوي کې يوطائفه چې دين کې فقه حاصله کړي بيا دوي قوم لره انذار وركړي چې كله واپس شي دا مجاهدين دوي لره بنائيږي هغوي انذار قبول كړي .

دا ايات دا واضحه كوي چې كوم په دوي كې فقهاء شي هغوي به غير ته نصيحتونه كړي او هغه غير به د دوي د نصيحت قبول كړي استدلالات نه دي چې هغه به راځي او دې ته به سره به چير چاړ كوي دا خبره دې كوم ځاې نه وكړه مفاتيح الغيب تفسير الرازي جلد ۱۰ صفحه ۱۵۳ :

فأوجب الحذر بانذارهم والزم المنذرين قبول قولهم .

واجب كړو خداى تعالى يرول د خلكو په انذار د دوي سره او لازم كړو خداى تعالى په منذرينو باندې قبول د قول د دوي چې دوي څه وايي هغوي به يې قبلوي دا واجب دي د فقيه قوليې واجب كړو چې هغوي به يې مني دارنګې تفسير اللباب لابن عادل جلد ۱ صفحه ۱۵۴۵ :

بأن العلماء يجب على غيرهم قبول قولهم .

علماء داسې دي چې په غير د دوي نه په هغوي د دوي د قول قبلول واجب دي .

لقوله تعالى ﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ (سورة التوبة آيت : ۱۲۲) فأوجب الحذر بانذارهم والزم المنذرين .

واجب يې كړو خداى تعالى يرول د خلكو په انذار د دوي سره او لازم كړو خداى تعالى په منذرينو باندې قبول د قول د دوي چې دوي څه وايي هغوي به يې قبلوي دا واجب دي .

دارنګې احكام القرآن د جصاص جلد ۳ صفحه ۱۸۲ :

وجائز ان يسمى الفقهاء اولى الامر . فقهاء ته اولى الامر ويل جائز شو .

لانهم يعرفون اوامر الله ونواهيه. ځکه دوي پيژني اوامر الله ونواهيه.

ويلزم غيرهم. لازم شو بغير ددې فقهاء.

قبول قولهم. قبول د قول ددوي.

فيها. په دې مسائلو کې.

فجائز ان يسموا اولي الامر من هذا الوجه كما في اية أخرى ليتفقهوا في الدين ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم لعلهم يحذرون فأوجب الحذر بأنذارهم والزم المنذرين قبول قولهم.

دا ايات ددې دليل شو له چند نصوصو د مفسرينو سره چې خداى تعالى په منذرينو باندې د فقيه د قول قبلول واجب کړې دي او د فقيه قول قبول ته تقليد ويل کيږي.

څلورم نمبر ايات:

﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ (سورة النحل آيت: ٤٣)

که نه پوهيږي نو تاسو د اهل علمو نه تپوس کوي نو تپوس له اهل علمو ددې لپاره دي چې سرې پرې عمل او کړي دي د پاره تپوس کيږي.

تفسير روح المعاني جلد ٧ صفحه ٣٨٧:

واستدل بها ايضاً على وجوب المراجعة للعلماء فيما لا يعلم.

استدلال شوې په دې ايات باندې على وجوب المراجعة علماء ته په هغه مسائلو چې خپله نه پوهيږي مراجعه علماء ته واجبه شوه.

او په الاكليل د جلال الدين السيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ کې ذکر دي:

انه استدل بها على جواز تقليد العام في الفروع.

استدلال شوې په دې ايات باندې چې عام خلک په فروعو کې تقليد کوي دا جائز دي دا واجب دي دې نه استدلال شوې دي.

بشاوري په خپله رساله کې د مثبتينو د تقليد استدلالاتو کې دا ايات را اخيستې دي بيا د هغې نه جواب کوي جواب يې دا کړي چې: ان كنتم لا تعلمون چې تاسو نه پوهيدې نو

وايي مقلدين نه پوهيږي تپوس نه دې كوي وايي مونږ پوهيږو زمونږ ضرورت نشته .

نو زه وايم دادی څومره لويه دعوی وكړه فاسألوا خطاب اول مخاطب په فاسألوا كې څوک دي صحابه نو صحابه وو کې هم داسې وه چې لا تعلمون نسبت ورته کيدو او سوال د اهل علم پرې لازم وه .

او وهابي ټانګيوال ته نه دي لازم دا كومه دعوی ده بشاوري ته خو به ځان ته اهل ذکر اهل علم وايي دا تاسې چې مقتديان دي دا ټول اهل علم دي هغوي بيا څه شي كوي لا تعلمون دي كه يعلمون دي كه لا تعلمون وي نو فاسألوا تپوس كوي د اهل ذكر نه خو فرق دادی چې ته دې خلكو ته وايي چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ اهل علم نه دي زه اهل علم يم زما ومني خو د هغه مه مني دا ټول تا پسې روان دي كنه .

وهابي چا پسې ځي خو چې ده پسې مونځ كوي ده پسې روان دي رستمي پسې چې مونځ كوي هغه پسې روان دي دا عوام يې تقليد د خپلو علماء كوي لګيا دي كنه داسې حماقت روان دي وايي نه نه دا اتباع ده امي سړي به ملا صاحب ته وايي چې ما ته دليل و وايه دا څومره آزادي يې وركړه ما ته به امي راځي دا مسئله څنګه ده زه به ورته مسئله بنايمه بيا به امي ما ته وايي چې نه مولانا صاحب ما ته اوس دليل و وايه نو زه به بيا دليل وايمه د قرآن نه نو دا امي بيا په دليل پوهيږي ؟.

زه به بيا د حديث نه دليل وايمه هغه بيا پرې پوهيږي حديث باندې داسې حمقاء را غونډ دي وايي نه دا عوام به علماء نه دليل غواړي عوام به اوس عالم نه دليل غواړي كه تقليد به كوي عالم چې څه وويلي اعتماد به كوي خبره به يې مني كه چون چرا به كوي ؟ چې نه ستا نه منمه زر دليل ما ته پيش كړه .

څه عالم چې دليل پيش كړو جاهل پرې پوهيږي بيا كله چې د دليل څه اهميت دي دا څومره قوت لري دا دليل الفقيه والمتفقه يو كتاب دي دې كې يې د دغه شان دروغجنو دعوى باطلې كړي دي اصلاً خبره داده چې دا اتفاقي مسلم خبره ده چې دا امت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دري جماعت دي مقلدين دي مجتهدين دي اهل هواء دي كوم سړي چې مجتهد شي په هغه باندې تقليد لازم نه دي دې كې اختلاف شته دي .

الفقيه والمتفقه ذکر کړي دي چې مجتهد باندې تقليد شته دي او که نشته دي نو وايي که يوه مسئله کې يو مجتهد ونبلي او ده نه دغه وخت کې تپوس وشي وايي دې دي وګوري چې له ده سره د استنباط وخت شته او که نه که چيرته د استنباط وخت ورسره وه او مستفتي وخت ورکولو چې خير دي بل وخت جواب راکړه.

وايي ده لره مراجعه بل عالم ته نه ده په کار دَې دِې خپله استنباط وکړي او که چيرته وخت ورسره نه وه تنګي د وخت وه نو مجتهد هم کولې شي چې د وخت د تنګي له امله د يو بل مجتهد نه استفتاء وکړي.

نو اصل کې دا امت درې جماعت دي اهل هواء دي مقلدين دي مجتهدين دي او دوي سره د مباحثې په وخت کې به څو طريقې د مباحثې اختيار وي چې اخر ددې ادله وو کې به ان شاء الله راشي.

مجتهد چې وي دا غير مقلد وي او اهل هواء چې وي دا هم غير مقلد وي.

نو خطيب بغدادي په الفقيه والمتفقه کې وهابيان ددې زمانې چې دي دا فقهاء نه دي دوي فقهاء مجتهد ته وايي دوي مجتهدين نه دي دوي خپلو کې يو بل ته لکه وايي الباني مجتهد دي دا بعضې جهلاء وايي ذاکر نائک مجتهد دي، مجتهد خو د غسې ناولې نه وي لکه ذاکر نائک دده دې دا مردار شکل ورک شي.

اوس څه بريلوي حضراتو نه اورم چې طاهر قادري هم مجتهد دي او که وايي چې مجدد دي ددې زمانې خو خير مجدد ورته وايه نو د وهابيانو چې کوم علماء دي دا فقهاء مجتهدين نه دي دا متفقهين دي باب د تفاعل تکلف ته يې واړوه دوي په زوره ځان ته مجتهدين ويلي دي او اهل ددې کار نه دي.

نو خطيب بغدادي په الفقيه والمتفقه کې دا يې د کتاب نوم ايښي دي فقهاء څوک دي او متفقهين څوک دي هغه چې فقهاء نه دي مجتهدين نه دي او ځان ته فقهاء او مجتهدين وايي هغه څوک دي سره بيان يې کړي د فقيه اتباع لازم ده د متفقه اتباع نه ده لازم هغه خو خپله غريب اهل هواء وي نو خطيب بغدادي په خپل مذکور کتاب جلد ۲ صفحه ۳۵۱ کې وايي:

باب القول فيمن يسوغ له التقليد ومن لا يسوغ. چا ته تقليد جائز دي او چا ته تقليد

وفي ايجاب ذلك . که په عامو خلکو دا لازم کړو چې هر يو به تفقه حاصلوي .
قطع عن المعايش وهلاك الحرث والماشية .هر څه به ختم شي ټول خلک به په دې مکلف
شي بيا نو په عوامو تقليد د علماء لازم دي هغه چې مجتهدين دي .

پنځم نمبر ايات :

﴿وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ﴾ .
سابقين اولين د مهاجرو صحابوو د انصارو نه .
﴿وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم﴾ او هغه کسان چې هغوي اتباع کړې وي د دې صحابوو .
﴿بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ﴾ راضي ده باري تعالى له دوي نه دوي به د
خالق نه راضي شي .
﴿وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ﴾ تيار کړي باري تعالى دوي ته جنتونه .
﴿تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾
دا استدلال په دې طريقه دي چې دوي وايي اهل حديث کے دو اصول کتاب الله اور سنت
رسول او دا ايات دا ثابتوي چې ﴿وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم﴾ هغه خلک چې اتباع کړي دد دې
صحابوو يعنې چا چې د صحابوو اتباع کړې ده .
﴿رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ﴾ نو د صحابوو اتباع نه اتباع د کتاب الله
ده او نه د سنت رسول ده دا يو امر اخر بل څيز شو مګر ثابته ده په نص قراني باندې هغه خو د
فقهاو تابعداري هم ثابته ده په نص قرآني باندې اطيعوا الله واطيعوا الرسول واولى الامر منكم
،ليکن که ته وايي چې د قرآن او سنت نه اخوا د بل څيز منل شرک دي او تقليد دي نو دا ايات
په دغه دعوى باندې رد کوي چې نه د صحابوو اتباع به هم کوي او چا چې کړې ده د هغوي
لپاره وعدتين دي : رضاء الله واعدلهم جنات . نو دا شرک نه شو .

شپږم نمبر ايات :

﴿وَإِن جَاهَدَاكَ﴾ که کوشش کوي دا مور او پلار ستا دد دې :

﴿عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ نو اطاعت يې مه کوه مخکې ما تاسو
لي وه چې اطاعت او اتباع دا دواړه د يو بل په معنى استعماليږي اوس دلته اطاعت په
د اتباع مستعمل دي ځکه پلار دده خو څه حاکم او والي نه دي د هغه خبره مه منه دا
شوه.

﴿وَصَاحِبْهُمَا فِي ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ دنيا کې ښه چلن رويش ورسره کوه.

﴿وَٱتَّبِعْ﴾ اتباع کوه.

﴿سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ﴾ د لارې د هغه چا چې راجع وي ما ته.

څوک چې ما ته راجع وي د هغه د لارې اتباع کوه او دوي هم په دې باندې قائل دي چې
فقهاء راجع الى الرحمن وه الى الشيطن نه وه کنه تپوس ترې وکړي ما يوه نه تپوس کړي وه
ث خلک خو نه دي په لنډه ځان ترې خلاصوي ما ورته وويل چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ
الى الرحمن وه که راجع الى الشيطن وه وايي نه هغه خو بزرگ وه مونږ خو رحمت الله عليه
ره وايو نو ما ورته وويل چې بزرگ وه راجع الى الرحمن وه.

﴿وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ﴾ څوک چې ما ته راجع وي د هغه د لارې اتباع وکړه دې کې
ې نوم نه دي اخيستي چې کوم دي او کوم نه دي څوک چې ما ته راجع وي د هغه د لارې
ع کوه.

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ راجع الى الرحمن زه د هغه د لارې اتباع کوم نو شرک څنګه شو
خو د چا اسم ذکر نه ده چې د فلاني اتباع کوه او د فلاني مه کوه څوک چې ما ته راجع وي
ه لار منه.

دارنګې دغه دوه اياتونه د دوي جواب کې هم تاسو پيش کولې شي چې دوي وايي:
﴿قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ﴾.

مونږ اتباع د هغې کوو چې مونده کړي دي مونږ په هغې پلاران خپل نو اتباع د پلار يې
ده نو عام معروفه دوي کې داده چې څوک وايي زه د پلار په عقيده يمه او د چا پلار چې
ک وي نو دا خبره به نه کوي دا ايات کريمه د حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ واقعه کې په ۱۲

۳۸ قيديانو ته حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :
﴿وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَآئِي﴾ ما اتباع کړي د عقيدې د پلارانو زما .
﴿إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ﴾ زه د پلار د عقيدې تابع يمه کوره پلار يې په سمه عقيده
عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلاناً وويل چې زه د پلار په عقيدې يمه .
﴿مَاكَانَ لَنَا أَن نُّشْرِكَ بِاللهِ مِن شَيْءٍ ذَلِكَ مِن فَضْلِ اللهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ
لَا يَشْكُرُونَ﴾
دارنګې سورة طور ايات نمبر ۲۱ اوم نمبر دليل :
﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ﴾ هغه چې مؤمنان دي او اتباع وکړه د دغې
ذُرِّي دده په ايمان کې کوري بچي د پلار اتباع په ايمان کې کولې شي کنه زمونږ
مؤمنان وه په سمه عقيده وه مونږ فخراً ويلې شو چې مونږ د پلار په لار روان يو او د
په عقيده يو .
﴿أَلْحَقْنَا بِهِمْ﴾ پيوسته به کړو دغه پلارانو پسې .
﴿ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ ذُرې ددوي .
﴿وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم﴾ او کم به نه کړو مونږ له عمل د ذُرې نه .
﴿مِّن شَيْءٍ﴾ څه شي .
﴿كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾ يا اعمال د ذُرې به د پلار عملنامو سره تيچ کړو ددوي عمل
کم نه کړو دا ذُري ايتونه دي تولو کې اتباع د کشر د مشر راغلي ده خو په سمه عقيده
احسان کې په ايمان کې نو دا څه جرم نه دي چې يو سړي وايي چې زه د مشر تابع يمه زه
په لار روان يمه هغه وخت کې چې دده مشر په سمه عقيده وي او که چيرته سمه نه وي
دا ايات مخاطب شو .
﴿وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ .
د شرک په عقيده کې بيا اطاعت د هغوي مه کوه يا هغه مشرکين چې پلارانو پسې په
کې روان وه نو هغه اياتونه پرې چسپانيږي بيا .

دارنګې سورة الملک ایات نمبر ۱۰ دلیل نمبر اتم :

﴿وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾.

وایي به دا اشقیاء بدبخته په جهنم کې که چیري مونږ اوریدې اقوال د غیر تقلیداً او یا مو عقل کار کولې اجتهاداً نه به وو مونږ اهل د سعیر دا جهنمیان به بیا دا خبره کوي په دې ځای باندې شاه عبد العزیز رحمه الله په تفسیر عزیزي صفحه ۱۳ کې دا ذکر کوي چې مراد له سمعې نه سمع د اقوال الفقهاء ده تقلیداً ، او مراد له عقل نه اجتهاد دي عقلاً .

دارنګې اشرف علي تهانوي په النجات صفحه ۸ کې دغه معنی کړې ده چې مراد له سمعې نه سمع د اقوالو د علماء ده او مراد له عقل نه اجتهاد دي .

دارنګې تفسیر حقاني په صفحه ۱۴۹ کې هم دغه معنی ذکر کړې ده .

کتاب العلم لزهیر بن حرب د ابي خیثمه په جلد ۱ صفحه ۱۲ کې د امام مجاهد رحمه الله قول په ﴿وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ کې پیش کوي وګرځوي مونږ متقینو ته امام معنی دا کوي :

نأتم بهم ونقتدي بهم . چې مونږ د متقیانو پسې اقتداء کوو .

حتی یقتدي بنا من بعدنا . چې وروستي بیا مونږ پسې اقتداء وکړي نو داد نیکانو دُعاء ده .

واجعلنا للمتقین اماما ، نو د امام معنی مقتداء دي چې دا روستي خلک ما پسې راشي نو دا دعاء د طلب د اجتهاد ده یا الله ما نه مجتهد جوړ کړه او داسې فقیه را نه جوړ کړه چې روستني خلک زما مقتدیان جوړ شي نو که چیرته غیر د الله او د رسول نه د چا پسې تلل شرک او جرم وای نو خدای تعالی به د اهل جنت او د سعداء په دعاګانو کې دا دعاء نه ذکر کوله کنه چې وجعلنا للمتقین اماماً او ددې لپاره ده چې دا دعا کوه چې خدای تعالی دې دغه مقام د اجتهاد ته ورسوي که چیرته قبوله شي او امت بیا تا پسې بیا اقتداء شروع کړي .

دا مبحث اول وه دا استدلالات وه من القرآن العظیم چې بعضو زمونږ په دعوی صراحت لرلو او بعضو کې صرف ددوي د هغې دعوی بطلان وه چې اہل حدیث کے دو اصول کتاب اللہ اور سنت رسول لکه والذین اتبعوهم باحسان ، نو دا د صحابو و اتباع ددوي اصل باطلوي .

چې دوي وايي الله او د رسول نه غير د بل چا اتباع نه ده په کار قرآن عظيم الشان د صحابو و اتباع ته اشاره کوي وايي چې څوک د هغوي متبع وي نو يو ورته جنت تيار دي بل به ورته د الله رضا حاصله شي .

المبحث الثاني : استدلالات من الاحاديث :

چې هر ځای کې د صحابه وو د اتباع امر شوی وي دا د دوي د اصل بطلان خپله کوي ځکه دوي د دوه اصولو قائل دي د صحابو د اتباع قائل نه دي او دوي بار بار په رسائلو کې ليکي چې : **هذا موقوف لا حجة في الموقوفات** ، د صحابو و په اقوالو کې هيڅ حجت نشته دي هيڅ دليل نه دي اتباع يې نه ده په کار .

نو چې کوم ځای کې په احاديثو مرفوعوو کې د صحابو و د اتباع تلقين کيږي دا بيخ کندي د وهابيانو د مذهب کوي زه بيا خپله وروسته دې خبرې ته راځم چې دا مذاهب اربعه ولې شول او دا خو د علماو تقليدات په کار دي د سفيان ثوري هم په کار دي د عبد الله بن مبارک هم په کار دي د حسن بصري هم په کار دي د ابن عُيننه هم په کار دي د ابن عباس د ابن مسعود هم په کار دي د ابن عمر هم په کار دي نو دا څلور ولې شول دغي کې خبره ده ګنې دا مسلم حقيقت دي چې هر څو مره ځان خلاص کړي نو تقليد العلماء ته به راځي د فقهاو خبرې په مني خو خبره دې ځای کې پيچيده ده چې دا اربعه فقهاء ولې شو .

دا خبره د دوي سر کرده ابن تيميه خپله فتاوی کې جواب کړې ده د هغې نه استدلال دې کې شوې دي چې تاسو حنبلي فقه مني د صحابو و اتباع ولې نه کوي چې تاسو حنبلي فقه پسې ځمې ځکه هغه حنبلي وه نو هغه ورته جواب کړي چې دې ټولو صحابو و کې د هر صحابي که د يو صحابي فقه مُدَوَّنه دي ماته و بشوده نو مونږ به امامان پرېږدو او صحابي پسې به لاړ شو د صحابو و فقه کې تدوين و نه شو شاګردانو يې کما حقهٔ خدمت و نه کړو د هغوي فقه مدونه نه شوه راغونډه نه شوه په کُتبو کې .

مثلاً يو کس وايي چې زه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ پرېږدم او د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنهُ پسې ځم نو د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنهُ اقوال او دا سه کې څوک پيدا کولې شي په مانځه کې ټول اقوال پيدا کولې شي په حج صوم په زکواة نکاح او عتاق کې بيع شراء اجاره شفعه په دې ټولو کې د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنهُ اقوال څوک پيدا کولې شي .

نو صرف خو له خو نه ده چې وايي زه د صديق اكبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مقلد يمه او د هغه په مذ
يمه نو اوس مذهب يې چيرته پيدا كوي فقه يې مُدَوَّنه نه شوه د غه شان عمر فاروق د غه
ابن عباس د غه شان ابن مسعود د دوي د فقه تدوين نه دي شوې چاپ شوې نه ده ليكل شو
نه ده او چا جمع كړې نه ده اقوال يې يو ځه نا ځه پيدا كيږي پراګنده په ټولو ديني كتابونو
دا به ته څنګه پيدا كوي .

بس كمپيوټر ته به ناست وي قال ابوبكر به ليكي وركوي به يې په كې نور به يې لټ
هغلته به نور ډيرې داسې مسئلې راشي چې ستا درايه به خلاف وي بيا به يې ته هم نه
منلې حيران به يې او ستا قول هم داده چې زه خو د هيچا قول بې دليله نه قبلوم بيا به ص
اكبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه دلائل هم په كې غواړې كنه ځكه ته خو متبع يې چې اوس ما ته په دې دليل
راكړه دا تا خبره كوم ځاى نه كړې ده .

اوس د هغه تدوين د مذهب نشته دي چې د هغه نه وروسته فقهاء وي يا د هغه شاګر
وي چې د هغه په قول چا اعتراض كړې وي او زريې جواب ورته ويلې وي .

ائمه خو داسې نه دي د ائمو اقوال چې دې د اربعوو را غونډ شوې دي تدوين ش
دي مدونه فقه ترې جوړه ده مثلاً كه ته فقه حنفي ګوري نو په هره مكتبه كې د فقه حنفي لـ
لوي كتابونه پيدا كولې شي كه د او داسه په مسئله كې يو څوک نبنلي نو چې فقه حن
خلاصه كړي تا ته په كې اقوال پيدا كيږي د غه شان هره مسئله كې چې څه مشكل څوک ا
نو فقه حنفي كې د هغه مشكل حل پيدا كولې شي .

د غه شان فقه شافعي فقه حنبلي فقه مالكي دا خروج د مذهب چې كوم علماء جا
ګڼي د هغې دا معنى نه ده چې ګڼې يو عالم تللې نه شي ولې امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ ز
مذهب ته رانغي نو څنګه بل نه مونږ ته راتلي شي مونږ نه بل ته نه شي تلي دا مطلب نه د
هغوي لويه وجه داده چې كوم علماء منع كوي دلته شافعي مدرسه نشته د شوافعو فت
نشته د هغوي كتب نشته كه يو سړي ته اوس زه وايم چې ځه لاړ شه او هغه ويلي چې زه
شافعي مذهبي شومه نو د وړې مسئلې پوښتنه درنه كومه بيا په ټول پاكستان كې شا
مذهبې عالم نه پيدا كيږي چې ته په كې اونښتلي كتابونه يې نه پيدا كيږي مدرسه يې
پيدا كيږي نو څه به كوي .

له دغې وجې نه علماء وايي چې بل مذهب ته تلل نه دي په کار که ترې بهر شوي
به شي لار به درنه ورکه وي بيا به نه شي پيدا کولې چې زه دا دين کوم ځای نه پيدا کړم
نو د اربعه ائمو و د فقه تدوين وشو بيا د تدوين نه بعد په دې هر مذهب کې په ز
زرګونو محدثين راغلل حفاظ د احاديثو راغلل د خپل امام خبره يې د حديثو سره وتلل
د امام صاحب هره مسئله ګوري د کتبو د حديثو شرحې ګوره فقه ګوره ته به د خپل اما
دلائل پيدا کړي چې امام صاحب دا خبره دې دليل نه کړي اګر که امام صاحب به دلي
وخت سره نه وي ويلې هغه د متن په شکل يوه مسئله بيان کړي ده جزيه يې بيان کړي ده
خو چونکې دلته فقه حنفي کې په زرګونو محدثين دي راغلل دده د اقوالو خده
وکړو هغه يې په احاديثو ثابت کړل نو اول خو ته بې چون چرا تقليد کوه او که نه ډير
وهابيانو شکي کړي نو که ته د خپل امام په يو قول کې دليل وغواړي نو کولې شي چ
فقه يو کتاب ته مراجعه وکړي د خپل امام په قول دلائل هم پيدا کړي دغه مسئله د صح
او د نورو فقهاو په عباراتو نه پيدا کيږي نه د ابن عُيينه نه د ثوري او نه د نورو ځکه د هغ
فقه تدوين نه دې شوي ابن تيميه په خپله فتوی کې دا جواب ورکړي زه بيا وروستو
ذکر کوم.

او ډير معقول جواب يې ورکړي چې نن د بل فقيه تدوين نشته.
مبحث ثاني استدلالات د احاديثو نه خو ما په ابتداء کې دا خبره ذکر کړه چې د
بعضې به داسې دلائل وي چې فقط د صحابو و د يو صحابي تائيد اقتداء او تقليد به ث
دې ستاسو به دا ذهن ته راځي چې دا خو امام صاحب نه يادوي په هغې کې به زه د وهاب
اصل بطلان کومه چې اهل حديث کے دو اصول کتاب او رسنت رسول دغه باطله خبر
سنت رسول نه اخوا د صحابوو اقوال منل دا هم ضروري خبره ده.
اول مسند احمد ابن حنبل جلد ۵ صفحه ۳۹۹ رقم د حديث: ۲۳۴۳۴:

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا محمد بن عبيد حدثنا سالم المرادي عن عمرو بن
الازدي عن ابي عبدالله وربعي بن حراش عن حذيفة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال بينا نحن عند رسو
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مونږ د رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره موجود وو.

قال: وي فرمایل: اني لست ادري ما قدر بقائي فيكم. ما ته پته نشته چې بقاء به مې تاسو کې څومره وي خو دا نصيحت واوري:

فاقتدوا بالذين من بعدي. اقتداء وکړي هغه کسانو پسې چې ما نه بعد دي.

يشير الى أبي بكر وعمر رضي الله عنهما. اشاره يې وکړه حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما ته چې دوي پسې اقتداء وکړي.

واهدوا هدي عمار. د عمار بن ياسر رضي الله عنه د لارې اقتداء وکړي.

وعهد بن ام عبد رضي الله عنه. او د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنهما چې کوم دين دي کومې معاهدي دي او کومې خبرې دي د هغې اتباع وکړي نبي اکرم صلى الله عليه وسلم په خپلو نصيحتونو کې په عمده صحابوو کې چې کوم مرجع گرځيد له هغه وښودل چې عمار بن ياسر دي.

عبد الله بن مسعود دي صديق اکبر او عمر فاروق رضي الله عنه دې دوي پسې لاړ شي نو ددوي دا اصل چې اہل حدیث کے دو اصول کتاب اللہ اور سنت رسول يعنې يو اځې قرآن او سنت به منې د بل به نه منې محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم صحابوو ته ولې داسې نه وايي چې زه درنه لاړمه قرآن او سنت شته وړپسې ځې نا هغه وايي اقتداء د خلفاو پسې وکړي اقتداء د عمار وکړي اقتداء د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وکړي.

دويم مستدرک للحاکم جلد ۳ صفحه ۳۱۹: عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته رحمت عالم وفرمائل: تلاوت راته وکړه هغه ورته فرمايي تاسو باندې نازل دي او تلاوت به زه کوم وايي زه يې چې بل نه اورم ما ته خوند راکوي تلاوت وکړه هغه سورة نساء شروع کړه يو خو د بل نه سماع کې تفکر بنه کيږئ د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم دا مقصد دي بل خوا خپل امت ته ددې جواز ورکوي چې سماع د قران له غير نه جائزه ده هغه مقصد شو په کې بل لوي مقصد دغه مقام کې د عبد الله ابن مسعود د قرأت لهجه وه او حفظ وه استاد شاگرد نه څه اوري کنه داسې يې اوس ترې اوري چې دده څه ياد دي که ندي ياد نو شروع شو هغه سورة نساء شروع کړه څه تلاوت نه وروسته چې دې آيت ته ورسيده:

﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ فاستعبر رسول الله صلى الله عليه وسلم وكف عبد الله.

د نبي عليه السلام د ستر گو مبارکو نه یې اوښکي روانې وي دا یې عاجزي وه چې کله د رحمت عالم ژړا وردیده قلار شوه نو د هغه نه بعد :

فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم تكلم. لږ خبري وکړه تقرير وكړه .

عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ته وايي تقرير وكړه راته اوس د نبي عليه السلام په وړاندي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه قراءة خو يې وكړو اوس يې خبرو ته اودروي چې دده لهجه علمي څنګه ده چې دي څنګه پاڅيده :

تكلم فحمد الله في اول كلامه. اول يې الحمد لله وويله .

واثنى على الله وصلى على النبي صلى الله عليه وسلم . بيا يې درود شريف وويلې .

وشهد شهادة الحق. داد شهادتينو كلمه يې ويلي .

وقال رضينا بالله ربا وبالاسلام دينا ورضيت لكم ما رضي الله ورسوله . په هغه راضي يمه چې الله او د الله رسول پرې راضي وي .

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

رضيت لكم ما رضي لكم ابن ام عبد . زه بيا تاسو ته په هغه راضي يمه كوم چې عبد الله ابن مسعود پرې راضي وي تائيد د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وشو .

عبدالله ابن مسعود د عراق كوفي ته حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وليږه او بيا يې ورسره خط وليږه او هغه امام د مسجد كوفي يې مامور كړو په دې باندې چې د جمعې په ورځ دا اعلان وكړه چې عمر فاروق رضي الله عنه دا راليږلي دي چې ما په خپل ځان باندي تاسو قدر مند كړي په عبد الله ابن مسعود يعني په كار دا وه چې دا ما ځان سره حصار كړي واى خو ځان نه مې هم ستاسو قدر وكړو چې د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه غوندې انسان مې دركړو درته . هغه چې هلته دده شاګردان شول بيا او دده د شاګردانو شاګردان امام ابو حنيفه رحمه الله دا فقهاء راغلل نو فقه د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه په عراق كې مشهوره شوه رفع اليدين هغه نه كول بس د احنافو چې څومره فقهاء په عراق كې وه هغوي هم رفع اليدين نه كول .

دريم صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۱۱۴ بيروت چاپ :

عن واصل عن أبي وائل قال جلست إلى شيبة في هذا المسجد قال جلس الي عمر في مج
هذا.

حضرت شيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوي ته وايي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ما ته دغه ځای کې ن
وه.

فقال لقد هممت ان لا ادع فيها صفراء ولا بيضاء الا قسمتها بين المسلمين.

بيت الله شريف کې چې کوم ځای کې حطيم دي په دې ځای کې خزانه ده په
احاديثو کې دا ثابته ده خو دا به بيا مهدي آخر زمان او عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه وخت کې
اوباسي چې کله دې ته ډير ضرورت بيا پيدا شي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وه راويس
صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وه راويستلې عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چاته وويل چې تا ته هغه ځای م
دي دا کعبه خو مشرکينو د قريشو جوړه کړې وه نو دې کې يو سپين ږيري حيات وه الشي
شيبه د عتبه ورور نه دي دا صحابي ده نو ده ته يې وويل چې تا ته هغه ځای معلوم دي
راغې د حطيم غاړه يې ورته وښوده چې له دغه ځای نه تر دغه ځای پورې خزانه ده نو
فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل:

هممت. قصد مې کړي، ان لا ادع فيها صفراء ولا بيضاء چې دې حطيم سره کومه خ
ده سره زر دی که سپين پرېږنه دم.

الا قسمتها بين المسلمين قلت ما انت بفاعل. حضرت شيبة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما ورت
وويل ته ددې کارکوونکې نه يې دا کار نه دي کړي دوه صاحبينو ستا.

قال هما المرءان يقتدى بهما. وايي هغه خو داسې کسان وه چې د هغوي اقتداء په کا
نو د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دا دی چې يوازې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقتداء نه بلکې
صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم اقتداء په کار ده دا ددوي اصل نړه وي چې دوي وايي اهل حديث ک
اصول کتاب الله اور سنت رسول.

دارنګې صحيح ابن حبان جلد ١ صفحه ١٧٩ نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تقرير کوي:
أوصيكم بتقوى الله. وصيت درته کوم په تقوى باندې وصيت درته کوم. السمع په س

باندې ، والطاعة ، په طاعت باندې د طاعت اطلاق په اتباع او تقلید باندې جائز دي چې ک
د سمعې په مقابله کې راشي نو سمع سمع د اقوال الفقهاء ده او طاعت طاعت د امراء دي
ځکه دا یو ځای راغلل دا : اوصیکم بتقوی الله والسمع والطاعة . سمع د اقوالو د فقهاء کو
او اطاعت د امراء کوي وان عبداً حبشیاً مُجدّعاً . اګر که یو بونجي حبشي غلام در باندې ا
وي یعنې هغه چې تاسو ته سپک ښکاري نو هم اتباع یې کوي.

فانه من یعیش منکم . ځوک چې تاسو کې ژندګي ولري.

فسیری اختلافاً کثیراً . ډیر اختلاف به وګوري.

فعلیکم بسنتي . په تاسو زما سنت لازم دي.

وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین . په تاسو د خلفاء راشدینو مهدیینو سنت لازم دي

فتمسکوا بها . منګولې ولږوي په دې سنت د خلفاء باندې.

وعضوا علیها بالنواجذ . او د ژامې د غاښونو پرې چک ولږوي یعنې کلک یې و نیس

وإیاکم و محدثات الأمور . ځان وساتي د محدث د امورو نه.

فإن کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة . هر محدث بدعت دي او هر بدعت ضلالت
دا محدث عقیدوي ته اشاره ده چې د عقیدې په بدعت کې حسن بالکل نشته دي د اهلس
په خلاف جدیده عقیده بالکل حسن نه لري نو دې ځای کې ددې تلقین دي چې سنت د خل
راشدینو باندې داسې تمسک وکړي د ژامې غاښ پرې ولږوي.

او په خلفاء راشدینو کې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داخل دي عثمان ذي النو
داخل دي د حضرت عثمان د سنن نه دا دویم اذان د جمعې چې کوم زائد شوې دي دا ا
هغه په وخت کې وشو صحابوو پرې انکار ونه کړو باجماع الصحابة من سنة خلفاء الراش
شو نو دا کلک نیول په کار دي وهابیان ورته عثماني بدعت وایي او شل رکعات ترا
باجماعته په مساجدو کې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابي ابن کعب په امامت سره
وخت کې رائج شوې دا د سنت د خلفاء نه وه.

ثلاثة تطليقات په محل واحد کې مغلظ ګرځول داد عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې باجماع الصحابة ثابت شو چا هم ترې نه انکار نه کولو د متعې حرمت دا په زمانه د عمر فاروق رضي الله عنه کې چې دا حراماً ده په اجماع سره ثابت شو د شیعه ګانو قول ته په کې اعتبار نشته دي داد خلفاو مخالفت دي .

دغه شان ډیر مسائل دي خو د دوي اصل نړه وي چې د وي وایي اهل حدیث کے دو اصول کتاب الله اور سنت رسول ، د سنت رسول سره سنت خلفاء الراشدین هم و منه دا هم د منلو دي .

دارنګې معجم الکبیر د طبراني جلد ۱ صفحه ۱۴۰ :

حدثنا معاذ بن المثنى حدثنا مسدد حدثنا يحيى بن سعيد عن موسى الجهني حدثنا مصعب بن سعد قال كان ابي اذا صلى في المسجد .

مصعب رضي الله عنه فرمايي زما پلار سعد ابن ابي وقاص مسجد کې به يې چې مونځ کوه.

تجوز . اختصار به يې کوه .

واتم الركوع والسجود واذا صلى في البيت اطال الركوع والسجود والصلاة قلت .

حضرت مصعب رضي الله عنه وايي ما مې خپل پلار ته وويل :

يا ابتاه اذا صليت في المسجد جوزت . ډير اختصار کوي مسجد کې .

واذا خلوت في البيت اطلت . کله چې ځان ته مونځ کوي اوږد يې کوي .

قال يا بني انا ائمة يقتدى بنا . مونږ امامان يو مونږ پسې اقتداء کيږي .

نو دا دليل دې دي چې دې زمانه کې صحابو پسې اقتداء کيده اقتداء د قول او سنت د هر چا کار نه وو بلکې صحابې چې کوم ځای ته تللې دي خلک به د هغه مقتديان وه بيا په اقوالو افعالو په طرز او طريق کې که هغوي څه کار کړي خلکو منلي که هغوي فتوی ورکړي خلکو منلي ده نو د هغه علاقې خلک د حضرت سعد رضي الله عنه مقتديان او مقلدين وه .

دارنګې الموطأ د امام مالک رضي الله عنه جلد ۱ صفحه ۳۷۶ :

وحدثني عن مالك عن نافع انه سمع اسلم مولى عمر بن الخطاب يحدث عبدالله بن عمر ان

عمر بن الخطاب رأى. حضرت عمر رضي الله عنه وليده.

على طلحة بن عبيدالله ثوباً مصبوغاً وهو محرم. په حضرت طلحة رضي الله عنه باندې جامه مصبوغه په احرام کې رنګ وربانديې وه.

فقال عمر ما هذا الثوب المصبوغ يا طلحة فقال طلحة يا امير المؤمنين انما هو مدر.

يو قسم خاوره وه په هغې به يې صفا يې کوله هغې څه رنګ پرېښې وه.

فقال عمر انكم ايها الرهط ائمة. تاسو خو امامان يې.

يقتدي بكم الناس. خلک درپسې اقتداء کوي.

فلو ان رجلاً جاهلاً رأى هذا الثوب. که چيرته جاهل سړي وګوري.

لقال. وايي به.

ان طلحة بن عبيدالله كان يلبس الثياب المصبغة في الاحرام. په تحقيق سره طلحة بن عبيدالله به اغوستله جامه رنګينه په احرام کې.

فلا تلبسوا ايها الرهط شيئاً من هذه الثياب المصبغة.

دا دا ثابتوي چې په دغه زمانه کې چې کوم معروف صحابه وو چې هر کلي ته تللي خلکو پسې اقتداء کړې ده او خلکو يې تقليد کړي دي او معمولي دده په جامو چې په داسې خاوره يې وينځلي وه چې هغې رنګ لرلو عمر فاروق رضي الله عنه ترې منعه کړو چې خلک دې کې تا پسې اقتداء ونه کړي.

دارنګې معجم الكبير د طبراني جلد ۷ صفحه ۴۷۹:

حدثنا علي بن عبدالعزيز حدثنا ابونعيم حدثنا سُفيان عن ابي اسحاق عن حارثة بن مضرب قال كتب عمر الى اهل الكوفة.

حارثه بن مغرب رضي الله عنه وايي عمر فاروق رضي الله عنه کوفې ته خط وليکه:

اني قد بعثت عماراً اميراً. ما درلېږلي عمار بن ياسر امير.

وعبدالله بن مسعود معلماً ووزيراً. او عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما معلم او وزير دي.

وهما من النجباء . دا دواړه د خواصو نه دي .

من أصحاب محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من اهل بدر و أُحُدٍ فاقتدوا بهما . دې دواړو پسې اقتداء
ئړي .

واسمعوا من قولهما . څه چې وايي اوري يې .

وقد اثرتكم بعبدالله على نفسي . تاسو مې غوره کړي په عبد الله بن مسعو د په نفس
ل باندې يعنې دا مې ځان ته پرينبودل په کار وه خو په خپل ځان مې تاسو غوره کړي په
د الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا مې تاسو ته درکړو .

اوس ګوره دې هغوي ته خط ليکي چې :

فاقتدوا بهما واسمعوا من قولهما . دا خو زمانه د شهرت الحديث وه اوس خو کتابونه
کل شوې قوي ضعيف شوې ضعيف قوي شوې اوس خو د صحيح حديث په کې پته نه
بږي چې د چا څنګه خوښه وه هغه يې قوي کړي دي او چې خوښه يې نه وه هغه يې ضعيف
ې دي دومره تعصب چې په فن د حديث او اسماء الرجال کې شوي په يو کار کې هم نه دې
وي دا خو هسې د عوامو فکر دي او د هغه طالبانو چې د اسماء الرجال نه خبر نه دي باقي
ې حنفي ناست دي هغې رواياتو ته يې تاويلات کتلي چې شافعي ناست دي دې ته يې
نلي دي او که اهل ظواهر ناست دي دا نور يې نه دي منلي او که دوي ناست دي هغوي يې
دي منلي .

څه د پاسه ۱۴۰۰ کاله بعد د حديثو صحت او سقم دا بيخي د چا وس کې نه دي زمانه د
حابه وو کې خو دا مشکل نه وه کنه هغوي خو بذات خود د يو صحابي نه حديث اوريدو د
حابي نه چې يې حديث واوريده سندي مسئله خو بيخي نه وه د قوت او ضعف خبره خو
خي وه نه په کې نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولې داسې ورته نه ليکي چې دا دوه مې در وليږل
آن هم دوي نه واوري او احاديث هم دوي نه واوري او هغې پسې لاړ شي چې دوي و نه مني .

فاقتدوا بهما . دوي پسې اقتداء وکړي نو د عراق خلک د عمار بن ياسر او د عبد الله ابن
سعود مقلدين وګرځيدل په دغه وخت کې همدغه وجه ده چې د عراق په خلکو کې د عبد الله
ن مسعود مذهب رائج شو خو چونکې عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امير وه او عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

ي دده خبري ته ترجيح وه دې د اهل فقه نه وه دا ددوي هغه پورو پاګندا او حسد هم
ي عوامو ته يې دا اچولي چې د صحابوو زمانه کې تقليد نه وه.
هيې سنې نه بعد شروع شو ولې نه وه کنه ته وايي چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ
ونو هغه نه وه نو د هغه تقليد څه کول دا خو حماقت او جهالت دي چې د صحابوو
د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ تقليد راته وښايه دا خو هسې جهالت دي ضد او عناد دي د
د تقليد وه کنه.
ت معاذ ابن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په يمن کې وه د هغه تقليد روان وه عبد الله ابن مسعود
عراق کې وه د هغه تقليد روان وه هر صحابي چې هر ځای ته تلې هغه ځای کې
د کړي چون چرا يې نه ده کړي او نه يې ترې دلائل غوښتي دي چې عبد الله ابن
بر دي نه منم ما ته حديث پيش کوه لکه وهابيانو چې کومه آزادي خلکو ته ورکړه.
ن نسائي جلد ۸ صفحه ۲۳۰ بيروت چاپ:
ثنا محمد بن العلاء قال حدثنا ابو معاوية عن الاعمش عن عمارة هو ابن عمير عن
من بن يزيد قال اكثروا على عبد الله ذات يوم.
ورځ عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې خلک زيات شول په استفتاء کې.
ل عبد الله: إنه قد أتى علينا زمان. عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وفرمايل په مونږ
انه هم تيره شوې.
سنا نقضي ولسنا هنالك. مونږ به قضاء ته نه کيناستو مونږ به اهل ددې نه وو.
ان الله عزوجل قدر علينا. خدای تعالی هغه وخت په مونږ راوسته.
بلغنا ما ترون. وي رسولو مونږ هغې مقام ته چې تاسو يې ګوري چې قاضيان يې
ر نصيحت کوي.
من عرض له منكم قضاء بعد اليوم. نن ورځ نه بعد چې چا ته فيصله راغله.
ليقض بما في كتاب الله. په هغې دې فيصله وکړي چې كتاب الله کړي.
ن جاء امر ليس في كتاب الله. که راشي يو کار چې نه وي په كتاب الله کې.

فليقض بما قضى به نبيه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فيصله دې وكړي هغه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې فيصله كړې وي.

فان جاء امر. كه راشي يو كار.

ليس في كتاب الله. چې نه وي په كتاب الله كې.

ولا قضى به نبيه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نه پرې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فيصله كړې وي.

وهابيان څه وايي چې داسې مسئله نشته چې كتاب الله او سنت رسول كې نه وي بار بار دا خبره كوي:

فليقض بما قضى به الصالحون. فيصله دې وكړي هغه چې فيصله پرې صالحينو كړې وي قضى به الصالحون اجماع شوه.

فان جاء امر ليس في كتاب الله ولا قضى به نبيه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا قضى به الصالحون. كه چيرته راغې يو كار چې نه په كتاب الله كې او نه پرې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فيصله كړې وي او اجماع هم په كې نه وي.

فليجتهد رأيه. اجتهاد بالرأيه دې وكړي چې څوك مجتهد وي اجتهاد بالرأيه دې وكړي.

ولا يقول. نه دې وايي.

اني اخاف واني اخاف. زه يريږمه.

فان الحلال بين والحرام بين وبين ذلك امور مشتبهات فدع ما يريبك الى ما لا يريبک.
حلال هم ښكاره دې او حرام هم ښكاره دې په مينځ دداې كې امور مشتبهات دې شكې پريږده او بې شكه ته څه فيصله په هغې كوه.

اجتهاد بالرأيه د قضي د صالحينو نه چې اجماع ده حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نصيحت كې خلكو ته ښايي چې بيا اجتهاد كوي خو چې اهل د اجتهاد وي نو اجتهاد دې لپاره كيږي چې خلک پرې عمل وكړي فيصله درته راغله قرآن كريم كې وگوره د څه د پاره چې هغه سړي ته آسانه شي عمل پرې وكړي پيدا دې نه كړه هلته يا نه ده سنت رسول كې

وګوره دې د پاره چې عمل پرې وکړي پیدا دې نه کړه اجماع ته لاړ شه د صالحینو عمل پیش کړه پیدا دې نه کړه نو اجتهاد وکړه د څه د پاره چې هغه خلک یې واوري او عمل پرې وکړي اجتهاد پسې تلل او عمل کول همدغې ته تقلید ویلې شي.

دارنګې فقیه والمتفقه جلد ۲ صفحه ۸۹ امام شعبي وایي :

کتب عمر الی شریح. عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شریح قاضي لره.

دا شریح ډیر بهترین انسان وه د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په وخت کې د قضاء په مقام پاتې شوي صحابه به موجود وه ده به فیصلې کولې فقاهت یې دومره مُسلم وه چې صحابه موجود دي او فیصله شریح کوي د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په زمانه کې په کوفه کې په خلافت اسلامي کې.

قاضي دې وه یو خو دیو ولایت او صوبې قاضي وي د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په وخت کې دا خلافت د مدینې منورې نه کوفې ته نقل شو دار الخلافة کوفه وګرځیده دې مبارک په کوفه کې په شهادت رسیدلي دي او شریح دده په زمانه کې په کوفه کې قاضي وه د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په موجودګي کې به ده فیصلې کولې نو حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دې شریح ته خط لیکي ورته وایي :

اذا حضرك امر لا بد منه فانظر في كتاب الله. مسئله درته راغله نو هغه خامخا ګوره په کتاب الله کې.

فاقض به. فیصله پرې کوه.

فان لم يكن. که نه وه په کتاب الله کې.

فبما قضى به الرسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. هغې ته څه.

فان لم يكن. که کتاب الله او سنت رسول کې نه وه دا عمر فاروق دي د دین نه بنه خبر دي ده ته معلومه وه چې بعضې مسائل به قرآن او سنت کې نه وي بیا او وهابیان له دې نه اعلم شول او س یې خلکو ته ویلي داسې مسئله نشته چې قرآن او سنت کې نه وي که نه وه په قرآن او سنت کې.

فبما قضى به الصالحون. دا اجماع ده په دې فیصله کوه.

واثمة العدل فان لم يكن فأنت بالخيار . كه هغې کې هم نه وه نو ته اختيار مند يې .

فان شئت ان تجتهد رأيك فاجتهد رأيك . كه دې خوښه وي اجتهاد وکړه .

وان شئت ان تؤامرني فامرني . او كه دې خوښه وه چې ما سره دې مشوره کوله نو مشوره راسره وکړه .

ولا أرى مؤامرتك اياي الا خيرا لك والسلام . او که ما سره دې مشوره وکړه دا به درته ډېره غوره وي .

يعنې مطلب دادی چې حضرت عمر رضي الله عنه ته دا معلومه وه چې قوه اجتهادي زما له شريح قاضي نه قوي ده نو كه ته اجتهاد کوې اجازت شته دې درته البته كه ماسره دې مشوره شريكه كړه نو دا بهتره ده ستا لپاره ولې هغه هم مجتهد دې او دې هم مجتهد دې خو د شريح القاضي اجتهاد د حضرت عمر رضي الله عنه اجتهاد ته كله رسيدې شو په وخت د وجود د حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه او د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ددې اشخاصو په موجودګې کې شريح قاضي ته ادباً هم په کار دې چې اجتهاد ونه کړي اګر كه اجازت شته دې ورته .

دا ددې دليل شو چې تابعي سره د وجود د اقوالو د صحابو نه اجتهاد کولې شي او په يو مجتهد باندې قول د صحابو الزامي حجت هم نه دې دا څوک نه شي ويلي چې حضرت عمر رضي الله عنه دا ويلي او امام ابو حنيفه رحمه الله دا ويلي او امام ابو حنيفه رحمه الله دا ويلي صديق اكبر رضي الله عنه دا ويلي ويلي دې وي هغه هم مجتهدين وه دې هم مجتهد وه د صحابو اقوال په دوي الزامي حجت نه دې سره له دې هغوي ادب کړي دې هغوي دا وايي :

اذا جاء من الرسول الله فبرأس والعين واذا جاء من الصحابه نختار بينهم .

امام صاحب وايي د صحابو اقوالو کې مونږ فقيه د غير فقيه نه غوره كوو هغې پسې ذهاب کوو بيا .

واذا جاء من التابعين . او چې كله د تابعينو نه راشي بيا جګړي ورسره کوو .

لانهم رجال ونحن رجال . هغه هم سړي دې مونږ هم سړي يو د تابعي قول نه شم منلې . دارنګې سنن ابن ماجة جلد ۱ صفحه ۳۷ :

حدثنا ابو بكر بن ابي شيبة حدثنا عبدالله بن يزيد عن سعيد بن ابي ايوب حدثني ابو هاني حميد بن هانئ الخولاني عن ابي عثمان مسلم بن يسار عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ من أُفتي بفتيا غير ثبتٍ فانما اثمه على من افتاه.

چا چې فتوی ورکړه په یوه فتوی باندې چې هغه ده ته پوره ثابته نه وه نو ګناه یې په هغه چاده چا چې فتوی ورکړې ده که څوک وایي چې دې کې استدلال څه ده استدلال یې په دې طریقه ده دوي وایي چې هر سړي به دلیل غواړي او د مفتي او مجتهد په خبره به عمل نه کوي دلیل به غواړي دا حدیث ددوي ددې قول بطلان کوي چې نه مفتي چې فتوی ورکړه عوام به هغه عملي کوي اوس که دا فتوی د بې دلیله ورکړې وه هغه خلکو پرې عمل کړې دي هغه ګنهګار نه دي.

اثمه على من افتاه. چا چې فتوی ورکړي هغه نیول کیږي که چیرته هر څوک مامور وایي په طلب د دلیل باندې نو بیا دلته د هغوي د پاره د عمل ګنجائش نه وه او د خطاء په صورت کې دا مفتي نیول کیدو ولې اوس دې حدیث نه معلومیږي چې مفتي فتوی ورکړه او دا فتوی غیر ثبت وه چې خطاء شو او خلکو دده په فتوی عمل وکړو هغوي خو به عمل کوي هغه ګنهګار نه دي مفتي ګنهګار دي.

ددې نه وروسته بل حدیث راځي او هغه دې حدیث سره تعارض لري هغه دا چې مجتهد کله اجتهاد وکړي او حق ته ورسیږي هغه لره دوه اجره دي او چې کله په اجتهاد کې خطا شي نو یو اجر دي ور لره او دلته وایي چې ګناه په مفتي شته دي هغلته دا وایي مجتهد چې خطا هم شي یو اجر ور کول کیږي ګناه نشته ورباندې.

نو دا دواړه حدیثین تاته دا مسئله ښکاره کوي چې رجال په یو حکم یو انداز کې نه دي کوم سړي چې د اجتهاد مقام ته ورسیده هغه که حق ته ورسیده دوه اجره دي که حق ته ونه رسیده ګنهګار نه دي که خطا هم شو او خلکو پرې عمل کوه هغه لره یو اجر دي او کوم مفتي چې مجتهد نه وي فتوی ورکوي نو که دې صورت کې دې حق ته ورسیده فبها که حق ته ونه رسیده والاثم على من افتاه چا چې پرې عمل وکړو د هغه ګناه ده پسې راځي.

نو حدیثین تعارض لري یو خوا فرمایي چې مجتهد خطاء شي اجر دي بل خوا فرمایي

گنهگار دي نو هغه د مجتهد سره دي او داد غير مجتهد مفتي سره دي دوي اهل د اجتهاد نه دي دد دې زماني علماء هم اهل د فتوو دي خو اهل د اجتهاد نه دي چې اهل د اجتهاد نه دي نو دوي به ډير زيات احتياط کوي که دليل د مجتهد قول پيدا شو فَبِهَا کني ځان نه دې خبره نه کوي که يې وکړه گنهگار ده که خطاء شو او هر چې مجتهدين حضرات دي د هغوي نيتونه صفا وه باطن يې صفا وه خپل کوششونه يې کړي بالفرض که يو مسئله کې بيا هم خطاء شوې او دا امت ورپسې روان وي گنهگار نه دي هغه ته په هغې اجر ميلاويږي .

دارنگې صحيح البخاري جلد ١ صفحه ٣٦ :

حدثنا اسماعيل بن ابي اويس قال حدثني مالك عن هشام بن عروة عن ابيه عن عبد الله بن عمرو بن العاص قال سمعت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول ان الله لا يقبض العلم انتزاعاً.

خداى تعالى دا علم نه قبض کوي په غونډه .

ينتزعه من العباد . چې کني وي باسي د عبادو نه .

ولكن يقبض العلم بقبض العلماء . ليکن قبض کوي علم په قبض د علماء سره مراد له علماء مجتهدين دي .

حتى اذا لم يبق عالماً . تر دې چې عالم مجتهد به پاتې نه شي .

اتخذ الناس رؤوساً جُهالاً . وبه نيسي خلک رؤساء جُهلاء .

فسئلوا . پو ښتنې به ترې کوي .

فأفتوا بغير علم . فتوى به ورکوي بغير د اجتهاد نه .

فضلوا وأضلوا . په خپله به هم گمراه غير به هم گمراه شي .

هغه علماء چې مجتهدين دي چې هغوي فتوى ورکوي مع علمٍ هغوي پسې چې چا اتباع وکړه ضلال نه شو هغه خو حق دي خو چې کله سړي غير مجتهد شو او بلا علم يې فتوى ورکړه او بيا پسې چا اقتداء وکړه .

فضلوا واضلوا . خطر دي وهابيانو ته مونږ ته نه دي مونږ ته خو الحمد لله د يو عالم مجتهد مع العلم فتوى کړې ده او مونږ پسې ذهاب کړې دي او دوي عوامو جهالو وهابيانو

او جماعة المسلمين عثمانيانو پرويزيانو ته خطره ده چې دوي دې زمانه کې د خپلو کبراء پسې تللي دي او خپله نه پوهيږي او ددوي دا کبراء مفتيان علماء هم نه دي مجتهدين هم نه دي راندہ دي.

نو دې صورت کې دوي ته خطره ده چې فضلوا واضلوا.

دارنګې معجم الکبير جلد ۱۵ صفحه ۱۲۶:

حدثنا عبدالله بن وهيب الغزي حدثنا محمد بن ابي السري حدثنا رشيدين عن زبان بن فايد عن سهل بن معاذ بن انس عن ابيه ان امرأة اتت النبي صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

يوه زنانه راغله نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ته. فقالت ان زوجي. وي ويل زما خاوند.

انطلق غازياً في سبيل الله. تللې غزا في سبيل الله لره.

وكنت أقتدي بصلاته اذا صلّى. ما به د هغه د مانځه اقتداء کوله چې کله به هغه مونځ کوه.

دې ځای نه استدلال دي چې په زمانه د صحابوو کې بي بيانو د خاوندانو تقليد کړې دي خاوند يې د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ نه دين زده کړي چې واپسي کور ته راغلي بي بي د هغه اقتداء کړې دا ماموره په دې نه وه چې ته به کتاب الله او سنت رسول نه اخذ کوې هرې بي بي کتاب الله او سنت رسول کله زده کولې شو بس د خپل خاوند اقتداء وکړه.

وبفعله. د هغه د فعل اقتداء مې کوله.

فاخبرني بعمل يبلغني عمله حتى يرجع. نبي اکرم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې رد ونه کړو چې ته کتاب الله او سنت رسول صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې ولې نه ځې چې خاوند پسې ځې.

دارنګې سنن ترمذي جلد ۴ صفحه ۶۶۵، ۶۲۵ بيروت چاپ:

حدثنا سويد بن نصر اخبرنا ابن المبارك عن المثنى بن الصباح عن عمرو بن شعيب عن جده عبدالله بن عمرو قال سمعت رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول خصلتان.

دوه کارونه. من كانتا فيه. چې دا وي په چا کې.

كتبه الله شاكراً صابراً. خداى تعالى هغه ليكي شاكر صابر.

ومن لم تكونا فيه لم يكتبه الله شاكرا ولا صابرا. او كه دا دوه كارونه په كې نه وي هغه ته شاكر صابر كې حصه نه وركوي.

اول: من نظر في دينه الى من هو فوقه فاقتدى به.

هغه څوک چې ګوري په دين كې هغه چا لره چې ده نه په دين او علم كې اوچت وي اقتداء پسې كوي.

ومن نظر في دنياه الى من هو دونه فحمد الله على ما فضله به عليه كتبه الله شاكراً صابراً.

نو دا شاكر او صابر شي په دين كې اعلم لوي عالم ګوره اقتداء پسې كوه نو ته به شاكر صابر يې او په دنيا كې چې د ځان نه اَدْوَنْ وي هغه ته ګوره نو ته به شاكر صابر يې.

ومن نظر في دينه الى من هو دونه ومن نظر في دنياه الى من هو فوقه فأسف على فاته منه لم يكتبه الله شاكراً ولا صابراً.

كه ددې عكس دې وكړو نو بيا د شاكرينو صابرينو نه، نه راځي.

دارنګې سنن الكبرى للبيهقي جلد ٦ صفحه ٢١٠:

أن عمر بن الخطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خطب الناس بالجابية.

جابيه كې تقرير كړې وه خطبه يې معروفه وه.

فقال من أراد. چې څوک غواړي.

أن يسأل عن القرآن. چې سوال كوي د قرآن نه.

فليأت. لاړ دې شي ابي بن كعب لره دي په تجويد او قراءت كې معروف دي.

ومن أراد أن يسأل عن الفرائض. كه د چا اراده وي چې سوال وكوي د مسائلو د علم ميراث نه.

فليأت. لاړ دې شي زيد بن ثابت لره.

ومن أراد أن يسأل عن الفقه. كه د چا اراده وي چې سوال كوي د فقهي جزئياتو نه.

فليأت. لاړ دې شي معاذ ابن جبل لره.

ومن اراد ان يسأل. که د چا اراده وي غوښتنه د مال کوي.

فليأتني. را دې شي ما لره.

فان الله تعالى جعلني له خازناً وقاسماً. دا زمانه د صحابوو ده موجود ناست اکثر صحابه دي لړ په کې تابعين دي په کار دا وه چې عمر فاروق رضی الله عنه ويلي واي کتاب الله او سنت رسول ته ځي کنه قرآن شته حديث شته اخذ ترې کوي.

هغه ته معلومه وه چې دا ټول اخذ د هغې نه نه شي کولې چې نه يې شي کولې د هغې لپاره اوس فقهاء په کار دي ليل خلک په کار دي نو وي ويل چې قرأت کې لاړ شي أبي بن كعب رضي الله عنه پسې په علم ميراث کې زيد بن ثابت رضي الله عنه پسې لاړ شي په فقه کې معاذ بن جبل رضي الله عنه پسې لاړ شي دغه مجلس کې به عبدالله بن مسعود نه وه ګنې هغه به يې هم ياد کړې وه چې ده پسې لاړ شي او يا به يې دواړه معي کړې واي معاذ بن جبل رضي الله عنه دا فقه چې کوم اړخونه لري د فقه څه مسائل چې دي هغه عميق سخت مسائل دي څه لانجمني د اجاراتو او د شفعې مسائل دي.

معاذ بن جبل رضي الله عنه افقه د صحابوو دي په مسئله د قضا کې او عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه افقه د صحابوو دي په عامه فقه او جزي مسائلو د فقه کې مسئله: نکاح کې مسئله د عتاق کې په مسئلو د صلواة زکواة حج وغيره کې.

نو ګويا کې دا هدايه چې څلور جلد ده ۲ جلد کې چې کومه فقه بيانيږي دې کې معاذ بن جبل رضي الله عنه ماهر وه ځکه هغه په يمن کې قاضي پاتې شوې وه ډيرې مسئلې ورته راغلې وې دا مونږ او تاسې پاکستان کې علم کړي کنه فقه مو ويلي ده هدايه مو هم ويلي ده تاسو لاړ شئ افغانستان ته يو سپين ږيري فقيه عالم سره د ځمکي لانجو کې مخامخ شي چې ښکي درنه اوباسي چې هغه څومره په فقه پوهيږي ليکن هغه بيا بيرته راولي دي مسائلو ته رفع اليدين ته امين بالجهر ته په دوه ټکي هم نه پوهيږي ګوره د فقه دا حصه کې کمزوري دي قرآن کريم ترجمه کې کمزوري دي په آحاديثو کې کمزورې وي ليکن د فقه هغه باب ته که تاسو لاړې چې کوم د قضاء باب دي بيا مقابله ورسره نه شي کولې.

چې كله لانجمنه مسئله وي دا نوي فارغين ملايان خو دلته بريت تاووي كنه هلته قوميان هم پرې غره وي چې دا خو نوي له حقاني فارغ شوي ته راځه دا پټي راته وګټه د تره ځامن ورته وايي نو په شريعت كې فيصله كوي هلته ملا صاحب ورته كينوي هغه جانب مقابل ورته يو زوړ فقيه بابا راولي ورته يې كينوي دوه ټكي هم ورسره دا ملا نه شي ويلي په فقه كې نو كومو ځايونو كې چې معاذ ابن جبل رضي الله عنه ته افقه ويلې شوې دي هغه په دا قضاء كې دي او كومو كې چې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دي هغه بيا دې نوره حصه د فقه كې اعلم دي افقه دي او داسې ده هم.

دا اوس چې كوم زمونږ ملګري د افغانستان په مختلفو ولاياتو كې د قضا په مقام پاتې شوې وي اوس يې چې مونږ چېرو نو هغوي په فقه ښه پوهيږي ځكه هغوي ته روزمره ضروريات راغلي وي دوي باندې باعث جوړ شوې فقه يې كتلي ده مونږ نه هغوي په دغه مسائلو ښه پوهيږي.

دا رنګې صحيح البخاري جلد ۲ صفحه ۲۲۰ كې د صحابه كرامو زمانه كې په دې مسئله اختلاف وه عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما طائف ته تللې وه نو مكه معظمه كې ټوله رايه او مذهب داد عبدالله بن عباس رضي الله عنهما معروفه وه او په مدينه منوره كې زيد بن ثابت پاتې شوې وه د مدينې منورې په خلكو كې د زيد بن ثابت رضي الله عنه مذهب او رايه رائجه وه.

په يمن كې معاذ بن جبل رضي الله عنه پاتې شوې وه هغلته مذهب د هغه چليده په عراق كې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وه هغلته د عبدالله ابن مسعود او د حضرت علي رضي الله عنه مذهب چليده دا صحابه چې چيرته لاړ د همغو مذهبونه خواره شول نو د حج وخت دې عبدالله ابن عباس رضي الله عنه حج ته راغې د مدينې منورې څو صحابه دې استفتاء ترې نه كوي دې مسئله كې لانجه ده چې كله زنانه طوافي فرضي وكړي بيا دا زنانه په مياشتني بيماري بيماره شي دا طواف صدر چې طواف رجوع ده افاقي لپاره د واجباتو نه ده دا په دې زنانه باقي دي كه نه دي دا به اوس انتظار كوي چې پاكه شي طواف وكړي او كه ځي به په دې كې اختلاف وه د حضرت زيد ابن ثابت رضي الله عنه مذهب او فيصله داوه چې دا به انتظار كوي ترڅو پاكه شي طواف صدر به كوي بيا به ځي.

او د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه او د جمهورو صحابوو رضي الله عنهم فقهاء دا رأيه ده چې دا

به ځي.

تنفر. چې دې طواف فرضي کړي دي.

طواف صدر رجوع له دې نه ساقط دي حقه مسئله د عبد الله ابن عباس رضي الله عنه وه خو مونږ دا ځای د دې لپاره پیش کوو چې دوي خلکو ته وايي چې د صحابوو زمانه کې تقلید نه وه یادیو شخص کمال اتباع نه وه.

چې دوي به ترې دلائل غوښتل نه داسې نه وه مدني خلک راغلل ابن عباس رضي الله عنه ته وايي چې زنانه په دغه وخت کې بیماره شي څه به کوي وايي: تنفر ځي به.

عبارت د حدیث د مذکورې صفحې دادی:

عن عکرمة رضي الله عنه ان اهل المدینة سألوا ابن عباس رضي الله عنه عن امرأة طافت ثم حاضت قال لهم تنفر. اجازت دي ورته لاړه دې شي.

قالوا لا نأخذ بقولك وندع قول زيد. مدني صحابه څه ورته وايي ستا قول نه اخلو حال دادی چې مونږ ستا په قول کې د حضرت زید رضي الله عنه قول پریږدو دا نه شو کولې.

قال. عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ورته وویل.

اذا قدمتم المدینة فسئلوا. بنه ځي چې کله مدیني منورې ته لاړې د حضرت زید رضي الله عنه نه بیا تپوس وکړي.

فسألوا فکان فیمن سألوا ام سلیم. دلته حضرت ام سلیم موجود وه.

فذکرت حدیث صفیة رواه خالد وقتادة عن عکرمة. بي بي ام سلیم ورته د حضرت صفیه حدیث پیش کړو چې صفیه بي بي داسې وه چې همدغه شان طواف کړې وه او میاشتني بیماري ورباندې راغله نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته چا وویل چې صفیه بي بي بیماره شوې ده وې ویل چې پوزه دې په خاورو ککړه شي دې ته به مونږ بیا انتظارونه کوو وايي راېې ولي چې راغله وايي طواف زیارت دې کړي دي وايي هاو وايي راځه چې ځو روان شول.

نو دلیل خو پیدا شو اتباع وشوه زمونږ اخذ له دې نه دي چې دوي خلکو ته داسې نظر ورکوي چې د صحابوو زمانه کې قرآن او سنت پسې تلل وه مذهبونه، نه وه مذهب وه کنه

اهل مدينه د حضرت زيد متبع وه او عبد الله ابن عباس ته وايي ستا قول مونږ په مقابل د قول د حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې نه منو.

دارنګې سنن الکبری للبیهقي جلد ٦ صفحه ٢١٠ :

عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارحم أمتي بأمتي ابو بكر واشدهم في أمر الله عمر واصدقهم حياءً عثمان.

او په علم میراث کې لوي پوه زید ابن ثابت دي.

وأقرؤهم أبي وافرضهم زيد بن ثابت وأعلمهم بالحلال والحرام معاذ وان لكل أمة أمينا وأمين هذه الأمة أبو عبيدة بن الجراح.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا تقرير څه د پاره کوي د همدې لپاره يې کوي چې هر څوک په هر علم کې همغه شخص ته مراجعه وکړي ددې تلقين نه ورکوي چې کتاب الله او سنت رسول دي عوام او خواص په کې په اصل کې يو شان دي نه دې کې فرق دي.

دارنګې المؤطاء د امام مالک جلد ٢ صفحه ٦٠٧ :

عن يحيى عن سعيد ان رجلاً سأل اباموسى الاشعري. يو سړي د ابا موسى صاحب نه تپوس وکړو.

اني مصصت عن امرأتي من ثديها لبناً. د خپلې بي بي نه مې مص وکړو د ثدينو د هغې نه څه شيدې راغلې حرمت شته او که نه.

فذهب في بطني. شيدې زما خيټې ته لاړې.

فقال ابوموسى لا أراها الا قد حرمت عليك. ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوى ورکړه بله رايه نه لرم مګر دا چې بي بي د رباندې حرامه شوه دلته عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناست دي.

فقال عبدالله بن مسعود انظر ماذا تفتي به الرجل. لږ سوچ وکړه دا په څه دې فتوى سړي ته ورکړه.

فقال ابوموسى فماذا تقول انت. عبد الله ابن مسعود ته ابو موسى وايي ستا څه رايه ده.

فقال عبدالله بن مسعود لا رضاعة الا ما كان في الحولين. د رضاع حرمت خو نه ثابتيږي

مګر هغه چې دوه کالو کې وي دې نه اخوا حرمت نشته.

فقال أبو موسی لا تسألوني عن شيء ما كان هذا الحبر بين اظهر كم.

وايي دا بحر د علم چې در کې موجود وي تعبيريې ترې نه په حبر و کړو لکه يهودو به علماء ته حبر ويلي چې دا بحر او دا علم د عبدالله ابن مسعود در کې موجود وي.

بيا مانه پوښتنې ونه کړي ګوري ابو موسی اشعري خلکو ته د عبدالله ابن مسعود د تقليد امر کوي دا تقليدِ شخصي دي چې دې موجود دي ده پسې ځي ما پسې مه ځي.

دا يوه افترا هم ده په احنافو باندې غير مقلدين وايي چې دوي تقليد شخصي کوي او تاسو هم په دې کلکيږي مه الياس ګهمن او د هغه رفقاء تنظيم نوجوانان احناف په تقليد شخصي باندې زور لګوي محمد امين صفدر او کاړوي او سرفراز خان صفدر صاحب دا ټول تقليد شخصي ته زور ورکوي خو دا زما په فکر خطاء کيږي مونږ کله هم تقليد شخصي نه دې کړي.

چې ځوک په مونږ دا اعتراض کوي افتراء ده او مه تاسو په تقليد شخصي کلکيږي دا زمونږ احناف شوافع موالک حنابله چې دې تقليد شخصي نه کوي تقليد معين کوي دې کې فرق دې تقليد شخصي دا معنی چې دوي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اَللّٰهُ را ټينګ کړې دي بل د هيچا پسې نه ځي دا غلطه ده افتراء ده کنه په ډير مسائلو کې مونږ د يارانو پسې تللې يو د امام محمد امام يوسف پسې تللې يو ډير مسائل دي په متقدمينو متأخرينو کې مونږ متأخرينو پسې تللې يو.

دا زمونږ فتاوی نه ګوري وعليه الفتوی چې کوم **مفتی به** وي مونږ هغې پسې لاړ شو نو دا دليل ددې دي چې مونږ تقليد شخصي په مونږ افتراء ده دا هر مذهب والا تقليد شخصي نه کوي تقليد معين کوي يعنې حنفيت شافعيت مالکيت حنبليت په دې ځلورو کې تقليد معين کوي چې حنفيت دي دا حنفيت خو يو اځې قول ابو حنيفه ته نه وايي قول ابي يوسف قول امام محمد قول طحاوي دې کې شپږ (٦) درجې د فقهاء مجتهدينو دي چې مجتهدين مطلق دي مجتهدين في المذهب دي.

مجتهدين اصحاب د مسائلو متروکه وو دي مجتهدين د اصحاب د ترجيح دي او مجتهدين د اصحاب تطبيق دي او شپږم طبقه اصحاب الفتيا دي او هغه اصحاب الفتيا

چې مجتهدين نه وي ففتواهم ليس بفتوى بل هم ناقلي فتوى المجتهدين .

عبدالحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ په عمدة الرعاية کې هغه دا تصريحات کړې دي .

اما مفتي زماننا ففتواهم ليس بفتوى بل هم ناقلي فتوى المجتهدين .

نو چې هغه زمانه کې د مفتيانو فتوى فتوى نه وه بلکې ناقل به د فتوى د مجتهد وي نو د ې زمانه کې به څنګه قبوله شي .

څو مره مفتيان که د اکوړي وي که د شافيصل وي که د هر ځاى وي دوي نه تپوس وکړي مقلدين يې که مجتهدين که وي ويل چې مونږ مجتهدين يو نو فتوى بيا قبوله ده که وي ويل چې مقلدين يو د مقلد فتوى نه قبليږي خاص کر علماء لره بيا او عوام خو به يې قبلوي عوام خو د خپل امام خبره به هم مني اوس زما مقتديان دي چې زه مسئله بيانوم دوي به يې مني اعتماد به کوي او چې دوي په ما بې اعتماده وي چې دا غلطې مسئلې کوي نو ما ولې مسجد کې پريږدي بيا چې په ما دومره بدګمانه وي په کار هم ده چې ما مسجد کې پرېږنه دي نو يو خو عوام دي عوام خو د خپل امام هم منلې شي هغوي خو به د اکوړي يا بل ځاى په فتوى اعتماد کوي .

البته يو تاسې طالبان يې علماء دي هغه چې پو هيږي په فقه باندې هغوي نه بيا ددې زمانې فتوى فتوى نه ده بلکې دوي ناقلين د فتوى د مجتهدينو دي دا ددې لپاره درته وايمه چې دلته فتوى ډيرې متضلې راوځي که مونږ اوس دا خلکو ته وايو چې د اکوړي ډيره بهترينه مدرسه ده او چې د فتوى لپاره بل خوا مراجعه ونه کړي او چې چيره مو د اکوړي فتوى وليدله فاقبلوه قبوله يې کړي .

نو لنډ کشف الغطاء عن تبليغ النساء مفتي سيف الله صاحب وايي د ښځو ليږل تبليغ ته په دغه شکل جائز نه دي او حافظ شوکت پرې لوي کتاب ليکلي د اکوړي نه يې فتوى راويستلې چې دا جائز دي ښځې تبليغ ته وباسي نو ګوره متضاد شو دغه شان ډير مسائل دي مونږ يې ګورو اکوړي نه يو مفتي صاحب يو ه فيصله کوي بل مفتي صاحب بله فيصله کوي متضاد دي چې متضاد دي نو عام خلکو ته ددې پرچار مه کوي چې د اکوړي فتوى قبولې کړي بيا خاص کر نن صبا د عبدالحق صاحب په وخت کې د اکوړي د مدرسې يو

اهميت وه د مفتي فريد صاحب په وخت کې بل اهميت وه د مفتي سيف الله صاحب په وخت کې بل اهميت وه.

اوس في الحال چې د هغې کوم مفتي دي عبدالقادر هغه باندې ګوري د حنفي ګمان نه کړي هغه خو کلک اشاعتي دي نظام پور ته يو ځل دده فتوی چا راوړه استفتاء ترې نه شوې وه چې يو امام دي دعاء بعد سنت کوي د حيله اسقاط قائل دي او درود سلام وايي او دعا بعد الجنازة کوي څه نور مسائل يې ليکلي وه دا امام څنګه دي.

عبدالقادر ورته فتوی ورکړې وه چې داد اهل فسقو نه دي او دا په فسق عقيده وي مبتلاء دي او فقهاو ليکلي دي چې کوم فاسق امام وي مسجد نه يې ويستل په کار دي دا امام له دې مسجد نه او باسه داد اکوړي د مفتي عبدالقادر فتوی وه تاسو اوس دا منلې شي چې دعاء بعد السنة فسق شي نو مفتي فريد صاحب دد غې مدرسې مقالات فريديه کې مستحب ولې ورته وايي نو د عبدالقادر فتوی په هغه ورغله که وره نغله زما په وخت کې چې مادوره حديث کوله زه بيا وروسته لاړم ادريس شيخ صاحب ته ۱۵ ورځې حقانيه کې زه ومه او د ماسپخين مونځ به انوار الحق صاحب په امامت کيدلو د ماسپخين مانځه بعد ما کتلي انوار الحق صاحب به باقاعده دعاء بعد سنت کوله چې د عاء بعد سنت بدعت شي.

نن صبا خو د اشاعت زور دي ورباندې دا دعاګانې يې پرېښي دي خو لکه هغه وخت سره زما په ياد باندې او د هغې نه مخکې شيخ عبدالحق صاحب چې وه هغه خو داسې کلک احناف وه دا مدرسه چې چا جوړه کړې په مرور د وخت سره زمونږ هغه علمي اداري پاکې نه پرېښدي خارجي لاسونه دي ورپسې اوس وخت کې خو دا مشکل جوړ شو چې په دفاع پاکستان کې اشاعتيان وهابيان او حقانيان سره خلط شول نو دا وخت بيل دي د حقاني هغه اهميت اوس نه دي پاتې شوې که تاسو د مفتي عبدالحق صاحب او د مفتي فريد صاحب د زمانې ګمان پرې کوي بلکې داد اغيارو ښکاره شوې ده او ټول په کې دا نور خلک ننوتي دي او کوم چې زمونږ حنفي فقهاء دي لکه مفتي سيف الله صاحب ديربابا جي او يا نور هغه خواران ډير مغلوب حال کې نن صبا هلته وخت تيروي.

باقاعده طالبان مونږ ته حکايت کوي چې مفتي سيف الله صاحب مونږ ته بار بار وويل چې فتاوی حقانيه دا زمونږ فتوی نه ده چې قبوله يې نه کړي چې کومه شائع شوې ده وايي

مونږ ورته ووېل مولانا صاحب چې تاسو يوه رساله وليکي په دې باندې وايي دې وخت کې مونږ قدرت نه لرو چې رساله وليکو مونږ دا اختيار اوس نه لرو نو دومره پرې دا نور خلک قابض شوي او اختيار د هغوي سره دي چې دا مشائخ زمونږ يې مغلوب کړي دي بنه پوهيږي چې دا فتاوى حقانيه نور مفتيان ناست دي او منصوب کوي حقاني لره او خلک پرې اعتماد کوي ډير هغه مسائل چې مفتي فريد صاحب مخکې په مقالات وغيره کتب کې هغې ته د استحباب عقيده ورکړې ده فتاوى حقانيه هغې ته بدعت وايي او شنيع بدعت يې ګڼي.

من جمله د هغې نه ميلاد مصطفى دي چې په ميلاد څومره ردود په فتاوى حقانيه کې موجود دي او داسې نور مسائل مقصود مې په دې سره د خپلو اکابرو رد نه دي دا زمونږ د شيوخو شيوخ دي مفتي فريد صاحب دا زمونږ د ادريس شيخ صاحب شيخ دي شيخ شيخ باندې رد کول عظيمه بې آدبي ده زما مقصد په هغوي رد نه دي اوس في الحال حقاني ته دومره اهميت مه ورکوي دا خلک د پخوانيو علماو په مينه حقاني ته اوس هم په همغه نظر ګوري نو په هغه نظر نن صبا حقاني ته مه ګوري او مه په دې مينه ورځي چې هلته به تاسو اوس حنفيت زده کړي.

نو راځم خپل مقصد ته چې مونږ تقليد معين کوو دا تقليد شخصي نه دي واضحه مثال ددې لپاره به مونږ پيش کړو د جمعې لمونځ نه بعد مونږ شپږ (٦) رکعته کوو او دا مذهب د يارانو دي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي د جمعې لمانځه نه وروسته څلور (۴) رکعته سنت دي نو که مونږ تقليد شخصي کولې نو په کار دا وه چې مونږ څلور (۴) رکعته سنت کولې.

بل مثال په افغانستان چې کله د طالبانو امارت اسلامي حاکم وه او په ټول افغانستان خشکي راغلې وه نو طالبانو خلکو ته حکم وکړو چې په هره ولسوالي کې د استسقاء لمونځونه وکړي دا مذهب د يارانو دي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په مسئله د استسقاء کې قائل د نيت صلواة نه دي بلکې د دعا د نيت دي که تقليد شخصي واي نو ولې حنفي امارت هلته د لمونځونو اعلانونه کول داسې ډير مسائل پيدا کيږي چې فقه وکتلې شي چې مفتیٰ به د يارانو قول وي ذهاب هغوي پسې دې او چې مفتى به د متأخرينو قول وي ذهاب هغوي پسې دي دا دلائل ددې دي چې مونږ تقليد شخصي نه دي کړي.

البته باني زمونږ د فقهې حنفي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دي مستخرج د اصولو ددې امام

بوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ دي په دغه اصطلاح باندې سرې تغليباً ويلې شي چې زه حنفي يمه او امام محمد امام ابي يوسف ته نسبت نه کوي هغې اصل ته نسبت کېږي .

دا رنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۷ صفحه ۲۳۹ د معاذ ابن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه معروف حديث پيش کوي باب لګوي : باب في القاضي ما ينبغي ان يبدأ به في قضائه .

قاضي او مجتهد چې فيصله کوي اول اخذ به د څه نه کوي .

حدثنا ابو بكر قال حدثنا وكيع عن شعبة عن ابي عونٍ عن الحارث بن عمرو الهمداني عن رجالٍ من اهل حمص من اصحاب معاذ عن معاذٍ ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما بعثه .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې و ليږه ده لره او ليږلو يې يمن ته .

قال كيف تقضي ؟ ورته يې وويل فيصله به څنګه کوي ؟

قال أقضي بما في كتاب الله قال فان جاءك امر ليس في كتاب الله ؟. که يو څيز راشي چې په كتاب الله کې نه وي .

قال اقضي بسنة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . هغه وويل بيا به په آحاديثو فيصله کوم.

قال فان لم تكن سنة من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قال أجتهدُ رأيي . اجتهاد بالرأيه به کوم.

دا حديث دې دليل دي چې بعضې مسائل په کتاب الله او سنت رسول کې نه وي هغه زمانه کې وايي چې نه وي وايي :

اجتهد رأيي . په خپله رايه به اجتهاد کومه .

قال الحمد لله الذي وفق رسولَ رسولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

هغه ذات لره ثناء ده چې موافق يې کړه رايه د خپل رسول د استاذي د رسول خپل سره يعنې دې زما رسول دي په معنى لغوي ما ليږلي دي او زه د خداى تعالى رسول يمه زما رايه يې دده له رايې سره موافقه کړه او دده رايه يې له ما سره موافقه کړه يعنې معنى چې زما هم دغه رايه ده چې مسئله کتاب الله او سنت رسول کې پيدا نه شي اجتهاد پسې دې سړي لاړ شي خو چې اهل د اجتهاد وي .

ابوداؤد شريف کې چې دا حديث مذکور دي حاشيه ورباندې کوم ظاهر بين لګولې ده

ددغه حديث په سند کې راويان ټول ثقه دي په دې جرحه نه شي کولې عن رجال من اهل حمص من اصحاب معاذ، باندې جرحه ده د معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاګردان له اهل حمص نه له هغوي نه وايي مونږ روايت کوو وايي پته نه لګي چې دا څوک دي نو په حاشيه د ابوداؤد يې ډير لوي بحث په دې کړي او په دې سند يې جرحې کړي وهابيان هم جرحې کوي پرې نو تاسو د هغوي جواب له سر کړه د هغوي ابن قيم نه ورکړې اعلام الموقعين جلد ۱ صفحه ۲۰۲ د ابن قيم کتاب ته ګوري دا خو به مني راسره:

فهذا حديث وان كان عن غير مسمين. اګر که دې سند کې څه خلک شته دي چې مسمی نه دي.

فهم اصحاب معاذ فلا يضره ذلك. چې هغه اصحاب د معاذ دي دا څه تاوان نه ورکوي سند ته.

لانه يدل على شهرة الحديث. وايي ځکه دا دليل د شهرت الحديث دي.

وأن الذي حدث به الحارث بن عمرو عن جماعة من اصحاب معاذ لا واحد منهم.

وايي دده دا مقصد نه دي چې ګنې ما ته معلوم نه دي اصل کې داد معاذ ډيرو شاګردانو بيان کړې دي نو هغه شهرت ته اشاره ده چې د هغه ډيرو شاګردانو ما ته بيان کړي دي.

وهذا ابلغ في الشهرة من ان يكون عن واحد منهم لو سمي.

دا ابلغ دي په شهرت د حديث کې چې شي دې له دې نه چې نوم يې اخيستې وای چې فلاني راته ويلي دي.

كيف وشهرة اصحاب معاذ بالعلم والدين والفضل والصدق بالمحل الذي لا يخفى.

او اصحاب د معاذ چې دي په علم په دين په فضل او صدق کې په هغه انداز کې دي چې په چا خفي نه دي.

ولا يعرف، معروف نه دي.

في اصحابه متهم ولا كذاب ولا مجروح بل اصحابه من افاضل المسلمين وخيارهم لا يشك

اهل العلم بالنقل في ذلك .

چې څوک اهل علم په نقل او اسماء الرجال دي هغوي په دې کې شک نه لري .

آخره کې وايي دې سند کې شعبه راغلې :

كيف و شعبة حامل لواء هذا الحديث . ددې حديث جنډه شعبه اوچته کړې ده .

وقد قال بعض ائمة الحديث اذا رأيت شعبة في اسناد حديث فاشدد يديك به .

سند د حديث کې دي چې شعبة وليده نو منګولي پرې کلکي کره يعنې بيا په کې سوچ نه مه کوه چې دا به قوي وي که ضعيف .

فكذلك حديث معاذ لما احتجوا به جميعاً غنوا عن طلب الاسناد له .

چې هر کله دومره جمع غفيرې پرې اخذ کړې دي او محدثينو را اخيستي دي دا غني شوله دې نه چې ته طلب د سند ورته ولټوي .

دارنګې اعلام الموقعين جلد ۱ صفحه ۱۴ يو بل روايت نه مونږ اخذ کوو :

وقال يزيد بن عمير لما حضر معاذ بن جبل الموت قيل يا اباعبدالرحمن اوصنا .

معاذ بن جبل ته چا وويل وصيت راته وکړه د مرګ په وخت کې .

قال اجلسوني . ده وويل ما کينوي يا راسره کيني .

ان العلم والايمان مكانهما من ابتغاهما وجدهما .

علم او ايمان ځای د هغې چې څوک ولټوي مونده به يې کړي .

يقول ذلك ثلاث مرات . دري ځل يې دا خبره وکړه يعنې طلب غواړي .

بيا يې وفرمايل :

التمس العلم ، علم طلب کړي .

عند اربعة رهط . د څلورو کسانو سره .

عند عويمر بن ابي الدرداء وعند سلمان الفارسي وعند عبدالله بن مسعود و عند عبدالله بن سلام .

نو دا نصيحت او وصيت په دې باندې کوي چې تاسو دې زمانه کې علوم دوي نه واخلې ځکه دا فقهاء دي ولې ورته دا نه وايي چې کتاب الله او سنت رسول شته دي ځي وريسې دا علماء ورته ولې يادوي .

دارنګې اعلام الموقعين جلد ١ صفحه ٢١ :

والدين والفقه انتشر في الأمة عن اصحاب ابن مسعود واصحاب زيد بن ثابت واصحاب عبدالله بن عمرو و اصحاب عبدالله بن عباس رضي الله عنه.

ددې څلورو کسانو نه دا دين خور شوې دې په امت کې .

فعلم الناس عامته عن اصحاب هؤلاء الاربعة .

دا امت کې چې دا عام علم ګوري دا ددې څلورو صحابوو شاګردانو نه خپور دي .

فاما اهل المدينة فعلمهم عن اصحاب زيد بن ثابت وعبدالله بن عبد بن عمر .

علم د اهل مدينې له اصحابو د زيد بن ثابت وعبد الله بن عمر نه دي .

هر چې اهل مکه دي :

وأما أهل مكة فعلمهم عن اصحاب عبدالله بن عباس ، نه دي .

هر چې اهل عراق دي :

واما اهل العراق فعلمهم عن اصحاب عبدالله بن مسعود ، نه دي .

قال ابن جرير وقد قيل ان ابن عمر وجماعة ممن عاش بعده بالمدينة من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم انما كانوا يفتون بمذاهب زيد بن ثابت .

عبد الله بن عمرو او څو مره صحابه چې مدينه منوره کې وه دوي به فتوى ورکوله په مذهب د زيد ابن ثابت باندې .

نو دا ثابتوي چې صحابه د بل صحابي تقليد کوي په مدينه منوره د زيد بن ثابت مذهب رائج وه يعنې فتوى وه هغې نه دين جوړ شوې وه او دا نور صحابه ابن عمرو وغيره چې دي هغوي د زيد ابن ثابت مذهب باندې فتوى ورکوي .

دا جماعت المسلمين حمقاء سوچه خره راغوند دي خره سره څوک بحث نه کوي

کونک ورته نيسي دوي اوس څه شروع کړې دي، نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ به چې کله قضاء حاجت ته تللو نو:

ابعد في المذهب. هلته مذهب په معنی د مصدر ميمي سره دي په معنی د ذهاب سره ابعد في المذهب معنی ابعد في الذهاب په ذهاب کې به يې ډير لرې والې کولو.

دا جماعت المسلمين چې دي د فقهاء مذاهب چې کوم دي او مذهب په مصدر ميمي سره نه شي بيلولې، دلته مذهب په معنی د تگلاري سره دي ظرف دي او هغه مذهب په معنی د نفس ذهاب سره دي مصدر ميمي دي.

نو دا دي صحابه په مذهب د زيد بن ثابت باندې فتوی ورکوي العياذ بالله ددې اوس دا معنی شوه چې مذهب ليتهرين ته وايي او دوي فتوی د زيد بن ثابت ليتهرين وه په هغې فتوی ورکوله نو داسې احمقانو سره به څه بحث مباحثه وشي بغير د کوتک نه خو يې بله لار نشته. او اصطلاح د مذهب په زمانه د صحابوو کې هم موجوده شوه چې هغه زمانه کې هم د مذهب اصطلاح وه.

دارنگې صحيح مسلم معرب بيروتي چاپ جلد ۵ صفحه ۱۳۱:

عن ابي قيس مولی عمرو بن العاص عن عمرو بن العاص انه سمع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: اذا حکم الحاکم فاجتهد.

حاکم چې فيصله وکړي اجتهاد وکوي.

ثم أصاب فله اجران. چې حق ته ورسيږي دوه اجره دي ورلره.

واذا حکم. چې فيصله وکړي، فاجتهد، اجتهاد وکړي ثم اخطأ خطاء شي فله اجر، يو اجر دي ورته.

حکايت:

ما سره د يو سلفي په دې کې مباحثه وه ما ته يې وويل چې د ائمو و په اقوالو کې د خطاء امکان شته دي او که نشته ما ورته وويل ولې نشته وايي دا خطاء معين ده که غير معين ده ما ورته وويل غير معين ده وايي دا خو په هره مسئله کې امکان د خطاء شته دي کنه

تاسو ولې داسې څيز پسې ځې چې امکان د خطاء لري ما ورته وويل الله دې ما د بې آدبي نه وساتي بې ادبي نه کوم خو تا باندې نقض کوم.

نبي اکرم ﷺ او انبياء عليهم السلام نه امکان د خطاء شته دي که نشته امکان د ګناه خو نشته او امکان د خطاء څنګه دي شته کنه وايي چې شته دي ما ورته وويل معين ده که غير معين وايي غير معين ده ما ورته وويل چې دا اعتراض دلته هم مراجعه کړه کنه هره خبره يې مه منه کيدې شي خطاء وي.

ووايي نه نه د پيغمبرانو خطاء خو دين دي کنه ما ورته وويل چې د مجتهدينو خطاء هم دين دي وايي د مجتهد خطاء څنګه دين دي ما ورته وويل دين دي کنه نبي اکرم ﷺ فرمايي:

ثم اخطأ فله اجر .چې خطاء شي يو اجر دي ما ورته وويل چې دا اجر په دين کې وي که په بې ديني کې وي وايي چې په دين کې وي ما ورته وويل چې دا خطاى دين نه وايي نو اجر به ورته نه ميلاودې نو د مجتهد خطاء دين وي. داسې وهميات يې راغوند کړي دا خو خطاء کيږي داسې کيږي او هغه سي کيږي.

دې عامو وهابيانو ته زه وايم دا ستاسو پشاوري او ستاسو رستمي ولې نه خطاء کيږي چې لکي مو کلکه ورته رانيولې ده چې کفر کوي کفر ورسره کوي او چې ايمان راوړي ايمان کې پسې روان يې په اعتقادياتو ايمانياتو کې مو راتينګ کړې دي.

نو امکان د خطاء خو هر چا ته کيدې شي عامو وهابيانو ته زه دا خبره کوم جماعة المسلمين ته زه دا خبره کوم چې په دغه معمولي خبره مو مذهب پريښې دي نو ستاسې په دې مشر کې خو هم دا خبره شته کنه چې امکان د خطاء لري نو څنګه پسې ييا روان ياستي؟

حکايت:

په پشاور اکبرپوره کې يو ځل ما ته يو کس ډيره مخکيني خبره ده يو قادياني راوسته داد قاديانيانو بعضې اعتراضات او د وهابيانو يو شان اعتراضونه دي نوجوان وه لږه ډيره يې راغلې وه خو وهابي وه وايي دا قادياني شوې دي ما ورته وويل چې ته څنګه قادياني شوې يې وايي زما څه شبهې وې او زه په ډيرو علماو وګرځيدم تبليغي جماعت سره شوم

اشاعتیانو سره شو مه وهابیانو سره جماعت المسلمین سره شو مه خو زما هغه شبهي چا دفع نه کړي یوانځیني یوانځي په قادیانیت کې ماته اطمینان او سکون حاصل شو.

دا همداسې شکیان وي یو پر بل یې خرڅوي تبلیغیان یې په اشاعتیانو خرڅوي اشاعتیان یې په وهابیانو خرڅوي همداسې شکونه زیاتیږي زیاتیږي اخر قرآن کریم کې هم شک راشي چې دې کې هم دروغ العیاذ بالله شته دي دا بیا خپله مرتبه د قادیانت ده او چې قادیانت کې پاتې شوي او که عیسویت ته لاړ یوه خبره ده د خور او ورور دي سره.

ما ورته وویل چې دا څنګه شبهې دي ستا چې دا دومره علماء د مختلفو جماعاتو تاته نه شوي حل کولې ما ورته وویل یوه خوموږ ته هم پیش کړه؟ وایي شبهه مې داده چې زه عیسوي ته دعوت ورکومه نو زه یې حنفیت ته ورکړم شافعیت ته یې ورکړم او که مالکیت او حنبلیت ته یې ورکړم.

ګوري دا اعتراض که سوچ وشي د وهابیانو دي اکثر وهابیان دا اعتراض کوي چې موږ کافر ته دعوت ورکوو نو د کوم مذهب دعوت ورکړو وایي که زه یې حنفیت ته دعوت کړم دا مې څلورمې حصې د دین ته دعوت کړو او که ټول دین او دغسې شافعیت مالکیت او حنبلیت ما هغه ته وویل چې ته عیسوي ته دعوت ورکوي اول د عقیدې دعوت ورکوي او که د عمل؟ وایي د عقیدې دعوت ورکوم.

ما ورته وویل چې ما ته دا وښایه چې دا څلور امامان په عقیده کې سره مخالف وه چې دا یو اهلسنت وه بل د خوارجو نه وه بل معتزلي وه خو دا ټول اهلسنت دي یوه عقیده ده کنه ته خو به اول د عقیدې دعوت ورکوي کنه وایي هاو ما وویل د دې څلورو په عقیده کې څه اختلاف شته دي وایي نه ما وویل چې کله دې عقیدې ته دعوت ورکړو او سړي مسلم شو د هغې نه بعد جزي فروعي اختلافات وي که د دې اختلافاتو اعتراض ته په دوي باندې کوي نو عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه رفع الیدین نه کول او ابن عمر رضي الله عنه نه رفع الیدین ثابت دي بعضې روایاتو کې.

نو په دوي اعتراض مه کوه په صحابوو دا اعتراض وکړه چې اختلاف یې ولې کړي دي دلته مه کوه دا هلته وکړه وایي یاره جي یوانځي تا زما تسلي وکړه زه به مدرسې ته درځمه او زما ډیرې شبهې دي چې دا دفعه شي زه به بیرته مسلمان شم بس نور مې خوله پرې را خلاصه

کړه ما وویل تا بې دینه دې خدای له سره مسلمان نه کړي چې ته د دین نه اوړي قادیاني کیږي مونږ به تا ته سترګي اړوو چې ته به راځي زمونږ دین ته او ته دې سر نه واخله خپو پورې شکل ته دې وګوره ستا خو شکل د عیسوي دي ما ورته وویل چې تا خپل ځان په شریعت برابر کړې دي چې ته عیسوي ته دعوت ورکوي دعوت لا نشته بیا به زه یو خت کې دعوت ورکوم بیا به یې څنګه ورکومه او مذهب دي او سه نه ورته پریښي دي او به کوم ځای کې را رواني دي او پرتوګ دې کوم ځای کې ویستلې دي ځان خو یو ځل په شریعت برابر کړه بیا دعوتونه ورکوه.

نو ددې خلکو سره نرمي نه دي په کار د انسان ایمان خرابیږي قادیاني سره به سړي څه دلائل وواېي د قادیانیانو کتب تاسو به نه وي کتلې ما یې رسائل کتلي وایي العیاذ بالله یولس (۱۱) ځایه قرآن کریم کې دروغ راغلي نو دوي سره به اوس څه مناظرې کوي یا به حجت او دلیل بازي ورسره کوي که مفتي محمود صاحب یا د بریل بعضې مشائخو مناظرې ورسره کړې دي نو د ضرورت په بناء شوې دي چې هغه وخت کې بهتو د بې نظیري پلار پرې وردیده څوک یې نه پریښودل چې دا مره کړي او بلکې هغه ته یې مسلم ویلي نو که هغه وخت کې بحث ورسره نه واي شوي نو په سرکاري سطحه دوي د مسلمینو نه شمارل شوې واي.

همغه د مفتي محمود صاحب او د بعضې بریلوي مشائخو د مقابلو نتیجه ده چې اوس دوي ته په سرکاري سطحه مسلمانان نه ویل کیږي ډیرې مناظرې ورسره وشوي په آخره کې د بریل د مشائخو نه یو شیخ ورسره مباهله وکړه درې ورځې وروسته له دې مباهلې نه بیا دې مرداریږي درې ورځې مخکې ورسره مناظره وکړه آخر کې مباهلې ته لاړل چې مباهلې ته لاړل نو مباهله کې ورته وویل چې ته وایه که چیرته ته پیغمبر یې او زه درنه منکریم نو خدای تعالی دې ما زر تر زره په لیټرین او ګندګي کې مړ کړي او که ته پیغمبر نه یې او دروغ دې ویلي نو ته هم داسې ووایه بس داسې یې وویل دریمه ورځ وه
لیټرین ته ننوتلې وه او په لیټرین کې مردار شوې وه همغې مباهلې ووهلو.

نو له داسې بې دینه او د هغه له پیروانو سره به څه مناظرې وشي پدیوه رساله کې چا ترې تپوس کړې دي چې مقام ستا به او چت وي که د حضرت حسین عَلَيْهِ السَّلَامُ ؟ واه واه عجباً دې ورته وایي ضحک یې پسې کړې دي وایي هغه موچي چې یوه ورځ یې زما څپلي رنګ

کړې وي که چیرته حسنین د هغه مقام ته ورسیږي نو ډیر دې خوشحاله شي دده په رسائلو کې دا الفاظ موجود دي خو تاسو په دې باندې د شاه انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللّٰهُ اکفار الملحدین عن ضروریات الدین داد قادیانیانو په کفر لیکل شوې دي چې داد ضروریاتو د دین نه منکر دي.

مسئله د ختم نبوت چې ده داد دین د ضروریاتو نه ده وایي له دې نه منکر کافر دي په دې مسئله یې دا کتاب لیکلي دي نو بیا آخره کې دده په کتابونو رالیږلي چې ده داسې خبرې کړې دي نو داسې کس سره به سړي څه مناظره وکړي بس سړي څه وکړي.

پاکستان دې اچار دي د دنیا مرداري دې کې راغونډه ده سوچ مو شته ورته دا مرداري نه په عربو کې شته نه په افغانستان کې به دوه قادیانیان پیدا کړې چیرته؟ زمونږ استاد به ویل که د جال پیدا شو ډیر متبعین به یې پاکستانیان وي ځکه دا بې غورد بې سوچه قوم دي په یو ملک کې داسې څه شته لکه په دې پاکستان پنجاب کې چې څه کیږي ښځې هم په کې پیرانې دي بس د پیسو سخت شوقیان دي چې حق چا ته وایي بعضې بریلیان خفه کیږي چې حق به نه وایي مونږ به اوس حق نه وایو احمد رضا خان ته سپک نظر مه کوي هغه سم سړي وه کتب یې وګورئ.

دارنګې مستند ابي عوانة جلد ۸ صفحه ۲۰۸ چې کله خلک په یو عالم یو بادشاه باندې راغونډ وي او دې وخت کې یو بل سړي راځي او تفرق جوړوي دده حکم د قتل دي عرفجة بن ضریح راوي ده:

قال سمعت النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول: من أتاكم. څوک راغې تاسې ته په داسې حال کې.

وامركم جميع على رجل واحد. چې ستاسو د دین خبره راغونډه وه یو سړي باندې یا کار د دین مو راغونډ وه یو سړي باندې.

يريد ان يشق عصاكم. اراده یې دا وه چې ماته کړي امساء ستاسو.

ويُفرق جماعتكم. او ستاسې ډله تفرقه کړي.

فاقتلوه. مړیې کړي.

اوس دا حدیث دې دلیل دي چې په کومه علاقه باندې په یو سړي خلک راغونډ شول

خارج نه بل سړي راغلو تفرقه جوړوي قوت ختموي د هغه حکم د قتل دي د وهابيانو بل کار نشته دي په افغانستان پاکستان انډيا ثمرقند بخاری په دې مضافاتو کې عراق ترکيا مصر دې ټولو علاقو کې .

امركم جميع على رجل واحد . امام ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ باندې خلک راغونډوو .

اوس د بل ځای نه يو کس راځي اراده لري قوت مو مات کړي تفرقه راولي حکم د هغه فاقتلوه قتل يې کړي .

دا رنګې اعلام الموقعين جلد ۱ صفحه ۲۲ :

وقال عبدالرحمن بن زيد بن اسلم فرمايي . لما مات العبادلة . عبادله ثلاثه يا اربعه چې وفات شول عبدالله بن عباس وعبدالله بن عمر وعبدالله بن عمر او عبدالله بن مسعود چې دوي وفات شول .

صار الفقه في جميع البلدان الى الموالي . لاړه دا فقه په ټولو بلادو کې ازاد کرده غلامانو ته لاړه .

هو فكان فقيه أهل مكة عطاء ابن أبي رباح وفقيه اهل اليمن طاؤس وفقيه اهل اليمامة يحيى بن ابي كثير وفقيه أهل الكوفة ابراهيم وفقيه اهل البصرة الحسن و فقيه اهل الشام مكحول و فقيه اهل خراسان عطاء الخراساني .

دا واضح دليل ددې دي چې په هغه زمانه کې دغلته فقهاء وه په هغو علاقو کې د هغوي مذهب رائج وه .

اعلام الموقعين جلد ۱ صفحه ۲۵ دې فصل کې دا ښايي چې يو ائې په عراق کې څومره مفتيان ناست وه چې هر سړي دې اخذ د کتاب الله او سنت رسول نه کوي نو مفتيانو ته بيا څه ضرورت وه .

فصل المفتين بالكوفة .

وكان من المفتين بالكوفة علقمة بن قيس النخعي والاسود بن يزيد النخعي و هو عم علقمة بن شرحبيل الهمداني ومسروق بن الاجدع الهمداني وعبيدة السلماني وشريح بن القاضي

وسليمان بن ربيعة الباهلي وزيد ابن صوحان وسويد بن غفلة والحارث بن قيس الجعفي وعبدالرحمن بن يزيد النخعي وعبدالله بن عتبة بن مسعود القاضي وخيثمة بن عبدالرحمن وسلمة بن صهيب ومالك بن عامر وعبدالله بن سخبرة وزر بن حبيش وخلاس بن عمرو وعمرو بن ميمون الاودي وهمام بن الحارث والحارث بن سويد ويزيد بن معاوية النخعي والربيع بن خيثم وعتبة بن فرقد وصلة ابن زفر وشريك بن حنبل وابو وائل شقيق بن سلمة وعبيد بن نضلة وهؤلاء اصحاب علي وابن مسعود .

داد حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاگردان وه دا فقهاء وه په دغه علاقه کې .

واكابر التابعين كانوا يفتون في الدين ويستفتيهم الناس واكابر الصحابة حاضرون يجوزون لهم ذلك .

ابن قيم دا تولې صفحې په رد د هغه چا باندې لړولې چې څوک وايي هر سړي به اخذ د كتاب الله او سنت رسول نه كوي هر سړي اخذ نه شي كولې صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به موجود وه دې تابعينو به فتوى وركولې .

واكثرهم اخذ عن عمرو وعائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. او زياتو به اخذ له عمرو او عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه كړې دي .

وعلي ولقي عمرو بن ميمون الاودي معاذ بن جبل وصحبه واخذ عنه .

او اخذ يې د معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم كړي .

واوصاه معاذ عند موته . او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وخت د مرگ كې ميمون الاودي ته وصيت كړې وه .

ان يلحق بابن مسعود فيصحبه ويطلب العلم عنده ففعل ذلك . چې مانه بعد لاړ شه ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له د هغه صحبت وكړه او علم د هغه نه زده كړه .

ويضاف الى هؤلاء ابو عبيدة وعبدالرحمن ابنا عبدالله بن مسعود وعبدالرحمن بن ابي ليلى

واخذ عن مائة وعشرين من الصحابة.

دومره صحابو و نه يې اخذ کړې دي.

وميسرة وزاذان والضحاك ثم بعدهم ابراهيم النخعي وعامر الشعبي وسعيد بن جبير والقاسم بن عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود وابوبكر بن ابي موسى ومحارب بن دثار والحكم بن عتيبة وجبلة بن سحيم وصحب ابن عمر ثم بعدهم حماد بن ابي سليمان وسليمان بن المعتمر وسليمان الاعمش ومسعر بن كدام ثم بعدهم محمد بن عبدالرحمن بن ابي ليلى وعبدالله سبرمة وسعيد بن أشواع وشريك القاضي والقاسم بن معن وسفيان الثوري وابوحنيفة والحسن بن صالح بن حي ثم بعدهم حفص بن غياث ووكيع بن الجراح واصحاب ابي حنيفة كابي يوسف القاضي وزفل بن الهذيل وحماد بن ابي حنيفة والحسن بن زياد اللؤلؤي القاضي ومحمد بن الحسن قاضي الرقة وعافية القاضي واسد بن عمرو ونوح بن دراج القاضي واصحاب سفيان الثوري كالاشجعي والمعافي ابن عمران وصاحبي الحسن بن حي الزولي ويحيى بن آدم.

دا دومره فقهاء يواځې په کوفه کې تير شوې دي د هيچا مذهب اوس نه ښکاري که اوس څوک وايي چې يواځې حنفي مذهب ولې شته او نور نشته دي نو دا اوس د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ کمال شو او که نقص تر ديرو کلونو پورې ددې هريوه څه ناڅه مقلدين وه دا هريوه به چې کوم کلي کې وه هلته به د هغه مذهب وه په مرور د وخت سره يې نور وشاگردانو خدمت و نه کړو تدوين د فقه و نه کړو او امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ ته خدمت امام محمد بن حسن شيباني وکړو چې دده ټوله فقه يې راغونډه کړه په شکل د متن باندې به هغه متن شروح وشول د هغې نه بعد دده په اصولو کې سرخسي وغيره لوي لوي خلک راغلل هغه ورته اصول راغونډ کړل د هغې نه بعد فقهاء محدثين پيدا شول د مذهب د تدوين خدمت يې ورته وکړو.

باقي ددې نورو فقهاء د مذهب تدوين و نه شو لکه څنګه چې د صحابو د مذاهبو تدوين نه وه شوې په دې وجه هغه مذاهب متروک شول او دغه څلور مذاهب دنيا کې ښکاره شول دې نه دې څوک دا فهم نه کوي چې ګني نور مذاهب نه وه مذاهب د صحابو زمانه کې

هم وه د تابعينو زمانه کې هم وه د تبع تابعينو په زمانه کې هم وه البته دا څلور مذهبونه چې وه ددوي د فقه تدوين وشو دا پاتې شول دا نور مذاهب په مرور د وخت سره ختم شول، اوس که يو سړي بل مذهب د کوم صحابي يا تابعي جوړوي تدوين نشته لار به ترې ورکه شي .

زمونږ يو دوست دي عبد الحکيم مظهري صاحب هغه وايي نن صبا هر طالب نيم غير مقلد دي شکيان کيږي مه شک مه کوي په نحو کې تقليد کوي په اصول حديث کې تقليد کوي په تولو کې تقليد کوي چې فقه ته راشي بيا انکار کوي تپوس ترې وکړي قرأت سبعه ولې شو هلته تقليد روا دلته نارو ا عجيب انصاف دي .

دارنګې المدخل الی سنن الکبری للبيهقي جلد ۱ صفحه ۴۴۸ خپل سند سره د موسی ابن اعين په روايت سره وايي :

قال قال الاوزاعي . امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ به فرمايل .

کنا نضحك ونمزح . مونږ به کله خندل هم مزاح به مو کوه .

فلما صرنا يقتدى بنا . چې مونږ هغې مقام ته ورسيدو چې اقتداء مونږ پسې کولې شي .

خشيت ان لا يسعنا التبسم . مونږ ويريدو له مزاح او ضحک نه .

اوس مونږ ته جواز د تبسم هم نشته دا ددې دليل دي چې د امام اوزاعي زمانه کې خلکو دغه ائموو پسې اقتداء کړې ده او هغوي دومره احتياط له ځان سره کړې دي چې مزاح او ضحک يې نه کول چې دا غير مونږ پسې اقتداء ونه کړي چې ياره دې خاندي زه هم خاندمه .

اضواء البيان في ايضاح القران بالقرآن جلد ۷ صفحه ۳۱٦ کې د تقليد دا موضوع ډيره طولاني چيړي دا کوم دلائل چې مخکې تير شول دا هم په کې ضمني ځاى پر ځاى نقل کوي او قانع کن دلائل په دې باندې وايي او د وهابيانو هغه اصل باطلوي چې د معتزلو په شان چې هر عامي به طلب د دليل کوي مفتي او د مجتهد نه يعنې هر سړي به فتوی نه مني اعتماد به نه کوي دليل به وايي نو دې په دې خبره ټول شواهد پيش کوي چې دا نه شي کيدې چې هر احد دې طالب د دليل شي بلکې قول د غير به مني او تسليم به کوي چې تقليد دي په دغه آيت کريمه باندې تفصيل کوي دده د امضمون ته لږ په غور و ګورئ نو په خپله به ستا اصلاح د

عقيدې وشي چې په هيڅ شكل له تقليد نه وتل نه دي په كار .

﴿ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ .

دې باندې بحث كوي .

فامر سبحانه من لا علم له ان يُسأل من هو اعلم منه . رب كائنات دلته امر كړې دي هغه چا لره چې عالم نه وي يعنې مجتهد نه وي سوال به كوي له هغه چا نه چې اعلم وي له ده نه .

وهذا نص قولنا . دې نه مخكې څه بحث ده په تقليد كړې دي وايي دا آيت كريمه نص زمونږ د قول دي زمونږ قول څه شي چې زه مثبت د تقليد يمه د دغه آيت پرې نص دي .

وقد ارشد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من لا يعلم الى سؤال من يعلم . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بنودنه كړي ده هغه چا لره چې علم نه لري بايد سوال وكړي له عالم نه په هغه حديث كې چې جهاد ته تللي وه څه كسان او په هغوي كې د يوه سر زخمي شو او بيا هغه محتلم شو د احتلام په صورت كې له زخم سره هغه ولمبل او هغه وفات شو نو د هغې باره كې فرمايي :

ألاسألوا اذا لم يعلموا. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې اطلاع راغله وايي ولې يې پوښتنه نه كوله .

اذا لم يعلموا : گورئ دا صحابه وه او بشاوري وهابي وايي مونږ عالمان يو مونږ ته د سوال ضرورت نشته په صحابو كې هم داسې صحابه وه چې په دغه وخت كې دغه مسئلې ته فهم ونه رسيده .

ألا سألوا اذا لم يعلموا .چې خپله پوهه نه شول ولې تپوس د بل نه ونه كړو .

انما شفاء العيّ السؤالُ . د بيمار شفاء خو په سوال كې ده كنه چې خپله نه پوهيده سوال به يې كړې وه له غير نه او رد يې وكړو په هغه چا باندې چې بغير د سؤال د غير نه يې ولې دا عدل وكړو او روايت كې دا هم راځي دا خو دې خلكو وژلي دي خداى دې مړه كړي تپوس به يې كړې وه له چا نه چې مسئله څه ده .

وقال ابو العسيف الذي زنى بامرأة مستأجرة . دا مختصر حديث وايي ابو العسيف راغې يوې زنانه سره يې زنا كړې وه وي ويل :

اني سألت اهل العلم . ما د اهل علمو نه تپوس وكړو . فاخبروني . خبر يې راكړو .

ان ما على ابني جلد مائة وتغريب عام . زما په ځوي باندې سل دُرې دي او تغريب د عام دي.

وان على امرأة هذا الرجم .

نو دې استدلال کوي :

فلم ينكر عليه تقليد من هو اعلم منه .

دا صحابي ابو العسيف د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په وړاندې وايي :

سألت أهل العلم فأخبروني . ما د اهل علمو نه تپوس وکړو ما ته یې داسې خبر راکړو وايي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې رد ونه کړو چې زه موجود يمه تا ولې د اهل علمو نه تپوس کړې دي نو انکارېې ونه کړو په ابو العسيف باندې په تقليد د مَن هو اعلم کې .

دارنګې : وهذا عالم الارض عمر قد قلد ابابكر : دغه زمانه کې د ځمکي لوي عالم حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تقليد کړې دي دليل ته ګوري :

فروي شعبة عن عاصم الأحول عن الشعبي ان ابابكر قال في الكلالة اقضي فيها .

د کلاله باره کې فيصله به کوم :

فان يكن صوابا فمن الله . که حق وي فمن الله ، وان يكن خطاءً فمني ومن الشيطان والله منه بريء .

کلاله چا ته وايي :

هو مادون الولد والوالد . چې نه ورته ولد وي نه ورته والد وي .

فقال عمر بن الخطاب اني لأستحيي من الله . ما ته حياء راځي د الله نه .

ان اخالف ابوبكر . چې مخالفت د ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وکړمه هغه چې دا فيصله وکړه نو زما هم دا فيصله ده دا وايي تقليد د ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي کنه دغه تعريف د حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې مادون الولد والوالد په کلاله کې په حديث مرفوعه کې نشته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ددې ځه ذکر نه دي راغلې دا هغه خپل اجتهاد کړې د کلاله په لغت کې او حضرت

عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې تقليد کړې دي .

وصح عنه . او صحيح ثابت دي له عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

انه قال له رأينا لرأيك تبع. اى صديق اكبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زمونږ رايه ستا د راي تابع ده.

وصح عن ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه كان يأخذ بقول عمر . د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه صحيح ثابت دي ده وويل په دې خبره کې په قول عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اخذ په کار دي .

او دارنګې د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مصنف ابن ابي شيبة را اخيستې دي چې عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته چا وويل چې د سحر په مانځه کې دعاء قنوت ولې نه وايي هغه به نه ويله زمونږ مذهب هم نه دي . وايي ته ولې قنوت نه وايي هغه ورته جواب کې وويل که داټول خلک په يو شعب روان شي او عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په بل شعب روان شي نو :

لسلكتُ . زه به مزل شروع کړم په لاره او شعب د عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې .

لو قنت عمرُ لقنت عبدالله . که عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د سحر په مانځه کې دعاء قنوت ويلې وايي نو ما به هم ويلې وه چې هغه يې نه وايي زه يې نه وايمه نو دا تقليد د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لره .

وصح عن ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه كان يأخذ بقول عمر . دې ځاى کې هغه حديث ته اشاره کوي :

وقال الشعبي عن مسروق كان ستة من اصحابِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يفتون الناس . شپږ صحابو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فتوى به يې ورکولې .

ابن مسعود وعمر بن الخطاب وعلي وزيد بن ثابت وابي بن كعب وابو موسى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وكان ثلاثة منهم يدعون قولهم لقول ثلاثة .

په دوي کې دا دري چې وه ددې دريو قول ته به يې خپله خبره پريښوده زيد ابن ثابت ابي بن كعب ابو موسى الاشعري ددوي خبره به چې د ابن مسعود عمر بن الخطاب د علي المرتضى مقابله کې راغله نو خپله به يې پريښوده له هغوي پسې به يې ذهاب وکړو .

كان عبدالله يدع قوله لقول عمر . عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به خپله خبره په مقابله د

خبرې د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې پرېښودله د هغه تقلید به یې کوه .

وکان ابو موسی یدع قوله یقول علي . ابو موسی الاشعري به خپله خبره د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقابله کې پرېښودله .

وکان زید یدع قوله لقول ابي بن کعب وکان جندب ما کنت ادعُ قول ابن مسعودٍ لقول احد من الناس . جندب به ویل چې د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رایه د هیچا مقابله کې نه شم پرېښودلې دا تقلید د هغه دي .

وقد قال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان معاذا قد سن لکم سُنة فکذلك فافعلوا . مسئله داسې وه چې صحابي په زمانه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې اجتهاد کوي او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې تائید کوي چې د مسبوق متعلق دا مسئله روانه وه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په زندګي کې چې چا نه به رکعتونه تللې وه را به غلل نو امر دا شوې وه چې تاسو اول دا دوه وکړي بیا مونږ سره شریک شي .

ممکن نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا اجتهاد کړې وه مأمور به من الله په دې نه وه نو چې څوک به راغې یو یا دوه رکعته به ترې تللې وه نو هغه به دا کول نو چې یو رکعت به یې کوه هلته به بل ترې تیر شو نو ضرور امام به سست مونځ کوه او ده به لږ تیز وکړو لا اقل چې آخر رکعت کې به یې امام ګیر کړو نو د مسبوق باره کې دا فیصله وه .

معاذ ابن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې سوچ وکړو نو اجتهاد یې وکړو نو هغه وویل چې داسې وشي چې مسبوق نه کوم رکعات تللې وي هغه دې وروسته بیا راوګرځوي را دې شي متصل دې او دریږي د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې دا رأیه ډېره خوښه شوه نو وي فرمایل:

ان معاذا قد سن لکم سُنةً . معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تاسو ته یوه طریقه رائجه کړه .

فکذلك فافعلوا . نن نه بعد به داسې کار کوي .

في شأن الصلاة حیث اخر فصلی ما فاته من الصلاة مع الامام بعد الفراغ وکانوا یصلون ما فاتهم اولاً ثم یدخلون مع الامام .

نو دې باره کې د معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اجتهاد په زمانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې وشو او نبي

عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت ورته ويلي تګلاره يې ورته ويلي او عمل باندې يې امر وکړو .

وقد امر الله تعالى بطاعته وطاعة رسوله وأولى الامر وهم العلماء او العلماء والأمراء

وطاعتهم تقليدهم فيما يفتون به . دا تقليد ددوي دي په فتوو ددوي کې .

فانه لو لا التقليد لم يكن هناك طاعة تختص بهم . چې دا تقليد نه شي نو د امراو طاعت ته کومه معنی پاتې نه شوه بيا .

يوه خاصه معنی بيا څه شوه ددوي د تقليد که څوک وايي چې تقليد دا معنی چې قرآن او سنت په دليل کې پيش کوي بيا به يې مني نو دده قول ته بيا څه اعتبار شو هغه خو

په اطيعوا الله اطيعوا الرسول کې راغلل بيا چې هغه هر کله دليل پيش کړو د کتاب نه د سنت نه او تا اتباع وکړه نو تا خو اتباع د کتاب الله او سنت رسول وکړه .

د أولى الأمر د خاصيت د تخصيص د اتباع څه پاتې شول بيا .

وقال تعالى : ﴿ وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ﴾ . (التوبة آيت : ١٠٠)

دې وايي : وتقليد هم اتباع لهم ، تقليد د صحابو اتباع ددوي شوه .

ففاعله ممن رضي الله عنهم . فاعل د اتباع او د تقليد د صحابو هغه څوک وګرځيده

چې رضي الله عنهم ، خدای تعالی ترې راضي شو دا حکم پرې ثابت شو .

ويكفى ذلك الحديث المشهور . دا حديث هم کافي دي .

اصحابي كالنجوم بأيهم اقتديتم اهتديتم . کوم صحابي زما پسې مو چې اقتداء وکړه سمه لار مو وموندله .

نو دا اقتداء د صحابوو نه شوه چې تابعين به اقتداء ددوي کوي .

وقال عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ من كان منكم مستنًا فليستن بمن قد مات .

څوک که تګلاره غواړي هغو دې هغه چا پسې لاړ شي چې کوم مړه دي .

فان الحي لا تؤمن عليه الفتنة . په ژوندي باندې د فتنې امان نه وي کيدې شي خرڅ

شوې وي.

اولئك اصحاب محمد أبر هذه الامة قلوباً. دا صحابه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډير د ابرارو نه دي په دې امت کې له جهته د قلب نه.

واعمقها علماً واقلها تكلفاً قوم اختارهم الله لصحبة نبيه واقامة دينه فاعرفوا لهم حقهم وتمسكوا بهديهم.

و پيژني دې صحابو ته حق ددوي د صحابو په هدايت تمسک و کړي.

فانهم كانوا على الهدى المستقيم وقد صح عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي.

وقال إقتداوا بالذين من بعدي ابي بكر وعمر واهتدوا بهدي عمار وتمسكوا بعهد ابن ام عبد. وقد كتب عمر الى شريح ان اقض بما في كتاب الله فان لم يكن في كتاب الله فبسنة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فان لم يكن في سنة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فاقض بما قضى به الصالحون وقد منع عمر عن بيع امهات الاولاد وتبعه الصحابة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

ټولو صحابوو په حرمت د امهات الاولاد کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تابعداري او تقليد وکړو.

والزم بالطلاق الثلاث فتبعوه ايضاً. دري طلاق په يو ځل يې مغلظ وګڼل حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو صحابي هم مخالفت ونه کړو ټول صحابه متبع دده شول.

واحتلم مرة فقال له عمرو بن العاص خذ ثوباً غير ثوبك فقال لو فعلتها صارت سنةً.

يو ځل محتلم شو عمرو بن العاص ورته وويل دغه جامه پريږده بله واغونده ناوخته وه د سحر لمونځ قضا کيده او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لګيا وه هغه ځای وينځلو په سفر کې وه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل که دا کار زه وکړم دا به سنت وګرځيږي خلک ما پسې اقتداء کوي بيا به وايي چې د احتلام په جامو کې مونځ نه کيږي له دې نه به دين جوړ کړي دې نه معلوميږي چې خلک د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متبعين او مقلدين وه.

وقال ابي بن كعب وغيره من الصحابة ما استبان لك فاعمل به .چې خبره واضحه شوه عمل کوه .

وما اشبه عليك فكله الى عالمه . او چې خبره کې درته اشتباه شک پیدا شو عالم ته یې وسپاره .

وقد كان الصحابة يفتون ورسول الله ﷺ حي بين اظهرهم . رسول الله ﷺ به ژوندي وه صحابوو به فتوي ورکولې .

وهذا تقليد لهم قطعاً . دا نورو صحابوو د صحابوو تقليد وکړو .

اذ قولهم لا يكون حجة في حيات النبي ﷺ . ځکه د صحابي فتوی په وخت د حیات د نبي عليه السلام کې هیڅ دلیل نه جوړیږي حجت نه دي د حجج ظاهریوو نه اګر که د هغه د وفات نه وروسته خو د احد الحجج نه دي خو د هغه په ژوند د صحابوو فتوی خو حجت نه وه نو بلا حجت یې د هغه خبره ومنله .

وقد قال الله تعالى : ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ .

فاوجب عليهم قبول ما انذروهم به اذا رجعوا اليهم وهذا تقليد منهم للعلماء .

وصح عن ابن الزبير انه سئل عن الجد والاخوة . د عبد الله ابن زبیر نه چا تپوس وکړو چې جد دا خو سره معي شي مسئله څه ده .

فقال اما الذي قال رسول الله ﷺ لو كنت متخذا من اهل الارض خليلاً لاتخذته خليلاً . چې هغه صدیق اکبر دي .

فانه انزله اباً . صدیق اکبر رضي الله عنه جد په حکم د اب کې ګڼلي دي اب چې کله معي د اخوة سره وي څه حکم چې قرآن کریم بیان کړې دي همدغه حکم د جد دي .

مع الاخوة . وهذا ظاهر في تقليده له . داد عبد الله ابن زبیر د صدیق اکبر رضي الله عنه په تقلید کې ظاهر دي چې دا په دې مسئله کې مقلد د هغه شو .

وقد اجمع الناس على تقليد الزوج للنساء اللاتي يهدين اليه زوجته .
وايي كه يو سړي وايي چې زه بې دليله خبر نه منمه نو هغه ته چې د واده په شپه دا خپله
ښځه كوټې ته وروليږي نو يوه ښځه بله ورسره وي ددې ناوي سره دا هغه ښځه ورته
وايي چې دا ستا هغه ښځه ده چې نكاح پرې تړل شوې ده .
دا ددې ښځې خبره سره د دليله مني كه بدون د دليله يې مني وايي كه بدون د دليله يې
مني نو تقليد كوي كه سره د دليله يې مني شواهد دي تړې وغواړي بله دې نه وي راوستلي
عقلي شاهد پرې پيش كوي چې دغه سړي هم دليل نه خالي نه دي هغه ښځه چې ده كوټې ته
بيولې ده دا يې د يوې ښځې خبره منلې ده او بلا حجت يې منلې ده هيڅ دليل ورسره نشته دا
ستا ښځه ده كوټې ته يې راوستله .
وقد اجمع الناس . اجماع كړي خلكو په تقليد د زوج ښځو لره هغه ښځې .
يهدين اليه زوجته . چې دده ښځه دده كوټې ته بوځي نو دا خاوند به ددې ښځو تقليد
كوي .
وجواز وطئيها تقليدا لهن في كونها هي زوجته . جائز دي خاوند لره وطي ددې ولې دې به
تقليد ددې ښځو كوي په دې خبره كې چې دا دده همغه بي بي ده چې نكاح يې پرې تړلې .
واجمعوا على ان الاعمى يقلد في القبلة . اعمى به په قبله كې تقليد كوي او كه حجت به
غواړي نو بناء به راندہ ته څه دلائل وايي .
همدغه مثال د عوامو هم دي عوامو ته چې څوک دلائل په شريعت كې وايي همدغه
شان دي لكه ړوند چې بناء نه دليل غواړي چې زه نه منمه چې قبله دې طرف ته ده ماته
به دليل پيش كوي اوس يې په څه شي قانع كوي .
نو جاهل چې عالم او مجتهد نه دليل غواړي همدغه مصيبت دي عالم چې څومره
دلائل وايي جاهل پرې نه پوهيږي .
وعلى تقليد الزوجة مسلمة كانت أو ذمية ان حيضها قد انقطع فيباح للزوج وطؤها بالتقليد .
وايي د وهابي غير مقلد د ښځې مياشتني بيماري چې راغله وطي روا نه ده ورته او
چې كله يې حيض ختم شي بيا ورته روا ده دا اباحت د وطي دده لپاره يوه مسئله شرعي ده او

په دې کې قول د ښځې ته اعتبار ده که ښځې وويل چې زما بيماري ختمه ده نو دې به دليل غواړي کې بې دليله به يې خبره قبلوي بې دليله به يې خبره قبلوي چې بې بې وويل چې وړ بنده شوې ده بس متصل بلا حجت يې قول قبول کړه ، او که دليل به غواړي گوتې به په کې وهي چې و دريږه زه يې وينه گورم چې وينه يې و دريدلې کنه څه جهال وهابيان دي .

دا عقلي دلائل او قياسات پيش کوي په دې باندې وايي اجماع د علماء ده چې دا سړي به تقليد د زوجې کوي زوجه مسلمه وي که ذميه وي نو د وطي اباحت په تقليد ثابت دي په دليل نه .

ويباح للولي تزويجها بالتقليد لها في انقضاء عدتها .

يوه ښځه ده خاوند طلاقه کړه دا لاړه ولې پلار يا ورور سره کيناسته ، اوس په دې عدت لازم دي د عدت په موده کې بل چا سره نکاح نه شي کولې .

اوس ولي دا بل چا ته په نکاح ورکوي نو په دې صورت کې به له ښځې نه تپوس کوي چې عدت دې ختم ده او که نه دي ختم ځکه عدت په قول د جمهورو حيض دي چې ښځه او نه وايي چې ما باندې ثلاثه حيض راغلي دي څوک پرې پوهيږي چې څو راغلي دي .

نو ولي به ترې نه تپوس کوي چې ثلاثه حيض دې تير شوي او که نه که هغې وويل چې ثلاثه حيض مې تير شوې دي نو ولي به د دې ښځې تقليد کوي بلا حجة د خور او لور نه به طلب د دليل نه کوي چې ماته دليل او شواهد پيش کړه نو وايي چې مباح ده ولي لره تزويج د دغې ښځې بل چا ته ورکول په تقليد روا ده .

وعلى جواز تقليد الناس للمؤذنين في دخول اوقات الصلواة .

اذان چې کيږي وايي دا څومره خلک چې دي د اذان کوونکي مقلدين دي په دخول د وخت کې چا ترې دليل غوښتې دي چې مؤذن صاحب نقشه ښکاره کړه چې وخت داخل دي که نه دي داخل نو دلائل مه غواړه اعتماد وکړه چې دا مسلمان دي دا په دې مقرر شوې دي بې له وخته به اذان نه کوي نو خلک پرې اعتماد کوي نو تسليم قول د غير په دخول الوقت کې وکړو لکه اذان شروع شي او خلک روژه ماته کړي همدغه تقليد دي د مؤذن خبره يې ومنله بلا دليل او په دې اجماع ده ټول خلک روژه ماتوي .

ولا يجب عليهم الاجتهاد . واجب نه دي په خلکو اجتهاد .

ومعرفة ذلك بالدليل . او معرفت دد پـه دليل سره چې هر سړي به او چت ځای ته خيژي چې غروب راغلي او كه نه دي راغلې .

وقد قالت الامة السوداء لعقبة بن الحارث . يوه توره امه وه عقبه بن حارث ته وايي .

أرضعتك و أرضعت امرأتك . تا ته او ستا بي بي ته ما خپلې شيدي ور کړې دي .

فامره صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بفراقها وتقليدها فيما اخبرته به من ذلك . دا يې مضمون ذكر كړي امر په فراق نه دي راغلي بلكې نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ترغيب په فراق ور کړي امر په فراق نه دي راغلې دا خبره چې د يوې ښځې قول ته اعتبار شته او كه نشته دا مسئله اختلافي .

نو دې وخت کې دې صحابي تقليد د هغې ښځې وكړو او قول د هغې يې بلا حجته قبول كړو :

وقد صرح الائمة بجواز التقليد . لوي امامان د تقليد په جواز فيصلې كوي .

فقال حفص بن غياث سمعت سفيان يقول اذا رأيت الرجل يعمل العمل الذي .

يو سړي وليد عمل كوي هغه چې اختلاف په کې ده .

وانت ترى تحريمه . او ته د هغه كار د تحريم رايه لري .

فلا تنهه . مه يې منع كوه هغه يوې رايه پسې روان دي د هغې مذهب .نه يې مه اړوه لکه سمساره مكروه ده جائز ده اختلاف دي يو حنفي ورته مكروهه وايي او شافعي مذهب ورته جائزه وايي .

فلا تنهه . مه يې منع كوه ترې نه هغه په دې مسئله کې مقتداء لري رايه لري هغه رايه نه يې مه اړوه .

وقال محمد بن الحسن الشيباني يجوز للعالم تقليد من هو اعلم منه . عالم لپاره تقليد د اعلم جائز دي .

ولا يجوز له تقليد من هو مثله . دا مجتهد يادوي .

وقد صرح الشافعي بالتقليد فقال في الضبع بعير . حج کې که چا ضبع ښكار كړو نو په هغې کې به يو اوښ وركوي نو چا ترې تپوس وكړو چې دليل دې څه شي دي وي ويل .

قلته تقليداً لعمر . ما د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تقليد کړی دی .

وقال في مسألة بيع الحيوان بالبراءة من العيوب . بيع د حيوان نسياً لکه پيسي اوس راکړه زما د ميښي بچي دي زه به يې بيا درکړم احناف يې جائز نه ګڼي او شوافع يې جائز ګڼي. نو دې وايي بيع د حيوان نسياً جائز ده خو په شرط د براءت د عيوبو باندې چا ورته وويل دليل دې څه دي .

قلته تقليداً لعثمان . ما د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تقليد په کې کړی دی .

قال في موضع اخر من كتابه الجديد قلته تقليداً لعطاء . وايي ما دا د عطاء بن ابي رباح تقليد کړی دی .

وهذا أبو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ في مسائل الآبار . د کوهي په مسئلو کې .

ليس معه فيها . ده سره په دې کې نص نشته .

الا تقليد من تقدمه من التابعين فيها . لکه مړه کې به څو بوقې له کوهي نه اوباسي وغيره دې کې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د ابراهيم النخعي تقليد کړی دی هغه دا اقوال کړي نو دا دي مجتهدين دي او په خپله تقليد کوي په دې سره د وهابيانو د هغه اقوالو جوابونه هم وشول چې کوم دوي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ نه نقلوي او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دا قول پيش کوي :

يا يعقوب . زه يو انسان يمه خطاء کيږمه يو قول کوم صباء ترې نه رجوع کوم زما دا قول پيش کوه په سنت باندې که موافق وه قبلوه يې ګنې ردوه يې دا وهابيانو په خپلو کتابونو کې پيش کړي چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د تقليد رد کړي ، نو وهابيان خو ړانده دي امام صاحب چا ته خبره کوي،اى وهابي ! په ستر ګو ړوند شي هغه چا ته دا خبره کوي .

يا يعقوب . يعقوب امام ابي يوسف دي امام ابي يوسف مجتهد دي مجتهد باندې تقليد د مجتهد کله په کار وي هغه په خپلو شاګردانو کې مجتهد شاګرد ته دا خبره کوي چې ګوره ته اهل د اجتهاد يې ته زما خبره بې چون چرا مه منه ته لګيا اوسه قرآن او سنت نه اخذ وکړه دا مسئله د مجتهد ده مقلد ته يې نه دي ويلي .

او که څوک وایي چې مقلد ته یې دا خبره کړې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ څه د پاسه دولس (۱۲) لاکه مسائلو استخراج اکړي په نکة الطریفة کې علامه زاهد الکوثري دا ذکر کړي دي.

دا څه د پاسه دولسو (۱۲) لاکهو مسائلو استخراج امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ دې لپاره کړي چې خلک پرې عمل وکړي او که خلک یې په دیوال اولي دي لپاره یې کړي چې خلک پرې عمل وکړي.

یو مجتهد چې مسئله راوباسي د عمل لپاره یې را اوباسي نو څنګه هغه دا خبره کوي چې امت دي زما په قول عمل نه کوي په دیوال دې اولي تقلید دې زما نه کوي هغلته لفظ د یا یعقوب موجود دي او یعقوب امام ابي یوسف دي او دې د مجتهدینو نه دي او مجتهد د چا تقلید نه شي کولې که تقلید کوي د مجبوریت په وخت کې به یې کوي چې اصل پیدا نه کړي نو د چا اعلم قول پسې به لاړ شي.

وهذا مالك لا يخرج عن عمل اهل المدينة. د مدینې منورې د صحابو و تقلید کوي.

ويصرح في موطئه. اقرار کوي:

بانه أدرك العمل على هذا. وایي دې باندې د مدینې منورې عمل جاري دي.

وهو الذي عليه أهل العلم ببلدنا. زمونږ ښاریه کې علماء پرې قائل دي ځای په ځای موطأ کې له دوي نه اخذ کوي نو دا تقلید د اهل بلد دي کنه چې دې یې کوي.

وجاءت الشريعةُ بقبول قول القائف. قائف چې څوک ماهر په قیافه وي شریعت د هغوي د قول د قبول قائل دي کنه بلا حجت یې قول قبلیږي د قائف.

والخارص. اهل د تخمین.

والقاسم والمقوم للمتلفاتِ. یو شي هلاک شوې وي د چا نه د هغې قیمت چې یو سړي په تخمین کې لګوي چې د دې به دومره قیمت وي تخمیناً.

وغيرها والحاكمين بالمثل في جزاء الصيد. دوه حاکمین چې په جزاء د صید کې په مثل فیصله کوي قبلوي به یې کنه او که دلائل به ترې غواړي.

وذلك تقليد محض. دا ټول تقلید محض دي ددوي دا خبرې بلا حجته قبلیږي.

واجمعت الامة. اجماع كړي امت.

على قبول قول المترجم والرسول. د استاذې او د مترجم قول قبلوي بلا حجته.

مثلاً يو كافر مجاهدينو ونيوه او جيل ته يې واچوه نو درې ورځې خو به يې ساتي كه كلمه ووايي نو مجاهدينو چې وساته هغلته له هغه سره مترجم دي حاكم ته مترجم پيش كيږي چې د ايمان قبول كړو هغه ايمان په انګلش كې راوړي دي او حاكم په انګلش نه پوهيږي نو د مترجم قول ته اعتبار شته كنه په دې عظيمه مسئله كې چې دا اوس وژلې نه شي نو دا قول د مترجم چې حاكم قبلوي بلا حجته به يې قبلوي دلائل خو به نه غواړي كنه نو د مترجم قول ته اعتبار دي او دا تقليد د مترجم دي.

دارنګې استاذي يو څوک بل ځاى ته استاذي ليږي هغلته چې استاذې لاړ ددې سړي پيغام هلته رسوي بلا حجته به د هغه قول قبلوي.

وان اختلفوا في جواز الاكتفاء بواحدٍ. اګر كه اختلاف كړې به جواز د اكتفاء واحد كې چې يو په كار دي كه دوه.

وذلك تقليد محض لهؤلاء. واجمعوا على جواز شراء اللحمان. دارنګې اجماع كړې علماء په جواز د اخيستو د غوښو كې بلا حجته قصاب ته چې ورشي نو ته به دلائل لټوې چې دا غوښه د څه شي ده هغه به وايي د ګډ ده داد څه شي ده داد چيلي ده داد څه شي ده داد غوا ده.

اوس دلته څه شواهد څوک لري چې داد همدغو مذكورو شيانو ده او په څه شكل يې حلاله شوې اوس به د هر قصاب لپاره به ګواهان ولاړ وي مشتري به راځي پوښتنه به كوي چې دا پاكه ده حلاله ده قصاب به وايي هاو مشتري به ورته وايي دليل پيش كړه نو قصاب به دليل يا ګواهان پيش كوي، نه چې قصاب وويل حلاله ده حكم د دار كيده تقليد يې كوه دا ستا لپاره جائزه ده چې وي خوري.

والثياب والاطعمة وغيرها من غير سؤال عن اسباب حلها. اسبابو د حل ته د سوال ضرورت نشته.

وتحريمها اكتفاء بتقليد اربابها. د مالكانو تقليد دي دلته.

ولو كلف الناس كلهم الاجتهاد. كه دا خلك ټول په اجتهاد او طلب د دليل مكلف شي.

وان يكونوا علماء فضلاء لضاعت مصالح العباد وتعطلت الصنائع والمتاجر . هر څه به ختم شي .

ونقول لمن احتج على ابطاله . هغه څوک چې د تقليد په ابطال دليل پيش کوي مونږ هغه ته وايو .

كل حجة اثرية ذكرتها فانت مقلد لحملتها ورواتها . ته د تقليد په رد کې څه پيش کوي چې هر څه ته مونږ ته پيش کوي حديث پيش کوي نو ته په هغې کې مقلد د حامل ددې حديث يې او مقلد راوي ددې حديث يې .

اذ لم يقم دليل قطعي على صدقهم فليس بيدك الا تقليد الراوي . که ته يو حديث پيش کوي نو ته مقلد په دې کې د دغو رُواتو يې تا ته چا ويلي چې داد محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قول دي دې راوي ويلي هغه واحد دي دليل پرې څه ده نشته بيا دې تقليد د راوي وکړو يعنې کوم څوک چې حديث پيش کوي هغوي مقلدين د رُواتو دي .

وهؤلاء اصحاب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فتحوا البلاد . ښارونه يې فتحه کړه .

وكان الحديث العهد بالاسلام . خلک نوي تازه دم مسلمانان وه .

يسألهم . خلک به راتلل د صحابه کرامو نه به يې پوښتنې کولې .

فيفتونه . دوي فتوى ورکولې .

ولا يقولون له عليك ان تطلب معرفة الحق في هذه الفتوى بالدليل . يو صحابي هم چا ته دا نه دي ويلي چې زمونږ خبرې مه منې بلکې قرآن او سنت کې دليل لټوه .

ولا يعرف ذلك عن احد منهم البتة . يو صحابي نه هم دا معروفه نه ده چې هغه نه چا استفتاء کړې هغه جواب ورته دا کړي چې رد کتاب الله او سنت رسول ته وکړه .

وقد قال الشافعي في الصحابة رأيهم لنا خير من رأينا لانفسنا . دغه شان د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ نه هم منقول ده .

ونحن نقول ونصدق ان رأي الشافعي . وايي مونږ وايو چې رايه د امام شافعي دا مصنف شافعي مذهب دي .

والأئمة معه لنا خير من رأينا لانفسنا . زمونږ د رای نه مونږ ته دا غوره ده .

وقد جعل الله سبحانه في فطر العباد تقليد المتعلمين للأستاذين والمعلمين . دغه شان خدای تعالی په طبعیت د عبادو کې اچولي تقليد د شاګردانو استاذانو لره هر شاګرد د استاذ مقلد دي .

ولا تقوم مصالح الخلق الا بهذا . مصلح د مخلوقاتو په دغې قائم دي .

وذلك عام في كل علم وصناعة . په هر علم او صنعت کې دا مسئله روانه وه .

وقد فاوت الله سبحانه بين قوي الاذهان . خدای تعالی ذهنونه يو شان نه دي پيدا کړي دې کې فرق دي .

كما فاوت بين الأبدان فلا يحسن في حكمته وعدله ورحمته ان يفرض على جميع خلقه معرفة الحق بدليله .

دا هيڅ حسن نه ده د خدای جَلَّجَلَالُهُ د عقل موافق نه ده د خدای جَلَّجَلَالُهُ د رحمت موافقه نه ده چې ګنې خدای تعالی دي په ټول مخلوق باندې معرفت د حق بالدليل فرض کړي په هر چايې دا نه دي فرض کړي .

والجواب عن معارضه في جميع مسائل الدين دقيقها وجليلها . دا يې پرې نه دي فرض کړې چې هر څوک به په مسائلو د دين کې دقيق او جليل مسائلو کې معارضې لټوي يا به معارضه کې چا پيش کړې وي او د هغې نه به جواب لټوي .

لوكان كذلك لتساوت اقدام الخلائق في كونهم علماء . که داسې وايي ټول به يو شان واي .

بل جعل سبحانه وتعالى هذا عالماً وهذا متعلماً وهذا متبعاً للعالم . چې مقلد ورته وايي .

مؤتماً به . چې دا په منزله د مأموم دي .

مع الامام والتابع مع المتبوع واين حرم الله تعالى على الجاهل ان يكون متبعاً للعالم مؤتماً به مقلدا له يسير بسيره وينزل بنزوله .

کوم ځای کې خدای تعالی په جاهل باندې حرام کړې دي متبعاً للعالم ومؤتماً به مقلد له، چې د هغه په مزل رفتار وکړي هغوي پسې لاړ شي.

وليس بيد الحاكم الا تقليد الشاهد. دغه شان حاکمان چې فیصلې کوي هغه سره اختیار نشته څه دي ورسره مگر تقلید د شاهد دي.

وكذلك ليس بيد العامي الا تقليد العالم.

فما الذي سوغ لك تقليد الراوي والشاهد. څه دلیل دي ستا لپاره چې تقلید د رُوات الحدیث روا دي او تقلید د حاکم او شاهد روا دي.

ومنعنا من تقليد العالم. او مونږ یې د فقهاو د تقلید نه منع کړې یو نو که دې کې کوم چې ما تاسو ته بیان کړو لږ سوچ وکړي نو خپله به تاسو ته انصاف او اصلي فیصله ذهن ته راځي چې هیڅ گنجائش نشته چې سړي تقلید نه اوځي.

او دا کل عوام په یو مثابت کې نه دي ددې خبرې بطلان خو عقلاً بدهتاً او ضرورتاً دي چې سړي دا خبره کوي چې هر امي سړي به طالب د دلیل وي یو عالم نه به دلیل غواړي نو هغه په دلیل کله پوهیږي.

او بل که نحوي ته لاړې شي نو تاسو د نحوي قواعد خپله نه شي پیدا کولې په هغې کې روان یې ائمو پسې امام کسائي پسې ځي سیبویه پسې ځي وغیره همدغسې صرفو کې ائمه دي د هغو اقوال را اخلي په تائیدا تو کې همدا شان علم معاني بدیع بیان کې د ائمو اقوالو پسې ځي.

همدغه شان اصول حدیثو ته چې لاړ شي دا حدیث صحیح دي لذاته دي لغیره دي حسن لذاته دي لغیره دې منقطع دي معضل دي مقطوع دي مسند دي مرفوع دي وغیره دا کوم اقسام د حدیثو چې مونږ بیان کړې وه داد صحابوو زمانه کې چیرته وه.

د تابعینو زمانه کې هم دغه اصطلاحات دومره نه وه دا روسته د امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ په زمانه کې پیدا شول او د هغې نه بعد شائع شول، او دغه اقسام د حدیثو ټول مني تقلید په کې کوي.

دغه شان سبعه قراآت چې دې په هغې کې ټول خلک مقلدین دي څوک هم چون چرا په

کې نه کوي چې ددې امام قراءت منم ددې نه منم کله دوي دا خبره کوي چې څلور مذاهب شول دا ټول دلته ولې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ پسې روان دي نو مونږ هغې نه جواب کې دا وایو چې سبعه قراءت خو متواتر دي او ټول حق دي دا قراءت معروفه حفص دي دا عرب عجم په دې ولې را غونډ شوې.

او قرآآت حقه متواتره سبعه دي او په عربو کې هم دا تلاوت دي او دلته هم دا تلاوت دي او په ټوله دنیا کې همدا تلاوت دي نو ولې خلک په دې یو قراءت پسې ځي نو چې څوک دا اعتراض امام صاحب باندې کوي نو دا اعتراض به بیا په قراءتو سبعه باندې راشي خلک دې بیا ټول قرآآتو نه کوي نو دغه شان دا سبعه قراءت او په هغې کې په یوه قرآآت راغونډیدل د قوم او د خلکو دغې ته ترجیح ورکول او دوي هم جائز ګڼي دا قاریان یې چې تلاوت کوي.

په همدغه قراءت حفص لګیاوي که ورته وویل شي چې دا قراءت ما ته یو صحابي نه ثابت کړه مستند حدیث سره نو نه شي ثابتولې او که دوي وایي چې دا په تواتر راغلې په تواتر خو هغه نورشته قراءت هم راغلي کنه هغه ولې نه کوي چې دا یو مو را ټینګ کړي.

او س دا فرق چې حاکم به د ګواه تقلید کوي او خاوند به په راتلو د بي بي کې د هغه بلې زنانه تقلید کوي مشتري د لحم به د قصاب تقلید کوي متبع د نحوې به د امام د نحوې تقلید کوي د صرفو معانیو اصولو وغیره به کوي او چې فقه ته راشي نو تقلید به شرک وي دا فرق چا کړي چې فقهي جزئیاتو کې تقلید کول حرام دي.

فتاوی ابن تیمیه جلد ۲ صفحه ۲۰۳ چا سوال کړې دي چې امامانو ولې په تقلید باندې رد کړې دي امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ کړي چې زما قول د قرآن او حدیث مخالف وه رد یې کړې په دیوال یې او لی امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ رد پرې کړې دي نو دې جواب کوي:

منع الائمة عن التقليد انما هو في حق القادر على اخذ الاحكام عن الادلة.

امامانو چې کوم څوک د تقلید نه منعه کړې دي دا یې هغه شاګردان منع کړې دي چې هغه قادر دي په اخذ د احکامو د دلائلو نه هغه څوک چې په اخذ د قرآن او سنت قادر هغه سړي یې منعه کړې دي عام خلک یې نه دي منع کړي.

باقي خپله د ائمو نه ځای په ځای تقلیدات ثابت دي لکه د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ باره کې اللجنة صفحه ۴۲ کې د اهل حدیث تصنیف دي لیکي:

كان ابو حنيفة الزمهم بمذهب ابراهيم . د ابراهيم النخعي مذهب يې په ځان لازم کړې وه دې په خپله د يو مجتهد تقليد کوي .
دغه شان امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په مواضعو د حج کې چې ضبع کله څوک قتل کړي نو مقابل کې به يې اوښ حلالوي .

قلته تقليداً لعطاء . دا ما د عطاء تقليد کړې .
دارنګې امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ تاريخ بغداد جلد ۲ صفحه ۶۷ کې امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ سائل ته وايي :

ان لم يصح فيه حديث ففقيه قول الشافعي و حجته أثبت فيه .
چې ما سره حديث پيدا نه شي په هغې کې ما ته د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دليل دي حجة الله البالغه جلد ۱ صفحه ۱۵۴ کې ذکر کوي چې ابن حزم ظاهري په تقليد څومره ردود کړې دي او د ائمو اقوال يې را اخيستي :

ان تلك الاقوال في حق المجتهد لا المقلد . دا د مجتهد متعلق دي چې اخذ دليل نه به مجتهد کوي مقلد يې نه شي کولې .
بعضې خلک وايي چې دې زمانه کې بل مذهب ولې نه شي پيدا کيدلې اجماع دې باندې راغلې ده لا پيدا شوې نه دي څوک دي د اجتهاد دعوه وکړي مونږ به خبرې ورسره پرې وکړو او يوه جزيه دې ثابت کړي چې پته ولږي .
مقدمه ابن خلدون صفحه ۴۴۸ کې وايي :

و مدعي الاجتهاد لهذا العهد مردود منكوص على عقبه . چا چې دعوه د اجتهاد وکړه په دې زمانه کې قول يې مردود دي په پوندو د هغه باندې يې کړي .

مهجور تقليده . تقليد يې ترک دي .

وقد صار اهل الاسلام اليوم على تقليد هؤلاء الائمة الاربعة . ټول مسلمان د ائمو اربعو په تقليد باندې سره اجماع کړې ده .
شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ په الانصاف صفحه ۶۳ کې ليکلي :

وبالجملة فالمذهب للمجتهدين سر الهمه الله تعالى العلماء . ددې مجتهدينو مذهب کې دننه کيدل دا يو راز وه خداى تعالى علماو ته زړه کې واچوه .

وجمعهم عليه . خداى تعالى پرې را غونډ کړل .

من حيث يشعرون او لا يشعرون .

جلال الدين سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ په حاوي جلد ۱ صفحه ۲۹۵ کې ليکلي دي :

ولا يجوز لغير المجتهد الخروج من المذهب المعين . کوم سړي چې مجتهد نه وي عالم په حديثو په فقه نه وي د استخراج په طرزونو نه وي ده ته جائز نه دي چې يو مذهب کې دننه دي د هغې نه اوځي .

امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ په جلد ۱ صفحه ۱۱۸ ليکلي :

العلماء الفقهاء هم اعلم بمعاني الحديث . علماء فقهاء د حديثو په معنى ښه پوهيږي حديث هغوي اخذ کوي هغوي ترې نه معنى را اوباسي .

دارنګې ترمذي جلد ۱ صفحه ۱۴۱ کې ليکلي د عبد الله بن مبارک صاحب رايه پيش کوي د طلاق **کلما** موضوع چيرې چې دا څنګه دي هغه ځاى کې عبد الله بن مبارک وايي چې کله د يو سړي رايه دا وي چې طلاق کلما واقع کيږي يعنې په دغه مذهب وي چې دا مذهب د عبد الله بن مسعود دي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ دي او په دې څوک روان دي بله ورځ دې خپله په طلاق کلما کې واقع شي دده لپاره بل مذهب ته تلل څنګه دي نو هغه وايي :

لا يجوز الخروج . دې وخت کې دده لپاره خروج جائز نه دي داد هواء اتباع راځي داد خپل خواهش تابع دي د دين تابع نه دي .

که څوک اعتراض وکړي په مقلدينو چې تاسو اربعة مذاهب ته حق وايي او حق په خلاف د معرض کې واحد وي نو څلور خو حق کيږي نه دا چې مخالف را غلل يو به حق وي نور به باطل وي .

ددې جواب الفقيه والمتفقه للخطيب البغدادي جلد ۲ صفحه ۱۱۴ کې کړې دي په دغه صفحه باندې ذکر کوي او اختلاف بيانوي چې حق په اختلاف کې معرض واحد دي که متعدد نو همدغې طرف ته رجوع کوي چې کله اختلاف د اهل حق راشي د اهل زيغ سره د

هغې نه تعبیر په اصطلاح د اهل لغتو باندې په اختلاف نه کیږي بلکې په خلاف کیږي نو دغه
ونت کې حق واحد وي.

چې کله تـه د معتزلي، شیعه، وهابي، اشاعتي خارجي پـه مقابله کې تعارض کې
راشي نو حق په خلاف د معرض کې واحد دي حق به یو وي که ته پـه حق وي هغوي پـه باطله
دې او که هغوي په حق وي ته په باطله یې.

او یو اختلاف دي اختلاف د اهل حقو د اهل حقو سره وي خلک پـه معرض د اختلاف
کې متعدد وي دلته دا ائمه اربعه په خپلو کې مخالفین نه دي مختلفین دي دوي یو بل سره
خلاف نه دي کړي اختلاف یې کړي او اختلاف د علماء رحمت دي او رحمت پـه بې دیني کې
نه وي رحمت په حق کې وي.

نو دا دواړه جانبه په حق باندې دي هر جانب پسې چې څوک لاړل حق ته ورسیدل.

المبحث الثالث : في استدلالات المنكرين :

یو څو نصوص زه ذکر کوم چې دوي په خپلو رسائلو کې دې نه استدلال کړي دا دوه
ایاتونه چې مضمون کې سره قریب دي سروة بقرة آیت : ۱۷۰ او سورة لقمان آیت ۲۱ چې
ددوي ټولو رسائلو کې دا استدلالات موجود دي:

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ ﴾.

دوي وهابیان دا سې وایي چې کله مقلدینو ته وویل شي:

﴿ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ﴾. مونږ اتباع کوو چې مونده
کړي مونږ پلاران خپل په هغې.

﴿ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾.

دویم دلیل :

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ
يَدْعُوهُمْ إِلَى عَذَابِ السَّعِيرِ ﴾.

دا دلیل چې کله دوي پیش کړي دې نه اول څه طریقه باندې دوي ته دا ووایه چې:

ما سبب النزول هذه الايات . دا ايات ولې نازل شو كله نازل شو د چا باره كې نازل شو مستدل هغه دي ته سائل يې ته به ترې دا تپوس كوي ضرور به دې وايي په حق د مشركينو مكه نازل شوې يا عامو مشركينو باره كې نازل دي .

بخاري شريف جلد ۲ صفحه ۱۰۲۴ د عبد الله ابن عمرو العاص حديث پيش كړو :

ان الحرورية من الخوارج هم شرار خلق الله لانهم انطلقوا الى ايات نزلت في الكفار فجعلوها على المسلمين .

وكان ابن عمر يراهم شرار خلق الله وقال انهم انطلقوا الى ايات نزلت في الكفار فجعلوها على المؤمنين . دا آخري عبارت د بخاري شريف دي .

خوارج او حروريه شرار خلق الله دي هغه اياتونه چې نازل په حق د مشركينو كې دي چسپانوي يې په مؤمنينو باندې وايي چې دا ايات نازل دي په حق د مشركينو كې نو كه دا څوک په مقلدينو چسپانوي بې انصافي ده او چې چسپانوي په فتوى د عبد الله بن عمرو بن العاص د امام بخاري د دغې صفحې سره د خوارجو نه يې او **خوارج كلاب النار** دي .

په لنډه طريقه مباحثه داسې وكړه چې دليل يې څنګه پيش كړو :

واذا قيل لهم . كله چې وويل شي دوي ته چا تـه تـا سره خو يې بحث په حنفيت دي كله چې وويلې شي **لهم** ، دې احنافو ته نو احناف دغه وخت كې وه چې دوي ته وويلې شي كله چې ايات نازليده دا څوک يادوي چا ته وويلې شي مشركينو مكه تـه نو چې سوچ وشي انصاف وشي نو احناف او مشركين مكه يو شان دي چې هغه په دوي چسپانوي داسې معاندين دي .

زمونږ چې كوم استدلال وه : **يا ايها الذين آمنوا** ، او دوي چې استدلال كوي د كفارو باره كې مشركانو كې هغې نه استدلال كوي .

دويم جواب : ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا﴾ دلته اتباع راغله تپوس، ترې وكړي چې د اتباع او تقليد مينځ كې فرق شته او كه نه ؟ دوي د فرق قائل دي او په رسائلو كې فرق بنكاره دي دوي وايي اتباع جائزه ده خو تقليد ناجائزه دي وايي دا خو رد په اتباع باندې دي او ته

متبع يې نه په تقليد باندې په تقليد باندې رد پيدا كړي داسې پيدا كړه :
اذا قيل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نقلد اباؤنا . تاسو خو د اتباع او تقليد مينځ كې د فرق قائل ياستي .

دريم جواب : بل نتبع ما الفينا . ضم د اتباع د اباء راغي د لته ضم په اتباع مطلق دي كه اتباع في الشركيات باندې دي كه وايي چې ضم په اتباع مطلقه باندې دي مطلق اتباع د اباء ناروا ده . اوس دې ايات ته ګوره .

﴿ وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ ﴾ .

چا چې اتباع د صحابو وكړه باحسان اتباع د صحابو و باحسان سبب د رضاء د باري تعالى ده . دارنګې :

﴿ وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ﴾ تابعداري كوه د لارې د هغه چا چې ما ته راجع وي كه پلار دې وي خداى تعالى ته راجع وي ته به يې تابعداري كوي .

دارنګې يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :

﴿ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي ﴾ د پلار د عقيدې تابع يمه چې پلار يې په سمه باندې وه اتباع يې وكړه .

دارنګې : ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ ﴾ . بچي د پلار تابعداري په ايمان كې وكړي .

﴿ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾ دا څلور نصوص د دې دليل دي چې كشران د مشرانو اتباع په ايمانياتو كې كولې شي اوس دلته د اتباع ضم چې تاسو كوي دا ضم د اتباع في الشركيات دي .

كه في الايمانيات دي كه مطلقاً دي ؟ كه وايي چې دا اتباع في الشركيات منعه شوې ده نو خداى مو رانده كړه لكه رانده چې ياستي چې مونږ اتباع د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ في الشركيات كړې ده كه في الشرعيات مو كړې ده لږ سوچ خو وكړي .

كه ضم د اتباع في الشركيات رد شوې يې نو مونږ خو متبع په شرك كې نه يو او نه هغه

مشرک وه او مونږ پلارانو پسې په شرک کې نه يو روان او نه زمونږ پلاران مشرکان وه.
څلورمه طريقه د جواب دغه ايات وروسته خپله دليل دي:
﴿أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ﴾ د دې څه معنی ده.
اى يتبعونهم. آيا دا مشرکين اتباع د پلارانو کوي.
اګر که وه پلاران يې چې نه يې عقل لرلو او نه په هدايت وه تاسو ګريوان کې سوچ وکړي.
د لايعقلون او لا يهتدون په ائمه يې اربعوو کې په چا باندې ستاسو زړه ورځي چې دا اطلاق پرې وکړي. د منافقت د وجهې نه خلکو ته وايي چې زه ورته رحمة الله عليه وايمه.
بل دليل چې دوي پيش کوي:
﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ﴾
دا ايات په حق د يهوديانو کې نازل شوې دوي په رسائلو کې ليکلي او استدلال کې پيش کوي هغه وخت را ياد کړي بيزاري به ښکاره کړي اتبعوا متبوعين د هغې کسانو نه اتبعوا تابعين او وه به ګوري په شريکه عذاب قطعه به شي په دوي باندې اسباب د قربت او خپلولي.
﴿وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا﴾. وايي به هغه کسان چې تابعدار دي.
﴿لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً﴾. که رجعت دنيا ته واي.
﴿فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ﴾. مونږ به بيزاري ښکاره کړې وه دوي نه.
﴿كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ﴾ همدارنګې الله پاک به ښايي دوي لره اعمال د دوي.
﴿حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ﴾ وي به پښيماني په دوي باندې.
﴿وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ﴾ (البقرة آيت: ۱۶۶-۱۶۷).
دې ځای ته چې دوي راورسيږي په ترجمو کې نو خواره شي په کې دلته څه معنی کوي هغه وخت چې بيزاري به ښکاره کړي هغه کسان اُتبعوا چې پيران دي د هغې کسانو نه اتبعوا

چې مريدان دي ، پيران به د مريدانو نه بيزاره شي دوي صفا الفاظو کې دا خبرې کوي هغه وخت کې چې بيزاري به ښکاره کړي متبوعان چې امامان دي من الذين اتبعوا چې مقلدين دي دوي نه به بيزاره شي دې وخت کې به دا مقلدين وايي .

وقال الذين اتبعوا . تابعدار مريدان او مقلدين به وايي کاشکي دنيا ته تللې واي چې مونږ هم بيزاري ښکاره کړې واى له ائمه او پيرانو نه لکه دوي چې مونږ نه ښکاره کړه.

نو ورته ووايي جاهله دا مشرکين تابعدار د مشرکينو متبوعانو باره کې ده .

هر چې متقيان او اولياء دي د هغوي چې کوم تابعداران دي د دغه مريد چې د متقي ولي سره دوستي ده دا دوستي هلته هم نه ختميږي او کار ورکوي .

دليل ته ګوري سورت الزخرف آيت : ۶۷ :

﴿الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ﴾ دوستان به په دغه ورځ .

﴿بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ﴾ بعضې به د بعضو دشمنان وي .

﴿إِلَّا الْمُتَّقِينَ﴾ د متقيانو دوستي چې کومه ده هلته به دشمني نه وي .

﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾

نو دا تقوى دار اولياء دي نو د دغو اياتونو نچوړ دادى چې د اولياء سره کوم مريدين متعلقين دي د هغوي دوستي هلته هم نه ختميږي هلته به هم پير خپل مريد پسې ګرځيږي او امام به خپل مقلد پسې ګرځيږي چا چې د هغه اتباع کړي وي پسې به وي نو مونږ د دغه متقيانو اتباع کړي او د متقيانو مريدان يو د هغوي باره کې دا ايات راغلي ﴿إِلَّا الْمُتَّقِينَ﴾ هغوي دوستي هلته هم نه ختميږي هلته هم کار ورکوي .

بل د سورت اعراف دي چې ددې ايات نه دليل پيش کوي :

﴿اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ﴾ من دون الله دا ولياء اتباع مه کوي نو ورته وايه چې نبي اکرم ﷺ الله دي که من دون الله دې به وايي من دون الله دي نو د نبي عليه السلام اتباع کوي که نه يې کوي نو هغه به وايي چې هغه خو د بل ځاى نه ثابته ده د کوم ځاى نه اطيعوا الله و اطيعوا الرسول نو رو ند شي لږ مخکې هم لاړ شه و اولي الامر منکم

چې په دې ایات یې نه ختموي بل ځای نه استدلال کوي نو بل ځای کې خو اولی الامر راغي.
دارنګې سورة آل عمران آیت نمبر ٦۴ دلیل کې پیش کوي خپلو کتابونو کې تول ایات نه لیکي او نه یې پیش کوي:

﴿تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا﴾ نو د دې مخکني حصه پریږدي نه یې وایي آیت ته ګوري:

﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ﴾

د دې ځای نه دوي استدلال کوي: ﴿وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ﴾ د دې معنی داده چې مونږ به بعضې بعضو له شریکان مع الله نه ګڼو رب دلته په معنی د شریک مع الله دي دا به مونږ شریکان مع الله نه ګڼو.

دوي وایي چې دلته رب په معنی د مقلد متبع او مُطاع سره دي بعضې به بعضو له مطاعان نه ګڼو تابعداري به یې نه کوو. نو رب دلته په معنی د شریک مع الله دي او رب دلته په معنی د مطاع مداخلي او که دغه معنی واخلي نو په سورة آل عمران پاره ۳ آیت: ۸۰ کې ایات ته ګوري:

﴿وَلاَ يَأْمُرَكُمْ﴾ امر نه کوي دا پیغمبر چې چا ته خدای کتاب حکم او نبوت ورکړي امر نه کوي تاسو ته د دې خبرې: ﴿أَن تَتَّخِذُواْ﴾ چې تاسو ونیسي: ﴿الْمَلاَئِكَةَ﴾ ملائکو له او یا تاسو ونیسي: ﴿وَالنِّبِيِّيْنَ﴾ پیغمبران ﴿أَرْبَاباً﴾ نو اوس څه معنی کوي دا معنی کولې شي چې یو پیغمبر چا ته امر نه کوي چې تاسو پیغمبران مطاعان ونیسي یعنې د پیغمبر تابعداري وکړي ولې نه کوي هر پیغمبر خلکو ته ویلي دي چې د پیغمبرانو تابعداري وکړي اوس دلته د ارباب معنی شریک اخلي او که نه یې اخلي یعنې یو پیغمبر چا ته نه دي ویلي چې تاسو ملائک او پیغمبران شریکان مع الله وګڼي.

که ارباب ته په معنی د مُطاع سره کړي نو بیا معنی دا شوه چې یو پیغمبر هم چا ته نه دي ویلي چې تاسو د پیغمبرانو تابعداري وکړي ولې یې نه دي ویلي هر پیغمبر خپل قوم ته ویلي دي چې تاسو د پیغمبرانو تابعداري وکړي د هغوي د عقیدې نو دې کې به تاسو د آل عمران آیت ۸۰ پیش کوي چې ارباب په معنی د شریک مع الله دي دې مقام کې نه په معنی د مطاع

سره نو جواب دا شو چې ارباب په معنی د شریک مع الله دي د مطاع مقلد او متبع سره نه دي.

او که څوک دلته هغه حدیث پیش کړي چې چا نبي عليه السلام ته وویل چې مونږ خو اربابان نه دي نیولي وایي ولې چې هغوي حلالول تاسو حلالول هغوي حرامول تاسو حرامول وایي چې هاو وایي دغه رب من دون الله دي.

ګوري زمونږ قول فقهاء او اصول په دې متفق دي چې د ائمو په قول باندې مونږ تحلیل او تحریم ته جائز نه وایو حلال یا حرام چا ته وایي: ماثبت بدلیلٍ قطعيٍ، او د فقیه قول خو ظني دي هغه کله چا قطعي دلیل ګرځولې دي نو زمونږ اصول ددې تقاضا کوي چې حرام مونږ په نص قرآن په حدیث متواتر او په اجماع متواتره باندې ثابتوو.

دیو چا په قول مونږ حرام نه ثابتوو دارنګې دلیل د سورة نساء آیت ۶۵ پیش کوي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾ قسم په الله دوي به ایمان نه راوړي تر څو چې فیصله کن کړي تا لره په هغه مسئله کې چې مختلف ده په مینځ ددوي کې.

﴿ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا﴾ دوي به نه پیدا کوي په نفسونو خپلو کې تنګي د هغه څه نه.

﴿قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ چې تا پرې فیصله کړې ګردن نهاد به ري قول ستا لره په ګردن نهادي سره. دا ددوي په رسائلو کې مذکور دي وایي دوي د نبي عليه السلام مقابله کې د ائمو اقوال مقدم کړې دي.

او دوي ددې ایات معنی دا کوي: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ دوي مؤمنان نه دي دا معنی غلطه ده ځکه لا دلته ناهیه نه دي بلکې نافیه دي د لا نافیه د ناهیه سره عظیم فرق په لفظ کې دادی چې ناهیه په لفظ کې عمل کوي سقوط د نون راولي او نافیه په لفظ کې عمل نه کوي.

﴿لَا يُؤْمِنُونَ﴾ بیا په معنی کې فرق دادی چې لا ناهیه نهي حالي راولي لا نافیه نفي استقبالي راولي.

نو دلته لا ناهیه نه دي نافیه دي معنی داده: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ دوي به ایمان نه راوړي داسې مه وایې چې دوي مؤمنان نه دي که وه دې وویل چې دوي مؤمنان نه دي هغه د لایؤمنوا معنی ده د لا یؤمنون معنی نه ده د نفي او نهي فرق باید وشي لا یؤمنون دوي به

ايمان نه راوړي د ايمان په دائره کې به نه داخليږي چې په مسئله مختلف کې تا فيصله کړن نه ګڼي د يو سړي دا عقيده ده چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فيصلې به په اختلافي مسئلو کې نه منم او دې د ايمان په دائره کې راځي نو نه دې راځي و دې وځي ترې نه چې د ايمان دائره کې داخليږي نو مخکې نه به تسليموي اقوال د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ.

نو الحمد لله اربعة ائمو و مقلدينو چې څو مره تسليم د اقوال الرسول کړې دي نو هغو مره دوي کله کړې دي دوي ته خو په توسل کې مونږ ۱۹ احاديث پيش کوو د هغې مقابله کې د خپلې رايې او شيخ اتباع کوي يو دليل هم نه لري په نفي د توسل همدغسې په تبرک او کرامت کې په نفي يو دليل هم نه لري .دا رنګې دوه (۲) احاديثو نه دوي استدلال کوي خو استدلال يې تام نه دي يو د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوى ده او بله د معاذ بن جبل فتوى ده دلته دوي د تقليد او اتباع په مينځ کې د فرق قائل دي او چې چيلنج ورکړي چې په نفي د تقليد کې يو ضعيف حديث هم پيش کړي نه شي خو دلې .

نو دوي بيا لاړ شي د صحابوو فتوى ته حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي که عالم په سمه لاره وي نو تقليد يې مه کوي دا خبره دوي ډيره په زور سره پيش کوي نو دوي ته وايي چې خطيب بغدادي فقيه و المتفقه کې وايي منکر د تقليد چې څو مره شواهد پيش کوي نو تقليد به کوي اہل حدیث کے دواصول کتاب اللہ اور سنت رسول تقليد ته شرک وايمه او ثابتو مه يې په قول د معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره نو دا تقليد نه دي نو دده قول قران دي که سنت دي او دا خو مو په هره پاڼه کې ليکلي وهذا موقوف لا حجة في الموقوفات چې د صحابي فتوى دليل نه ده نو بيا دلته څنګه دليل شوه .

نو دا د سنن الكبرى للبيهقي حواله ما تاسو ته را اخيستي د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول کې خو دوي محض هغه مخکې وروسته عبارت ترې پټوي او خلک دوکه کوي سنن البيهقي جلد ۲ صفحه ۸ عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي :

لا تقلدوا دينكم الرجال . په دين خپل کې د رجالو تقليد مه کوي نو دوي دو مره تو ته عبارت په خپلو رسالو کې ليکي او نور نه وايي مخکې عبارت ته ګوري : فان ابيتم فبالاموات لا بالاحياء . که منع شوې د تقليد نه او ضرورت پيدا شو کولو مو د مړو وکړي خو

د ژوندو مه کوي نو دا اوس په تقليد رد دي که اثبات دي.

تاسو وهابيانو ته وايي چې ژوندو پسې مه ځي مړو پسې لاړ شي ځکه هغوي د فتنو نه محفوظ دي او ژوندي خو تاسو وهابيانو غوندې په يوه لنکروزر ايمان خرڅوي اصل جواب دادی چې د وهابيانو په نزد موقوفات دليل نه دي مونږ ته يې ولې پيش کوي تاسو تقليد ته شرک او حرام وايي دابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په فتوی حرام هم ثابتيږي داد چا اصل دي.

او تحقيقي جواب دادی چې مراد د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دغې لا تقلدوا نه تقليد في العقائد نه في الشرعيات دي دليل ورباندې دا حديث دي سنن الکبری د بيهقي جلد ۱۰ صفحه ۱۱۶ کې ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي:

ألا لا يقلدن رجل رجلاً دينه. يو سړي دې د بل سړي په دين کې مقلد کيږي نه.

فان امن. چې هغه مؤمن وي. امَن. دې دي مؤمن وي.

وان کفر. چې هغه کافر وي دې دي کافر وي دا عقيده يادوي که شرعي مسائل دا دليل د دې ده چې دا عقيده يادوي.

فان کان مقلدا لا محالة. که خامخا تقليد کوي.

فليقلد الميت ويترك الحي فان الحي لا تؤمن عليه الفتنة. ژوندي پسې مه ځه بيا مړي پسې لاړ شه.

او هرچې د معاذ بن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول دي الزهد لوکيع جلد ۱ صفحه ۳۵ کې را اخيستې دي حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: کيف انتم عند ثلاث. درې کارونه چې راشي څه حال به ستاسو وي.

دنيا تقطع رقابکم. داسې دنيا به راشي څټونه به در مات کړي.

وزلة عالم. بل د عالم زلت دي چې عالم خطاء شي.

وجدال منافق بالقرآن؟ منافق به په قران کريم مناظره کوي وي به منافق پيش کوي به قرآن کريم.

فسکتوا. خلک غلي شول.

فقال معاذ بن جبل . معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ و فرمايل : **اما دنيا تقطع رقابكم** . هرچې دنيا ده څټونه به درمات کړي .

فمن جعل الله غناه في قلبه فقد هُدِيَ . چا ته چې خداى تعالى په زړه کې غنا واچوله .

فقد هُدِيَ ومن لا فليس بنافعته دنياه واما زلة عالم فان اهتدى فلا تقلدوه دينكم . که په سمه وه نو په دين کې تقليد مه کوي .

ددې نه جواب يو خو مخکې تير شو چې موقوف خو ستاسو په نزد دليل نه دي مونږ ته يې ولې پيش کوي خو تحقيقي جواب دادي چې دې دلته دين يادوي او اطلاق د دين يوائې په فروعي مسائلو نه دي دا په عقيده باندې دي په عقيده کې د يو شخص تقليد مه کوه وروسته عبارت کې خپله اشاره ورته کوي :

فما عرفتم فتمسكوا به . په دين چې پوه شوي تمسک پرې وکړي .

وما اشكل عليكم فكلوه الى عالمه . که تاسو باندې اشکال راغې عالم ته يې وسپاري داد څه دليل دي چې عالم لري نو د عالم اتباع کوه بيرته .

اعلام الموقعين جلد ۱ صفحه ۱۴ د مرضِ موت نه مخکې معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يزيد بن عويمر ته وصيت کوي ورته وايي : **يا ابا عبدالرحمن اوصنا قال اجلسوني ان العلم والايمان مكانهما من ابتغاهما وجدهما يقول ذلك ثلاث مراتٍ** .

بيا يې وويل چې علم لټوي عويمر بن ابي الدرداء ته لاړ شي سلمان فارسي ته لاړ شي عبدالله ابن مسعود او عبدالله بن سلام ته لاړ شي په وصيت کې ولې دي خلکو ته وايي چې دې علماو ته لاړ شي که دې د تقليد د علماء منکر واى په فروعي مسائلو کې نه دي منکر وصيت خلکو ته کوي چې علماو ته مراجعه وکړي دا فقط د دين په مسائلو اعتقادياتو کې دا خبره چيړي .

هرچې تقليد په اعتقادياتو کې دي دا مسئله نزاعي ده بعضې علماء جائز ګڼي بعضې ناجائز هغه کوم يې چې ناجائز ګڼي داد اسلافو قول دي ولې ځکه هغه زمانه کې فلسفيان نه وه دهريان نه وه معتزله وو د فلسفې او منطق علم نه وه حاصل کړې مقابله دوي سره په حديثو باندې وه نو دغه وخت کې اهل زيغ عقل نه استدلالات نه پيش کول ضرورت د علم

منطق او فلسفې نه وه د حديثو د فقه او د تفسير وه نو دې وخت کې داد علم کلام مذهب هم نه وه نو دوي دې وجه باندې رد پرې کړې دي .

متاخرين علماء چې علم کلام کې تقليد د مذهبينو جائز ګڼي لکه د الفرق بين الفرق عبارت تير شو چې هغلته د اهل سنت والجماعت وه يو په کې متکلمين وه نو متکلمين دوه جماعته شول ابو الحسن اشعري ابو منصور ماتريدي ددوي دواړو تقليد چې په علم کلام کې کيږي دا په څه شي کې کيږي په تفصيل د صفاتو د باري تعالى کې کيږي چې فعلي کوم دي ذاتي کوم دي د ذاتي معنى څه ده د فعلي معنى څه ده د استطاعت په مسئله کې د تقدير په مسئله کې چې معتزلو و نزاع جوړه کړه دغې اصطلاحاتو کې دوي پسې ذهاب کيږي .

هر چې د ايمانياتو مؤمن به مسئله واخلي نو هغې کې خو تقليد جائز نه دي او نه ګنجائش لري ايمان بالله بالرسول بالملائکة په هغې کې به څه تقليد وشي او سړي به د چا پسې لاړ شي .

خلاصه دا چې کومو په عقيده کې تقليد ناجائز کړي دا سلف دي هغوي ضرورت نه وه ددې خبرو چا چې جائز کړي دا خلک دي هغه وخت کې اهل زيغو دا طريقه اختيار کړه او په ډيرو پيچيده مسائلو صفات الله وغيره کې خبرې شروع کړي دلته د متکلمينو مذهبين پيدا شول نو دا وروسته امت يا ماتريديان شول يا اشاعريان شول دوي پسې لاړل چې دغه اصطلاحات ياد کړي ترڅو د اهل زيغو مقابله پرې وکړي .

دا مسئله د تقليد وه خلاصه شوه ان شاء الله که څوک منصف وي متعصب نه وي وي ګوري اول نه تر آخره پورې ددوي د قول بطلان به ثابت کړي چې دوي خلکو ته دا نظر ورکوي چې بايد هر سړي طالب د دليل شي مونږ ددې سخت مخالف يو چې هر سړي طالب د دليل نه شي جوړيدې بلکې اعتماد به کوي او تسليم د قول د غير به بلا دليله کوي دغه معنى د تقليد ده .

او تاسو طالبانو کې چې کوم آزاد خيالي وي تاسو ته د نصيحت لپاره آخري دا خبره کومه چې ګوري تاسو بخاري شريف ويلي يا مو نه دي ويلي او غير مقلد شوي يو احاديث مو ياد کړي يا مو نه وي ياد کړي نو ولې په دې دومره امت بې اعتماده يې ددې امت په اسلافو کې لاړ شه امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ څومره لوي محدث دي او د څومره احاديثو حافظ دي چې يو څوک ترمذي وګوري او يو باب وګوري او بيا دغه باب په طحاوي کې وکتل شي

په څو چند زيات احاديث د ترمذي نه زيات سره د سند پيش کوي د رته نو تا ته به د امام طحاوي حافظه معلومه شي چې ده ته دغه يو متن په څو سندونو ياد دي او په هغه متن کې چې څومره تعارض وي څومره په ښه شکل يې سره بيل کړي دي .

دا دومره لوي حافظ سره د دومره حافظې او دومره ذخيرې علمي نه دي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ولې نه پريږدي چې دلائل پيش کړي بيا دې وايي هذا قول ابي حنيفة وابي يوسف ومحمد رَحِمَهُمُ اللَّهُ دا څومره ښکلي رايه ثابتوي چې تا د بخاري په ويلو او يو څو احاديثو په زده کولو مذهب پريښود ولې اعتماد نه کوي .

لږ وروسته راشه بدر الدين عيني رَحِمَهُ اللَّهُ ته بخاري باندې به ته ښه پوهيږې او که هغه ښه پوهيدو چې د بخاري په ۲ بابونو امين بالجهر او رفع اليدين په زده کولو دې مذهب پريښود هر څه ته دې شا کړه ته د بدر الدين عيني نه ښه پوهيږې په بخاري باندې هغه د دومره ذخيري علمي او حديثو سره مذهب نه پريږدي .

همدغه شان ابن حجر عسقلاني نه ته ښه پوهيږي هغه سره د دومره علم او حفظ د حديثو سره د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ولې نه پريږدي .

خپله د ابن تيميه نه ته ډير ماهر يې په حديثو کې هغه د دومره ذخيرې علمي او د حفظ الحديث سره د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ولې نه پريږدي دا ابن قيم د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ولې نه پريږدي چې دا خروج د مذهب نه ښه کار وای لږ ښکته راشي فقهاء وګوري مرغيناني صاحب چې هدايه يې ليکلي ده چې ته يې د استاذانو نه دري (۳) ځل وايي بيا دې هم سر پرې نه خلاصيږي سره د دومره علم د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب ولې نه پريږدي .چې په دې مذهب کې دي له اصحاب تطبيق نه دي او چا د اصحاب ترجيح نه ګرځولې د مجتهدينو نه دي او بيا هم تقليد نه پريږدي د امام صاحب مذهب يې کلک نيولې دي .

همدغه شان ابن همام صاحب فتح القدير ته لاړ شه علامه شامي صاحب ته لاړ شه بحر الرائق ته لاړ شه دا پنځه سوه (۵۰۰) علماء چې دا تول العياذ بالله کفار راتول وه چې فتاوى هنديه عالمګيريه فقه حنفي يې راغونډوله ولې په دوي اعتماد نه کوي .

د هغې نه ښکته راشه شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ شاه عبد العزيز رَحِمَهُ اللَّهُ شاه محمد اسحاق داد بې دينو کورني وي که د دیندارو کورني وي سره د دومره ذخيرې علمي د مذهب نه ولې

خروج نه کوي همدغه شان د ديوبند علماء ته راشه محمود قاسم نانوتوي رشيد احمد ګنګوهي اشرف علي تهانوي مفتي محمد شفيع محمود الحسن ديوبندي حاجي امداد الله مهاجر مکي دغه شان د بريل په علماو کې احمد رضا خان صاحب محمد يار خان نعيمي او نور علماء ددوي ولې مذهب نه پرېږدي سره د دومره علم نه

دغه شان او سني عصر ته راشه مفتي محمد فريد رَحِمَهُ اَللَّهُ باندې ولې اعتماد نه کوي په شيخ حسن جان رَحِمَهُ اَللَّهُ دې ولې اعتماد نه وه په شيخ اسرائيل ولې اعتماد نه کوي په شيخ ادريس ولې اعتماد نه کوي د ډاګي په مولانا صاحب ولې اعتماد نه کوي دا دومره علماء دي هر يو ته ورشي هغه بخاري شريف چې تا ديو استاذ نه دوه (۲) ټکي ياد کړه او مذهب دې پريخوده دغه علماء دغه بخاري پنځوس (۵۰) کاله درس کړې ده څلويښت (۴۰) کاله درس کړې ده دغه شان مشائخ ددې دور علماء محدثين مذهب نه وتل چې ښه کار واي دوي ولې ترې نه وځئ.

نو په اسلافو چې اعتماد نه کوي او د وهابيانو مقصد هم دا دی چې عوام په علماوو بد ګمانه شي بې اعتماد شي او هر عالم فتوی کوي او جاهل ورته وايي ما ته دليل پيش کړه همدغه مقصد کې دوي کامياب هم شول او دې حد ته يې خلک ورسول چې هر جاهل عالم نه د دليل مطالبه کوي د دليل په ټکي بيا پوهيږي نه دې بې اعتمادي ته يې خلک جوړ کړل داد انګريزانو هغه جال وه چې د اهل حديثو په لاس يې استعمال کړو.

شيخ زاهد الکوثري هغه وخت کې دا ويلي وه: **الامذهبية قنطرة اللادينية**، چې خروج د مذهب نه دا د لا دينيت او د بې ديني پُل دي چې څوک د مذهب نه بهر شو د بې ديني په پُل روان دي منتهاء به يې په پاکستان کې قاديانيت وي او اخري سر به يې عيسويت وي همداسې وشول په افغانستان کې د پيچ په دره کې (۴۰۰۰) کورني عيسويان شوې دي ښکاره يې کليسې جوړې کړې دي دا هغه (۴۰۰۰) کسان وه چې د انقلاب په اوږدو کې د شيخ جميل الرحمن په تنظيم کې د وهابيت سره وه ننګيا دي عيسويان شول.

ددوي دا ښکاره مقابلو ته مه ګوري او که څوک وايي چې دا خو د عيسويانو مقابله کوي امارت اسلامي سره جهاد کې شريک دي زه وايم چې دا شرکت يې هم امارت اسلامي سره فقط د جاسوسي لپاره دي ګنې تاسو د ګوتنانامو ماتې زولنې د عبد الرحيم مسلم

دوست او د بدر الزمان بدر کتابونه مطالعه کړي چې دا اوس هم اهل حدیث دي لیکن د هغه د کتاب مقدمه وګوري د ګوتانامو ماتې زولنې دا یې د اهل حدیثو په جاسوسي لیکلي دي چې دا جاسوسان دي او په هغې کې د حیات الله او روح الله چې د جمیل الرحمن وریرونه دي وایي داد امریکي خاص غړي دي او د زیاتو طالبانو ګرفتاري د دوي په لاس باندې شوې ده.

او بیا یې خپله واقعه په کې را اخیستي چې زه ګوتانامو کې ومه او مقدمه وه زما پیشي کیده وایي چې زه یې روان کړې ومه او د هغه ارخ نه یې روح الله را روان کړې وه څه وخته پورې روح الله بندي وه اوس خلاص شوې دي وایي ما ورته وویل چې وشرمیږه شرمیدلیه دلته جیل ته هم د جاسوسي لپاره راغلي یې وایي سترګې یې ټیټې کړي ماته یې جواب را نه کړو.

ګوري عبد الرحیم مسلم دوست خپله اهل حدیث جمیل الرحمن دې علاقو پاکستان افغانسان ته وهابیت چاراوسته د جمیل رحمن د تنظیم لخوا خپور شو نو عبدالرحیم مسلم دوست د جمیل الرحمن د تنظیم د فرهنګ رئیس پاتې شوې دي او مسلم دوست خپله د جمیل الرحمن د ورا ره په جاسوسي باندې قائل دي او په خپل کتاب کې یې اقرار کړې دي.

ځای په ځای چې کوم ځای کې جاسوسي کیږي دا به اهل حدیث کوي او دا د برطانویانو امریکایانو هغه عظیم جال دي چې مسلمانانو کې خپور شوې دي دا نه متدین اشخاص دي نه د دین د اشاعت والا خلک دي فقط په مسلمانانو کې د تفرقې اچولو لپاره یو عظیم جماعت او کافرانو د اهل حدیثو په لاس د مسلمانانو په کور کې کور جنګي باندې عظیمه کامیابي حاصله کړه او په هر کور کې ځوي د پلار سره وجنګوه پلار د ځوي سره امام د مقتدي سره مقتدي له امام سره ....

کور په کور دومره جنګ جوړ دي چې برطانویان او عیسویان په ځای ناست دي او تر قیامته پورې به دا اختلاف روان وي او دا به نور هم سره لوي کیږي او کمیږي به نه نو مسئله د تقلید مهمه مسئله ده داثموو نه چې قول درته پیش شي چُون چرا په کې مه کوي په کلکه یې تائید کوي دا بې دیني نه ده بلکې دین دي همدغه دین پسې ځي همدغه لاره د نجات ده.

د لوي څښتن په مرسته مسئله د تقلید خلاصه شوه

مسئلة ايصال الثواب للأموات :

التحقيق في ايصال الثواب للأموات :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ۝ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ۝ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۝ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾. (سورة النجم آية : ٣٦-٣٩)

بله مسئله متنازعه بيننا وبين الخصم هغه مسئله د ايصال الثواب الى الاموات ده مړو پسې صدقات كول او دارنګې نفلي روژه حج يا هر هغه كار چې ذي اجر او ذي ثواب وي د هغې ثواب ببښل مرده ته په نزد د جماهيرو اهلسنت والجماعة باندې جائز بلكې مندوب دي هر ذي اجر كار كه هغه عتق د غلامانو وي دا امر ذي اجر دي كولې شي چې يو سړي د مرده لـه طرف نه عتق وكړي او د هغې ثواب مرده ته وبخښي دغه شان تلاوت په صورت د ختم وي كه انفرادي وي ذي اجر دي ثـواب يې مـرده تـه اوبخښي دغـه شـان حـج دي نفلي او دارنګې صدقات دي دُعـاء ګانې دي هر كـار د خير چې ذي اجر وي د مرده نه كول جائز دي پـه نزد د جمهورو اهلسنت والجماعة باندې .

دا نن صبا چې څو مره مخالفين د صدقاتو د خيراتونو منكرين دي خلكو ته ذهن كې دا اچوي چې مونږه د ايصال ثـواب منكر نـه يو مـونږ خو فقط د اولې دويمې دريمې ورځې د خيرات منكر يو او دا دوكه وركول دي اهلسنت لره در حقيقت دوي په عقيده د اعتزال باندې دي چې معتزله د ايصال الثـواب الى الامـوات منكر دي بالكل ځكه چې د مرده پسې دُعـاء چې كيږي د هغې هم دوي مخالفت كوي په دغو ورځو كې نه وي وروسته كال مياشت بعد تلاوت ختم كيږي مرده پسې ثواب بخښل كيږي د هغې هم دوي مخالف دي نو هر كارِ خير مړي پسې چې څوک كوي دوي هغې ته جائز نه وايي دې نه دا معلومه ده چې دوي د ايصال الثواب منكرين دي .

بل معتزله چې د ايصال الثواب الى الاموات منكرين دي د هغوي داقوى د اَدِلوو نه يو ايات د نص قرآني نه دي او بل نص د حديث دي نص قرآني نه استدلال معتزله چې كوي هغه دا ايات نه كوي :

﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ نشته انسان ته مگر هغه چې ده سعي کړې وي .

او د نص د حديث نه چې معتزله استدلال کوي هغه : اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة .

دغه ايات او دغه حديث له اقوی اَدِلّو و د معتزلو و نه دي منکرين د ايصال الثواب چې هر جماعت دي دوي چې کله هم د ايصال الثواب په رد باندې شروع کوي نو استدلال کې دغه ايات او دغه حديث پيش کوي نو مسئله د ايصال الثواب الى الاموات دا داسې جزيه مه گڼي چې خيرات مستحب دي که څوک يې کوي او که نه يې کوي دا خو يقيني خبره ده چې د مستحب عمل په کولو اجر دي او په نه کولو کې څه ذم نشته يو کول نه کول دي بل منل نه منل دي .

په دې کې فرق دي خيرات و منه چې جائز عمل دي بيا يې مه کوه نو يو اختلاف د بخلاء او سخيانو دي بل اختلاف د اهلسنت او معتزلو و دي دا فرق لري سخيان چې دي خيرات کوي هم او مني يې هم بخلاء چې کوم دي خيرات مني خو کوي يې نه او بل اهلسنت او معتزله دي اهلسنت خيرات او صدقات جائز گڼي معتزله يې جائز نه گڼي اوس دلته دوي خيراتونو او صدقو ته جائز نه وايي کوي خو يې هسې هم نه نو دا په دې عقيده کې معتزلو پسې تللې .

د شرح عقائد په متن کې راغلي :

دُعاء الاحياء للاموات وصدقتهم نفع لهم عند اهل السنة خلاف للمعتزلة .

ژوندي چې د مړو پسې دُعا کوي يا صدقات کوي دې کې نفع شته د امسلک د اهلسنت و الجماعة دي مخالف په دې کې معتزله دي وروسته به حوالې راشي بدر الدين عيني هم دا ذکر کړي چې دا مذهب د اهلسنت و الجماعت دي او مخالف په کې معتزله دي، مراقي الفلاح هم دا ذکر کړي چې داد اهلسنت و الجماعت رايه ده .

مخالفين معتزله دي او استدلال معتزلو و کړې دې آيت نه: ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ دا استدلال د معتزلو و دي .

دلته تاسو يو فرق وپيژني هغه دا چې يو نيابت دي عن الاموات او عن الغير او بل اثابت دي الى الاموات کول د عباداتو له مړو نه دوه صورته لري نيابتاً و ايصابتاً .

يو سړي د بل چا نه عبادت کوي په نيت د نيابت سره چې هغه نه وي کړي فريضه پرې پاتې وي دې په کې نائب جوړيږي . بل يو سړي دي چې هغه د غير نه يو عبادت کوي اثابتاً په هغه څه لازم نه وه هغه باندې فريضه نه وي پاتې دې يو عمل کوي ثواب هغه ته بخښي .

د انابت مسئله داده چې د احنافو فقه د انابت په صورت کې اعمال ذي اجر تقسيموي ثلاثة اقسام لره څه عبادات بدني محض ، څه عبادات مالي محض څه مشترک بينهما ، مثال د بدني محض صلواة دي او صوم دي مثال د مالي محض زکواة او صدقه فطر مثال د مشترک بينهما حج دي احناف وايي چې د مړي نه يا د غير نه نيابتاً عمل کول .

نو په عباداتو بدنيوو کې احناف نيابت جائز نه ګڼي مثال يو سړي وفات شي او لمونځونه پرې پاتې دي نو د غه فوت شوي سړي نه دده اقربا ، نيابتاً لمونځونه نه شي کولې يا پرې روژې د رمضان پاتې وي نو روژه ترې نه نه شي نيولې بلکې د هغې بدل کې به فديه ورکوي دغه ځاى کې د جمهورو دا مذهب دي چې د روژې په باب کې به د نيابت په صورت کې فديه ورکولې شي خو روژه ترې نه نه شي نيولې .

دظواهرو او دامام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ دا رايه ده چې په روژه کې هم نيابت کيدې شي او د ((صام عنه وليه)) د حديث نه استدلال کوي چې څوک مړ شي او په هغه صوم وي نو ((صام عنه)) جمهور علماء نصوصو د کفارې ته ذهاب کوي چې په صورت د کمزورې د دغه رجل کې چې ده دا عبادت نه شو کولې او دې حيات وه نو ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ نص قرآني نه ثابت دي .

نو چې کله سړي مړ شو نو دا خو لا پسې معذور شو نو هلته هم حکم دادى : ﴿فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ هغه بله جزيه شوه اختلافي چې د صوم په باره کې به ((صام عنه وليه)) وي او که فديه به ترې ورکوي جمهور قول کوي په کفاره باندې امام احمد او ظواهر قول کوي په صوم باندې په مانځه کې بيا تول متفق دي چې مونځ ترې نه نه شي کولې دا عبادات بدني دي نو چې دا عبادت بدني دي هغه هم عبادتِ بدني دي .

دويم عبادت مالي محض دي هلته نيابت مطلقاً جائز دي باتفاق العلماء مثلاً يو څوک مړ شي زکواة پرې پاتې دي دده د مال نه دده وارث نيابت په زکواة کې کولې شي يا صدقه فطر .

دريم مشترک بينهما دي په مشترک بينهما کې احناف وايي چې نيابت جائز دي په صورت د توصيې او امر کې او جائز نه دي په صورت د غير توصيه او غير امر کې لکه حج سړي کمزورې شو امريې وکړو وصيت يې وکړو چې لاړ شه زما پر ځای حج وکړه نو د هغه نه حج کيدې شي او که وصيت يې چيرته نه وي کړي نو په دې صورت کې بيا نه شي کيدلې د نيابت په صورت کې دا مسئله د نيابت شوه .

هر چې مسئله د اثابت ده په اثابت کې که هغه عبادت بدني وي لکه صوم يا صلوات يا مالي وي نفلي خيراتونه کوي مال ورکوي چا ته خيرات کوي او يا لساني عبادات بدني وکړي تلاوت راغې جمله کارِ خير په کې راغې .

او يا مشترک بينهما چې حج او عمره ده نو دا اثابتاً د مړو نه دا مطلقاً په نزد د اهلسنت او عند الاحناف جائز دي دا تفصيل مې دې د پاره وکړو چې هسې نه د فقه په کوم عبارت دوکه شي يو عبارت مخې ته درته راشي په هغې کې زمونږ فقهاو دا ويلې دي چې د مړي نه مونځ نه شي کيدلې روژه نه شي نيول کيدلې دا الفاظ زمونږ په فقه کې شته دي نو بيا که تاسو فرق د نيابت او اثابت ونه کړي هسې نه چې د فقيه دا قول حمل کړي په دې چې ګنې د خيرات بخښلو د روژې نيولو د ايصابت په نيت به ناجائز وي نه هغه قول به هغوي نيابتاً کړې وي چې روژه کې نائب نه شي جوړيدلې په مانځه کې نائب نه شي جوړيدلې .

جمهور علماء مطلقاً ټول جائز ګڼي په اهلسنت کې فقط يو امام چې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دي هغه په مسئله د قراءت کې هغه د جمهور و مخالف دي وايي د مړو پسې د قراءت ثواب بخښل مخالف دي وايي نص به ورته نه وه موجود په دې په دغه وجه به يې قول کړې وي ليکن متأخرين د مذهب دده او بعضې عمده محققين د مذهب دده لکه امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ چې شافعي المذهب دي خو هغه هم طرف د جمهورو ته ترجيح ورکوي د تلاوت ثواب مړو پسې بخښل جائز ګڼي .

استدلال د ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ نه چې منکرين کوي د هغې نه مفسرينو اته

جوابونه کوي په دغه ایات باندې که قرطبي وګوري هم یې دا جوابونه ذکر کړې دي روح المعاني هم دا جوابونه ذکر کړې دي او زیات تفصیل چې کړي په دغه ایات باندې قاضي ثناءالله پاني پتي رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر مظهري کې کړې دي هغه جمله نصوص د حج او عمرې د صوم او د دعاء د خیرات او تلاوت چې څومره نصوص دي په دغه ځای باندې قاضي صاحب جمعه کړې دي.

نو تفسیر مظهري چې په دغه ایات وکتل شي نو ډیرو کتابونو ته به ستاسو ضرورت پاتې نه شي او دمه به درکړي بدر الدین عیني رَحِمَهُ اللهُ عمدة القاري شرح د صحیح البخاري جلد ۴ صفحه ۴۹۹ کې اعتراض ذکر کوي که ته اعتراض کوي چې: قال الله تعالی ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ دې نه مخکې دا ذکر کړې دي چې داد اهلسنت رایه ده چې دا ثوابونه مړو ته رسیږي نو دا ایات دلیل شو عَلٰى عَدَمِ وُصُوْلِ الثواب القرآن للمیت دلته شوافعو ته جواب ورکوي که یو شافعي المذهب دغه ایات نه استدلال کوي: قلت، زه جواب ورکوم.

اختلف العلماء في هذه الایات علی ثمانية اقوال احدهما: یو قول دادی:

أَنَّهَا مَنْسُوْخَةٌ. دا ایات منسوخ دي قائل ددې قول عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي، ناسخ ددې لپاره د سورة الطور آیت نمبر (۲۱) دي:

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ﴾.

هغه کسان چې ایمان یې راوړو اتباع وکړي اولاد ددوي په ایمان کې پیوست به کړو دوي پسې اولاد ددوي کم به نه کړو د اعمالو ددوي نه څه شي لره.

دغه ایات کریمه په دې دال دي چې د بچو اعمال د پلار عمل نامه کې اچولې کیږي او د بچو د عمل په وجه باندې دا پلار او اولاد په شریکه جنت ته دننه کیږي نو د غیر چې ولد دي د پلار عمل نامي ته نفعه ورکړې ده او ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ ددې په ضد راځي نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب کوي:

ادخل الاباء الجنة بصلاح الابناء.

امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ وايي :

قاله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. دا قول دا چې منسوخ دي هغه ورته ناسخ دي داد ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دي.

خو دومره اعتراض کولې شي چې ايات اول : ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ دا مؤخر دي او ايات د ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا ﴾ مقدم دي نو هغه دې لره ناسخ څنګه ګرځوي دا دې هغې لره ناسخ شي.

د هغې جواب هم مفسرينو کړې دغه ځاى کې چې يو ترتيب د مصحف عثماني دي بل ترتيب نزولي دي په نزول کې هغه ايات مقدم دي دا ترې مؤخر دي.

دويم جواب :

انها خاصة بقوم ابراهيم وموسى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ واما هذه الامة.

هر چې دا امت دي.

فلهم ما سعوا وما سعى لهم غيرهم سعالهم غيرهم. دې امت ته دا خصوصيت دي چې دوي ته د خپلو اعمالو اجر هم دي او د غير د اعمالو اجر هم شته دا ايات مختص دي تر قوم د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې.

دا قول د عکرمة مولى ابن عباس دي هغه ايات که مخکې وروسته ولوستلې شي خپله معلوميږي.

﴿ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ○ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴾ دا خلک نه دي آګاه په هغه احکامو چې په صحيفو د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ کې وه په صحيفو د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ کې وه هغه احکام دا وه :

﴿ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ○ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ نو داد هغې صحيفو حکم دي.

دريم جواب دا کوي :

المراد بالانسان ههنا الكافر قاله الربيع بن انس. دا قول د ربيع بن انس دي.

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ ليس للكافر إِلَّا مَا سَعَىٰ اما لمؤمن فله ما سَعَىٰ وما سُعي لها . که دا اعتراض څوک وکړي چې انسان خو عام مراد دي کافر څنګه ترې اخلي دا خو ډیر ځل ذکر د عام مراد ترې خاص قرآن کریم نشته . قد اتى على الانسان حين من الدهر لم يكن شيئاً مذكوراً . راغلي وه انسان باندې یو وخت ذکر د انسان دي مراد ترې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ دي د بعضې مفسرینو په قول .

څلورم جواب :

وان ليس للانسان ما سعى من طريق العدل فاما من باب الفضل فجائز وان ليس للانسان ماسعى بطريق العدل ولهم ما سعوا وما سُعِيَ لهم بطريق الفضل .

عدل دادی چې د غیر د اعمالو ثواب ور ونه رسوي څه د عدل خلاف نه ده دا چې ورسوي یې دا یې فضل دي په دې امت باندې مثلاً یو سړي مړ شي د هغه پس مانده ګانو هغه پسې خیراتونه وکړل او هغه ونه بخښل شو دې ته څوک ظلم نه شي ویلې چې دا خالق ظلم کړې دي ځکه دنیا کې وخت ورکړې وه دا چې بیا یې هم ور رسوي دې امت ته د نصوصو نه ثابته ده بطريق الفضل دا احسان کوي . دا قول د حسین بن فضل دي .

پنځم جواب : وان ليس للانسان ما سعى په معنى د ما نوى سره دي :

قاله ابوبكر الوراق . بیا خو بالکل دا مسئله دې باب نه خارج شوه .

ليس للانسان الا ما نوى نشته انسان ته مګر خپل نیت دا مسئله نه چیري چې ګڼې خپل عمل شته او د بل نشته . سعي په معنى د نوى باندې دا قول د ابوبکر وراق دي .

شپږم جواب :

ليس للكافر من الخير الا ما عمله في الدنيا فيثاب عليه في الدنيا . وایي دا ایات کریمه په حق د کافر کې ده او په عمل خیر دده کې ده چې رب کریم هر خیر والا ته خیر ورکوي خو هر چې مؤمن دي د خیر بدله دلته هم ورکوي هلته یې هم ورکوي ، هر چې کافر دي ليس له الا ما سعى بس د هغه کار خیر بدله دلته ورکړي کافر هم چې چا سره ښه وکړي دلته دنیا کې ورته بدله ورکړي هلته بیا ورته څه نشته دا د ثعلبي قول شو .

اوم جواب : لام په الانسان کې په معنی د علی باندې دي :

ان اللام في الانسان بمعنى على تقديره ليس على الانسان الا ما سعى ، نو على د ضرر لپاره وي د خير لپاره نه شو د بل چا گناه په ده نه باريږي .

اتم جواب :

انه ليس له الا سعيه غير ان الاسباب مختلفة . زه وايي تسليم کوم چې د بل چا عمل ورته نه رسيږي خو دا اسباب مختلف دي .

فتارة يكون سعيه في تحصيل الشيء بنفسه وتارةً يكون سعيه في تحصيل سببه مثل سعيه في تحصيل قراءت ولد يترحم عليه . دغه بچي چې ده پسې تلاوت کوي دغه بچي دا تلاوت ته چا جوړ کړې وه دا اول نه ده کوشش کړې وه چې دا به قاري کوم چې بيا به ما پسې تلاوت کوي وايي دا ده خپله سعي ده که ده دا سعي نه وي کړې نو هغه چيرته قاري کيده او چيرته يې تلاوت کولو .

وصديق يستغفر له . نو داد انديوال کړې وي کنه گنې زيات خلک شته چې خپلو اقاربو پسې دُعا نه کوي او چې ده پسې کوي نو داده ورسره بنه وخت تير کړې وي او بنه دوست يې جوړ شوې وي . **وتارةً يسعى في خدمة الدين والعبادة فيكتسب محبة اهل الدين فيكون ذلك سبباً حصل بسعيه** . دا ټول ده په سعي شوې وي .

داد **ان ليس للانسان ما سعى** نه مفسرين په دغه ځای ټول دغه جوابونه کوي چونکې ظاهر ددې نص د اهلسنت د اصل خلاف دي د اهلسنتو په اصولو کې دا راغلل په عقائدو کې دا راغلل چې دُعاء صداقات تلاوتونه دا نفعه رسوي ظاهر د نص ددې خلاف راځي اصول د اهلسنتو لکه د قرآن کريم مقابله کې راتللې شي هغه خو خلکو ته عقيده بنايي نو عقيده څنگه د قرآن مخالفه شوه نو ددې وجې نه علماء مجبور شول ددې ايات کريمه جوابونه دا نه دي بلکې صحيح محمل لټول دي چې تر څو تعارض د ايات ورک شي د اصل د اهلسنت سره .

مونږ ددې قائل يو چې ترتيب وار تلاوتونه ، صوم ، صدقه ، حج او عتق دُعاء دا ټول مړي ته نفع ورکوي .

اول : الدعاء ينفع الميت دا مسئله اتفاقي ده حتی چې خصم هم په دې قائل دي چې دُعاء مړي ته نفع ورکوي .

عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۴ صفحه ۴۹۷ :

ولكن اجمع العلماء على ان الدعاء ينفعهم ويصلهم ثوابه .

په دې د علماو اجماع ده چې دُعاء مړي ته نفع ورکوي .

لقوله تعالى : ﴿ وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ ﴾ (سورة الحشر آيت : ۵۹)

دا تعريف د مؤمنانو راغلي چې په حق د سابقينو کې د مغفرت دعاء غواړي .

وغير ذلك من الآيات وبالاحاديث المشهورة منها قوله : اللهم اغفر لاهل بقيع الغرقد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء کوي .

ومنها قوله اللهم اغفر لحينا وميتنا وغير ذلك . دا ټول ادله دد دې دي .

چونکې مسئله اتفاقي ده نو مونږ پرې ډير بحث نه کوو ، معتزلو کې څه غلاط او سر سخته تير شوي دي چې هغوي دې نه هم انکار کړې دي او ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ د ظاهر نص پسې تللي دي .

نو د شرح عقائد متن په هغه غلاط رد کوي :

في دعاء الاحياء للاموات وصدقتهم نفع لهم عند اهل السنة خلافاً للمعتزلة .

هر چې ثواب د صوم ، صدقې ، حج ، عمرې او د عتق دي امواتو ته رسيږي او په دې باندې به زه ګڼ تعداد کې احاديث تاسو ته ذکر کړم :

(۱) مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۸۶ :

حدثنا هُشيم عن حجاج عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده انه سأل النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان العاص بن وائل كان يأمر في الجاهلية . عاص ابن وائل چې دې امريې کړې وه په جاهليت کې .

ان ينحر مائة بُدنة . چې له ده نه دې سل (۱۰۰) بُدنې حلالې شي دا سوال عمرو بن

العاص کړې دي او عمرو بن شعیب راوي ددې حدیث هغه جد دده دي چې ده عمرو بن عاص دي نو دا هشام يې ورور شو .

و ان هشام بن العاص نحر حصته من ذلك خمسين بدنة . زما ورور هشام پنځوس (۵۰) اوښان حلال کړي دي .

أفأنحر عنه . زه ترې نه حلاله وکړمه دا باقي پنځوس زه هم حلال کړمه .

فقال أن أباك لو كان أقر بالتوحيد فصمت عنه او تصدقت عنه او اعتقت عنه بلغه ذلك . رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايي که ستا پلار چیرته مُقر بالتوحيد واي بيا تا روژه ترې نيولې واي خیرات دې ترې کړې واي غلام دې ترې آزاد کړې واي بَلَغَهُ ذلك رسیدلې به وه ورته دا اوس ورته نه رسيږي ځکه مقر بالتوحيد نه دي .

نو دا واضح دلیل په دې دي چې مؤمن ته صدقه ، روژه ، عتق يعني هر کارِ خير اجر رسي ورته . دا حديث مسند احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ۱۸۱ کې هم ذکر کړي عمدة القاري هم ذکر کړي جلد ۴ صفحه ۴۹۸.

و أقر الألباني بصحة الحديث . په السلسلة الصحيحة جلد ۱ صفحه ۴۸۳ کې الباني وايي :

قلت وهذا اسناد صحيح رجاله كلهم ثقات على الخلاف المعروف في عمرو ابن شعيب عن ابيه عن جده و هشيم ولحجاج كلاهما مدلس . دا دلته علامه هيتمي يوه جرحه کړې ده په دغه حدیث باندې چې ددې سند کې هشيم راغلې عن حجاج او هشيم او حجاج دواړه مدلسين وه مدلس چې كله عنعن وکړي مقبوله نه وي الباني په دې جرحه رد کوي :

ولكنهما ما قد صرحا بالتحديث فزالت شبهة تدليسهما .

د مسند احمد چې کومه حواله ما ذکر کړه هغلته الفاظ داسې دي :

حدثنا هشيم قال اخبرنا حجاج . دا عنعن هلته نشته په الفاظو د تحديث سره يې روايت کړې دي د اخبار سره ، نو داد هغه اعتراض دفعه وشوه ولكنهما قد صرحا بالتحديث فزالت شبهة تدليسهما ، کوم چې په مجمع الزوائد کې علامه هيتمي په دې اعتراض کړې دي چې په

دې کې دوه راویان مدلسین دي او دلته عنعن ده نو عنعن په روایت د ابن ابي شیبة کې ده په روایت د مسند احمد کې په لفظ د اخبرنا سره ده.

دویم: مصنف ابن ابي شیبة جلد ۳ صفحه ۳۸٦ کې باب لګوي:

باب ما يتبع الميت بعد موته: حدثنا جعفر بن عون عن هشام بن عروة عن ابيه عن عائشة رضي الله عنها قالت جاء رجل الى النبي ﷺ فقال ان امي افتلتت نفسها وانها لو تكلمت تصدقت. که هغې چیرته خبرې کړې وای نو خیرات به یې کړې وای یو ناڅاپه مړه شوه.

فهل لها من اجر. څه اجر شته. **ان تصدقت عنها.** چې زه د هغې نه خیرات وکړمه.

قال نعم. رحمت عالم ﷺ جواب کوي هاو اجر شته دي.

دا حدیث مسلم کوم چې بیروت چاپ دي ذکر کړي جلد ۵ صفحه ۷۳۰ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ٦۹٦.

بخاري جلد ۱ صفحه ۴٦۷، مصنف عبد الرزاق جلد ۹ صفحه ٦۰، معجم الاوسط جلد اصفحه ۲۱۷، مسند ابي يعلى جلد ۷ صفحه ۴۱۰ سنن بیهقي جلد ۴ صفحه ٦۲، مسند ابي عوانة جلد ۳ صفحه ۴۹۳.

په مذکور حدیث کې ابي عوانة رضي الله عنه فرمایي:

الدليل على ان من ماتت غير وصية وله ولد يتصدق عنه لتكونن له كفارة.

یو سړي مړ شي وصیت یې نه وي کړې اولاد خیرات ورپسې کوي چې دا کفاره شي.

نن صبا خیرات کول څکه بنه کار دي چې خلک لا علمه دي د وصیت په قدر نه پوهیږي شریعت ده لره اختیار ورکړي چې ته محتضر نه یې او مرګ درته نزدې شي او بیمار شي نو ته ثلث نه په اقل باندې وصیت کولې شي دا ددې لپاره چې تا نه ژوند کې دروغ ویل شوې تسمونه به درنه شوې نورې کمزوریانې به شوې وي په صدقه فطر زکواة کې به درنه تقصیرات شوې وي دا ټول مال کې د دریمې حصې ته حقداریې دا راواخله خیرات یې کړه په خپله زندګي کې چې هغه ستا صفائي او کفاره شي نو اوس څوک په ثلث د مال وصیت کوي لا علمه دي کنه.

بهتره طریقه خو یې داده چې هر کله لا علمه دي اوس همداسې قبر کې پریږدي نو مه

يې پرېږده ته پرې صدقه وکړه هغه دې وصيت نه وي کړې کنه وارث ته په کار دي چې هغه وصيت ونه کړو او دې پسې لګيا شي تقريباً د ټول مال څه کم دريمه حصه پسې خيرات کړي فرض نه ده بهتره داده تبرع ده او احسان دي له ميت سره .

ګوره دې حديث نه معلوميږي که هغې خبرې کړې وای نو وصيت به يې کړې وه خو اوس يې نه دي کړي زه څه وکړمه خيرات وکړم ترې نه وايي وي کړه ترې نه .

سنن مأثوره هم دا حديث ذکر کړي په جلد ۱ صفحه ۳۸۷ کې هغې کې باب لګوي :

باب يستحب لمن يتوفى فجاءة ان يتصدقوا عنها.

مستحب داده چې څوک يو ناڅاپه مړ شي نو خلک دې ترې نه خيرات وکړي .

سنن بيهقي جلد ۴ صفحه ۱۰۹ کې باب لګوي :

باب الصدقة عن الميت ، بيا باب لګوي : **اذا مات فجاءة هل يستحب لاهله ان يتصدق عنه** ، يو ناڅاپه څوک مړ شي آيا مستحب دي چې خلک ترې خيرات وکړي نو د حديث په ذکر سره د نعم جواب راځي ترجمه کې ده نعم نه وي ويلې نبي عليه السلام نعم ويلي ده صرف سوال ذکر کړي په حديث کې نعم راغلي او ده په ترجمه کې سوال ذکر کړي آيا مستحب دي چې سړي مړ شي خيرات پسې وشي بس جواب يې هغه حديث بيا ذکر کړي دا مذکوره حديث دغه ټولو مذکورو کتبو په مذکورو صفحو کې ذکر کړې دي .

دريم : مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۸۷ :

حدثنا ابن عيينة عن الزهري عن عبيد الله عن ابن عباس ان سعد بن عُبادة استفتى النبي صلى الله عليه وسلم في نذر كان على امه توفيت قبل ان تقضيه .

حضرت سعد بن عبادة رضي الله عنه استفتاء وکړه د يو نذر باره کې دده په مور پاتې وه هغه وفات شوه نذر يې پوره کړې نه وه .

فقال اقضه عنها . پوره يې کړه ته د هغې نه .

څلورم : دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۸۷ :

حدثنا عبد الصمد بن عبد الوارث عن حماد بن سلمة عن عاصم عن ابي صالح عن ابي هريرة

رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال ان الرجل ليرفع الدرجة فيقول ما هذا .
يو سړي پورته کولې شي په درجه في الجنة کې بيا دې به وايي د کوم ځای نه شو ما ته دا مقام زما اعمال خو ددې موافق نه وه .

فيقال . ده ته به وويلې شي . باستغفار ولدك من بعدك لك . ستا نه وروسته ستا بچي ستا لپاره بخښنه غوښتې ده د هغې په وجه دا مقام درکول شوې .
پنځم :

حدثنا وكيع عن سفيان عن حبيب بن ابي ثابت عن عطاء وعن سفيان، عن زيد بن اسلم

قالوا جاء رجل الى النبي صلی الله علیه وسلم فقال يا رسول الله صلی الله علیه وسلم أأعتق عن ابي وقد

مات ؟

پلار مې مړ دې زه ترې غلام آزادولې شم آزاد کړم . قال : نعم .
څه به په عتق کې راغلې وي څه به په دُعاء کې راغلي وي څه به په حج عمره ، صوم صلواة کې راغلې وي دا ټول روايات ددې ثبوت کوي چې کارِ خير ذي اجر وي هغه د مړده نه کولې شي اثابتاً .
شپږم : دا رنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۸۷ :
حدثنا وكيع حدثنا ابن رواد حدثنا هريك عن الحجاج بن دينار قال قال رسول الله

صلی الله علیه وسلم : ان من البر بعد البر ان تصلي عنهما مع صلاتك وان تصوم عنهما مع صيامك وان

تصدق عنهما مع صدقتك .
نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي نيکي وروسته له نيکي نه د والدينو سره داده چې مونځ وکړې د والدينو نه خپل مونځ کوي يو څو رکعاته مور او پلار پسې وکړه خپله روژه چې نيسي هغوي پسې هم څه روژې ونيسه ځان لره چې خيرات کوي نو هغوي پسې هم خيرات وکړه نو دا بِر د والدينو دي او دا احسان شو له والدينو سره بعد الوفات هر کله چې نبي علیه السلام د بالوالدين احساناً دا ترجمه وکړه نو بيا خو د نص قرآني نه هم دا ثابته شوه چې د مور او پلار سره په احسان باندې امر شوې دي نو ولد لره وروسته له وفات نه احسان د

والدینو هغوي پسې خیرات کول دي هغوي پسې صدقه بخښل دي هغوي پسې دعاګانې کول دي وغیره.

اوم: مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۸۸ زه چې په کومه مسئله کې د مصنف ابن ابي شيبه حواله پیدا کړم بیا د بل کتاب حواله نه ورکوم اکثراً د هغې وجه داده چې دا ډیر د اسلافو نه دي اول رتبه کې امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دي د مؤطأ بیا دویمه رتبه کې تقریباً دې دي بل شيخ الكل دي د امام بخاري امام مسلم د ابوزرعه د امام ابوحاتم د امام ابي داود د امام نسائي ددې ټولو استاذ دي او دا ټول ترې نه نقل کوي او دده سند هم اکثر مختصروي:

حدثنا الفضل بن دُكين عن الحسن بن صالح عن عبدالله بن عطاء عن ابي جعفر ان الحسن والحسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا كانا يعتقان عن علي بعد موته.

حضرت حسن حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وفات نه وروسته به یې ده پسې غلامان آزادول.

اتم: دارنګې عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۴ صفحه ۴۹۸:

وفي كتاب القاضي الامام ابي الحسين بن الفراء عن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أنه سأل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا لتصدق عن موتانا ونحج عنهم وندعوالهم.

چې مونږ خیرات د مړو نه کوو مونږ ترې نه حجونه کوو او مونږ ورته دعاء کوو.

فهل يصل ذلك اليهم. دا مړه ګانو ته رسیږي او که نه.

قال: نعم. رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته جواب ورکوي: نعم ويفرحون به. مړه ګان پرې خوشحالیږي.

كما يفرح احدكم بالطبق اذا اهدى اليه. لکه یو کس ستاسو خوشحالیږي په یو خانک سره چې ډک د فروټو نه وي او راوړلې شي ده ته په هدیه کې.

نهم روایت: صحيح مسلم معرب بيروتي چاپ جلد ۵ صفحه ۷۳:

حدثنا يحيى بن ايوب وقتيبة بن سعيد وعلي بن حجر قالوا حدثنا اسماعيل وهو ابن جعفر عن العلاء عن ابيه عن ابي هريرة ان رجلاً قال للنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان ابي مات

وترك مالاً ولم يوص .

پلار مې مړ شو مال يې پرېښې دي وصيت يې هم نه دي کړي .

فهل يكفر عنه ان اتصدق عنه . کفاره ترې نه کرځي چې زه ترې نه صدقه وکړمه .

قال : نعم . وصيت چې نه وي هلته صدقه جائزه ده تبرع ده .

هم دا حديث مسند ابي عوانة هم ذکر کړي جلد ۳ صفحه ۴۹۳ کې .

لسم روايت : سنن ابي داؤد جلد ۲ صفحه ۵۴ :

حدثنا محمد بن كثير اخبرنا اسرائيل عن ابي اسحاق عن رجل عن سعد بن عبادة انه قال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان ام سعد ماتت .

خپله مور يې ياده وي . فأي الصدقة افضل . کومه صدقه افضل ده .

قال : الماء . او به . قال فحفر بئراً . کوهي وکنسته .

وقال هذه لأم سعد . دا زما د مور په نوم باندې شو .

يو شي د چا په نوم کول په نوم د نذر باندې دا جائز نه دي البته يو شي د چا په نوم کول د ايصال ثواب په نيت باندې دا بيا جائز دي .

نذر عبادت دي محضاً لذات الله تعالى د هغه په نوم نيول کيږي د بل چا په نوم نذر نه نيول کيږي صاحب د روح المعاني يو ځای کې سخت غصه شوي دي وايي هغه مشرکين چې نذور نيسي په عبادو باندې وايي داد چينجو نه هم ډير شوي دي نو تاسو فتوی د شرک په دې مه کوي .

پنجاب کې چې کومې بکسې زيارتونو سره پرتې وي او پرې ليکلې وي نذرانه او حرڈالو دا غلط لفظ دي .

تفسيرات احمدي ليکلي دي :

اما للبقرة المنذورة لأولياء الله تعالى فحلال طيب اكله . په دغه ايات وما اهل به لغير الله ، بقره منذوره لأولياء الله پاکه ده خوړل يې روا دي .

دا چې په نوم د ايصال ثواب باندې وي څو شيان زمونږ په خلکو کې غلطياني دي مثلاً

یو څاروي دي بو ځي يې د چا په نوم يې هم کړي بيا يې بو ځي زيارت ته او هلته يې حلالوي نو که ددې ثواب د هغه په نوم باندې وي دا خو جائز دي دليل دغه مذکور حديث دي چې: هذه لأم سعد. کوهي د أم سعد په نوم شو چې وفات شوې وه.

او دا عمل دوي وهابيان هم کوي دوي يو ځل يو ځای کې سره راغونډ شوې وه زمونږ يو طالب وه هغه مونږ خبر کړو ماسخوتن چې دلته وهابيان راغلي او خلک وايي چې بشاوري هم راځي مونږ ددې خوره پرې موښودله او ما وويل چې دا خو ډيره ښه خبره ده چې بشاوري لا د کوتې نه بهر شو مونږ ورغلو هلته يو مسجد وه چې لاړو نو ددوي ملايان راغلي وه خو بشاوري په کې نه وه وروسته بيا مونږ ته يو کس وويل چې بشاوري ګاډي کې مسجد پورې راغې خو چا ورته وويل چې دا خو مولوي غلام حضرت غلام هم راغلي نو د تيښتې لاره يې غوره وګڼله او لاړ.

هلته چې کيناستلو نو خبرې وشوې وايي دا شرک دي چې څوک د چا په نوم څه منځته کوي نو هغه ته ما وويل چې دې اقوالو کې ددوي مقصد ايصال ثواب وي دا الفاظ چې دا شي مې د فلاني په نوم منلي ده ددې مقصد ايصال ثواب وي يو شي د چا په نوم کول دوه معنی لري د چا په نوم کول نذراً او د چا په نوم کول اثابتاً دا فرق لري دا شي د فلاني په نوم باندې نذراً ، دا شي د فلاني په نوم ايصابتاً ده ثواب هغه ته بخښم ايصابتاً تسميه د چا دا څه شرک نه ده.

دا حديث د ابي داؤد مې ورته پيش کړو : **وقال هذه لأم سعد** . حتی چې شارحين ليکي چې دا کوهي مسمی په لأم سعد شو نو دا جائز دي وايي نه دا چې د چا په نوم شي دا مردار ده ما ورته وويل چې ستاسو مدرسې ته څوک ګډ چيلي راولي چې دا به د بشاوري مدرسې ته بو ځمه دا څنګه ده وايي دا خو جائز ده نو ما ورته وويل د بشاوري د مدرسې نوم اخستل جائز دي او د يو زيارت نوم اخستل شرک دي دا فرق يې څه شي دي او په کوم ځای کې ده.

بيا هغه ته ما وويل چې ستاسو د مسجد نوم څه ده وايي مسجد حمزه ما ورته وويل چې مسجد به د هغه چا په نوم ياديږي مثلاً چې د محلې مشروي يا باني ددې مسجد وي او يا به يې ثواب هغه ته بخښل شوې وي.

اوس تاسو دا خپل مسجد ته مسجد حمزه ولې وايي ؟ حمزه رضي الله عنه ستاسو جومات هغه آباد کړې دي او که ددې مسجد ثواب مو هم حضرت حمزه رضي الله عنه پسې بخښلې دي دا تسميه مو له څه وجهې ورته ايښي ده نو ما ورته وويل که محض تسميه اثابتاً شرک شي نو د مسجد نوم حمزه کيخودل هم بيا شرک دي دا دې هم د هغه په نوم کړو کنه .

دا مدارس د خلکو په نومونو باندې دي نو زمونږ د عوامو په اصلاح کوي دا زړې ښځې اکثر دا وايي که زما دا مشکل وشو نو فلاني بابا ته به بيا جنډه وړمه هغه خو په جنډو نه خوشحاليږي کنه دا بعضې خلک زياتي کوي اول جنډا کوم کتاب را اخيستي ده تاسو کُتب د فقه وګوري عبدالغني نابلسي رحمه الله په کشف النور کې القاء د بعضې غلافونو د حسن نيت په وجه باندې عزت د دغه ولې يې مقصد وي يو غلاف ته يې جواز ورکړې نو د هغې دا مقصد شو چې ته به چيرته په بازار کې کپړه ګوري او راوړي پرې اچوي به يې لکه دا زيارتونو کې دومره زياتې کپړې خلکو زوړندې کړې وي چې هيڅ حد نه لري دومره يې پرې اچولې وي .

بيا د اعلام لپاره بعضې خلکو جنډه په شناخته قياس کړې ده چې نبي عليه السلام کانړي ودروه چې دا زمونږ د ورور نخښه شوه د اعلام د پاره نو د اعلام لپاره خو يوه جنډه کفايت کوي نو د دومره زياتو جنډو ته څه ضرورت دي لکه ددې هرې خبرې به علماو نه تپوس کيږي بناء على القبر چې کوم فقيه جائزه کړې دضرورت لپاره که چيرته دلته زائرين راځي شپه راځي تلاوت کوي د باران د يخني نه د بچ کيدو لپاره که بناء وشي نو باک نه کوي رښا يې په دې صورت جائز کړې ده که يو څوک تلاوت کوي او هغه ته يوه شمعه بله شي چې تلاوت وکړي جائزه کړې ده په دې شکل شمعې بلول چې هلته د زيارت په خوا کې تور کوزه ړي جوړه کړې وي او ډيرې شمعې بليږي او د هرې جمعې په شپې بليږي دا خو يو فقيه هم جائز نه ګڼي دا خو ښکاره د حديث مخالفت دي .

نو دغه مسئله د نوم کولو چې ده نو د عوامو مقصد اثابت وي نذر نه وي پوهيږي نه نو خپل عوام پوهه کول په کار دي چې تاسو نذرانه د ولي په نوم مه مني بلکې د خدای په نوم يو شي نذر کړي يا يې ومني ثواب يې فلاني پسې وبخښي اثابتاً يو شي د چا پسې بخښل دا ناروا نه دي .

یو ه بله جزیه هغه مسئله د عقر ده چې بعضې خلک څاروي وړي او په زیارت کې ذبحه کوي نو دا زمونږ شریعت منع کړې دي لا عقر في الاسلام.

امام ابي داؤد باب لګوي: باب كراهية الذبح عند القبر، نو بیا دا حدیث پیش کوي:

لا عقر في الاسلام. په اسلام کې عقر نشته نو عقر داوه چې هغوي به دا کار کولو چې یو کس به سخي وه هغه به چې مړ شو نو وروسته د وفات د هغه نه به تلل او د قبر سره به یې حلالې ورته کولې چې مونږ یې دا دربار ګرم ساتو چې دا سخایې وروسته هم جاري ده.

نو دا څاروي وړل او هلته حلالول او دا تقرب عبادت ګڼل دا زمونږ د شریعت مخالفت دي هر شي چې دې منلې دي هلته د وړلو ضرورت نشته بل ځای حلال کړه ثواب یې وروبخښه او که خامخا وړي نو دا سوچ کوه چې دغې مزار نه لرې کوم ځای کې حلال کړه هغه ځای کې یې پوخ کړه.

یوې جزیې بلې ته موهم چې سوچ وي که چا وي وړ هلته یې حلال کړو نو دا شي پاک دي که ناپاکه نو دې کې به سوچ کولې شي چې داد تعظیم د ذلك الولي دپاره دي او که د اثابت د ذلك الولي د پاره دي که دا د اثابت لپاره وه ثواب یې وربخښلو نو دا شي حلال طیب، حلال دي پاک دي بیا په اسم الله اخیستلي شوې دې په دې شرائط د ذبحې پوره شوې دي داد مؤمن ذبیحه ده دا پاکه ده ﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ که نه یې خوري هغه تا ته متوجه کیږي څه چل دي په تاسو چې اسم الله پرې یاد شوې تاسو یې نه خوري.

او که چیرته داد تعظیم لپاره وي د دې لپاره یې وړي وي چې زه په دې د ولې تعظیم کومه نو ګوري بیا دا شي مرداریږي د غیر الله د تعظیم لپاره چې شي حلال شي هغه بیا مردار دي ﴿مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ﴾ په دې ځای مفسرین کرام وایي چې یو بادشاه راروان وي او ته د تعظیم لپاره د هغه خپو کې ګډ حلالوي دا حرام دي دا په ما ﴿مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ﴾ کې راځي.

په قبر چې سړيې وړي یا بل څه شي وړل یې جائز دي او که نه؟

بعضې قبور داسې وي چې هغه خو اداري جوړې شوې وي دربار ترې جوړ وي د هغې مالکان موجود وي ځکه په هغې خرچه کوي دا هغه ملکیت کې راځي بیا نو هغه څوک نه شي

او چتولې.

او که په عامو قبورو باندې وي صاحب د قبر يې مالک نه دي نو دا به يا چا نه غور ځيدلې وي يا به يې د خيرات په نوم اچولې وي که د خيرات په نوم يې اچولې وي څه باک نه لري دا اخلي يې خيرات خوزئ ميريان يې هم خوري ته يې هم خوره.

او که نه دا سې وي چې ګمان دي د لقيط وربانديې وي چې دا به چا نه غور ځيدلې وي نو بيا هماغه مسئله د لقيط ده چې تر دري ورځو به ځي هلته به اعلانونه کوي بيا به هفته بعد بيا به مياشت بيا به کال بعد اعلان کوي کال بعد به يې خيرات کوي که لس کاله وروسته يې مالک پيدا شو د جيب نه به يې لنډوي نو بيا مسئله سخته ده.

او که څوک نذر ومني بيا د نذر نه خوراک کولې شي او که نه؟

نو د هغې نه خوراک ده ته جائز نه دي دا يوه عامه کليه ده هر يو صدقه واجبه مفروضه هغې نه چې څوک متصدق وي اکل نه شي کولې او د هرې صدقې نفلي نه بې کولې شي مثال صدقه فطر بيرته ورکوونکي نه شي خوړلې زکواة نذر نه شي خوړلې کوم شي چې په تا واجبيږي بيا واجب شي که واجب من الله وي که تا په ځان واجب کړې وي هغه بيا ته نه شي خوړلې او چې ته يې نه شي خوړلې اصل او فرع دې هم نه شي خوړلې.

خبره دې ځای نه وه چې فحفر بئراً وقال هذه لأم سعد نو چې کوم عامو ښځو نذرانې منلې او نيت يې د اثابت وه نو پوهه يې کړي نذر مه منه بلکې نذر د خد ای په نوم ومنه او ددې ثواب د چا نوم پسې کړه، نو يو شي د چا په نوم کول نذراً او يو شي د چا په نوم کول اثاباً فرق لري نذراً جائز نه دي اثاباً جائز دي.

يولسم روايت: دارنګې سنن الدار القطني جلد ۳ صفحه ۲۹۹:

حدثنا القاضي المحاملي حدثنا ابومية الطرسوسي حدثنا ابو خالد الأموي حدثنا ابوسعيد البقال عن عطاء بن ابي رباح عن زيد بن ارقم قال قال رسول الله ﷺ اذا حج الرجل عن والديه.

څوک چې مور پلار نه نفلي حج وکړي.

تقبل منه. قبول به کړې شي له ده نه، ومنهما او د والدينو نه.

واستبشرت ارواحهما في السماء. او ارواح د والدینو به یې په اسمان کې خوشحال وي.

وکتب عند الله تعالی براً. او دغه بچي به د خدای تعالی په نزد د ابرارو رنه ولیکلې شي په معنی د بِر الوالدین سره دا به د هغه چا نه شي چا چې د مور او پلار سره ښېګړې کړې وي دې حق کې کمزورې نه وي راغلې.

دولسم روایت: دا هم سنن دار القطني په مذکوره صفحه لیکلي دي:

عن ابن جریج عن عطاء عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من حج عن ابویه او قضی عنهما مغرما بعث یوم القیامة مع الأبرار.

دیارلسم روایت: دا هم سنن الدار قطني را اخیستي په مذکوره حواله:

عن عطاء عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال اتی النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رجل.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یو سړي راغې.

فقال ان أبي مات وعلیه حجة الاسلام. زما پلار وفات شوې او په هغه حج وربانده.

أفأحج عنه؟ قال أرأیت لو ان أباك ترك دیناً. که پلار دې په ځان باندې قرض پرېښې وي.

أقضیته عنه. تا به ادا کولې له هغه نه.

قال: نعم. قال: فاحجج عن ابیك. حج ترې وکړه.

داد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قیاس دي قیاس د حق الله یې کړې په حق العبد باندې چې هر کله حق العبد مطالب لري دنیا کې ظاهراً د هغې اداء ته کولې شي نو د حق الله هم کولې شي.

څوارلسم روایت: المعجم الکبیر للطبراني جلد ۱۰ صفحه ۱۳۳:

حدثنا محمد بن عبدالله الحضرمي حدثنا محمد بن عبدالرحمن بن غزوان حدثنا شریك عن سالم الافطس عن سعید بن جبیر عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أظنه عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

چې مرفوع یې کړو.

قال: اذا دخل الرجل الجنة سأل عن ابویه وزوجته وولده فیقال انهم لم یبلغوا درجتك وعملك. هغه ستا درجې ته نه دي راغلي.

فيقول يا رب قد عملتُ لي ولهم . دې به وايي ما چې اعمال کړي د ځان لپاره مې هم کړي ددوي لپاره مې هم کړي .

فيؤمر بإلحاقهم بهو . امر به وشي چې دده والدين ده ته جنت ته راولي .

قرأ ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ . ولوست ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا ايات : ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾ (سورة الطور آيت : ۲۲)

پنځلسم روايت : المعجم الاوسط جلد ۷ صفحه ۹۲ :

حدثنا محمد بن علي المروزي حدثنا محمد بن عبدالله بن قهزاذ حدثنا علي بن الحسن بن شقيق حدثنا خارجة بن مصعب عن عثمان بن سعد عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ما على احدكم اذا اراد أن يتصدق بصدقة .

څه به وشي په يو کس باندې چې اراده د يو خيرات لري .

أن يجعلها عن أبويه فلا ينقص من أجورهم شيئاً . چې وګرځوي هغه د مور او پلار نه کم به نه شي له اجورو ددوي نه څه شي .

شپاړسم روايت : اخبار مكة للفاكهي جلد ۱ صفحه ۳۸۸ :

عن عمرو بن اوس الثقفي عن ابي رزين قال قلت يا رسول الله إن أبي ادركه الاسلام شيخاً كبيراً .

پلار مې مسلمان دې شيخ كبير دې .

لايستطيع الحج والعمرة . طاقت د حج او عمرې نه لري .

والظعن . سوريدل په اوښ باندې . اذا حج قال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : حج عن ابيك واعتمر . حج هم ترې وکړه عمره هم ترې وکړه .

اولسم روايت : اخبار مكة للفاكهي جلد ۱ صفحه ۳۸۹ :

عن عبيدالله بن ابي رافع عن علي بن ابي طالب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال ان امرأة شابة من خثعم جاءت

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالت ان ابي شيخ قد أفند وأدركته فريضة الله عز وجل على عباده في الحج ولا يستطيع أداءها فهل يجزئ عنه ان أؤديها عنه؟ قال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نعم.

اتلسم روایت: کتاب الاموال لابن زنجویه المتوفی ۲۵۱ جلد ۳ صفحه ۱۲۷۲، څلور کاله د امام بخاري نه مخکې وفات شوې:

اخبرنا ابونعيم اخبرنا سفيان عن ابن جريج عن عطاء قال كان يستحب ان يطعم عن ابويه وهما ميتان ونفعله حتى مات.

حضرت عطاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مستحب ګڼله چې سړي مور او پلار پسې خیرات وکړي چې هغوي مړه وي او ده هم خپله مور او پلار پسې خیراتونه کول تر دې چې مړ شو.

نولسم روایت: المعجم الاوسط جلد ٦ صفحه ۳۱۴:

حدثنا محمد بن داؤد بن اسلم الصدفي حدثنا عبيدالله بن عبدالله المنكدري حدثنا محمد بن اسماعيل بن ابي فديك قال سمعت ابا محمد الشامي انه سمع اباهريرة يذكر أنه سمع أنس بن مالك يقول سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول ما من أهل بيت يموت منهم ميت.

یو کور والا نشته دي چې هغې کې مړي وشي.

فيتصدقون عنه. فاء د تعقیب مع الوصل لپاره وي بس متصل خیرات وکړي.

بعد موته. وروسته له مرګ د هغه نه.

الا اهداها إليه جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ. مګر پیش کړې دا صدقه دې مړي ته جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ.

على طبق من نور ثم يقف على شفير القبر فيقول يا صاحب القبر العميق هذه هدية أهداها إليك أهلك فاقبلها فيدخل عليه فيفرح بها.

دا یوه هدیه ده چې رالیږلي تاته اهل دي ستا قبوله کړه دا کس داخل شي دغې قبر ته دغه نور نو خوشحاله شي دغه مړي په هغې.

ويستبشر. اوزيرې ورکړي يو بل ته. ويحزن جيرانه. او خفه شي ګاونډیان دده هغه.

الذين لايهدي إليهم بشيء. چې په دوي پسې څوک څه خیرات نه کوي.

نو معلومه شوه چې خيرات مړي پسې کيږي د اهلسنت مړي خوشحاله او د وهابيانو پنجپيريانو مړي خفه وي چې ما پسې ولې خيرات نه کوي .

حکايت :

معدن مولوي صاحب ډير حاضر جوابه وه يو ځل چا پروګرام ته بده ببري ته بيولې وه نو معدن مولوي صاحب تقرير کړې وه او په تقرير کې د صدقې بيان کړې ده هلته په مجلس کې ورته يو بې ادبه وهابي ناست وه هغه راپاڅيدلې وه وايي چې مولانا صاحب تا وويل چې دې مړو ته صدقات رسيږي نو معدن مولوي صاحب وايي جواب ورکړو چې هاو مړو ته رسي نو وهابي جاهل وه صدقات رسي معنی دا چې هغې نه رڼا جوړه شي قبر پرې رڼا شي د صدقې اجر او ثواب رسي .

د رسيدو خو دا معنی نه ده چې دا غوښې او وريژي ور رسي نو هغه پرې دا اعتراض کړې وه چې صدقات ورسيږي نو ستاسې مړي خو به ډير زيات طعامونه خوري دوي خو به ډير قاذورات هم کړې وي دا قبرونه خو به يې ډک کړې وي نو بيا دې وهابي وايي داخبره وکړه وايي معدن مولوي صاحب هغه د چا چې پروګرام وه او چا ده ته دعوت ورکړې وه هغه ته يې وويل چې اجازت دې چې جواب ورکړم .

هغه وويل ورکړه جواب ورته ، معدن مولوي صاحب وايي ورته وويل چې دا خو داسې وي چې تاسو وهابيان خپلو مړو پسې صدقې او خيراتونه ، نه کوي ستاسو مړي په قبرونو کې ډير اوږي وي او زموږ اهلسنت حنفيان خپلو مړو پسې صدقې او خيراتونه کوي هغوي ماړه وي دا ستا په فتوی چې هغوي قاذورات وکړي هغه ځای ډک شي بيا د وهابيانو مړي پسې راشي هغه ټول وخوري ځکه اوږې وي کنه وايي بيا قبر صفا شي .

نو جاهل ته چې داسې جواب ورنه کړي خو سوال يې د جهل نه ډک ده وايي ټول مجلس پسې وخندل ﴿لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا﴾ وينه او غوښه خو خدای تعالی ته نه رسي خدای تعالی يې قبلوي .

نو داد فيتصدقون نه د اولې ورځې د خيرات استدلال کولې شي تاسې په دغه جزيه باقي دا عمومات دي او استدلال د عام نه څه جرم نه دي عند انتفاء الخاص يستدل بالعام .

او دا کوم قسمونه چې قرآن کریم ته کتابونو جوړ کړي خاص عام مشترک وغیره نو عام د استدلالاتو نه دي ډیر مسائل چې وکتل شي د استدلالاتو نه همدا پیش کیږي مثلاً د سحر لمونځ فرض دي دلیل پرې څه شي دي **اقيموا الصلوة** دا خو عام دي د سحر لمونځ کې خو نه دي راغلې همدغسې د هر فرض نه استدلال په عام سره کیږي.

نو چې عام دلیل نه شي نو د ډیرو فرائضو فرضیت ثابتول به مشکل شي یا لکه څوک سوال وکړي په سنت لمونځ رکوع څنګه ده ته جواب ورکړي فرض ده هغه به وایي دلیل څه شي دي **واركعوا**، فرضو کې که سنتو کې دا خو عام دي.

داسې عام او خاص چې په کې پیدا کوي ډیرې جزیې د دین به پیدا نه کړي دارنګې څوک سوال وکړي قراءت په لمونځ کې څنګه دي نو ته به جواب ورکړي فرض ده هغه به وایي دلیل څه شي دي؟ ته به وایي **فاقرؤا ماتيسر من القرآن** نو دا خو عام دي مونځ خو یې نه ده یاد کړي.

قوموا لله قانتين. دا عام دي فرض او نفل یې نه دي بنودلي نو تاسو هر یو خاص کې ترې استدلال کولې شي په نفلو کې کولې شي په تهجدو کې کولې شي هغه ددې افراد دي تول صلوة ویل شوې دي او هغې ته هم صلوة ویل کیږي نو دا ادله د ایصال الثواب الی الاموات دي جمله صدقات په کې راغلل.

هغه جدا خبره ده چې ضیافت د اولې دویمې دریمې ورځې فقهاء منع کړې دي او نن صبا زمونږ زیات صدقات دا مروج چې دي ضیافات ترې نه جوړ دي خو هغه به خپل عوام پوهه وي چې شکل د ضیافت به د نه ته نه ورکوي نو دضیافت فرق د صدقې نه یو خو په دغې هم کیږي چې ضیافاتو کې دعوتونه وي چې خلکو ته دعوت ورکړي چې زما ډوډي ده راشي نو په اوله دویمه دریمه ورځ دا ضیافت مکروه دي.

او خوره ول د فرشونو جوړول د اجتماعاتو تول مکروهاتو کې فقهاء داخل کړي دي خو چونکې دوي وهابیان د فقه نه لرې پاتې شوې یو شي ته په فقه کې مکروه ویل شوې وي نو ته به یې ګوري چې دا یې قبیح لذاته کړو او که قبیح لغیره یې کړو که قبیح لذاته یې کړو علت یې ورته لذاته څه شي پیدا کړو یا خو مکروه تحریمي دي که لغیره کړو هغه غیر ته

اوس ګوره چې هغه غیر څه جرم دي غټ دي وړوکي دي په دغه بناء باندې بیا ته فیصله کولې شي چې دا کراهیت تحریمي دي که تنزیهي دي .

فقیه وویل چې اجتماع د مړي په کور کې یا صنع د طعام غیر لره مکروه دي د دې لوي علت داده چې په هغه صدمه او تکلیف راغلي دي نور تکلیف پرې مه راوله اوس به دلته دا علت ته ګوري چې دا سړي زما په پاتې کیدو خوشحال ده او که په تللو مې خوشحال دي که په دې سړي بوج جوړیده او ته پاتې کیدي نو مکروه کار دې وکړو هغه باندې غم دي او ته نور هم بوج پرې زیاتوي او که هغه ستا په پاتې کیدو خوشحالیدو او درته یې وویل چې پاتې شه او ستا په پاتې کیدو یې تکلیف کې کمي راتللو نو هغه علت د کراهیت منتفي شو .

شلم روایت : معجم الاوسط جلد ۲ صفحه ۲۴۶ کې روایت ذکر کوي :

حدثنا احمد بن طاهر قال حدثنا جدي حرملة بن يحيى قال حدثنا حماد بن زياد البصري قال حدثنا حميد الطويل وكان جاراً لنا قال سمعت انس ابن مالك رضي الله عنه يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : أمتي أمة مرحومة متاب عليها .

امت زما امت مرحومه دي توبه یې قبلیږي .

تدخل قبورها بذنوبها . قبر ته ځي سره د ګناهونو .

وتخرج من قبورها لا ذنوب عليها . د قبرونو نه به راوځي ګناه به پرې نه وي .

تمحص عنها ذنوبها . محوه کیږي دې امت زمانه ګناهونه د دوي .

باستغفار المؤمنين لها . ځکه مؤمنان دعاء ورته غواړي .

نو دلته یو جماعت دي لکه البانی ابن تیمیه وغیرها هغوي د اهلسنت او معتزله په مینځ کې تللې هغوي وایي چې دا صدقې خیراتونه دعاګانې دا هر څه مړي ته فائده رسوي **خو من الولد** د **من غير الولد** نه یې نه رسوي دا هسې بې ځایه چون چرا ده .

نو دا حدیث په هغوي رد کوي : **باستغفار المؤمنين لها** . هغه ایات هم پرې رد کوي :

﴿الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ﴾ دا لمونځ د جنازې هم په دوي رد ده دا! عام مؤمنان ورته دعاء غواړي : **اللهم اغفر لحينا وميتنا الخ** چې فائده نه کوي بیا څه د پاره عام مؤمنان په

جنازه کې شرکت کوي نو د ابن تيميه په خپله فتاوى کې او الباني دې ټولو د معتزلوو او د اهل سنت په وسط کې يو ه لاره جوړه کړې ده چې معتزله يې مطلقاً ناجائزه ګڼي او اهل سنت مطلقاً جائز ګڼي او دوي په وسط کې دا فيصله وکړه.

يويشتم روايت: صحيح البخاري معرب بيروت چاپ جلد ۴ صفحه ۸:

حدثنا محمد بن سلام اخبرنا مخلد بن يزيد اخبرنا ابن جريج قال اخبرني يعلى انه سمع عكرمة يقول أنبأنا ابن عباس رضي الله عنه ان سعد بن عبادة رضي الله عنه توفيت امه وهو غائب عنها.

ابن عباس رضي الله عنه فرمايي د سعد بن عباده رضي الله عنه مور وفات شوه او دې نه وه.

فقال يارسول الله إن أمي توفيت وانا غائب عنها. وي ويل يا رسول الله صلى الله عليه وسلم مور مې وفات شوه زه غائب ومه.

أينفعها شيء ان تصدقت به عنها. نفع رسوي دې ته څه شي چې زه خيرات ترې نه وکړمه.

قال: نعم: قال فإني أشهدك ان حائطي المخراف صدقة عليها. هغه خيرات شو په دې باندې.

دې حديث کې که لږ غور وشي مور مې مړه وه زه غائب ومه يعنې دې وخت سره دا معمول وه چې څوک به حاضر وه نو څه به يې پسې کول خيرات مور مې مړه ده زه هغه وخت کې نه ومه او س پسې وکړمه کولې يې شم نبي عليه السلام فرمايي: **نعم.**

ذکر المحدثين الذين بوبوا في ذلک باباً. څو مره محدثين په خيرات د مړي باندې باب لګوي چې څو مره دې ټول يې لګوي په دې موضوع باندې دا ټول د بيروت چاپ حوالې دي.

(۱) صحيح مسلم جلد ۳ صفحه ۸۱ **باب وصول ثواب الصدقة عن الميت اليه.** د مړي پسې د خيرات ثواب رسيږي.

(۲) سنن ابي داود جلد ۳ صفحه ۷۷ **باب ما جاء في الصدقة عن الميت.**

(۳) سنن ترمذي جلد ۳ صفحه ۵۶، **باب ما جاء في الصدقة عن الميت.**

(۴) سنن النسائي جلد ٦ صفحه ۲۵۱ فضل الصدقة عن الميت .

(۵) صحيح ابن خزيمة جلد ۴ صفحه ۱۲۳ باب الصدقة عن الميت عن غير وصية من مال الميت وتكفير ذنوب الميت بها . د مړي گناه پرې ريژيږي اګر که وصيت يې نه وي کړې .

(٦) مصنف عبد الرزاق جلد ۹ صفحه ۵۸ الصدقة عن الميت .

(۷) السنن الكبرى للبيهقي جلد ٦ صفحه ۲۷۷ باب الصدقة عن الميت .

(۸) شرح السنة د امام بغوي جلد ٦ صفحه ۱۹۹ باب الصدقة عن الميت .

(۹) مستخرج الطوسي جلد ۳ صفحه ۲۷۷ باب ما جاء في الصدقة عن الميت .

أقوال الفقهاء والمحدثين في ذلك الباب :

اول : فتح الباري ابن حجر جلد ۵ صفحه ۳۹۰ هغه حديث ذکر کوي چې نبي عليه السلام په قبرينو باندې راغې او لخته يې دوه حصې کړه او پرې خبنه يې کړه .

في حديث الباب من الفوائد . يوه فائده يې .

جواز الصدقة عن الميت . د مړې نه خيرات دا جائز دي .

وان ذلك ينفعه . دا نفعه رسوي .

بوصول ثواب الصدقة إليه ولا سيما إن كان من الولد . خاصکر چې د ولد نه وي .

گوره دا معنى چې خاصکر د ولد نه خو رسي خو چې د غير ولد نه وي هم جائزه ده .

دا اشارتاً په ابن تيميه باندې رد دي د ابن حجر صاحب په علمي لحاظ سره سند په هغه ورځې دې شاګرد د عراقي هغه شاګرد د ابن کثير هغه شاګرد د ابن تيميه نو په دغه وجه باندې ابن حجر صاحب په ابن تيميه ډاډه نه ورځي مثلاً نن صبا څوک د ديوبند د علماء څوک شاګرد پاتې شي بيا د ديوبند په يو شيخ هغه کله ډاډه ورتلي شي د ادب له وجې نه خلک پرې نه ورځي نو دغه شان ابن حجر صاحب هم دي خو خپل وس يې کړې دي عاقل ته اشاره په کار وي خپله هغه دده تفرداتو ته يې پوره اشاره کړې پوره کار يې ورته کړې دي خو نوم نه اخلي .

دې ځای کې هم دا اشاره کوي : وان ذلك ينفعه بوصول ثواب الصدقة اليه ولا سيما ان

كان من الولد .

(۲) شرح النووي على مسلم چې منهاج دي جلد ٦ صفحه ۲۰ :

وفي هذا الحديث جواز الصدقة عن الميت واستحبابها وأن ثوابها يصله وينفعه وينفع المتصدق ايضاً .

صدقه ورکوونکي ته هم نفع ورکوي .

وهذا كله أجمع عليه المسلمون . دا ټول هغه دي چې مسلمانانو په دې اجماع کړې ده .

وسبقت المسألة في أول هذا الشرح في شرح مقدمة صحيح المسلم .

دا چې وايي اجمع عليه المسلمون . مراد ترې نه اهلسنت دي .

وهذه الأحاديث مخصصة لعموم قوله تعالى : ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ وأجمع المسلمون على انه لا يجب على الوارث التصدق عن ميته صدقة التطوع بل هي مستحبة .

(۳) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح جلد ٦ صفحه ۳۹۰ :

وفي الحديث جواز الصدقة عن الميت وأن ذلك ينفعه بوصول الثواب الصدقة اليه ولا سيما إن كان من الولد وهكذا حكم الدعاء وهو مخصص لعموم قوله تعالى : ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ (سورة النجم آيت : ۳۹)

(۴) الأربعين المتباينة السماع للعسقلاني جلد ۱ صفحه ۷۸ :

واما قول اذا تبرع عن الميت بصدقة او عتق . دا قول چې يو سړي د مړي نه احسان کوي په خيرات سره يا په عتق يا په قرباني يا په وقف سره .

هل يصل اليه ثوابه ؟ فالجواب أن ثواب الصدقة يصل إلى الميت عند جمهور أهل العلم من أهل السنة وشذ من قال من المبتدعة .

د بدعتيانو نه څه خلک دي د هغوي قول شاذ دي .

انه لا يصل الى الميت شيء من الثواب الا ما عمله او تسبب في عمله لثبوت الاخبار

الصحيحة بمشروعية الصدقة عن الميت و انه ينتفع بذلك.

نو جمهور اهلسنت يې قائل شول او منكرين يې مبتدعه وګڼل.

بل دوي د هغه حديث نه هم استدلال کوي : اذا مات الانسان انقطع عنه عمله. انسان مړ شي له ده نه دده عمل قطعه شي هغه درې پاتې شي وايي په دې کې خو ختم تلاوت وغيره نشته ولد صالح، صدقه جاريه او علم ينتفع به دا درې ياد شوې دي.

د هغې جواب دادی چې دوي تر ابن تيميه پورې د حديث تحقيق نه دي کړې.

مفهوم مخالف نه يې استدلال کړي او د نصِ قرآني مفهوم مخالف نه مراديږي نو د حديث نه به څنګه مراد شي انسان مړ شي قطعه شي له دې نه عمله عمل دده هر چې عمل د غير دي ولد دي که غير ولد دي قطعه دې او که نه دي قطعه حديث خو د هغې نه ساکت دي حديث دا ذکر کوي چې دده عمل قطعه شي د غير عمل قطعه شي دا خبره يې بالکل چيرلي نه ده او که ته وايي چې خپل يې قطعه شو د بل خو په طريقِ اولی سره قطعه د، د هيچا نص په دې باندې نشته بلکې مونږ حديث په دې پيش کړل چې د غير عمل ورسيږي.

نو انقطع عنه عمله . قطعه شي له ده نه عمل دده نو خيرات چې څوک کوي يا تلاوت کوي يا نور افعال خير ايصال ثواب په نيت کوي نو دا خو د نورو عمل ده حديث خو دا نه دي ويلي چې د بل عمل نه رسي دا قطعه دده د عمل راځي د بل د عمل قطعه خو نه راځي نو هلته راځي صدقه جاريه دده عمل دي وروسته له مرګ نه ورسي علم منتفع دده عمل دي وروسته د مرګ نه ورسي.

په دې ولد باندې دلته محدثين اعتراض هم کوي چې دا ولد خو دده عمل نه دي څنګه استثنی کې راغې : الا من ثلاثة کې راغې.

نو جواب دا کوي چې دا ولد په عمل دده باندې شوې دي ده چې عمل نه وای کړي ولد نه پيدا کيده وايي دا دده عمل ده دي ځای نه محدثين همدا ځواب کوي چې دا دده عمل يادوي او بيا دليل کې هغه ايات پيش کوي :

﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝ مَا أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ﴾.

ما اغني دفعه و نه کړه دده نه مال دده ، وما کسب ، وايي ما کسب خو مال وه د ما کسب د مال نه وروسته ذکر ته څه ضرورت دي سړي چې يو څه کسب کوي خو د مال لپاره يې کسب کوي .

نو جواب دا کوي چې هلته ما کسب په معنی د ما ولد سره دي ما اغني عنه ماله وما ولد، نو ما ولد ته يې ما کسب ويلي کنه هر کله چې ولد ته کسب دده ويلې شو ، نو عمل دده شو په دې وجه استثنى ترې نه وشوه .

دا رنګې عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۱۳ صفحه ۱۵۴ :

وفي حديث مسلم عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رجلاً قال يا رسول الله صلى الله عليه وسلم إن أبي مات وترك مالاً ولم يوص فهل يكفي ذلك عنه أن أتصدق قال نعم فالقضية إذن متعددة ويستفاد منه أن الصدقة عن الميت تجوز وأنه ينتفع بها .

دا په فالقضية اذن متعددة کې رد کوي په ابن حجر صاحب باندې هغه په دغه ځای کې دا ويلي دي چې هغه مخکې رواياتو کې ذکر شول چې يو سړي راغې زما پلار وفات شوې زه ترې خيرات وکړم دا دواړه يې يو قضيه ګڼلي ده نو ټول يې يو دليل کړو دې وايي نه دا قضيه متعدده ده هغه جدا قصه ده دا جدا قصه ده .

(۵) شرح سنن أبي داؤد جلد ۵ صفحه ۳۷۷ :

باب ما جاء في الصدقة عن الميت كون الانسان يتصدق عن نفسه بصدقة جارية أو يتصدق عنه غيره بصدقة جارية كل ذلك ينفعه وكل ذلك يصل اليه سواء كانت هذه الصدقة هو الذي تصدق بها عن نفسه فانها تبقى بعد وفاته وهي ومن عمله .

دا هغه صدقه جاريه ښايي .

أو انساناً تصدق عنه بصدقة جارية أو صدقة غير جارية فان كل ذلك ينفعه .

(٦) التمهيد لما في الموطأ من المعاني والاسانيد جلد ۲۰ صفحه ۲۷ :

فأما الصدقة عن الميت فمجتمع على جوازها لا خلاف بين العلماء فيها وكذلك العتق عن

الميت جائز بإجماع ايضاً.

(۷) المجموع شرح المهذب جلد ۵ صفحه ۳۲۳:

واجمع المسلمون على أن الصدقة عن الميت تنفعه وتصله.

(۸) الاختيارات الفقهية للترمذي جلد ۱ صفحه ۳۱۳:

باب ما جاء في الصدقة عن الميت: حدثنا احمد بن منيع حدثنا روح بن عبادة حدثنا زكريا بن اسحاق حدثني عمرو بن دينار عن عكرمة عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أن رجلاً قال يا رسول الله إن أمي توفيت أفينفعها أن تصدقت عنها قال نعم فإن لي مخرفا فأشهدك إني قد تصدقت به عنها.

قال ابو عيسى هذا حديث حسن وبه يقول اهل العلم يقولون ليس شيء يصل الميت الا الصدقة والدعاء قال ومعنى قوله ان لي مخرفاً يعني بستاناً.

دې په دې قول سره خپل مذهب ثابتوي ځکه شوافع د تلاوت د ایصال قائل نه دي.

(۹) الدر السنية في الكتب النجدية جلد ۶ صفحه ۱۶۱ داد وهابيانو كتاب دي:

اما صدقة المال فهي يصل ثوابها الى الميت بأتفاق العلماء واجاب ايضاً الصدقة عن الميت من ماله الذي خلف حسن والصدقة المالية تصل الى الميت بأتفاق اهل العلم.

ګوره دلته یې دا ویلي دي خو ددوي تفصیل ما کتلې دي دوي وايي چې دا صدقه الى الميت رسي خو من الولد من غير الولد نه رسي دا قول ابن تيميه پسې ځي.

د حضرت جرير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یو حدیث دي او صحيح دي هغه دا چې:

كنا نعد الاجتماع الى الميت وصنيعة الطعام بعد دفنه من النياحة.

بعضې صنعة لفظ ذکر کوي لکه ابن ماجه او بعضې صنيعة لفظ ذکر کوي لکه مسند احمد.

مونږ به راغونډيدل د مړي په کور کې او جوړول د مړي کور والا لخوا دودي خلکو ته دا به مونږ ګڼل د نياحة ممنوعه نه ددې ځای نه مخالفين د خيراتونو اخذ کوي او فقها او هم

ډيرو کړې دي خو فقهاء رد په ضيافت باندې کړې دي په خيرات او صدقه يې نه دې کړي .

او دوي يې مطلقاً منعه کوي د فقهاء عبارات په دليل کې پيش کوي نو دوي ته مونږ دا خبره کوو چې تاسو په حديث د حضرت جرير رضي الله عنه عاملين يې نو ټول په ټوله بيا عمل کوي.

حديث د حضرت جرير رضي الله عنه دې باندې دال دي چې : كنا نعد الاجتماع من النياحة ، مونږ د مړي کور کې راغونډيدل هم نياحة ګڼلو او کوم وهابي او اشاعتي دي چې مړي باندې په کور کې خلک نه راغونډيږي پيدا به کړي داسې د وهابيانو مړي او د اشاعتيانو مړي يا خو به سم د معاذ بن جبل رضي الله عنه متبع د سنت شه بيا په دې مونږ تسليم کړو .

د يرموک په غزوه کې د مابنام لمانځه ته لږ وخت پاتې وه د غروب په وخت يې څوي شهيد شو زخمي شوې مخکې وه نو هغه خو دشته وه او د مانځه لپاره يې ځای جوړ کړې وه خلک هلته ور ووتل او صحابه هم ډير زيات وه تابعين هم وه تقريبا ۴۰۰۰۰، ۴۲۰۰۰ کسان زيات او کم وه دا خو چې يوه جمعه کوي پوره اجتماع ده نو چې دا خلک ووتل ده له ځان سره څو غلامان او څو ملګري کړل او سمدستي يې څوي ته کفن او غسل ورکړو قبر يې هم وکنسته او دفن يې کړو هغه صحابه کرامو رضي الله عنهم چې د مابنام لمونځ خلاص کړو نفلونه تر څو کيدل چې بيرته راتلل جنازه هم ختمه ده او سړي هم دفن شوې دي .

نو حضرت خالد رضي الله عنه ورته وويل چې ولې دې داسې کار وکړو دومره صبر خو به دې کړې وه چې مونږ در سره جنازه کړې وای نو حضرت معاذ رضي الله عنه ورته وايي چې ما ته نبي اکرم صلى الله عليه وسلم دا ښودنه نه ده کړې چې زه دې مړې ايسار کړمه ما ته يې ويلي جلتي به کوي په څو کارونو باندې يو د هغې نه جيني چې پيغله شي يو د هغې نه مړي چې وشي بس ما پرې جلتي وکړه دا جلتي مستحبه ده نو د استحباب لپاره يې هلته جمعه ولاړه ده هغې ته يې هم صبر ونه کړو .

كنا نعد الاجتماع حديث د حضرت جرير رضي الله عنه کې اول منعه د اجتماع راغلې چې کوم وهابي اشاعتي يا د احنافو نه څوک دي خيراتونو ته ناروا وايي او مرداريې وايي زمونږ ډير حنفيان يې هم وايي نو دغه خلکو په خاندان کې چې مړي وشي چې دده په کور کې اجتماع وي نو دې ناست وي کنه ټول راغونډ وي غر او پش جوړ وي او خلکو ته معلومه وي چې دلته مړې شوې دي .

په دې کې عربان ښه دي ما څلور میاشتې په جدة کې تيرې کړې پنځلس (۱۵) عربان به راتلل ما ورته رياض الصالحين شروع کړې وه درس مې ورته کوه ما هلته، مړي ونه ليدو نو ما هغوي ته وويل چې تاسو مړه کيږي نه که څنګه دلته خو ما د مړي يا جنازي خبر وانه وريدو وايي ولې نه دې ناستو کې يوه کس ته اشاره يې وکړه وايي دده تره مړ شو ما ورته وويل چې مونږ خو خبر هم نه شو ۱ ځنګه مړي وه.

وايي نه چې دلته مړي وشي مونږ شُرطې ته تيليفون وکړو چې دلته مړې شوې دي هغوي راشي مونږ نه يې اوچت کړي نو چې د مړي نژدې خپلوان وي همدردي ورسره ولري نو کورنه يو کس لاړ شي غسل او کفن هم شُرطې والا ورکوي بيا دا وړو حرم شريف ته نو دا قريب خپلوان او دوستان يې حرم پورې لاړ شي ورسره جنازه کې ورسره شرکت وکړي نور عام مونږ حرم ته او جنازې ته هم نه ځو ورسره مړي هغوي ته وسپارو بيا مونږ ته معلومه نه وي چې چيرته يې خښوي او چيرته يې وړي.

نو يو خوا خو يې په يوه جزيه عمل وکړو چې : نعد الاجتماع من النياحة ، خو بل طرف ته ډير غټ نقصان دا راغې چې تا ته د خپل پلار قبر نه وي معلوم.

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې خو به د مړو قبرونه معلوم وه حتى چې د يو صحابي په قبر کاڼي خښوي چې دا زمونږ د ورور نخښنه شوه ، که صبا څوک راځي دُعاء کوي خپله نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کال په کال اُحد ته تللو .بقيع غرقد ته به تللو دُعا ګانې به يې کولې نو تا خو د دُعا نه محروم کړو معلومه هم درته نه ده چې مړې دې څه شو دا خو د نجدي دور نه وروسته د مړو هر څه ختم کړه نجدي چې پرې راغې.

حديث د حضرت جرير چې څوک تاسو ته پيش کوي هغه به دا دويمه تکړه د حديث تاسو ته پيش کوي : اوله تکړه د حديث نه پيش کوي او يا به درته د حديث پښتو ترجمه کوي چې مونږ د مړي په کور کې دوه ډي نياحت ګڼلو دا به دليل کې پيش کوي نو تاسو به ورته وايي چې دا حديث ټول پيش کړه مونږ ته د حضرت جرير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث ټول پيش کړه نو د حضرت جرير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث کې اول په کې اجتماع منعه شوې ده : کنا نعد الاجتماع من النياحة . مونږ به اجتماع د مړي په کور کې نياحت ګڼلو .

بيا ورکړه دې منکر ته قسم چې ستا د مړي اجتماع ستا په کور کې کيږي که نه چې خيرات

ته مکروه حرام او بدعت وايي هغه تا چې اجتماع جوړه کړه هغه هم دغه حديث کې شته او اول هغه راغلې ده.

وصنيعة الطعام . او صنع اهل د ميت طعام لره دا مونږ ګڼو د نياحت نه.

نو ددې دويمې تکړې جواب دادی چې دلته صنعة يا صنيعة الطعام راغلي دي نو يو ډوډي جوړول دي بل ډوډي خيرات کول دي دا په اصطلاح کې هم فرق لري مثلاً فلانکي ځای ته تللې ومه سخته ډوډي جوړه کړې وه نو دا الفاظ د ميلمستيا دي لفظ د صنعې نه معلوميږي جوړول د اهل د ميت طعام لره.

تصدق لفظ نه دي راغلي خيرات کې څوک صنعة الطعام نه وايي يو خيرات کې هم څوک نه وايي چې خيرات ته تللې ومه ډيره بنه ډوډي يې جوړه کړې وه اصطلاح داسې نه ده دا جوړول د ډوډي ګانو په ضيافاتو کې کيږي.

بل الفقهاء اعلم بمعاني الحديث . د حديث په معنى فقيه بنه پوهيږي تو لو فقهاء دي حديث نه ضيافت ته مکروه ويلي دي د را روان عبارات د فقهاء چې زه يې ذکر کوم دوي دا عبارتونه د خيرات په رد کې پيش کوي.

عون المعبود جلد ۸ صفحه ۴۰٦ همغه حديث يادوي : ويکره اتخاذ الضيافة من اهل الميت. مکروه دي جوړول د ضيافت او ميلمستيا د اهل د ميت نه.

لانه شُرِع في السرور لا في الشرور . ځکه ضيافتونه.

شُرع في السرور لا في الشرور وهي بدعة مستقبحة .

دا بد بدعت دي څه شي يادوي ضيافت ضيافت مونږ هم مکروه ګڼو دارنګې مرقات شرح د مشکوة جلد ۵ صفحه ۹۵۹ :

وقال يكره اتخاذ الضيافة من اهل الميت لأنه شرع في السرور لا في الشرور وهي بدعة مستقبحة .

دارنګې حاشيه رد المختار على الدر المختار جلد ۲ صفحه ۲۴۰ :

وقال ايضاً ويكره اتخاذ الضيافة من الطعام من اهل الميت لانه شرع في السرور .

دارنګې فتح القدير لكمال بن الهمام جلد ۳ صفحه ۴۳۲ :

ويكره اتخاذ الضيافة من الطعام من اهل الميت لانه شرع في السرور لا في الشرور وهي بدعة مستقبحة .

داد فقهاو عبارتونه ما راخيستې دي چې دوي اطلاق د كراهيت چې كوي په ضيافت باندې كوي اوس لاندې ګوري شامي عبارت او د نورو فقهاو دارنګې مراقي الفلاح شرح نور الايضاح جلد ۱ صفحه ۴۱۰ دا پاس چې تير شول هغه قياس دي دا لاندې چې دي دا استحسان دي .

بل ذكر في البزازية وان اتخذ طعاماً للفقراء كان حسناً .

كه چا ونيوله روټې د فقير لپاره كان حسناً دا بنه كار دي .

بل ذكر في الفتاوى الهندية و في الخانية وان اتخذ ولي الميت طعاماً للفقراء كان حسناً .

كه ولي د ميت دوډې د فقير لپاره وكړي دا بنه كار دي .

وان يكون في الورثة صغير لم يتخذ ذلك من التركة. كه په ورثوو كې ماشوم وي .

فلا يتخذ ذلك من التركة . بيا به داد تركې نه ، نه اخذ كيږي .

بيا به يې دا وارث تبرع ګڼي ناروا بيا هم نه ده كه چيرته په دې وارثانو كې صغير وي نو دا خيرات ته د تركې د مړي نه كوي كه د خپل جيب نه يې كوي وارث ته دا ويل په كار دي كه دېيې دخپل جيب نه كوي خو جائزشوه دصغيردې كې څه كارنشته وارث خو خپلې پيسې خرچه كړي او كه دې يې د تركې نه كوي او صغير هلته صاحب د اجازې نه دي نو دغه كبير به دامنې په زړه كې كه صباغټ شي اوزه ده ته وو ايم چې ما خيرات كړې مور يا پلار ربسې مني يې .

كه وي ويل چې منمه يې صحيح ده او كه انكار يې وكړو نو دا كبير به يې له خپل جيب نه لندوي صغير نه يې بيا نه شي اخيستې او دا لانجې ډيرې راځي مونږ ته راشي وايي ما پلار ربسې خيرات كړي دا يې ګوره نه مني خپله برخه نه راكوي نو چې نه يې مني نو خپله خوبنه يې ده چې مور يا پلار سره نيكي كوي او كه نه يې كوي څه لازمه خو نه ده پرې .

نو فيصله دلته داده چې لانجه درته راغله دا كشر غټ شو يا كبير ده خو مسافر ده بل ځاى كې ده اكثر خلك يې نه خبروي تركي ته شروع شي په خپل سر خيراتونه كوي نو كه

چیر ته هغه کبیر خبر شي او راشي او د میراث د تقسیم په وخت کې لانجه جوړه کړي چې زه د پلار خیرات نه منم نو دا چا چې کړې دده له برخې به کټ کیږي هغه صغیر یا له مسافر نه به نه کټ کیږي.

وان كان في الورثة صغير. مگر که وه په ورثوو کې صغیر.

لم يتخذ ذلك من التركة. دا صدقه چې کوي دا دې له ترکې نه را اخلي که یې را واخیسته کبیر به یې له خپل حق نه مني بیا.

دارنګې رد المختار جلد ٦ صفحه ٣٩۴:

والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن.

ډوډي جوړول په وخت د ختم د قران کریم کې:

لأجل الأكل يكره. د اکل د پاره دا مکروه ده.

و فيها من كتاب الاستحسان وان اتخذ طعاماً للفقراء كان حسناً. که د فقیر لپاره یې ډوډي جوړه کړه دا حسن ده.

دا فقهاء دې ګوري هماغه ضیافت ته مکروه وايي هماغه ځای کې بیرته دا عبارت ذکر کوي:

وان اتخذ طعاماً للفقراء كان حسناً. البته که څوک وايي چې مال دار یې بیا خوري څنګه دي.

دا قید د للفقراء احترازي نه دي دا اتفاقي واقع شوې دي یعنې خیرات وي او خیرات خلک د فقیر لپاره کوي ځکه چې دغه وخت کې دا صدقه صدقه یې نفیله ده نو زمونږ اصول دا فیصله کوي چې صدقه نفلیه کافر خوړې شي پاتې لا غني دي، نو قید د للفقراء به احتراز د اغنیاو نه، نه وي چې ګنې غني به یې نه خوري فقیر به یې خوري نه خیرات مراد ده او خیرات کیږي د غریب لپاره.

دارنګې البحر الرائق شرح کنزالدقائق جلد ۵ صفحه ٣٦٩:

وفي الخانية: وان اتخذ ولي الميت طعاماً للفقراء كان حسناً اذا كانوا بالغين.

که غټ وه که واړه وه هلته د پردي حق امکان په کې راځي.

وإن كان في الورثة صغير لم يتخذ ذلك من التركة.

بيا دې خيرات و کړي خو ترکې نه دې نه اخلي له خپل جيب نه دې بيا خيرات و کړي اوس دا استحسان دي.

کوم ځای کې چې منعه راغلې ده هغه قياس وي اوس د قياس او استحسان معارضه چې فقه حنفي کې راشي.

المحيط البرهاني للامام برهان الدين ابن مازة جلد ۵ صفحه ۲۳۱:

ويترك القياس بالاستحسان. څو مره چې زمونږ فقه کې قياسات راشي او بيا استحسان راشي نو استحسان به په قياس مقدم وي نو خلاصه دا شوه چې کوم فقيه په کې د ضيافت ټکي نه ده ويلي او مطلقاً خيرات يې ناروا کړي لکه الفقه على المذاهب الاربعة ضيافت نه ده ويلي او ناروا کړي دي او بدعت کړې دي نو هغه استدلال د قياساتو دي او چا چې جائز کړې ده دا استدلال د استحسان دي.

او استحسان په قياس په فقه حنفي کې مقدم وي ترجيح به دې ته وي دا هغه عبارات فقهيه وه چې مخالفين ترې نه استدلال کوي او د هغې جوابونه چې همغه عبارت به تړول ګوري نو تاسو ته به معلومه شي چې فقهاء ضيافت مکروه ګڼي صدقه او خيرات مکروه نه ګڼي نو حديث د حضرت جرير رضي الله عنه محمول شو عند الفقهاء په ضيافاتو باندې چې د مړي په کور کې ضيافتونه ناروا دي. نو دلته چې وهابي سره مباحثه کوي نو هغه اوله طريقه به اختيار کړي چې: نعد الاجتماع من النياحة. اجتماع ته ولې کوي او بل دا تپوس ترې و کړي چې خيرات څو ورځو پورې حرام دي هغه به وايي تر دريمې پورې نو تاسو به ورته وايي چې قيد د ثلاثة ايام وبنايه. دا قيد خو د حضرت جرير رضي الله عنه حديث کې نشته دي مطلق د مړي کور کې ورکول د طعام غير لره من النياحة، او جواب به د لفظ د صنعة الطعام نه کوي چې جوړول د طعام دي او جوړولو د طعام ته ضيافت ويل کيږي کما حققه الفقهاء زمونږ فقهاء دا تصريح پر کړې ده.

مسئله د ايصال الثواب للأموات ختمه شوه

مسئلة القراءة عند الميت :

قراءت على الميت په مړي باندې د قبر سر او خپو ته قراءت متعين كول يا غير متعين كول يا هسې جمعه غفيره لاره شي د هديرې خوا كې تلاوت كوي دا څنګه دي جائز دي او كه نه دي جائز ؟

په دې كې رايه د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او د امام احمد قول اخيريې راجح هغه دادى چې قراءت على القبر جائز دي زمونږ د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او د يارانو اختلاف دي ، امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ نه قول د كراهيت منقول دي د قراءت على القبر او د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ نه قول د استحباب منقول دي او فتوى په قول د امام ابي يوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا اللهُ په قول باندې ده ولې وايي څكه لورود الاثار فقهاء وايي دلائل لري نو زمونږ فقه حنفي كې فتوى په قول د امام محمد او امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللهُ باندې ده چې جواز دي او استحباب دي او دغه د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ مذهب هم دي قول اخير .

(۱) حديث : المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۴ صفحه ۱۰۸ :

حدثنا ابو اسامة عبدالله بن محمد بن ابي اسامة الحلبي حدثنا ابي ح تحويل د سند .

و حدثنا ابراهيم بن دحيم الدمشقي حدثنا ابي ح دريم تحويل د سند ، وحدثنا الحسين بن اسحاق التستري حدثنا علي بن بحر قالوا . دلته اشتراک راغې .

حدثنا مبشر بن اسماعيل حدثني عبدالرحمن بن العلاء بن اللجلاج عن ابيه قال قال لي أبي يا بني . پلار راته وويل اى زما بچيه .

إذا أنا مت . چې كله زه مړ شومه .

فالحدني . لحد راته جو كړه .

فإذا وضعتني في لحدي . چې لحد كې دې كيښودم .

فقل بسم الله وعلى ملة رسول الله . وه مې سپاره .

ثم سن عَلَيَّ الثرى سناً . بيا راباندې خاوره برابره كړه مسنمه يې كړه .

ثم اقرأ. بيا ولوله.

عند رأسي بفاتحة البقرة وخاتمتها. سر زما ته اول د بقرې او آخر د بقرې راته ولوله.

فاني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول ذلك. ما د نبي عليه السلام نه اوريدلي چې داسې يې فرمايل.

دا حديث د سند په لحاظ سره صحيح دي څوک پرې جرحه نه لري البته مخالفين په دې کې يوه جګړه موږ سره کوي چې دا موقوف دي او صحيح دا دی چې دا موقوف دي مرفوع نه دي.

(۲) حديث: همدغه روايت سنن الکبری للبيهقي رااخيستې په جلد ۴ صفحه ۵۶ کې:

عن عبدالرحمن بن العلاء بن اللجلاج عن أبيه إنه قال لبنيه إذا أدخلتموني قبري فضعوني في اللحد وقولوا بأسم الله وعلى سنة رسول الله وسنوا عليّ التراب سناً وأقرؤا عند رأسي اول البقرة وخاتمتها فاني رأيت ابن عمر يستحب ذلك.

ما ابن عمر رضي الله عنه وليد چې دا يې مستحب ګڼله.

داد هغې معارضه کې وهابيان پيش کوي وايي دا حديث دې چې ما ابن عمر رضي الله عنه وليده چې دا يې مستحب ګڼله او هغلته وايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي وه چې داسې ويلي وه نو لهذا وليي ترجيح دې لره ده دا اوس ددوي رايه نه ده کنه ددې روايت له هغه مخکني روايت سره څه معارضه ده مثلاً ابن عمر رضي الله عنه نه ما ته راورسيدل چې مستحب يې ګڼله دې صحابي نه راورسيدل چې وصيت يې کړې دې صحابي وايي چې ما نبي عليه السلام نه اوريدلي چې داسې ويلي.

زه به مثال کې ځان درته پيش کړم ما نه تا تپوس د قراءت على القبر وکړو زه درته يو ځل دا حديث پيش کوم چې لجلاج رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي عليه السلام نه اوريدلي دي چې داسې ويل صبا هغه بل راځي ما نه تپوس کوي چې قراءت على القبر څنګه دې زه جواب ورکوم چې ابن عمر رضي الله عنه يې مستحب ګڼي.

نو اوس دا معارضه شوه دا خو معارضه نه ده کنه ابن عمر رضي الله عنه يې مستحب ګڼي هغه وايي ما د نبي عليه السلام نه اوريدلي دي بل حديث به راشي وايي ما د ابن عمر رضي الله عنه نه هم

اوريدلي دي دې کې خو څه معارضي نشته چې ته رجحان ورکړې او يو ته په بل ترجيح ورکړې ځکه ترجيح په وخت د معارضه کې راځي چې کله معارضه راشي د يو حديث له بل سره او داسې ټکراو راشي چې جمع يې نه کيږي دلته خو تياره جمع جوړه ده .

دې صحابي د نبي عَلَيْهِالسَّلَامُ نه دا وصيت اوريدلې دي ځکه يې وصيت بل ته کړې دي د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د استحباب فتوى ورته راغلې ده او د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه يې بذات خود خپله اوريدلې هم دي که د هغه قول پيش کوي که دا فتوى پيش کوي که د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصيت پيش کوي هيڅ ټکراو او معارضه دلته نشته دي .

نو ترجيحات مه ورکوي چې وهابيان وايي دا موقوف دي او دا راجح دي ځه چې موقوف هم شو نو وهابيان خو دې ته بدعت وايي او صحابي چې کوم عمل وکړي هغې ته بدعت کله ويل کيږي په قُرونو ثلاثوو کې چې اصل ونه لري هغه بدعت وي نو دلته خو په قرنِ ثاني کې اصل پيدا شو د صحابوو زمانه کې اصل پيدا شو نو بدعت څنګه شو .

(۳) حديث : دارنګې الدعوات الکبير للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۹۷ کې باب لګوي:

باب ما جاء في قراءة القرآن عند القبر . بيا همدغه مذکور حديث پيش کوي :

عن عبدالرحمن بن العلاء بن اللجلاج عن ابيه انه قال لبنيه إذا أدخلتموني قبري فضعوني في اللحد وقولوا باسم الله وعلى سنة رسول الله وسنوا عليّ التراب سناً واقرؤا عند رأسي اول البقرة وخاتمتها فاني رأيت ابن عمر يستحب ذلك .

عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته مستحب ويلي او ته ورته بدعت وايي او دا هماغه عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي چې د رفع اليدين په حديث کې ښو مره مونږ کافر کوي هم ورباندې او ګمراه کوي مو هم ورباندې او د حديث مخالف هم مونږ ګڼي سند خو قوي ده په سند جرحه نه کوي .

د صحت د سند دوي هم قائل دي خو دوي وايي چې دا موقوف د ابن عمر او للجلاج دي دا د دوي فتوى ده او بيرته دوي يو اصل هم جوړ کړې چې هذا موقوف لا حجة في الموقوفات .

ابن تيميه وايي چې تلاوت على القبر نه وه په زمانه د سلفو کې نو عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او لجلاج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سلف نه دي سلف چا ته وايي په دې خبره د ابن تيميه خوله جاري ده

لنده دا خبره كوي چې دا په زمانه د سلفو كې نه وه .

(۴) الاربعين المتباينة السماع د عسقلاني جلد ۱ صفحه ۸۵ :

ما اخرجه الخلال في كتاب الجامع له قال حدثنا العباس بن احمد الدوري قال سألت احمد بن حنبل.

ما د امام احمد رَحِمَهُ‌اللَّهُ نه تپوس وكړو .

تحفظ في القراءة على القبور شيئًا قال لا. په قراءة على القبور كې درته كوم حديث ياد دي .

هغه دا سې زمانه وه چې كتابونه ، نه وه ليكل شوې چې كله به دوي يو حديث پيدا كړو د يو چا سره او هغه جزيه به معروفه وه ټولو خلكو به كوله خو دليل به چا ته نه وه معلوم او د يو عالم سره به دا حديث پيدا شو بس هغه عالم به ډير مقبول وه چا به شوندې ورته ښكلولې او چا به ورته لاسونه د ادب نه ښكلول نو **قراءة على القبور** خو معروف وه هغه زمانه كې هر چا كوه لكه اوس چې كيږي خو دليل نه وه چا سره نو له دې نه تپوس كوي چې ته **قراءت على القبور** كې څه حديث لري هغه ورته ووېل چې نه .

قال: عباس بن احمد الدوري وايي .

وسألت يحيى بن معين. بيا له ده نه لاړم يحيى بن معين ته هغه ته مې ووېل چې ته په **قراءت على القبور** كې څه حديث لري او كه نه .

فحدثني عن مبشر بن اسماعيل الحلبي قال حدثني عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج عن ابيه قال قال اني إذا أنا متُ فضعني الخ .

هغه حديث چې پاس تير شو وايي دا حديث را ته يحيى بن معين پيش كړو .

واقرأ عند رأسي بفاتحة الكتاب و أول البقرة و خاتمتها فاني سمعت ابن عمر رَضِيَ‌اللَّهُ‌عَنْهُ يوص بذلك ثم اخرج الخلال من وجه أخر ان أحمد كان في جنازةٍ .

دې په يوه جنازه كې وه .

فلما دفن الميت . هر كله چې دفن شو مړي .

جاء رجل . يو سړي راغلو .

ضرير . په سترګو ړوند وه حافظ وه .

يقرأ عند القبر . قبر سره يې تلاوت کوه ګوره دې زمانه کې دا تلاوت رواج وه .

فقال له احمد يا هذا . د امام احمد سره دليل نه وه هغه ورته وايي .

إن القراءة عند القبر بدعة . قراءت له قبر سره بدعت دي .

فقال له محمد بن قدامة . ورته وويل محمد بن قدامة .

يا أبا عبدالله ما تقول في مبشر الحلبي . مبشر حلبي کې دې رايه څه ده .

قال ثقة فذكر له عنه هذا الحديث . د حديث هغه سند يې بيان کړو .
امام احمد رَحِمَهُاللَّهُ ته چې حديث ورسيده .

فقال له أحمد إرجع إلى الرجل وقل له يقرأ . ورشه هغه حافظ پسې ورته ووايه چې تلاوت کوه نو امام احمد رَحِمَهُاللَّهُ اهل حديث وه چې حديث ورته ورسيده بې چون چرا يې حديث قبول کړو او د خپلې خبرې نه يې رجوع وکړه ورشه هغه سړي ته ووايه چې تلاوت وکړه .

نو ځاى په ځاى ابن تيميه خلکو ته دوکه ورکوي او وايي چې امام احمد هم د قرأت على القبور منکر دي .

نو هغه الفاظ يې نقلوي چې کوم ځاى کې امام احمد بدعة ويلي وي نو امام احمد قرأت منکر وه اولاً آخراً چې حديث ورته ورسيدو نو واپس يې امر کړې دے چې ورشه تلاوت کوه .

ابو بکر ابن خلال يو کتاب ليکلي په نوم د القراءة عند القبور باندې جلد ۱ صفحه ۳ :

واخبرني العباس بن محمد بن احمد بن عبدالكريم قال حدثني ابو شعيب عبدالله بن الحسين بن احمد بن شعيب الحراني من كتابه قال حدثني يحيى بن عبدالله الضحاك البابلتي حدثنا ايوب بن نهيك الحلبي الزهري مولى آل سعد بن ابي وقاص قال سمعت عطاء بن ابي رباح

المكي قال سمعت ابن عمر قال سمعت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول : اذا مات احدكم فلا تجلسوا واسرعوا به الى قبره .

كله چې يو كس ستاسو نه مړ شي نو هغه مه حصاروي ډير جلتي وكړي په ده باندې الى قبره .

وليقرأ عند رأسه بفاتحة الكتاب . ودې لوستلې شي د سر دده سره بفاتحة البقرة .

وعند رجليه بخاتمتها في قبره . او خپو ته دې آخر د فاتحې ولولي في قبره .

هغه مخكې حديث كې دا نه وه راغلې چې خاتمه يې په رجلينو كې ولولي دا راغلي وه چې د فاتحې اول آخر ولولي او دا حديث تصريح ددې كوي چې نه دا خاتمه به يې رجلينو ته لولي داد عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال سمعت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخكې حديث كې تير شو چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا مستحب ګڼله خو دا استحباب يې له ځان نه وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه يې اوريدلي وه .

اقوال الفقهاء وعلة قول أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ:

دې نه اخوا د فقهاو عبارات او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د قول علت لټوي چې ده ورته ولې مكروه ويلي دي وايي امام صاحب ورته مكروه ځكه ويلي چې هغه ته دغه اثر نه وه رسيدلې چې دا كوم حديث دي بعضې مسئله كې روايات كم وي نو كتب د حديثو هم نه وه چې ټول يې د نظر نه تير كړې واى .

نو وايي دا روايت ورته نه وه رسيدلي او ده د خپلې رايې موافق دا خبره كوله چې : اهلها جيفة ، اهل ددې چې عام خلک دي وراسته شي خاوري شي نو ته هلته تلاوت د څه لپاره كوي دده امام صاحب علت نه دا معلوميږي چې دې د اولې ورځې تلاوت مخالف هم نه دي ځكه هغه وخت كې خو جيفه نه ده .

په اوله ورځ خو روغ جوړ ده دده له علت نه معلوميږي چې دا روسته وختونو كې قبر ته تلل تلاوت دې ته مكروه ويلي دي نو د امام صاحب قول كې به دا تفصيلي وي چې د اولې ورځې د قراءت منكر نه دي ، وروسته به د قراءة په كراهيت قول كوي :

حاشية على مراقي الفلاح شرح نور الايضاح جلد ١ صفحه ٤١٣ :

واخذ من ذلك جواز القراءة على القبر و المسئلة ذات خلاف قال الامام تكره لان اهلها جيفة ولم يصح فيها شيء عنده عنه صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

او ده ته په دې کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه څه صحيح روايت نه وه ثابت شوې .

وقال لمحمد تستحب لورود الاثار . حديث پرې راغلې دي .

وهو المذهب المختار . په حنفي فقه کې مذهب مختار د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ دي چې تلاوت جائز دي كما صرحوا به في كتاب الاستحسان .

دارنګې التاج و الاكليل جلد ٢ صفحه ٣٧٤ :

استدل بعض العلماء على استحباب القراءة على القبر لحديث الجريدتين .

د هغې نه استدلال داسې کوي چې هر کله د لختي ثواب رسيږي نو د تلاوت څنګه نه رسيږي .

وقاله الشافعي وفي الاحياء لا بأس بالقراءة على القبور .

دارنګې منح الجليل شرح مختصر سيد خليل جلد ٣ صفحه ١٧٦ :

ان قرأ الرجل ووهب ثواب قراءته لميت جاز ذلك وحصل للميت اجره ان شاء الله تعالى .

دارنګې الانصاف جلد ٢ صفحه ٣٩١ :

ولا تكره القراءة على القبر في اصح الروايتين .

مكروه نه دي قراءت په قبر باندې اصح روايتينو کې .

وهذا المذهب قاله في الفروع وغيره . دا مذهب د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ يادوي .

قاله الشارح هذا المشهور عن احمد . د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ مشهور قول دادی .

قاله الخلال وصاحب المذهب رواية واحدة لا تكره . هغه دا وايي چې امام احمد صاحب همدا يو قول کړې چې مكروه نه دي .

وعليه اكثر الاصحاب منهم القاضي وجزم به في الوجيز وغيره وقدمه في الفروع والمغني

والشرح وبن تميم والفائق وغيرهم .

دارنګې تذکرة للقرطبي جلد ۱ صفحه ۸۴ :

باب ماجاء في قراءة القران عند القبر حالة الدفن وبعده وأنه يصل الى الميت ثواب مايقرأ ويدعي ويستغفر له ويتصدق عليه .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۲۳۷ :

حدثنا وكيع عن سفيان عن حسان بن ابراهيم عن امية الازدي عن جابر بن زيد انه كان يقرأ عند الميت سورة الرعد .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۲۳۶ :

حدثنا حفص بن غياث عن المجالد عن الشعبي قال كانت الانصار .

وه انصار د مدينې منورې .

يقرأون عند الميت سورة البقرة . مړي ته به يې سورة بقره لوسته .

دارنګې تفسير مظهري جلد ۱ صفحه ۳۷۳۴ دا هغه ايات دي : ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ :

واخرج الخلالي عن الشعبي كانت الانصار اذا مات لهم الميت .

وه انصار د مدينې منورې کله چې به مړې وشو .

اختلفوا الى قبره . مختلفې ورځې به يې قبر ته تلل .

يقرءون القرآن . قرآن كريم به يې لوستلو نو داد انصارو د مدينې منورې رواج وه .

و في الاحياء عن أحمد بن حنبل اذا دخلتم المقابر فاقرأوا بفاتحة الكتاب والمعوذتين وقل هو الله احد واجعلوا ذلك لأهل المقابر فانه يصل اليهم .

دارنګې البحر الرائق جلد ۵ صفحه ۳۸۳ :

ولا بأس بقراءة القرآن عند القبور وربما تكون افضل من غيره .

د بل عمل نه دا افضل دي .

ويجوز ان يخفف الله عن أهل القبور شيئاً من عذاب القبر او يقطعه عند دعاء القاري و تلاوته وفيه ورد آثار من دخل المقابر فقرأ سورة يس خفف الله عنهم يومئذ وكان له بعدد من فيها حسنات.

ده لره به دومره اجر وي چې دا مقبره کې څومره مړي وي او په هغوي به تخفیف راشي.

دارنګې عمدة القاري جلد ۴ صفحه ۴۹۷ :

لما روي أبو بكر النجار في كتاب السنن عن علي بن ابي طالب رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال من مر بين المقابر.

څوک چې مقبره کې روان وي.

فقرأ قل هو الله احد أحد عشر مرة ثم وهب أجرها للأموات أعطي من الأجر بعدد الاموات.

دارنګې بل روایت پیش کوي :

عن انس يرفعه. مرفوع روایت پیش کوي.

من دخل المقابر فقرأ سورة يس خفف الله عنهم يومئذ وعن ابي بكر الصديق رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من زار قبر والديه او احدهما.

څوک چې د مور او پلار قبر ته لاړ.

او احدهما فقرأ عنده او عندهما يس غفر له.

دارنګې شرح الكبير لابن قدامة جلد ۲ صفحه ۴۲۵ :

ابن قدامة الجوهري يا ابا عبدالله ما تقول في مبشر الحلبي.

دا هغه ابن قدامة الجوهري چې امام احمد صاحب ته ویلي وه او امام احمد صاحب وویل. ثقة.

قال فاخبرني مبشر عن أبيه أنه أوصى إذا دفن أن يقرأ عنده بفاتحة البقرة وخاتمتها وقال سمعت ابن عمر رضي الله عنه يوصي بذلك فقال احمد بن حنبل فارجع فقل للرجل يقرأ وقال الخلال

حدثني ابو علي الحسن بن الهيثم البزار شيخنا الثقة المأمون قال رأيت أحمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ يصلي خلف ضرير أيقرأ على القبور .

يو معروف حافظ وه چې هغه په مقبره کې په قبرونو تلاوت کولو او امام احمد صاحب به ده پسې مونځ کولو دا ددې لپاره وايي چې دده په نزد قراءت په قبرونو بدعت نه وه کنه د بدعتي پسې مونځ نه کولو .

و قد روي عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال من دخل المقابر فقرأ سورة يس خفف عنهم يومئذ وكان له بعدد من فيها حسنات و روي ابو حفص بن شاهين عن انس قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من قال الحمد لله رب العالمين رب السموات و رب الارض رب العالمين وله الكبرياء في السموات والارض وهو العزيز الحكيم لله الحمد رب السموات ورب الارض رب العالمين وله العظمة في السموات والارض وهو العزيز الحكيم مرة واحدة ثم قال اللهم اجعل ثوابها لوالدي لم يبق لوالديه حق الا اداه اليهما .

دارنګې شرح الصدور بشرح حال الموتى د امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ جلد ۱ صفحه ۳۰۴ :

وقال القرطبي في حديث اقرؤا على موتاكم يس .

پس مړو ته يس شريف ولولي ·

هذا يحتمل . دا احتمال لري ·

ان تكون هذه القراءة عند الميت في حال موته . چې محتضر دي دا وايي هغې ته هم شامل دي .

ويحتمل ان تكون عند قبره . او احتمال لري چې قبر سره دا تلاوت شي .

قلت وبالأول قال الجمهور . دا اول قول جمهورو کړي اکثر محدثين دا وايي خو رد د ثاني په کې نه دي بلکه دا معنى اخلي ·

كما تقدم في أول الكتاب وبالثاني قال ابن عبد الواحد المقدسي في الجزأ الذي تقدمت الاشارة . هغه وايي دا په هديره کې لوستل دي ·

وبالتعميم في الحالين. چې دواړو ته شامل دي.

قال المحب الطبري من متأخري أصحابنا. چې شوافع دي.

وفي الاحياء للغزالي والعاقبة لعبد الحق عن احمد بن حنبل قال اذا دخلتم المقابر فاقرؤوا بفاتحة الكتاب والمعوذتين وقل هو الله أحد واجعلوا ذلك لأهل المقابر فانه يصل إليهم.

داد تلاوت متعلق په قبر باندې د دغو فقهاء عبارات وه او څوک يې چې منعه کښي دا ثابت نه دي بس د لا نسلم په غونډې ناست دي خو مونږ ورته ثابت کړو نو اوس دې ومني ثابت نه دي دده په علم ثابت شو په کتب الحديث کې اوس دې ومني لکه امام احمد صاحب ته چې ثابت شو وي منه تسليم يې کړو.

نو دغه شان دوي ته هم تسليمول په کار دي او چې نه يې تسليموي هغوي پوه شه او کاريې پوه شه خو تاسو په دې کې خپله عقيده مه خرابوي مقبره کې تلاوت ممنوع نه دي دا جائز دي ورل د مصحف مقبرې ته که بې آدبي په کې نه وي جائز دي که د بې آدبي خطره وي په کې بيا يې ورل نه دي په کار هغه خارجي علت دي چې دې ته متوجه کيږي.

پاتې شوه مسئله د ختم چې داختم څنګه دي نو ختم په خپله امر جائز دي لکه راغونډيدل د خلکو د ختم لپاره دليل دې باندې حديث د دارمي دي باب ما جاء في ختم القرآن، هلته د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث پيش کوي چې هغه به خپل اهل د ختم لپاره راغونډول نو اهل دده ۹۵ يا ۹۶ څامن وه او د هغوي بچي وه دا غټه اجتماع وه تقريباً ۱۵۰ کسان به را غونډيدل ختم به کيدلو.

او دارنګې د سعيد ابن المسيب د امام مجاهد اقوال هم په کې مذکور دي چې دُعا عند ختم القرآن مستجابه دې لپاره به دوي راغونډيدل دوي چې کوم اعتراض کوي چې داخويو تلاوت کوي هغه بل ورته غوږ نه ږدي او دا جرم دي نو دا ناپوهي ددوي ده خارج د صلواة نه تلاوت ته غوږ کيښودل فرض نه دي بلکې مستحب دي او تلاوت هم مستحب دي.

نو که يو تلاوت کوي نور غوږ ږدي هم عمل مستحب دي او که ټول لګيا کيږي تلاوت کوي هم عمل بالمستحب دي خو ښه طريقه دا ده چې د جمع واري په وخت کې تلاوت خفيه وشي چې ترک د يو مستحب هم په کې رانه شي او عمل په کل مستحب باندې راشي او که دا

اعتراض کوي چې ختم ځکه ناروا دي چې د تلاوت په وخت کې یو بل ته غوږ نه ږدي نو لهذا دلته خو غټ جرم راغې چې قرآن کریم ته غوږ کي نه ښودل شو .

نو زه به ستاسو اعتراض راتاو کړمه مدرسې د حفظ القران ته اوس به مدرسه کې سبق ویل هم ناروا دي هلته خو دومره شور وي چې یو هم بل ته غوږ نه ږدي او دلیل په ختم باندې د مسلم هغه حدیث دي چې :

وما اجتمع قوم في بيتٍ من بيوت الله . نشته یو قوم چې را غونډ شي .

في بيت من بيوت الله يتلون كتاب الله و يتدارسونه بينهم الا نزلت عليهم السكينة وغشيتهم الرحمة وحفتهم الملائكة وذكرهم الله فيمن عنده .

چیرته به یو قوم اجتماع جوړه نه کړي مگر که جوړه یې کړه په دري کارونو باندې یو تلاوت دي بل ذکر دي او بل تدریس دي نو څلور اجره هغوي ته ملاویږي هغه دلیل عام دي لپاره دلیل دي چې تلاوت باندې اجتماع ممنوع نه ده :

وما من قوم اجتمع في بيت من بيوت الله يتلون كتاب الله .

نو دا اجتماع على التلاوة ده او اجتماع على التلاوة صورة د ختم دي ددې خو بله څه لاره نشته ده کوم صورت ده چې ختم نه وي او اجتماع په تلاوت راغلې وي او نبي عليه السلام هغې لپاره څلور اجرونه ښایي بدعت ورته نه وایي او نه ورته ناروا وایي .

په دې ځای باندې اول جلد ختم شو والحمد لله

طالب دعاء : سید محمد ثواب باچا

او

مولوي سید راز محمد هاشمي ثم الاندړوي

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi


١